څلورم جلد

# د قرآن پلوشې

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: د قرآن پلوشې څلورم جلد

ليکوال: حکمتيار

دوهمه طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قيمت: ۱۷۰ افغانۍ


**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**


د ميثاق ايثار نشراتي اداره

پشاور ـ نصرت مينه

Tel: ۰۹۱ ۲۳۲۵۵۳۶

# د قرآن پلوشې

## څلورم جلد

**حکمتیار**

# فهرست

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| الكهف | ١ |
| مريم | ٧٠ |
| طٰهٰ | ١٠٨ |
| الانبياء | ١٦٤ |
| الحج | ٢٢٧ |
| المؤمنون | ٢٧٣ |
| النور | ٣١١ |
| الفرقان | ٤٠٤ |
| الشعراء | ٤٣٩ |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحمٰنِ الرَّحيم

# الکهف

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم الکهف دئ چې له نهم آیت اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ، یو سل لس آیتونه لري، د ټولو آیتونو فواصل ئې سره ورته او د عوجاً، حسناً او ولداً په څېر دي. د سورې له مضامینو داسې معلومېږي چې دا د مکې دور په هغو کلونو کې نازله شوې چې قریشو د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده د یارانو په ضد د تشدد لار غوره کړه؛ دومره چې ځینې مجبور شول مکه پرېږدي او هجرت وکړي. په دې سورې کې د اصحاب کهف قصه په همدې مناسبت راغلې.

په دې مبارکې سورې کې پنځه قصې زموږ مخې ته راځي: یوه ئې د اصحاب کهف د مؤمنو زلمیانو او د دوی د مشرك او ظالم قوم تر منځ د مبارزې قصه، بله ئې د یوه مشرك شتمن او مؤمن نیستمن د عبرتناکې مرکې او محاورې قصه، بله ئې د خضر علیه السلام او موسی علیه السلام د ګډ سفر قصه، بله ئې د ذوالقرنین د سترو سترو فتوحاتو قصه او پنځمه ئې د انسان د پیدایښت هغه قصه چې ملائکو د ده په وړاندې سجده وکړه او ابلیس سرغړاوی وکړ. په حقیقت کې دا سوره د همدې پنځو قصو مجموعه ده، خو لنډې لنډې، ډېرښکلې، اغېزناکې او عبرتناکې قصې، الفاظ ئې جامع، اسلوب ئې ډېر جذاب او جالب، په هرې یوې کې ګڼ شمېر مهم مهم درسونه او ګټورې لارښوونې، دا قصې د دې سورې د محورې او اساسې موضوعاتو لپاره د تاریخې بېلګو په توګه وړاندې شوې. د سورې محورې موضوعات په لومړیو آیتونو کې په اجمال سره په دې توګه راغلې:

- الله تعالی پر خپلو بندګانو ستره پېرزوینه وکړه چې پر خپل پیغمبر ئې دا کتاب راولېږو، د دې سترې پېرزوینې مقتضی دا ده چې د الله تعالی شکر پر ځای کړئ او ستاینه ئې وکړئ.
- دا کتاب قیم دئ، ویناوې ئې سمې او پخې دي، له کږو او خامو خبرو خوندې دئ.
- موخه ئې دا ده چې له یوې خوا صالح مؤمنانو ته دا زېرى ورکړي چې غوره اجر به ئې په برخه شي، تر ابده به په هغه کې پاته کېدونکې وي؛ او له بلې خوا هغه وګړې ووېروي او د شدید عذاب خبرداری ورکړي چې وایي: الله زوی او ځای ناستی ځان ته غوره کړی. دا خبره یا په ناپوهۍ سره کوي، نه دوی پرې څه علم لري او نه ئې پلرونه، یا ئې له ځانه په دروغو جوړه کړې؛ او دا ستره غلطه او دروغجنه وینا ده چې له خولو ئې وځي.

- دا د اهل کتاب اړوند قصې دي او د هغوی په مذهبي او تاريخي کتابونو کې ئې يادونه شوې؛ او قريشو د يوه شرارت په موخه له رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې اړه پوښتني کړې او غوښتل ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغو قصو په اړه داسي څه ووايي چي د اهل کتاب له ويناوو او تاريخي څرګندونو سره توپير ولري چي بيا ئې د يوې تبليغاتي حربې په توګه وکاروي او خلکو ته ووايي: دا دئ محمد (عليه السلام) د دغو تاريخي قصو په اړه د مخکينيو الهي کتابونو خلاف خبري کوي!! د دې سورې له ۸۳ آيت چي وايي: وَ يَسئَلُونَك عَن ذِی الْقَرْنَينِ قُلْ سأَتْلُوا عَلَيْکُم مِّنْهُ ذِکراً* همدا خبره معلومېږي.

ځيني وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د دوی د پوښتنو په ځواب کې ويلي: سبا به د دې پوښتنو ځواب درکړم، ګواکې انتظار ئې دا وو چي د وحي له لاري به د دغو قصو تفصيل وروښودل شي خو داسي ونه شول او څو ورځي وحي وځنډېده، خو د دې رأيي لپاره نه يوازي کوم واضح شاهد نه مومو بلکې د همدې سورې له پورتني آيت سره تعارض لري. ځکه په دې آيت کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: ژر به د هغه په اړه ځيني يادوني درواوروم.

د دغو قصو په ترڅ کې د مکې د هغه مهال حالت، د رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده د يارانو وضعيت، د قريشو دريځ او د مؤمنانو په ضد د دوی کړني په داسي حکيمانه، جالبي او جامع بڼې کې انځور شوي چي نه يوازي حقائق د هر مخاطب مخي ته ږدي او د قريشو ټول غلط عقائد او بې بنسټه انګېرني ترديدوي بلکې دوی او د دوی باورونه، تګلاري او کړنلاري د دغو قصو له هغو لوريو سره ورته ثابتوي چي د باطل پلوي ئې کړې وه او له بدو پايلو سره مخامخ شوي وو.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ١ قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ
بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا
حَسَنٗا ٢ مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ٣ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ٤ مَّا لَهُم
بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبٗا
٥

ستايني هغه الله ته دي چي پر خپل بنده ئې دا کتاب نازل کړ چي سم او پوخ دئ او هيڅ کوږوالی ئې نه دئ ورته پرېښی، د دې لپاره چي د خپل شديد عذاب خبرداری

ورکړي او هغو مؤمنانو ته چې نېك عملونه کوي د دې زېرى ورکړي چې غوره اجر به ئې په برخه شي، تر ابده په هغه کې پاته کېدونکي؛ او هغه وګړي ووېروي چې وايي: الله زوى نيولى؛ په داسي حال کې چې نه دوى پرې څه علم لري او نه ئې پلرونه؛ ستره (غلطه) وينا ده چې له خولو ئې وځي؛ دوى له درواغو پرته بل څه نه وايي.

(۱-۵)- دا مبارك آيتونه د دې سورې محوري او اساسي موضوعات په دې توګه زموږ مخي ته ږدي:

- الله تعالى پر خپلو بندګانو ستره پېرزوينه وکړه چې پر خپل پيغمبر ئې دا کتاب راولېږو، د دې ستري پېرزويني مقتضى دا ده چې د الله تعالى شکر پر ځاى کړئ او ستاينه ئې وکړئ.
- دا کتاب قيم دئ، وېناوې ئې سمي او پخې دي، له کږو او خامو خبرو خوندي دئ.
- موخه ئې دا ده چې له يوې خوا نېك عمله مؤمنانو ته دا زېرى ورکړي چې غوره اجر به ئې په برخه شي، تر ابده به په هغه کې پاته کېدونکي وي؛ او له بلي خوا هغه وګړي ووېروي او د شديد عذاب خبرداری ورکړي چې وايي: الله زوى او ځاى ناستى ځان ته غوره کړى، دا خبره يا په ناپوهۍ سره کوي، نه دوى پرې څه علم لري او نه ئې پلرونه، يا ئې له ځانه په دروغو جوړه کړې؛ او دا ستره غلطه او دروغجنه وينا ده چې له خولو ئې وځي.

فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفۡسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَسَفًا ۝٦ إِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى ٱلۡأَرۡضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبۡلُوَهُمۡ أَيُّهُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلًا ۝٧ وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ مَا عَلَيۡهَا صَعِيدًا جُرُزًا ۝٨

نو ښايي ته به په دوى پسي د دې اندېښنې او تأسف له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوونکى شې چې پر دې وينا (قرآن) ايمان نه راوړي، يقيناً چې موږ ټول هغه څه چې پر زمکه دي د هغې سينګار ګرځولي؛ د دې لپاره چې دوى پرې وآزمويو چې کوم يو ئې د عمل له پلوه غوره دئ؛ او موږ له ټولو هغو شيانو تش ډاګ جوړوونکي يو چې د پاسه ئې دي.

(٦-٨)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم د داسي زړه سواند او مهربان داعي په توګه معرفي کوي چې په ډېر تلوار او تلوسې سره د خلکو د هدايت هڅه کوي، ګام په ګام ورپسې دئ، د دوى له بدي وضعي دومره پرېشان او په ايمان نه راوړو ئې دومره خفه او متأسف دئ چې نږدې ده زړه ئې وچوي.
- خو د ده ناپوه مخاطَبين داسي دي چې د دنيا مال او متاع مشغول کړي، همدا ئې

وروستی هدف دئ، د هغه څه په اړه بې باکه او بې پروا دي چي الله تعالی، د هغه پیغمبر او د دوی فطرت ئې ترې غواړي، دوی له وسیلې هدف جوړ کړی؛ دا په داسي حال کي چي الله تعالی د زمکي پر سر هر څه د دې لپاره پیدا کړي چي دوی د ژوند په امتحان کي بریالي شي، دا ثابته کړي چي د الله تعالی نېك بندګان او غوره مخلوق دي.

- له هغي ورځي غافل دي چي د زمکي د سینګار اسباب به الله تعالی له منځه یوسي، زمکه به په داسي تش او سپېره ډاګ بدله کړي چي نه بوټی وربانديږي، نه ونه او نه د دوی بنګلې.

أَمۡ حَسِبۡتَ أَنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ﴿٩﴾ إِذۡ أَوَى ٱلۡفِتۡيَةُ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ فَقَالُواْ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةٗ وَهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ أَمۡرِنَا رَشَدٗا ﴿١٠﴾ فَضَرَبۡنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمۡ فِي ٱلۡكَهۡفِ سِنِينَ عَدَدٗا ﴿١١﴾ ثُمَّ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِنَعۡلَمَ أَيُّ ٱلۡحِزۡبَيۡنِ أَحۡصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓاْ أَمَدٗا ﴿١٢﴾

آیا ګمان دي کړی چي اصحاب کهف او رقیم زموږ له عجیبو نښو ول؟ هغه مهال چي دغو ځلمیانو هغي سمڅي ته پناه یووړه او وئې ویل: اې زموږ ربه! له خپل لوري رحمت راباندي وکړه او زموږ په کار کي لارښوونه راپه برخه کړه. نو څو کاله مو په سمڅي کي د دوی غوږونه دپ کړل، بیا مو راپاڅول چي وګورو له دواړو ډلو کومه یوه ئې د دوی د پاته کېدا د مودې ښه شمېرونکې ده!!

(۹-۱۲)- د دې آیتونو په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- ټول مفسرین پر دې متفق دي چي (کهف) د یوه غره هغه سمڅه ده چي د مؤمنو ځوانانو یوه ټولګي پناه وروړې وه، ګڼ شمېر کالونه ئې په خوب ویده تېر کړي، داسي مهال بېرته راویښ شوي چي نه د دوی د پېږۍ خلك تر سترګو کېدل او نه هغه سکې چي مخکي چلېدې. دوی څو کسان ول، څومره کلونه ئې په ویدو تېر کړي، دا ځای چېري دئ، د رقیم معنی څه ده؟ په دې اړه بېل بېل آراء وړاندي شوي.
- د رقیم په اړه عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته درې متعارض اقوال منسوب شوي: دا د کلي نوم وو، دا د درې نوم وو او دا چي زه نه پوهېږم چي د کوم کتاب نوم دئ که د کوم بنیان!! غوره رأیه دا ده چي دا پر ډبري لیکل شوې کومه لیکنه (رقیم) وه، چي د همدې سمڅي (کهف) په خوله کي نصب شوې وه. کېدی شي د سمڅي خوا ته کلی یا هغه دره وروسته وروسته د دې لیکني له کبله د رقیم په نامه یاده شوې وي.
- مه دا ګمان کوه چي اصحاب کهف په خپله د الله تعالی کوم عجیب غوندي مخلوقات

ول او مه د دوی اړوند قصه عجیبه او ناشونې ګڼه.

- دوی څو ځلمیان ول، د ایمان له کبله له ستونزو سره مخامخ شوي وو، د خپل ولس له دین او نظام په بغاوت تورن شوي ول، مجبور شول خپل کلی کور پرېږدي او د یوه غره سمڅې ته پناه یوسي؛ او خپل رب ته داسې دعاء وکړي: اې زموږ ربه! له خپل لوري رحمت راباندې وکړه او زموږ په کار کې لارښوونه راپه برخه کړه. د آیتونو له فحوی او د دعاء له الفاظو معلومېږي چې دوی له یوې خوا غوښتې چې الله تعالی پرې رحم وکړي او ستونزې ئې ورته حل کړي او له بلې خوا ئې ترې غوښتې چې د دعوت په کار کې د دوی مزید لارښوونه وکړي او هدف ته د رسېدو لار ورته پرانیزي.
- الله تعالی د دوی دعاء قبوله کړه، څو کاله ئې په هغې سمڅې کې په داسې ژور خوب ویده کړل چې غوږونو ئې هیڅ نه اورېدل، بیا ئې راپاڅول چې معلومه کړي له دواړو ډلو کومه یوه ئې د دوی د پاته کېدا د مودې ښه شمېرونکې ده!! له دې الفاظو څو خبرې معلومېږي: ١- د دوی قوم آخرت او بیا ژوندون نه منلو، له دې مؤمنو ځوانانو سره ئې په دې اړه مخالفت کولو؛ او ورته ویل ئې چې انسان به له مړیني وروسته او په داسې حال کې چې اوږده موده پرې تېره شوې وي څنګه بیا راژوندی کېږي؟!! د دغو ځوانانو دا اوږد خوب او په داسې حال کې ببرته راپاڅېدل چې د دوی د پېړۍ هیڅوك ژوندی نه وو پاته، د بیاژوندون لپاره د څرګند دلیل په توګه وړاندې شوی. ٢- قریشو هم له رسول الله صلی الله علیه و سلم او هغو ځلمیانو سره چې پر ده ئې ایمان راوړی وو دې ته ورته مخالفت کولو او همغه څه ئې ورسره کول چې د اصحاب کهف قوم له هغوی سره کول. دوی هم آخرت او بیاژوندون نه منلو، دوی هم مسلمانان دومره تنګ کړي ول چې مجبور ول مکه پرېږدي او کوم ډاډمن پناه ځی ته پناه یوسي او د هجرت لار غوره کړي. ٣- قریش باید پوه شي چې الله تعالی به مسلمانان همداسې ژغوري لکه اصحاب کهف چې ئې وژغورل. ٤- مسلمانان دې مطمئن وي چې الله تعالی به خپل رحمت پرې نازلوي، هدف ته د رسېدو لارې به ئې په وړاندې پرانیزي او پر دښمنانو به برۍ ورپه برخه کوي. ٥- له دوو ډلو مراد اصحاب کهف او د دوی مخالفین دي، یوه د مرګ په خوب ویده شوې او بله په داسې ښکلي ژور خوب چې ببرته راپاڅېدلې؛ خو نه پوهېږي چې څومره موده پرې تېره شوې او دا د دې لپاره چې الله تعالی غوښتل د دوی د قوم او د آخرت او بیاژوندون د ټولو منکرینو دا پوښتنه ځواب کړي چې بیاژوندون ئې نه منلو، د همدې لپاره ئې دوی په اوږده خوب ویده کړل؛ اوږده موده وروسته ئې بیا راپاڅول، یوه بل ته ویل: دلته څومره وځنډېدو؟ ځواب ئې ورکړ: نه پوهېږو، ښایي یوه ورځ یا خو د یوې ورځې یوه برخه، یوه ئې وویل: الله تعالی ښه پوهېږي چې څومره ځنډېدلي یو. او تاسو پوهېږئ چې یوه له هغو خبرو چې د بیا ژوندون په اړه د انسان ذهن تر خپل سیوري لاندې نیسي او باور کول ورته ګرانوي؛ د اوږدې زمانې تېرېدل دي، که په یوه مړي یوه دوه ورځې تېرې شوې وي بیاژوندی کېدل ئې ورته دومره ګران نه برېښي لکه د هغه چې اوږده موده ورباندې تېره شوې وي. د د غې قصې په ترڅ کې ویل

شوي چې زمانه نسبي امر دئ، له يوه تر بل او له يوه حالت تر بل ئې وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته يو شان نه وي. دا دئ ګورئ چې پر يوې ډلې کلونه کلونه په خوب کې تېر شوي خو هم روغ رمټ پاته شوي او هم نه دي پوهېدلي چې څومره وخت پرې تېر شوی. قرآن دغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کې هم اشاره کړې او فرمايي: د الله لپاره يوه ورځ هومره ده لکه ستاسو پنځوس زره کاله، دا تاسو يئ چې کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سيوری پروت دئ چې پر مړو د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته به څنګه بيا راژوندي کېږي. دوهم څه چې په دې اړه د انسان ذهن ته راځي هغه دا دئ چې په مرګ سره د انسان ټول بدن په خاورو بدل شي، د اوږدې زمانې په تېرېدو سره ئې له غوښې او هډوکو هيڅ اثر پاته نشي؛ دا به څنګه بېرته راژوندی کېږي؟ په دې قصې کې ښودل شوې چې الله تعالی ته هم د انسان د وجود روغ رمټ ساتل ممکن او آسان دي او هم د ده روح. که اصحاب کهف د اوږدې مودې لپاره د خوب په حالت کې ژوندي ساتلی شي نو د مړو د روح ژوندۍ ساتل به هغه ته څه ګرانه وي؟!! په دې اړه د مزيد معلومات لپاره د البقره د سورې ۲۵۹ آيت تفسير ته مراجعه وکړئ. ٦- له دغو آيتونو دا هم معلومېږي چې د انسان د ډېر ژور خوب حالت هغه دئ چې غوږونه ئې له اورېدو ولوېږي؛ په سطحي خوب کې د انسان غوږونه په نسبي توګه ويښ وي او د غږ په وړاندې عکس العمل ښيي، هر څومره چې خوب ژور کېږي د غوږونو حساسيت هم کمېږي؛ او دا هم هغه حقيقت دئ چې علم اوس پرې پوه شوی؛ او دا ښيي چې قرآن د خپلو مطالبو په بيانولو کې څومره دقيق دئ!! يقيناً چې دا د قرآن يو علمي إعجاز دئ.

نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِٱلْحَقِّ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَـٰهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾
وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَاْ
مِن دُونِهِۦٓ إِلَـٰهًا لَّقَدْ قُلْنَآ إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هَـٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً
لَّوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِم بِسُلْطَـٰنٍ بَيِّنٍ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾
وَإِذِ ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأْوُۥٓاْ إِلَى ٱلْكَهْفِ يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُم
مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُم مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾

موږ د دوی قصه په رښتيني توګه درته بيانوو؛ دوی يوه داسې ډله وه چې پر خپل رب ئې ايمان راوړ او لازيات مو هدايت کړل او د دوی زړونه مو ورمضبوط کړل؛ هغه مهال چې پاڅېدل او وئې ويل: زموږ رب همغه دئ چې د آسمانونو او ځمکې رب دئ؛ له ده پرته به هيڅ معبود ونه ماڼځو (مرسته به ترې ونه غواړو)؛ يقيناً چه هغه مهال

به مو خوشې او پوچه خبره کړې وي، زموږ دغه قوم خو له ده پرته نور معبودان غوره کړي! ولې کوم څرګند دلیل نه پرې وړاندې کوي؟! نو تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چې پر الله دروغجنه افتراء کوي؟! او كه له دوی او هغه څه چې دوی ئې له الله پرته لمانځي ګوښه او بېل شئ نو هغې سمڅې ته پناه یوسئ چې ستاسو رب خپل رحمت درباندې خور کړي او ستاسو په کار کې د آسانتیا اسباب درته مهیأ کړي.

(۱۳-۱٦)- دا مبارك آیتونه موږ ته دا لارښوونې کوي:

- د اصحاب کهف رښتینې قصه همدا ده چې په قرآن کې راغلې، چا چې له دې پرته بل څه ویلي؛ له ځانه ئې ویلي او حقیقت نه لري.
- دوی د مؤمنو زلمیانو یوه داسې ډله وه چې پر خپل رب ئې ایمان راوړ او الله تعالی د هدایت دروازې د دوی په وړاندې پرانیستې، لازیات ئې هدایت کړل او د دوی زړونه ئې مضبوط او عزم او اراده ئې کلکه کړه. دا الهي پېرزوینې ئې هغه مهال په برخه شوې چې پاڅېدل، جهاد ته ئې ملا وتړله او وئې ویل: زموږ رب همغه دئ چې د آسمانونو او زمکې رب دئ، له ده پرته به هیڅ معبود ونه لمانځو، که له الله تعالی پرته بل چا ته د بندګۍ سر ټیټ کړو او د الله تر څنګ ئې ولمانځو خوشې او ناپړیته خبره به مو کړې وي. د دوی دغه الفاظ ښیي چې د خپل قوم له دین او مذهب او د خپلې ټولنې له حاکم نظام ئې بغاوت کړی، پرېکړه ئې کړې چې نه دا دروغجن معبودان منو او نه دا حاکم نظام.
- وئې ویل: زموږ قوم خو له الله تعالی پرته نور معبودان غوره کړي! په داسې حال کې چې هیڅ څرګند دلیل ورته نه لري، دوی هم ظالمان دي او هم دروغجن، داسې دروغجن چې خپل غلط مذهب په دراوغو الله تعالی ته منسوبوي او وایي: دا همغه څه دي چې الله تعالی ئې خوښوي او د خپلو پیغمبرانو په لاس ئې موږ ته رالېږلي، دوی داسې ظالمان دي چې د الله تعالی په حق کې له ظلم او تېري ډډه نه کوي، تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چې پر الله دروغجنه افتراء کوي؟!!
- دوی پرېکړه وکړه چې هم له خپل مشرك او ظالم قوم او هم د دوی له مذهب او دین سره خپلې اړیکې وشلوي او هم له دې سیمې ووځي، یوه ئې دوی ته وړاندیز کړی چې راځئ هغې سمڅې ته پناه یوسو، هیله ده الله تعالی د رحمت وزر راباندې وغوړوي او زموږ په کار کې د آسانتیا اسباب راته مهیأ کړي.

دې ته مو پام وي چې د اصحاب کهف د شمېر، وطن، د کهف موقعیت، د هغه دور د پاچا نوم، دا چې دوی څومره موده ویده پاته شوي، د کوم واکمن د اقتدار په دوران کې راویښ شوي او دې ته ورته نورو مسائلو په اړه چې څه زموږ په تفسیرونو کې راغلي ټول ئې له مسیحي منابعو او په ځانګړې توګه د عیسایي کشیش جیمس سروجي د مواعظو له کتاب اخیستل شوي؛ هغه د اصحاب کهف له وفات څو کاله وروسته په ٤٥٢ میلادي کال کې زېږېدلی او د ٤٧٤میلادي کال شاوخوا کې ئې دا کتاب په سریاني ژبې لیکلی. دا په داسې حال

کې چې قرآن نه یوازې مسلمانانو ته لارښوونه کړې چې په دغو قضایاوو له بحث او مناقشې ډډه وکړي؛ او آرام ترې تېر شي؛ بلکې وايي په دې اړه څه ویل داسې دي لکه په تیاره کې غشي ویشتل!! که په دې اړه څه ویل ضروري او ګټور وی نو الله تعالی به حتماً په قرآن کې له بشپړ تفصیل سره موږ ته ښودلي ول؛ او که په دې اړه څه ویل مضر نه وی نو الله تعالی به موږ له څه ویلو نه منع کولو، قصه خوښې خلك دا غواړي چې پوه شي د قصې اتل څه نومېدو، د پلار نوم ئې څه وو، قوم ئې څه نومېدو، کله پیدا شوی او کله وفات شوی، ملګري ئې څه نومېدل، د کوم وطن وو، پاچا ئې څه نومېدو.... د قصې تر موخې او هدف دغو خبرو ته زیات اهمیت ورکوي. همدا راز په دې خبرو بحث له اصلي موضوع توجه بل لوري ته اړوي او هسې د وخت د ضیاع باعث کېږي.

وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيّٗا مُّرۡشِدٗا ﴿١٧﴾ وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِۖ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ لَوِ ٱطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ﴿١٨﴾

او لمر به ګورې چې کله راخېژي د دوی له سمڅې ښي لوري ته کږېږي؛ او چې پرېوځي دوی کیڼ لوري ته پرېږدي؛ او دوی د سمڅې په پراخې برخې کې ول؛ دا د الله آیتونه دي؛ الله چې څوك هدایت کړی نو همدا هدایت شوی دئ؛ او څوك چې بې لارې کړي نو هیڅ لارښود دوست به ورته ونه مومې. او ویښ به ئې بولې په داسې حال کې چې دوی ویده دي؛ او په ښي لوري او کیڼ لوري ئې اړوو راړوو؛ او سپی ئې په درشل کې (داسې پروت دئ چې) څنګلې ئې غوړولې دي؛ که پرې ورښکاره شوې (ودې لیدل) نو په تېښته به له دوی مخ اړوې او د دوی له هیبته به ستا زړه ډك شوی وو.

(۱۷-۱۸)- د دې مبارکو آیتونو مطالب دا دي:

- د دوی د سمڅې موقعیت داسې وو چې لمر به د راختو په مهال له سمڅې ښي لوري ته کږېدو او د پرېوتو په مهال به ئې دوی کیڼ لوري ته پرېښودل، دوی د سمڅې په منځنۍ پراخې برخې کې او د لمر له وړانګو خوندي ول.
- د دوی په اړه چې دلته څه ویل شوي دا د الله د کتاب آیتونه دي، حقیقت همدا دئ چې په دې آیتونو کې ئې ګورئ، پر حقائقو هغه څوك پوه، سمه لار ئې مونډلې او هدایت ئې په برخه شوی چې الهي لارښوونې ئې د لارې مشعل شي؛ او څوك چې له الهي لارښوونو

محروم شي؛ لار ورکې دئ؛ داسې څوك به ورته ونه مومې چې د لارښود دوست په توګه د ده مرسته وکړي او په سمه لار ئې برابر کړي.

- په سمڅې کې د خوب په دې اوږدې مودې کې د دوی حالت داسې وو چې که چا لیدلې وی نو د ویښو ګمان به ئې پرې کاوو؛ حال دا چې دوی ویده ول.
- الله تعالی به په ښي او کيڼ لوري اړول رااړول؛ او په دې توګه ئې د دوی د بدن له زخمي کېدو او شړېدو مخنیوی کاوو.
- سپی ئې د سمڅې په درشل کې داسې پروت وو چې څنګلې ئې غوړولې وې.
- د دوی حالت او د سمڅې مجموعي وضعه داسې وه چې که چا دوی لیدلي وی نو په تېښته به تر شا کېدو او زړه به ئې له وېرې ډکېدو.

په دې مبارکو آیتونو کې ځیني هغه دلائل په ګوته شوي چې له امله ئې له يوې خوا اصحاب کهف د خلکو له مزاحمت، لاسوهني او مداخلې خوندي پاته شوي او له بلې خوا د دومره اوږدې مودې په تېرېدو سره د دوی بدنونه له شړېدو ژغورل شوي؛ لکه د لمر له تېزو وړانګو خوندي والی، د سمڅې پراخوالی، د سمڅې د خولې پرانیسته، په ښي او کيڼ پلو د دوی اړول رااړول، د سمڅې داسې هیبتانکه فضاء چې په هر چا کې ئې وېره راولاړوله او تېښتي ته ئې اړ کولو.

د دغو ویناوو په اهمیت او حقیقت یا هغه څوك ښه پوهېدی شي چې ماهر ډاکټر وي، دفلج او ځای پر ځای پرتو ناروغانو معالجه ورپه غاړه وي او نرس ته کلکه سپارښتنه کوي چې ناروغ وخت په وخت په یوه او بل اړخ واړوي، د لمر له تېزو وړانګو ئې وساتي او د اطاق هوا ئې تازه کړي. او یا هغه مجاهدین چې په غرونو کې اوسېدلي، شپنو لیدلي خو له ویرې ئې هیڅا ته د دوی په اړه د څه ویلو جرأت نه دئ کړی او له همدې کبله تر اوږدې مودې په سیمې کې پاته شوی خو دښمنان نه دي پرې خبر شوي.

وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُواْ بَيْنَهُمْۚ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْۖ قَالُواْ لَبِثْنَا يَوْمًا
أَوْ بَعْضَ يَوْمٍۚ قَالُواْ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَٱبْعَثُوٓاْ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِۦٓ
إِلَى ٱلْمَدِينَةِ فَلْيَنظُرْ أَيُّهَآ أَزْكَىٰ طَعَامًا فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا
يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا ﴿١٩﴾ إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُواْ عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِى
مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدًا ﴿٢٠﴾

همداسې مو راپاڅول چې په خپلو منځونو کې یو بل وپوښتي؛ د دوی یوه ویونکي وویل: څومره (دلته) تم شوئ؟ (ځینو) وویل: یوه ورځ او یا د ورځې یوه برخه تم شوي یو؛

(نورو) وویل: ستاسو رب په هغې مودې ښه پوه دئ چې تم شوي یئ؛ نو یو کس مو له دغو سکو سره ښار ته ولېږئ او هغه څوك دې ولټوي چې د خوراکي توکو له پلوه ډېر پاکیزه وي؛ نو تاسو ته دې له هغه خواړه راوړي او حتما دې دقت او احتیاط کوي او هیڅوك باید پر تاسو خبر نشي؛ که دوی درباندې برلاسي شي نو یا به مو رجم کړي (د ډبرو په ویشتلو سره به مو ووژني) او یا به مو خپل مذهب ته ورواړوي او په دې صورت کې به هیڅکله بریا درپه برخه نه شي.

---

(۱۹-۲۰)- په دې مبارکو آیتونو کې دا مطالب زموږ مخې ته ایښودل شوي:

- الله تعالی په دې توګه او له دغو الهي تدبیرونو سره سم؛ دوی د اوږدې مودې لپاره ژوندي وساتل او په خاص وخت کې ئې راپاڅول. داسې چې دوی هم نه پوهېدل چې څومره موده ئې په خوب تېره کړې.
- له راپاڅېدو سره سم ئې په خپلو منځونو کې یوه بل پوښتلی؛ یوه ئې وویل: دلته څومره تم شوئ؟ ځینو وویل: یوه ورځ او یا د ورځې یوه برخه تم شوي یو، ښایي یوه شپه او ورځ به راباندې تېره شوې وي؛ او یا خو څو ګنټې؛ نورو وویل: ستاسو رب په هغې مودې ښه پوه دئ چې تم شوي یئ. د آیت له الفاظو معلومېږي چې د اوږدې مودې لپاره د اصحاب کهف ویده کولو او بېرته راپاڅولو په دې خارق العاده پېښې کې د الله تعالی یو ستر حکمت مضمر وو، غوښتل ئې خلکو ته وښیي چې د مړي په اړه اوږده زمانه داسې ده لکه د دغو ویده شوو په اړه چې څو پېړۍ ئې یوه ورځ یا د ورځې یوه برخه ګڼله. ستاسو دا انګېرنه غلطه او بې بنسټه ده چې مړي به له اوږدې مودې تېرېدو وروسته څنګه راژوندي کېږي!! زمان نسبي مفهوم دئ نه مطلق، ژوندي ئې لنډ او اوږد ګڼي، مړي او ویده نه پرې پوهېږي، الله تعالی ته اوږده او لنډه موده، ماضي او مستقبل هیڅ توپیر نه لري.
- د لوږې احساس ئې کړی، پرېکړه ئې کړې چې یو کس د سپینو زرو له څو سکو سره ښار ته ولېږي، هغه ته ئې ویلي: داسې څوك ولټوه چې پاکیزه خوراکي توکي پلوري، داسې نه چې حرام او ناپاك خواړه درباندې وپلوري.
- ده ته توصیه شوې چې په احتیاط سره ښار ته ننوځي، په تلو راتلو کې دې محتاط وي، داسې چې نه څوك پرې شك وکړي او نه زموږ له موقعیت څوك خبر شي؛ او دا ښیي چې دوی له کوم ستر ښار تښتېدلي وو نه له کوم واړه کلي.
- په خپلو منځونو کې ئې ویلي: که دوی راباندې خبر شي او پر نیولو مو برلاسي شي نو یا به مو رجم کړي او یا به مو دومره تعذیب کړي چې خپل مذهب ته مو ورواړوي او که خدای مه کړه داسې وشول او د عذابونو په وړاندې مو صبر ونه کړی شو او د دوی دین ته ورواوښتو نو هیڅکله به بریا او سعادت تر لاسه نه کړو. او دا له یوې خوا ښیي چې د دوی دښمنان ډېر بې رحم او سخت زړي ول، ډېر ئې تر دې وړاندې یا رجم کړي ول او یا په سختو عذابونو سره تعذیب کړي. له بلې خوا ښیي چې د ښار واکمني د کومې مذهبي ډلې

په لاس کې وه؛ او له بلې خوا دا حقیقت په ګوته کوي چې دا مؤمن ټولې پر خپل ایمان کلك ولاړ وو او د هر خطر او ګواښ منلو ته چمتو وو؛ هم او غم ئې فقط دا وو چې پر خپل ایمان کلك پاته شي.

د ځینو تاریخي اسنادو له مخې معلومېږي چې دا شهر د افسس په نامه یادېدو، هغه مهال د نړۍ ستر مذهبي ښار ګڼل کېدو، هلته د ډائنا په نامه یو ستر معبد وو چې شهرت ئې په ټولې نړۍ کې خور شوی وو او له لرو لرو سیمو خلك ورته راتلل، د کوډګرو، فال نیوونکو، تعویذ لیکونکو او نجومیانو بازار په کې ګرم وو، په دې چارو کې د یهودانو هم لوی لاس وو او د شکرانو او نذرانو په زړه پوري برخه ئې تر لاسه کوله.

وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيۡبَ فِيهَآ إِذۡ يَتَنَٰزَعُونَ بَيۡنَهُمۡ أَمۡرَهُمۡۖ فَقَالُواْ ٱبۡنُواْ عَلَيۡهِم بُنۡيَٰنٗاۖ رَّبُّهُمۡ أَعۡلَمُ بِهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا ﴿٢١﴾ سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٞ رَّابِعُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ وَيَقُولُونَ خَمۡسَةٞ سَادِسُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ رَجۡمَۢا بِٱلۡغَيۡبِۖ وَيَقُولُونَ سَبۡعَةٞ وَثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡۚ قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا قَلِيلٞۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمۡ إِلَّا مِرَآءٗ ظَٰهِرٗا وَلَا تَسۡتَفۡتِ فِيهِم مِّنۡهُمۡ أَحَدٗا ﴿٢٢﴾

او همداسې مو (خلك) پرې خبر کړل؛ د دې لپاره چې پوه شي د الله وعده رښتینې ده او دا چې په (راتلو د) قیامت کې هیڅ شك نشته؛ هغه مهال چې په خپلو منځونو کې ئې د خپل کار په اړه شخړه کوله نو (ځینو ئې) وویل: کومه ماڼۍ پرې جوړه کړئ؛ د دوی رب ښه پرې پوهېږي؛ هغو چې د دوی اړوند کار کې برلاسي شول وئې ویل: حتماً کوم مسجد پرې جوړوو. وایي به: درې ول څلورم ئې د دوی سپی وو او وایي به: پنځه ول شپږم ئې د دوی سپی وو؛ دا هسې په تیاره کې کاڼي ویشتل دي. او وایي به: اُوه ول او اتم ئې د دوی سپی وو!! ووایه: زما رب د دوی له شمېر ښه خبر دئ، یوازې لږ کسان ئې پېژني. د دوی (د شمېر) په اړه له سر سري بحث پرته له چا سره شخړه مه کوه او د دغو خلکو له هیچا د دوی په اړه پوښتنه مه کوه.

(٢١-٢٢)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- د آیت له الفاظو معلومېږي چې ښار ته د همدې یوه کس له ننوتلو سره سم خلك پرې راغونډ شوي، د ده وضع او جامې ئې داسې موندلې چې پرې راغونډ شي، وئې پوښتي، د مخکینیو زمانو سکې ورسره ومومي، شك ئې لازیات شي، د ښار ساتونکي پرې خبر شي؛ او په

دې توګه هر څه ښکاره شي.

• الله تعالی غوښتل چې همداسې وشي؛ د دې لپاره چې خلك پوه شي د الله وعده رښتينې ده او دا چې د قيامت په راتلو کې هيڅ شك نشته. دا دئ خلك په خپلو سترګو د داسې عجيبې صحنې شاهد دي چې ښيي د قيامت او بیاژوندون په اړه د الله تعالی هغه وعده رښتينې ده چې د انبياءو له لارې ئې له دوی سره کړې ده، د دوی مخې ته داسې انکار نه منونکې شاهدان ولاړ دي چې هر څه ئې د همدې وعدې د رښتينولۍ شهادت ورکوي، يو کس نه بلکې يوه ډله زلميان ئې مخې ته ولاړ دي چې څو سوه کاله په خوب کې ژوندي پاته شوي، همزولي او له هغوی وروسته څو نسلونه ئې مړه شوي، هېوکې ئې وراسته شوي خو دوی ژوندي دي، جامې ئې د څو نسله مخکينيو خلکو او په لاس کې ئې د هغې زمانې سکې!!

• د آيت له فحوی دا هم معلومېږي چې کله خلکو دا صحنه په سترګو وليده او ټولو ته ثابته شوه چې د قيامت او بیاژوندون په اړه د الله تعالی هغه وعده رښتينې ده، نو اصحاب کهف همغه شېبه په دائمي خوب ويده او وفات شوي. همدا مهال خلکو په خپلو منځونو کې دا شخړه پيل کړې چې د دوی په اړه څه وکړي. څينو ئې ويلې: کومه مانۍ او خونه پرې جوړه وو، همداسې ئې پرېږدو چې خلك راځي او دا حيرتناکه صحنه په خپلو سترګو ګوري.

• د آيت له دې فقرې (ربهم اعلم بهم: د دوی رب ښه پرې پوهېږي) معلومېږي چې الله تعالی نه غوښتل د دغو خلکو له غوښتنې او پرېکړې سره سم دوی همداسې ژوندي او ويده پرېږدي، ځکه دا د همدغې پېړۍ خلکو لپاره يوه فوق العاده او استثنايي پېښه او د اتمام حجت لپاره وه؛ نه د دې لپاره چې تر قيامت پورې ئې همداسې پرېږدي.

• ورپسې فقره وايي چې برلاسي او ځواکمنې ډلې د اصحاب کهف له قبرونو زيارت او معبد جوړ کړی؛ او دا ښيي چې دا مهال د ملك واګې د داسې مذهبي ډلې په واك کې وې چې د مخکينيو شخصيتونو پر قبرونو ئې معبدونه او زيارتونه جوړول. او دا هغه انحراف دئ چې له توحيد، حقيقي خدای پالنې او د الهي دين له څرګندو لارښوونو سره تضاد لري او د قومونو د انحراف او د شرك په ډنډ کې د لوېدو لړۍ له همدې ځای پيل کېږي. رسول الله صلی الله عليه و سلم د همدې لپاره تر رحلت لږ وړاندې وفرمايل: پر يهودو او نصرانيانو دې د الله تعالی لعنت وي چې د خپلو پيغمبرانو پر قبرونو ئې مسجدونه (معبدونه) جوړ کړل. دې ته مو پام وي چې نبوي جومات د رسول الله صلی الله عليه و سلم له رحلت مخکې جوړ شوی وو، نه پر قبر جوړ شوی او نه د قبر خوا ته، قبر ئې د عائشې رضی الله عنها په کور کې وو، د جومات او قبر تر منځ دېوال حائل وو، په کور کې د دفنولو يو حکمت دا وو چې نه خلك ګنبده پرې جوړه کړی شي او نه معبد ترې جوړ شي. ډېر وروسته جاهلو امراءو دا حائل دېوال له منځه وړی چې په دې سره قبر د جومات منځ کې راغلی. په اسلام کې نه د قبرونو پر سر د ګنبدو، زيارتونو او قصرونو جوړولو جواز موندی شو او نه په جومات کې د قبرونو جوړولو جواز. مسجد د الله تعالی په وړاندې د سجدې ځای دئ، په مسجد کې د هر هغه څه راوړل او جوړول حرام دي چې له الله تعالی پرته بل ته د سجدې شائبه راولاړه

کړي.

• وروستى آيت هغو ويناوو ته اشاره کوي چې د اصحاب کهف د شمېر په اړه ويل کېدې يا به وروسته تر دې وويل شي، ځينو به ويل: درې ول څلورم ئې د دوی سپی وو، ځينو ويل: پنځه ول شپږم ئې د دوی سپی وو. الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: دا هسې په تياره کې کاڼې ويشتل دي، يعني د دوی ادعاء د بې بنسټه حدس او ګمان له مخې ارقام وړاندې کولو سره مترادف دي. ځينو ويل: اُوه ول او اتم ئې د دوی سپی وو!! الله تعالی د دوی په ځواب کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي چې ورته ووايه: زما رب د دوی له شمېر ښه خبر دئ، يوازې لږ کسان ئې پېژني. د دې الهي لارښوونې معنی له دې پرته بل څه نه ده چې دا ادعاء هم غلطه ده؛ حقيقي شمېر ئې له الله تعالی پرته بل چا ته معلوم نه دئ. دا ځکه چې يوازې لږو کسانو دوی پېژندل او د دوی په اړه ئې څه علم او پوهه لرله؛ او د دې معنی دا ده چې اصحاف کهف داسې زلميان نه وو چې ټولو خلکو پېژندل؛ او کله چې غره ته ختل او سمڅې ته ئې پناه وړله نو ډېر خلك پرې خبر شوي وي؛ يوازې د دوی نژدې خپلوانو پېژندل او يوازې دوی پوه شوي وو چې پټ شوي. خو هغوی هم داسې نه ول چې ټول پټ شوي زلميان ئې پېژندل او له شمېر ئې خبر ول. کله چې راويښ شول بيا هم ټولو خلکو نه بلکې لږو کسانو دا صحنه په سترګو لېدلې او ښايي د سمڅې خوا ته ټولو راغونډ شوو خلکو نه بلکې ځينو ئې ټول زلميان يا ځينې ئې ليدلې وي. طبيعي ده چې له دوی خوله په خوله انتقال شوې شمېرې د اعتبار وړ نشي ګڼل کېدی. دا بېل بېل ارقام په خپله ګواهي ورکوي چې د اعتبار وړ نه دي. که څه هم ځينو درنو مفسرينو داسې ګمان کړی چې ښايي دا وروستۍ شمېره به (اوه ول او اتم ئې د دوی سپی وو) صحيح شمېره وي!! دا په داسې حال کې چې له يوې خوا د مخکينيو آيتونو الفاظ د دې رأيې ترديد کوي او له بلې خوا ورپسې آيت په ډېر صراحت سره وايي: د دوی د شمېر په اړه له سر سرې بحث پرته له چا سره شخړه مه کوه او د دغو خلکو هيڅوك د دوی په اړه مه پوښته. يعني نه دا د بحث او مناقشې وړ موضوع ده او نه د شمېر په اړه د دغو خلکو ادعاء د اعتناء او منلو وړ. د قصې اصلي خبري دا دي: قيامت راتلونکی دئ، مړي به بياراژوندي کېږي، مؤمنان بايد د اصحاب کهف په څېر له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټيټ نه کړي، له شرك ځپلي ټولنې ووځي او له شرك لړلي مذهب بغاوت وکړي، پر الله تعالی توکل وکړي، الله تعالی د داسې مؤمنانو ساتونکی او د دوی د بريا او نجات ضامن دئ.

---

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْىۡءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَهۡدِيَنِ رَبِّي لِأَقۡرَبَ مِنۡ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾

او د هيڅ څه په اړه مه وايه چې زه ئې سبا کوونکی يم؛ مګر دا چې (ووايې) که الله وغواړي؛ او که دې هېره شوه نو خپل رب ياد کړه؛ او ووايه: هيله ده زما رب مې تر

دې لا زيات رشد او هدايت ته نژدې (كار ته) هدايت كړي.

(٢٣-٢٤)- د دې مباركو آيتونو په اړه دا خبري په پام كې ولرئ:

- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له طريق ټولو مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي د راتلونكو چارو په اړه همدومره احتياط كوئ لكه چي د مخكينيو پېښو په اړه د څه ويلو په ارتباط ئې بايد وكړئ، لكه چي د اصحاب كهف د شمېر، نومونو، په سمڅې كې د پاته كېدو موده ئې او نورو خبرو په اړه بايد د هر چا خبرو ته اعتناء ونه كړئ او داسي څه ونه وايئ چي بشپړ علم پرې نه لرئ؛ همدا راز د راتلونكې په اړه په قاطع توگه مه وايئ چي حتماً به دا او دا كوم؛ مگر دا چي إن شاء الله ورسره ووايئ، دا ځكه چي معلومه نه ده تاسو دا كار كولى شئ كه نه، نن چي كوم كار درته غوره برېښي ښايي سبا بل كار تر دې درته غوره معلوم شي. نو حتماً د راتلونكو چارو په اړه په احتياط سره پرېكړه وكړئ، له قاطع او پرېكنده پرېكړو ډډه وكړئ؛ يعني د ماضي په اړه (الله اعلم: الله ښه پوهېږي) او د مستقبل په اړه (إن شاء الله: كه خداى غوښتي وو) وايئ. كه احياناً د إن شاء الله ويل درنه هېر شول له رايادولو سره سم خپل رب ياد كړه؛ او ووايه: هيله ده زما رب مي داسي كار ته هدايت كړي چي تر دې لازيات غوره او رشد او هدايت ته نژدې وي.
- ځينو درنو مفسرينو داسي انگېرلې چي گواكې قريشو له رسول الله صلى الله عليه و سلم د دريو قضيو په اړه پوښتنه كړې وه: د اصحاب كهف، ذوالقرنين او روح په اړه؛ ده وعده ورسره كړې وه چي سبا ئې ځواب دركوم؛ خو تر پنځلسو ورځو پوري وحي رانه غله، ځواب وځنډېدو او په دې سره قريشو ته فرصت په لاس ورغى چي د ده په خلاف ډول ډول تبليغات پيل كړي، گواكې پنځلس ورځي وروسته دغه سوره د دوى په ځواب كې نازله شوه!! په دې اړه بايد ووايو: د دې تعبير لپاره نه يوازې په قرآن كې واضح شاهد نه مومو، بلكې دا د دغې سورې د ٨٣ آيت خلاف دئ چي وايي: د ذي القرنين په اړه تا پوښتي؛ ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم. څوك چي په دې اړه په مخكيني آيت استناد كوي دا كمزورى استناد دئ. له بله پلوه په دې سوره كې د روح په اړه څه نه دي ويل شوي، د روح په ارتباط په مخكينۍ سوره كې بحث شوى؛ خو هلته هم له روح مراد وحي ده نه د روح څرنگوالى؛ (هيله ده تفصيل ئې د بني اسرائيل سورې د ٨٥ آيت په تفسير كې وگورئ)، همدا راز ډېره بعيده معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به دوى ته ويلي وي چي ستاسو د پوښتنو ځواب به سبا دركړم، ځكه هغه ښه پوهېدو چي د وحي نزول د الله تعالى په خوښه وي نه د ده په خوښه.

دې ته مو هم پام وي چي شيعه د هري دعاء په پاى كې وايي: إن شاء الله؛ خداى دي وبخښه إن شاء الله، بريالى شې إن شاء الله او دې ته ورته دعاءگانې؛ او دا ښيي چي دوى د إن شاء الله د ويلو وخت او محل هم نه پېژني. دعاء بايد له بشپړ تأكيد سره توأم او له هر راز شك او تردد فارغه وي، همدا د رسول الله صلى الله عليه و سلم لارښوونه ده او همدا

د دعاء مقتضی ده. د پورتني آيت معنی دا نه ده چې تاسو په خپلو دعاءګانو کې هم إن شاء الله ووايئ!! معنی ئې دا ده چې کله په راتلونکې زمانه کې د کوم کار کولو پرېکړه کوئ نو إن شاء الله ورسره ياد کړئ.

وَلَبِثُواْ فِي كَهۡفِهِمۡ ثَلَٰثَ مِاْئَةٖ سِنِينَ وَٱزۡدَادُواْ تِسۡعٗا ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثُواْۖ لَهُۥ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَبۡصِرۡ بِهِۦ وَأَسۡمِعۡۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا يُشۡرِكُ فِي حُكۡمِهِۦٓ أَحَدٗا ﴿٢٦﴾

او (وئې ويل) په خپلې سمڅې کې درې سوه کاله پاته شول او نه (۹) ئې پرې زيات کړل؛ ووايه: الله په هغې (مودې) ښه پوه دئ چې (هلته) پاته شول، د آسمانونو او زمکې د غيبو (علم) له ده سره دئ، ښه ليدونکی ئې او ښه اورېدونکی، نه دوی ته له ده پرته کوم ولي (ملاتړی) شته او نه ئې په خپل حکم (حاکميت) کې څوك شريك کړی.

(۲۵-۲٦)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- معارضينو د مخکينيو خبرو په لړ کې دا هم وويل چې اصحاب کهف په خپلې سمڅې کې درې سوه کاله پاته شول او څينو نورو نه کاله پرې علاوه کړل او درې سوه نه (۳۰۹) ئې ترې جوړ کړل. يعني درې سوه نه کاله ويده پاته شول. الله تعالی د دې ادعاء ترديد کوي او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته فرمايي: ووايه: الله په هغې مودې ښه پوه دئ چې هلته پاته شول، هغه الله چې د آسمانونو او زمکې د غيبو علم له ده سره دئ، د هر څه ښه ليدونکی دئ او د هر غږ ښه اورېدونکی. يعني تاسو د داسې څه په اړه قضاوت او حکم کوئ چې ستاسو له سترګو پټ دي، نه مو هغوی په خپلو سترګو ليدلي او نه مو د هغوی غږ اورېدلی، نو ستاسو ادعاء، حکم او قضاوت به د اصحاب کهف په اړه څه ارزښت ولري؟!
- د اصحاب کهف په ارتباط د دوی دا تبليغات يوه ځانګړې منشأ لري، هغوی ئې په الوهيت او ربوبيت کې له الله تعالی سره شريك کړي، د دوی د قبر خوا ته ئې معبد جوړ کړی، په درشل کې ئې دعاءګاني کوي او مرستي ترې غواړي؛ حال دا چې له الله تعالی پرته نه کوم ولي او ملاتړی شته او نه الله تعالی په خپل حاکميت او د عالم په ساتني او پالني کې څوك له ځان سره شريك کړی.

څينو داسې ګمان کړی چې د ۲۵ آيت لومړۍ فقره د الله تعالی وينا افاده کوي او ګواکې الله تعالی ويلي چې دوی په خپلې سمڅې که درې سوه نه کاله پاته شول. دا انګېرنه په څو دلائلو کمزورې ده او د آيتونو له الفاظو او ترکيب سره قطعاً اړخ نه لګوي: ۱- په ورپسې فقره کې ويل شوي چې ووايه: الله په هغې مودې ښه پوه دئ چې هلته پاته شول؛ يعني د دوی ادعاء غلطه ده، ورته ووايه چې الله تعالی ښه پوهېږي چې څومره ويده پاته شوي. ۲-

قرآن په داسي مواردو کې د ارقامو وړاندي کول قطعاً نه خوښوي، څرګنده بېلګه ئې د دوی د شمېر په اړه مخکيني آيتونه دي. ٣- دا ترکيب چي درې سوه کاله پاته شول او نه ئې پرې زيات کړل په خپله ښيي چي دا د مقابل لوري ادعاء ده او قرآن په داسي بڼې کې رااخيستې چي سست والی او شکمنوالی ئې په ګوته کوي او ښيي چي ځينو وويل: درې سوه کاله تم شول؛ ځينو نه کاله نور پرې علاوه کړل.

---

وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدٗا ﴿٢٧﴾

هغه څه تلاوت کړه چي ستا د رب له کتاب تا ته وحي شوي، د ويناوو ئې بدلوونکی نشته او له ده پرته به هيڅ پناځی ونه مومې.

---

(٢٧)- د دې آيت په اړه څو خبري ضروري برېښي:

دا آيت په داسي حال کې چي د نوي مبحث پيل دئ؛ له مخکينی موضوع سره خاص ارتباط لري؛ ارتباط ئې داسي دئ چي د اصحاب کهف په اړه خلکو ته د قرآن دغه وينا واوروه، نه کم نه زيات، له هر راز تغيير او تبديل پرته؛ او د نوي مبحث په ارتباط ئې معنی دا ده چي قريشو له رسول الله صلی الله عليه و سلم دوه اساسي مطالبې درلودې: ١- زموږ د معبودانو او مذهب په ضد له خصمانه تبليغاتو لاس واخله، د روغي جوړي او تلفيق کوم صورت راپيدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به موږ درکوز شو او په دې توګه به دا د دښمنيو لړی پای ته ورسوو. ٢- ستا خوا ته د ټولني هغه خلك راغونډ شوي چي يا زموږ غلامان دي او يا بې وزلي او پرېوتي خلك، خو ته ئې له نورو سره برابر ګڼې، د ټولني له دود دستور سره سم بايد له دوی او د مکې له اشرافو سره چلن وکړې؛ په دې آيت کې د دوی د لومړی غوښتني په ځواب کې ويل شوي: ستا دنده دا ده چي هغه څه خلکو ته واوروې چي ستا د رب له لوري ئې وحي درته شوې، الله تعالی هيڅا ته دا حق نه دئ ورکړی چي د ده په کتاب کې لاسوهنه وکړي، څه تبديلي او تغيير په کې راولي، که احياناً ته دا کار وکړې نو د الله تعالی له سختي مؤاخذې به د نجات هيڅ پناځی ونه مومې. او د دوی د دوهمي غوښتني په اړه ئې په وروستنيو آيتونو کې په دې توګه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه کړې.

---

وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ﴿٢٨﴾

د هغو خلکو په څنګ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعا کوي؛ په داسې حال کې چې رضاء ئې لټوي او له دوی دې ستا سترګې بل پلو وانه وړي؛ د دنيوي ژوند د زينتونو په لټه کې؛ او د هغه چا متابعت مه کوه چې د ده زړه مو له خپل ذکر غافل کړی او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زياتی او افراط دئ.

(۲۸)- دا مبارك آيت د قريشو د دوهمي جاهلانه مطالبې په ځواب کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا لارښوونې کوي:

- د هغو خلکو په څنګ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعا کوي؛ په داسې حال کې چې رضاء ئې لټوي. که د دوی په ملګرتيا کې له کوم کړاو او ستونزې سره مخامخ شوې وئې ګاله، د مشکلاتو له کبله د دوی له ملګرتيا لاس مه اخله، ستا د ملګرتيا لپاره تر ټولو غوره خلك همدا دي، يوازې دوی کولی شي په دې سفر کې ستا ډاډمن همسفري وي، د مغرورو جاهلانو دې غوښتني ته اعتناء مه کوه چې دوی له خپلې خوا لرې کړه او په څنګ کې دې د ټولني شتمنو، واکمنو، د جاه او جلال خاوندانو ته ځای ورکړه؛ دوی ستا ملګرتيا نشي کولی.
- پام کوه چې د دنيوي ژوند د زينتونو په لټه کې دې سترګې له دوی بل پلو وانه وړي، داسې نه چې د دوی په اړه بې اعتنائي وکړې او هغه چا ته ترجيح ورکړې چې د مال، دولت او قدرت خاوند دئ.
- د هغه چا متابعت مه کوه، وينا ئې مه منه او غوښتنو ته ئې مه تسليمېږه چې زړه ئې د الله تعالى له ذکر غافل دئ او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زياتی او افراط دئ. يعني دا غوښتنه د هغه چا له لورې شوې چې الله تعالى ئې هېر کړی، د نفس او هوس بنده دئ؛ او له هر چا سره ئې معامله او چلن پر تېرې او افراط ولاړه ده.

وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِن يَسْتَغِيثُوا۟ يُغَاثُوا۟ بِمَآءٍ كَٱلْمُهْلِ يَشْوِى ٱلْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ ۚ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا

﴿۳۱﴾

او ووايه: دا ستاسو د رب له لوري يو حقيقت دئ؛ نو څوك چي غواړي ايمان دي راوړي او د چا چي خوښه وي كافر دي شي؛ بې شكه چي مونږ د ظالمانو لپاره داسي اور تيار كړى چي دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او چي كله د مرستي لپاره غږ كړي نو په داسي اوبو به ئې غږ ته ځواب ويلى شي چي خوټېدونكې، توري او بويناكې دي او مخونه وريتوي؛ څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبى؛ او بې شكه هغو چي ايمان ئې راوړى او صالح عملونه ئې كړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضائع كوو چي د عمل له مخي ښه وي. دوى هغه وګړي دي چي داسي تلپاته جنتونه به ئې په برخه وي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، د سرو زرو په لاس وندو به سينګار كړى شي او د نريو او پرېړو ورېښمو شنې جامي به اغوندي؛ په داسي حال كې چي پر تختونو به تكيه كوونكې وي؛ څومره غوره ثواب او ښايسته تكيه ځى!!

---

(۲۹-۳۱)- د دې مباركو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

• دلته د (ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡ) مراد يا هغه ويناوي دي چي تر دې وړاندي راغلې او يا ټول قرآن. مطلب ئې دا دئ چي دا ستاسو د رب له لوري او حقيقت دئ، نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم ذاتي افكار او ويناوي دي او نه په هغه كې د حق او حقيقت خلاف څه نښه موندى شئ.

• د هر چا خپله خوښه ده چي ايمان راوړي او كه كافر كېږي، دا واك او اختيار انسان ته وركړى شوى چي د ايمان او كفر تر منځ يو ئې غوره كړي، الله تعالى ئې نه ايمان راوړو ته اړ باسي او نه ئې كفر او انكار ته.

• څوك چي له دې اختيار او آزادي غلطه استفاده وكړي او د ظلم او تېري لار غوره كړي نو الله تعالى دغو ظالمانو ته داسي اور تيار كړى چي دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او كله چي له ډېري تندي چيغي كړي او په چيغو چيغو سره مرسته وغواړي نو په داسي اوبو به ئې غوښتنه ځوابېږي چي خوټېدونكې، توري او بويناكې دي او مخونه وريتوي؛ څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبى.

• او چا چي ايمان راوړى او صالح عملونه ئې كړي، نو الله تعالى د هغه چا اجر نه ضائع كوي چي عمل ئې صالح وي؛ نه په دنيا كې او نه په آخرت كې، هم به د خپل ايمان او صالح عمل غوره نتائج په دنيا كې تر لاسه كوي او هم په آخرت كې.

• په آخرت كې به ئې داسي تلپاته جنتونه په برخه شي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، د سرو زرو لاس وندي به ورواغوستل شي او د نريو او پرېړو ورېښمو شنې جامي به اغوندي؛ په داسي حال كې چي پر تختونو به ئې تكيه كړې وي، څومره غوره ثواب او ښايسته تكيه ځى!! په جنت كې د سپينو زرو لاس وند ته اشاره هم د انسان دې تمايل ته اشاره ده چي غواړي

د سپينو زرو لاس وند ئې په لاس وي، مګر نه ګورئ چې اوس اکثر لاسونه، که د نارينه دي که د ښځو، په لاس وند مخصوصاً د ګړۍ بند سره ښايسته شوي؛ او اکثراً ګورو چې سپينو زرو ته ورته تر نورو زيات خوښوي. ګورئ چې په جنت کې به د انسان دغه تمايل ته هم ځواب ويل کېږي، د زړه دا غوښتنه به ئې هم تر سره کېږي، چا ته د سرو زرو او چا ته د سپينو زرو لاس وندي به ورواغوستل شي او د نريو او پرېړو ورېښمو شنې جامې به اغوندي!!
که لږ ځير شئ دلته د انسان يوه بل تمايل ته هم اشاره شوې، شين رنګ او نرم لباس، که دا نرى وي او که پرېړ، دا اوس د نړۍ د ډېرى خلکو لباس شين بخون دئ، د اکثرو هېوادو د فوځيانو لباس دغه رنګ دئ، د انسان هغه سيمه خوښېږي چې ډول ډول شنو بوټو او ونو پوښلې وې، په داسې ځاى کې دا خوښوي چې د ده جامه هم د سيمې له رنګ سره نږدې والى ولري.

- له دې او دې ته ورته ګڼ شمېر آيتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې انسان ته دا اختيار او واك ورکړى شوى چې په خپله خوښه يا د ايمان او صالح عمل لار غوره کړي او يا د کفر او ظلم لار، د همدې واك او اختيار له امله او د خپل انتخاب د څرنګوالي له مخې به سزا ګوري. دا مطلب د النبأ په سوره کې په دې الفاظو سره راغلى:

ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ النباء: ۳۹

دا رښتينې ورځ ده؛ نو څوك چې غواړي؛ د خپل رب په لوري دې د ورتګ لار غوره کړي.

يعني دا هم د انسان په انتخاب پورې اړه لري چې د خپل رب لوري ته د ورتلو لار اختيار کړي او د صالح عمل په نتيجه کې د الله خوا ته غوره مقام تر لاسه کړي.

خو دا چې د دې آيتونو تر څنګ په قرآن کې داسې آيتونه هم مومو چې د انسان مشيت او اراده د الله تعالى د ارادې تابع بولي او داسې ترې معلومېږي چې انسان د ثابتو او تغيير نه منونکو مقدراتو تابع دئ او د هغوى مخالفت نشي کولى. نو دا دواړه به څنګه تلفيقوو او د مقدراتو او اختيار تر منځ به وسط لار څنګه ټاکو؟ لکه چې قرآن فرمايي: وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ: تاسو غوښتى نه شئ تر هغه چې د عالمونو رب الله نه وي غوښتي. دا مطلب به څنګه د انسان له نسبي آزادۍ او اختيار سره متصادم نه ګڼو او څنګه به دا آيتونه سره همغږي ثابتوو؟ ځواب ئې دا دئ:

- که دا آيت او دې ته ورته آيتونه؛ مستقل او له نورو بېل نه بلکې د ټولو هغو آيتونو تر څنګ وڅېړو او ټول هغه آيتونه په پام کې ولرو چې د قضاء، قدر، اراده، مشيت او اختيار مفاهيم په کې راغلي؛ نو په مطلب ئې پوهېدل آسان او له خبط او خطأ خوندي پاته کېدى شو. متأسفانه بادي الرأى کسان او د لنډ نظر خاوندان دا آيت يوازې او نورو ته له پامه پرته څېړي؛ له همدې امله په مطلب پوهېدل ورته ګران شي او ګمان کوي چې دا آيت د انسان په بې وسۍ، مجبوريت او عدم اختيار دلالت کوي. دوى دې ته نه دي متوجه چې په دې آيتونو کې د دې موضوع يوه څنډه څېړل شوې او نورې برخې ئې په نورو آيتونو کې؛ په کار

ده په موضوع د ښه پوهېدو لپاره ټول اړوند آيتونه په پام کې ونيسو. د دغې غلطۍ له کبله ځينو کسانو د قضاء او قدر په اړه داسې څه ويلي چې په موضوع د پوهېدو پر ځای ئې هغه مزيد گرانه کړې، خلکو ته ئې شکوك او شبهات راپيدا کړي او دښمنانو ته ئې د دې خبرې کولو موقع ورکړې چې ووايي: په قرآن کې تعارض تر سترگو کېږي، قرآن له يوې خوا انسان بې اختيار او مجبور مخلوق گڼي او په عين حال کې ئې کړه وړه د محاسبې وړ بولي؛ په داسې حال کې چې مجبور مخلوق د خپلو کړنو په اړه هيڅ مسئوليت نه لري، د مجبور مخلوق د ټولو کړنو مسئوليت د هغه چا پر غاړه وي چې دی ئې ورته مجبور کړی!! او له بلې خوا وايي چې انسان ته له دوو بديلونو د يوه د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی. دوی ته بايد حقيقت توضيح شي او پوښتنو ته ئې قانع کوونکی ځواب وويل شي. قرآن دا ځواب ورکړی، په کار ده چې د قرآن دا ځواب د دوی مخې ته کېښېږدو. ځيني داسې دي چې په دې اړه هم له څه ويلو ډډه کوي او هم ممانعت؛ او پر دې ئې ټينگار وي چې د قضاء او قدر موضوع بايد مجمل ومنو او تفصيل ته ئې له ننوتو ډډه وکړو!! په داسې حال کې چې دا يوه مهمه اعتقادي موضوع ده او ايمان پرې ضروري، ايمان له علم او پوهې پرته نه شي کېدی، ايمان په حقيقت کې د پوهې انتهاء او پايله ده. قرآن د گڼ شمېر آيتونو په ترڅ کې او په ډېر تفصيل سره دا موضوع څېړلې. که په قضاء او قدر پورې مربوط ټول آيتونه د يوه بل څنگ ته کېښېږدو، د يوه لپاره بل له پامه ونه غورځوو او د ټولو په رڼا کې نتيجه راوباسو؛ نو نه به په اصل مطلب پوهېدل راته گران وي او نه به له کوم مشکل سره مخامخ کېږو.

• دې ته مو بايد پام وي چې قرآن که له يوې خوا دا ويلي چې دلته تغيير نه منونکې قضاء او قدر شته، هر کار د قضاء او قدر مطابق او له هغو سننو او ضوابطو سره سم تر سره کېږي چې الله تعالی د دې عالم لپاره وضع کړي، د الهي مقدراتو په محدوده کې او د الله تعالی په اراده او إذن تر سره کېږي؛ له بلې خوا ئې دا هم ويلي چې انسان ته نسبي واك او اختيار ورکړی شوی، هغه کولی شي له دوو لارو يوه غوره کړي، کولی شي له دوو کارونو د يوه د کولو اراده وکړي. پر قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چې مونږ به په دواړو خبرو ايمان لرو، نه دا چې يوه ئې ومنو او پر هغې ټينگار وکړو او له بلې سترگې پټې کړو او له پامه ئې وغورځوو. هغه چا ته چې په قرآن کې لږ غور وکړي؛ د دې دواړو خبرو تلفيق گران کار نه دئ او په ډېره آسانۍ سره دې نتيجې ته رسېږي چې انسان ته د نسبي اختيار او واك ورکول او له دوو بديلونو د يوه د انتخاب قدرت او صلاحيت ورکول، د همدې الهي (قضاء ) او (قدر) يوه برخه ده، الله تعالی دا سنت وضع کړی چې انسان کولی شي په ځينو مواردو کې او د يوې خاصې محدودې په انگړ کې د خپل مشيت او غوښتنې مطابق اقدام وکړي. که دا الهي سنت نه وی او د ده دا اختيار د قضاء او قدر جزء نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر په کامله توگه محکوم او بې اختيار وو، هيڅ څه به ئې په خپله خوښه نه شو تر سره کولی!! خو د الله تعالی مشيت داسې تللی، الله تعالی داسې اراده کړې، الله تعالی داسې غوښتې

چې انسان دې نسبې واك او اختيار ولرې؛ د همدې لپاره وايو چې انسان هر څه کوې د الله په اراده، إذن او اجازه ئې کوې، الله تعالی ورته د يوې پرېکړې عزم او د يوه کار د کولو توفيق ورکوې. د (قضاء) او (قدر) معنا دا نه ده چې انسان بې اختيار او بې ارادې مخلوق دئ؛ چې نه د انتخاب اختيار لرې او نه په خپل تقدير او برخليك کې د ده اراده او عزم څه اغېز لرې. دا د قضاء او قدر ډېر غلط او ناسم تعبير دئ، (قدر) يعنې دا چې دلته د هر څه لپاره خاصه او تغيير نه منونکې اندازه ټاکل شوې او (قضاء) يعنې دا چې دلته هر څه د ثابتو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږې، انسان ته د همدغو سننو او مقدراتو په محدودې کې د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی، په سم انتخاب ئې سم نتائج مرتب کېږې او خراب انتخاب ئې خراب نتائج ورکوې.

- اهل سنت و جماعت په دې عقيده دې چې انسان نه مجبور مطلق دئ او نه مختار مطلق؛ بلکې په يوې محدودې کې د اختيار خاوند دئ. د دوی له نظره د انسان په اړه دا عقيده درلودل چې هغه په مطلقه توگه محکوم او مجبور دئ هم د واقع خلاف خبره ده، هم له څرگندو نصوصو سره متصادم؛ او هم د الهې عدالت خلاف. عملاً گورو چې انسان نه د جماداتو په څېر بې واك او محکوم دئ؛ او نه داسې فعال مايشاء چې هر څه ئې زړه وغوارې وئې کړی شې. خبره داسې نه ده بلکې د ځينو کارونو د کولو واك او اختيار لرې او د ځينو له کولو عاجز او ناتوان. د همدغه واك او اختيار له امله له هغه سره محاسبه کېږې، ده ته چې د کومو کارونو کول ممکن دې د هغوی له منځه يو غوره کولی شې، خو د ده پر دې انتخاب چې کوم نتايج مرتب کېږې؛ دی ئې په خپله نه بلکې الله تعالی ئې پرې مرتب کوې، په دې لار کې چې دی له کومو لوړو ژورو سره مخامخ کېږې دا ټول د ده له واك بهر شيان دې، که هغه مجبور او بې اختيار وی نو نه محاسبه ورسره صحيح وه او نه ئې مجازات؛ دا ځکه چې د هغه چا مجازات او تعذيبول د عدالت خلاف کار دئ چې د اختيار او واك خاوند نه وې او د هر کار په کولو اړ شوی وې. الله تعالی پر خپلو بندگانو ظلم نه کوې؛ څنگه به هغه څوك تعذيبوې چې بل گناه ته اړ کړی وې، الله تعالی خو د مجبوريت او اضطرار په وخت کې حرام کار هم انسان ته روا کړې. د دې مزيد تفصيل د التکوير سورې د ۲۹ آيت په تفسير کې وگورئ.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ وَحَفَفۡنَٰهُمَا
بِنَخۡلٖ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا ﴿٣٢﴾ كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ
شَيۡـٔٗاۚ وَفَجَّرۡنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرٗا ﴿٣٣﴾ وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٞ فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ
أَنَا۠ أَكۡثَرُ مِنكَ مَالٗا وَأَعَزُّ نَفَرٗا ﴿٣٤﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ قَالَ مَآ

أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدًا ۝٣٥ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي
لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ۝٣٦ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِي
خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا ۝٣٧ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ
أُشْرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدًا ۝٣٨ وَلَوْلَآ إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا
بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا ۝٣٩ فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّن
جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا ۝٤٠ أَوْ يُصْبِحَ
مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَن تَسْتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبًا ۝٤١ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ
عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّيٓ
أَحَدًا ۝٤٢ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٌ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا ۝٤٣
هُنَالِكَ ٱلْوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلْحَقِّۚ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ عُقْبًا ۝٤٤

او د هغو دوو سړيو مثال ورته تېر کړه چې يوه ته ئې موږ دوه د انګورو داسې باغونه ورکړي وو چې د خرما په ونو مو احاطه کړي وو او د باغونو په منځ کې مو کرونده ورته برابره کړې وه؛ دواړو باغونو به خپله بشپړه مېوه ورکوله او هيڅ څه به ئې نه ترې کمول؛ او د دوی په منځ کې مو نهرونه وبهول؛ او مېوې (حاصل) ئې په برخه وې. نو په داسې حال کې چې له خپل ملګري سره ئې خبرې کولې هغه ته ئې وويل: زه تر تا د مال او پلويانو له پلوه وړاندې يم؛ او خپل باغ ته په داسې حال کې ننوت چې پر خپل ځان ئې ظلم کولو؛ وئې ويل: ګمان نه کوم چې دا به کله هم له منځه ولاړ شي؛ او ګمان نه کوم قيامت به راشي او که د خپل رب لوري ته وروګرځول شم نو حتماً به تر دې غوره منقلب (د ورګرځېدو ځای) ومومم. ملګري ئې د خبرو په ترڅ کې ورته وويل: آيا د هغه چا په اړه کافر شوی يې چې له خاورې، بيا ئې له نطفې پيدا کړې او بيا ئې د يوه بشپړ سړي په څېر برابر کړې؟! خو زه داسې يم چې همغه الله مې رب دئ او له خپل رب سره هيڅوک نه شريکوم، هغه مهال چې خپل باغ ته ننوتې ولې دې ونه ويل (مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ: دا همغه څه دي چې الله غوښتي؛ هيڅ توان د الله له مرستې پرته نشته)؛ که ته مې د مال او اولاد له پلوه تر ځان کم ګڼې نو هيله ده چې زما رب ستا تر باغ غوره شیء راته راکړي؛ او کېدی شي ستا پر باغ له آسمان

داسي آفت نازل كړي چي په نتيجه كې ئې ښوى ډاگ شي، يا ئې اوبه (په زمكې كې) ژوري ننوځي او ته ئې هيڅكله د تر لاسه كولو توان ونه مومې؛ او مېوه ئې (په آفت) مبتلى شوه، نو داسي شو چي په خپل هغه لگښت ئې لاسونه سره موښل چي پر باغونو ئې كړى وو؛ او (اوس ئې باغونه داسي ليدل چي) پر خپلو څپريو او چجو رانسكو شوي او ويل ئې: كاش له خپل رب سره مي هيڅوك نه وى شريك كړى؛ او نه ئې له الله پرته داسي ډله درلوده چي ملاتړ او مرسته ئې وكړي او نه ئې په خپله د ځان مرسته كولى شوى. همدلته څرگنده شوه چي ولايت او مرسته حقيقي الله ته مختص ده؛ هغه هم د ثواب وركولو له پلوه غوره دئ او هم د پايلو ټاكلو له پلوه غوره.

(٣٢-٤٤)- په دې مباركو آيتونو كې يوه بله اغېزناكه او لارښوونكې قصه زموږ مخي ته اېښودل شوې او ټول هغه مطالب په كې انځور شوي چي د سورې اساسي مضامين دي او د دې سورې په قصو كې په بېل بېل انداز او اسلوب توضيح شوي. دلته دوه شخصيتونه يو د بل څنگ كې درول شوي، د دواړو باورونه او د دې باورونو پايلي د دوى په ژوند او اغېز ئې د دوى پر كړنو زموږ مخي ته ځلېږي، يو ئې شتمن او د مال او دولت خاوند دئ؛ اولاد او پلويان ئې زيات دي، دوه سمسوره او شېرازه باغونه لري چي هر كال ډېر حاصل وركوي، خو مشرك دئ، پر آخرت ايمان نه لري، گمان كوي چي قيامت نه راځي، الله تعالى له بنده سره محاسبه نه كوي، پر الهي مكافات او مجازات باور نه لري، گمان ئې دا دئ چي كه احياناً قيامت راشي او الهي محاسبه تر سره شي نو هلته به هم ده ته غوره مقام ورپه برخه شي؛ همغسي لكه په دنيا كې چي ورپه برخه شوى. بل ئې نيستمن دئ، مال او دولت نه لري؛ خو پر الله تعالى او آخرت ايمان لري، باور ئې دا دئ چي د انسان هر څه د الله تعالى عطيه او وركړه ده. قرآن د دوى دواړو تر منځ يوه محاوره او مركه په ډېر اغېزناك او خوندور اسلوب او ډېرو ښكلو الفاظو سره داسي وړاندي كوي:

مشرك شتمن چي د انگورو دوه سمسور باغونه لري له خپل مؤمن نيستمن ملگري سره يو ځاى خپل باغ ته ننوځي، باغ ئې د خرما په ونو سره احاطه شوى، په منځ كې ئې كرونده ده، د اوبو وياله په كې بهېږي، كله چي خپل باغ سمسور او ونې له مېوو ډكې گوري نو خپل ملگري ته مخ اړوي او له غرور او تكبر ډكې لهجې سره هغه ته وايي: زه تر تا د مال او پلويانو له پلوه وړاندي يم، گمان نه كوم چي دا سمسور باغ به كله هم له منځه ولاړ شي؛ او گمان نه كوم چي قيامت به راشي او كه د خپل رب لوري ته وروگرځول شم نو حتماً به هلته تر دې هم غوره مقام او منزلت راپه برخه شي. ملگري ئې د خبرو په ترڅ كې ورته وويل: آيا د هغه رب په اړه كافر شوى يې چي ته ئې له خاوري، بيا له نطفې پيدا كړې او بيا ئې د يوه بشپړ سړي په څېر برابر كړې؟! ته تر دې وړاندي يوه وړه نطفه وې، دا نطفه له هغو مېوو او دانو جوړه شوې چي له خاوري راټوكېږي، ونو او بوټو له خاورو جوړي كړې، الله تعالى له هغې خاوري بشپړ انسان درنه جوړ كړ؛ آيا د الله تعالى دا پېرزوينه دي

هېره کړې؟! خو زه داسي يم چي همغه الله مي رب دئ او له خپل رب سره هيڅوك نه شريكوم. هغه مهال چي خپل باغ ته ننوتې ولي دي ونه ويل (مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِ) په كار خو دا وه چي د الله تعالی د نعمت شكر دي اداء كړی وی او دا اعتراف دي كولی چي هم وركړه د الله تعالی له لوري ده او هم په كوم كار د برلاسي توفيق د الله تعالی له لوري، كه ته مي د مال او اولاد له پلوه تر ځان كم ګڼې نو هيله ده چي زما رب ستا تر باغ غوره شیء راته راكړي، په دنيا يا په آخرت كې؛ او كېدی شي ستا پر باغ له آسمان داسي آفت نازل كړي چي په نتيجه كې ئې شوی ډاګ شي، يا ئې اوبه په زمكي كې ژوري ننوځي او ته ئې هيڅكله د تر لاسه كولو توان ونه مومې، آيا څوك كولی شي د الله تعالی د داسي پرېكړو مخنيوی وكړی؟ همداسي وشول، باغونه او مېوه ئې په الهي آفت اخته شول، ليدل ئې چي د انګورو څپری او چجې ئې رانسكوري شوې، مېوه او كرونده ئې تباه شوې، نو لاسونه ئې سره موښل او په هغو لګښتونو ئې تأسف كولو چي پر باغونو ئې كړي ول؛ ويل ئې: كاش له خپل رب سره مي هيڅوك نه وی شريك كړی؛ او حالت ئې داسي وو چي هيڅا ئې مرسته نه شوی كولی، د خپلوانو او پلويانو هغه ډله هم د ده خوا ته نه راتله او د ده مرسته ئې نه شوی كولی چي دی پرې مغرور وو؛ او په خپله ئې هم د ځان مرسته نه شوی كولی، له الله تعالی پرته ئې بله ملجأ او مرجع نه موندله. همدلته څرګنده او ثابته شوه چي ولايت او مرسته حقيقي الله ته مختص ده، هغه هم د ثواب وركولو له پلوه غوره دئ او هم د پايلو ټاكلو له پلوه غوره.

---

وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ ٱلرِّيَٰحُ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿٤٥﴾ ٱلْمَالُ وَٱلْبَنُونَ زِينَةُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا ﴿٤٦﴾

د دنيايي ژوند مثال ورته تېر كړه چي داسي دئ لكه هغه اوبه چي موږ ئې له آسمان راوورووو او په همدې سره د زمكي بوټي ګڼ ګڼ راوټوكېږي؛ او (ژر) داسي مات مات شي چي باد ئې الوځوي؛ او الله په هر څه توانمن دئ. دا مال او اولاد د دنيايي ژوند زينت او ښايست دئ او پاته شوي صالح عملونه ستا د رب په وړاندي هم د ثواب له پلوه غوره دي او هم د طمعي او هيلي له پلوه.

---

(٤٥-٤٦)- په دې مباركو آيتونو كې د طبيعت په غېږ كې او د طبيعي حوادثو په استناد د هغو مطالبو د اثبات لپاره دلائل وړاندي شوي چي تر دې د مخه په تاريخي قصو كې وړاندي شول، زموږ پام د هغه باران لوري ته اړوي چي له آسمان وورېږي، په همدې سره له زمكي

ډول ډول بوټي راوټوكېږي، د زمكې مخ شين كړي، داسې چې د هر چا توجه ځان ته راكاږي. خو همدا شنه او زړه راښكونكې بوټي ډېر ژر وچ شي، ټوټې ټوټې شي او ګورې به چې سيلۍ ئې يوې خوا بلې خوا ته الوځوي!! د دنيا مال او متاع؛ اولاد، خپلوان او پلويان همداسې دي: جالب، جاذب، غولوونكي، موقتي او ژر فناء كېدونكي. خو په مقابل كې ئې د انسان صالح او نېك عملونه داسې دي چې بقاء او دوام ئې په برخه شي، الله تعالى غوره ثواب او بدله پرې مرتب كړي او د نېكو پايلو طمع او هيله ئې كېدى شي.

وَيَوْمَ نُسَيِّرُ ٱلْجِبَالَ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا ﴿٤٧﴾
وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍۭ بَلْ زَعَمْتُمْ
أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا
فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلْكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ
أَحْصَىٰهَا ۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾

او هغه ورځ چې غرونه روان كړو او زمكه به بربنډه ګورې؛ او دوى به راغونډ كړو، داسې چې هيڅ يو ئې پرېنږدو؛ او ليكه ليكه به ستا رب ته وروړاندې كړى شي؛ يقيناً چې موږ ته همغسې راغلئ لكه چې په لومړي ځل مو پيدا كړي وئ، خو تاسو ګمان كولو چې هيڅكله به د وعدې تر سره كېدو كومه نېټه درته ونه ټاكو؛ او كتاب به كښېښودى شي؛ نو مجرمين به ګورې چې له هغه څه وېرېدونكي دي چې په دې (كتاب) كې دي؛ او وايي به: افسوس پر موږ! دا څنګه كتاب دئ! نه ئې ووړ (عمل)پرېښى او نه ستر؛ مګر هغه ئې درج كړى؛ او هر هغه څه به حاضر وومي چې كړي ئې ول؛ او ستا رب به پر هيچا ظلم نه كوي.

(٤٧-٤٩)- په دې مباركو آيتونو كې د قيامت دوه پړاوونه په مجمله خو ډېرې جامع بڼې كې انځور شوي؛ داسې:

- هغه ورځ به راشي چې دا غرونه له خپل خپل ځاى وخوزوو، يوې بلې خوا ته ئې روان كړو، زمكه له غرونو بربنډه شي، خور او پراخ ډاګ ترې جوړ شي.
- ټول انسانان راژوندي كړو، داسې چې هيڅ يو ئې مړ او تر خاورو لاندې پاته نشي، ټول په دې پراخ بربنډ ډاګ كې راغونډ كړو، ليكه ليكه ستا رب ته وروړاندې كړى شي.
- دوى ته به وويل شي: نن د الله تعالى په وړاندې همغسې راغلئ لكه چې په لومړي ځل ئې پيدا كړي وئ؛ دا دئ بيا ئې د لومړي ځل په څېر راپيدا كړئ، همغسې بربنډ لكه چې له خپلو مېندو بربنډ پيدا كېدئ. تاسو ګمان كولو چې هيڅكله به د وعدې تر سره كېدو كومه

نېته درته ونه ټاکو؛ خو دا دئ هغه نېټه راغله او هغه وعده تر سره شوه.

- محاسبه به پیل شي، د هر چا په وړاندې به د ده خپل کتاب او عملپاڼه کښېښودی شي، مجرمین به ګورې چې د خپلې عملپاڼې په لیدو سره وېرې اخیستي او په پرېوتي او له تأسف ډك غږ سره وايي: افسوس پر موږ! دا څنګه کتاب دئ! نه ئې زموږ ووړ عمل پرېښی او نه ستر، هر څه په کې درج شوي، هر هغه څه به حاضر وموميي چې کړي ئې ول؛ له دې وینا داسې معلومېږي چې هر څوك به خپل عملونه داسې حاضر او مخامخ ګوري لکه چې ویډیو او فیلم ګوري!! د دې وینا پر حقیقت او ماهیت نن ښه پوهېدی شو؛ تر هغه وړاندې چې انسان انځور او فیلم ثبتول کشف او اختراع کړي؛ د دې آیت پر ټولو ابعادو پوهېدل ممکن نه وو.
- ستا رب به هر چا ته مناسبه او عادلانه سزا ورکړي او پر هیڅا به ظلم نه کوي.

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِي وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوُّۢۚ بِئۡسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا ﴿٥٠﴾

او هغه مهال چې ملائکو ته مو وویل: د آدم لپاره سجده وکړئ؛ نو ټولو سجده وکړه پرته له ابلیس؛ چې هغه له پېریانو وو او د خپل رب له امر ئې سرغړاوی وکړ؛ نو آیا تاسو هغه او اولاد ئې له ما پرته اولیاء او مرستیالان نیسئ؛ حال دا چې هغه مو دښمن دئ؟!! د ظالمانو څومره کرغېړنه او بده بدلَونه.

(٥٠)- د دې مبارك آیت مهمې مهمې لارښوونې دا دي:

انسانانو ته ویل شوي: الله تعالی تاسو ته ستر کرامت درپه برخه کړ، ملائکو ته ئې امر وکړ چې ستاسو جد آدم علیه السلام ته سجده وکړي، ټولو سجده وکړه، د دوی د سجدې معنی دا وه چې د عالَم هر څه انسان ته مسخر او تابع وي؛ همداسې وشول؛ خو په ټول عالَم کې یوازې یوه مخلوق (ابلیس) له دې ډډه وکړه چې انسان ته مسخر او تابع وي؛ دا ځکه چې هغه له پېریانو وو، پېریان د انسانانو په څېر بااختیار دي، الله تعالی داسې پیدا کړي چې کولی شي له دوو لارو او دوو چارو یوه غوره کړي: د ایمان یا کفر لار، اطاعت یا عصیان، نېك یا بد عمل؛ د فرشتو او نورو مخلوقاتو په څېر نه دي چې د الله تعالی له امر او حکم عصیان او سرغړاوی نشي کولی. نو شیطان له همدې واك او اختیار په استفادې سره د خپل رب له امر سرغړاوی وکړ، عصیان ئې هغه پړاو ته ورسېد چې د الله تعالی په لورې د بېرته ګرځېدو ټولې دروازې ئې مخې ته وتړلې او د ده له رحمت سخت مأیوس او ناهیلی (ابلیس) شو. نو اې انسانانو! آیا تاسو همغه ابلیس او اولاد ئې له الله تعالی پرته اولیاء او

مرستيالان نيسئ؛ حال دا چي هغه مو دښمنان دي؟!! دا څومره ظالمانه، بده او كرغېړنه بدلونه ده؛ خپل رب پرېږدئ او خپل دښمن ته پناه وړئ او هغه خپل ولي او پالونكى گرځوئ!!!

د دې مبارك آيت له څرگندو لارښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د قرآن له نظره له الله تعالى پرته د بل چا متابعت شرك او د الله تعالى پر ځاى بل د ولي په توگه نيول دي.

مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ عَضُدٗا ۝٥١ وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا ۝٥٢ وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ يَجِدُواْ عَنۡهَا مَصۡرِفٗا ۝٥٣

نه مو د آسمانونو او زمكې د پيدايښت پر مهال شاهدان گرځولي ول او نه په خپله د دوى د پيدايښت پر مهال؛ او نه موږ لار وركې مرستندوى نيسو؛ او هغه ورځ چي وايي: زما هغه شريكان دروبلئ چي (همدا) گمان (مو پرې) كولو؛ نو وروبه ئې بلي خو اجابت به ئې نشي كولى او د دوى تر منځ به د دوزخ دائمي كنده حائل كړو؛ او مجرمان به اور وگوري او گمان به وكړي چي په كې لوېدونكي دي؛ او له هغه به د ځنگ ته كېدا ځاى ونه مومي.

(٥١-٥٣)- دا مبارك آيت د مخكيني مزيد وضاحت كوي او وايي: تاسو څنگه د شيطان متابعت كوئ، څنگه ئې په متابعت كې د الله تعالى شريك او نِد گرځوئ؛ حال دا چي هغه نه د آسمانونو او زمكې د پيدايښت پر مهال حاضر او شاهد وو او نه د خپل پيدايښت پر مهال، څوك چي د عالم د پيدايښت له څرنگوالي خبر نه وي، د خپل ځان د پيدايښت له څرنگوالي خبر نه وي هغه به څنگه ستاسو لارښوونه وكړى شي؟!! څنگه گمان كوئ چي الله تعالى به د شيطان په څېر لار وركې د ځان شريكان او مرستيالان گرځوي. د دغو وهمي او دروغجنو شريكانو او مرستيالانو ماهيت به هغه ورځ ښه بربنډ شي او دوى ته د دعاء كولو او له دوى د مرستي غوښتلو پايله به ښه جوته شي چي ټول انسانان، پېريان د ابليس په گډون او دروغجن معبودان د الله تعالى په وړاندي راغونډ شي او الله تعالى ورته ووايي: زما هغه شريكان دروبلئ چي همدا گمان مو پرې كاوو، زما شريكان مو گڼل، په هغوى پسي روان وئ او د هغوى په درشل كې مو دعاءگانې كولې. مشركان به هغوى وروبلي خو هغوى به نه ځواب وركولى شي او نه به ئې مرسته كولى شي، د دوزخ لمبې به ئې تر منځ حائل شي،

ټول مجرمان به د دوزخ په ليدو سره پوه شي چي همدا ئې ځاى دئ او په همدې كندي كي لوېدونكي دي او هيڅ پناه ځى به ترې ونه مومي.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَكۡثَرَ شَيۡءٖ جَدَلٗا ﴿٥٤﴾

او يقيناً چي په دې قرآن كي مو د خلكو لپاره ډول ډول مثالونه وړاندي كړل؛ او انسان تر هر څه زيات جګړاوو (جدل كوونكى) دئ.

(٥٤)- دا مبارك آيت وايي چي په قرآن كي ټول هغه مثالونه راغلي چي د خلكو د لارښوونې او پوهاوي لپاره ضروري دي. څوك چي د قرآن د مثالونو، دلائلو او لارښوونو له اورېدو سره سره په حقيقت پوه نشي او ايمان رانه وړي نو هيڅ مثال، دليل او لارښوونه ئې نشي پوهولى او ايمان راوړو ته ئې نشي چمتو كولى. د قرآن د دغو لارښوونو او مثالونو له منلو به يوازې هغه انسان ډډه كوي چي سخت جګړاوو او جدل كوونكى وي. تاسو وليدل چي د دې سورې له پيل تر دې ځاى څومره ښكلي، جامع او اغېزناك مثالونه زموږ مخي ته كښېښودل شول، همداسي به د قرآن په نورو برخو كي وګورئ چي خپل مطالب ئې د لارښوونكو مثالونو په ترځ كي توضيح كړي او د مخاطب هره پوښتنه ئې ځواب كړې او هر تشويش ئې رفع كړى.

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّهُمۡ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ قُبُلٗا ﴿٥٥﴾

او دا خلك يوازې دې خبرې له ايمان راوړلو او له خپل رب بخښني غوښتلو منع كړل چي د مخكينيو سنت (دود دستور) ورته راشي او يا عذاب مخامخ ورته راشي.

(٥٥)- دلته د مشركينو د ايمان نه راوړلو او له خپل رب د بخښني نه غوښتلو دوه وجهې بيان شوې: ١- دوى له خپل پيغمبر داسي دين او مذهب غوښتو چي د دوى له پلرني مذهب او قومي دود دستور سره ورته وي، نوى دين او له هغه مذهب سره مخالف دين چي دوى ته له خپل پلار او نيكه په ميراث پاته دئ نه مني. يعني دلته سنت د مذهب او دود دستور په معنى راغلى، نه د عذاب په معنى، كه دا د عذاب په معنى ونيول شي بيا خو غير ضروري تكرار راځي ځكه د عذاب يادونه وروسته شوې ده. ٢- پيغمبرانو ته ئې ويلي چي هغه الهي عذاب چېري دئ چي ته موږ ګواښې؟ په هغه صورت كي دي منو چي دا عذاب مخامخ په خپلو سترګو وګورو.

دې ته مو پام وي چي د دې آيت د تفسير په اړه د مفسرينو تر منځ ډېر او ژور اختلاف

تر سترګو کېږي. ځينو اوږده اوږده بحثونه پرې کړي، ځينو درنو مفسرينو دا آيت په داسې توګه ژباړلی او تعبير کړی چې د آيت له الفاظو سره اړخ نه لګوي او په ډېر تکلف سره د دوی تعبير ترې راوځي. چا ما استفهاميه ګڼلې او آيت ئې داسې ژباړلی: څه شي خلك له دې منع کړل چې ايمان راوړي او .... خو دا تعبير د آيت له وروستۍ برخې سره اړخ نه لګوي. ځينو سنة الاولين پر مخکينيو قومونو راغلی عذاب ګڼلی خو دا تکلف ئې کړی چې وايي: اوس نو دوی له دې پرته د بل څه انتظار نشي کولی چې همغه پر مخکينيو قومونو نازل شوي عذابونه پرې راشي!! خو د آيت په الفاظو کې د دې خبرې لپاره کوم شاهد او مؤيد نه مومو. بل لوري ته د قرآن ګڼ شمېر آيتونو په تکرار سره او په بېلو بېلو الفاظو موږ ته ويلي چې د پيغمبرانو عليهم السلام د مخالفينو د ايمان نه راوړلو همدا دوه سببونه وو چې په دې آيت کې ورته اشاره شوې: د دوی دعوت ئې د خپل پلار نيکه له دود دستور سره مخالف ونډلی او د عذاب وعيد ئې هسې تش ګواښونه ګڼلي. وروستني آيتونه هم په واضح توګه ښيي چې همدا تعبير دقيق او صحيح دئ.

---

وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ ۖ وَٱتَّخَذُوٓا۟ ءَايَٰتِى وَمَآ أُنذِرُوا۟ هُزُوًا ﴿٥٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِىَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوٓا۟ إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ ٱلْغَفُورُ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُوا۟ لَعَجَّلَ لَهُمُ ٱلْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا۟ مِن دُونِهِۦ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾

او پيغمبران يوازې د مبشرينو او منذرينو په توګه لېږو؛ او هغه چې کفر ئې کړی د باطل په مرسته جدل کوي د دې لپاره چې حق پرې راوپرځوي؛ او زما آيتونه او هغه څه ئې تر ملنډو لاندې نيولي چې خبرداری پرې ورکول کېږي؛ او تر هغه به لوی ظالم څوك وي چې د خپل رب په آيتونو سره پند ورکړی شي او هغه ډډه ترې وکړي او هغه څه هېر کړي چې لاسونو ئې وړاندې کړي، يقيناً چې موږ د دوی پر زړونو پردې غوړولې چې پرې پوه نشي او په غوږونو کې ئې درندوالی؛ او که د هدايت لوري ته ئې وبلې نو په دې حالت کې به تر ابده هيڅکله هدايت نشي؛ او ستا رب د رحمت خاوند بخښونکی دئ. که ئې دوی د خپلو کړنو له کبله نيولی نو ژر به ئې عذاب ورپه برخه کړی وو؛ خو د دوی لپاره د وعدې (د تحقق) داسې ځای ټاکل شوی چې له هغه پرته

کومه ملجأ نشي موندلی.

(۵۶-۵۸)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

• پیغمبران د الله تعالی له لوري لېږل شوي، د الله تعالی پیغام خلکو ته رسوي، د دغه پیغام په رڼا کې د ایمان خاوندانو ته زېری ورکوي او کافران د خپل کفر له بدو پایلو وېروي. له دوی دا مطالبه چې ستاسو پلرنی مذهب تأیید کړي یا د هغه خلاف له څه ویلو ډډه وکړي او یا الهي عذاب مخامخ دروښیي؛ خوشې او بې بنسټه غوښتنه او مطالبه ده.

• کافرانو له باطل مذهب او غلطي تګلاري او کړنلاري د دفاع لپاره ملاتړلې، د همدې باطل مذهب په مرسته او ګټه جدل کوي، موخه ئې دا ده چې حق راوپرځوي. دوی د الله تعالی آیتونه او هغه څه تر ملنډو لاندي نیولي چې خبرداری پرې ورکول کېږي.

• تر هغه چا به لوی ظالم څوك وي چې کله پند ورکړی شي، هغه هم د ده د رب په آیتونو سره؛ خو هغه نه یوازي مخ واړوي او له منلو ئې ډډه وکړي بلکي خپل ټول هغه ګناهونه، ظلمونه، فسادونه، کفر او شرك هېر کړي او بې اهمیته او عادي ئې وګڼي چې تر دې وړاندي ئې کړي؟!!

• دوی د شرك، کفر، جهل او ړوند تعصب په ډېرو کې داسي ښښتي چې راوتل ورته ګران شوي، پر زړونو ئې داسي پرېړي پرېړي پردې غوړېدلې چې د حق وړانګي ترې تېرېدی نشي، په غوږونو کې ئې داسي دروندوالی دئ چې د حق له اورېدو ئې عاجز کړي. نو په دې حالت کې که څوك هغوی د هدایت لوري ته وبلي نو یقیناً چې تر ابده به هدایت نشي.

• په الهي عذاب کې د ځنډ وجه دا ده چې ستا رب د رحمت خاوند بخښونکی دئ، کافر او مشرك ته هم مهلت ورکوي، د توبې دروازه ورته پرانیستې پرېږدي، په نیولو او تعذیب کې ئې تلوار نه کوي. که ئې دوی د خپلو کړنو له کبله نیولی نو لا ډېر وړاندي به ئې عذاب ورپه برخه کړی وو. خو د دوی لپاره ئې د وعدې د تحقق داسي ځای ټاکلی چې له هغه پرته کوم بله ملجأ او منجأ نشي موندلی.

دې ته مو پام وي چې ځینو درنو مفسرینو دلته موعد د اسم زمان صیغه ګڼلې او په (من دونه) کې ضمیر الله تعالی ته راجع بولي، ویلي ئې دي چې "الله تعالی کافرانو ته د وعدې د تحقق ثابته نېټه ټاکلې او له الله تعالی پرته بل پناځی نشي موندلی. دا تعبیر دقیق نه برېښي او د فقرو تر منځ تړاو او ارتباط نشي تأمینولی. اصولاً باید ضمیر نژدې اسم ته راجع شي؛ دلته نژدې اسم موعد دئ نه د الله نوم. غوره تعبیر همدا دئ چې دلته موعد اسم مکان دئ او په دې سره دوزخ ته اشاره شوې او په (دونه) کې اشاره همدې موعد ته شوې. او په ورپسې آیت کې د اسم زمان په معنی راغلی؛ دا تعبیر هغه تکرار هم منتفي کوي چې د کلام بلاغت ته تاوان رسوي. په ټول قرآن کې د الله تعالی لپاره د موئل صیغه نه ده راغلې، دا صیغه له الله تعالی سره نه ښایي؛ له ملجأ سره ښایي.

وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ أَهْلَكْنَـٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾

او دا هغه کلي دي چي هلاك مو کړل؛ هغه مهال چي ظلم ئې وکړ او د دوی د هلاکت لپاره مو خاصه نېټه ټاکلې وه.

(٥٩)- دا مبارك آيت د مخکيني مضمون ښکلې او جامع تتمه ده او دا لارښووني په کې ځلېږي:

- دا د هغو کليو قصې دي چي الله تعالی هلاك کړي.
- د هلاکت وجه ئې ظلم وو.
- د هر يوه د هلاکت لپاره ځانګړې ثابته نېټه ټاکل شوې وه؛ او همدا د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکې سنت دئ.

تر دې ځای د سورې اساسي مضامين د دريو تاريخي قصو په ترڅ کې انځور شول: يوه ئې د اصحاب کهف د مؤمنو زلميانو او د دوی د مشرك او ظالم قوم تر منځ د مبارزې قصه، بله ئې د يوه مشرك شتمن او مؤمن نيستمن د عبرتناکې مرکې او محاورې قصه، بله ئې د انسان د پيدايښت هغه قصه چي ملائکو د ده په وړاندې سجده وکړه او ابليس سرغړاوی وکړ؛ خو اوس موږ ته د دوو سترو سترو شخصيتونو د ملاقات او ګډ سفر قصه رااوروي: د موسی عليه السلام او خضر عليه السلام؛ يو ئې د پنځو اولوالعزمو پيغمبرانو له ډلې او بل ئې د الله تعالی داسي نېك او عالم بنده چي موسی عليه السلام ترې زده کړه کړې او له هغه سره ئې د ملاقات په موخه د اوږده او ستونزمن سفر لپاره ملا تړلې وه. د دې قصې په هر پړاو او هري برخي کې ګڼ شمېر عبرتناك درسونه او ځلانده لارښووني زموږ په وړاندي ځلېږي. قصه داسي پيل شوې:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِىَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾

او کله چي موسی خپل زلمکي ته وويل: تر هغه به له تلو تم نشم چي مجمع البحرين (د دوو سيندونو يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږم يا به تر اوږدې مودې (کالونه کالونه) درومم.

(٦٠)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني زموږ مخي ته ايښودل شوې:

- موسی عليه السلام په يوه اوږد سفر وتلی، غوښتل ئې مجمع البحرين (د دوو سيندونو د يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږي، په ورپسې آيتونو کې به درته جوته شي چي د دې سفر موخه ئې له يوه عالم او مجاهد شخصيت سره ملاقات او له هغه څه زده کول وو. د آيتونو له فحوی معلومېږي چي ده ته د دې شخصيت يادونه شوې، د اوسېدو ځای ئې مجمع البحرين ښودل شوی، ده اراده کړې چي دا کس حتماً وګوري، څه وخت ورسره پاته شي او

څه ترې زده کړي. په همدې موخه خوځېدلی.

- يو کس ئې د خادم او ساتونکي په توګه له ځان سره کړی. دلته د موسی عليه السلام د سفر ملګری د (فتا: غلام او خادم) په نامه ياد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده؛ او دا سفر هغه مهال تر سره شوی چې موسی عليه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د يوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، دا ځکه چې قرآن د يوسف عليه السلام ساتونکي او خدمتګاران هم په دغه نامه يادکړي.
- دا سفر اوږد او ستونزمن وو؛ د ده دا وينا چې "يا به مجمع البحرين ته رسم او يا خو به همداسي تر اوږدې مودې درومم" همدا مطلب افاده کوي. د هغو خلکو انتباه صحيح نه ده چې وايي: موسی عليه السلام سحر خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسي ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، همدلته پوخ ماهي ترې ورك شوی او خضر عليه السلام ئې همدلته موندلی!!
- که د مصر نقشې ته ځير شو نو وبه ګورو چې په ټول مصر کې داسي ځای نشته چې دوه سيندونه سره يو ځای شوي وي، مصر په حقيقت کې داسي هېواد دئ چې د نيل دواړو خواوو ته آباد شوی، د نيل له دواړو خواوو آخوا ټوله صحراء ده، نيل له دوو سترو سيندونو جوړ شوی (نيل الابيض او نيل الازرق)، دا دواړه د سودان په مرکز خرطوم کې سره يو ځای شوي، له مصر تر خرطوم پورې بل مجمع البحرين نه تر سترګو کېږي؛ او دا تر دوو مياشتو زيات پلې مزل غواړي. د موسی عليه السلام له وينا معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، د ده له دې وينا چې يا به د دوو سيندونو د يوځای کېدو ځای ته رسېږم او يا خو به تر اوږدې مودې همداسي درومم؛ همدا خبره معلومېږي. په لنډ سفر کې هيڅوك دا خبره نه کوي چې يا به آخري مزل ته رسېږم او يا خو به همداسي تر اوږدې مودي روان يم. د هغو مفسرينو رأيه دقيقه ده چې له مجمع البحرين د نيل د دوو څانګو د يوځای کېدا محل اخلي. دلته له بحرين مراد دوه روان سيندونه اخلي نه دوه ولاړي اوبه؛ د ولاړو اوبو لپاره د (مجمع بينهما) الفاظ کارول مناسب نه برېښي.
- ځينو مفسرينو داسي انګېرلې چې ښايي دا سفر به د موسی عليه السلام له بعثت وروسته او هغه مهال تر سره شوی وي چې دی د سينا په ښېديا کې اوسېدو او ګمان کوي چې له مجمع البحرين به مراد د خليج عقبه او خليج سويس يا د بحرالروم او بحر القلزم يوځای کېدا وی. خو دا انګېرنه ځکه کمزورې ده چې له يوې خوا دا ځايونه کومې نښې ته ضرورت نه لري؛ حال دا چې موسی عليه السلام ته کب د نښې په توګه ټاکل شوی وو او ورته ويل شوي وو چې دا به په مجمع البحرين کې له تا غائب شي. له بلې خوا دا ځايونه داسي نه دي چې له موسی عليه السلام ئې دومره اوږد سفر غوښتو چې ووايي: يا به مجمع البحرين ته رسېږم يا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم.
- همدا راز دا آيتونه وايي چې موسی عليه السلام له هغه پوه او مجاهد سړي څه زده کول غوښتل؛ او دا ښيي چې دغه سفر د ده له بعثت مخکې وو؛ ځکه له بعثت وروسته هغه

د نورو لپاره ستر لارښود وو، تر ده بل پوه او عالم کس په نړۍ کې نه وو.

- قرآن وايي چې موسی علیه السلام له بعثت وروسته یوازې څلوېښت ورځې له خپل قوم لرې شوی چې د ده په غیاب کې سامري وغولول. که دا سفر له بعثت وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت کړی وو. له بعثت وروسته هغه د سینا په صحرا کې وو، هلته نه سیندونه وو او نه مجمع البحرین.
- دې ته مو باید پام وي چې دا قصه د مخکینیو په څېر قریشو ته اورول شوې او په ترڅ کې ئې هغوی ته ویل شوي: موسی علیه السلام له یوه داسې عالم چې الله تعالی څه علم ورکړی وو؛ د څه زده کولو لپاره دومره اوږد او ستونزمن سفر وکړ او پرېکړه ئې کړې وه چې که دا سفر کلونه کلونه هم ونیسي دوام ورکوم. خو تاسو کمبختان د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر د داسې ستر عالم شخصیت چې الله تعالی د پیغمبر په توګه غوره کړی او د قرآن په څېر کتاب ئې ورکړی؛ نه یوازې د څه زده کولو هڅه نه کوئ بلکې د هغه مخالفت ته مو ملا تړلې!!

---

فَلَمَّا بَلَغَا مَجۡمَعَ بَيۡنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ سَرَبٗا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدۡ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبٗا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيۡتَ إِذۡ أَوَيۡنَآ إِلَى ٱلصَّخۡرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلۡحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيۡطَٰنُ أَنۡ أَذۡكُرَهُۥۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ عَجَبٗا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبۡغِۚ فَٱرۡتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصٗا ﴿٦٤﴾

نو کله چې د دواړو یوځای کېدو سیمې ته ورسېدل؛ نو دواړو خپل کب هېر کړ؛ چې په سیند کې ئې خپله لار ونیوله او ولاړ. نو کله چې تېر شول خپل زلمکي ته ئې وویل: غرمنی (خوراك) مو راته راوړه؛ په رښتیا چې له دې سفر مو ستړیا په برخه شوه (دې سفر ډېر ستومانه کړو). وئې ویل: په یاد دې دي کله چې هغې لویې ډبرې ته مو پنا یووړه؛ نو ما کب هېر کړ، هسې شیطان رانه هېر کړ چې یادونه ئې (درته) وکړم؛ او په عجیبه توګه ئې په سیند کې خپله لار ونیوله. وئې ویل: همدا هغه څه دئ چې موږ ئې غواړو؛ پر خپلو پلونو ګام په ګام په شا وګرځېدل.

---

(٦١-٦٤)- په دې مبارکو آیتونو کې لاندې مطالب زموږ مخې ته ځلېږي:

- د دې آیتونو له فحوی معلومېږي چې دا سفر د دوبې په ګرمیو کې تر سره شوی، د سفر اوږدوالي له یوې خوا او تودوخې له بلې خوا دومره ستومانه کړي وو چې موسی علیه السلام وویل: دې سفر ډېر ستومانه کړو. همدا راز د تودوخې له امله ئې د غرمې مهال د یوې

لويې ډبرې سيورې ته پنا وړې وه.

• دلته ويل شوي چې کله مجمع البحرين ته ورسېدل نو دواړو هغه کب هېر کړ، چې په عجيبه توګه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله او ولاړ. له دې الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا کب په سيند کې روان کب وو، چې په مجمع البحرين کې ئې خپله لار بدله کړې او په بل لوري تللی. دلته ويل شوي چې دواړو خپل کب هېر کړ؛ د دې معنی دا ده چې دواړو دا خبره هېره کړې وه چې کب به تر نظر لاندې نيسي، دې ته ئې پام نه وو چې د کب د غائبېدو ځای همغه مجمع البحرين دئ چې دوی ئې په لټه کې ول. له دې پرته بل تعبير صحيح نه دئ ځکه په آيت کې ويل شوي چې زلمکي تر دې وړاندې او په مجمع البحرين کې هغه کب ليدلی وو چې په بل لوري ولاړ، خو دا خبره ئې هېره شوې وه او موسی عليه السلام ته ئې وروسته وکړه.

• نو کله چې له دې ځای تېر شول موسی عليه السلام خپل زلمکي ته وويل: غرمنی خوراك مو راوړه؛ هغه ورته وويل: په ياد دې دي کله چې هغې لويې ډبرې ته مو پنا يووړه؛ نو ما کب هېر کړ، هسې شيطان رانه هېر کړ چې يادونه ئې درته وکړم؛ او په عجيبه توګه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله. د زلمي له دې وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې ده ته دا وظيفه ورکړی شوې وه چې په بحر کې روان کب به تر نظر لاندې نيسي، که ترې ورك شو نو ده ته به اطلاع ورکوي، ده کب ليدلی چې خپله لار ئې بدله کړې او په بلې لارې تللی، خو له ياده ئې وتلي چې دا خبره موسی عليه السلام ته وکړي؛ هغه مهال ئې موسی عليه السلام ته کړې چې هغه د خوراك غوښتنه ترې کړې.

• ځينو ويلي چې دا وريت شوی کب وو چې دغه مهال ژوندی شوی او سيند ته ئې ټوپ کړي!! حال دا چې که دا د وريت شوي کب ژوندي کېدا وی نو د داسې پېښې هېرول محال برېښي، د موسی عليه السلام ملګري به د داسې پېښې له ليدو سره سم چيغه کړې وه او همغه مهال به ئې موسی عليه السلام پرې خبر کړی وو.

• ځينو له دې خبرې چې موسی عليه السلام غرمنی خوراك غوښتی او زلمکي ورته ويلي: کب هغه مهال په بله لار ولاړ چې موږ لويې ډبرې ته پنا وړې وه خو شيطان رانه هېره کړه چې تا ته ئې ووايم؛ دا انتباه اخيستې چې ګواکې موسی عليه السلام وريت کب ترې غوښتی او هغه ورته ويلي چې هغه ژوندی شو او سيند ته ئې ټوپ کړل او ولاړ!! دا په داسې حال کې چې نه يوازې د آيت په الفاظو کې داسې څه قطعاً نشته؛ نه اشارتاً او نه صراحتاً؛ نه دلته او نه په کوم بل آيت کې دا خبره شوې چې دا وريت شوی کب وو؛ بلکې د آيت الفاظ په بشپړه توګه دا رأيه ردوي. که دا وريت شوی او پوخ کب وو او د دوی لپاره د نښې په توګه ټاکل شوی وو نو موسی عليه السلام به څنګه خپل خادم ته ويل چې هغه د خوراك لپاره راوړه؟!! په دې صورت کې خو به ئې تل له ځان سره خوندي ساتو او له خوړلو به ئې ډډه کوله. ځينې بيا د دې کمزوري رأيې په تأييد کې په داسې رواياتو استناد کوي چې هم د سند له پلوه کمزوري دي او هم د متن له پلوه له نورو رواياتو سره تعارض لري؛ او

هغه روایات ئې له پامه غورځولي چې وایي دا ژوندی او په سیند کې روان کب وو. د دې تفصیل به إن شاء الله د دې بحث په پای کې وګورئ. حقیقت دا دئ چې دا ژوندی او په سیند کې روان کب وو. تاسو پوهېږي چې الله تعالی کبان داسي پیدا کړي چې په ژمي کې تودو سیمو ته کوزېږي او په دوبي کې بېرته خپلو اصلي سړو سیمو ته درومي. کله کله د دوی دا ژمنی او دوبنی سفر سلګونه کیلومتره اوږد وي. د نیل کبان په ژمي کې د مصر په لوري تودو سیمو ته راکوزېږي او د دوبي (اوړي) په موسم کې بېرته له مصر د سودان او په یوګندا او ایتوپیا کې د نیل د سرچینو په لوري درومي. موسی علیه السلام ته داسي کب د نښې په توګه ښودل شوی چې د دوبي په موسم کې د سودان په لوري ځي. په مجمع البحرین کې کیڼ لوري ته خپله لار بدلوي او د نیل هغي څانګي ته درومي چې سرچینه ئې د ایتوپیا په غرونو کې ده (چې البحر الازرق نومېږي)، دا هم ضروري نه ده چې څوك ووايي دا به حتماً کوم خاص کب وو، دقیقه خبره دا ده چې دا یو ډول کب وو، همغه چې پلرنۍ ټاټوبۍ ئې د ایتوپیا په غرونو کې وو. دا داسي ده لکه چا ته چې ووایې: دا برګ کب ستا لپاره نښه ده، دا به د دوو سیندونو د یو ځای کېدو په سیمي کې خپله لار بدلوي او د سیند هغي څانګي ته به درومي چې له کیڼ لوري راغلې، همدغه ځای مجمع البحرین دئ. له برګ کب ستا مراد د کبانو یو ډول دئ نه خاص کب.

- کله چې زلمي د ماهي د ورکېدو خبره موسی علیه السلام ته کړې نو هغه ویلي: دا همغه مجمع البحرین دئ چې موږ ئې په لټه کې وو. پر خپلو پلونو ګام په ګام په شا وګرځېدل او هملته ئې خضر علیه السلام وموند. دلته د زلمي دا وینا راغلې چې د کب په اړه ئې وویل: په عجیبه توګه ئې په سیند کې خپله لار ونیوله. حقیقتاً چې دا د ډېر حیرت او تعجب وړ خبره ده چې کبان څنګه کولی شي په ژمي کې له خپل اصلي ټاټوبي څو سوه کیلومتره لري تودو سیمو ته ولاړ شي، په دوبي کې بېرته ستانه شي پرته له دې چې لار ورکه کړي او په بل لوري ولاړ شي، حتی په هغه ځای کې چې څو سیندونه سره یو ځای کېږي؛ دوی خپل لوری نه غلطوي او په بل لوري نه درومي. دا دئ ګورئ چې دوی له نښو پرته خپله لار موندله او د موسی علیه السلام په څېر ستر شخصیت نښي ته اړ وو.
- دې ته مو هم باید پام وي چې هغه پلي نابلد مسافر ته چې د لوی سیند په ژۍ برې خوا ته روان وي؛ دا ډېره ګرانه وي چې د دوو سیندونو د یو ځای کېدو ځای په دقیقه توګه تشخیص کړي؛ دا ځکه چې ډېر ځلي لوی سیندونه په یوه ځای کې ووېشل شي او په بل ځای کې ئې وېشل شوې څانګي بېرته سره یو ځای شي؛ نو ځکه موسی علیه السلام د مجمع البحرین موندلو لپاره یوې نښي ته ضرورت درلود.

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَـٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَـٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾

نو زما له بندګانو ئې داسي یو بنده وموند چې له خپل لوري مو پېرزوینه ورپه برخه

کړې وه او له خپل لوري مو څه علم ورزده کړی وو.

(٦٥)- د دې مبارك آيت مهمې مهمې لارښوونې دا دي:

- له راستنېدو سره سم ئې هغه څوك موندلی چې دوی ئې په لټه کې ول او الله تعالی ئې داسې معرفي کوي: زما يو داسې بنده چې له خپل لوري مې پېرزوينه پرې کړې وه او له خپل لوري مې څه علم ورزده کړی وو.
- د دې آيت د (وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلۡمًا) له فقرې ځينو متصوفينو د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې او وايي چې دا علم د تعليم، تعلم، ليك او لوست له لارې نه تر لاسه کېږي؛ آناً او له مقدمې پرته انسان ته القاء کېږي، دا اصلي او حقيقي علم بولي او هغه علم ته د پوستکي او ظاهري علم په سترګه ګوري چې د تعليم او تدريس له لارې او په ليك لوست تر لاسه کېږي!! د دغو جنابانو په ځواب کې وايو: ١- دا له ځانه جوړه شوې بې بنسټه اصطلاح ده. ٢- د دې الفاظو نه دا معنی ده چې خاص علم ورکړی شوی وو او نه دا چې دا کوم ځانګړی علم (علم لدني) وو، بلکې دقيقه معنی ئې دا ده چې الله تعالی له خپل لوري څه علم ورکړی وو. دلته مزيد وضاحت د دې لپاره ضروري ګڼم چې متصوفينو له دغې قصې او په ځانګړې توګه له دغې فقرې داسې له خرافاتو ډك باورونه رااېستلي چې د قرآن له څرګندو لارښوونو سره په بشپړه توګه تضاد لري. دوی وايي: خضر عليه السلام په غيب پوهېدو!! دا په داسې حال کې چې د قرآن لسګونه آيتونه په قاطع توګه او په واضح الفاظو وايي چې له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي. پدې قصې کې هيڅ داسې دليل نشته چې د موسی عليه السلام ملګري ته علم غيب ثابت شي، قرآن نه دي ويلي چې دی په غيب پوهېدو. نه پوهېږو څوك چې هڅه کوي د دې قصې له کومې برخې خضر عليه السلام ته علم غيب ثابت کړي څنګه دا جسارت کوي؟! د قصې له کومې برخې او د اړوند آيتونو له کوم لفظ ئې دا انتباه اخيستې ده او دليل ئې څه دئ؟! موسی عليه السلام له خضر عليه السلام کوم علم غيب زده کړی؟ موږ ته خو قرآن په همدې سوره کې او څو آيته وروسته وايي چې ده له خضر عليه السلام څو کارونه زده کړل:
- د يوه ظالم پاچا له منګولو د مسکينو او بې وزلو جاله والو ژغورل؛ هغه هم په داسې بڼې کې چې جاله وال ترې خبر نه شول؛ د لږ ضرر په مقابل کې ئې دوی له ستر تاوان وژغورل.
- د يوه مفسد، کافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شره ژغورل.
- تر نړېدونکې دېوال لاندې د دوو يتيمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول.

موسی عليه السلام له خپل عالم او مجاهد استاد همدا لارښوونې زده کړې وې. د همدې لارښوونو په رڼا کې هغه دغو دريو کارونو ته ورته کارونه وکړل: ١- له يوه مظلوم بني اسرائيلي د دفاع په موخه ئې يوه ظالم قبطي ته داسې ګوزار ورکړ چې پرې مړ شو، ٢- د مدين د کوهي غاړې کې ئې په داسې حال کې د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه کړه چې د

اوږده سفر له کبله ډېر ستړی او ستومانه وو، ۳- د بني اسرائيلو د نجات لپاره له مدين مصر ته لاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله. خضر عليه السلام نه کوم لاهوتي او ناسوتي علم موسی عليه السلام ته ورښودلې، نه کوم لدني علم، نه کوم باطني علم او نه د طريقت مسلك؛ درې جهادي لارښوونې ئې ورته کړې او په عملي توګه ئې ورښودلې. د ظالمانو په ضد د مظلومانو ملګرتيا، د بې رحمه مفسد وژل او د يتيمانو مرسته.

جاهل متصوفين لدني علم د داسې علم په توګه معرفي کوې چې له تعليم او تدريس پرته تر لاسه کېږي او مرشد ئې په يوه نظر مريد ته القاء کوي. دوی دا عقيده له محرف بايبل اقتباس کړې؛ بايبل وايي: آدم او حوا د معرفت د ونې مېوه وخوړه، معرفت ئې په برخه شو، سترګې ئې پرانيستل شوې او پوه شول چې بربنډ دي، تر دې وړاندې په خپل بربنډتوب نه پوهېدل. بايبل وايي چې اسحاق (عليه السلام) يعقوب (عليه السلام ) ته برکت ورکړ او په همدې سره ئې د پيغمبرۍ مقام په برخه شو؛ خو وايي چې يعقوب عليه السلام خپل پلار دوکه کړ؛ او دا برکت ئې د دې دوکې په نتيجه کې تر لاسه کړ؛ اسحاق(عليه السلام ) غوښتل چې عيسو ته برکت ورکړي خو يعقوب (عليه السلام ) ځان د عيسو په څېر جوړ کړ، اسحاق (عليه السلام ) ونه پېژندو او د عيسو ګمان ئې پرې وکړ او برکت ئې ورکړ!! له مسيحيانو پوښتنه کوو: دا څنګه برکت وو چې يعقوب په دوکې تر لاسه کړ او پلار بېرته ترې اخيستی نه شو؟ په کار خو دا وه چې پلار نه يوازې هغه برکت بېرته له يعقوب اخيستی وی چې په دوکې ئې تر لاسه کړی وو بلکې مزيد ئې هغه رټلی وی!! د دې برکت پرېکړه الله تعالی کوي که بنده؟ الله تعالی خو نه غولېږي، مستحق او غير مستحق پېژني، هغه به څنګه د هغه چا د غلطې دعاء په اساس پرېکړه کوي چې غولېدلی؟دوی هم د بايبل خبره کوي او وايي چې علم لدني د پير او مرشد په يوې دعاء او وينا سره مريد ته ورکول کېږي، تعليم او تعلم ته ضرورت نه لري!! هغوی ته وايو: لومړی بايد د دغه آيت په معنی ځان پوه کړو او وګورو چې الله تعالی هغه عالم بنده ته کوم علم ورکړی وو، هغه علم چې ته ئې ادعاء کوې که بل علم؟! قرآن په خپله د دې پوښتنې ځواب موږ ته راکوي او د هغو دريو پېښو په ترڅ کې ئې موږ ته راښيي چې له موسی عليه السلام سره د سفر په دوران کې رامنځته شوې. د قرآن له آيتونو خو دا حقيقت جوتېږي چې خضر عليه السلام يو مجاهد وو، د بې وزلو او مظلومانو ملګرتيا ئې کوله، موسی عليه السلام ته ئې د جهاد درس ورکړ؛ اوس تاسو موږ ته ووايئ چې د دغو ځرګندو او واضحو آيتونو له کومې برخې او له کوم لفظ مو د (لدني علم) اصطلاح راايستلې؟!! او غواړئ له قرآن بې خبرو مريدانو ته ووايئ چې که ستاسو پير او مرشد نه قرآن لوستلی شي، نه د پيغمبر عليه السلام له احاديثو خبر دئ، نه په ليك پوهېږي او نه لوست کولی شي؛ د هغه په اړه شك مه کوه او لمن ئې کلکه ونيسه، دا خبرې بايد ستا اخلاص کم نه کړي، هغه ته د مخکيني مرشد له لوري (لدني علم) ورکړی شوی او د دين په ټولو رموزو او پټو اسرارو د مرشد د يوې دعاء له امله پوه شوی!! هغه په يوې مراقبې سره کولی شي د اسرارو دروازې پرانيزي او په پټو حقائقو پوه شي!!

ډېره عجيبه ده؛ د قرآن له داسي قصې او مضمون چي هر مخاطب ته د سري مبارزي درس ورکوي؛ غرضي او مرضي خلکو داسي افسانه جوړه کړې چي د مخاطب ذهن تخديروي او له سر تر پايه غلط افکار القاء کوي؛ چېري د خضر عليه السلام هغه درې جهادي کارونه او چېري دې ته د لدني علم نوم ورکول او دا ادعاء کول چي هغه په غيب پوهېدو او کارونه ئې غيرعادي ول.

دوی دې ته هم متوجه نه دي چي د همدغي (و علمناه من لدنا علما) فقرې ته ورته الفاظ د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې راغلي؛ او په ترڅ کې ئې قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د انسان هر څه د الله تعالی ېرزوينه ده، ژوند ئې، استعدادونه ئې، رزق ئې، علم او معرفت ئې؛ قرآن دا ټول الله تعالی ته منسوبوي او د الله تعالی پېرزوينه ئې ګڼي، په ټولو هغو آيتونو کې چي دا حقيقت په کې بيان شوی همدا د (لدن) لفظ راغلی؛ الله تعالی د قرآن ورکړه، د اولاد او رزق ورکړه، له خپل لوري د ولي او نصير لېږل او ... د لدن په لفظ سره يادوي، که هلته د (لدني رزق)، (لدني ولي و نصير)، (لدني اولاد)، (لدني قرآن) اصطلاح نه شئ راايستلی؛ نو دلته څنګه د لدني علم اصطلاح راباسئ؟ موږ ته ووايه چي له (لدني علم) ستاسو مراد څه دئ؟ مراد مو (ذاتي علم) دئ، که د (الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم)؟ که آناً او له تعليم او ليك لوست پرته تر لاسه شوی علم؟ ذاتي علم خو له الله تعالی پرته هيڅوك نه لري، د انسان علم خو اکتسابي دئ، انسان د وحي، تعليم، تدريس، ليك او لوست له لاري علم تر لاسه کوي، قرآن د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه فرمايي چي تر بعثت مخکې نه په کتاب پوهېدو او نه د ايمان په حقيقت او معنی:

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾

الشوری:۵۲

همداسي مو تا ته له خپل لوري د يوه خاص امر وحي وکړه؛ ته نه پوهېدې چي کتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنی او حقيقت) پوهېدې؛ خو موږ داسي نور وګرځاوو چي له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدايتوو چي غواړو ئې؛ او بې شکه چي ته د مستقيمي لاري خوا ته لارښوونه کوې.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د هر انسان علم په حقيقت کې د الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم دئ، د پوهي او معرفت وسائل او استعدادونه هم الله تعالی ورکړي او په يوه څه د پوهېدو مجال او شرائط هم الله تعالی ورته برابروي. دا الله تعالی دئ چي هر چا ته علم او پوهه ورکوي، سترګې، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفيد او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چي انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفيق تر لاسه کوي نو دا ټول د الله

په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي. د انسان په وړاندي چې د معرفت هره دروازه پرانيستل کېږي او په هري نوې خبري چې د پوهېدو توفيق تر لاسه کوي، د ده هر (کشف) او په هر سِر او راز پوهېدل ئې په حقيقت کې د الله تعالی يوه پېرزوينه ده؛ دا دروازه د ده له لوري ورته پرانيستل کېږي، په دغو حقائقو د پوهېدو توفيق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي. چې حقيقت همداسي دئ نو ته ما ته ووايه چې ولي د خضر عليه السلام علم استثنائي علم گڼې او د (لدني علم) نوم ورکوې؟!!

پيغمبرانو عليهم السلام ته چې د وحي له لاري کوم علم ورکړی شوی دا هم په تدريجي توگه او د کتاب او صحيفې په بڼه کې ورکړی شوی، نه دا چې په يو ځل او په بشپړه توگه ټول علوم د هغوی زړه او دماغ ته القاء شوي. قرآن پر پيغمبر عليه السلام په تدريجي توگه نازل شوی؛ دا د ټولو فقهاءو او علماءو متفقه قول او د قرآن د صريحو آيتونو مطابق نظر دئ، يوازي غلات شيعه او جاهل متصوفين ورسره مخالفت لري. پيغمبر عليه السلام د هري قضيې او پېښي په اړه د وحي نزول ته انتظار کړی، د وحي له راتلو مخکې نه پوهېدو چې څه حکم وکړي.

---

قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ﴿٦٦﴾ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ﴿٦٧﴾ وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرٗا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ﴿٧٠﴾

موسی ورته وويل: آيا کېدی شي د دي لپاره ستا متابعت او ملگرتيا وکړم چې د هغه رشد او پوهي څه رازده کړې چې تا ته ئې علم درکړی شوی؟ هغه ورته وويل: ته زما په ملگرتيا کې صبر نشې کولی، څنگه به په هغه څه صبر وکړې چې پرې خبر نه يې؟ وئې ويل: إن شاء الله ما به صابر ومومې او په هيڅ کار کې به له تا سرغړاوی ونه کړم. وئې ويل: نو که زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې يادونه درته وکړم.

---

(٦٦-٧٠)- د دې مبارکو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

• موسی ورته وويل: آيا کېدی شي ستا متابعت او ملگرتيا وکړم او د علم او رشد هغه څه رازده کړې چې تا ته ئې علم درکړی شوی؟ دا آيت له يوې خوا ښيي چې موسی عليه السلام د علم تر لاسه کولو لپاره دا اوږد مزل کړی؛ او له بلي خوا د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا عملي علم وو نه نظري علم، د خضر عليه السلام په متابعت او

ملګرتیا کې ئې تر لاسه کولی شو نه د درس په کومي ناستي حلقې کې، که تاسو د قصې پاته برخو ته په دقت سره ځیر شئ نو وبه ګورئ چي خضر علیه السلام خپل شاګرد له ځان سره په سفر روان کړی او د همدې سفر په دوران کې ئې هغه ته څو ستر ستر درسونه ورکړي. او دا هغه څه دي چي د التوبې د سورې په ۱۲۲ آیت کې راغلي:

وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةًۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓاْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ۝١٢٢

او مؤمنان داسي نه دي چي ټول (د جهاد لپاره) ووځي؛ ولې دي د دوی له هري ډلي یو ټولګی ونه وځي چي په دین کې پوهه تر لاسه کړي او هغه مهال چي خپل قوم ته بېرته ستنېږي انذار ئې کړی؛ د دې لپاره چي ځان ساتنه وکړي.

په دې مبارك آیت کې هم عملي زده کړي ته اشاره شوې نه نظري زده کړي ته، د نفیر په حالت کې زده کړه؛ نه د قعود حالت کې زده کړه.

خضر علیه السلام د موسی علیه السلام د غوښتني په ځواب کې دوه خبري ورته کړې: ۱- ته زما په ملګرتیا کې صبر نشې کولی. ښایي د ده حالت ته په پام سره ئې دا خبره ورته کړې، هغه ئې په سوکالۍ او رفاه کې ستر شوی زلمی موندلی او د ځان د ستونزمنو او خطرناکو سفرونو د ملګرتیا جوګه ئې نه دی ګڼلی؛ نو ځکه ئې دا خبره ورته کړې. یا دا چي هغه ته ئې ویلي: زه مخکې له مخکې تا ته نه وایم چي څه به کوم؛ د کار په پای کې به درته وایم چي د څه لپاره مي دا کار کړی او مقصد مي څه وو. نو تا ته به ګرانه وي چي پوښتنه ونه کړې او د کار تر پایه صبر وکړې او نتیجې ته ئې انتظار وکړې. له ورپسې آیتونو همدا مطلب معلومېږي. ۲- او که سره له دې زما متابعت کوې نو د هیڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چي په خپله ئې یادونه درته وکړم. له دې معلومېږي چي خضر علیه السلام ډېر محتاط شخصیت وو، خپل نژدې د سفر ملګری ئې هم له خپلو اسرارو نه خبراوو، پر موسی علیه السلام ئې دا شرط ومنلو چي د اسرارو پوښتنه به نه ترې کوي، مګر هغه مهال چي دی ئې په خپله یادونه وکړي. له دې دا هم معلومېږي چي خضر علیه السلام په سرې مبارزې بوخت وو، د دې خبري حقیقت هغه مهال موږ ته لا ښه جوتېږي چي د دوی دواړو د ملګرتیا درې پېښې په دقت سره له نظره تېرې کړو. د موسی علیه السلام مخکینی د سفر ملګري له ځان سره نه بېول هم دغه مطلب په ګوته کوي. موسی علیه السلام شرط مني او د صبر او اطاعت ژمنه کوي.

موسی علیه السلام ورته وویل: إن شاء الله ما به صابر وومومې او په هیڅ کار کې به له تا سرغړاوی ونه کړم. خضر علیه السلام ورته وویل: نو که زما متابعت کوې نو د هیڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چي په خپله ئې یادونه درته وکړم. په همدې خبري دواړو توافق کړی او سفر پیل شوی.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِى ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَا ۖ قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا إِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِى بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِى مِنْ أَمْرِى عُسْرًا ﴿٧٣﴾

نو دواړه وخوځېدل؛ حتى چي په هغي کشتۍ کي سپاره شول چي سورۍ ئې کړه؛ وئې ویل: آیا د دې لپاره دي سورۍ کړه چي سپرلي ئې غرق کړې، یقیناً چي په ستر (نادر) کار دي لاس پوري کړ! وئې ویل: آیا نه مي وو ویلي چي ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی؟ وئې ویل: ما پر خپلي هېرېدا مه نیسه؛ او زما په کار کي سختي مه راسره کوه.

---

(۷۱-۷۳)- د دې مبارکو آیتونو مهم مهم مطالب دا دي:

- دا وینا چي دواړه وخوځېدل ښيي چي خضر علیه السلام یوازي موسی علیه السلام له ځان سره روان کړی او د ده ملګری ئې پرېښی.
- په یوې کشتۍ کي سپاره شوي، خضر علیه السلام دا کشتۍ سورۍ کړې، په همدې سره کشتۍ بېرته ستنه شوې، موسی علیه السلام پدې کار اعتراض وکړ چي ولي ئې د مسکینانو کشتۍ تخریب کړه او سورلۍ ئې له سفره پاته کړل، نژدې وه کشتۍ او سورلۍ ئې غرق شي.
- خضر علیه السلام ورته ویلي: ما لا دمخه درته ویلي وو چي ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی.
- موسی علیه السلام ورته ویلي: ما پر خپلي هېرېدا مه نیسه؛ او زما د دې اشتباه له کبله سختي مه راسره کوه.
- خضر علیه السلام د سفر په پای کي موسی علیه السلام ته د دې کار اصلي وجه ښيي او ورته وایي: دا کشتۍ د څو مسکینانو وه، په همدې سیند کي په کار بوخت ول، مخي ته یو داسي غاصب او جابر پاچا ورته په کمین کي وو چي هره کشتۍ ئې غصبوله، ومي غوښتل چي کشتۍ له تګ ولوېږي او له مخکي تلو پاته شي او په دې توګه د هغه غاصب پاچا په لاس کي پرې نه وځي. موسی علیه السلام له دې خبر نه وو چي څو قدمه وړاندي دې کشتۍ او مالکانو ته ئې خطر متوجه دئ، هلته د یوه ظالم پاچا پلویانو کمین نیولی، هره کشتۍ چي مومي غصبوي ئې! د موسی علیه السلام ملګری پرې خبر وو، د دې لپاره چي دا کشتۍ او غریب مالکان ئې له خطر سره مخ نه شي یو تدبیر ئې وسنجاوو، کشتۍ ئې سورۍ کړه، د دې لپاره چي له سفر پاته شي. دا کار چي د موسی علیه السلام لپاره د توجیه وړ نه وو په حقیقت کي د کشتۍ د مالکانو لپاره لوی خدمت وو او په همدې کي د موسی علیه السلام لپاره یو لوی درس پروت وو او هغه دا چي یوه چا ته د ډېري ګټي لپاره لږ ضرر رسول د ستاینې وړ دئ نه د اعتراض وړ. دا موسی علیه السلام ته لومړنی عملی درس وو.

• د خضر علیه السلام له هغې وینا چې وروسته راځي په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا پېښه له مصر او د فرعون له واکمنۍ بهر شوې، په داسې سیمې کې چې په کشتۍ کې د سپرېدو په سیمې کې یو پاچا او د دې کشتۍ د مزل په پای کې بل پاچا حکومت کولو، ځکه خضر علیه السلام ویلې: وړاندې ئې داسې پاچا وو چې هره کشتۍ غصبوې.

متأسفانه ځینې تورزړي د دې پر ځای چې د قصې له دغې لارښوونکې او روزونکې برخې د همداسې مبارزې درس واخلي داسې ئې تعبیروي چې ګواکې خضر علیه السلام په غیب پوهېدو، د غاصب پاچا په اړه د ده معلومات علم غیب تعبیروي، نه دې ته ګوري چې داسې تعبیر د قرآن له ډېرو ډېرو آیتونو سره تعارض لري، نه دې ته چې ولې به د ظالم پاچا په اړه د چا معلومات علم غیب ګڼو او نه دې ته چې د قصې اصلي موخه موسی علیه السلام ته څه ښودل دي نه د خضر علیه السلام علم غیب ثابتول.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَٰمًا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلۡتَ نَفۡسًا زَكِيَّةَۢ بِغَيۡرِ نَفۡسٍ لَّقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـًٔا نُّكۡرًا ﴿٧٤﴾ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ إِن سَأَلۡتُكَ عَن شَيۡءِۭ بَعۡدَهَا فَلَا تُصَٰحِبۡنِيۖ قَدۡ بَلَغۡتَ مِن لَّدُنِّي عُذۡرًا ﴿٧٦﴾

نو وخوځېدل، تر هغه چې له یوه ځوانکي سره مخامخ شول، نو هغه ئې ووژلو، وئې ویل: آیا یو بې ګناه کس دې ووژلو؛ پرته له دې چې د کوم کس په بدل کې وژل شوی وي؟ یقیناً چې ډېر ناآشنا کار دې وکړ. وئې ویل: آیا نه مې وو درته ویلي چې ته زما په ملګرتیا کې صبر نشې کولی؟ وئې ویل: که مې له دې وروسته د کوم څه پوښتنه درنه وکړه نو بیا مې په ملګرتیا او مصاحبت کې مه درسره نیسه؛ یقیناً چې (په دې صورت کې به) زما له لوري د معذورتیا پړاو ته رسېدلی یې.

(٧٤-٧٦)- د دې مبارکو آیتوونو اساسي مطالب دا دي:

• بیا وخوځېدل؛ تر هغه چې له یوه ځوانکي سره مخامخ شول؛ نو خضر علیه السلام هغه ځوانکی ووژلو.

• موسی علیه السلام ورته وویل: آیا یو بې ګناه کس دې ووژلو، پرته له دې چې د کوم کس په بدل کې وژل شوی وي؟ یقیناً چې ډېر ناآشنا کار دې وکړ!!

• خضر علیه السلام بیا هم ورته وویل: آیا نه مې وو درته ویلي چې ته زما په ملګرتیا کې صبر نشې کولی؟ د دې کار وجه د سفر په پای کې ورته ښیي. ښه به وي چې تفصیل ئې هملته وګورو.

• موسی علیه السلام ورته وویل: که مې له دې وروسته د کوم څه پوښتنه درنه وکړه نو بیا مې په ملګرتیا او مصاحبت کې مه درسره نیسه. یقیناً چې په دې صورت کې به زما له

لوري د معذورتيا پړاو ته رسېدلی یې. خضر عليه السلام له دې وينا سره توافق کوي، د موسی عليه السلام عذر قبلوي او سفر ته دوام ورکوي.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهۡلَ قَرۡيَةٍ ٱسۡتَطۡعَمَآ أَهۡلَهَا فَأَبَوۡاْ أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا
فِيهَا جِدَارٗا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥۖ قَالَ لَوۡ شِئۡتَ لَتَّخَذۡتَ عَلَيۡهِ أَجۡرٗا ٧٧
قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيۡنِي وَبَيۡنِكَۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأۡوِيلِ مَا لَمۡ تَسۡتَطِع عَّلَيۡهِ صَبۡرًا ٧٨

نو وخوځېدل، تر هغه چې د يوه کلي اوسېدونکو ته ورغلل، له کليوالو ئې د خوراك غوښتنه وکړه، هغوی له دې ډډه وکړه چې مېلمانه ئې کړي، بيا دواړو هلته يو داسې دېوال وموند چې غوښتل ئې نسکور شي، نو هغه ئې ټينګ ودراوو، وئې ويل: که دې غوښتي وی نو پر دې کار به دې اجوره تر لاسه کړې وه؛ وئې ويل: همدا زما او ستا تر منځ د بېلتون سبب دئ، ژر به د هغو کارونو په حقيقت تا پوه کړم چې صبر دې پرې ونه کړی شو.

(۷۷-۷۸)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه مطالب داسې دي:

- دواړه وخوځېدل، د يوه کلي اوسېدونکو ته ورغلل، له کليوالو ئې د خوراك غوښتنه وکړه، هغوی له دې ډډه وکړه چې مېلمانه ئې کړي.
- بيا دواړو هلته يو داسې دېوال وموند چې غوښتل ئې نسکور شي (نژدې وه نسکور شي)، خضر عليه السلام هغه مضبوط ودراوو او د نسکورېدو مخه ئې ونيوله.
- موسی عليه السلام وويل: که دې غوښتي وی نو پر دې کار به دې اجوره تر لاسه کړې وه. دې کليوالو د يوې ګولې وچې مړۍ له راکولو ډډه وکړه او تا ئې نسکورېدونکی دېوار ورته ورغاوو، کېدی شو د ډوډۍ په بدل کې دې دا کار کړی وی!
- خضر عليه السلام ورته وويل: همدا زما او ستا تر منځ د بېلتون سبب دئ، تا همداسې ويلي وو، ستا له دې درېيم ځل پوښتني معلومېږي چې زما او ستا ګډ سفر بايد همدلته پای ومومي. اوس به دې ژر د هغو کارونو په حقيقت پوه کړم چې صبر دې پرې ونه کړی شو.

أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتۡ لِمَسَٰكِينَ يَعۡمَلُونَ فِي ٱلۡبَحۡرِ فَأَرَدتُّ أَنۡ أَعِيبَهَا وَكَانَ
وَرَآءَهُم مَّلِكٞ يَأۡخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصۡبٗا ٧٩

اما هغه کشتۍ چې وه نو هغه د ځينو مسکينانو وه چې په سيند کې به ئې کار کولو، نو ما وغوښتل چې عيبجنه ئې کړم؛ او (دا ځکه چې) ترې وړاندې داسې پاچا وو چې هره کشتۍ ئې غصبوله.

(۷۹)- دلته خضر علیه السلام د سفر د لومړۍ پېښې په اړه موسی علیه السلام ته ویلي:
• هغه کشتۍ د څو مسکینانو وه چې په سیند کې به ئې کار کولو، د دې لپاره مې هغه عیبجنه کړه چې له مخکې تلو پاته او بېرته راستنه شي چې ترې وړاندې داسې پاچا او د هغه پلویان په کمین کې ول چې هره کشتۍ ئې غصبوله.
• په دې کې موسی علیه السلام ته څو ستر ستر درسونه ورکړی شو: ۱- له مظلوم سره مرسته کوه او د ظالم له منګولو ئې ژغوره، ۲- یوازې په وینا، وعظ او نصیحت اکتفاء مه کوه عملاً داسې کار وکړه چې مظلوم د ظالم منګولو ته ورنشي، ۳- که دا کار په پټه وکړې لا به غوره وي، ٤- که احیاناً داسې څه کولو ته اړ شوې چې د ډېرې ګټې لپاره او یا د ډېر تاوان د مخنیوي لپاره مظلوم ته لږ تاوان ورسېدو باك نه لري دا کار کولی شې. همغسې لکه خضر علیه السلام چې په کشتۍ کې د یوه واړه سوري په رامنځته کولو سره د هغو مسکینانو ټوله کشتۍ وژغورله.

وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾

او هغه ځوانکی داسې وو چې پلار مور ئې مؤمنان ول، نو موږ (خضر او د هلك پلار او مور) ووېرېدو چې داسې نه په خپل کفر او طغیان سره دوی دواړه تنګ کړي، نو اراده مو وکړه چې د دوی دواړو رب تر ده د پاکوالي له پلوه غوره او د پېرزوینې له پلوه نژدې په عوض کې ورکړي.

(۸۰-۸۱)- دا مبارك آیتونه داسې دي چې تشریح ئې د مزید دقت غوښتنه کوي او دا نه د دې لپاره چې په الفاظو او ترکیب کې ئې څه ابهام او اغماض شته او پوهېدل ئې ګران دي، بلکې د دې لپاره چې غرضي او مرضي کړیو غلط تعبیر کړي او د غلطو باورنو بنسټ ئې ترې جوړ کړی. په مطلب ئې د ښه پوهېدا لپاره دا خبرې په پام کې ولرئ:
که د دې آیتونو په الفاظو کې لږ غور وکړو نو په ډېر وضاحت سره راته جوته کېږي چې د دې وژل شوي ځوانکي مور او پلار مؤمنان ول، له خضر علیه السلام سره ئې پېژندګلوي وه، د خپل زوی د کفر، قساوت او فساد په اړه ئې ده ته شکایت کړی، درې سره په دې صلاح شوي چې هغه ووژل شي، دا ځکه چې دلته د (فخشینا: موږ ووېرېدو) او ورپسې د (أردنا: موږ اراده وکړه) صیغې راغلې، په دواړو کې د (نا) ضمیر د هلك مور، پلار او خضر علیه السلام ته راجع دئ، دوی د هلك په اړه وېرېدلي او د هغه د وژلو پرېکړه ئې کړې.
ځوك چې د (خشینا) او (أردنا) په اړه له دې پرته بل تعبیر وړاندې کوي ستره غلطي کوي؛ او ځوك چې په دې کې د الله تعالی نوم شاملوی هم ستره غلطي کوي او هم ستره ګناه، دا له دې کبله چې له نحوي پلوه په دې کې اصلاً د الله نوم نه شو شاملولی، په (خشینا)

کې ضمیر یوازې خضر علیه السلام او د ماشوم مور او پلار ته راجع کېدی شي نه بل چا ته، دا ځکه چې تر دې وړاندې د الله تعالی نوم نه دئ یاد شوی. اصولاً باید ضمیر نژدې اسم ته راجع شي، دلته د (نا) لپاره نژدې نومونه دوی درې دي، په خشینا او اردنا کې نه یوازې له نحوي او ادبي پلوه ضمیر الله تعالی ته نه شو راجع کولی؛ بلکې له اعتقادي پلوه هم الله تعالی ته د وېرې نسبت کول حرام دي، وېره عیب ده او الله تعالی له هر عیب منزه دئ. الله تعالی ته د وېرېدو نسبت کول ناجائز دي، په قرآن کې د دې شاهد نه مومو. همدا راز که په (اردنا) کې ضمیر الله تعالی او خضر علیه السلام ته راجع شي د دې معنی داسې راوځي چې دوی دواړو په ګډه د هغه هلك د وژلو پرېکړه وکړه، حال دا چې الله تعالی د پرېکړو په صادرولو کې له هیچا سره مشوره نه کوي او څوك له ځان سره نه شریکوي!! څوك چې په اردنا کې (الله او خضر) مرادوي دې ته ئې پام نه دئ کړی چې په دې صورت کې باید په (خشینا) کې هم دوی دواړه مراد کړي!! چې دا کاملاً غلطه خبره ده، الله تعالی په ټول قرآن کې هیڅ ځای د خشي صیغه ځان ته نه ده منسوب کړې، دلته هم د (خشینا) یعني ووېرېدو صیغه د هلك مور، پلار او خضر علیه السلام ته راجع ده او هم د اردنا یعني اراده مو وکړه صیغه، له دې پرته بل تعبیر ته هیڅ مجال نه تر سترګو کېږي؟ خشینا او اردنا د خضر علیه السلام وینا ده، ولې به ئې الله تعالی ته راجع کوو؟

له دې آیتونو دا هم جوته کېږي چې د هغو خلکو دا ادعاء صحیح نه ده چې وایي: خضر علیه السلام یو معصوم ماشوم وژلی، د هغه ځوانکي په اړه د موسی علیه السلام وینا په دې معنی نه ده چې هغه وژل شوی ځوان یو معصوم ماشوم وو، موسی علیه السلام هغه نه پېژاندو، د اعتراض مقصد ئې دا وو چې هغه داسې جرم نه دئ کړی چې د وژلو مستحق وي، د دې ځوانکي په اړه د خضر علیه السلام وینا معیار ده، د ده له وینا معلومېږي چې هغه په داسې کفر، طغیان، فساد او بې رحمۍ کې غرق وو چې نژدې وه خپله کورنۍ تباه کړي. د قرآن الفاظ په ټول صراحت سره وایي چې د دې ځوانکي کفر، طغیان، فساد او د مور او پلار په اړه د ده بې رحمي او قساوت دې حد ته رسېدلي وو چې پلار او مور ئې خضر علیه السلام ته شکایت کړی او درې واړو په ګډه دا پرېکړه کړې چې ووژل شي او له الله تعالی ئې دا طمع کړې چې د دې کافر او مفسد زوی په عوض کې داسې اولاد ورکړي چې د پاکوالي له پلوه تر ده غوره او د پېرزویني او مهربانۍ له پلوه تر ده د مور او پلار په اړه ډېر مهربان او نژدې وي.

په دې کې موسی علیه السلام ته څو اساسي درسونه ورکړی شوي: له مؤمنانو سره مرسته کوه، که مؤمنه کورنۍ او ټولنه د کوم شریر او مفسد انسان له لوري تهدید کېده نو د هغه په وژلو صرفه مه کوه، دا ځکه چې شریر انسان په یوې صالح او مؤمني ټولني او کورنۍ کې داسې وي لکه په روغ بدن کې په سرطان اخته داسې عضو او غړی چې له جراحي او قطع کولو پرته بله چاره نه لري، که نه نو ټول بدن ته ئې تاوان رسېږي، د دې فاسد او خطرناك غړي قطع کول په واقع کې له دې مؤمني کورنۍ سره مرسته ده. د موسی علیه السلام پوه او

عالم ملگري هغې مؤمني کورنۍ ته لوی خدمت وکړ، د یوه شریر انسان له شر ئې وژغورله او موسی علیه السلام ته ئې دا درس ورکړ چې: په سالم بدن کې د فاسد غړي جراحي ممانعت نه لري، له سالم بدن د هغه غړي قطع کول ضروري دي چې د اصلاح او جوړېدو امکان ئې نه وي. که اسلامي ټولني ته د یوه شریر او فاسد انسان له خوا گواښ او تهدید متوجه شي او تر خطر لاندې راشي چې له تصفیې او منځه وړلو پرته بله چاره ونه لري، نو د دا ډول غړي له منځه وړل د اعتراض نه بلکه د توجیه او ستاینې وړ عمل دئ.

وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

او هغه دېوال چې وو نو هغه په ښار کې د دوو یتیمو هلکانو وو او ترې لاندې د دوی خزانه وه، پلار ئې صالح انسان وو، ستا رب وغوښتل چې دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه وه، ما دا کار د ځان له پلوه نه دئ کړی، دا د هغه څه حقیقت وو چې تا پرې صبر ونه شو کړی.

(۸۲)- د دې مبارك آیت اساسي لارښوونې دا دي:

د هغه دېوال په اړه خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وویل: هغه دېوال په ښار کې د اوسېدونکو دوو یتیمو هلکانو وو او ترې لاندې د دوی خزانه وه، پلار ئې صالح انسان وو، ستا رب وغوښتل چې دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه وه، ما دا کار د ځان له پلوه نه دئ کړی، دا د هغه څه حقیقت وو چې تا پرې صبر ونه شو کړی.

دا د موسی علیه السلام د دریېم اعتراض ځواب وو؛ هغه ویلي وو چې ولې دې له یوه بخیل قوم سره د کاږه دېوال په جوړولو او له غورځېدا مخنیوی کې مرسته وکړه، له داسې قوم سره چې دومره بخیل او بې احساس دئ چې اړ او مجبور انسان ته یوه مړۍ ډوډۍ هم نه ورکوي او ولې دې دې خلکو ته مفت او مجاني کار وکړ؟ موسی علیه السلام د خپل ملگري پدې عمل له دې کبله انتقاد وکړ چې له دې حقیقت خبر نه وو چې تردې دېوال لاندې د هغو دوو یتیمانو خزانه ده چې له مؤمنو والدینو په میراث ورته پاته ده، د موسی علیه السلام ملگري په خپل دې مفت او بې اجورې کار سره هغو یتیمانو ته غټ خدمت وکړ او په عین وخت کې ئې موسی علیه السلام ته دا لارښوونه وکړه چې انسان ته نه ښايي تل بالمثله معامله وکړي، مناسبه نده چې د ټولني د اکثریت بد کړه او ناسمه معامله تا له کمزوري اقلیت سره له نېکي کولو منع کړي.

که لږ غور وکړو نو دا خبره راته جوته کېږي چې د هغو یتیمانو پلار خضر علیه السلام یو امین او صالح کس ګڼلی، ورته ویلي ئې وو چې د زامنو لپاره مي تر دېوال لاندي سکې ښخوم، کله چې ستر شي نو ترې خبر ئې کړه، ده ورسره ژمنه کړې، د همدې ژمني له کبله دې کلي ته راغلی چې د دېوال حالت وګوري، هغه ئې د ړنګېدو په حال کې موندلی نو ځکه ئې رغولی. هیڅ عقلمن انسان دا خبره نشي منلی چې د یتیمانو پلار دې په داسي حال کې د دوی لپاره تر دېوال لاندي سکې ښخي کړې وي چې هیڅوك ئې نه وو پرې خبر کړی، له داسي نامعقول کار به د ده زامنو ته څه ګټه رسېده؟ زامن به ئې څنګه خبرېدل چې پلار ئې دلته د دوی لپاره سکې ښخي کړې دي؟ او دا هم په داسي حال کې چې هغوی په ښار کې اوسېدل او دا دېوال له ښاره بهر وو!! طبیعي او معقوله خبره دا ده چې د دوی پلار خضر علیه السلام ته دا خبره کړې وه.

د آیت له الفاظو دا هم معلومېږي چې خضر علیه السلام د دېوال دې حالت ته په پام سره چې نژدې وو رانسکور شي ویلي: دا د الله تعالی اراده او خوښه وه چې زه ئې په دغسي یوه مناسب او حساس وخت کې دلته راوستم او د دېوال د نسکورېدو مخه ئې ونیوله، که لږ نور ځنډېدلی وی نو دېوال به نسکور شوی وو او خزانه به د نورو خلکو په لاس کې پرېوتې وه. د خضر علیه السلام د وینا دا الفاظ (ستا رب وغوښتل چې دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه وه، ما دا کار د ځان له پلوه نه دئ کړی) په ډېر صراحت او وضاحت سره همدا مطلب افاده کوي. د هغو خلکو تعبیر او ادعاء بې بنسټه ده چې وایي: خضر علیه السلام یا له دې کبله دا کار کړي چې په غیب پوهېدو او یا له دې امله چې الله تعالی د وحي له لاري ده ته د داسي کولو سپارښتنه کړې وه. په څو دلائلو: د دې لپاره نه عقلي دلیل لرو او نه نقلي، که دا کار ئې د وحي له مخي کړی وي نو بیا خو د موسی علیه السلام لپاره په هغه کې د درس او سبق مجال ختمېږي، بیا خو به موسی علیه السلام په هغه صورت کې داسي کار کوي چې د الله تعالی له لوري په مشخصه توګه پرې وګمارل شي!!

ځیني خلك د خضر علیه السلام دا وینا چې وئې ویل: (و ما فعلته عن امري: ما (د خپل زړه) په حکم دا کار نه دئ کړی) داسي تعبیروي چې ګواکې ده ته د الله تعالی له لوري په مشخصه توګه د دغه دېوال د رغولو او یا د هغه ځوانکي د وژلو امر شوی وو، خو په آیتونو کې په لږ دقت سره پوهېدی شو چې دا غلط تعبیر دئ، د خضر علیه السلام دا وینا د دېوال رغولو په اړه دئ؛ او معنی ئې دا ده: ما دا کار د خپل نفسي غوښتنو په حکم نه دئ کړی، کوم ذاتي غرض مي په کې نه وو، که احیاناً دا د هغه زلمي وژلو ته هم وغځوو نو معنی ئې دا ده چې د الله دین د داسي څه کولو اجازه راکړې، په الهي دین کې د هغه چا وژل مانع نه لري چې صالح ثپولنه په کفر او طغیان ګواښي، ما د ده د پلار او مور په مشوره دا کار کړی. یوازې دغسي تعبیر موسی علیه السلام ته یو مهم درس ګڼل کېدی شي؛ نه دا چې ګواکې د الله تعالی له لوري خضر علیه السلام ته په مشخصه توګه د دغه ځوانکي د وژلو حکم شوی

وو!!

د خپلو خبرو په پای کې خضر علیه السلام خپل حساس او جلالي شاگرد ته وويل: دا د هغه څه حقيقت وو چې تا پرې صبر ونه شو کړی.

دې ته مو بايد پام وي چې خضر علیه السلام خپل شاگرد موسی علیه السلام ته د ملگرتيا په دوران کې درې عملي درسونه ورکړي وو: ١- د يوه ظالم پاچا له منگولو د مسکينو او بې وزلو بېړۍ والو ژغورل؛ هغه هم په داسي بڼې کې چې بېړۍ وال پرې خبر نه شول، ٢- د يوه مفسد، کافر او بې رحم زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شر ژغورل، ٣- تر نړېدونکي دېوال لاندي د دوو يتيمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول. موسی علیه السلام د همدې لاربشوونو په رڼا کې دغو دريو کارونو ته ورته کارونه وکړل: ١- له يوه مظلوم بني اسرائيلي د دفاع په موخه ئې يوه ظالم قبطي ته داسي څپېړه ورکړه چې پرې مړ شو، ٢- د مدين د کوهي خوا ته ئې په داسي حال کې د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه کړه چې د اوږده سفر له کبله ډېر ستړی او ستومانه وو، ٣- د بني اسرائيلو د نجات لپاره له مدين مصر ته ولاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله. او دا په ډېر وضاحت سره ښيي د موسی علیه السلام دا تربيتي سفر له بعثت مخکې او هغه مهال تر سره شوی چې دی لا ځوان وو، په مصر کې د فرعون په قصر کې اوسېدو او مدين ته ئې هجرت نه وو کړی.

دې ته مو پام وي چې دا برخه او دا قصه هغه برخه ده چې د کږو او خيرنو زړونو خاوندانو او په خرافاتو کې تر ستوني غرق ډلو له هغې سره ستره جفا کړې ده، غلط تعبيرونه ئې ترې کړي، داسي غلط تعبيرونه چې د شرك لړلو عقائدو په تأييد کې ترې استفاده وکړي، دوی د دغې قصې له څو برخو خپل شرك لړلي باورونه په دې توگه اخيستي دي او وايي:

- موسی علیه السلام پيغمبر وو او خضر يو ولي، پيغمبر ته شريعت ورکړی شوی او ولي ته طريقت، د شريعت علم پر ظواهرو ولاړ دئ او د طريقت علم پر باطن، ولي ته د باطن علم ورکړی شوی او پيغمبر ته د ظاهر علم!!
- خضر په غيب پوهېدو، د غاصب پاچا، وژل شوي ماشوم او تر دېوال لاندي خزانې په اړه د ده علم د علم غيب بېلگې دي!!
- د طريقت لاروي د شريعت په احکامو ملزم نه وي، کولی شي د شريعت خلاف عمل وکړي!! د ماشوم وژل د شريعت له مخي حرام دي خو خضر همدا کار وکړ. پر اولياء الله به دا اعتراض نه کوئ چې ولي ئې د شريعت خلاف عمل وکړ.

خو تاسو ته هم د موسی علیه السلام او خضر علیه السلام د قصې حقيقت معلوم شو او هم د دې قصې د اړوند آيتونو حقيقي تفسير او اصلي معنی؛ او يقيناً چې د دې تفسير په رڼا کې تاسو ته د دغو پوچو او غلطو ادعاءگانو ماهيت هم جوت شوی او اوس په دې پوهېږئ چې دا خبرې څومره وزن لري او څومره د حقيقت مطابق يا خلاف دي؟ او دا چې آيا له دې قصې دا مطالب رااېستل او د خپلو عقائدو بنسټ ئې گرځول صحيح دي که نه؟

که څوك له شفاف ذهن سره، پرته له دې چې کوم خاص مخکينی فکر ورسره وي، د

موسی علیه السلام او خضر علیه السلام د قصې اړوند آيتونو باندي غور وکړي نو په بشپړ يقين او ډاډ سره ويلی شي چي په دغو آيتونو کي هيڅ داسي څه صراحتاً او اشارتاً نه تر سترګو کېږي چي د دغې بې لاري ډلي د انګېرنو او غلطو تصوراتو لپاره کوم مستمسك ترې جوړ شي. يوازي هغه به دا غلطه انتباه ترې اخلي چي په غرض او مرض مبتلی وي او د دې پروا نه لري چي د الله تعالی په کلام کي تحريف وکړي. که تاسو د دغې ډلي افکارو او دلائلو ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چي د قرآن په کوم آيت يا د کوم آيت په کوم لفظ د استناد پر ځای پر داسي کمزورو رواياتو استناد کوي چي هم له قرآن سره په څرګنده توګه تعارض لري او هم په خپلو منځونو کي!! راشئ هغه روايات هم وڅېړو چي د دې قصې په اړه ئې د رواياتو په کتابونو کي مومو. يو روايت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ خَضِرٌ. فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ إِنِّي تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِي سَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ، هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَذْكُرُ شَأْنَهُ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ " بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لاَ. فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَى مُوسَى بَلَى، عَبْدُنَا خَضِرٌ، فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ اللَّهُ لَهُ الْحُوتَ آيَةً، وَقِيلَ لَهُ إِذَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَارْجِعْ، فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ، وَكَانَ يَتَّبِعُ أَثَرَ الْحُوتِ فِي الْبَحْرِ، فَقَالَ لِمُوسَى فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلاَّ الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ. قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَوَجَدَا خَضِرًا. فَكَانَ مِنْ شَأْنِهِمَا الَّذِي قَصَّ اللَّهُ- عَزَّ وَجَلَّ- فِي كِتَابِهِ ". بخاري: ٧٤

له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چي وايي: د ده او حر بن قيس تر منځ د موسی علیه السلام د ملګري په اړه مناقشه رامنځته شوه، ابن عباس وويل چي دا خضر وو، أبي بن کعب د دوی دواړو خوا ته تېر شو، نو ابن عباس ورغږ کړ او وئې ويل: زما او دغه ملګري تر منځ د موسی علیه السلام د هغه ملګري په اړه مناقشه راغله چي موسی له هغه سره د ملاقات د لاري موندو پوښتنه کړې وه، آيا له رسول الله صلی الله عليه و سلم دي د ده په اړه څه اورېدلي؟ وئې ويل: هو؛ له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي واورېدل چي ويل ئې: کله چي موسی علیه السلام د بني اسرائيلو په يوې غونډې کي وو يو سړی ورته راغی او وئې ويل: آيا داسي څوك پېژني چي تر تا زيات پوه وي؟ موسی علیه السلام وويل: نه، نو الله تعالی موسی علیه السلام ته وحي وکړه چي ولي نه، زموږ بنده خضر (علیه السلام )، نو موسی له هغه سره د ملاقات د لاري په اړه پوښتنه وکړه، نو الله تعالی کب ورته د نښي په

توګه وټاکو او ورته وویل شو: کله چې دې کب ورك کړ نو راوګرځه او همله به ئې وګورې؛ او هغه به په نهر کې د روان کب تر شا (په استقامت) تلو، نو موسی ته خپل ځوانکي وویل: آیا پام دې وو چې کله مو هغه لوی کمر ته پنا یووړه نو ما کب هېر کړ، فقط شیطان رانه هېر کړ چې یادونه ئې وکړم، موسی علیه السلام وویل: دا همغه څه دي چې لټولو مو، نو پر خپلو پلونو بېرته راستانه شول، نو خضر ئې وموند؛ او بیا د دوی دواړو خبره همغسې ده چې الله تعالی ئې قصه په خپل کتاب کې راوړې.

دا روایت څو خبرې زموږ مخې ته ږدي: دا عالِم او پوه شخص خضر علیه السلام وو. له موسی علیه السلام پوښتنه شوې وه: آیا داسې څوك پېژنې چې تر تا زیات پوه وي؟ موسی علیه السلام وویل: نه، نو الله تعالی موسی علیه السلام ته وحي وکړه چې ولې نه، زموږ بنده خضر (علیه السلام )، موسی علیه السلام غوښتي له خضر علیه السلام سره وګوري، د لارې نښه ئې غوښتې، ورته ویل شوي چې په اوبو کې روان ژوندي ماهي پسې درومه، په هر ځای کې چې ترې ورك شو همله به خضر ومومې. موسی علیه السلام د سفر ملګری پر دې ګمارلی وو چې په سیند کې روان کب به تر نظر لاندې نیسي، کله چې ترې ورك شي نو ده ته به خبر ورکوي، دوی د سفر په دوران کې د کوم کمر سیورې ته پنا وړې، په همدې وخت کې کب خپله لار بدله کړې او د هغه ځوانکي له سترګو غائب شوی، کله چې بیا خوځېدلي، له څه مزل وروسته موسی علیه السلام له هغه غرمنی خوراك غوښتی، په همدې وخت کې هغه ته د کب د غائبېدو خبره ورپه یاد شوې او موسی علیه السلام ته ئې یادونه کړې، موسی علیه السلام ورته ویلي چې موږ د همدې ځای په لټه کې وو، بېرته راستانه شوي او خضر علیه السلام ئې همله موندلی.

دا روایت په بخاري کې دولس ځلې نور په دغو شمېرو راغلی: ۷۸، ۱۲۲، ۲۲۶۷، ۲۷۲۸، ۳۲۷۸، ۳۴۰۰، ۳۴۰۱، ۴۷۲۵، ۴۷۲۶، ۴۷۲۷، ٦٦٧٢، ۷۴۷۸، په دې کې درې ئې د پورتني روایت په څېر دي، له عادي توپیرونو سره او په دې شمېرو: ۷۸، ۳۴۰۰، ۷۴۷۸؛ او پنځه ځلې په دغو شمېرو ۱۲۲، ۳۴۰۱، ۴۷۲۵، ۴۷۲۶، ۴۷۲۷ کې داسې راغلی چې له پورتني سره ژور تعارض لري؛ او په کې راغلي چې موسی علیه السلام ته ویل شوي وو چې وریت شوی کب په ټوکرۍ کې ورسره واخلي، په دغو پنځو کې هم ژور توپیرونه تر سترګو کېږي، دا په داسې حال کې چې د ټولو دیارلسو روایتونو راوي یو دئ! امام بخاري رحمه الله نه دي ویلي چې کوم روایت ئې تر نورو غوره، دقیق او صحیح دئ، هغه له بېلو بېلو راویانو چې څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دغو متعارضو روایاتو به یو غوره کوو، یا هغه چې وایي موسی علیه السلام ته په سیند کې روان کب د نښې په توګه ټاکل شوی وو یا هغه چې وریت شوی کب نښه ګڼي. د إسنادو له مخې دا پرېکړه نشي کېدی، ځکه که دا کار ممکن وی نو امام بخاري رحمه الله به هرومرو ویلي وو چې کوم ئې ضعیف دئ او کوم ئې صحیح. مجبور یو د قرآن په رڼا کې او د درایت له مخې ارجح روایت تشخیص کړو، راځئ د وریت شوي کب اړوند روایت ته ځیر شو، روایت داسې دئ:

عن سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لاِبْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى لَيْسَ بِمُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، إِنَّمَا هُوَ مُوسَى آخَرُ. فَقَالَ كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ " قَامَ مُوسَى النَّبِيُّ خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ فَقَالَ أَنَا أَعْلَمُ. فَعَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِ، إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ، فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ. قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ بِهِ فَقِيلَ لَهُ احْمِلْ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ فَإِذَا فَقَدْتَهُ فَهْوَ ثَمَّ، فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقَ بِفَتَاهُ يُوشَعَ بْنِ نُونٍ، وَحَمَلاَ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، حَتَّى كَانَا عِنْدَ الصَّخْرَةِ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا وَنَامَا فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا، فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِهِمَا وَيَوْمِهِمَا فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا، لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا، وَلَمْ يَجِدْ مُوسَى مَسًّا مِنَ النَّصَبِ حَتَّى جَاوَزَ الْمَكَانَ الَّذِي أُمِرَ بِهِ. فَقَالَ لَهُ فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، قَالَ مُوسَى ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ إِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى بِثَوْبٍ- أَوْ قَالَ تَسَجَّى بِثَوْبِهِ- فَسَلَّمَ مُوسَى. فَقَالَ الْخَضِرُ وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلاَمُ فَقَالَ أَنَا مُوسَى. فَقَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ. قَالَ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ عَلَّمَنِيهِ لاَ تَعْلَمُهُ أَنْتَ، وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ عَلَّمَكَهُ لاَ أَعْلَمُهُ. قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا، وَلاَ أَعْصِي لَكَ أَمْرًا، فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ لَيْسَ لَهُمَا سَفِينَةٌ، فَمَرَّتْ بِهِمَا سَفِينَةٌ، فَكَلَّمُوهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمَا، فَعُرِفَ الْخَضِرُ، فَحَمَلُوهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، فَجَاءَ عُصْفُورٌ فَوَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ، فَنَقَرَ نَقْرَةً أَوْ نَقْرَتَيْنِ فِي الْبَحْرِ. فَقَالَ الْخَضِرُ يَا مُوسَى، مَا نَقَصَ عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ إِلاَّ كَنَقْرَةِ هَذَا الْعُصْفُورِ فِي الْبَحْرِ. فَعَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَنَزَعَهُ. فَقَالَ مُوسَى قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ. فَكَانَتِ الأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا. فَانْطَلَقَا فَإِذَا غُلاَمٌ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ. فَقَالَ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا- قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ وَهَذَا أَوْكَدُ-

فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا، فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ. قَالَ الْخَضِرُ بِيَدِهِ فَأَقَامَهُ. فَقَالَ لَهُ مُوسَى لَوْ شِئْتَ لاَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا. قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ". قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "يَرْحَمُ اللَّهُ مُوسَى، لَوَدِدْنَا لَوْ صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا". بخاري: ١٢٢

د دې روايت په اړه ډېرې داسې پوښتنې راولاړېږي چې ځواب ئې نشي ويل کېدی؛ پوښتنې دا دي:

- د روايت په سر کې راغلي چې عبدالله بن عباس رضى الله عنهما د نَوْفًا الْبِكَالِيَّ په اړه وويل: كَذَبَ عَدُوُّ اللهِ: د خدای دې دښمن دروغ ويلي! د عبدالله بن عباس غوندې له شخصيت لري خبره ده چې د يوه کس د ادعاء له مخې د بل چا په اړه داسې وينا وکړي او هغه د خدای دښمن وبولي. شريعت نه داسې ښکنځل جائز ګڼي او نه داسې قضاوت چې د يوې لانجې د دواړو خواوو د ويناوو له اورېدو مخکې وي.
- دا روايت وايي چې موسی عليه السلام له بعثت وروسته دا سفر کړی، حال دا چې له بعثت وروسته هغه د نورو ټولو لپاره ستر لارښود وو، تر ده بل يوه او عالم کس په نړۍ کې نه وو، ولې به الله تعالی د دې خبرې په کولو تر عتاب لاندې نيولو چې د يو چا په ځواب کې ئې ويلي وو: تر ما بل يوه کس نشته؟! يقيناً چې هغه مهال تر ده يوه کس په ټولې نړۍ کې نه وو. پيغمبر عليه السلام په وار وار صحابه وو ته ويلي چې تر تاسو ټولو ښه پوه يم؛ او صحابه وو هم ويلي چې الله او د هغه رسول تر ټولو زيات پوه دي.
- قرآن د موسی عليه السلام دا سفر او موخه ئې د يوه ستر او ستايني وړ کار په توګه د قريشو په وړاندې ږدي او ورته وايي: موسی عليه السلام د علم او زده کړې لپاره دومره اوږد او ستونزمن سفر ته ملا وتړله خو تاسو له خپل ستر معلم او مرشد د څه زده کولو پر ځای د هغه مخالفت او دښمنۍ ته ملا تړلې. هغه تعبير د قصې له روح او مقصد سره اړخ نه لګوي.
- قرآن وايي چې موسی عليه السلام له بعثت وروسته يوازې څلوېښت ورځې له خپل قوم لرې شوی چې د ده په غياب کې سامري وغولول، که دا سفر له بعثت وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت کړی وو او دا به ئې ويلي وو چې په دې مودې کې پر بني اسرائيلو څه راغلل. له بعثت وروسته هغه د سينا په صحرا کې وو، هلته نه سيندونه وو او نه مجمع البحرين.
- که وريت شوی او پوخ ماهي د دوی لپاره نښه وو نو موسی عليه السلام به څنګه خپل خادم ته ويل چې هغه د خوراك لپاره راوړه؟!! په دې صورت کې خو به ئې تل له ځان سره خوندي ساتو او له خوړلو به ئې ډډه کوله.
- نه قرآن ويلي چې د موسی عليه السلام د سفر ملګری يُوشَعَ بْنِ نُونٍ وو او نه نورو

روایاتو دا خبره کړې او نه دا ضروري ده چې نوم ئې په ګوته شي، که ضروري وی قرآن به حتماً د ده نوم اخیستی وو! یوشع بن نون د سینا په سفر کې د موسی علیه السلام ملګری شوی نه په مصر کې د هغه بل سفر په دوران کې.

• دا روایت وایي چې وریت شوی کب ژوندی شو او سیند ته ئې ټوپ کړل او دا موسی علیه السلام او ملګري ته ئې د حیرانتیا سبب شو، حال دا چې قرآن وایي چې په سیند کې د کب ورکېدا یوازې د موسی علیه السلام ملګري لیدلي او موسی علیه السلام دا صحنه نه وه لیدلې نو ځکه ئې له خپل ملګري د دغې خبرې په اورېدو سره وویل: موږ د همدې ځای په لټه کې وو چې کب به په خپله مخه درومي او له موږ به غائب کېږي. د روایت الفاظ دا دي: فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا او دا د قرآن له وینا سره په بشپړه توګه تعارض لري، ځکه قرآن د موسی علیه السلام د ملګري له خولې وایي:... وَ مَا أنسانِيهُ إلا الشيْطنُ أنْ أذْكُرَهُ وَ اتخَذَ سبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عجَباً.

• همدا راز دا روایت وایي چې موسی علیه السلام او ملګري ئې د کمر خوا ته سرونه کښېښودل او ویده شول، که داسې وو نو د کب ژوندي کېدا او سیند ته لوېدا ئې څنګه ولیده؟! دا پوښتنه ډېره پر ځای پوښتنه ده، ځکه قرآن د ډبرې خوا ته د ویده کېدو خبره نه کوي بلکې د پناه وړلو خبره کوي او ښیي چې د تودوخې له امله ئې د کمر سیورې ته پناه وړې او څو شېبې ئې هلته دمه کړې ده، خو دا روایت وایي چې هلته دواړه ویده شوي!!

• دا روایت وایي چې خضر علیه السلام د موسی د سلام په اورېدو سره حیران شو او وئې پوښتل چې ستا په سیمې کې سلام له کومه شو، هغه ورته وویل: زه موسی یم، پوښتنه ئې ترې وکړه چې د بني اسرائیلو موسی؟ وئې ویل: هو؛ د دې معنی دا ده چې هغه په غیب نه پوهېدو او موسی ئې ونه پېژندو، خو د دې روایت له ځینو نورو الفاظو د دې خلاف داسې معلومېږي چې ګواکې هغه په غیب پوهېدو، حال دا چې قرآن وایي له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي.

پوښتنه دا ده چې خضر علیه السلام څنګه د موسی علیه السلام په څېر یوه پیغمبر ته وایي: ما ته داسې علم راکړی شوی چې تا ته نه دئ درکړی شوی یا په بل روایت له تا سره نه ښایي؛ او تا ته داسې علم درکړی شوی چې ما ته نه دئ راکړی شوی او په بل روایت کې له ما سره نه ښایي؟! کوم علم ده ته ورکړی شوی وو؟ علم غیب خو نشي کېدی!! ځکه چې هغه د ملاقات پر مهال موسی علیه السلام ونه پېژندو، پوښتنه ئې ترې وکړه چې څوك یې؟ چې ورته وئې ویل موسی، نو پوښتنه ئې وکړه چې د بني اسرائیلو موسی؟! له دې خو معلومېږي چې هغه په غیب نه پوهېدو، نو ده کوم علم درلودو چې موسی علیه السلام له بعثت وروسته نه درلود؟ څوك چې دا روایت صحیح ګڼي څنګه خضر علیه السلام ته علم غیب هم منسوبوي؟!! له دې روایت خو معلومېږي چې په هغو درېو مواردو کې هم د ده علم؛ خاص علم او په غیب پوهېدا نه شو ګڼلی. دې ته مو باید پام وي چې د قرآن له وینا

په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې خضر علیه السلام هغه مفسد ځوانکی د ده د مور او پلار په مشوره وژلی.

همدا راز د قرآن له وینا معلومېږي چې خضر علیه السلام د هغه یتیمانو دېوال د هغې ژمنې له مخه رغولی چې د دوی له پلار سره ئې کړې وه، دا ځکه چې هیڅوك د اولاد لپاره په داسې حال کې خزانه نه ښخوي چې هیڅوك پرې خبر نه کړي، له داسې کار به د ده اولاد ته څه ګټه ورسېږي؟!! کېدی شي دېوال ړنګ شي او خزانه د بل چا په لاس کې پرېوځي.

په دې روایت کې د خضر علیه السلام په لاس د کافر او مفسد ځوانکي د وژل کېدو په اړه دا الفاظ راغلي چې منل ئې ګران دي: فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلَاهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ: نو خضر د سر له لوړې ونیو او په خپل لاس سره ئې سر ترې وایست!!

په کومو آیتونو کې چې د کب یادونه شوې له هیڅ لفظ ئې نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې معلومېږي چې وریت شوی کب ژوندی شوی او له ټوکرۍ ئې سیند ته ټوپ کړي؟ که دا کار شوی وی نو قرآن به په صریحو الفاظو هغه ته اشاره کړې وه؛ او که د موسی علیه السلام ملګري داسې صحنه په سترګو لیدلې وی نو له ډېرې حیرانتیا به ئې یا داسې چیغه له خولې وتلې وه چې موسی علیه السلام به ئې له خوبه راویښ کړی وی او که ئې ډېر صبر کړی وی نو د ده له ویښېدو وروسته به ئې فوراً دا خبره ورته کوله، لږ تر لږه هغه مهال خو به ئې دا خبره کړې وه چې تشه ټوکرۍ ئې له ځان سره وړله، دا داسې خبره نه ده چې څوك ئې هېره کړي؛ او څو ساعته وروسته ورپه یاد شي، قرآن وایي چې دواړو خپل کب هېر کړ (نسیا حوتهما)؛ یعني دواړو دې خبرې ته نه وو پام چې کب به تر نظر لاندې نیسي، قرآن ورپسې د موسی علیه السلام د ملګري دا وینا راوړې: شیطان رانه هېره کړه چې یادونه ئې وکړم، کب په عجیبه توګه پر خپله مخه ولاړ. د دې خبرې معنی دا ده چې یوازې د موسی علیه السلام ملګري دا صحنه لیدلې وه؛ نه موسی علیه السلام.

دغو خبرو ته په پام سره په یقیني توګه ویلی شو چې دا روایت ډېر اشکالات لري او قطعاً د منلو وړ نه دئ، هغه بل له هره پلوه ارجح او غوره دئ او ډېرې برخې ئې د قرآن له ویناوو سره اړخ لګوي.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾

د ذو القرنین په اړه تا پوښتي؛ ووایه: ژر به ئې څه یادونه درواوروم.

(۸۳)- په دې مبارك آیت سره یوه بله اغېزناکه او عبرتناکه تاریخي قصه پیل کېږي چې د یوه ځواکمن او فاتح زعیم په اړه ده او په ترڅ کې ئې د دې سورې محوري او اساسي مضامین په نوې اغېزمنې بڼې کې انځور شوي. یو مؤمن بنده د داسې اقتدار او واکمنۍ په حالت کې ښیي چې د ملك لمن ئې د لویې وچې له ختیځ تر لوېدیځ غځېدلې، د شمال او جنوب په لوري خوره شوې، هیڅوك ئې مخې ته ودرېدی نه شي او د مقابلې توان ئې نه لري، ډول

ډول وسائل او امكانات ئې په واك كې دي، خو دې زور او ځواك؛ نه مغرور كړی، نه ئې له خپل رب عصيان او بغاوت ته هڅولی او نه ئې د نورو په حق كې ظلم او تېري ته تشويق كړی، د مظلوم مرسته كوي، د ظالم له شره ئې ژغوري، د مفتوحه سيمو له هستوگنو سره نېك او عادلانه چلن كوي او يوازې ظالمانو ته سزا وركوي، فتوحات ئې د دې لپاره نه دي چې د جاه طلبۍ شوق پوره كړي، نورو ته خپل زور او ځواك وښيي او د نورو سيمو په نيولو سره د خپلې واكمنۍ لمن پراخه كړي، بلكې د يوه سپېڅلي هدف لپاره دي، غواړي خلك پر الله تعالی او آخرت ايمان راوړي او د ظالمانو له منگولو وژغورل شي. د دې آيت لاندينې مطالب توجه غواړي:

• دلته ويل شوي چې: (او د ذوالقرنين په اړه له تا پوښتنې كوي)؛ له دې وينا معلومېږي چې د نورو پوښتنو په ضمن كې دا هم يوه پوښتنه وه؛ او دا ښيي چې په دې سورې كې د اصحاب كهف او د موسی عليه السلام او خضر د جهادي سفر په اړه راغلي مطالب او وضاحتونه هم د دوی د پوښتنو په ځواب كې وړاندې شوي. د آيت له دې فقرې (قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا: ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم) معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې اړه د وحې له راتلو وروسته هغوی ته دغه وينا كړې؛ هغه رأيه صحيح نه برېښي چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم لومړی له هغوی سره وعده كړې او بيا څه موده وروسته دا آيتونه نازل شوي؛ ځكه دا آيت په واضح توگه ښيي چې وعده د دغه آيت په لارښوونه شوې.

• دلته د ذوالقرنين نوم راغلی؛ چې لغوي معنی ئې د دوو ښكرونو خاوند ده، نه په قرآن كې د دې مزيد وضاحت شوی چې دا څوك وو، نه په احاديثو كې او نه د تاريخ په كتابونو كې؛ ځينو ويلي چې دا يوناني سكندر اعظم وو او ځينو ويلي چې دا خورس (خسرو) د فارس ستر واكمن وو، په دې اړه په يقين سره څه ويل گران دي. دا هم يوه بله پوښتنه ده چې ولې د ذوالقرنين په نامه ياد شوی؟ آيا دا له دې كبله چې ده او فوځيانو به ئې داسې خولونه پر سر كول چې دوه ښكرونه به ئې ول، كه د دې لپاره چې ده حقيقتاً په خپلې ككرۍ (كوپړۍ) كې د ښكرو په څېر دوه راوتلې غوټې درلودې؟ په دې اړه هم څه واضح ځواب نه شو موندلی، خو د قرآن له وينا دومره معلومېږي چې قريش له دې نوم سره آشنا ول او د همدې ذوالقرنين په اړه ئې له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه كړې، د قريشو د دې معرفت مرجع يهودان ول، بايد د يهودانو په مذهبي او تاريخي كتابونو كې دا ولټول شي چې دوی د ذوالقرنين نوم چا ته وركړی وو.

په بايبل كې د دانيال يوه جعلي او سر تر پايه بې بنسټه قصه مومو چې په ضمن كې ئې د دانيال داسې خوب ته اشاره شوې چې وايي: خوب مې ليد چې د شوش په سيمې كې (دا سيمه اوس د ايران يوه برخه ده)؛ د نهر خوا ته ولاړ يم، يو مږ گورم چې دوه جگ جگ ښكرونه ئې دي، د نهر په ژۍ كې ولاړ دئ، ناڅاپه گورم چې يو ښاخ ئې ستر او تر بل جگ شو، دې مږ د مغرب، شمال او جنوب لوري ته ښكرونه وهل، هيڅ ځناور ئې مقابله نه شوی

کولی او روغ نه شو ترې خلاصېدی، څه چې ئې غوښتل همغسې ئې کول او سترېدو، په داسې حال کې چې لګیا وم د دې صحنې په اړه مې فکر کولو ناڅاپه له لوېدیځه یو وز راڅرګند شو، داسې تېز رااروان وو چې پښې به ئې د منډې په حال کې پر زمکه نه لګېدې، دې وز چې یو ښکر ئې د دواړو سترګو تر منځ درلود په شدت سره د دوه ښکري مږ په لور ورغی، له ډېر غضب سره ئې پرې برید وکړ، دواړه ښکرونه ئې ورمات کړل او هغه ئې رانسکور کړ... ورپسې د جبرئیل له قوله چې ګواکې دانیال ته په خوب کې راڅرګند شوی؛ دا خوب داسې تعبیروي: هغه دوه ښکری مږ د ماد او فارس پاچایي ده، هغه وز چې د دواړو سترګو منځ کې ئې یو ښکر وو د یونان پاچایي ده، ښکر ئې د همدې ملك لومړی پاچا دئ، د ښکر ماتېدا او پر ځای ئې د څلورو ښکرونو راپیدا کېدا په دې معنی ده چې دا پاچایي به په څلورو برخو ووېشل شي(په خوب کې ئې راغلي دي چې یو ښکر ئې په څلورو ښکرونو بدل شو) او هره برخه به یو پاچا لري خو هیڅ یو به ئې د لومړي پاچا په څېر ځواکمن نه وي....

که تاسو د بایبل دغه برخه په دقت سره ولولئ نو یقیناً چې ډېر ژر به درته جوته شي چې (دانیال) یو جعلي نوم دئ؛ او په ده پورې تړل شوې خوبونه او خبرې جعلي، له ځانه جوړ شوي او له سر تر پایه غلط او بې بنسټه دي، خو عجیبه ده چې دانیال ته منسوب دغه قصې، خوبونه او تعبیرونه ئې په مسلمانانو کې خواره شوي، دانیال د یوه معروف معبر په نامه پېژني او حتیٰ ځینو مفسرینو په خپلو تفسیرونو کې د ده خبرې نقل کړې دي، دا په داسې حال کې چې عمر رضي الله عنه یو کس د دې لپاره سخت تنبیه کړ چې دانیال ته دغه منسوب خبرې ئې تبلیغ کړې وې او ورته وئې ویل چې زه پیغمبر علیه السلام د اهل کتابو د آثارو له لوستلو په کلکه منع کړی وم. د دې تفصیل د (بایبل د قرآن په رڼا کې) کتاب کې وګورئ، خو یهودان د بایبل دغې جعلي برخې ته تر نورو زیات ارزښت ورکوي، د همدې لپاره دا دوه ښکری (ذوالقرنین) په دوی کې پېژندل شوی او معروف نوم وو او د فارس یو ستر واکمن ئې په همدې نامه یاداوو.

قرآن په راتلونکو آیتونو کې د دې ستر فاتح مواصفات زموږ مخې ته بږدي او هغه د یوه مؤمن او عادل واکمن او زعیم په توګه معرفي کوي:

---

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ٨٤ فَأَتۡبَعَ سَبَبًا ٨٥ حَتَّىٰٓ
إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوۡمٗاۖ قُلۡنَا
يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمۡ حُسۡنٗا ٨٦ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ
فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا نُّكۡرٗا ٨٧ وَأَمَّا مَنۡ ءَامَنَ
وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنۡ أَمۡرِنَا يُسۡرٗا ٨٨

---

يقيناً چې موږ هغه ته په زمکې کې تمکين ورکړی وو او ډول ډول اسباب مو ورکړي ول، نو د يوه (اقدام اړوند) سبب پسې شو؛ تر هغه چې د لمر لوېدو حد ته ورسېدو؛ هغه ئې داسي وموند چې په تور رنګه خټينه چينې کې پرېوځي؛ او د هغې خوا ته ئې يو قوم وموند؛ ومو ويل: اې ذو القرنينه! يا ئې تعذيب کړه يا د دوی په اړه نېك چلن غوره کړه؛ وئې ويل: اما هغه چې ظلم ئې کړی نو حتماً به ئې تعذيب کړو بيا به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږي او هغه به ئې په ځانګړي بد عذاب اخته کړي؛ او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی نو هغه ته غوره بدله ده او حتماً به هغه ته د خپلې سپارښتني آسانه وينا وکړو.

---

(۸٤-۸۸)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني مومو:

- ذوالقرنين د نړۍ يو پياوړی او مضبوط واکمن وو، الله تعالی ډول ډول اسباب او امکانات ورکړي ول، له خپلو وسائلو او امکاناتو په استفادې سره ئې لومړی د لوېديځ په لوري مخه کړه، تر هغه ځای مخکې ولاړ او سيمې ئې يوه په بلې پسې فتح کړې چې د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، داسي ځای ته چې پراخه خټينه چينه ئې مخې ته حائل شوه، داسي ورته معلومېده چې لمر د همدې خټينې چينې په وروستۍ (غربي) ژۍ کې پرېوځي. د قرآن له وينا معلومېږي چې د دې چينې شرقي ژۍ خټينه ده، د غرب په امتداد دومره اوږده پرته ده چې آخوا ته ئې هيڅ لوړه نه تر سترګو کېږي، د لمر د پرېوتو پر مهال داسي معلومېږي لکه چې لمر په همدې چينې کې پرېوځي. د قرآن له وينا دا هم معلومېږي چې دا کوم ستر بحر او سمندر نه وو بلکې چينې ته ورته بحيره وه. دغو لارښوونو ته په پام سره ويلی شو چې دا فاتح زعيم د يونان کوم پاچا نشي کېدی، ځکه د يونان په غرب کې داسي بحيره نه تر سترګو کېږي، د کوچنۍ آسيا په غربي ساحل کې پرتې جزېرې او مديترانه داسي دي چې د قرآن د الفاظو مصداق ګڼل کېدی شي، نو د دې فاتح زعيم پلازمېنه به د دې سيمي ختيځ کې پرته وه؛ او دا د خورس په اړه تر سکندر اعظم زيات صدق کوي.
- دې فاتح زعيم د دغې چينې خوا ته يو قوم وموند، داسي چې الله تعالی ده ته هم د دې قوم د تعذيب قدرت او توان ورکړی وو او هم له دوی سره د نېك چلن توان. خو ده دا پرېکړه وکړه: چا چې ظلم کړی يا له دې وروسته ظلم وکړي مناسبه سزا ورکوم، بيا به د خپل رب لوري ته درومي او الله تعالی به سخته سزا ورکوي؛ او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی يا له دې وروسته ايمان راوړي او نېك عمل وکړي نو هغه ته به په دنيا او آخرت کې غوره بدله ورکول کېږي او موږ به نه له هغه سره سختي کوو او نه به ئې پر سختو کارونو ګمارو.
- له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا يو مؤمن او عادل زعيم وو، د مفتوحه سيمو له هستوګنو سره ئې عادلانه چلن کولو، ظالمانو ته ئې سزا ورکوله، له مؤمنانو او نېکانو سره ئې نېك چلن کاوو، هدف ئې د زمکو لاندې کول او د نورو شتمني لوټل نه وو. د

تاريخي شواهدو له مخې سکندر دا مواصفات نه درلودل، هغه چنګيز ته ورته فاتح وو، له تاريخي شواهدو دا معلومېږي چې خورس تر ډېره حده د همدې مواصفاتو خاوند وو.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾

بيا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو؛ تر هغه چې د لمر د ختو حد ته ورسېد؛ هغه ئې داسې ومونډ چې پر يوه داسې قوم راخېژي چې له هغه مو هيڅ حجاب او پرده نه ده ورته جوړه کړې؛ همداسې وو؛ او موږ يقيناً په هغه څه د خبرېدو له پلوه احاطه کړې چې له ده سره ول.

(۸۹-۹۱)- دا مبارك آيتونه د دې زعيم بل فاتحانه اقدام څېړي او وايي:

• بيا ئې د بل اقدام لپاره تيارى ونيو، د ختيځ په لور وخوځېدو، داسې سيمې ته ورسېدو چې د هستوګنو او لمر تر منځ نه چت حائل کېدو، نه کړدۍ او نه جامې، نه ئې خونې او سمڅې درلودې، نه ئې کړدۍ او نه جامې، د حيواناتو په څېر بربنډ ول.

• له الفاظو داسې معلومېږي چې دا سيمه هم د کوم بحر په غربي ژۍ کې پرته وه، لمر به له راڅرګندېدو سره سم تر ستړګو کېدو؛ او وړانګې به ئې مخامخ او له کومې مانع پرته پر سيمې او هستوګنو ئې لګېدې. داسې معلومېږي چې دا به د هند هغه شرقي سيمه وي چې له بحر سره متصل پرته ده.

• دا آيتونه مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چې د ذوالقرنين په اړه د قرآن دا وينا د هغه جامع او کامل علم له مخې ده چې الله تعالی ئې د ده او د ده د امکاناتو او وسائلو په اړه لري.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾

بيا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو، تر هغه چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد، تر هغو وړاندې ئې داسې قوم ومونډ چې دې ته نژدې نه وو چې په کومې وينا وپوهېږي.

(۹۲-۹۳)- دلته د ذوالقرنين بل سفر ته اشاره شوې خو لورى ئې نه دئ په ګوته شوى؛ دومره ويل شوي چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد؛ د دغو غرونو خوا ته ئې داسې قوم مونډلى چې په خبرو د پوهېدا وړتيا ئې دومره کمزورې وه چې په هيڅ وينا نه پوهېدو ته نژدې وو. په وروستيو آيتونو کې داسې اشارې مومو چې په مرسته ئې دا سيمه او ولس ئې پېژندى شو.

قَالُواْ يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ
خَرۡجًا عَلَىٰٓ أَن تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَهُمۡ سَدّٗا ﴿٩٤﴾

وئې ويل: اې ذوالقرنينه! يقيناً چې يأجوج او مأجوج په دې زمكې كې فساد خوروونكې دي؛ آيا كېدى شي چې تا ته څه خراج (ماليه) د دې لپاره دركړو چې زموږ او دوى تر منځ كوم سد او مانع جوړ كړې.

---

(٩٤)- له دې مبارك آيت څو خبرې معلومېږي:

- دا سيمه د يأجوج او مأجوج قوم ته نژدې پرته وه. دوى به د دوو غرونو له منځ راتېرېدل او د سيمې پر خلكو به ئې بريدونه كول، فساد او بې امني به ئې خوروله.
- د يأجوج او مأجوج تر بريدونو او گواښونو لاندې خلكو له ذوالقرنين غوښتې چې دا ناو بند كړي او د دې دواړو لوړو غرونو تر منځ داسې سد جوړ كړي چې د دغو بريدونو مخنيوى وكړي.
- دا ئې هم ورته ويلي چې د دې په بدل كې به موږ تا ته ماليه دركوو.
- د يأجوج او مأجوج نومونه هم بايد د يهودو په مذهبي كتابونو او تاريخي اسنادو كې ولټوو؛ ځكه دا نومونه د ذوالقرنين د قصې په ارتباط راغلي، د دوى په مذهبي كتابونو كې د دې يادونه شوې، دوى هغه قومونه د يأجوج او مأجوج په نامه ياد كړي چې د آسيا په شمال ختيځې برخو كې مېشت ول، بايبل وايي چې يأجوج او مأجوج د نوح عليه السلام د زوى يافث اولاد او هستوگنځى ئې د آسيا شمال ختيځه سيمه ده، (دې ته مو پام وي چې د قومونو د شجرو په اړه د بايبل وينا او ادعاء خوشې او بې بنسټه ادعاء ده او قرآن ئې ردوي). له دې خبرې معلومېږي چې د ذوالقرنين دا سفر د شمال په لوري وو، له تاريخي اسنادو دا هم جوتېږي چې د ققفاز په جنوب كې د دربند او داريال په نامه دوه سدونه تر سترگو كېږي چې ويل كېږي د تاتاري، منگولي، هن او سيتهين قومونو د يرغلونو د مخنيوي لپاره جوړ شوي وو.

---

قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيۡرٞ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُمۡ رَدۡمًا ﴿٩٥﴾
ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلۡحَدِيدِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيۡنَ ٱلصَّدَفَيۡنِ قَالَ ٱنفُخُواْۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ
نَارٗا قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفۡرِغۡ عَلَيۡهِ قِطۡرٗا ﴿٩٦﴾ فَمَا ٱسۡطَٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ
لَهُۥ نَقۡبٗا ﴿٩٧﴾ قَالَ هَٰذَا رَحۡمَةٞ مِّن رَّبِّيۖ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَۖ وَكَانَ وَعۡدُ

رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾

وئې ويل: زما رب چې څه زما په واك کې راکړي هغه (ډېر او) غوره دي؛ نو په افرادي قوت سره زما ملتيا وکړئ چې ستاسو او دوی تر منځ بند جوړ کړم، د اوسپني ټوټې راته راوړئ؛ تر دې چې د دواړو لوړو څوکې ئې سره (وصل او برابري کړې)؛ وئې ويل: (اور) پو کړئ؛ تر دې چې هغه ئې اور (ته ورته سرې) وگرځولې؛ وئې ويل: ما ته ويلي شوي زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم؛ نو نه په دې توانېدل چې پرې وخېژي او نه ئې په سوري کولو توانېدل. وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده؛ نو کله چې زما د رب وعده راورسي له خاورو سره به ئې برابر کړي؛ او زما د رب وعده رښتينې ده؛ او په دې ورځ به پرېږدو چې ځيني ئې د ځينو نورو ( په ليکو) کې د څپو په څېر ننوځي او په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو.

---

(٩٥-٩٩)- د دې مبارکو آيتونو مهمي لارښووني دا دي:

- ذوالقرنين په ځواب کې ورته وويل: ستاسو ماليه نه غواړم، تر دې ماليې هغه څه ډېر غوره دي چې زما رب راکړي، همدا راته کافي دي. او دا ښيي چې د ذوالقرنين فتوحات د يوه سپېڅلي مقصد لپاره وو نه د مفتوحه سيمو او قومونو د غارت او لوټلو لپاره.
- له ما سره د دې کار په بشپړولو او ترسره کولو کې د خپل وس مطابق مرسته وکړئ؛ چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ کړم؛ د اوسپني ټوټې او دړې راته راوړئ.
- دا د اوسپني ټوټې او دړې ئې د دواړو غرونو تر منځ داسي سر په سر ودرولې چې د دواړو له څوکو سره برابري شوې.
- بيا ئې د اوسپني خوا ته سکاره کښېښودل او اور ئې پرې بل کړ؛ خلکو ته ئې وويل چې اوس سکروټو ته د اړوند وسائلو په مرسته پو کړئ؛ تر هغه چې اوسپنه دومره سره شوه چې د اور په څېر شوه؛ نو خلکو ته ئې وويل: ما ته ويلي شوي زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم؛ په دې توگه د اوسپني داسي مضبوط دېوال جوړ شو چې يأجوج او مأجوج نه پرې راواوښتی شو او نه ئې سوری کولی شو.
- په دې وخت کې ذوالقرنين د خپل رب شکر اداء کړ او وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده، الله تعالی موږ ته د دې توفيق راکړ چې دا کار ترسره کړو، دا سد به تر هغه ولاړ وي چې الله تعالی ئې غواړي؛ خو کله چې زما د رب وعده راورسي مات مات او له خاورو سره به ئې برابر کړي؛ او زما د رب وعده رښتينې ده؛ هرومرو ترسره کېږي. دلته د الهي وعدې معنی يا د هغه سد د نسکورېدو نېټه ده او يا هغه نېټه ده چې الله تعالی د هر څه د مرگ او فناء کېدو لپاره ټاکلې.

دا باید واضح کړو چې د قرآن په دوو آیتونو کې د یأجوج او مأجوج یادونه شوې: یو همدا د الکهف ۹٤ آیت او بل د الانبیاء د سورې ۹٦ آیت چې له مخکیني او وروپسې آیتونو سره یو ځای داسې راغلی:

وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ۝٩٥ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ ۝٩٦ وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ۝٩٧ الانبیاء

او پر یوه داسې کلي چې موږ هلاك کړی؛ دا حرامه ده چې بېرته به نه راګرځي؛ تر هغه چې یأجوج او مأجوج پرانیستل شي او دوی به له هري لوړي راکوزېږي. او هغه رښتیني وعده رانژدې شوې ده؛ نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګي رډې رډې پاته شي چې کفر ئې کړی (وایي به) افسوس زموږ په حال؛ یقیناً چې موږ له دې غافل وو؛ بلکي ظالمان وو.

د دې آیتونو معنی دا ده چې هغه خلك به هم د الله تعالی په لور درومي چې په الهي عذاب اخته او هلاك شوي؛ دوی به هم د قیامت په ورځ بیا راژوندي کېږي، په دنیایي عذاب ئې اکتفاء نه کېږي، د الله تعالی په لوري نه ګرځېدا پرې حرامه ده. دا ثابته او نه بدلېدونکې الهي پرېکړه ده؛ دوی به هغه مهال له نورو سره یو ځای د الله تعالی په وړاندې ودرېږي چې قیامت راشي، د قیامت تر راتلو وړاندي به د یأجوج او مأجوج هغه ستره فتنه راڅرګنده شي چې د فساد او تباهي خورولو لپاره به له هري لوړي راکوزېږي. تر هغه به دوی په خپلو قبرونو کې پراته وي چې یأجوج او مأجوج بیا د فساد خورولو مجال تر لاسه کړي، دا لار یو ځل بیا ورته پرانیستل شي، هغه مهال به بیا پر نورو سیمو د دوی یرغل پیل شي، یرغل به ئې داسې وي چې له هري لوړي به راکوزېږي او بریدونه به کوي، خو دا به هغه مهال وي چې قیامت به ډېر رانژدې شوی وي او د الله تعالی په وړاندي د دوی ودرېدا به ډېر ژر ترسره شي.

ځینو له دغي فقرې (حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ: تر هغه چې یأجوج او مأجوج پرانیستل شي)؛ دا انتباه اخیستې ده چې شایي د ذوالقرنین هغه سد به د قیامت تر رانژدې کېدو پوري همداسې روغ پاته وي او د یأجوج او مأجوج د راتېرېدو مخه به نیسي؛ خو هغه مهال به نسکور شي او دوی ته به د تېرېدو او پر نورو د یرغلونو مجال په لاس ورشي. خو دا انګېرنه له یوې خوا د آیت له الفاظو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه آیت وایي چې هغه مهال به دوی له هري لوړي راکوزېږي؛ یوازي د هغه یوه بند له لوري د راکوزېدو خبره نه کوي؛ بلکي وایي چې هیڅ لوړه او بند به د دوی مخنیوی نه شي کولی. له بلې خوا دا جوته ده چې دلته د دوی د شمېر زیاتوالي ته اشاره شوې او د دومره زیاتو خلکو مخنیوی په یوه واړه بند؛ هغه هم د یوې وړې سیمي په یوه ناو او خوړ کې؛ نه ممکن دئ او نه ئې عقل مني؛ له بلې خوا دا انګېرنه له الهي سننو سره اړخ نه لګوي؛ قومونه مري، ستر ستر او مضبوط

مضبوط بندونه د وخت په تېرېدو سره شړېږي او نسکورېږي، د انسان وسائل او امکانات وده کوي، يو وخت په اوبو کې تګ، له غرونو اوښتل، په هوا کې الوتل ورته محال وو؛ خو اوس په لويو لويو بحرونو کې اوږده اوږده سفرونه کولی شي، له غرونو او بندونو تېرېدا څه چې له يوې وچې بلې ته د هوا له لارې درومي، فضاء ته سفرونه کوي او پر سپوږمۍ کوزېږي. د قرآن د يوه آيت داسې تعبير چې له واقعيتونو سره اړخ نه لګوي نه يوازې صحيح تعبير نه دئ بلکې د دې ستر او عظيم الشأن الهي کتاب په اړه بې ځايه شکونه راولاړوي. قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چې دا ټول عالم ئې پيدا کړی او له ټولو اسرارو ئې خبر دئ؛ په دې کتاب کې يوه کلمه داسې نشته چې د واقعيتونو خلاف وي او د انسان عقل ئې نه شي منلی. يأجوج او مأجوج د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، ژوند او مرګ لري، د دوی په اړه به همغه څه وايو چې په بل هر انسان ئې اطلاق کېدی شي، د قرآن له نظره دا يو مفسد قوم وو، په ځمکې کې ئې فساد او تباهي خوروله، د دوی خوا ته پراته خلك ترې تنګ ول، تل به ئې پر دوی غلچکي بريدونه کول او بېرته به تښتېدل، دوی ذو القرنين ته شکايت وکړ، هغه د دغو بريدونو د مخنيوي لپاره په يوه ناو کې داسې اوسپنيز بند او سد جوړ کړ چې د هغوی بريدونه ئې تم کړل. دا د هغه مهال يو مؤثر تدبير وو؛ د دې معنی دا نه ده چې همدا سد به تر قيامت پورې د دوی مخنيوی کوي.

د قرآن له وينا معلومېږي چې دا سد د يوه غره په خوړ کې جوړ شوی، د دې غره يوې خوا ته مېشت قوم نسبتاً متمدن قوم وو، ذوالقرنين ته د دوی دا وړانديز چې د بند جوړولو په بدل کې ماليه (خراج) درکوو همدا مفهوم افاده کوي، يأجوج او مأجوج د دې غره په شمال کې اوسېدل، خو وحشي قوم وو، د دې خوړ له لارې راتېرېدل او پر دغو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول او له تالان وروسته بېرته تښتېدل، د سد له جوړېدو وروسته د دوی دا غلچکي بريدونه متوقف شوي، له دې وروسته بريد، تالان او بېرته تښتېدا ورته ګرانه شوې، دا رأيه دقيقه نه ده چې ګواکې دوی ستر ستر بريدونه کول او دا سد د دوی د داسې بريدونو مخنيوی کړی. داسې بند د لويو پلې بريدونو مخه نه شي نيولی، لوی پلی فوځ په غرونو رااوښتی شي، که د دوی بريدونه ستر ستر وی نو دا نسبتاً متمدن قومونه به هلته نه پاتې کېدل او لا دمخه به نورو سيمو ته کډه شوي وو، هغو چې دا رأيه ئې وړاندي کړې ښايي د دې سورې د (٩٩) آيت په اړه ئې دا ګمان کړی وي چې دا د يأجوج او مأجوج په اړه دئ؛ حال دا چې دا آيت د قيامت د ورځې په اړه دئ؛ له (يومئذٍ) مراد د بند د ماتېدو ورځ نه ده؛ دا د قيامت ورځ ده، په دې ورځ به ټول خلك د بحر د څپو په څېر د محشر په لورې درومي، دا ځکه چې په (١٠٠) آيت کې همدغه د (يومئذٍ) کلمه بيا تکرار شوې او ويل شوي چې په دې ورځ به په صور کې پو شي او دوزخ به کافرانو ته وښودل شي.

د دې احتمال هم شته چې د شمال له لورې د چنګيزيانو هغه ستر ستر او ورانوونکې بريدونه د همدې آيت مصداق وي چې له چين پيل او تر مديترانې او هند پورې وغځېدل؛ په دې ټولې پراخې سيمې کې ئې دومره ويني توی کړې، دومره انسانان ئې ووژل او دومره

ښارونه ئې وسوزول چې په بشري تاریخ کې ئې نظیر نه مومو. اسلامي خلافت ئې نسکور کړ، په بلخ او بغداد کې ئې دومره تباهي وکړه چې جبران ئې محال وو. ښايي د الانبياء سورې په ۹۵- ۹٦ آيتونو کې دغه حالت ته اشاره شوې وي او دا د قرآن يوه دقيقه وړاندوينه وي چې ترسره شوه؛ او ښايي دا وړاندوينه به تر قيامت وړاندې ترسره شي؛ هغه مهال به دا قوم يو ځل بيا په همداسې ستر شرارت لاس پوري کړي.

راشئ وګورو چې په رواياتو کې د يأجوج و مأجوج په اړه څه راغلي:

د بخاري په دولسو رواياتو کې د دوی يادونه شوې، په دې کې يو روايت داسې دئ چې وايي يوه سړي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وويل: ما د يأجوج او مأجوج سد وليد، د سد مواصفات ئې ورته بيان کړل، رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: هغه دې (په خپلو سترګو) وليد؟ که دا روايت صحيح وي نو څو خبري ترې معلومېږي: ۱- د رسول الله صلی الله عليه و سلم تر زمانې دا سد په مکمله توګه موجود وو يا ئې ځيني برخي موجودي وې، ۲- دا کوم خارق العاده سد نه وو، لکه هغسې چې ځيني ګمان کوي، ۳- له عربو ډېر لري پروت نه دئ بلکې دومره نژدې دئ چې يو کس توانېدلی هلته ولاړ شي او په خپلو سترګو ئې وګوري.

همدا راز آثارو کې راغلي چې د عمر رضي الله عنه په خلافت کې او په ۲۲ هجري قمري کال؛ د آذربايجان له فتحې وروسته؛ عبد الرحمن بن ربيعة د سيمې امير يو څوك د دې سد د ليدو لپاره لېږلی وو؛ هغه دا بند ليدلی وو او عمر رضي الله عنه ته ئې په اړه معلومات ورکړی وو.

همدا راز عباسي خليفة هارون الواثق چې له ۲۲۷ تر۲۳۲ هجري قمري پوري خليفه وو؛ يو کس ئې د سلام ترجمان په نامه له ۵۰ تنو سره موظف کړ چې ولاړ شي او دا بند وګوري؛ ولاړل او بند ئې له نژدې وليدو او تفصيلي راپور ئې خليفه ته وړاندې کړ؛ ويلي وو چې عرض ئې نژدې ۲۰۰ ذراع (تقريباً ۱۲۰ متره) وو.

د بخاري يو روايت دا دئ:

۳۳٤٦ - عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ - رضى الله عنهن أَنَّ النَّبِىَّ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُولُ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يأجوج ومأجوج مِثْلُ هَذِهِ ». وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِى تَلِيهَا. قَالَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ « نَعَمْ، إِذَا كَثُرَ الْخُبْثُ ». بخاری

له زينب بنت جحش رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم زموږ ځای ته په داسې حال کې راننوت چې وېرې اخيستی وو؛ وئې ويل: لا إله إلا الله؛ افسوس د عربو په حال له هغه شر چې يقيناً رانژدې شوی؛ نن د يأجوج او مأجوج په بند کې دومره سوری جوړ شو؛ بټه ګوته او ورپسې ئې سره وصل کړې؛ زينب وايي: ما ورته وويل: يا رسول

الله! آيا په داسي حال کي به هم هلاك کېږو چي په موږ کي صالحان وي؟ وئې فرمايل: هو؛ کله چي پليتي (پليتان) زيات شي.

دا روايت چي په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۵۹۸، ۷۰۵۹، ۷۱۳۵، د سند له مخي مطلق غريب دئ او په دريو طبقو کي يو يو راوي لري. د متن له پلوه په خپلو منځونو کي څو توپيرونه لري: په يوه کي راغلي: أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا په بل کي د دې خلاف راغلي اسْتَيْقَظَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم مِنَ النَّوْمِ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ په يوه کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ وَبِالَّتِى تَلِيهَا په بل کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِى تَلِيهَا او په بل کي وَعَقَدَ تِسْعِينَ. يو روايت وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوبه راويښ شو، مخ ئې سور اوښتی وو او وئې ويل: لا إله إلا الله؛ افسوس د عربو په حال له هغه شر چي يقيناً رانژدې شوی؛ نن د يأجوج او مأجوج په بند کي دومره سوری جوړ شو؛ بټه گوته او ورپسې ئې سره وصل کړې؛ بل ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي زموږ ځای ته رانَنوت چي وېري اخيستی وو او همدا خبره ئې وکړه خو په پای کي د ابهام گوتي يادونه نه کوي او وايي يوه او ورپسې گوته ئې سره وصل کړې. په يوه بل روايت کي د دې ټولو خلاف ويل شوي: « يُفْتَحُ الرَّدْمُ رَدْمُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذِهِ». وَعَقَدَ وُهَيْبٌ تِسْعِينَ، دلته د فتحت پر ځای يفتح راغلي چي له مخکيني سره جدي تعارض لري او ښيي چي دا سد به له دې وروسته سوری شي. او په بل کي داسي راغلي « فَتَحَ اللهُ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذَا ». وَعَقَدَ بِيَدِهِ تِسْعِينَ.

که سره له دې ټولو تعارضاتو دا روايت صحيح وگڼو چي په سد کي سوری راپيدا شوی نو د دې معنی همغه ده چي ځينو درنو شارحينو کړې او دا ئې د دې فتنې د قرب او نژدېوالي په معنی اخيستې؛ نه په حقيقي معنی او په سد کي د سوري په معنی.

د بخاري بل روايت دا دئ:

١٥٩٣ - عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ رضى الله عنه عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يأجوج وَمأجوج ». تَابَعَهُ أَبَانُ وَعِمْرَانُ عَنْ قَتَادَةَ. وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ « لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لاَ يُحَجَّ الْبَيْتُ ». وَالأَوَّلُ أَكْثَرُ، سَمِعَ قَتَادَةُ عَبْدَ اللَّهِ وَعَبْدُ اللَّهِ أَبَا سَعِيدٍ.

له ابو سعيد خدري رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د يأجوج او مأجوج له راوتلو وروسته به هم حج او عمره اداء کېږي. په بل روايت کي دا پرې اضافه شوي چي قيامت تر هغه نه راځي چي د بيت الله حج کول بند شي.

د بخاري څلور نور روايات داسي دي چي د مؤمنانو په پرتله د يأجوج او مأجوج شمېر داسي ښيي لکه يو په زرو کي؛ دا روايات هم د سند له مخي مطلق غريب دي؛ په دريو طبقو کي يو يو راوي لري او په څلورمي کي دوه.

د ذوالقرنين د قصې په پای کې د ده داسي خبري راوړل شوې چي د ده دا قصه او ټوله سوره د هغوی پر محور څرخي؛ او په دې سره قريشو ته ويل شوي: ستاسو مغرور مشران په خپلي داسي مشرۍ او زور ځواك مغرور شوي چي د ذوالقرنين د پراخ ملك په پرتله د يوه واړه کلي ملکانو ته ورته دي، هغه پر خدای او آخرت ايمان درلود، د مظلومانو مرسته ئې کوله، د نېکانو مل او ملاتړی وو، شرق، غرب او شمال ته له داسي سترو سترو فوځونو سره ولاړ چي هېڅوك ئې مخې ته نه شو تم کېدی، پرديو قومونو ته ئې له بدل او اجورې پرته لوی لوی کارونه کول، خو د قريشو دا مغرور مشران بتان لمانځي، آخرت نه مني، د الله تعالی پر آيتونو ملنډې وهي، د الله پر پيغمبر استهزاء کوي، د خپل قوم پر مظلومو او بې وزلو مؤمنانو ظلمونه کوي، عملونه ئې گنده، په فساد کې تر ستوني غرق، ټول هم او غم ئې دا چي بې وزلي او مظلومان ولوټي، وېره ئې له دې چي دا ذليل او قليل اقتدار ته ئې گواښ متوجه نشي!!

د دې بحث په ترځ کې به تاسو ته واضح شوې وي چي يأجوج او مأجوج د انسانانو د يوه قوم نوم دئ، وحشي قوم وو، په غرونو کې اوسېدل، کوم ښار او مرکزي حکومت ئې نه درلود، که نه نو ذوالقرنين به حتماً هغه فتح کړی وو، پر نورو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول، د يوه سد له امله ئې دا غلچکي بريدونه متوقف شول؛ اوس که تاسو داسي وينا، رأيه او روايت واورئ چي وايي: دا کوم ځانگړی مخلوق وو، له نورو انسانانو سره ئې ډېر ژور توپيرونه ول، دومره ستر ستر او پلن پلن غوږونه ئې ول چي يو به توشك او نيالۍ شو او بل برستن، نو ستا قضاوت به د دې وينا په وړاندي يا دا وي چي دا خبره په بشپړه توگه غلطه، بې بنسټه او د قرآن خلاف ده او يا دا چي ووايې: د يوه غوږ توشك او بل غوږ برستن معنی دا نه ده چي پلن پلن غوږونه ئې ول بلکي معنی ئې دا ده چي نه ئې توشك وو او نه برستن، پر زمکه به داسي پرېوتل چي نه به ترې لاندي له خپل غوږ پرته بل څه وو او نه ئې له پاسه له خپل غوږ پرته کوم څادر او برستن.

د دې قصې په پای کې، د يوې داسي ښکلې او جامع تتمې شاهد يو چي دغه مطالب په کې ځلېږي، الله تعالی فرمايي: هغه ورځ راتلونکې ده چي خلك به له قبرونو راپاڅوو، ټول به د محشر په لوري داسي روان وي چي ځيني به د ځينو نورو په ليکو کې د څپو په څېر ننوځي، په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو. په همدې سره د ذوالقرنين دا روزونکې او لارښوونکې ښکلې قصه پای ته رسوي. او ورپسې د قيامت په ورځ د کافرانو حال بيانوي او فرمايي:

وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَٰفِرِينَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾ ٱلَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِى غِطَآءٍ عَن ذِكْرِى وَكَانُوا۟ لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾

او په دې ورځ به دوزخ کافرانو ته مخامخ وروړاندي کړو، هغو ته چي سترگي ئې زما

د پند په وړاندې پوښل شوې وې او د اورېدو وس ئې نه وو.

(۱۰۰-۱۰۱)- دلته د قيامت په ورځ د کافرانو په وړاندې د دوزخ راڅرګندېدل انځور شوي، دوزخ به دوی ته مخامخ وروړاندې کړی شي. په دنيا کې ئې پر دوزخ باور نه درلود، د دوزخ شتون ئې له امکان او احتمال لرې، بعيد او محال ګڼلو. د قيامت په ورځ به د دوی په وړاندې څرګند کړی شي؛ د دې لپاره چې وګوري په دنيا کې ئې دغه دوزخ ناشونی او محال ګڼلو، هغه مهال ئې پر سترګو د جهل، ناپوهۍ، کفر او شرک پرېږې پردې غوړېدلې وې، غوږونه ئې د حق له اورېدو عاجز ول؛ په دې ورځ به په خپلو سترګو او له نژدې دوزخ او د هغه لمبې وګوري.

أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِى مِن دُونِىٓ أَوْلِيَآءَ ۚ إِنَّآ أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ
لِلْكَٰفِرِينَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِٱلْأَخْسَرِينَ أَعْمَٰلًا ﴿١٠٣﴾ ٱلَّذِينَ ضَلَّ
سَعْيُهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ
وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُواْ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِى وَرُسُلِى هُزُوًا ﴿١٠٦﴾

آيا دغو کافر شوو داسې انګېرلې چې زما بندګان ئې اولياء (مرستيالان) نيولي (حقيقتاً ئې مرستيالان دي؟!!)، موږ دغو کافرانو ته دوزخ مېلمستون ګرځولی. ووايه: آيا پر هغو مو خبر نه کړم چې عملاً تر ټولو تاوانيان دي؟ هغه چې د دنيا په ژوند کې ئې هڅه بې لارې وه خو دوی داسې انګېرله چې ښه کار کوي. دوی همغه دي چې د خپل رب د آيتونو او له هغه سره د مخامخ کېدو په اړه ئې کفر کړی وو؛ نو عملونه ئې حبط شول. نو د قيامت په ورځ به هيڅ وزن ورنه کړو. همداسې ده؛ سزا به ئې جهنم وي؛ له دې کبله چې کفر ئې کړی وو او زما آيتونه او زما پيغمبران ئې تر استهزاء (لاندې) نيولي ول.

(۱۰۲-۱۰٦)- دلته قريشو ته خطاب متوجه دئ او ويل شوي:

- آيا دا کافر شوي چې په شرك کې غرق دي او د الله تعالی پر ځای ئې د هغه بندګان خپل اولياء او مرستيالان نيولي؛ داسې ګمان کوي چې هغوی به ئې مرسته وکړی شي؟!!.
- نه يوازې دا چې مرسته ئې نشي کولی بلکې له داسې پايلې سره به ئې مخامخ کړي چې دوزخ به ئې مېلمستون شي.
- دوی عملاً تر ټولو خلکو زيات له تاوان او زيان سره مخامخ دي؛ دا ځکه چې عملونه

ئې ناسم دي، په كړو لارو سر شوي، گناهونو احاطه كړي؛ خو سره له دې داسې انگېري چې ښه كار كوي.

• دوى د خپل رب د آيتونو او له هغه سره د مخامخ كېدو په اړه كفر كړى، له همدې كبله ئې عملونه حبط شوي، د قيامت په ورځ به نه دوى ته په درنه سترگه وكتل شي او نه به ئې عملونه څه ارزښت او وزن ولري، سزا به ئې جهنم وي؛ له دې كبله چې كفر ئې كړى وو او د الله تعالى آيتونه او د هغه پيغمبران ئې تر استهزاء لاندې نيولي ول.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبۡغُونَ عَنۡهَا حِوَلٗا ﴿١٠٨﴾

يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې كړي د دوى ميلمستون به د فردوس جنتونه وي؛ تلپاته په هغه كې داسې چې له هغه به (بل لوري ته) اوړېدا نه غواړي.

(١٠٧-١٠٨)- د بدكارو كافرانو او مشركانو په مقابل كې به د نېكانو مؤمنانو حالت داسې وي چې د فردوس په جنتونو كې به دوى د مېلمنو په توگه منل كېږي، تلپاته مېلمانه؛ داسې چې هيڅكله به ئې زړه نه غواړي له هغه ځاى بل ځاى ته ولاړ شي.

قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهِۦ مَدَدٗا ﴿١٠٩﴾

ووايه: كه سمندر زما د رب د كلماتو (د ليكلو) لپاره رنگ شي، نو سمندر به له هغه وړاندې ختم شي چې زما د رب كلمې تمامې شي؛ كه څه هم دې ته ورته (سمندرونه) د مرستې په توگه راوړو.

(١٠٩)- دلته د الله تعالى د كلمو د زياتوالي انځورولو لپاره ډېر ښكلى مثال وړاندې شوى؛ ويل شوي: كه د نړۍ ټول سمندرونه د قلم رنگ شي، د الله تعالى د كلمو په ليكلو پيل وكړي، دا رنگ به تر هغه ډېر وړاندې ختم شي چې د الله تعالى كلمې پاى ته رسي؛ كه څه هم دې ته ورته نور سمندرونه هم د دې خواته كښېږدو او د قلم د رنگ په توگه ئې وكاروو!! په دې اړه څو خبرې په پام كې ولرئ:

• دا مطلب د قرآن په بل آيت كې هم راغلى؛ دلته يا د دې لپاره راغلى چې د هغو خلكو پوښتنه ځواب كړي چې وايي: قرآن ولې د دغو سترو سترو قصو په اړه په څو آيتونو اكتفاء كړې او د قصو د ټولو برخو په اړه ئې تفصيلي بحث نه دئ كړى!! د دوى په ځواب كې ويل شوي: د دې اجمالي بحث وجه دا نه ده چې د الله تعالى كلمې لږ دي؛ وجه ئې دا ده چې

الله تعالی همدومره کافي او شافي بولي.

• او یا د قرآن دا وینا د مسیحیانو په ځواب کې راغلې چې وایي: عیسی د خدای کلمه ده، کلمه د خدای صفت دئ؛ او صفت له خدای بېل نه دئ، نو عیسی خدای دئ!! د دې سورې له څلورم آیت داسې معلومېږي چې دا د مسیحیانو په ځواب کې راغلې؛ ځکه په څلورم آیت کې ویل شوي: او هغه وګړي ووېروي چې وایي: الله زوی نیولی. قرآن دلته هم او په بل ځای کې هم د دوی په ځواب کې وایي: د خدای کلمه یوه نه بلکې دومره دي چې که بحر مداد (د قلم رنګ) شي، د زمکې د سر ټولې ونې قلمونه شي؛ اُوه بحرونه نور ورسره یو ځای شي او د الله تعالی کلمې ولیکي؛ نو رنګ به خلاص شي خو د خدای کلمې به لا پاته وي!! حقیقت دا دئ چې د دې عالَم هر شیء د الله تعالی د یوې کلمې مظهر دئ، د الله تعالی د (کن) په امر سره راپیدا شوی!! مسیحیان هسې د الفاظو په چکر کې لوېدلي، یوازې عیسی د خدای کلمه ګڼي او کلمه یوه. په دې هم نه پوهېږي چې کلمه شيء نه دئ او په کلام سره له متکلم کوم شيء نه بېلیږي، کلمه مستقل وجود نه لري، داسې نه چې عیسی علیه السلام یا د عالَم دا ټول مخلوقات د الله تعالی له ذات رابېل شوي؛ بلکې دا هر څه د الله تعالی په یوه فرمان (کلمې) له نشت او عدم پیدا شوي. بایبل د یوحنا د لیکونو تر عنوان لاندې د ده له قول لیکي: د خدای حیات بخښونکې (کلمه) په ابتداء کې موجوده وه، ما په خپلو سترګو لیدلې او د ده خبرې مې اورېدلې او په خپل لاس مې لمس کړې، دا کلمه د خدای له لورې راغله او موږ ته ئې ځان راڅرګند کړ او موږ شهادت ورکوو چې هغه مو لیدلی. یعنې عیسی مسیح مو لیدلی، هغه تلپاتې ژوندی دئ، هغه له پلار سره وو، خو وروسته ئې ځان موږ ته راڅرګند کړ!!!

دا د یوحنا د لیك خلاصه ده چې څو خبرې ئې د غور وړ دي:

• مسیح د خدای کلمه ګڼي او وایي چې په ابتداء یعنې ازل کې وه؛ خو ورپسې مغالطه کوي او داسې ښیي چې ګواکې ده دا کلمه په ازل کې لېدلې؛ حال دا چې که دا لیکونکی واقعاً یوحنا د عیسی علیه السلام شاګرد وي نو ده خو عیسی علیه السلام په خپلو سترګو لیدلی او خبرې ئې اورېدلې، نه هغه کلمه چې د عیسی بڼه ئې غوره کړه!! دې ته مو پام وي چې دا هغه یوحنا نه دئ بلکې د اسکندریې د مدرسې یو شاګرد دئ

• دا هم یوه مغالطه ده چې عیسی علیه السلام ته په دې خاطر د کلمې لفظ کاروي چې ثابته کړي دی په ازل کې له پلار سره یو ځای وو او تلپاته ژوندی دئ یعنې ازلي او ابدي دئ!! عیسی علیه السلام ته د کلمې لفظ په دې خاطر نه دئ کارول شوی چې هغه د انسان په بڼې کې د خدای کلمه ده او یا د خدای له ذات بېل شوی. دا غلطه خبره چې څوك کوي هغه باید د ټولو مخلوقاتو په باره کې همدا خبره وکړي. نور مخلوقات هم د الله تعالی په امر او یوې کلمې سره پیدا شوي، په کلمې سره د دوی پیدایښت په دې معنی نه دئ چې ټول د الله تعالی له ذات رابېل شوي او په ازل کې وو!! د عیسی علیه السلام په اړه دا خبره کول همدومره غلطه ده لکه د نورو مخلوقاتو په اړه. دا خبره یا ماتریالستان کوي یا هغه

چې په وحدت الوجود باور لري او ټول مخلوقات د خدای له ذات او ازلي او ابدي ګڼي. تاسو په خپله منئ چې عیسی علیه السلام له خپلې مور مریمې پیدا شوی، ماشوم وو ورو ورو ستر شوی او د انسان ټولې ځانګړتیاوې ئې درلودې!! عقل حکم کوي چې په څه کې بدلون راځي او له یوه حالت بل ته اوړي؛ هغه نه ازلي کېدی شي او نه ابدي، حتماً پیل او پای لري. ډېر کم عقل انسان به بدلېدونکي شي ته د ازلي او ابدي ذات په سترګه ګوري. د تفصیل لپاره ئې بایبل د قرآن په رڼا کې کتاب ته مراجعه وکړئ.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَـٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴿١١٠﴾

ووایه: یقیناً چې زه فقط ستاسو په څېر یو بشر یم، دا وحي راته کېږي چې ستاسو معبود یوازینی معبود دئ. نو څوک چې د خپل رب د ملاقات هیله او طمع لري نو نېك عمل دې وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هیڅوك نه شریکوي.

(١١٠)- په دې مبارك آیت کې چې د سورې وروستی آیت او د سورې د ټولو مضامینو لپاره ډېره جامع او ښکلې تتمه ده؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د څو خبرو کولو سپارښتنه شوې:

- ووایه: یقیناً چې زه ستاسو په څېر یو بشر یم.
- دا وحي راته کېږي چې ستاسو معبود یوازینی معبود دئ.
- څوك چې د خپل رب د ملاقات هیله او طمع لري نو نېك عمل دې وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هیڅوك نه شریکوي.

او تاسو ولیدل چې د سورې له سر تر پایه همدغه اساسي مضامین څېړل شوي، د هر مبحث خلاصه ئې همدا وه، د هرې قصې موخه ئې همدا وه او د هرې قصې په پای کې دغه ځلانده لارښووني د نتیجې په توګه زموږ په وړاندې ځلېدې.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# مریم

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم مریم دئ چې د شپاړسم آیت له دې فقرې اخیستل شوی: وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ١٦، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ. اته نوي آیتونه لري. له دوهم آیت تر دري دېرشم آیت پورې د ټولو آیتونو فواصل ئې سره ورته او د (زکریا) او (خفیا) په څېر دي، له څلور دېرشم تر څلوېښتم پورې ځیني (یمترون) او ځیني (مستقیم) ته ورته دي، له څلوېښتم تر څلور اویایم پورې بېرته د لومړنیو په څېر شوي؛ او په پای کې له پنځه اویایم تر اته نوي یم پورې (ولداً) ته ورته دي. د روایاتو له مخې معلومېږي چې دا سوره د حبشې له هجرت وړاندې نازله شوې وه او جعفر رضی الله عنه د نجاشي په وړاندې دغه سوره تلاوت کړې وه.

دا سوره په پنځو مقطعاتو حروفو پیل شوې، د سورې محوري او اساسي مضامین هم پنځه دي چې خلاصه ئې د سورې د پای پنځو آیتونو کې په دې توګه راغلي:

- د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی په وړاندې داسې دي لکه بنده او مریي.
- الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي او هر یو به د قیامت په ورځ یوازې ورشي.
- هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته په زړونو کې مینه او دوستي پیدا کړي.
- د الله تعالی هغه کتاب چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی متقیانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي او سرټمبه وګړو ته د بدو پایلو خبرداری.
- د دغو لجوجو دښمنانو او مخالفینو عاقبت به همغسې وي لکه د دوی د اسلافو. نه ګورې چې الله تعالی څومره پېړۍ پېړۍ خلك تر دوی وړاندې هلاك کړل؟ آیا د دوی د کوم یوه څه نښه احساس کوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې؟

د همدې اساسي مضامینو لپاره د پیغمبرانو علیهم السلام څو قصې پر له پسې او د دغو مضامینو د تاریخي بېلګو په توګه راوړل شوې دي او په هرې قصې کې دغه اساسي مضامین انځور شوي.

په لومړۍ قصې کې د زکریا علیه السلام هغه حالت بیان شوی چې زړښت ته رسېدلی، د خپل ولس د راتلونکې په اړه مشوش دئ، داسې څوك په نظر نه ورځي چې له ده وروسته

د ولس سمه لارښوونه وکړي، د يوه صالح وارث هيله کوي، الله تعالی ته په ټيټ ږغ دعاء کوي، دعاء ئې قبلېږي او د صالح زوی زېږی ورکول کېږي. په دې قصې کې له يوې خوا موږ ته دا لارښوونه شوې چې د الله تعالی مقرب بندګان تر نورو زيات خپل رب ته ځان محتاج ګڼي او د خپلو هيلو تر سره کېدو لپاره هغه ته د دعاء لاسونه لوړوي او مرسته ترې غواړي. نه هغسي لکه چې مشرکين ګمان کوي او د الله تعالی مقرب بندګان د دعاءګانو د منل کېدو او د حاجتونو د تر سره کېدو مرجع بولي. له بلې خوا راته وايي چې له الله تعالی پرته هيڅوك له غيبو خبر نه دئ، د زکريا عليه السلام په څېر ستر شخصيت نه پوهېدو چې زوی به ئې په برخه شي، نه پوهېدو چې څنګه او کله به ئې په برخه شي!!

په دوهمې قصې کې دغه مطالب د مريمې رضی الله عنها په قصې او د عيسی عليه السلام د پيدايښت په قصې کې زموږ په وړاندې انځوروي او راته وايي: مريمې ته د فرشتو له لارې د زوی زېږی ورکړی شوی، په دې زېري حيرانه شوې، نه پوهېده چې څنګه به يوه پاك لمنه پېغله زوی زېږوي، ولې الله تعالی غواړي په خارق العاده توګه دې ته زوی ورکړي، کله به ئې دا زوی په برخه کېږي، د خلکو د تورونو په ځواب کې به څه وايي، پرېشانه شوې، دومره چې د مرګ هيله ئې کړې!! بيا د عيسی عليه السلام هغه وينا رااخلي چې له پيدايښت لږ وروسته او هغه مهال ئې خلکو ته کړې چې د مور په غېږ کې وو، لومړۍ خبره ئې دا چې زه د الله بنده يم!! او وروستۍ خبره ئې دا چې: الله تعالی هم زما رب دئ او هم ستاسو رب، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ؛ همدا مستقيمه لار ده.

ورپسې د ابراهيم عليه السلام قصه زموږ مخې ته ږدي او د سورې همدا اساسي مضامين په کې تمثيلوي. بيا د اسحاق، يعقوب، موسی، هارون، اسمعيل؛ او ادريس عليهم السلام يادونه شوې او همدا لړۍ د سورې تر پای پورې غزېدلې او په پنځو آخري آيتونو کې دغه مطالب بيا په إيجاز او اختصار سره راغلي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كٓهيعٓصٓ ١ ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهُۥ زَكَرِيَّآ ٢ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ٣
قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ ٱلۡعَظۡمُ مِنِّي وَٱشۡتَعَلَ ٱلرَّأۡسُ شَيۡبٗا وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ
شَقِيّٗا ٤ وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن
لَّدُنكَ وَلِيّٗا ٥ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا ٦

کاف، هاء، ياء، عين، صاد. ستا د رب د پېرزوينې يادونه ده پر خپل بنده زکريا؛ هغه

مهال چې خپل رب ته ئې په ټیټ غږ سره غږ کړ، وئې ویل: اې زما ربه! هډوکي مې سست شول، سر مې له زړښت وځلېدو؛ او اې زما ربه! تا ته په دعاء کې بې بخت نه وم؛ او یقیناً چې زه له ځان وروسته د خپلو ورثه وو (پر حال) ووېرېدم؛ او مېرمن مې شنډه ده؛ نو ما ته له خپل لوري یو داسې وارث را په برخه کړه چې زما وارث هم شي او د یعقوب د ټبر وارث هم. او زما ربه! د رضایت وړ ئې کړه.

---

(۱-٦)- د دې مبارکو آیتونو په اړه دا خبري په پام کې ولرئ:

لکه څنگه چې دا مبارکه سوره په پنځو مقطعاتو حروفو (کاف، هاء، یاء، عین، صاد) پیل شوې؛ د دې سوره محوري او اساسي مضامین هم پنځه دي چې د سورې په آخري پنځو آیتونو کې په دې توگه راغلې:

۱- څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي له دې پرته بل څه نه دي چې رحمن رب ته د بنده په توگه وړاندي کېږي؛ او یقیناً چې پر ټولو ئې احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي.

۲- او هر یو به د قیامت په ورځ یوازي یوازي ورشي.

۳- یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته (په زړونو کې) مینه او دوستي پیدا کړي.

٤- نو هغه مو ستا پر ژبه آسان کړ چې متقیانو ته زېری پرې ورکړې او سرټمبه وگړو ته خبرداری ورکړې.

٥- او څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دوی وړاندي هلاك کړل؛ آیا د دوی د کوم یوه (څه نښه) احساسوې او کوم گونگسی او زگېروی ئې اورې.

دغه مطالب لومړی د زکریا علیه السلام د قصې په ترځ کې، بیا د مریمې علیها السلام په قصې کې او بیا د ابراهیم علیه السلام په قصې کې او وروسته په نورو قصو او تاریخي بېلگو کې راغلي. په لومړي سر کې د زکریا علیه السلام په اړه د الله تعالی د یوې پېرزوینې یادونه شوې؛ هغه مهال چې خپل رب ته ئې په ټیټ غږ دعاء وکړه او د یوه صالح وارث درلودو هیله ئې وکړه. په دې سره قرآن مؤمنانو ته دوه ستري ستري لارښووني کوي: ۱- د زکریا علیه السلام په څېر د الله تعالی یو مقرب بنده او یو پیغمبر خپل حاجتونه الله تعالی ته وړاندي کوي او د هغه په درشل کې ئې د تر سره کېدو هیله او دعاء کوي. عجیبه ده چې څوك له الله تعالی پرته بل ته لاس اوږدوي او د الله تعالی مقرب بندگان د حاجتونو تر سره کولو مرجع بولي او مرسته ترې غواړي. ۲- ستاسو دعاء باید د الله تعالی په وړاندي او په ټیټ غږ سره وي؛ همدا د دعاء ادب دئ.

زکريا عليه السلام د خپل رب په وړاندې خپله بې وسي او بې کسي په داسې الفاظو سره بيانوي چې د عجز، ناتوانۍ او نيازمنۍ انتهاء انځوروي. وئې ويل: اې زما ربه! هډوکي مې سست شول، سر مې له زړښت او د وېښتانو له سپين والي وځلېد؛ او زما ربه! تا ته په دعاء کې بې بخت نه وم!! دا ښکلي او زړه راښکونکي الفاظ ښيي چې: ۱- هر څومره چې يو انسان خپل رب ته ورنژدې وي او ښه ئې پېژني همدومره د هغه په وړاندې د ده دعاء مؤدبانه، له عجز او انکسار سره توأم او د احتياج له ژور احساس راولاړه شوې وي. ۲- زکريا عليه السلام د اولاد هيله په داسې عمر کې کوي چې له ډېر زړښته ئې هډوکي سست شوي، د سر وېښتان ئې تك سپين شوي. ۳- وايي: زما ربه! تر دې دمخه دې تل زما دعاءګاني قبولې کړې دي، زما دعاء دې پر زمکه نه ده غورزولې او زما لاس دې تش نه دئ پرېښی. او دا ښيي چې له بشپړ اعتماد او ډاډ سره ئې دعاء کړې؛ او په دې سره موږ ته لارښوونه شوې چې خپل رب ته د دعاء پر مهال له هيلې سره دعاء کوئ او ډاډه اوسئ چې الله تعالی ستاسو دعاء قبلوي.

زکريا عليه السلام د خپل ټبر او قوم راتلونکې پرېشان کړی، داسې څوك په نظر نه ورځي چې له ده وروسته د ولس صحيح لارښوونه وکړي، له دې وېره لري چې د ولس زعامت د ناصالح مشرانو په لاس کې پرېوځي، خپله اندېښنه په دغو الفاظو د الله تعالی په وړاندې ږدي: زه له ځان وروسته د خپلو ورثه وو پر حال ووېرېدم، مېرمن مې شنډه ده، نو ما ته له خپل لوري يو داسې وارث را په برخه کړه چې زما وارث هم شي او د يعقوب د ټبر وارث هم. او زما ربه! د رضايت وړ ئې کړه. د داسې وارث هيله کوي چې: هم د ده د خپل ټبر ښه وارث وي او هم د يعقوب عليه السلام د ټولو اولادونو، صالح وي او خدای او خلك ترې راضي وي. زکريا عليه السلام د يعقوب عليه السلام د اولاد له هغې پښې وو چې لاويان نومېدل او د بايبل د وينا له مخې "د معبد ساتنه او پالنه د دوی دنده وه، ځان ته جامه ئې درلوده او د معبد په نامه قرباني، شکرانې او نذرانې به دوی ته سپارل کېدې. دوی د هارون عليه السلام اولاده بولي". د قرآن له دې وينا معلومېږي چې زکريا عليه السلام له دغسې يوه حالته وېرېدو چې بايبل انځور کړی، بايبل دغه حالت ته مشروع مذهبي رنګ ورکوي؛ حال دا چې پيغمبران عليهم السلام او د دوی دعوت په بشپړه توګه د دې مخالف دي. نه پيغمبران عليهم السلام دا غواړي او نه دين دا خوښوي چې مذهب د کومې فرقې په دکان بدل شي او د ولس صدقات او قربانۍ د مسکينانو پر ځای دوی ته ورکړی شي! بايبل ليکي: "لاويان د موسی عليه السلام قبيله ده، د بني اسرائيلو نورو قبيلو دوی د موسی عليه السلام د ځای ناستو په توګه منلي او د مذهبي مشرتابه دنده ئې د دوی موروثي حق ګڼلی"!! او تاسو پوهېږئ چې دا هغه څه دي چې ټول جاهل قومونه ئې له خپلو سياسي، مذهبي او اجتماعي مشرانو سره کوي، هم د پاچا او ملك زوی د ده ځای ناستی ګڼي، هم د قائد زوی او هم د پير زوی. ځای ناستی ئې د خپل پلار مقام او منزلت د اهليت او خپلو وړتياوو له مخې نه بلکې د وراثت له مخې تر لاسه کوي، نه يوازې کورنۍ ئې د امتيازاتو مستحق ګڼي بلکې قبيله ئې هم د امتيازاتو وړ او تر نورو لوړه ګڼي، که بني اسرائيلو دا د مذهبي مشرتابه

امتياز لاويانو او د هارون عليه السلام اولاد ته ورکړ، په مسلمانانو کې يوې مذهبي فرقې دا امتياز ساداتو او د علي رضي الله عنه اولاد ته ورکړ. هغوی وايي: کاهن بايد د لاويانو له قبيلې وي او دوی وايي مذهبي مرجع بايد له ساداتو وي او امام د علي رضي الله عنه له اولاد. هغوی هم خپلو مذهبي مشرانو ته ځانګړې جامه جوړه کړه چې له نورو توپير لري او دوی هم، هغوی هم صدقې لاويانو ته ورکوي او دوی ئې هم خپلو مراجعو ته!! دا په داسي حال کې چې د پيغمبر عليه السلام له رحلت وروسته د ده په لاس روزل شوو صحابه وو د ده د خپلوانو پر ځای د ده يو ډېر خوړ او نژدې ملګری؛ ابوبکر رضي الله عنه غوره کړ او د ابوبکر رضي الله عنه له وفات وروسته ئې د ده د زوی يا نورو خپلوانو پر ځای د پيغمبر عليه السلام يو بل نژدې ملګری عمر رضي الله عنه انتخاب کړ او په دې توګه ئې وښوده چې د اسلام له نظره نه امارت او قيادت موروثي توکی دئ او نه داسي سپېڅلې او تر نورو غوره قبيله مني چې مذهبي مقام به د دوی تر منځ له پلار زوی ته په ميراث رسي، د قيادت انتخاب ئې د خلکو دنده وګڼله او معنوي مقام ئې د انسان په عقيدې او عمل پوري مربوط وګاڼو او دې جاهلانه او ظالمانه دود دستور ته ئې لته ورکړه چې سياسي، مذهبي او معنوي مقام په موروثي توګه له يوه بل ته انتقال شي او يوه قبيله په دې دليل تر نورو غوره او سپېڅلې وګنل شي چې لومړی قايد او زعيم په دوی کې راولاړ شوی!! پيغمبر عليه السلام پر خپلې کورنۍ د صدقاتو او زکات اخيستل هم منع کړل او دا ئې د دوی لپاره حرام وګڼل او په دې توګه ئې په مسلمانانو کې د لاويانو په څېر د يوې ستانې قبيلې د پيدا کېدو مخه ونيوله!!

بايبل د لاويانو په نامه يو مستقل باب او کتاب پرانيستی چې د دې کتاب لومړۍ برخه د قربانۍ څرنګوالي ته ځانګړې شوې؛ په سر کې د سوزېدونکې قربانۍ په اړه بحث کوي او وايي چې د قربانۍ د څاروي کومې برخې بايد وسوزول شي، کومې ئې کاهن ته ورکړی شي، ويني ئې څنګه د قربانۍ د ځای په ستنو وشيندل شي، د دې بحث مطالب څو ځلي په بايبل کې تکرار شوي، د بايبل ليکونکي ته دا بحث ډېر په زړه پوري او مهم دئ، په دوه درې ځلي ئې زړه نه سړېږي. ورپسې د اوړو قرباني څېړي او ليکي چې د غلو دانو کومې برخې به خومره خومره او په څه بڼې کې کاهن ته ورکوئ، بيا د سلامتۍ قرباني، د ګناه قرباني او د جبران قرباني څېړي، د جبران قرباني هغې قرباني ته وايي چې د اشتباهاتو په عوض کې بايد وړاندې شي، د ټولو قربانيو يوه برخه سوزول کېږي او همدا د خدای برخه ګڼي. خو دا برخه وازګي، کولمې او دې ته ورته برخې دي، خو خوندوره برخه ئې چې سينه او ورنونه دي؛ دا د کاهن برخه ده او هغه ته به سپارل کېږي!! او کاهن به د دې په مقابل کې د خدای په وړاندې د ده شفاعت کوي او ګناه به ئې بخښل کېږي!! ورپسې د دغو قربانيو عجيب عجيب مقررات بيانوي، د دې بحث ټولې خبرې هومره خوشې او د خندا وړ دي چې که د لوستونکو د بې ځايه سرخوږي وېره راسره نه وی نو ما به له نقد پرته ټولې رانقل کړې وې.

يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسۡمُهُۥ يَحۡيَىٰ لَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ مِن قَبۡلُ سَمِيّٗا ﴿٧﴾ قَالَ رَبِّ
أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا وَقَدۡ بَلَغۡتُ مِنَ ٱلۡكِبَرِ عِتِيّٗا ﴿٨﴾ قَالَ
كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٞ وَقَدۡ خَلَقۡتُكَ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ تَكُ شَيۡـٔٗا ﴿٩﴾ قَالَ
رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ ءَايَةٗۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٖ سَوِيّٗا ﴿١٠﴾

اې زكريا! يقيناً چې موږ د يوه داسي بچي زېرى دركوو چې نوم به ئې يحيى وي؛ چې تر دې وړاندي مو ده ته همنومى نه دئ گرځولى. وئې ويل: اې زما ربه! څنگه به مي بچى په برخه كېږي حال دا چې مېرمن مي شنډه ده او زه د زړښت له وروستي پړاوه اوښتى يم. وئې ويل: همداسي به وي؛ ستا رب ويلي چې دا راته آسان (كار) دئ؛ او يقيناً چې ته مي تر دې وړاندي داسي پيدا كړې چې هيڅ څه نه وې. وئې ويل: زما ربه! يوه نښه (ئې) راته وټاكه، وئې ويل: نښه دي دا ده چې (هغه مهال به) بشپړي درې شپې له خلكو سره خبري نشې كولى.

(۷-۱۰)- د دې مباركو آيتونو د لارښوونو په اړه دا خبري په پام كي ولرئ:

- الله تعالى د زكريا عليه السلام دعاء قبوله كړه، د آل عمران د سورې په ۳۹ آيت كي راغلي چې د فرشتې له لاري په داسي حال كي د زوى زېرى وركړى شو چې په معبد كي په لمانځه بوخت وو. دلته د فرشتو له يادولو پرته ويل شوي چې موږ د يوه داسي بچي زېرى دركوو چې نوم به ئې يحيى وي؛ چې تر دې وړاندي مو ده ته همنومى نه دئ گرځولى. يعني تر دې وړاندي هيڅوك په دې نامه نه دئ نومول شوى.
- زكريا عليه السلام ته دا زېرى عجيب معلوم شو؛ او وئې ويل: اې زما ربه! څنگه به مي بچى په برخه كېږي حال دا چې مېرمن مي شنډه ده او زه د زړښت له وروستي پړاوه اوښتى يم. داسي معلومېږي چې زكريا عليه السلام د زوى طمع نه لرله، بلكي د يوه صالح وارث درلودو هيله ئې كړې وه، د زوى د زېري په اورېدو سره حيران شوى، نه پوهېدو چې دا زيرى به څنگه تر سره كېږي. كه څه هم د آل عمران د سورې په ۳۸ آيت كي راغلي چې زكريا عليه السلام د نېك او پاك اولاد هيله او غوښتنه وكړه:

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾

او دا هيله هغه مهال د ده په زړه كي راولاړه شوه چې وئې ليدل مريمي عليها السلام ته بې موسمه مېوې راځي؛ خو دا چې آيا دا هيله د زوى درلودو هيله وه او كه په خپل ټبر او كورنۍ كي د مريمي په څېر د صالح اولاد او ذريه هيله!! د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چې ده د پاك زړو ذريه طمع كړې، خو الله تعالى د زوى زېرى وركړى او دې زېري حيران

کړی.

الله تعالی وفرمایل: همداسې به وي، ته به د زوی خاوند شې، دا زېری به تر سره شي، فرشتې ورته ويلې: ستا رب وايي چې دا کار راته آسان دئ، آيا ته مې تر دې وړاندې په داسې حال کې پيدا نه کړې چې هيڅ څه نه وې. وئې ويل: زما ربه! يوه نښه (ئې) راته وټاکه. وئې ويل: نښه دې دا ده چې (هغه مهال به) بشپړې درې شپې (او ورځې) له خلکو سره خبرې نشې کولی. قرآن په دې سره موږ ته وايي: زکريا عليه السلام نه يوازې له غيب خبر نه وو بلکې د غيب په اړه د ده حالت داسې وو چې د الله تعالی له لورې د زوی زېری ورکړی شوی خو دی نه پوهېږي چې دا زوی به ئې کله په برخه شي!! د يوې داسې نښې غوښتنه کوي چې د زوی د زېږېدو له نېټې ئې خبر کړي!! الله تعالی ورته وايي: هغه مهال به درې شپې ورځې له خلکو سره خبرې نشې کولی!! قرآن په ورپسې آيت کې وايي چې هغه مهال ده له خلکو سره په اشارو خبرې کولې!!

يحيی عليه السلام د عيسی عليه السلام همزولی او تر ده لږ مشر وو، په ځوانۍ کې پر پيغمبرۍ مبعوث شوی وو، نصاری هغه ته په ډېره درنه سترګه ګوري، د بايبل دوه انجيلونه په دې عنوان پيل شوي: د يحيی پيغمبر ظهور؛ هم د مَرقُس انجيل له دغه ځای پيل شوی؛ او هم د مَتِی انجيل، د مَتِی انجيل دا موضوع او الفاظ ئې له مَرقُس اقتباس کړي او تر دې سرليك لاندې ليکي: ... يحيی چې په (تعميد ورکوونکي) مشهور شوی وو، د يهودا په بېديا کې ئې خپل رسالت پيل کړ... ده به د اوښ له وړيو جوړه شوې جامه اغوسته او د څرمنې ملابند به ئې تاړو، خوراك ئې صحرايي شات او ملخان وو، ... خلك به ورته راتلل، د ده موعظو ته به ئې غوږ نيولو، په خپلو ګناهونو به ئې اعتراف کاوو او د ده په لاس به ئې د تعميد غسل په برخه کېدو، ... خلکو ته به ئې ويل: زه هغو خلکو ته چې توبه وکړي په اوبو سره تعميد ورکوم؛ خو داسې څوك به راشي چې تر ما به ئې مقام ډېر لوړ وي، هومره چې زه به د ده پښو ته دکېپو ايښودو وړتيا هم نه لرم، هغه به تاسو ته په روح القدس او الهي اور سره تعميد درکوي، هغه به پروړه له غنمو بېله کړي او په تلپاته اور کې به ئې وسوزوي، خو غنم به په ګودام کې غونډ کړي!! ... په دې وخت کې عيسی هم د تعميد لپاره يحيی ته راغی... مرقس دا نه وايي چې يحيی ورته وويل: دا مناسب کار نه دئ، زه بايد ستا په لاس تعميد شم، خو متی دا خبرې له ځانه اضافه کړې دي، همدا راز متی وايي: کله چې عيسی له اوبو راوتو نو يحيی يوه کوتره وليده چې له آسمان راکوزه شوه او د عيسی پر سر کښېنسته او له آسمان يو غږ واورېدی شو چې (دا زما ګران زوی دئ چې ترې راضي يم) خو مرقس وايي چې عيسی په خپله دا کوتره وليده او دا غږ ئې واورېدو.

په دې اړه څو وضاحتونه ضروري برېښي:

- بايبل د خپلو نورو انبياءو په څېر يحيی عليه السلام هم داسې معرفي کړی چې د اردن سيند شاوخوا په کومې صحرا کې له خلکو لرې اوسېدو. خو د قرآن د وينا له مخې معلومېږي چې د ده محترم والد زکريا عليه السلام په يوه معبد کې مدرس او استاد وو او د مريمې عليها

السلام روزنه او تربيت د ده په لاس تر سره شوې!

- قرآن د بايبل دا خبره تصحيح کړې چې وايي يحيى له آسمان دا غږ واورېدو چې (دا زما گران زوی دئ چې ترې راضي يم)؛ وايي دا د زکريا عليه السلام دعاء وه چې د خپل وارث په اړه ئې کړې وه او ويلي ئې وو: زما ربه! د رضايت وړ ئې کړې.

قرآن د بايبل ادعاء ردوي او وايي: عيسى عليه السلام او يحيى عليه السلام همزولي وو، په يو ځای کې اوسېدل، د قرآن د وينا له مخي ده په عيسى عليه السلام ايمان راوړی، د ده په لاس د عيسى عليه السلام تعميد حقيقت نه لري.

بايبل څو صفحې وروسته ليکي چې يحيى له زندان دوه سړي عيسى ته ولېږل چې ترې وپوښتي: آيا په رښتيا ته همغه موعود مسيح يې؟ پوښتنه دا ده چې ته خو دلته ادعاء کوې چې يحيى دی وپېژندو، نه ئې غوښتل دی تعميد کړي، يوه کوتره ئې هم وليده چې له آسمان راکوزه شوه، د عيسى پر سر کښېنسته، آسماني غږ ئې هم واورېدو چې دا زما همغه گران زوی دئ، نو بيا ئې له زندان دوه سړي د څه لپاره ورلېږل؟! متأسفانه سره له دې چې بايبل له داسي تناقضاتو ډك دئ خو مسيحيان ئې د سپېڅلي کتاب په توگه مني!!

د بايبل دا الفاظ ډېر کچه او بې معنى دي چې عيسى عليه السلام به په روح القدس او اور خلکو ته تعميد ورکوي!! د تعميد مفکوره له الهي اديانو سره قطعاً اړخ نه لگوي، پيغمبران عليهم السلام په اوبو کې د چا په منډلو سره هغه له گناه نه پاکوي؛ بلکې هغه ته وايي: توبه وکړه، له گناهونو لاس واخله او خپل رب ته مخه کړه.

بايبل دا ټوله جعلي قصه د دې لپاره جوړه کړه چې يوه بې بنسټه وړاندوينه رښتينې او د عيسى عليه السلام په اړه ثابته کړي؛ وړاندوينه دا ده: اشعيا نبي څو سوه کاله مخکې ويلي وو: له بېديا يو غږ اورم چې وايي: د خدای لپاره لار پرانيزئ او لار ورته آواره کړئ.

بايبل په بل ځای کې ليکي: "بيا عيسى د يحيى په اړه خلکو ته وويل: د يحيى شأن تر يوه پيغمبر هم لوړ دئ، تر ده په نړۍ کې ستر شخص نه دئ پيدا شوی، که رښتيا خبره منئ نو يحيى همغه الياس پيغمبر دئ چې آسماني کتاب ئې د راتلو زېری ورکوي!! خپل غوږونه خلاص کړئ او په غور سره واورئ چې څه درته وايم!!"، يحيى عليه السلام ته منسوب دا خبره هم د بايبل له مخکينيو خبرو سره تعارض لري او هم ئې قرآن ترديدوي، بايبل مخکې ليکلي وو چې يحيى عيسى ته د تعميد ورکولو په جريان کې دی وپېژندو، د ده په اړه ئې آسماني غږ واورېدو چې ويل ئې: دا زما هغه زوی دئ چې ترې راضي يم. او قرآن وايي چې يحيى عليه السلام له لومړۍ ورځي د عيسى عليه السلام مصدق او موئيد وو.

دوهمه خبره ئې چې وايي يحيى همغه الياس دئ چې سپېڅلي کتاب ئې وړاندوينه کړې؛ هم له بايبل سره تعارض لري او هم له قرآن سره. بايبل الياس عليه السلام هغه نبي گڼي چې تر عيسى عليه السلام څو پېړۍ مخکې تېر شوی او قرآن ئې هم بېل پيغمبر بولي.

بايبل تر دې عنوان لاندې (د هېروديس مضطرب وجدان) ليکي: هېروديس د خپلې مېرمنې هېروديا د ټينگار په سبب يحيى زنداني کړ، دا ځکه چې يحيى ورته ويلي وو: د خپل

ورور کونډه هیرودیا په نکاح کول ګناه او غلطي ده. مرقس وايي هیرودیس یحیی ته احترام درلود او د یحیی په اړه ئې د خپلې مېرمنې غوښتنه نه منله، خو متی لیکلي: هیرودیس هم غوښتل چې یحیی ووژنی خو د خلکو له شورش او بغاوت وېرېدو، خو د ده د کلیزې په جشن کې د هیرودیا لور داسې رقص وکړ چې د هیرودیس ډېر خوښ شو او لوړه ئې وکړه چې هر څه وغواړي ورته ئې کړي... دې د خپلې مور په وینا ورته وویل: د یحیی سر په یوه پطنوس کې غواړم... پاچا مجبور شو د هغې غوښتنه ئې تر سره او د یحیی د وژلو امر ئې وکړ او سر ئې په پطنوس کې ورته راوړ!! د یحیی شاګردان راغلل، د هغه جسد ئې تر لاسه او دفن کړ او بیا عیسی ته راغلل او له پېښې ئې خبر کړ، کله چې عیسی له پېښې خبر شو، په کشتۍ کې کښېناست او یوازې په نامعلوم لوري وخوځېدو!!

په دې وینا کې څو داسې اعترافات ګورو چې د بایبل ډېرې خبرې ردوي: عیسی علیه السلام د یحیی له شهادت خبر نه وو، نورو خبر کړ او له خبرېدو وروسته د دې لپاره په کشتۍ کې سور او په مجهول لوري وخوځېدو چې ګمان ئې کړی شایې دی به هم ونیول شي!! آیا داسې چا ته د خدای زوی ویل او وړاندویني ورته منسوبول صریح تناقض نه دئ؟!! عیسی علیه السلام نه یوازې ونه توانېدو چې د یحیی مرسته وکړي، له مرګ ئې وژغوري، بېرته ئې راژوندی کړي، بلکې د ځان له وېرې پټ شو!! آیا خدای او د خدای زوی دومره بې وسه وي؟ موږ له دغو ټولو خبرو سره سره عیسی علیه السلام د الله تعالی یو ستر پیغمبر ګڼو!!

د زکریا علیه السلام په دې قصې سره د شرك د خبیث او پلیت بوټي دوه ګنده جرړې قطع شوې: دا چې له الله تعالی پرته بل ته علم غیب منسوبوي او دا چې د الله تعالی د مقربو بندګانو درشل د حاجتونو د تر سره کېدو مرجع ګڼي!! دا دئ ګورئ چې د زکریا علیه السلام په څېر ستر شخصیت، د یحیی علیه السلام پلار، د مریمې استاد او روزونکی، د بني اسرائیلو ستر مذهبي شخصیت؛ وارث له الله تعالی غواړي، د خپل رب په وړاندې په ټیټ ږغ او زاریو سره دعاء کوي، کله چې ئې دعاء قبلېږي او د زوی زېری ورکول کېږي نو نه پوهېږي چې دا زوی به ئې کله او څنګه په برخه کېږي، د داسې نښې او علامې غوښتنه کوي چې له مخې ئې پوه شي کله به دا هیله تر سره کېږي، نشي کولی په خپل قوم کې چا ته د برکت دعاء وکړي او په یوه نظر سره هغه ته روحاني مقام ورپه برخه کړي!! همغسې لکه په خرافاتو کې غرق متصوفین او د بایبل لار ورکي پلویان چې ګمان کوي!!

زکریا علیه السلام د الله یو پیغمبر دئ، د بل پیغمبر پلار، د مریمې علیها السلام استاد؛ له دې ئې د معنوي مقام اندازه معلومولئ شئ؛ خو هغه په دې نه پوهېدو چې زوی به ئې کله پیدا کېږي په داسې حال کې چې دا زېری د الله د ملائکو په واسطه ورکړی شوی وو، له الله ئې وغوښتل چې د پیدا کېدو د ورځو نښه او علامه ئې وروښیي. په دې سره ټولو هغو خلکو ته چې د پیغمبرانو او د الله د صالحو بندګانو په اړه دا ګمان کوي چې هغوی په غیب پوهېږي؛ ویل شوي چې دا ستره غلطي ده. د دوی په اړه دا انګېرنه چې الله تعالی په خپلې

واکمنۍ کې له ځان سره شريك کړي، د ځينو چارو اختيارات ئې ورکړي، د خلکو حاجتونه تر سره کولی شي؛ لويه اشتباه ده. مگر نه گورئ چې د زکريا عليه السلام په څېر ستر او عظيم شخصيت تر کلونو کلونو د اولاد په طمع وو، خپل حاجت ئې نه شو تر سره کولی، کله چې د الله له لوري د زوی زېری ورکړی شو، تلوسه ئې وه چې الله به څنگه او څه وخت زوی ورکوي، نښه او علامه ئې غوښته!! تاسو پوهېږئ چې همدا دوه غلط گمانونه د هر شرکي مذهب بنسټ دئ، هم د بتانو لمانځنه له دې راولاړه شوې او هم د قبرونو.

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿١١﴾

نو خپل قوم ته له معبده راووت او په اشارې سره ئې هغوی ته وويل: سبا او ماښام تسبيح وايئ.

(۱۱)- دا مبارك آيت وايي: هغه نېټه راورسېده، زکريا عليه السلام خبري نه شوی کولی، نو خپل قوم ته له معبد راووت او په اشارې سره ئې هغوی ته وويل: سبا او ماښام تسبيح وايئ. په دې آيت کې د وحي دقيقه معنی او څرنگوالی هم ښودل شوی؛ په اشارې سره چا ته کوم مطلب او پيغام لېږلو ته وحي ويل شوي.

يَٰيَحْيَىٰ خُذِ ٱلْكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾ وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةً ۖ
وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَسَلَٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ
وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾

اې يحيی! کتاب په مضبوطۍ سره ونيسه؛ او په ورکتوب کې مو حکمت ورپه برخه کړ؛ او زموږ له لوري د نرمښت او پاکيزگۍ خاوند؛ او متقي وو؛ او له خپل پلار او مور سره ښېگڼه کوونکی وو؛ نه ظالم او سرکښ؛ او پر ده دې هغه مهال سلام وي چې وزېږېدو او هغه ورځ چې مري او هغه مهال چې بيا به ژوندی راپاڅول شي.

(۱۲-۱۵)- په دې مبارکو آيتونو کې د يحيی عليه السلام څو داسي مواصفات بيان شوي چې نه يوازې د ده شخصيت زموږ په وړاندې انځوروي بلکې د هر پيغمبر ځانگړتياوې او د رسالت خلاصه زموږ مخې ته ترسيموي:

- هغه ته ويل شوي وو چې د الله تعالی پر کتاب په مضبوطۍ سره منگولې ولگوي او عمل پرې وکړي.
- په ورکتوب کې حکمت، د صحيح پرېکړو استعداد او د سم قضاوت پوهه ورکړی شوې وه.

- مهربان، زړه سواند او د نرمښت خاوند وو.
- پاك لمنی او متقي وو.
- له خپل پلار او مور سره ښېګڼه کوونکی وو.
- ظالم او سرکښ نه وو.
- د زېږېدو په ورځ، د مړيني په ورځ او د بیاژوندي کېدو په ورځ د الله تعالی له لوري د سلام وړ وو.

دې ته مو پام وي چې ځيني خلك د قرآن هغه الفاظ چې په مجازي معنی راغلي وي په حقيقي معنی نيسي، په دې سره هم په خپله د قرآن په سم پوهېدا کې اشتباه کوي او هم نورو ته شکوك او شبهات راولاړوي، د قرآن ګڼ شمېر آيتونه داسي دي چې په هغوی کې د ځينو الفاظو يوازي مجازي معنی اخيستی شو. يوه بېلګه ئې دغه آيت دئ چې وايي: " يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٖۖ " دلته د خذ الكتاب بقوة ظاهري معنی مراد نه ده، معنی ئې دا نه ده چې اې يحيی! دا کتاب په دواړو لاسونو سره کلك ونيسه او په کلك نيولو کې ئې خپل ټول قوت وکاروه؟ بلکې معنی ئې دا ده چې د کتاب په حمل او پر هغه عمل کې خپل ټول توان او ځواك وکاروه، په ډاډه او مطمئن زړه ئې حمل او په پوره باور او قوت سره عمل ورباندي وکړه؟

---

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ١٦ فَٱتَّخَذَتۡ مِن
دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ١٧ قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ
بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيّٗا ١٨ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمٗا
زَكِيّٗا ١٩ قَالَتۡ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞ وَلَمۡ أَكُ بَغِيّٗا ٢٠ قَالَ
كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٞۖ وَلِنَجۡعَلَهُۥٓ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِ وَرَحۡمَةٗ مِّنَّاۚ وَكَانَ أَمۡرٗا
مَّقۡضِيّٗا ٢١

او په کتاب کې د مريمې د هغه مهال خبره ياده کړه چې له خپل ټبر شرقي لوري ته ګوښې شوه، نو پرده ئې د دوی مخې ته جوړه کړه، نو موږ خپل روح (جبرئيل) ورولېږو چې کټ مټ د يوه انسان په څېر ورڅرګند شو. وئې ويل: زه رحمن رب ته له تا پناه وړم که (له الله) وېرېدونکی يې. وئې ويل: زه ستا د رب استازی يم چې تا ته پاکيزه بچی درپه برخه کړم. وئې ويل: څنګه به مي بچی په برخه کېږي حال دا چې نه د کوم انسان لاس راباندي لګېدلی او نه بدکاره يم؟، وئې ويل: همداسي ده، ستا رب ويلي چې

دا (کار) راته آسان دئ؛ او د دې لپاره چې خلکو ته ئې یوه نښه وګرځوو او زموږ له لوري یوه پېرزوینه؛ او دا تر سره کېدونکی کار دئ.

---

(۱٦-۲۱)- په دې مبارکو آیتونو کې دغه لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

- دلته د سورې د محوري مضامینو لپاره یوه بله تاریخي بېلګه وړاندې شوې، د مریمې او عیسی علیهما السلام د قصې یوه برخه راغلې؛ هغه برخه ئې چې مریم علیها السلام د هغه معبد په شرقي برخې کې مېشت شوه چې مشري ئې د زکریا علیه السلام په لاس کې وه، تر څان ئې داسې د دېوال پرده تاو کړه چې د خلکو له نظره پټه په زده کړې او د خپل رب په عبادت بوخته وي. د دې تفصیل د آل عمران په سورې کې راغلی. هلته ویل شوي چې د مریمې مور هغه د الله تعالی په لار کې وقف کړې وه، په معبد کې د زکریا علیه السلام تر روزنې لاندې نیول شوې، زکریا علیه السلام ئې ماما وو، د معبد په محراب کې مېشت شوې، محراب د معبد د هغو خونو نوم وو چې عبادت کوونکي به په کې مېشت کېدل. هملته د فرشتو یو ټولګی ورته راغلی او د زوی زېری ئې ورکړی. دلته ویل شوي چې خپله روح ( جبرئیل) مو ورولېږو چې کټ مټ د یوه انسان په څېر ورڅرګند شو. د دې معنی دا ده چې جبرئیل علیه السلام د یوې ډلې فرشتو په ګډون د دې خوا ته ورغلی او دا زېری ئې وراوروی. مریمې د انسان ګمان پرې وکړ او وئې ویل: زه رحمن رب ته له تا پناه وړم که له الله وېرېدونکی یې. جبرئیل علیه السلام وویل: زه ستا د رب استازی یم چې تا ته پاکیزه بچی درپه برخه کړم. وئې ویل: څنګه به مې بچی په برخه کېږي حال دا چې نه د کوم انسان لاس راباندې لګېدلی او نه بدکاره یم؟. وئې ویل: همداسې ده، ستا رب وېلې چې دا کار راته آسان دئ او دا د دې لپاره چې الله تعالی غواړې له پلار پرته د عیسی علیه السلام د فوق العاده پیدایښت د خلکو لپاره یوه داسې لارښوونکې نښه وګرځوي چې له مړنې وروسته بیاژوندون ورته ثابت کړي؛ او د هغو خلکو پوښتنه ځواب کړي چې وایي: څنګه به انسان بیاراژوندی کېږي؟!! ځواب ئې دا دئ: همداسې لکه چې عیسی علیه السلام ئې له پلار پرته پیدا کړ، د ده نطفه ئې د مور په رحم کې له خاورې جوړه کړه، همداسې لکه آدم علیه السلام چې ئې له خاورې پیدا کړ. او دا د دې لپاره چې الله تعالی غواړې د عیسی علیه السلام په دې خارق العاده پیدایښت او د پیغمبر په توګه د هغه په بعثت سره پر خلکو پېرزوینه وکړي او د شرك او کفر له تیارو ئې وباسي. جبرئیل علیه السلام وویل: دا تر سره کېدونکی کار دئ، الله تعالی د دې پرېکړه کړې ده چې عیسی علیه السلام به همداسې له پلار پرته پیدا کېږي.

د آیت له دې فِقرې (فتمثل لها بشراً سویاً) معلومېږي چې کله فرشته انسان ته راځي نو په هغه صورت کې ئې لیدلی او په خبرو ئې پوهېدلی شي چې د انسان په بڼې کې ورته مجسم شي، دا ځکه چې الله تعالی د انسان سترګې داسې جوړې کړې چې یوازې مادي شیان او هغه هم داسې چې ډېر واړه نه وي لیدلی شي، غیر مادي اشیاء لکه فرشته، پېری،

مقناطیسي ساحه، انرژي، نور، جاذبه قوه او دې ته ورته نور لطیف شیان نشي لیدلی، فرشتې له نور پیدا شوې او پېریان د اور له بې دوده شعلې، نو ځکه دواړه نه لیدل کېږي، فرشتې د الله تعالی په حکم او إذن سره او د یوه خارق العاده کار په توګه د انسان په بڼې کې مجسم شوې او انسانانو ته لېږل شوې؛ او په دې حالت کې لیدل شوې. خو پېریان نشي کولی د بل مخلوق بڼه غوره کړي، هیڅ مخلوق نشي کولی خپل فطرت بدل کړي او د بل مخلوق بڼه غوره کړي. نو ځکه انسان ته د پېریانو لیدل محال دي. هغه خلك چې ګمان کوي پېریان کولی شي خپله بڼه بدله کړي او انسان ته ځان وښیي؛ اشتباه کوي. قرآن د پېریانو لپاره د جن نوم غوره کړی، جن هغه څه ته ویل کېږي چې د انسان له سترګو پټ وي او نه لیدل کېږي. امام المفسرین طبري لیکي: وكل ما توارى عن أبصار الناس، فإن العرب تقول فيه: "قد جَنّ"، و"الجن" من ذلك لأنهم استجنُّوا عن أعين بني آدم فلا يرون. هر هغه څه چې د خلکو له سترګو پټ وي نو عرب د هغه په اړه وایي: "قد جَنّ": او جن (پېری) له همدې دئ؛ د دې لپاره چې هغوی د انسانانو له سترګو پټ شوي او نه لیدل کېږي.

- که د قرآن نور آیتونه هم په پام کې ولرو نو د دې قصې تفصیلات داسي دي: د مریمې مور؛ د عمران مېرمن حامله وه، له الله سره ئې وعده وکړه چې خپل بچی به د ده په لار کې وقف کوي، انتظار ئې دا وو چې الله تعالی به زوی ورکړي او هغه به د الله د دین خدمت ته وړاندي کوي. خو الله تعالی ورته لور ورکړه؛ وئې ویل: زما ربه! دا خو لور ده، ما خو د زوی طمع وه، نارینه خو د ښځې په څېر نه وي، هغه محدودیتونه ئې نه وي چې ښځه عادتاً ورسره مخامخ وي، ما ئې نوم مریم ( دالله بنده او خدائي خدمتګاره) کښېښود، زه ئې تا ته سپارم، دا او اولاد ئې له رټلي شیطان په خپل حفظ او امان کې وساته. کله چې د کار کولو او څه زده کولو عمر ته رسېدلې مور ئې هغه معبد ته لېږلې، الله تعالی د دې همدا نذر قبول کړ، د مریمې د ښې روزنې انتظام ئې وکړ، دا ئې د زکریا علیه السلام تر روزنې او کفالت لاندې ورکړه، په محراب نومې خونې کې مېشت شوه، دلته به د الله تعالی له لوري هغې ته کله کله بې موسمه مېوې راتلې، کله چې به د روزنې په دوران کې زکریا علیه السلام د دې هستوګنځي ته ورغی نو د مریمې خوا ته به ئې بې موسمه مېوې ولیدې؛ له هغې ئې پوښتنه وکړه چې دا له کومه راځي؟ مریمې ځواب ورکړ: دا د الله له لوري ده، الله چې چا ته وغواړي له حساب پرته روزي ورکوي، زه د داسي رزق مستحقه نه یم، دا د الله پېرزوینه ده، زما د کومي ځانګړتیا له مخي ئې نه راکوي، له محاسبې پرته ئې راکوي. یوه ورځ په داسي حال کې چې همدلته په محراب کې وه، یوه فرشته د سړي په شکل کې ورته راڅرګنده شوه، هغې ورته وویل: زما خوا ته مه راځه، زه رحمان خدای ته له تا پناه وړم. فرشتې ورته وویل: زه د الله تعالی له لوري لېږل شوې یم چې تا ته هغه زوی درپه برخه کړم چې د الله د یوې کلمې (امر او حکم) له کبله به پیدا کېږي، نوم به ئې مسیح عیسی د مریمې زوی وي. هغې وویل: اې زما ربه! زه به څنګه اولاد زېږوم حال دا چې د هیڅ انسان لاس راباندې نه دئ لګېدلی؟! په ځواب کې ورته وویل شو: ستا رب چې د کوم څه د پیدا کولو اراده وکړي

نو يوازي دا كافي ده چي ووايي: وشه او هغه له ځنډ پرته وشي، ستا زوى به په وړكتوب او زړښت كي خبري كولى شي، په انجيل او تورات به پوهېږي، پېس او له موره ړوند پيدا شوى به د الله تعالى په إذن روغولى شي، مړى به په دعاء سره ژوندى كولى شي، خلكو ته به دا ويلى شي چي نن به ئې كوم خوراك په برخه كېږي او سبا ته به څه ذخيره كوي.

راشئ وګورو چي بايبل په دې اړه څه ويلي: بايبل وايي: يو ځل چي زكريا د خداى په كور كي په خدمت بوخت وو، ناڅاپه يوه فرشته ورته راڅرګنده شوه... زكريا د فرشتې په ليدو سره حيران شو او ووېرېدو. فرشتې ورته وويل: اې زكريا! مه وېرېږه، زه راغلې يم چي زېرى دركړم، خداى ستا دعاء اورېدلې، اليزابت به زوى وزېږوي او ته به ئې يحيى ونوموې، ... هغه به د خداى په وړاندي يو ستر شخصيت وي، هيڅكله بايد شراب او مستوونكي څښاك ونه څښي، دا ځكه چي له زېږېدو وړاندي به له روح القدس ډك وي... تر مسيح به مخكي راشي، چي خلك د ده ظهور ته چمتو كړي... زكريا وويل: دا كار خو ممكن نه دئ، ځكه چي زه زوړ شوى يم او مېرمن مي عمر خوړلې ده. فرشتې ځواب وركړ: زه جبرئيل يم... راغلم چي تا ته دا زېرى دركړم، له دې كبله چي زما په خبري دې باور ونه كړ نو تر هغه به د خبرو كولو توان نه لرې چي زوى دې پيدا شي... خلك بهر منتظر وو چي زكريا راووځي، حيران وو چي ولې دومره ځنډ كوي، كله چي راووت او وئې ليدل چي خبري نه شي كولى، د ده له اشارو پوه شول چي په سپېڅلي ځاى كي ئې كومه رؤيا ليدلې!! ... اليزابت امېدواره شوه... په شپږمه مياشت خداى جبرئيل په جليل كي د ناصره ښار ته ولېږو چي د ده وحي هغې پېغلې ته ورسوي چي مريم نومېده، مريم د يوسف په نامه يوه كس ته چي د داؤد له نسل وو، كوژده شوې وه خو واده ئې لا نه وو تر سره شوى، جبرئيل ورته وويل: سلام پر تا اې پېغلې! چي د خداى لطف دې په برخه شوى، خداى له تا سره دئ!! مريم ډېره پرېشانه او ووېرېده، نه پوهېده چي د فرشتې مقصد له دې خبري څه دئ! فرشتې ورته وويل: اې مريمې! مه وېرېږه، ... ډېر ژر به حامله شې، زوى به وزېږوې، نوم به ئې عيسى كښېږدې، هغه به ستر شخصيت وي، د خداى زوى به ورته ويل كېږي او خداى به د ده د جد داؤد د پاچايي تخت ده ته وركړي چي د تل لپاره پر اسرائيليانو حكومت وكړي، د ده سلطنت به هيڅكله پاى نه مومي!! مريمې له فرشتې وپوښتل: دا كار څنګه ممكن دئ، تر اوسه د هيڅ انسان لاس راباندي نه دئ لګېدلى، فرشتې ځواب وركړ: روح القدس به پر تا نازله شي او د خداى قدرت به پرتا سيورى وغوړوي!!... پوه شه چي ستا خپلوانه اليزابت هم شپږ مياشتي مخكي حامله شوې او ژر به زوى وزېږوي، ... خداى ته هيڅ كار محال نه دئ. مريمې وويل: زه د خداى خدمتګاره يم، څه چي د ده خوښه وي په اخلاص سره به ئې كوم، هيله منه يم هغه څه وشي چي تا وويل. څو ورځې وروسته مريمې د سفر بند و بست وكړ، اليزابت ته ورغله... د دې په ليدو سره د اليزابت په رحم كي بچي وخوځېدو او اليزابت له روح القدسه ډكه شوه او وئې ويل: خداى تر ټولو نورو ښځو زياته پېرزوينه پر تا كړې، ستا زوى به هم د خلكو لپاره د بركتونو باعث وي، څومره د افتخار ځاى دئ چي زما د بادار مور زما ليدو

ته راغلې... مریم نژدې درې میاشتې د الیزابت خوا ته پاته شوه، بیا خپل کور ته ستنه شوه. الیزابت زوی وزېږاوو، د مبارکۍ لپاره راغلو ښځو ورته وویل چې د خپل پلار نوم پرې کښېږده، خو دې ونه منله او یحیی ئې ونوماوو، دوی ورته وویل: ستا په کورنۍ کې دا نوم سابقه نه لري. بیا ئې په اشارو اشارو له زکریا وپوښتل چې څه نوم ورته غوره کوې، هغه د ټولو په وړاندې په یوې دړې ولیکل: نوم ئې یحیی دئ!! په همدې وخت کې ئې ژبه خلاصه شوه او د خبرو کولو قدرت ئې تر لاسه کړ او د خدای شکر ئې پر ځای کړ.

دلته ستاسو پام څو خبرو ته رااړوم:

- د قرآن د وینا له مخې عیسی علیه السلام په هغه ځای کې زېږېدلی چې مور، د ده کورنۍ او قوم ئې په کې اوسېدل او دا د بایبل ادعاء ردوي چې مریم له خپل ټاټوبي بیت لحم ته تللې او عیسی هلته زېږېدلی. بایبل دا خبره د دې لپاره کوي چې د مسیح د زېږېدو د ځای په اړه د دوی د سپېڅلي کتاب وړاندوینه رښتینې کړي. همدا راز د قرآن د وینا له مخې زکریا علیه السلام فرشتې ته وویل: د دې نښه به څه وي چې الله تعالی به ما ته زوی راکوي؟ هغې ورته وویل: د یحیی (علیه السلام) د پیدایښت په مهال به درې ورځې له چا سره خبرې نه شې کولی او دا د بایبل ادعاء ردوي چې وایي: زکریا ته په دې سبب دا سزا ورکړی شوه چې د فرشتې په خبرې ئې باور ونه کړ نو ځکه ئې له همدې ورځې د یحیی تر زېږېدو پورې خبرې نه شوی کولی. دا خبره له دې کبله غلطه ده چې زکریا خو جبرئیل نه وو پېژندلی، ولې به ئې د خپلې پوښتنې په سبب مجازاتوي؟ دی څه خبر وو چې دا جبرائیل دئ؟

## فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾

نو (پر خپل ماشوم) امیدواره شوه او لرې ځای ته ورسره لاړه.

(٢٢)- دا مبارك آیت وایي چې مریم رضی الله عنها حامله شوه، نو له همدې کبله د امیدوارۍ حالت کې لرې ځای ته ولاړه، قرآن د دې مزید وضاحت نه کوي چې دا لرې ځای کوم ځای وو او تر زېږون څو ورځې مخکې تللې؟ طبیعي ده چې کله د مریمې رحم کې د حمل آثار راڅرگند شوي نو هغې ته په معبد کې پاته کېدا گرانه وه، باید څه موده بل ځای ته تللې وي، بایبل داسې څه ویلي چې قطعاً د منلو وړ نه دي؛ بایبل وایي چې مریمې مېړه درلود، یوسف نومېدو، عیسی (علیه السلام ) د دوی لومړی زوی وو، د ده د تولد په ورځو کې بیت لحم ته ولاړل... لوقا تر دې سرلیك (د عیسی تولد) لاندې لیکي: ... یوسف له مریمې سره یو ځای له جلیل بیت لحم ته لاړ، د مریمې د وضع حمل نېټه راورسېده، لومړی زوی ئې وزېږاوو، په یوې جامې کې ئې ونغاښتو، ښه ئې پټ کړ او د څارویو په آخور کې ئې کښېښود، دا ځکه چې د هغه ځای په مېلمستون کې د دوی لپاره ځای نه وو!! د هغه ښار په بېدیا کې ځیني شپانه وو چې خپلې رمې ئې پېولې، په دې شپه ناڅاپې یوه فرشته د دوی خوا ته راڅرگنده شوه او د خدای د جلال نور پر دوی سیوری وغوړاوو او ووېرېدل؛ خو

فرشتې ورته وويل: مه وېرېږئ زه تاسو ته يو زېرى لرم، ټولو خلکو ته زېرى او هغه دا چې همدا نن مسيح، ستاسو بادار او ژغورونکى، د داؤد په ښار کې وزېږېدو، زما د خبرې د رښتياوالي نښه دا ده چې داسې ماشوم به وګورئ چې په جامه کې پېچل شوى او په آخور کې ئې څملولى. ناڅاپه ډېرې نورې فرشتې له دغې سره يوځاى شوې او د خداى ستاينه ئې کوله... کله چې فرشتې آسمان ته ولاړې، شپنو وويل: راځئ چې بيت لحم ته ولاړ شو او دا عجيبه پېښه په خپلو سترګو وګورو!!... دوى هلته ولاړل، مريم، يوسف او ماشوم ئې وليدل او ټولو خلکو ته ئې دا قصه وکړه، (بايبل دا نه وايي چې دا شپانه څنګه مخامخ د دوى د اوسېدو ځاى ته ورغلل؟ فرشتې خو نه ځاى ورښودلى وو او نه ئې مور او پلار)، هر چا چې به دا خبرې اورېدې نو حيران به شو، مريمې هم دا ټولې خبرې اورېدې او خپل زړه ته ئې تېرولې او په دې اړه به ئې فکر کاوو!! ... په اتمه ورځ ئې ختنه کړ او عيسى ئې ونوماوو، ... کله چې د ده والدينو، يوسف او مريمې؛ دى د خداى کور ته راوست چې د شريعت مطابق ئې د خداى کور ته وقف کړي، څکه د شريعت د حکم له مخې د هرې کورنۍ مشر زوى بايد د خداى کور ته وقف شوى وى، هلته يو کس چې شمعون نومېدو او روح القدس ورته ويلي وو چې د خداى کور ته ولاړ شه او مسيح وګوره، ... ماشوم ئې په غېږ کې ونيولو او وئې ويل: خدايه! اوس کولى شم په ډاډه زړه له دنيا ولاړ شم!!؛ هغه ژغورونکى چې نړۍ ته دې بخښلى ما په خپلو سترګو وليد، ... يوسف او مريم هك پك او حيران ورته کتل... شمعون دعاء ورته وکړه او وئې ويل: اندېښنې او غمونه به ستا زړه د تورې په څېر زخمي کړي څکه ډېر اسرائيليان به دې ونه مني او په دې سره به خپل ځانونه هلاك کړي!!... کله چې شمعون له دوى سره خبرې کولې، د آنا په نوم يوه کونډه ښځه چې تل د خداى په کور کې اوسېده، د دوى خوا ته راغله، د خداى شکر ئې په ځاى کړ او د اورشليم ټولو خلکو ته ئې خبر ورکړ چې موعود مسيح زېږېدلى!! له دې وروسته يوسف او مريم خپل ښار جليل ته ستانه شول؛ هلته عيسى ستر شو!!

دا قصه په مَتِی او مَرقُس کې نه ده راغلې، د دې په ځاى هلته ويل شوي چې له لرې ختيځ څو نجوميان د مسيح د ليدو لپاره راغلل، دوى د نجوم له مخې پوه شوي وو چې اوس مسيح په بيت لحم کې پيدا شوى!! خو دلته ويل شوي چې شپنو فرشتې وليدې او د مسيح د زېږېدو زېرى ئې ورکړ! دغه تناقض او ګډې وډې خبرې کافي دي چې ووايو: دا قصې ټولې له ځانه جوړې شوې، نه مريم مېروښه وه، نه مسيح په بيت لحم کې زېږېدلى، نه فرشتو د هغه ځاى نوم ورکړو او مجهولو شپنو ته زېرى ورکړى او نه ناپېژاندو نجوميانو د نجوم په خرافي علم سره د هغه له زېږېدو خبر شوي او د ده ليدو ته راغلي. عيسى عليه السلام په خپلې سيمې کې، له پلار پرته، له هغې مريمې زېږېدلى چې پېغله وه، نه مېړوښه، په ماشومتوب کې ئې خبرې کړې.

ګورئ چې د قرآن او بايبل د ويناوو تر منځ څومره ژور توپيرونه شته، بايبل د عيسى عليه السلام پيدايښت د يوه داسې عادي انسان پيدايښت ته ورته ګڼي چې په کورنۍ، کلي

او سيمه کې ئې هيڅ د اهميت په سترګه نه دي ورته کتلي، خاص توپير ئې نه دئ تر سترګو شوی، ډېره موده وروسته له نامعلوم مشرق، نامعلوم شمېر مجوسان راغلي، دی ئې ليدلی او سجده ئې ورته کړې!! دا نه وايي چې مريم څوك او د څنګه شخصيت خاونده وه، د عيسی عليه السلام ماشومتوب څنګه پيل شوی، د ده په معجزاتو کې دا نه رااخلي چې په وړکتوب کې او د پيدايښت په لومړيو ورځو کې ئې هغه ستري ستري خبري کړې دي چې د يوه پيغمبر د ټول دعوت خلاصه په کې راغلې، د هغه لومړۍ خبره دا وه چې زه د خدای بنده او د هغه پيغمبر يم. آيا د انسان عقل دا خبره مني چې په مشرق کې څوك د يوه (عجيب) زوی له پيدا کېدو خبر شي خو د ده کورنۍ او کلی هغه يو (عجيب) ماشوم ونه مومي؟!! او له نورو سره ئې هيڅ توپير تر سترګو نه شي؟! دا په داسي حال کې چې مسيحيان دا ماشوم د خدای زوی ګڼي او پيدايښت ئې هم خارق العاده!! خو مسلمانان د قرآن د لارښوونو په رڼا کې سره له دې چې عيسی عليه السلام ته دومره ستري ستري معجزې ثابتوي چې ډېري ئې د مسيحيانو په مذهبي کتابونو کې نه تر سترګو کېږي؛ خو عيسی عليه السلام يو انسان او د نورو پيغمبرانو په څېر يو پيغمبر ګڼي!!

---

فَأَجَآءَهَا ٱلۡمَخَاضُ إِلَىٰ جِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ قَالَتۡ يَٰلَيۡتَنِي مِتُّ قَبۡلَ هَٰذَا وَكُنتُ
نَسۡيٗا مَّنسِيّٗا ﴿٢٣﴾ فَنَادَىٰهَا مِن تَحۡتِهَآ أَلَّا تَحۡزَنِي قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ سَرِيّٗا ﴿٢٤﴾
وَهُزِّيٓ إِلَيۡكِ بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبٗا جَنِيّٗا ﴿٢٥﴾ فَكُلِي وَٱشۡرَبِي وَقَرِّي
عَيۡنٗاۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلۡبَشَرِ أَحَدٗا فَقُولِيٓ إِنِّي نَذَرۡتُ لِلرَّحۡمَٰنِ صَوۡمٗا فَلَنۡ أُكَلِّمَ
ٱلۡيَوۡمَ إِنسِيّٗا ﴿٢٦﴾

نو د زېږون درد د خرما د ونې ستې ته بوتله؛ وئې ويل: كاش تر دې وړاندي مړه شوې وی او هېره شوې خاطره وی. نو له لاندي ئې پرې غږ کړ چې مه غمجنه کېږه، يقيناً چې ستا رب تر تا لاندي لښتی جوړ کړی؛ او د خرما ستې وخوزوه چې تازه پخې کجوري درباندي توی کړي، نو وخوره، وڅښه او خپلي سترګي سړې کړه؛ او که د انسانانو کوم يو وګورې ووايه: ما رحمن رب ته د روژې نذر کړی؛ نو نن په هيڅ توګه له هيڅ انسان سره خبري نه کوم.

---

(۲۳-۲٦)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه مطالب دا دي:

- د زېږون شبېه رانژدې شوې، د زېږون درد د خرما د ونې ستې ته بېولې، د قرآن له دې وينا معلومېږي چې مريم کوم ګڼ ځنګله ته تللې، نه هغسي لکه چې بايبل وايي کوم مېلمستون ته!!

• د همدې ستې ښځې کې ئې زوی زېږولی، له سختي آزمويني سره مخامخ شوې، نه پوهېده چي په کوم مخ به له خلکو سره مخامخ کېږي، څه به ورته وايي، د تورونو ځواب به څنګه ورکوي، دا سپکاوی به څنګه زغمي چي خلك به د دې په اړه وايي: د معبد يوې خدايي خدمتګارې پېغلې زوی زېږولی؟!! دغو سختو انديښنو داسې پرېشانه کړې وه چي له خولې ئې دا وينا ووته: کاش تر دې وړاندي مړه شوې وی او هېره شوې خاطره وی.

• د همدې سخت غم او انديښنې په حال کې له لاندي پرې ږغ شوی: مه غمجنه کېږه، يقيناً چي ستا رب تر تا لاندي لښتی جوړ کړی؛ او د خرما ستڼه وخوزوه چي تازه پخې کجوري درباندي توی کړي، نو وخوره، وڅښه او خپلې سترګي سړې کړه؛ او که د انسانانو کوم يو وګورې ووايه: ما رحمن رب ته د روژې نذر کړی، نو نن په هيڅ توګه له هيڅ انسان سره خبري نه کوم. دا ږغ د چا له لوري وو؟ د فرشتې که د خپل زوی عيسی عليه السلام له لوري؟ د آيت له دغو الفاظو: نو وخوره، وڅښه او خپلې سترګي سړې کړه، معلومېږي چي دا د فرشتې ږغ وو. د فرشتې لخوا ورته ويل شوي چي انديښنه مه کوه، دا دئ رب دې ستا تر پښو لاندي چينه راخوټولې، که وږې شوې ونه وخوزوه تازه خرما به درته راتوی شي، د زوی په لېدو به دې سترګي سړې شي، که کوم انسان دې تر سترګو شو او د زوی په اړه ئې پوښتنه کوله ورته ووايه: ما نن روژه نيولې ده، نن له هيڅ انسان سره خبري نه کوم، خپل زوی ته اشاره کوه هغه به ځواب ورکوي.

---

فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥ ۖ قَالُوا۟ يَٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا۟ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِى ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾

نو په داسې حال کې ئې خپل قوم ته وروړ چي پورته کړی ئې وو، (په خپلې غېږ کې)، وئې ويل: اې مريمې! يقيناً چي ډېر بدغونی (له چتې وتلی) کار دې کړی؛ اې د هارون خورې! نه دې پلار بد سړی وو او نه دې مور بد لمنه وه! نو هغه ته ئې ګوته ونيوله؛ (خلکو) وويل: څنګه له هغه چا سره خبري وکړو چي د زانګو ماشوم وي؟!

---

(۲۷-۲۹)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه مطالب دا دي:

• مريم رضی الله عنها په داسې حال کې د خپل کور په لور خوځېدلې چي خپل زوی ئې په غېږ کې وو، کلي ته رسېدلې، له خپل قوم سره مخامخ شوې، خلك پرې راغونډ شوي، پوښتنه ئې ترې کړې چي چېري تللې وې او دا ماشوم د چا دئ؟!! هغه چوپه خوله ده او د هر يوه اعتراض او پوښتنه اوري، له هر لوري ورته ويل کېږي: اې مريمې! يقيناً چي ډېر بدغونی او له چتې وتلی کار دې کړی، اې د هارون خورې! نه دې پلار بد سړی وو او نه دې

مور بدکاره وه، د هارون په کورنۍ کې خو داسې کرکجن کار هیڅ نه وو کړی، ټول قوم ته دې لوی سپکاوی واړاوو، ولې دې له کوره د تښتېدو لار ونیوله او اوس له بچي سره کلي ته راوګرځېدې!! هغې خپل بچي ته ګوته نیولې چې له ده وپوښتئ!! خلکو ورته ویلې: څنګه له هغه چا سره خبرې وکړو چې د زانګو ماشوم دئ؟!

• الله تعالى همدا غوښتل چې ډېر خلك راغونډ شي او د مریمې رضی الله عنها په غېږ کې د یوه داسې ماشوم خبرې واوري چې نوی او بې پلاره پیدا شوی!! خو داسې سترې سترې خبرې چې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت ټولې اساسي خبرې په کې راخلاصه شوې.

• دې ته مو پام وي چې مریم په دې نامه یادول چې د هارون خورې! ځینو داسې انګېرلې چې ښایي دې به د هارون په نامه کوم ورور درلودو؛ او ځینو ویلې چې دا په مخکینیو قومونو کې معمول وه چې د یوه تېر غړي به ئې د خپل جد د ورور په نامه یادولو، لکه اخوان لوط، اخا مُضَر، اخا همدان، دلته د اخت هارون معنی همدا ده. یعني مریم خپل جد هارون علیه السلام ته منسوب شوې. د قرآن له وینا معلومېږي چې دغه دوهم تعبیر دقیق دئ. ځکه مریم د خپلې مور لومړنۍ لور وه، د بني اسرائیلو مذهبي کورنیو به لومړی زوی د معبد د خدمت لپاره وقف کولو، د مریمې مور همدا نذر ایښی وو، طمع ئې دا وه چې الله تعالى به زوی ورپه برخه کړي، خو لور ئې په برخه شوه، نو دا تعبیر دقیق نه برېښي چې د هارون په نامه ئې کوم ورور درلود.

قَالَ إِنِّي عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِيَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا
كُنتُ وَأَوْصَٰنِي بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي
جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾
ذَٰلِكَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ ٱلْحَقِّ ٱلَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ
مِن وَلَدٍ سُبْحَٰنَهُۥٓ إِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾ وَإِنَّ ٱللَّهَ
رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٣٦﴾

(بچي) وویل: یقیناً چې زه د الله بنده یم، ما ته ئې کتاب راپه برخه کړی او زه ئې پیغمبر ګرځولی یم؛ او زه ئې بابرکته ګرځولی یم؛ هر چېرې چې وم؛ او ما ته ئې د لمانځه او زکات سپارښتنه کړې، تر هغه چې ژوندی وم؛ او د خپلې مور په اړه نېکي کوونکی؛ او زه ئې جبر کوونکی او بدبخت نه یم ګرځولی؛ او (د الله له لورې) پر ما سلام دئ هغه ورځ چې وزېږېدم؛ او هغه ورځ چې مرم او هغه ورځ چې بېرته به ژوندی راپاڅول کېږم. همدا عیسی د مریمې زوی دئ؛ هغه حقه وینا چې (دوی) شك په کې

کوي. الله ته نه ښايي چې کوم (څوك د) زوی (په توګه) ونیسي، ده ته (له دې عیب) پاکي ده؛ کله چې د کوم کار پرېکړه وکړي نو ورته وايي: وشه؛ نو هغه کېږي؛ او یقیناً چې الله هم زما رب دئ او هم ستاسو رب، نو د ده عبادت وکړئ؛ مستقیمه لار همدا ده.

---

(۳۰-۳٦)- په دې مبارکو آیتونو کې د مریمې علیها السلام د ماشوم زوی هغه ستري خبري راغلې چې هر پیغمبر خپل قوم ته کړې دي. د پیغمبرانو علیهم السلام د الهي پیغام خلاصه همدا څو خبري دي: زه د الله تعالی بنده یم، کتاب ئې راکړی، پیغمبر ئې ګرځولی یم، برکت ئې راپه برخه کړی، د ژوند تر پایه ئې په لمانځه او زکات او له خپلې مور سره په ښه سلوك ګمارلی یم، مغرور او بدبخت ئې نه یم ګرځولی، الله زما او ستاسو رب دئ، د هغه عبادت وکړئ چې مستقیمه لار همدا ده،

دا د عیسی بن مریم حقیقت دئ. دا همغه حقیقت دئ چې دوی په کې شك کوي، الله تعالی له دې ډېر لوړ دئ چې ځان ته زوی غوره کړي، د ده کار داسي دئ چې د څه اراده وکړي ورته وايي: وشه؛ او هغه سملاسي تر سره کېږي. داسي ذات به ولې زوی او ځای ناستی غوره کوي؟ زوی ته هغه څوك ضرورت لري چې یا مري او یا د بل له مرستي پرته خپل کارونه نشي تر سره کولی؛ الله تعالی له داسي عیبونو منزه دئ.

دا دئ ګورئ چې دلته د مریمې رضی الله عنها او د دې د زوی عیسی علیه السلام د پیدایښت په قصه کې د دې سورې اساسي مضامین په دې توګه انځور شوي:

- الله تعالی مریمې ته په خارق العاده توګه زوی ورکوي، فرشتې ئې خوا ته ورځي او د دې خبري زېری ورکوي، دې ته دا زېری نه یوازي عجیب او د حیرانتیا وړ برېښي بلکې نه پوهېږي چې د دې خارق العاده پیدایښت موخه څه ده، الله تعالی د څه لپاره دې ته زوی ورکوي، پرېشانه ده، دومره چې د مرګ هیله کوي. آیا دا ټول بهیر نه ښیي چې د الله تعالی مقرب بندګان له غیب بې خبره دي؟! آیا دا نه ښیي چې دوی د عالم د چارو په سمبالولو کې له الله تعالی سره شریك نه دي؟ آیا عیسی علیه السلام په ماشومتوب کې نه وايي چې زه د الله تعالی بنده یم، نه ئې زوی او ځای ناستی یم او نه ئې شریك؟! آیا نه وايي چې زه په لمانځه، زکات او له خپلې مور سره په نېکۍ ګمارل شوی یم؟!! اې اهل کتاب!! څنګه د الله تعالی یو مطیع بنده د هغه زوی او ځای ناستی بولئ؟!!
- بایبل د عیسی علیه السلام اوږده شجره بیانوي، د هغه د معجزو اوږد فهرست د ویونکي مخي ته ږدي؛ خو دغه اساسي خبري چې عیسی علیه السلام په خپل ماشومتوب کې کړې وې په ټول بایبل کې نشئ موندلی!! بایبل دا اساسي خبري د ټولو انبیاءو په اړه هېرې کړې دي، معجزې ئې له مبالغو په ډکو الفاظو سره بیانوي خو د دوی اصلي خبري نه کوي!! یو ځل مسیح په خپله خدای ګڼي چې د انسان په بڼه کې څرګند شوی او لیکي: مسیح د نه لیدل شوي خدای لیدل شوې څېره وه!! بیا د دې وینا کاملاً مخالفه خبره کوي او لیکي: هغه د

خدای زوی دئ!! داسې متعارضې او متناقضې خبرې هغه څوك كوي چې د خپلو خبرو په معنی نه پوهېږي. یا خو باید ووایي چې خدای د مسیح په څېرې كې مجسم شوی او یا دا چې مسیح د خدای زوی دئ. او دا دواړه خبرې هم د عقل خلاف دي او هم د تورات او انجیل؛ او قرآن خو وایي: د الله تعالی په اړه دا خبره كول چې هغه زوی لري دومره ستره كركجنه خبره ده چې آسمانونه او زمكه ئې نه شي زغملی.

موږ د عیسی علیه السلام په معجزو ایمان او باور لرو؛ قرآن په ډېر وضاحت او تفصیل سره د ده معجزې بیانوي، خو قرآن وایي چې دا معجزې د الله تعالی په إذن او حكم تر سره كېدې، په كوم ځای او وخت كې چې الله تعالی د دغو معجزو څرګندیدا ضروري او مفید ګڼله همغه وخت تر سره كېدې، دا د عیسی علیه السلام ذاتي كار نه وو، د ده په خوښه او اختیار نه تر سره كېدې، (بایبل هم وایي چې عیسی خلكو ته وویل: زه په خپله خوښه او میل كوم كار نه كوم)، قرآن وایي چې دی لا د مور په غېږ كې ماشوم وو چې خلكو ته ئې همغه خبرې كولې چې په ځوانۍ كې ئې كولې.

فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن مَّشۡهَدِ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ٣٧ أَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَأَبۡصِرۡ يَوۡمَ يَأۡتُونَنَاۖ لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلۡيَوۡمَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٣٨ وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡحَسۡرَةِ إِذۡ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ وَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٣٩ إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ ٱلۡأَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ٤٠

نو دغو ډلو په خپل منځ كې اختلاف وكړ، نو افسوس د هغو په حال چې كفر ئې وكړ؛ د یوې سترې ورځې د لیدو پر مهال؛ كله چې موږ ته راځي څومره ښه اورېدونكي به وي او څومره ښه لیدونكي! خو دا ظالمان نن په څرګندې بې لارۍ كې دي. او د حسرت له هغې ورځې خبرداری وركړه چې د كار پرېكړه به وشي، په داسې حال كې چې دوی په غفلت كې دي او دوی ایمان نه راوړي. یقیناً چې موږ به د زمكې او څه چې وربانديې دي وارث شو او (ټول) زموږ لوري ته راګرځول كېږي.

(۳۷-۴۰)- دا مبارك آیتونه موږ ته وایي چې یهود او نصاری د عیسی علیه السلام د پیدایښت د څرنګوالي او د مریمې رضی الله عنها په اړه په اختلاف كې پرېوتل. ځینو یو څه وویل او ځینو بل څه، ځینو د كفر لار غوره كړه او ځینو د شرك، چا مریم رضی الله عنها په بدلمنۍ تورنه كړه، چا هغه د خدای مور وګڼله، چا عیسی علیه السلام د خدای زوی او ځای ناستی وګڼلو، چا وویل: دی خدای وو چې د عیسی په بڼې كې زمكې ته راغلی وو، چا د ساحر په نامه یاد كړ او معجزې ئې كوډې وبوللې، چا د هغه د وژلو لپاره ملا وتړله. د قیامت په

ورځ به دوی ته حقائق څرګند شي، په هغې ستري ورځ کې به دوی له افسوسناك برخليك سره مخامخ شي، نن د دوی پر سترګو د جهل او تعصب پردې غوړېدلې دي؛ د قيامت په ورځ به ئې سترګې ښه ليدل کولی شي او حقائق به په واضح توګه ګوري، نن ئې غوږونه د حق اورېدو ته کاڼه دي خو هغه ورځ به ئې غوږونه خلاص شي او هر څه به ښه اوري. نن د دنيا مال او متاع غولولې؛ خو هر څه به ترې پاته شي او الله تعالی به د ځمکې د هر څه يوازينی وارث وي، ټول به د الله تعالی په لوري درومي.

وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَـٰبِ إِبْرَٰهِيمَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَـٰٓأَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِى عَنكَ شَيْـًٔا ﴿٤٢﴾ يَـٰٓأَبَتِ إِنِّى قَدْ جَآءَنِى مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَٱتَّبِعْنِىٓ أَهْدِكَ صِرَٰطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يَـٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ ٱلشَّيْطَـٰنَ ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَـٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يَـٰٓأَبَتِ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ ٱلرَّحْمَـٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَـٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾

او په کتاب کې د ابراهيم يادونه وکړه؛ يقيناً چې هغه رښتينی نبي وو؛ هغه مهال چې خپل پلار ته ئې وويل: ګرانه پلاره! ولې د هغه څه عبادت کوې چې نه اوري او نهويني او نه کوم څه (ضرر) درنه دفع کولی شي. اې ګرانه پلاره! يقيناً چې ما ته داسي علم راپه برخه شوی چې تا ته نه دئ درکړی شوی؛ نو زما متابعت وکړه چې سمه لار دروښيم. اې زما ګرانه پلاره! د شيطان عبادت مه کوه؛ يقيناً چې شيطان د رحمن رب په وړاندې سرغړوونکی دئ. اې زما ګرانه پلاره! يقيناً چې زه له دې وېرېږم چې د رحمن رب له لوري په عذاب اخته شې او د شيطان ملګری شې.

۴۱-۴۵)- دلته د ابراهيم عليه السلام د قصې داسي يوه برخه زموږ په وړاندې ايښودل شوې چې د دې سورې د اساسي مضامينو لپاره يوه بله تاريخي بېلګه ده؛ په دې توګه:

- د ابراهيم يادونه وکړه چې هغه يقيناً رښتينی نبي وو، د هغه مهال يادونه چې خپل پلار ته ئې وويل: ګرانه پلاره! ولې د هغه څه عبادت کوې چې نه اوري او نه ويني او نه کوم تاوان او ضرر له تا دفع کولی شي؟ د ابراهيم پلار بتان لمانځل، دا بتان د تېرو شخصيتونو په نامه جوړ شوي او د هغوی مجسمې وې. د دوی انګېرنه دا وه چې دا نازولي شخصيتونه کولی شي د الله تعالی په وړاندې د دوی شفاعت وکړي، د دوی د دعاګانو د منل کېدو سپارښتنه وکړي، د دوی حاجتونه تر سره او د دوی مشکلات حل کړي. ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته وايي: دا بتان ستاسو دعاګانې نه اوري، ستاسو له حاله خبر نه دي، نه څه ګټه دررسولی شي او نه کوم تاوان او ضرر درنه دفع کولی شي؛ ولې د دوی عبادت کوئ؟!!

- بیا ورته وایي: اې ګرانه پلاره! یقیناً چې ما ته داسي علم راپه برخه شوی چې تا ته نه دئ درکړی شوی؛ نو زما متابعت وکړه چې سمه لار دروښیم، ما ته سمه لار معلومه شوې، الله تعالی ما ته علم او پوهه راکړې، راشه زما متابعت وکړه چې سمه لار دروښیم.
- بیا ورته وایي: اې زما ګرانه پلاره! د شیطان عبادت مه کوه؛ یقیناً چې شیطان د رحمن رب په وړاندي سرغړوونکی دئ. ګورئ چې دلته یو ځل بیا قرآن د شیطان اطاعت د ده له عبادت سره مترادف ګڼي؛ او د دې معنی دا ده چې اطاعت د عبادت یو مهم اړخ دئ. ځوك چي د الله تعالی د اوامرو او احکامو اطاعت نه کوي د عبادت دعوی ئې دروغجنه او بې اعتباره ده. ځوك چي د شیطان اطاعت کوي په حقیقت کې د هغه بنده دئ، ځوك چي طاغوت ته سر ټیټوي او د جابرو او ظالمو حکامو واکمني مني او خپلې شخړې او منازعات د هغوی د پرېکړو مطابق حلوي؛ د قرآن له نظره د هغوی عبادت کوي. ځوك چي د خپل نفس غوښتنو او هوسونو ته تسلیمېږي هغه د خپل نفس بنده دئ. ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته وایي چي د شیطان اطاعت او عبادت مه کوه، شیطان د خپل رب له اطاعت سرغړوونکی دئ، ځوك چي د هغه اطاعت کوي د خپل رب په وړاندي به باغي او سرغړوونکی شي.
- بیا ورته وایي: اې زما ګرانه پلاره! یقیناً چې زه له دې وېرېږم چې د رحمن رب له لوري په عذاب اخته شې او د شیطان ملګری شې. په همغه برخلیك به اخته شې چي شیطان ته ټاکل شوی، له هغه سره به یوځای په دوزخ کې پرېوځې.

ګورئ چي ابراهیم په څومره عطوفت، مهربانۍ او زړه سوي سره خپل پلار ته بلنه ورکوي، په وار وار د ګران پلار خطاب ورته کوي. په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي له مخاطب سره ستاسو چلن باید ډېر ښکلی او له مهربانۍ او عطوفت ډك وي، د یوه زړه سواند او مهربان داعي په توګه خلکو ته بلنه ورکړئ. ځیني د کمعلمۍ له کبله مفاهیم سره خلط کړي، ګمان کوي چي قرآن موږ ته د کافرانو په اړه د تشدد، سخت چلن او عدم نرمښت سپارښتنه کړې ده او الله تعالی دا خوښوي چي تندي مو کافر ته تریو وي او وینا مو تونده!! خو حقیقت دا دئ چي له کافرانو سره چلن له یوه حالت تر بل توپیر لري؛ قرآن موږ ته له محارب کافر سره د یوه ډول چلن سپارښتنه کوي، له هغه کافر سره چي زموږ مخاطب دئ او اسلام ته بلنه ورکوو د بل ډول چلن؛ او له هغه کافر سره چي له موږ سره مناقشه او بحث کوي خو د دې لپاره چي په حق پوه او پوښتني ئې ځواب شي؛ د بل ډول معاملې توصیه کوي. په یوه حالت کې به زموږ چلن داسي وي لکه د ابراهیم علیه السلام چلن له خپل پلار سره، په بل ځای کې به د قرآن د دې لارښوونې مصداق وي چي فرمایي:

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ النحل: ۱۲۵

د خپل رب لاري ته په حکمت او نېکې موعظې سره بلنه ورکړه؛ او په داسي توګه مجادله

ورسره کوه چې تر ټولو غوره وي. يقيناً چې ستا رب پر هغو ښه پوه دئ چې د ده له لاري تېروتي او هغه پر هدايت شوو هم ښه پوه دئ.

او له محارب دښمن سره د دې لارښووني مطابق:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٢٣ التوبه: ١٢٣

اې مؤمنانو! له هغو کافرانو سره وجنگېږئ چې درنژدې دي او حتماً دي په تاسو کې زيږوالی ومومي او په دې پوه شئ چې الله له داسي متقيانو سره (مل) دئ.

دې ته هم بايد متوجه وو چې له مور پلار سره زموږ چلن بايد همداسي وي لکه د ابراهيم عليه السلام چلن له خپل پلار سره. رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا مَعَهُ غُلَامٌ، فَقَالَ لِلْغُلَامِ: «مَنْ هَذَا؟» قَالَ: أَبِي. قَالَ: «فَلَا تَمْشِ أَمَامَهُ، وَلَا تَنْتَسِبَّ لَهُ، وَلَا تَجْلِسْ قَبْلَهُ، وَلَا تَدْعُهُ بِاسْمِهِ» المعجم الاوسط

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يو سړی وليد چي يو ځوان ورسره وو؛ ځوان ته ئې وويل: دا څوك دئ؟ وئې ويل: زما پلار؛ وئې فرمايل: نو تر ده وړاندي وړاندي مه ځه، د ده نسب مه يادوه، تر ده وړاندي مه کښېنه، او په خپل نامه ئې مه يادوه.

يعني تر خپل پلار به وړاندي نه ځې، مخکې له دې چي پلار دي کښېني ته به نه کښېنې، د پلار پر ځای به پلار جان ورته وايې، په خپل نامه به ئې نه يادوې، نسب به ئې نه بيانوې، که نه نو د عاق شوو او پلار مور ځوروونکو په فهرست کې به نيول کېږې.

د عاق په اړه رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ، وَلَا عَاقٌّ وَالِدَيْهِ، وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ" مسند احمد

له عبد الله بن عمرو روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: جنت ته نه منت ايښودونکی ننوتی شي، نه د مور پلار ځوروونکی او نه دائم الخمر (شرابي).

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ لَأَرۡجُمَنَّكَۖ وَٱهۡجُرۡنِي مَلِيّٗا
٤٦ قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَۖ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا ٤٧ وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا
تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيّٗا ٤٨

وئې ويل: اې ابراهيمه! آيا زما له معبودانو تېر شوى (څنګ ته شوى) يې؟ كه ډېره ونه كړې نو حتماً به دې رجم (سنګسار) كړم؛ او د تل لپاره له ما لرې شه. وئې ويل: سلام پر تا! حتماً به له خپل رب تا ته بخښنه وغواړم. يقيناً چې هغه ډېر راباندې مهربان دئ، زه له تاسو او له هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته ګمانځئ لرې كېږم؛ او خپل رب ته دعاء كوم؛ هيله ده چې خپل رب ته په دعاء كې كمبخت نه وم.

(٤٦-٤٨)- دلته د ابراهيم عليه السلام د دعوت په وړاندې د ده د مشرك پلار جاهلانه عكس العمل انځور شوى او په مقابل كې ئې د ابراهيم عليه السلام ښكلى او مؤدبانه ځواب: پلار ئې ورته وويل: اې ابراهيم! آيا زما له معبودانو دې لاس اخيستى؟!! كه داسې وې نو يا به دې سنګسار كړم، يا خو د تل لپاره له ما لرې شه، يعنې ستا سزا يا رجم او يا له وطن تبعيد دئ، ابراهيم عليه السلام ورته وويل: سلام پر تا! حتماً به له خپل رب تا ته بخښنه وغواړم. يقيناً چې هغه ډېر راباندې مهربان دئ، هيله ده زما مهربان رب ستا په اړه زما دعاء قبوله كړي، صحيح ده زه ستاسو له مخې لرې كېږم او ستاسو له هغو معبودانو هم لرې كېږم چې تاسو ئې له الله تعالى پرته ګمانځئ؛ او خپل رب ته دعاء كوم؛ هيله ده چې خپل رب ته په دعاء كې كمبخت نه وم او زما دعاء بې اجابته پرې نږدې.

فَلَمَّا ٱعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾

نو كله چې له دوى او له هغه څه چې دوى له الله پرته ګمانځل ګوښه شو؛ موږ اسحاق او يعقوب ورپه برخه كړل؛ او هر يو مو پيغمبر وګرځاوو؛ او دوى ټولو ته مو خپله پېرزوينه ورپه برخه كړه او د رښتيني ژبې لوړه يادونه مو ورته وټاكله.

(٤٩-٥٠)- دا مبارك آيتونه وايي چې ابراهيم عليه السلام د هجرت لار غوره كړه، له خپلوانو او د دوى له دروغجنو معبودانو لرې شو او د هجرت په عوض كې الله تعالى دا بدله وركړه:

- ده ته ئې اسحاق او ورپسې يعقوب عليهما السلام ورپه برخه كړل، دواړه د الله تعالى ستر ستر پيغمبران. په دې اړه څو خبرې په پام كې ولرئ: ١- په دې سره له يوې خوا قريشو ته ويل شوي چې ستاسو ستر جد ابراهيم عليه السلام له شرك او مشركينو سره خپله رابطه شلولې وه او ترې لرې شوى وو، ٢- له بلې خوا يهودانو ته ويل شوي چې ابراهيم عليه السلام ته هغه ستر مقام د دې لپاره وركړى شوى وو چې هغه يو موحد وو، د توحيد لپاره ئې له خپل مشرك پلار سره رابطه او تعلق وشلولو، د همدې لپاره الله تعالى د ده په كورنۍ كې پيغمبران راپيدا كړل، د پيغمبرۍ دا مقام نه موروثي دئ او نه نسبي، نه ابراهيم عليه السلام ته له خپل پلار په ميراث پاته شوى وو او نه تاسو ته له خپلو اجدادو دا مقام انتقال شوى،

تاسو هسې ځان ستانه ګڼئ او پر دې افتخار کوئ چې د ابراهيم او يعقوب عليهما السلام اولاد يئ!! دلته د اسمعيل عليه السلام د نوم نه يادول همدا مطلب افاده کوي چې خطاب يهودو ته متوجه دئ. ۳- له بلې خوا مسلمانانو ته ويل شوي چې که مکه درباندې تنګه شوه، د خپل ايمان له امله خپلوانو ګواښلې، نو د ابراهيم عليه السلام په څېر ترې بېل شئ او ډاډه اوسئ چې الله تعالی به داسې بدله درکړي چې ابراهيم عليه السلام ته ئې ورکړه.

- الله تعالی ابراهيم عليه السلام او د ده زوی او لمسي ته نه يوازې خپلې پېرزويني او رحمت ورپه برخه کړ بلکې په وروستنيو کې ئې د دوی لپاره داسې نېکه يادونه پرېښوده چې خلك ئې په لوړ نوم او رښتينولۍ يادوي او دا دئ تر نن پورې خلك ورباندې درود وايي.

---

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مُوسَىٰٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ مُخۡلَصٗا وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ﴿٥١﴾ وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ﴿٥٢﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ مِن رَّحۡمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيّٗا ﴿٥٣﴾

او په کتاب کې د موسی يادونه وکړه چې غوره شوی وو او نبي استازی وو؛ او موږ د طور له ښي اړخ ورغږ کړ او د نجوی لپاره مو رانژدې کړ؛ او د خپلې پېرزوينې له مخې مو د ده ورور هارون د نبي په توګه ورپه برخه کړ.

---

(۵۱-۵۳)- په دې مبارکو آيتونو کې د موسی عليه السلام يادونه شوې او دا ځانګړتياوې ئې انځور شوې:

- د خلکو له منځه غوره کړی شوی وو، تر ټولو خلکو غوره انسان وو.
- له حقائقو خبر استازی وو، الله تعالی د استازي او رسول په توګه لېږلی او له حقائقو خبر (نبي) وو.
- الله تعالی د خپلې پېرزوينې له مخې د ده ورور هارون هم د نبي په توګه د ده خوا ته وګمارو.

په دې سره هم يهودو ته ويل شوي چې د هارون عليه السلام انتخاب د نسبي او قومي تړاو او تعلق له مخې نه وو؛ بلکې د الله تعالی له لوري پر موسی عليه السلام د يوې پېرزوينې له مخې وو، هغه د يوه مرستيال هيله کړې وه، الله تعالی ئې دا هيله تر سره کړه.

---

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِسۡمَٰعِيلَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ يَأۡمُرُ أَهۡلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرۡضِيّٗا ﴿٥٥﴾

او په کتاب کې د اسمعيل يادونه وکړه چې يقيناً په ژمنو کې رښتينی وو او نبي استازی

وو؛ او خپل ټبر به ئې پر لمانځه او زکات ګمارو؛ او د خپل رب په وړاندې د رضايت وړ وو.

(٥٤-٥٥)-په دې مبارکو آيتونو کې د اسمعيل عليه السلام يادونه شوې او دا ځانګړتياوې ئې بيان شوې:

- په خپلو ژمنو کې رښتينی وو.
- نبي استازی وو، الله تعالی د استازي او رسول په توګه لېږلی او له حقائقو خبر (نبي) وو.
- خپل ټبر به ئې پر لمانځه او زکات ګمارو.
- او د خپل رب په وړاندې د رضايت وړ شخصيت وو.

دلته د خطاب مخه قريشو ته راجع ده، هغوی ځان اسمعيل عليه السلام ته منسوبولو او پر دې ئې فخر کولو او ځان ئې تر نورو لوړ ګڼلو. الله تعالی د اسمعيل عليه السلام دا ځانګړتياوې د دوی مخې ته ږدي او په دې سره ورته وايي: تاسو د خپل جد په لار روان نه يئ، هغه مواصفات په تاسو کې نشته چې اسمعيل عليه السلام درلودل. صداقت، په خپلو وعدو او ژمنو وفا کول، خپل ټبر پر لمانځه او زکات ګمارل؛ د اسماعيل عليه السلام هغه ځانګړتياوې وې چې په تاسو کې نشته.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيّٗا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾

او په کتاب کې د ادريس يادونه وکړه چې ډېر رښتينی پيغمبر وو او لوړ مقام ته مو ورساوو.

(٥٦-٥٧)- دلته د ادريس عليه السلام يادونه شوې او دا ئې مواصفات ښودل شوي:

- ډېر رښتينی پيغمبر وو.
- لوړ مقام مو ورپه برخه.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٖ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْۤ سُجَّدٗا وَبُكِيّٗا۩ ﴿٥٨﴾

دوی له هغو انبياءو دي چې الله پرې پېرزوينه کړې، د آدم او د هغو له اولاد چې له نوح سره مو (په بېړۍ کې) سپاره کړل؛ او د ابراهيم او اسرائيل له اولاد؛ او له هغو چې هدايت مو کړل او غوره مو کړل. کله چې د رحمن رب آيتونه پرې تلاوت کېدل نو سجده کوونکي او ژړېدونکي به (پر زمکه) پرېوتل.

(۵۸)- په دې مبارك آیت کې د وړاندې ذکر شوو پیغمبرانو په اړه لاندې یادونې شوې:

- دوی هغه پیغمبران دي چې الله تعالی پرې پېرزوینه کړې.
- د آدم علیه السلام او د هغو خلکو د اولاد له ډلې چې الله تعالی له نوح سره یو ځای په بېړۍ کې سپاره کړل او له غرقېدو ئې وژغورل؛ او د ابراهیم او یعقوب علیهما السلام له اولاد.
- دوی د هغو شخصیتونو له ډلې دي چې الله تعالی هدایت کړل او د خلکو د لارښوونې لپاره ئې غوره کړل.
- حالت ئې داسې وو چې کله به ئې د خپل مهربان رب آیتونه واورېدل نو په سجده به پرېوتل او له سترګو به ئې اوښکې بهېدې.

د دې آیت له لارښوونو څو خبرې معلومېږي: ۱- د سورې له پیل تر دې ځای چې د کومو پیغمبرانو علیهم السلام یادونه شوې او د دوی قصې زموږ په وړاندې ایښودل شوې وې د ټولو مقصد دا وو چې موږ ته دغه مطالب واضح کړي چې په دغه آیت کې راغلي. ۲- له نوح علیه السلام وروسته نسلونه یوازې د ده اولاد نه دي؛ هغسې چې بایبل وایي او بني اسرائیل ئې انګېري. له نوح علیه السلام سره د ده پر اولاد سربېره نور خلك هم په کشتۍ کې ژغورل شوي او ځینې پیغمبران د دغو خلکو په اولاد کې مبعوث شوي. ځکه په دې آیت کې د نوح پر اولاد سربېره د ده د ملګرو د اولاد یادونه شوې. د هود د سورې له ٤٨ آیت په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د نوح علیه السلام طوفان نړېوال طوفان نه وو:

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٨﴾ هود: ٤٨

وویل شول: اې نوح! زما له لوري له سلامتیا او هغو برکتونو سره کوز شه چې پر تا او هغو ډلو (نازل شوی) دئ چې له تاسره دي. او ځینې ډلې داسې دي چې (د دنیا له متاع به ئې) برخمن کړو بیا به زموږ په دردوونکي عذاب اخته شي.

د آیت له وروستۍ برخې داسې معلومېږي چې د نوح علیه السلام له غرق شوي قوم او ژغورل شوو ملګرو علاوه د زمکې پر سر داسې قومونه ول چې لا ئې د تعذیب پرېکړه نه وه شوې. دا فقره د هغو درنو مفسرینو رأیه تأییدوي چې وایي د نوح علیه السلام په طوفان کې نه ټوله نړۍ غرقه شوې او نه د زمکې د سر ټول انسانان.

---

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾

بیا له دوی وروسته هغه خلف (بد وروستني) ورپسې شول چې لمونځ ئې ضائع کړ او د نفسي غوښتنو متابعت ئې وکړ نو خود به له ورکاوي سره مخامخ کېږي.

(۵۹)- په دې مبارك آيت کې د ټولو مخکينيو قصو پايله په دې توگه انځور شوې: له هر پيغمبر وروسته داسي بد خلف (وروستني) ورپسې شوي چي (لمونځ ئې ضائع کړی) او (د نفسي غوښتنو متابعت ئې کړی) او د همدې دواړو له کبله له ورکاوي سره مخامخ شوي.
دلته قرآن عظيم الشان د ناصالح خلف او د هغه نا اهله ټولگي چي نه دئ توانېدلی د خپل پتمن او سرلوړي سلف د عظمتونو او جلال ساتنه وکړي؛ دوه لويي او اساسي نښي په گوته کوي: د لمانځه ضائع کول او د هوس بندگي. يعنی چا چي لمونځ ضائع کړ او د نفس بنده شو؛ هغه د يوه باعزته او باعظمته قوم د شرف او د سرلوړی د لرغوني ميراث ساتنه نشي کولی؛ ډېر ژر به په ميراث تر لاسه کړی عزت بايلي او له سپکاوي او ورکاوي سره به مخامخ کېږي.
دلته دا پوښتنه راولاړېږي چي ولي ټول انحرافات په دغو دوو (لمونځ ضائع کول) او (د نفسي غوښتنو متابعت) کې راخلاصه شوي؟ آيا دلته له لمانځه همدا د رکوع او سجود لمونځ مراد دئ او که ټول هغه تعلقات (صلات) چي دين ئې د ټينگ ساتلو امر کوي؟ آيا د دې معنی دا ده چي لمونځ د ايمان اساسي نښه ده؛ هغه څوك ئې ضائع کوي چي د دين له دائرې وتلو ته نژدې شوی وي؟!! او که ئې معنی دا ده چي د قومونو د انحراف لړۍ د لمانځه له ضائع کېدو پيل کېږي او د هوس په بندگۍ منتج کېږي؟!! د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چي دا وروستی تعبير دقيق دئ.

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْـًٔا ۝٦٠ جَنَّٰتِ عَدْنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعْدُهُۥ مَأْتِيًّا ۝٦١ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَٰمًا ۖ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ۝٦٢ تِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيًّا ۝٦٣

مگر هغه چي توبه ئې وکړه، ايمان ئې راوړ او نېك عمل ئې وکړ؛ چي دوی به جنت ته ننوځي او هيڅ ظلم به نه پرې کېږي. هغه تلپاته جنتونه چي رحمن رب ئې خپلو بندگانو ته په غياب کې وعده ورکړې. يقيناً چي د هغه وعده حتماً راتلونکې (تر سره کېدونکې) ده. په هغه کې به چټي خبره نه اوري (يوازي) سلام سلام به اوري؛ او دوی ته به خپل رزق سبا او ماښام ورپه برخه وي. دا همغه جنت دئ چي په خپلو بندگانو کې ئې هغه چا ته په ميراث ورکوو چي متقي وي.

(٦٠-٦٣)- په دې مبارکو آيتونو کې هغه څوك له وړاندي ياد شوي بد برخليك په امان کې گڼل شوی چي توبه وکړي، ايمان راوړي او نېك عمل وکړي. دوی ته د څو خبرو زېری ورکړی

شوی: جنت ته به ننوځي، هيڅ ظلم به نه پرې کېږي، هغه تلپاته جنتونه به ئې په برخه شي چې رحمن رب ئې خپلو بندگانو ته په غياب کې (تر هغه وړاندې چې دوی ئې په خپلو سترگو وگوري) وعده ورکړې. يقيناً چې د ده وعده حتماً تر سره کېدونکې ده. په دې جنتونو کې به خوشې خبره نه اوري، يوازې سلام سلام به اوري، دوی ته به سبا او ماښام خپل رزق ورکول کېږي. دا جنت به د الله تعالی هغو بندگانو ته په ميراث ورکول کېږي چې متقي وي.

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُۥ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَٱعْبُدْهُ وَٱصْطَبِرْ لِعِبَٰدَتِهِۦ هَلْ تَعْلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾

او موږ يوازې ستا د رب په حکم راکوزېږو؛ ټول هغه څه د ده دي چې زموږ تر مخ دي او څه چې زموږ تر شا دي او څه چې د دواړو تر منځ دي. ستا رب هېروونکی نه دئ. د آسمانونو، زمکې او هغه څه رب چې د دوی تر منځ دي. نو عبادت ئې کوه او پر عبادت ئې صبر کوه. آيا کوم همنومی ورته پېژنې؟!

(٦٤-٦٥)- د دې مبارکو آيتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د فرشتو دا وينا راغلې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وايي: موږ يوازې ستا د رب په حکم راکوزېږو، هغه زموږ د کوزېدا نېټه ټاکي، د ماضي، حال او مستقبل پرېکړې د ده له لوري کېږي، د ټولو هغو چارو واکمن دئ چې نن يا تر دې وړاندې او وروسته تر سره کېږي، ستا رب هېروونکی نه دئ. که زموږ په راتگ کې کله ځنډ راځي نو د دې معنی دا نه ده چې ته خپل رب هېر کړی يې، ستا رب د آسمانونو، زمکې او هر هغه څه رب دئ چې د دوی تر منځ دي. نو پر عبادت ئې لگيا اوسه او که په دې لار کې له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کېږې نو صبر کوه. له ده پرته نه بل معبود شته او نه ولي او مرستندوی، آيا په ټول عالم کې کوم همنومی او نظير ورته مومې؟!
- د آيت له فحوی داسې معلومېږي چې د دې آيت د نزول په شپو ورځو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه په داسې سخت او ستونزمن حالت کې وو چې د وحي د نزول تلوسه ئې درلوده، چې له يوې خوا ئې لارښوونه وشي او له بلې خوا ډاډ او اطمئنان ورکړی شي. د فرشتو له قول دوی ته ويل شوي چې د دوی راتگ د الله تعالی په امر تر سره کېږي، د مخکينيو او وروستنيو پېښو په اړه اوامر د الله تعالی له لوري صادرېږي، مطمئن اوسه چې خپل رب هېر کړی نه يې.
- خو دا پوښتنه راولاړېږي چې د دې آيت ارتباط له مخکينيو سره څنگه دئ؟ آيا مخامخ له مخکينيو آيتونو سره تړاو لري او هغه څنگه؟ او که د سورې له کومې بلې برخې سره؟ که

لږ څېړ شو نو وبه ګورو چې د سورې په سر کې لومړی د زکريا عليه السلام په قصې کې د فرشتو راتګ ته اشاره شوې او هغه هم په داسې وخت کې چې زکريا عليه السلام ډېر پرېشان وو او الله تعالی ته ئې خپل عجز او احتياج وړاندې کړی وو، په همدې حالت کی فرشتې ورته راغلې او د صالح زوی او نېك وارث زېری ئې ورکړ، ورپسې مو د مريمې رضی الله عنها په قصې کې وليدل چې په داسې سخت او ستونزمن حالت کې فرشته ورته راغله او زېری ئې ورکړ چې د ډېرو اندېښنو له کبله ئې د مرګ تمنی کوله؛ اوس چې د سورې په دغې برخې کې د دغو قصو لړی پای ته رسېدلې او د قصو موخې او مقاصد هم بيان شوې؛ طبيعي ده چې د دغو قصو د اورېدو په دوران کې به له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره دا هيله راپيدا شوې وې چې ده ته هم د زکريا عليه السلام او مريمې رضی الله عنها په څېر د فرشتو له لارې د روڼ سباوون زېری ورکړی شي. په دې آيت کې د دغې هيلې ځواب د فرشتو له قول ورکړی شوی او ورته ويل شوې: فرشتې ستا د رب په حکم راکوزېږي، هغه ئې د کوزېدا نېټه ټاکي، د ماضي، حال او مستقبل پرېکړې د ده له لورې کېږي، د ټولو چارو واکمن دئ، خپل رب هېر کړی نه يې، که د فرشتو په راتګ کې کله ځنډ راځي نو د دې معنی دا نه ده چې ته خپل رب هېر کړی يې، ستا رب د آسمانونو، زمکې او هر هغه څه رب دئ چې د دوی تر منځ دي، ته د خپل رب پر عبادت لګيا اوسه او که په دې لار کې له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کېږې نو صبر کوه.

---

وَيَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوۡفَ أُخۡرَجُ حَيًّا ٦٦ أَوَ لَا يَذۡكُرُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ يَكُ شَيۡـٔٗا ٦٧ فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحۡضِرَنَّهُمۡ حَوۡلَ جَهَنَّمَ جِثِيّٗا ٦٨ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمۡ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ عِتِيّٗا ٦٩ ثُمَّ لَنَحۡنُ أَعۡلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمۡ أَوۡلَىٰ بِهَا صِلِيّٗا ٧٠

او دا انسان وايي: آيا کله چې ومرم نو هرومرو به (له قبر) ژوندی راوځم؟! آيا دا انسان دا نه ورپه يادوي چې موږ تر دې وړاندې په داسې حال کې پيدا کړ چې هيڅ شیء نه وو، نو ستا په رب لوړه چې حتماً به دوی او شيطانان راغونډ کړو بيا به ئې د دوزخ چاپېر په ګونډو پراته حاضر کړو، بيا به له هرې ډلې هغه ترې راوباسو چې د رحمن رب په وړاندې تر ټولو په سرکښی کې شديد وي، بيا موږ پر هغو ډېر ښه پوه يو چې په دې کې د غورځېدو له پلوه ډېر وړ دي.

---

(٦٦-٧٠)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت او بېاژوندون په اړه د کافر انسان پوښتنه او د هغې ځواب په دې توګه راغلې:

- دا کافر او له آخرت منکر انسان وايي: آيا کله چې ومرم نو هرومرو به له قبر ژوندی

راوځم؟! څنګه ومنم چې له مړيني وروسته او په داسې حال کې چې تر خاورو لاندې ښخ شوی يم او هر څه مې خاورې شوي، بېرته به راژوندی کېږم او له قبر به ژوندی راوځم؟!!

- ده ته په ځواب کې ويل شوي: آيا دې انسان دا خبره هېره کړې چې الله تعالی تر دې وړاندې په داسې حال کې پيدا کړ چې هيڅ شیء نه وو؟ آيا له نست ئې هست نه کړ؟ آيا له خاورې ئې پيدا نه کړ؟!! ولې له خاورې بيا پيدا کېدا ورته محال برېښي؟!
- دا د الله تعالی قطعي پرېکړه ده او لوړه ئې کړې چې حتماً به دوی هم او د دوی هغه شيطانان هم چې دوی ئې غولولي؛ بياراژوندي کوم، يو ځای به ئې راغونډوم، د دوزخ شاوخوا کې به ئې په ګونډو پراته حاضروم، بيا به له هرې ډلې هغه ترې راوباسم چې د رحمن رب په وړاندې تر ټولو په سرکښۍ کې شديد وو، بيا به د خپل علم له مخې هغه تر نورو وړاندې په دوزخ کې غورزوم چې په هغه کې د غورزېدو له پلوه تر نورو زيات وړ وي.

وَإِن مِّنكُمۡ إِلَّا وَارِدُهَاۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتۡمٗا مَّقۡضِيّٗا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيّٗا ﴿٧٢﴾

او ستاسو هر يو به ورننوتونکی وي، ستا پر رب ده؛ حتماً تر سره کېدونکې پرېکړه، بيا به هغه کسان وژغورو چې تقوی ئې کړې او ظالمان به پر ګونډو پراته په کې پرېږدو.

(۷۱-۷۲)- دا مبارك آيتونه وايي چې هر انسان به دوزخ ته ننوځي، دا د الله تعالی قطعي او نه بدلېدونکې پرېکړه ده چې حتماً تر سره کېږي، خو متقيان به ژغورل کېږي او ظالمان به په داسې حال کې په دوزخ کې پاته کېږي چې پر ګونډو به پراته وي. دا پوښتنه راولاړېږي چې آيا نېکان به هم دوزخ ته ننوځي؟ ځواب دا دئ چې هو؛ حتی متقيان به هم دوزخ ته ننوځي، يعنې د جنت لار د دوزخ له منځه تېره شوې، متقيان به هم له دې لارې جنت ته رسي. خو په رواياتو کې د دې وضاحت شوی، ويل شوي چې دا لار به يوه پول ته ورته وي چې د دوزخ له پاسه به وي، چا ته به پراخ شي او د سترګو په رپ کې به ترې تېر شي، پرته له دې چې د دوزخ لمبې او تاو ئې لمس کړي، ځيني به ترې لاندې دوزخ ته ولوېږي، ځيني به لږ، ځيني ډېر او ځيني به د تل لپاره په کې پاته شي.

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ خَيۡرٞ مَّقَامٗا وَأَحۡسَنُ نَدِيّٗا ﴿٧٣﴾ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هُمۡ أَحۡسَنُ أَثَٰثٗا وَرِءۡيٗا ﴿٧٤﴾

او کله چې زموږ آيتونه پرې تلاوت شي هغه چې کفر ئې کړی هغو ته چې ايمان ئې

راوړي وايي: کومه ډله د مقام له پلوه غوره ده او د جلسو له پلوه ښايسته او ډولي.
او څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دې وړاندې هلاك کړل چې سامان او ظاهري حالت ئې ډېر ښايسته وو.

(٧٣-٧٤)- دلته د کافرانو د مستي او غرور حالت او د مسلمانانو پرېشانه وضع انځور شوې او ويل شوي: کله چې به کافرانو ته د قرآن آيتونه واورول شول نو دوی به نه يوازې انکار کولو بلکې ويل به ئې: موږ هم د اجتماعي حيثيت او مقام له پلوه تر تاسو غوره يو او هم د پلويانو د شمېر له پلوه تر تاسو وړاندې، د ټولني اکثريت زموږ ملاتړ کوي، شتمن زموږ خوا کې دي، ولس ته منلي مذهبي، سياسي او قومي مشران له موږ سره دي، له تاسو سره د ټولني بې وزلي، نيستمن او بې اعتباره خلك هغه هم د ګوتو په شمېر ملګرتيا کوي!! له دې سره سره څنګه ګمان کوئ چې تاسو په حقه يئ او ستاسو دين تر موږ غوره دئ؟!! دلته د دوی په ځواب کې ويل شوي: الله تعالی څومره پېړۍ پېړۍ خلك تر دې وړاندې هلاك کړل چې سامان او ظاهري حالت ئې ډېر ښايسته او غولوونکی وو، تر تاسو په هر څه کې وړاندې ول، هم ئې امکانات او وسائل زيات ول او هم ئې پلويان او ملاتړي؛ خو د کفر، شرك، فساد او ظلم له کبله په الهي عذاب اخته او هلاك شول، بايد پوه شئ چې ستاسو پايله به هم دې ته ورته وي.

قُلْ مَن كَانَ فِي ٱلضَّلَٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ مَدًّاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْاْ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلْعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾

ووايه: څوك چې په ضلالت کې وي نو رحمن رب څه مهلت ورکوي؛ حتی چې هغه څه وګوري چې وعده ئې ورسره کېږي: يا عذاب او يا همغه نېټه؛ نو حتماً به پوه شي چې څوك د مقام له پلوه بد دئ او د لښکر له پلوه کمزوری.

(٧٥)- هغو مغرورو کافرانو ته چې حرام مال، کاذب اجتماعي وجاهت، طماع پلويان او ملاتړي د حق او باطل معيار ګڼي او همدې ته په پام سره ځان تر مؤمنانو غوره ګڼي؛ ويل شوي: دا يو الهي سنت دئ چې کله کله لار ورکو او په کفر او ضلالت کې پرېوتو ته هم د مال او متاع پراخوالي کې مهلت ورکوي، ځيني تر هغه خپلي مخي ته پرېږدي چې له الهي مقدر عذاب سره مخامخ شي او ځيني د قيامت ورځ ته محول کوي، کله چې د مهلت دا نېټه پای ته ورسېږي نو حقيقت به ورته څرګند شي او په دې به پوه شي چې څوك د مقام له پلوه بد دئ او د لښکر له پلوه کمزوری.

وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْاْ هُدًىۗ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا

وَخَيۡرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

او الله هغو ته لازیاته لارښوونه کوي چې د هدایت لار ئې نیولې؛ او صالح پاته شوني د الله خوا ته هم د ثواب له پلوه غوره دي او هم د پایلو له پلوه غوره.

(۷٦)- په دې مبارك آیت کې د الله تعالی یو بل نه بدلېدونکی سنت زموږ مخې ته ځلېږي، د مخکیني عکس او دا د مؤمنانو په اړه؛ او هغه دا: څوك چې د هدایت په لار روان شي نو الله تعالی د هدایت پراخې دروازې د هغه په وړاندې پرانېږي او گام په گام ئې لازیات هدایت کړي، داسې صالح پاته شوني ئې په برخه شي چې هم د ثواب له پلوه غوره وي او هم د پایلو له پلوه غوره. عملونه ئې له پایښت برخمن شي، تل نېك آثار پرې مرتب کېږي، ثوابونه ئې د الله تعالی په خوا کې خوندي وي، هیڅکله نه ضائع کېږي او بې نتیجې نه پاته کېږي.

أَفَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالٗا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ ٱلۡغَيۡبَ أَمِ ٱتَّخَذَ
عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدٗا ﴿٧٨﴾ كَلَّاۚ سَنَكۡتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلۡعَذَابِ مَدّٗا ﴿٧٩﴾
وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأۡتِينَا فَرۡدٗا ﴿٨٠﴾

آیا هغه دي ولید چې زما له آیتونو ئې انکار وکړ او وئې ویل: حتماً به مال او اولاد راپه برخه شي!، آیا له غیبو خبر شوی او که له رحمن رب ئې کومه ژمنه تر لاسه کړې؟!، داسې نه ده؛ حتماً به هغه څه ولیکو چې دی ئې وایي او په ځانگړې پراخولو سره به عذاب ورته پراخ کړو؛ او هغه څه به په میراث ترې واخلو چې دی ئې وایي او موږ ته به یوازی او گوښی راشي.

(۷۷-۸۰)- په دې مبارکو آیتونو کې د هغو وگړو خوشې او بې بنسټه هیلې او طمعې انځور شوې چې گمان کوي د کفر او کافرانو غېږ ته په پناه وړلو سره به د مال خاوند شي او اجتماعي وجاهت او اعتبار به ئې په برخه شي!! وایي: آیا هغه چا ته دې پام کړی چې د الله تعالی له آیتونو ئې انکار وکړ او وئې ویل: حتماً به مال او اولاد راپه برخه شي!، آیا دا انگېرنه ئې له دې امله ده چې له غیبو خبر شوی؟! او که له دې امله چې له الله تعالی ئې کومه ژمنه تر لاسه کړې؟!، څنگه گمان کوي چې د کفر او کافرانو په غېږ کې به د ده هیلې تر سره او مال، وجاهت او اقتدار به ئې په برخه شي؟ چا له غیبو خبر کړی او په کوم الهي کتاب کې ئې دا لوستلي؟!! داسې نه ده؛ حتماً به هغه څه ولیکو چې دی ئې وایي او د مالي پراخوالي او د وجاهت زیاتوالي پر ځای به له ځانگړې پراخ عذاب سره مخامخ شي. همدغه غلطه وینا او کچه انگېرنه به په میراث ترې پاته شي او الله تعالی ته به تش لاس، یوازی او

ګوښی وړاندي شي. هر انسان به بېل او له نورو جلا له خپل قبر او مدفن راپاڅېږي او د الله تعالی په لوري به خوځول کېږي، له دوستانو او خپلوانو، قوم او قبيلې، حزب او ډلې، پلويانو او سپاهيانو، حاميانو او ملګرو او له ټولو هغو چې په دنيا کې ئې د ده شاوخوا نيولې وه او ده پرې حساب کاوو؛ نن به د دوی هيڅوك په خپلې خوا کې نه مومي، ګوښی او يوازې به د الله په لور درومي.

---

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُواْ لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّاۚ سَيَكۡفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُونُونَ عَلَيۡهِمۡ ضِدًّا ﴿٨٢﴾

او له الله پرته ئې داسې معبودان ونيول چې دوی ته د عزت او قوت سبب شي، داسې نه ده؛ حتماً به د دوی له عبادت انکار کوي او د دوی ضد او دښمن به شي.

---

(٨١-٨٢)- دلته د مشرکينو هغه انګېرنه په ګوته شوې چې له الله تعالی پرته نور معبودان د دې لپاره غوره کوي چې دا به عزت او قوت ورپه برخه کړي. د عزت غولوونکې طمع ئې له الله تعالی پرته د بل درشل کې دروي. خو الله تعالی د هغوی د دې غلطې طمعې په اړه فرمايي: داسې نه ده؛ دا هيله به ئې تر سره نشي، هغه ورځ به هرومرو راشي چې دا جعلي معبودان به د دوی له عبادت انکار کوي، دوی به دروغجن ګڼي، د دوی په ضد به ولاړ وي او د دوی په خلاف به شهادت ورکوي.

---

أَلَمۡ تَرَ أَنَّآ أَرۡسَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمۡ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدًّا ﴿٨٤﴾

آيا پام دې نه دئ چې موږ شيطانان کافرانو ته ورلېږلو چې په وار وار ئې هڅوي، نو تلوار مه پرې کوه؛ يقيناً چې موږ (شېبې) په ښو شمېرلو سره ورته شمېرو.

---

(٨٣-٨٤)- دا مبارك آيتونه ښيي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه د مخالفينو له اذيتونو او ځورونو سخت تنګ شوي ول، شيطانانو او وسوسو ئې د دوی دښمنان ډول ډول فتنو ته او د مسلمانانو په ضد خصمانه اقداماتو ته هڅول. د مؤمنانو هيله دا وه چې الله تعالی دا حالت ژر بدل کړي او د دښمنانو اذيتونه پای ته ورسوي. الله تعالی خپل پيغمبر او مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې عجله او تلوار مه کوئ، بې صبره کېږئ مه، دښمن او کړني ئې د الله تعالی تر نظر لاندې دي، شېبې په دقت سره شمېري، هغه ورځ به په خپل وخت او له هيڅ تغيير او ځنډ پرته راځي چې الله تعالی د دوی د تعذيب لپاره ټاکلې ده، الله تعالی ښه پوهېږي چې د مهلت څومره برخه تېره شوې او څومره پاته ده او کله به پای ته

رسي او د عذاب پرېکړه به تحقق مومي.

يَوۡمَ نَحۡشُرُ ٱلۡمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ وَفۡدٗا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرۡدٗا ﴿٨٦﴾
لَّا يَمۡلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدٗا ﴿٨٧﴾

هغه ورځ چې متقیان به د رحمن رب لوري ته د (درنو) پلاوو په توګه راغونډ کړو؛ او مجرمین به د تږو څناورو په څېر د دوزخ په لور وخوزوو، د شفاعت توان به له هغه چا پرته بل څوك نه لري چې له رحمن رب ئې کومه ژمنه او فرمان تر لاسه کړی وي.

(۸۵-۸۷)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت د هيبتناکې ورځې هغه حالت انځور شوی چې يوې خوا ته به پاك لمني او متقي مؤمنان د درنو پلاوو په څېر د خپل رحمن رب په وړاندې راغونډېږي او بلې خوا ته به مجرم کافران د دوزخ په لوري داسې خوزول کېږي لکه شپون چې د لرګي په خوزولو سره تږي څاروي د اوبو لوري ته شړي. له هيچا سره به نه د شفاعت توان وي او نه ئې جرأت او جسارت؛ او نه به ئې شفاعت په برخه کېږي او څه ګټه به وررسوي. یوازې هغه څوك به د شفاعت مجال تر لاسه کوي او شفاعت به ګټه وررسولی شي چې الله تعالی هغه ته د بل په اړه د شفاعت کولو اجازه ورکړې. هغه مجرمین چې د يوه او بل نازولي د شفاعت په طمع ئې جرمونه کول، باور ئې دا وو چې د قيامت په ورځ به ئې پیر، مرشد او معبود له الهي مؤاخذې ژغوري او د دوی د شفاعت له امله به جنت ته درومي، بايد پوه شي چې دا شفاعت به ئې نه په برخه شي او نه به ګټه وروروسوي.

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗا ﴿٨٨﴾ لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدّٗا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ
يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ﴿٩١﴾
وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ
ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ﴿٩٣﴾

او وئې ويل: رحمن خدای (ځان ته) زوی ټاکلی! يقيناً چې دا يوه ډېره بده او خوشې وينا ده چې تاسو (په خوله) راوړه. له دې خبرې نژدې ده آسمان ټوټې ټوټې شي، زمکه وچوي او غرونه وران او رانسکور شي؛ چې رحمن خدای ته د زوی ادعاء کوي؛ حال دا چې له رحمن خدای سره نه ښايي چې ځان ته کوم زوی غوره کړي؛ د آسمانونو او زمکې هر څه د ده په وړاندې د بنده په توګه رادرومي!!

(۸۸-۹۳)- په دې مبارکو آيتونو کې د يوې بلې ډلې شرکي او انحرافي باورونو ته اشاره شوې،

هغه چې الله تعالی ته زوی او ځای ناستی ثابتوي، يو کس د خدای زوی ګڼي او د هغه اولاد د خدای د ځانګړې او نازولې کورنۍ غړي. ډېرو جاهلو او شرك وهلو قومونو دا کار کړی، يهودو عزير عليه السلام د خدای زوی وګڼلو او نصرانيانو عيسى عليه السلام، بني اسرائيلو خپل ټول قوم د خدای نازولي، محبان، دوستان او زامن وګڼل، شيعه د علي رضی الله عنه او د هغه د اولاد په اړه همغه عقيده لري چې يهود او نصارى ئې د عزير او عيسى عليهما السلام په اړه لري. خو قرآن په دې اړه فرمايي: څوك چې رحمن خدای ته زوی منسوبوي؛ دا يوه ډېره بده او چټي وينا ده چې هغه خپله خوله پرې پرانيزي، دا دومره کرکجنه خبره ده چې نژدې ده آسمان ئې په اورېدو سره ټوټې ټوټې شي، زمکه وچوي او غرونه وران او نسکور شي. له رحمن خدای سره نه ښايي چې ځان ته کوم زوی غوره کړي، هغه په ټول عالم کې نه سيال لري، نه مرستيال، نه ځای ناستی او نه کوم نازولی زوی. د آسمانونو او زمکې هر څه د ده په وړاندې د بنده حيثيت لري، يوازې هغه څه کولی شي چې الله تعالی ئې د کولو توان او توفيق ورکړي. داسې ټولواك او څواکمن رب به ولې زوی او ځای ناستی ځان ته ټاکي؟ ځای ناستی خو هغه څوك ځان ته ټاکي چې په يوازې سر او د بل له مرستې پرته د خپل ملك له ادارې عاجز وي!!

لَّقَدۡ أَحۡصَىٰهُمۡ وَعَدَّهُمۡ عَدّٗا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمۡ ءَاتِيهِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَرۡدًا ﴿٩٥﴾

او يقيناً چې پر ټولو ئې احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي. او هر يو به د قيامت په ورځ يوازې يوازې ورشي.

(٩٤-٩٥)- په دې مبارکو آيتونو کې مخکينی مطلب مزيد توضيح شوی او ويل شوي: الله تعالی د دې عالم پر ټولو مخلوقاتو احاطه کړې؛ داسې ټولواك ذات به ولې ځای ناستی او شريك غوره کوي؟!! الله تعالی د عالم ټول مخلوقات په ښو شمېرلو سره شمېرلي، شريك او مرستيال ته خو هغه څوك اړ وي چې د خپل ملك او تر خپلې واکمنۍ لاندې شيانو په اړه جامع او بشپړ علم نه لري، بل د شمېرنې په اړه ورسره مرسته کوي، شفاعت خو د هغه چا په وړاندې کېدی شي چې د يو چا له ښېګڼو واقف نه وي او بل ورته وايي: دا د پېرزوينې وړ دئ، تا ته مخلص دئ، ګناه ئې دومره ستر نه ده چې سزا ورکړی شي!! د هغه الله تعالی په وړاندې به شفاعت څه ارزښت ولري چې نېك او بد، صالح او طالح، جنتي او دوزخي، د مکافات او مجازات وړ ورته معلوم وي؟ الله تعالی د عالم هر څه په دقيقه توګه شمېرلي، د همدې دقيقې شمېرنې له مخې وايي چې د عالم هر څه د ده د بنده حيثيت لري، په ټول عالم کې نه کوم شريك ورته شته او نه کوم ځای ناستی. هر څه ورته منقاد دي. د قيامت په ورځ به هر څوك يوازې يوازې د الله تعالی حضور ته وړاندې شي، نه به ئې مدافعين او حاميان ګټه وررسولی شي او نه دوستان او محبان.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا
يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوۡمٗا لُّدّٗا ﴿٩٧﴾ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم
مِّن قَرۡنٍ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُم مِّنۡ أَحَدٍ أَوۡ تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزَۢا ﴿٩٨﴾

یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته (په زړونو کې) مینه او دوستي پیدا کړي. نو موږ ستا پر ژبه آسان کړ چې متقیانو ته زېری پرې ورکړې او سرټمبه وګړو ته خبرداری ورکړې. او څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دوی وړاندې هلاك کړل، آیا د دوی د کوم یوه (څه نښه) احساسوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

---

(۹۶-۹۸)- د دې مبارکو آیتونو ځلانده لارښووني دا دي:

- هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته په زړونو کې مینه او دوستي پیدا کړي. د خلکو په زړونو کې به ځای لري، صالح او نېك خلك به د خیر دعاء ورته کوي او په ښه نامه به ئې یادوي.
- د الله تعالی هغه کتاب چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی متقیانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي او سرټمبه وګړو ته د بدو پایلو خبرداری.
- د دغو لجوجو دښمنانو او مخالفینو عاقبت به همغسې وي لکه د دوی د اسلافو. نه ګورې چې الله تعالی څومره پېړۍ پېړۍ خلك تر دوی وړاندې هلاك کړل، آیا د دوی د کوم یوه څه نښه احساس کوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

لکه چې ګورئ د سورې په وروستیو پنځو آیتونو کې هغه اساسي مطالب راغلي چې د سورې له پیل تر پای پوري، په بېلو بېلو الفاظو او د بېلو بېلو قصو په ترڅ کې په مشرح او مفصله توګه څېړل شوي، د دغو مطالبو خلاصه داسې ده:

- د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی په وړاندې داسې دي لکه بنده او مریي.
- الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي او هر یو به د قیامت په ورځ یوازې یوازې ورشي.
- هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته په زړونو کې مینه او دوستي پیدا کړي.
- د الله تعالی هغه کتاب چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی متقیانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي او سرټمبه وګړو ته د بدو پایلو خبرداری.
- د دغو لجوجو دښمنانو او مخالفینو عاقبت به همغسې وي لکه د دوی د اسلافو. نه ګورې چې الله تعالی څومره پېړۍ پېړۍ خلك تر دوی وړاندې هلاك کړل؟ آیا د دوی د کوم یوه څه نښه احساسوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# طٰهٰ

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم (طٰهٰ) دئ، يو سل پنځه دېرش آيتونه لري، له لومړي آيت تر ديارلسم آيت پوري د آيتونو فواصل د طٰهٰ او تشقىٰ په څېر دي، څوارلسم آيت په (لذكري) پای ته رسېدلی، بيا له پنځلسم تر څلرويشتم پوري بېرته د لومړيو په څېر شوي، بيا له پنځه ويشتم تر دوه دېرشم پوري د (صدري) په څېر دي، بيا د سورې تر پايه د ټولو آيتونو فواصل دغو دواړو ته ورته دي، ډېرى آيتونه ئې لومړيو ته ورته دي او څو محدود ئې له دوهم ډول سره شباهت لري، آيتونه ئې لنډ لنډ، شعارونو ته ورته او ډېر ښکلى غږ او وزن لري. د رواياتو له مخې دا سوره د عمر رضى الله عنه له ايمان راوړو لږ وړاندې نازله شوې. په رواياتو کې راغلي چې عمر رضى الله عنه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وژلو په موخه وتلى وو، په لارې کې له يوه کس سره مخامخ شو، پوښتنه ئې ترې وکړه چې چېرې ځې؟ چې له ارادې ئې خبر شو ورته وئې ويل: لومړى ولاړ شه د خپل ټبر حال واخله، ستا اخښى او خور مسلمانان شوي. د دې خبرې په اورېدو سره مخامخ د خپلې خور کره ولاړ، هلته د ده خور فاطمه بنت خطاب رضى الله عنها او اخښى ئې سعيد بن زيد رضى الله عنه ناست ول او له خباب بن ارت رضى الله عنه ئې يوه پاڼه آيتونه زده کول. کله چې د ده له راتلو خبر شول نو خور ئې دا پاڼه پټه کړه، خباب رضى الله عنه هم يوې گوښې ته شو، خو عمر رضى الله عنه د دوى غږ اورېدلى وو، له څو پوښتنو او گروېږنو وروسته ئې پر خپل اخښي لاس پورته کړ او پر وهلو ئې پيل وکړ، خور ئې تر منځ شوه، هغه ئې ټپي کړه؛ او له سره ئې ويني وبهېدې، دغه مهال دواړو وويل چې هو؛ موږ ايمان راوړى، څه چې دي له لاسه کېږي هغه وکړه!! د دوى ځواب له يوې خوا او د خور ټپي کېدا له بلې خوا ژور اغېز پرې وکړ، نرم شو؛ او وئې ويل: صحيح ده، ما ته هغه څه راوښيئ چې تاسو لوستو، خور ئې وويل: لومړى لوړه وکړه چې هغه به نه څيري کوې، بيا غسل وکړه چې پاك شې، بيا به ئې درکړم چې وئې لولې. عمر رضى الله عنه غسل وکړ او د هغې پاڼې لوستل ئې پيل کړ، په هغې کې د طٰهٰ د سورې ځيني آيتونه ول، د لوستلو په پای کې ئې ناڅاپي وويل: دا څومره ښکلى کلام دئ!! د دې خبرې په اورېدو سره خباب رضى الله عنه هم راڅرگند شو او وئې ويل: په خداى قسم چې زه هيله من يم الله تعالى له تا د خپل دين په خورولو کې لوى کار واخلي، ځکه ما پرون له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلي چې فرمايل ئې: خدايه! له دغو دواړو ابوالحکم

بن هشام (ابوجهل) او عمر بن الخطاب يو د اسلام حامي او پلوي کړه. نو اې عمره! د الله لوري ته راشه! د الله لوري ته راشه! همدا مهال هغه پرېکړه وکړه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په حضور کې حاضر شي او ايمان راوړي. نو له خباب رضی الله عنه سره يو ځای د رسول الله صلی الله علیه و سلم حضور ته ورغی او ايمان ئې راوړ. دا پېښه د حبشې له هجرت لږ وړاندې رامنځته شوې.

لکه څنګه چې دا مبارکه سوره په دوو مقطعاتو حروفو (طاء او هاء) پيل شوې؛ دا سوره په دوو اساسي او محوري مضامينو بحث کوي، لومړی موضوع له دوهم آيت پيل کېږي او تر ۹۸ آيت پورې دوام کوي، لومړي اته آيتونه د دې موضوع لپاره د تمهيد او مقدمې حيثيت لري او ورپسې د موسی عليه السلام قصه د دې موضوع لپاره د يوې تاريخي او عملي بېلګې په توګه وړاندې شوې او بيا تر ۱۱٤ آيت پورې د دې مبحث نتائج زموږ مخې ته ځلېږي. دوهم مضمون له ۱۱۵ آيت پيل کېږي، دا موضوع د آدم عليه السلام او ابليس په قصې کې انځور شوې، تر ۱۲۷آيت پورې د قصې تفصيلات زموږ مخې ته ږدي او بيا د سورې تر پای پورې د همدغو دواړو مضامينو خلاصه او له دغو دواړو قصو تر لاسه شوي عبرتونه او لارښوونې ترسيم شوې. د سورې وروستی آيت د يوې ښکلې تتمې په توګه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي چې خپلو مخالفينو ته ووايې: هر څوك منتظر دئ نو تاسو هم انتظار وکړئ، ژر به پوه شئ چې څوك د سمې لارې خاوندان ول او څوك په سمه لار روان!! هر څوك د خپلو هيلو، باورونو او ګمانونو مطابق د راتلونکې په اړه اټکلونه کوي، د روښانه مستقبل انتظار لري، ګمان ئې دا دئ چې تګلاره ئې سمه، مذهب ئې الله تعالی ته مقبول، هدايت او لارښوونه ئې په برخه شوې. تاسو هم د خپلو انګېرنو او هيلو په شنه بڼ کې خوښ او هيله من اوسئ، ژر به پوه شئ چې صحيح او حقيقي لارښوونه د چا په برخه شوې، سمه تګلاره د چا وه او روڼ مستقبل چا تر لاسه کړی. وبه ګورئ چې څوك د فرعون، هامان او شيطان ملګري او له همغه برخليك سره به مخامخ کېږي چې سلف ئې ورسره مخامخ شوی وو او څوك د موسی او آدم عليهما السلام په لار درومي او له همغه برخليك سره به مخامخ کېږي چې دا دواړه ستر ستر شخصيتونه ورسره مخامخ شوي وو.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طه ﴿١﴾ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴿٢﴾ إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴿٣﴾

ط، هـ پر تا مو دا کتاب د دې لپاره نه دئ لېږلی چې په مصيبت او مشقت کې پرېوځې؛ مګر هغه چا ته يادونه چې وېرېږي.

---

(۱-۳)- د دې مبارکو آيتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- لکه څنګه چې دا مبارکه سوره په دوو مقطعاتو حروفو (طاء او هاء) پیل شوې؛ دا سوره په دوو اساسي او محوري مضامینو بحث کوي؛ چې تفصیل ئې د سورې په پېژندنې کې وړاندې شو.
- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ویل شوي چې دا کتاب مو د دې لپاره پر تا نه دئ نازل کړی چې په مصیبت او مشقت کې پرېوځې، داسې دندې مو تا ته نه دي سپارلې چې تر سره کول ئې تا له سختو کړاوونو سره مخامخ کړي؛ پر دې مو نه ئې ګمارلی چې هرو مرو به ټول خلك پر سمې لارې تلو ته اړ کوې او همدومره مشقت او زحمت به قبلوې چې ټول خلك حق ته غاړه کښېږدي، الله تعالی ته مخه کړي او ایمان راوړي. ته یوازې په دومره مشقت او زحمت ګمارل شوی یې چې له الله تعالی وېرېدونکو خلکو ته یادونه وکړې. ستا مأموریت په همدې کې راخلاصه شوی چې د شرك، کفر، ظلم او فساد له بدو پایلو وېرېدونکو وګړو ته یادونه وکړې.

تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ ٱلْأَرْضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلْعُلَى ﴿٤﴾ ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ
﴿٥﴾ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ ﴿٦﴾ وَإِن
تَجْهَرْ بِٱلْقَوْلِ فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخْفَى ﴿٧﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ
ٱلْحُسْنَىٰ ﴿٨﴾

د هغه چا له لوري لېږنه چې ځمکه او لوړ لوړ آسمانونه ئې پیدا کړي. هغه رحمن رب چې پر عرش ئې استوی کړې، ټول هغه څه د ده دي چې په آسمانونو او ځمکې کې او د دوی تر منځ دي او هغه څه چې تر خاورو لاندې دي. که خبره په لوړ غږ وکړې، نو بیشکه چې الله تعالی په سري او خفي ټولو پوهېږي. هغه الله چې له ده پرته بل معبود نشته؛ غوره نومونه ئې دي.

(٤-٨)- د دې مبارکو آیتونو مهمې مهمې لارښوونې دا دي: دا قرآن د داسې ذات له لوري نازل شوی چې ځمکه او لوړ لوړ آسمانونه ئې پیدا کړي، هغه ذات چې نه یوازې خالق دئ بلکې ټولواك هم دئ، د ځمکې او آسمانونو هر څه د ده تر واك لاندې دي، آسمانونه او ځمکه د ده ملك دئ او دی ئې حاکم او ټولواك، ډېر مهربان ټولواك، هر څه د ده د واکمنۍ تر عرش لاندې دي، دلته همغه څه کېږي چې دی ئې غواړي او د کېدو اجازه ئې ورکوي، هغه ذات چې نه یوازې خالق او ټولواك دئ بلکې پر دې سربېره د آسمانونو او ځمکې هر څه، د آسمانونو او ځمکې تر منځ هر څه او تر خاورو لاندې هر څه د ده دي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته څه او څومره ورکړي. پر دې ټولو سربېره هغه د خپلو بندګانو ټیټ او جګ غږ اوري. هغه الله چې له ده پرته بل معبود نشته، پر ذکر شوو نومونو او صفاتو

سربېره ئې بې شمېره غوره نومونه دي. د دغو لارښوونو مقتضيات دا دي:

- قريش دي دا گمان نه کوي چي دا قرآن د يوه کمزوري، بې وسه او بې کسه داعي پيغام دئ، داسي چي منل او نه منل ئې ورته برابر دي، مقابله ئې کولی شي او مخه ئې نيولی شي، نه د دوی پر مخالفت بدي پايلي مرتب کېږي او نه ئې منل له روښانه مستقبل سره مخامخ کوي! دا د عالمونو د خالق، ټولواك، حاکم او مالك له لوري نازل شوی، هم ئې د منلو نتائج روښانه دي او هم ئې د مخالفت پايلي وخيمي.
- دلته پر عرش د رحمن رب د استوی الفاظ راغلي چي څو اساسي مطالب افاده کوي: د زمکي او آسمانونو خالق او ټولواك رب ډېر مهربان ذات دئ، خپل بندگان د بې رحمو ظالمانو په منگولو کې تر عذابونو لاندي او يوازي نه پرېږدي. اې مغرورو قريشو! گمان مه کوئ چي الله تعالی به خپل پيغمبر او د ده مؤمن ملگري ستاسو تر تېريو او ظلمونو لاندي پرېږدي او مرسته به ئې نه کوي!! اې تر ظلمونو لاندي بې وزلو مؤمنانو! ډاډه اوسئ چي د عرش مهربان ټولواك به خپل رحمت او پېرزوينه درپه برخه کوي او له دې بې وزلۍ او مظلوميت به تاسو ژغوري، د خپلي بريا په اړه شك مه کوئ، د دښمن زور او ځواك دي تاسو له خپلي بريا ناهيلي نه کړي، ستاسو مل او مرستندوی هغه ذات دئ چي د آسمانونو، زمکي او د عالم د هر څه مالك او ټولواك دئ، هغه چي ستاسو دعاءگاني اوري، که دا په جگ غږ وي او که په ټيټ، که په پټه وي او که ښکاره. ستاسو د دښمن له څرگندو تبليغاتو او هڅو هم خبر دئ او له پټو توطئو او خصوصي غونډو او ويناوو ئې هم. هغه الله چي له ده پرته بل معبود نشته، پر ذکر شوو نومونو او صفاتو سربېره ئې بې شمېره غوره نومونه دي.
- دې ته مو پام وي چي دلته د (عرش) او (استوی) مجازي معنی مراد ده نه حقيقي او اصلي معنی ئې، نه د الله تعالی عرش د زمکي کوم تخت ته ورته دئ او نه پر عرش د الله تعالی استوی پر کوم تخت د انسان ناستي ته ورته، نه عرش مکان دئ او نه پر عرش د الله تعالی استوی له يوه ځای بل ته د الله تعالی انتقال او پر کوم ځای کې استقرار، مکان، له يوه ځای بل ته حرکت د مخلوق خصوصيات دي، الله تعالی په هيڅ څه کې مخلوق ته ورته نه دئ. له هر هغه تعبير بايد ځان لري وساتو چي له مخلوق سره د الله تعالی په تشبيه منتج کېږي. د استوی علی العرش مراد دا دئ چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي له پيدايښت وروسته هغه خپلي مخي ته نه دي پرېښې، بلکې د عالم د ټولواك، حاکم او مالك په توگه ئې د ټولو چارو زمام او واگي په خپل لاس کې نيولې دي.

---

وَهَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿٩﴾ إِذۡ رَءَا نَارٗا فَقَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا
لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِقَبَسٍ أَوۡ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدٗى ﴿١٠﴾ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ
يَٰمُوسَىٰٓ ﴿١١﴾ إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوٗى ﴿١٢﴾ وَأَنَا

ٱخۡتَرۡتُكَ فَٱسۡتَمِعۡ لِمَا يُوحَىٰٓ ١٣ إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ١٤

**آيا د موسی قصه دررسېدلې؟ هغه مهال چې اور ئې ولید او خپل اهل (ټبر) ته ئې وويل: تم شئ، ما يو اور وليد، ښايي کومه لمبه به تاسو ته ترې راوړم يا به د اور خوا ته کومه لارښوونه ومومم. نو کله چې ورغی؛ پرې غږ شو: اې موسی! يقيناً چې زه ستا رب يم، نو پڼې دې وباسه، يقيناً چې ته د طویٰ په سپېڅلي ناو کې يې؛ او يقيناً چې ما غوره کړې؛ نو هغه څه ته غوږ شه چې تا ته وحي کېږي. يقيناً چې زه هغه الله يم چې له ما پرته بل معبود نشته، نو زما عبادت کوه او زما د يادولو لپاره لمونځ کوه.**

(٩-١٤)- د دې مبارکو آيتونو په ارتباط لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د موسی عليه السلام د قصې هغه برخه راغلې چې د سورې له اساسي مضامينو سره ژور تړاو لري، قصه له هغه ځای پيل شوې چې موسی عليه السلام په مدين کې له اته يا لس کاله تېرولو وروسته د مصر په لوري خوځېدلی، مېرمن او بچيان ئې هم ورسره دي، د طویٰ په درې کې لار ترې ورکه شوه، شپه پرې راغله، يخني وه، د درې په اړخ کې ئې له لرې اور تر سترګو شو، مېرمنې او ماشومانو ته ئې وويل چې دلته تم شئ، زه د هغه اور خوا ته ورځم، يا به د اور کومه سکروټه ترې راوړم او يا به د اور خوا ته له غونډ شوو خلکو د لارې په اړه پوښتنه وکړم. خو کله چې هغه ځای ته ورنږدې شو نو د اور له څنګه پرې غږ شو: اې موسی! يقيناً چې زه ستا رب يم، نو پڼې دې وباسه، يقيناً چې ته د طویٰ په سپېڅلي ناو کې يې؛ او يقيناً چې ما غوره کړې، نو هغه څه ته غوږ شه چې تا ته وحي کېږي. يقيناً چې زه هغه الله يم چې له ما پرته بل معبود نشته، نو زما عبادت کوه او زما د يادولو لپاره لمونځ کوه.

دلته څو مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

- موسی عليه السلام په داسې حال کې په پيغمبرۍ مبعوث شوی چې د يوه ستنېدونکي مهاجر په توګه خپل ملك ته روان دئ، اته يا لس کاله ئې له خپل وطن لرې تېر کړي، تر تعقيب لاندې وو، د اعدام پرېکړه ئې شوې وه، د همدې لپاره له وطنه تښتېدلی وو، له خپلې وړې کورنۍ سره د مصر په لور روان دئ، لار ترې ورکه شوې، د يوې سکروټې تر لاسه کولو په طمع او په دې هيله چې د اور خوا ته غونډ شوي شپانه به لار وروښيي ورروان شو، د خپل انتظار خلاف ئې د الله تعالی دا وينا واورېده چې ما د پيغمبر په توګه غوره کړی يې، زما وحي ته غوږ شه، زما عبادت کوه او زما د يادولو لپاره لمونځ کوه. په دې سره قريشو ته ويل شوي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم هم د موسی عليه السلام په څېر په پيغمبرۍ مبعوث شوی، نه ئې تر بعثت وړاندې دا هيله کړې او نه داسې وينا او حرکت ترې

لیدل شوی چې وښیي د داسي مقام تر لاسه کولو لپاره لېوال دئ. دی تاسو ته همغه څه وايي چې موسی علیه السلام خپل قوم ته ویل، ده ته همغه وحي کېږي چې موسی علیه السلام ته کېدله، د ده پیغام او وینا همغه ده چې د موسی علیه السلام وه، دی همغسي د الله تعالی په عبادت او لمانځه گمارل شوی لکه چې موسی علیه السلام پرې گمارل شوی وو.

- دلته موسی علیه السلام ته ویل شوي چې پڼې دي وباسه، ځکه چې ته په سپېڅلي ځای کې یې. باید وگورو چې آیا په هر سپېڅلي ځای کې د پڼو لوڅول او پڼې ایستل ضروري او د پیغمبرانو علیهم السلام د تگلارې مطابق دي او د الله تعالی خوښېږي؟ آیا موږ هم مکلف یو چې په سپېڅلي ځای کې پڼې لوڅې کړو؛ که نه؟ ځیني په دې باور دي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په پڼو کې لمونځ کولو، هغوی د بخاري په دې روایت استناد کوي چې وايي:

عن سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ الأَزْدِيِّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. (بخاري:۳۸٦)

له سعید بن یزید الأزدي روایت دئ چې له انس بن مالك مې وپوښتل: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم له پڼو سره لمونځ کاوو؟ وئې ویل: هو.

دا روایت یو ځل بیا هم په بخاري کې تکرار شوی، دواړه روایتونه د الفاظو او محتوی له پلوه سره ورته دي او راوي ئې انس رضی الله عنه دئ. خو دا روایات نه وايي چې پیغمبر علیه السلام ئې په جومات کې که له جومات بهر، په سفر کې که په حضر کې، پر فرش که پر ځمکه له پڼو سره په لمانځه لیدلی؛ تل ئې همداسي لیدلی که یو ځل؟ داسي روایات هم شته چې وايي رسول الله صلی الله علیه و سلم په لوڅو پښو او له پڼو پرته لمونځ کړی. که دا روایت د انس او هرماس رضی الله عنهما په څېر له داسي کم عمره صحابه وو روایت شوی چې لنډه موده ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره تېره کړې؛ په مقابل کې ئې نور روایات له مشرانو او د عائشې رضی الله عنها په څېر صحابه وو روایت شوي. له بلي خوا قرآن وايي چې الله تعالی موسی علیه السلام ته د طور په غره کې د ملاقات پر مهال وویل چې پڼې دي وباسه، ته د طوی سپېڅلې درې کې یې. د روایت تعارض به له دې آیت سره څنگه توجیه کوو؟ دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چې له پڼو سره لمونځ یو استثنائي حالت دئ نه دائمي او ارجح حکم. همغسي لکه پر موزو مسح چې استثنائي حالت دئ، غوره او ارجح رأیه دا ده چې له ضرورت پرته نه جومات ته له پڼو، څپلیو، بوټونو او کیپو سره ننوځو او نه پر مصلی او فرش لمونځ ورسره وکړو، په دې توگه به موږ د قرآن آیت هم مراعات کړی وي او پر حدیث به مو هم عمل کړی وي.

نور روایات دا دي:

عن عائشةَ -رضى اللّه عنها- قالَت: رأيتُ رسولَ اللّهِ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي حافيًا

ومُتَنَعِّلًا، ويَشرَبُ قاعِدًا وقائمًا، ويَنصَرِفُ عن يَمينِه وعَن شِمالِه، لا يُبالى أيَّ ذَلِكَ كانَ.

رواه البيهقي

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مي لیدلی چي لوڅي پښې او له پڼو سره ئې لمونځ کړی، په ولاړه او ناسته ئې اوبه څښلې دي؛ او په ښي اړخ او کیڼ اړخ گرځېدلی، د دې پروا ئې نه کوله چي له دغو کوم یو وي.

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي حَافِياً وَرَأَيْتُهُ يَشْرَبُ قَائِماً وَرَأَيْتُهُ يَشْرَبُ قَاعِداً وَرَأَيْتُهُ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَرَأَيْتُهُ يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ. مسند احمد

عمرو بن شعیب د خپل پلار له لاري له خپل نیکه روایت کوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم مي لیدلی چي په خپلو پڼو کي ئې لمونځ کاوو او لیدلی مي دئ چي لوڅي پښې ئې لمونځ کولو او لیدلی مي دئ چي په ولاړه ئې اوبه څښلې او لیدلی مي دئ چي په ناسته ئې اوبه څښلې او لیدلی مي دئ چي په ښي اړخ گرځېدلی او لیدلی مي دئ چي په کیڼ اړخ گرځېدلی.

که څوك پر زمکه له فرش او مصلی پرته لمونځ کوي کولی شي له خپلو پڼو سره لمونځ وکړي، که بشپړه مصلی نه لري کولی شي د سجدې پر ځای وړه ټوټه وغوړوي او که نه سجده هم پر زمکه وکړي. ځکه په روایاتو کي راغلي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم همداسي کړي دي.

---

إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسِۭ بِمَا تَسْعَىٰ ﴿١٥﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَن لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرْدَىٰ ﴿١٦﴾

یقیناً د قیامت گړۍ راتلونکې ده، غواړم د دې لپاره ئې پټ وساتم چي هر کس ته د هغه څه (مطابق) بدله ورکړی شي چي کوي ئې. نو هغه څوك دي تا ترې منع نه کړي چي ایمان نه پرې راوړي او د خپل هوس متابعت کوي؛ که نه نو هلاك به شې.

---

(١٥-١٦)- په دې مبارکو آیتونو کي موسی علیه السلام ته د دوو نورو اساسي لارښوونو یادونه شوې: لومړۍ دا چي د قیامت گړۍ حتماً راتلونکې ده، الله تعالی د دې گړۍ د راتلو نېټه د دې لپاره له خلکو پټه ساتلې چي هر انسان د خپلو کړنو مطابق مکافات او مجازات شي. دوهمه دا چي د هغو خلکو عدم ایمان باید تا د وحي له متابعت منع نه کړي چي پر الله تعالی او آخرت ایمان نه راوړي او د خپل هوس متابعت کوي که نه نو هلاك به شې.

دلته دا مطلب وضاحت غواړي چي د قیامت د نېټې پټ ساتل د انسان له سعي او د

سعي مطابق مكافات او مجازات سره څه تعلق لري؟ د سعي مطابق مكافات او مجازات خو په خپله له قيامت سره تعلق لري، دومره ويل كافي وو چي قيامت مي د دې لپاره ټاكلى چي هر چا ته د ده د كړنو مطابق سزا او جزا وركړى شي. ځواب دا دئ چي انسان د داسي آزمويني لپاره تل ځان چمتو ساتي او تيارى ورته نيسي چي نېټه ئې معلومه نه وي او هره شېبه داسي انګېري چي ښايي همدا اوس او څو شېبې وروسته به آزموينه پيل شي؛ خو كه د آزمويني له نېټې خبر شي او هغه ځنډمنه وي نو له ځان سره وايي: لا ډېر وخت پاته دئ، وروسته به تيارى ونيسم؛ دغه حكمت ته په پام سره الله تعالى د هغې د پټ ساتلو پرېكړه كړې ده.

وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿١٧﴾ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُاْ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ
غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَـَٔارِبُ أُخْرَىٰ ﴿١٨﴾ قَالَ أَلْقِهَا يَٰمُوسَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَلْقَىٰهَا فَإِذَا هِيَ
حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلْأُولَىٰ ﴿٢١﴾ وَٱضْمُمْ يَدَكَ
إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ءَايَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ ءَايَٰتِنَا
ٱلْكُبْرَى ﴿٢٣﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾

او اې موسى! دا په ښي لاس کې دي څه دي؟ وئې ويل: دا مي عصا ده، پرې تكيه كوم؛ او خپلو مېږو ته پاڼي پرې راشنډم؛ او نور حاجتونه ورته لرم (نور حاجتونه مي پرې تر سره كوم)، وئې ويل: اې موسى! وئې غورځوه؛ نو كله چي ئې وغورځوله ناڅاپه داسي مار شوه چي ځغستل ئې. وئې ويل: دروائې خله! او مه وېرېږه، لومړنى حالت به ئې وراعاده كړو؛ او خپل لاس دي له تخرګ سره جوخت كړه چي له كوم داغ پرته تك سپين راووځي، د يوې بلې نښي په توګه؛ چي ځيني ستر ستر آيتونه مو دروښيو؛ د فرعون لوري ته ولاړ شه چي يقيناً هغه طغيان كړى.

(۱۷-۲٤)- د دې مباركو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- موسى عليه السلام له خپلي عصا سره يېلي پېښې د خپل رب په وړاندي ولاړ دئ؛ پوښتنه ترې كوي: اې موسى! دا په لاس کې دي څه دي؟ ځواب وركوي: دا مي عصا ده؛ پرې تكيه كوم او خپلو مېږو ته پاڼي پرې راشنډم او ځيني نور حاجتونه ورته لرم، څه نور حاجتونه مي پرې تر سره كوم. وئې ويل: وئې غورځوه. نو كله چي ئې وغورځوله ناڅاپه داسي مار ترې جوړ شو چي تېز تېز ئې ځغستل، وېره پرې راغلې؛ الله تعالى ورته فرمايلي: مه وېرېږه، په ډاډه زړه ئې دروا‌خله، لومړني حالت ته به ئې اعاده كړو، بېرته به ستا مخكينۍ عصا ترې جوړه كړو، دا به ستا يوه معجزه وي؛ او بله دا چي خپل لاس دي له تخرګ سره جوخت

کړه چې له کوم داغ پرته تك سپین راووځي؛ او دا ئې ستا بله معجزه. دا دوه معجزې به زما د ګڼ شمېر نورو معجزو پیلامه او مقدمه شي، په دې سره به تا ته سترې سترې معجزې دروښیو؛ له دغو معجزو سره د فرعون لوري ته ولاړ شه چې یقیناً هغه طغیان کړی.

- د دې مبارکو آیتونو په ترڅ کې موږ ته ویل شوي چې موسی علیه السلام ته دوه معجزې ورکړی شوې: خپله عصا ئې یوه معجزه او خپل سپین لاس ئې بله معجزه؛ په همدې دوو معجزو سره الله تعالی د خپل قدرت نوري سترې سترې معجزې وروښودې: فرعون، فوځ او نظام ئې په همدغو دوو معجزو سره مات کړل، د بني اسرائیلو مظلوم، بې وزلی او تر سختو سختو عذابو لاندې قوم ئې نه یوازې وژغورو بلکې د زمکې خلافت، د فرعون د شتمنیو وراثت او د نړۍ د ټولو قومونو فکري قیادت او زعامت ئې دغه قوم ته په میراث ورکړ. نو که تاسو د موسی علیه السلام په لار د تلو هوډ وکړئ، د فرعونیانو مقابلې ته چمتو شئ، نو مطمئن اوسئ چې ستاسو د سپین لاس عصا به د موسی عصا شي او الله تعالی به د زمانې د فرعون لښکرې پرې ماتې کړي.

قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ﴿٢٦﴾ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾ يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ﴿٢٨﴾ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ﴿٢٩﴾ هَٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ أَزۡرِي ﴿٣١﴾ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ﴿٣٢﴾ كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرٗا ﴿٣٣﴾ وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرٗا ﴿٣٥﴾

وئې ویل: اې زما ربه! سینه مې راته پرانیزه، کار مې راته آسان کړه، د ژبې عقده (غوټه) مې راته وسپړه چې په خبرې مې پوه شي؛ او له خپل ټبر مې یو مرستندوی راته وټاکه؛ زما ورور هارون، په هغه سره مې ملا مضبوطه کړه؛ او زما په کار کې ئې راسره شریك کړه؛ چې ډېر دې په تسبیح لګیا وو او ډېر دې یاد کړو. یقیناً چې ته مو ښه لیدونکی یې.

(۲۵-۳۵)- دلته د موسی علیه السلام څو ډېرې ښکلې او جامع دعاګانې راوړل شوې، داسې دعاګانې چې هر هغه مجاهد ئې باید خپل رب ته وکړي چې د فرعونانو مقابلې ته ملا تړي:

- اې زما ربه! سینه مې راته پرانیزه، لویه حوصله، پراخه سینه او صبرناك زړه را!
- کار مې راته آسان کړه، له سختو سختو آزموینو سره مې مه مخامخ کوه، ګران ګران کارونه راته آسان کړه او زما ستونزې راته حل کړه.
- د ژبې غوټه مې راته وسپړه، د ژبې طلاقت راپه برخه کړه، فصیح او ژبه ور داعي مې کړه، داسې چې خلك مې په خبرې پوه او منلو ته چمتو شي.

• له خپل ځېر مي يو مرستندوى راته وټاکه؛ زما ورور هارون؛ په هغه سره زما ملاتړ وکړه او مټ مي مضبوط کړه؛ او زما په کار کې ئې راسره شريك کړه، دا بار دروند دئ، زه ئې په يوازې سر له وړلو عاجز يم، مرستيال ته اړ يم.
• چې ډېر دې په تسبيح لګيا وو او ډېر دې ياد کړو، دواړه به په ګډه وتوانېږو چې په ښه توګه ستا اوامر پر ځاى کړو، په هر ځاى کې ستا نوم ياد کړو، هر چا ته ئې ورسوو.
• يقيناً چې ته مو ښه ليدونکى يې، له حال او احوال مو خبر يې، زموږ وضعيت ښه درته معلوم دئ.

قرآن په نورو آيتونو کې د دې مزيد وضاحت کوي او وايي: موسى عليه السلام ځان د دې ستر مأموريت وړ نه ګڼي، دا دنده تر خپل وس لوړه او درنه بولي، ځان تر دې عاجز ګڼي چې دا ستر مسئوليت پر غاړه واخلي او له عهدې ئې بريالى ووځي؛ دوه دلائل وړاندې کوي: ۱- ما د دوى يو کس وژلى، ما ته د دښمن په سترګه ګوري، وېرېږم چې وبه مي وژني؛ مخکې له دې چې خپل دعوت پيل کړم. ۲- د زعامت او مشرتابه لپاره چې کوم فصاحت ته ضرورت دئ زه ترې محروم يم، تر ما هارون فصيح او ژبه ور دئ، دا دنده هغه ته وسپاره. الله تعالى هارون عليه السلام د ده د مرستيال په توګه ګماري او اطمئنان ورکوي چې دښمن هيڅ تاوان نه شي دررسولى. په نورو آيتونو کې د دې مزيد تفصيل راغلى او فرمايي چې موسى عليه السلام ته وويل شو: د فرعون مقابلې ته ولاړ شه، د بنې اسرائيلو د آزادۍ لپاره، هغه بغاوت کړى، د خپلې بريا په اړه ډاډه اوسه، زما آيتونه ستا د بريا لپاره کافي دي.

---

قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰٓ ﴿٣٧﴾ إِذْ أَوْحَيْنَآ
إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾ أَنِ ٱقْذِفِيهِ فِى ٱلتَّابُوتِ فَٱقْذِفِيهِ فِى ٱلْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ ٱلْيَمُّ
بِٱلسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّى وَعَدُوٌّ لَّهُۥ ۚ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّى وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ
عَيْنِىٓ ﴿٣٩﴾ إِذْ تَمْشِىٓ أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُۥ ۖ فَرَجَعْنَٰكَ
إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَٰكَ مِنَ ٱلْغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ
فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ وَٱصْطَنَعْتُكَ
لِنَفْسِى ﴿٤١﴾ ٱذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِى وَلَا تَنِيَا فِى ذِكْرِى ﴿٤٢﴾ ٱذْهَبَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ
إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾ فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾

وئې ويل: اې موسى! يقيناً چې غوښتنې دې درکړى شوې؛ او يقيناً چې يو ځل بيا مو

هم پر تا پېرزوينه کړې وه؛ هغه مهال چې ستا مور ته مو د هغه څه وحي وکړه چې په اشارې سره ښودل کېږي؛ چې په صندوق کې ئې واچوه، بيا ئې په سيند کې وغورځوه؛ چې سيند ئې په ساحل کې وغورځوي؛ چې زما او د ده دښمن ئې واخلي؛ او له خپل لوري مې محبت درباندې وغوړاوو؛ او چې زما تر نظر لاندې ستا روزنه وشي. هغه مهال چې ستا خور تلله او ويل ئې: آيا داسې څوك دروښيم چې پالنه ئې وکړي؟ نو د خپلې مور لوري ته مو ستون کړې چې سترگې ئې يخې شي او غمجنه نه وي؛ او يو کس دې ووژلو؛ نو له اندېښنو مو وژغورلې؛ او په ډول ډول آزموينو مو وآزمويلې. او څو کاله په مدين والو کې پاته شوې؛ بيا اې موسی! د تقدير مطابق (دلته) راغلې. او د ځان لپاره مې جوړ کړې؛ ته او ورور دې زما له آيتونو سره ولاړ شئ او زما په يادونې کې سستي مه کوئ. فرعون ته ورشئ چې يقيناً هغه سرکښي کړې ده؛ او پسته وينا ورته وکړئ؛ ښايي پند واخلي او ووېرېږي.

(۳٦-٤٤)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه مطالب دا دي:

• الله تعالی موسی عليه السلام ته وفرمايل: اې موسی! ستا غوښتنې تر سره او دعاگانې دې قبولې شوې، تر دې وړاندې مې هم پر تا پېرزوينه کړې وه، هغه مهال چې ستا مور مې د وحي له لارې پوه کړه چې زوی دې په صندوق کې کښېږده، صندوق په سيند کې پرېږده، سيند به ئې په ساحل کې وغورځوي، زما او د ده دښمن به ئې ورواخلي.

• پر تا مې له خپل لوري د محبت داسې جاذبه وغوړوله چې د هر ليدونکي زړه ئې ځان ته راکاږو، غوښتل مې ستا روزنه زما تر نظر لاندې بشپړه شي، د فرعونيانو لاس ته ورغلې، د محبت دغه جاذبه باعث شوه چې د فرعون مېرمن ستا د وژلو مخنيوی وکړي، د داسې چا په لټه کې شي چې تا ته تی درکړي او ستا پالنه پر غاړه واخلي، همدا مهال ستا خور راورسېده او وئې ويل: آيا داسې څوك دروښيم چې پالنه ئې وکړي؟، په دې توگه مو د خپلې مور لوري ته ستون کړې چې سترگې ئې يخې شي او غمجنه نه وي.

• بيا هغه وخت درياد کړه چې يو کس ستا په لاس ووژل شو، مشوش او لالهانده وې، موږ له اندېښنو وژغورلې.

• بيا ستا د آزموينو لړۍ پيل شوه، په ډول ډول آزموينو مو وآزمويلې، له مصر وتلو ته اړ شوې، څو کاله په مدين کې پاته شوې.

• بيا اې موسی! د تقدير مطابق دلته د طویٰ درې ته راغلې. ته او ورور دې زما له آيتونو سره ولاړ شئ او زما په يادونې کې سستي مه کوئ. فرعون ته ورشئ چې يقيناً هغه سرکښي کړې ده؛ او پسته وينا ورته وکړئ؛ ښايي پند واخلي او ووېرېږي.

• دې ته مو پام وي چې په (وَلِتُصۡنَعَ عَلَىٰ عَيۡنِيٓ) کې مراد دا دئ: او چې زما تر نظر لاندې ستا روزنه وشي. هغه خلك چې تل د الفاظو په ظاهري او متبادري معنی پورې نښلي د دې

فقرې له صحیح تعبیر او توجیه عاجز پاته کېږي. د الفاظو ظاهري معنی داسي راځېږي: او چي زما پر سترگو جوړ کړی شي؛ خو دا تعبیر نه کوم صحیح مطلب او معنی افاده کوي او نه حقیقت لري.

قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَآ أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا تَخَافَآ إِنَّنِى مَعَكُمَآ
أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا
تُعَذِّبْهُمْ قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدْ
أُوحِىَ إِلَيْنَآ أَنَّ ٱلْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾

دواړو وویل: اې زموږ ربه! موږ له دې وېرېږو چي تېری راباندي وکړي او طغیان (لازیات) کړي. وئې ویل: مه وېرېږئ، زه درسره یم؛ اورم او وینم، نو ورشئ او (ورته) ووایئ: موږ ستا د رب استازي یو نو بني اسرائیل راسره ولېږه او (نور ئې) مه تعذیبوه، یقیناً چي ستا د رب له لوري مو څرگنده نښه درته راوړې؛ او پر هغه چا دې سلام وي چي په هدایت پسي درومي. یقیناً چي موږ ته وحي شوې چي عذاب د هغه چا په برخه کېږي چي (حق) تکذیب کړي او مخ (ترې) واړوي.

(٤٥-٤٨)- د دې مبارکو آیتونو خلاصه داسي ده:

- موسی او هارون علیهما السلام خپل رب ته عرض وکړ: اې زموږ ربه! موږ له دې وېرېږو چي فرعون به تېری راباندي وکړي او طغیان او سرکښي به ئې لازیاته شي. د القصص په سورې کې راغلي چي موسی علیه السلام هم د فرعونیانو له پلوه مشوش وو او دا اندیښنه ورسره وه چي زه د دوی پوروړی یم، ما د دوی یو کس وژلی، ما ته د دښمن په سترگه گوري، وېرېږم چي وبه مي وژني؛ مخکې له دې چي خپل دعوت پیل کړم. ښایي ما ته د دې فرصت هم رانه کړی شي چي خپل پیغام خلکو ته ورسوم، په قتل تورن یم، له تلو سره سم به زما د وژلو پرېکړه کوي او بني اسرائیل به ما ته د شك په سترگه گوري؛ ځکه چي زه څه موده د فرعون په کور کې پاته شوی یم، زما په اړه به دا فکر کوي چي د قیادت او مشرۍ شوق او تلوسه ئې د فرعون له کور تر لاسه کړې. د دې پر ځای چي ما یو پیغمبر وگڼي ما به د اقتدار وږی او د پیغمبرۍ دروغجن مدعي وشمېري!! گورئ چي موسی علیه السلام هم د قبطیانو له غبرگونه اندېښنه لري او هم د اسرائیلیانو، هم له دوست او هم له دښمن. قرآن حالات داسي انځور کړي چي موسی علیه السلام له هیڅ پلوه د مصر شرائط د ځان او خپل دعوت په گټه نه گڼي، یوازي دئ، د دې درون پېټي د وړلو توان او حوصله په ځان کې نه گوري، فقط یوه عصا ورسره ده، نه د دوست مثبت غبرگون ته طمع لري او نه د دښمن له

پلوه څه ډاډ او اطمئنان لري؛ خو له دې ټولو سره سره وروستۍ فتح د ده په برخه شوه او مجهز دښمن ئې له ماتې سره مخامخ شو!!

- الله تعالی وفرمايل: مه وېرېږئ، زه درسره يم؛ اورم او وينم، زما تر عنايت او رعايت لاندې يئ، فرعون ته ورشئ او ورته ووايئ: موږ ستا د رب استازي يو نو بني اسرائيل راسره ولېږه او له تعذيبولو ئې لاس واخله، يقيناً چې ستا د رب له لوري له څرګندې نښې سره تا ته راغلي يو؛ او سلامتيا دې پر هغه چا وي چې د لارښوونې متابعت کوي. يقيناً چې موږ ته وحي شوې چې عذاب د هغه چا په برخه کېږي چې حق تکذيب کړي او مخ ترې واړوي.

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ
هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى فِى كِتَٰبٍ ۖ لَّا
يَضِلُّ رَبِّى وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا
سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُوا۟
وَٱرْعَوْا۟ أَنْعَٰمَكُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا
نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾

وئې ويل: اې موسی! نو دا ستاسو رب څوک دئ؟ وئې ويل: زموږ رب هغه دئ چې هر څه ته ئې خپل خپل جوړښت ورکړی بيا ئې لارښوونه (ورته) کړې، وئې ويل: نو د مخکينيو نسلونو به څه حال وي؟ وئې ويل: د دې علم زما له رب سره په کتاب کې (ليکلی) دئ؛ زما رب نه تېروځي او نه ئې (څه) هېرېږي؛ هغه چې زمکه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې کې ئې لارې درته پرانيستې دي؛ او له آسمان ئې اوبه راورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې راوايستلې؛ وخورئ او خپل څاروي وڅروئ. يقيناً چې په دې کې عقلمنو ته څرګندې نښې دي؛ له همدې مو پيدا کړئ او همدې ته مو بيا ورګرځوو او له همدې مو يو ځل بيا راباسو.

(٤٩-٥٥)- په دې مبارکو آيتونو کې د موسی عليه السلام او د فرعون يوه په زړه پورې او ډېره جالبه مناقشه او سؤال و ځواب راغلی؛ په دې توګه:

- فرعون موسی عليه السلام ته وويل: اې موسی! نو دا ستاسو رب څوک دئ؟ موسی عليه السلام وويل: زموږ رب هغه دئ چې هر څه ته ئې خپل خپل جوړښت او ځانګړی ځانګړی شکل ورکړی، بيا ئې لارښوونه ورته کړې، هر څه ته ئې خپل خپل مسير ټاکلی، هر څه په هغه لار درومي او په همغه کار بوخت وي چې الله تعالی ورته غوره کړی.

• فرعون وویل: نو د مخکینیو نسلونو به څه حال وي، د هغو خلکو چې ستا دا خبري ئې نه دي اورېدلې، ستا پر خدای له ایمان پرته تللي؟! په دې پوښتني سره فرعون غوښتل موسی علیه السلام د مخکینیو په اړه داسي څه ووايي چي د خلکو حساسیت تحریك شي، فرعون ترې استفاده وکړي او خلکو ته ووايي: دا دئ موسی ستاسو د پلرونو په اړه وايي چي دوزخ ته تللي او په الهي عذاب اخته شوي. دا د موسی علیه السلام د وینا د هغې برخي په عکس العمل کې وه چي وئې ویل: یقیناً چي موږ ته وحي شوې چي عذاب د هغه چا په برخه کېږي چي حق تکذیب کړي او مخ ترې واړوي. دا په حقیقت کې د پیغبرانو علیهم السلام په ضد د ټولو کفري ځواکونو یوه کاري حربه ده، هغوی تل پر پلرني دین د ټینگار تر نامه لاندي خلك غولوي او د داعیانو په ضد ئې پاروي. قرآن وايي چي دا د مستکبرینو تر ټولو لوی مکر دئ. موسی علیه السلام ځواب ورکړ: د دې علم زما له رب سره په کتاب کې لیکلی دئ، زما رب نه تېروځي او نه ئې څه هېرېږي، پوهېږي چي له هغوی سره څه وکړي او د کومي معاملې وړ دي.

موسی علیه السلام د فرعون وروستۍ پوښتني ته عالمانه او حکیمانه ځواب ورکړ او په بې گټې بحث کې له لوېدو ئې ډډه وکړه؛ او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د مخکینیو په اړه له بې گټو مناقشو او بحثونو ځان لري وساتئ. د قرآن دا لارښوونه په دې مبارك آیت کې په لازیات صراحت سره زموږ مخي ته ځلېږي چي وايي: د مخکینیو صالحانو په اړه هم له مناقشو ډډه وکړئ:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾ البقره: ۱۴۱

دا خو یوه ډله وه چي تېره شوه، دوی ته به خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له کړنو نه پوښتل کېږئ.

الله تعالی په دې آیت کې مسلمانانو ته لارښوونه کوي چي د مخکینیو صالحانو په سر له جاهلانو سره په شخړو او منازعاتو کې ځان مه مصروفوئ، د دې پر ځای خپل عمل ته پام وکړئ، هغه څه چي تاسو له عذاب ژغورلی شي ستاسو خپل عمل دئ نه بل څه.

موسی علیه السلام فرعون ته مزید وویل: زما رب هغه دئ چي زمکه ئې تاسو ته زانگو گرځولې او په هغې کې ئې لاري درته پرانیستې دي؛ او له آسمان ئې اوبه راورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې راوایستلې، د دې لپاره چي هم ئې تاسو وخورئ او هم خپل څاروي وڅروئ؛ یقیناً چي په دې کې عقلمنو ته څرگندي نښې دي. گورئ چي دلته قرآن یو ځل بیا وايي چي بوټي او نباتات مو جوړه جوړه پیدا کړي، یعني نر او ښځه، د دوی دانې او مېوې د هغو گردونو له یو ځای کېدا جوړېږي چي ځیني ئې نارینه خصوصیات لري او ځیني ئې ښځینه.

د پنځه پنځوسم آیت په وروستۍ فقره کې راغلي: زما رب همغه دئ چي وايي: له همدې

زمکې مې پیدا کړئ او همدې ته مو بیا ورگرځوم او له همدې مو یو ځل بیا راباسو!! د دې معنی دا ده چې په لومړي ځل ئې هم له دغې زمکې راایستلي یو او د قیامت په ورځ به مو یو ځل بیا له همدې زمکې راباسي؛ او دا همغه مطلب دئ چې د نوح د سورې په ۱۷ آیت کې داسي راغلی: وَ اللهُ أنبَتَكم مِّنَ الأَرْضِ نَبَاتاً: او الله له زمکې راوټوکولئ په ځانگړې ټوکولو سره.

وَلَقَدْ أَرَيْنَـٰهُ ءَايَـٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾

او یقیناً چې خپل ټول آیتونه مو وروښودل خو هغه تکذیب کړل او سرغړاوی ئې وکړ.

(۵٦)- دا مبارك آیت وايي چې الله تعالی فرعون ته ټول آیتونه وښودل؛ دلته د (ټولو آیتونو) مراد هم ټول هغه اغېزمن دلائل دي چې د موسی علیه السلام له لوري هغه ته اورول شوي؛ او هم هغه معجزې چې موسی علیه السلام ورښودلې. خو ده نه دلائل ومنل او نه ئې معجزو ته اعتناء وکړه، آیتونه ئې تکذیب کړل او له ایمان راوړو ئې ډډه وکړه.

قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَـٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾ فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهِۦ فَٱجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهُۥ نَحْنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾

وئې ویل: اې موسی! آیا د دې لپاره راغلی یې چې په خپلو کوډو سره موږ له خپلې زمکې (هېواد) وباسې؟، نو هرومرو به دې ته ورته کوډې درته راوړو؛ نو زموږ او ستا تر منځ یوه داسي نېټه وټاکه چې نه موږ ترې شا ته شو او نه ته، یو مناسب ځای. وئې ویل: نېټه مو د جشن ورځ ده او دا چې خلك دې غرمه راغونډ کړی شي. نو فرعون مخ واړاوو (او ولاړ) او خپل تدبیرونه ئې راغونډ کړل او (بېرته) راغی.

(۵۷-٦۰)- د دې مبارکو آیتونو خلاصه مطالب دا دي:

فرعون د موسی علیه السلام د معجزو له لیدو وروسته د ایمان راوړلو پر ځای دا هڅه وکړه چې پر خلکو د دغو معجزو اغېز په دې توگه له منځه یوسي چې هغوی ته وواېي: دا همغسي کوډې دي چې تاسو ئې بېلگې هره ورځ د مصر په کوڅو کې گورئ، هغه کوډگر چې دکانونه ئې پرانیستي او د څو پیسو په بدل کې کوډې کوي، خلکو ته تعویذونه ورکوي او د خپل لاس او جادو هنر وړاندې کوي، موسی هم د دوی له ډلې دئ. د قرآن په نورو آیتونو کې ویل شوي چې فرعون وویل: دا د جادوگرانو استاد او مشر دئ. او دا هغه تور دئ

چې پر ټولو پیغمبرانو لګول شوی. د دې وجه دا ده چې د مخکینیو جاهلو قومونو مذهبي مشران اکثراً هغه خلك ول چې فالونه به ئې نیول، تعویذونه به ئې ورکول، کوډې به ئې کولې؛ او له همدې لارې به ئې خلك ښکول او د شکرانو او نذرانو په نامه به ئې له غولېدلو خلکو پیسې تر لاسه کولې، د دوی سیاسي او قومي مشرانو به د پیغمبرانو علیهم السلام په ضد خلکو ته ویل: دا د پیغمبرۍ مدعیان ستاسو د مذهبي مشرانو په څېر دي، دوی هم د دین او مذهب په نامه څه زهر او زقوم تر لاسه کول غواړي، ولې خپل مخکیني مذهبي مشران پرېږدئ او په دوی پسې ځئ؟!! د الشعراء په سورې کې راغلي چې فرعون خپل قوم ته همدا خبره وکړه:

﴿فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ۝٣٨ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ۝٣٩ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ۝٤٠﴾ الشعراء:۳۸-۴۰

کوډګران د معلومې ورځې میقات ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وویل شول: آیا تاسو هم غونډېدونکي یاست؟ چې د سحره وو متابعت وکړو که غالب شول.

دا آیتونه وايي چې سحره د حاکم نظام په خدمت کې دي، د اربکیو په ذریعه را غونډېږي او د مسابقې میدان ته سوق کېږي، دوی د عام ولس د راغونډولو وسیله ګرځوي. خلکو ته وویل شول: که دا سحره غالب شول د دوی متابعت به کوو، دوی زموږ خپل مخکیني او منل شوي مذهبي مشران دي، ولې به نوی مذهب او نوی مشر منو؟!! خو کله چې همدا سحره ماته خوري، د موسی علیه السلام د دعوت پر حقانیت پوهېږي، ایمان راوړي؛ ګورئ چې فرعون ئې په مرګ او لاس پښو قطع کولو ګواښي !!

فرعون موسی علیه السلام ته وویل: اې موسی! آیا د دې لپاره راغلی یې چې په خپلو کوډو سره موږ له خپلې زمکې (هېواد) وباسې؟، غواړې په دې ملك کې فساد او بې امني خوره کړې، غواړې د قبطیانو واکمني نسکوره کړې، خپل قوم مسلط کړې، یو ځل بیا د مصر واکمني همغسې ستاسو په لاس کې پرېوځي چې د یوسف علیه السلام په وخت کې ستاسو په لاس کې پرېوتې وه، غواړې قبطیان له مصر وشړئ؟ د فرعون دا ټولې خبرې د قرآن په نورو آیتونو کې راغلې دي او دا د دې لپاره وې چې قبطیان د موسی علیه السلام په ضد تحریك کړي او د موسی علیه السلام د دعوت د بریا او غلبې له پایلو ئې ووېروي. د مصر دغه ځانګړي اجتماعي حالت ته په پام سره ده چې موسی علیه السلام فرعون ته وايي: بني اسرائیل پرېږده چې له ما سره یو ځای له مصر ووځو او د خپل جد یعقوب علیه السلام سیمي ته ستانه شو، د دوی له مزید ځورولو لاس واخله.

فرعون غواړي خلکو ته عملاً وښيي چې موسی علیه السلام د کوډګرو د ډلې یو فرد دئ. موسی علیه السلام ته بلنه ورکوي چې د مصر د کوډګرو مقابلې ته چمتو شه، د مقابلې نېټه وټاکه، دواړه باید کلکه ژمنه وکړو چې له دې نېټې به نه تر شا کېږو، داسې ځای وټاکه چې ټول خلك په آسانۍ ورته راتلی شي. د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې معلومېږي چې په دې

وينا سره مؤمنانو ته دا لارښوونه كوي چې ستاسو په ضد به د دښمن له لوري لومړۍ پرانستېدونكې جبهه له هغو خلكو جوړېږي چې د مذهب تر نامه او شعار لاندې ستاسو مقابله كوي، كوم كار چې د مصر فرعون د موسى عليه السلام په ضد وكړ او د مصر مذهبي مشران (جادوګران) ئې د مقابلې لومړۍ كرښې ته ولېږل؛ همداسې به د زمانې هر فرعون د هر واقعي ديني تحريك په ضد دين پلورونكي مذهبي مشران استخداموي او د جنګ لومړۍ كرښې ته به ئې لېږي. د افغانستان د اسلامي نهضت په ضد د وخت حاكم ظاهر شاه همداسې يوه ډله جوړه او د مقابلې لپاره ئې لومړۍ كرښې ته ولېږله. كمونيستانو د شئون اسلامي په نامه وزارت جوړ كړ، ايمان پلورونكي ملايان ئې په كې راغونډ كړل او د مجاهدينو په ضد ئې فتوي‌ګانې پرې لاسليك كولې. امريكايانو همدا كار وكړ، داسې د سپينو جامو تور زړي دين او ايمان پلورونكي ئې استخدام كړل چې د دوی په ضد جهاد ناروا وګڼي، حتی ځينو ئې وويل چې امريكايان د مستأمن حكم لري او د مستأمن وژل حرام دي!! امريكايانو په عراق كې همدا كار وكړ؛ يو شيعه آخوند ئې چې ايران ئې د حضرت آيت الله العظمی، مرجع بزرګ تشيع عراق په نامه يادوي كويټ ته وغوښت، دوه سوه مليونه ډالر ئې وركړل، انګريزانو د درملنې او علاج تر نامه لاندې لندن ته وغوښت او جيب ئې ورډك كړ؛ چې د عراق شيعه له صليبي يرغلګرو سره ملګرتيا ته چمتو كړي، همداسې ئې وكړل، شيعه ئې دې ته چمتو كړل چې د امريكايانو تر قومندې لاندې د مجاهدينو په ضد وجنګېږي. تر دې وړاندې د نصيرالدين طوسي او ابن علقمي په څېر د دوی دين پلورونكو مشرانو د هلاكو او چنګيز لپاره د بغداد د سقوط لار آواره كړه.

الله تعالی همدا غوښتل چې د موسى عليه السلام د دعوت حقانيت ټولو خلكو ته جوت شي، په خپلو سترګو وګوري چې موسى عليه السلام د الله رسول دئ او په خپلو غوږو د ده الهي پيغام واوري، موسى عليه السلام ته ممكنه نه وه چې له بلې لارې خپل پيغام په دومره آسانۍ سره او د يوې ستري غونډې په ترڅ كې خلكو ته ورسوي، الله تعالی د دښمن په لاس دا غونډه ورته جوړه كړه، همغسې لكه چې د دښمن په لاس ئې د سيند له څپو ژغورلی وو او همغسې لكه چې د دښمن په كور كې ئې روزلی وو. موسى عليه السلام هغه ته وويل: نېټه مو د جشن ورځ ده او دا چې خلك دې غرمه راغونډ كړی شي. ستاسو جشن رانژدې دئ، موعد مو همدا ورځ، ميدان همغه چې خلك په كې راغونډېږي او وخت ئې غرمه چې ډېری خلك راغونډ شوي وي.

فرعون موافقه وكړه، تدبيرونه ئې وكارول، د كوډګرو د راغونډولو او مقابلې ته د چمتو كولو كار ئې پيل كړ. كه څه هم دلته د آيت الفاظ داسې دي چې انسان ګمان كوي فرعون په همدې غونډې كې مخ اړولی، بهر وتلی، خپل تدبيرونه ئې كارولي او بېرته راستون شوی؛ خو د قرآن نور آيتونه د دې وضاحت كوي چې فرعون ټولو ښارونو ته اربكي ولېږل، ټول تكړه او ماهر جادوګران ئې راغونډ كړل، له هغوی سره ئې د ښه او په زړه پورې انعام ژمنه وكړه، ورته وئې ويل چې د بريا په صورت كې به تاسو د مقربو درباريانو په ډله كې نيول

کېږئ او ټول هغه امتیازات به مو په برخه وي چي درباریان ئې تر لاسه کوي.

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ ٱفْتَرَىٰ ﴿٦١﴾

موسى ورته وویل: افسوس پر تاسو، پر الله دروغجنه افتراء مه کوئ که نه نو په عذاب به مو اخته او تباه کړي او هغه څوك سپېره او نامراد شو چي افتراء ئې وکړه.

(٦١)- دا مبارك آیت موږ ته وايي: فرعون د خپلو تدبیرونو په لړ کي جادوګران راغونډ کړل، د موسى علیه السلام مخي ته ئې ودرول، موسى علیه السلام ورته وویل: ١- افسوس پر تاسو! هو؛ افسوس پر دوی چي د دین او مذهب تر نامه لاندي د کفر او کافر په امر او ګټه د دین او مذهب مقابله کوي، د یوه مزدور جنګیالي په توګه، د طمعي او هوس په غوښتنه او د شیطان په هڅونه، ٢- پر الله دروغجنه افتراء مه کوئ، خپل جادو او کوډو ته د دین او مذهب رنګ مه ورکوئ، له کفر او کافر سره ملګرتیا د دین او مذهب مطابق کار مه ګڼئ، د حق خلاف دروغجني فتوی‌ګاني مه ورکوئ، ٣- که له دې افتراءاتو لاس وانه خلئ په داسي سخت الهي عذاب به اخته شئ چي ستاسو جرړي به وباسي. ٤- څوك چي له دغي لاري غواړي کوم ذلیل مراد تر لاسه کړي، افتراء او فتوی ئې د دنیوي پرېوتو اغراضو لپاره وي؛ هیڅکله به خپل مراد ته ونه رسېږي. یقیناً هغه کس سپېره او نامراد شو چي افتراء ئې وکړه.

فَتَنَٰزَعُوٓاْ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجْوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓاْ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلْمُثْلَىٰ ﴿٦٣﴾ فَأَجْمِعُواْ كَيْدَكُمْ ثُمَّ ٱئْتُواْ صَفًّا ۚ وَقَدْ أَفْلَحَ ٱلْيَوْمَ مَنِ ٱسْتَعْلَىٰ ﴿٦٤﴾

نو د خپل مأموریت په اړه په خپلو منځونو کي په شخړه بوخت شول او د راز خبره ئې پټه کړه؛ وئې ویل: دا دواړه (موسى او هارون علیهما السلام) خو یقیناً چي جادوګران دي، غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپلو سیمو وباسي او ستاسو غوره طریقت او مذهب له منځه یوسي!! نو خپل تدبیرونه راغونډ کړئ؛ بیا یوه لیکه راوړاندي شئ او یقیناً نن به هغه څوك بریالى وي چي برلاسى شي.

(٦٢-٦٤)- دا آیتونه ښیي چي جادوګران د موسى علیه السلام د اغېزناکو خبرو له اورېدو وروسته په اختلاف او شخړي کي ښکېل شوي، له مناقشو وروسته داسي نتیجې ته رسېدلي چي له ځان سره ئې پټه ساتلې. که څه هم قرآن په واضح الفاظو نه دي ویلي چي د دوی دا سري پرېکړه څه وه؛ خو د کلام له فحوی معلومېږي چي خپل مأموریت ئې ناسم او غلط

ګڼلې، د موسی علیه السلام مخالفت ورته ناوړه عمل معلوم شوی، غوښتي ئې دي چي له دې مقابلې لاس واخلي، خو فرعون ته اطلاع رسېدلې او هغه راغونډ کړي او ورته ويلي ئې دي: دا دواړه (موسی او هارون علیهما السلام) له شك پرته جادوګران دي، غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپلو سيمو وباسي او ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه يوسي!! نو خپل تدبيرونه راغونډ کړئ بيا يوه ليکه راوړاندي شئ او يقيناً نن به هغه څوك بريالی وي چي برلاسی شي. د فرعون په دې خبرو کې جادوګرانو ته څو ګواښونه انځور شوي:

• تردد او زړه نازړه توب يوې خوا ته پرېږدئ، دا دواړه موسی او هارون (علیهما السلام) له شك پرته جادوګران دي. هسې د ده د خبرو تر اغېز لاندي تللی يئ او د مقابلې په اړه مشوش شوي يئ او په خپلو کې مو نزاع پيل کړې، ستاسو اختلاف ښې پايلې نه لري، په ګډه د ده مقابله وکړئ.

• دوی غواړي په خپل جادو سره دا وطن درته سور اور کړي، فتنې، شخړې او بې امني رامنځته کړي، که خپلې مخي ته پرېښودل شي نو داسې حالت به رامنځته شي چي تاسو له خپلو سيمو وتلو ته اړ شئ.

• دوی ستاسو د پلرني غوره دين دښمنان دي که ئې مخنيوی ونشي ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه وړي!!

• نو خپل ټول زور څواك وكاروئ، تدبيرونه راغونډ کړئ بيا متحد او يوه ليکه راوړاندي شئ او يقيناً نن به هغه څوك بريالی وي چي برلاسی شي.

---

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ﴿٦٦﴾

وئې ويل: اې موسی! يا ئې ته وغورځوه او يا به موږ هغه شو چي لومړی ئې غورځوي؛ وئې ويل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ؛ نو هغه مهال د دوی د سحر له کبله د دوی پړي او عصاګاني داسي ورته وبرېښېدې چي ګواکې ځغلي.

---

(٦٥-٦٦)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه دا ده: جادوګران مقابلې ته چمتو شول، موسی علیه السلام ته ئې وويل: اې موسی! يا ته خپله عصا وغورځوه او يا به موږ هغه ډله شو چي لومړی خپل پړي او عصاګاني غورځوي. موسی علیه السلام په ځواب کې ورته وويل: نه؛ تاسو ئې وغورځوئ. نو هغوی د خپل جادو ننداره وړاندي کړه، پړي او عصاګاني ئې پر ځمکې وغورځول، دغه مهال د دوی د سحر له امله دا پړي او عصاګاني داسي برېښېدل چي ګواکې ځغلي؛ موسی علیه السلام ته هم او نورو خلکو ته هم.

د قرآن د وينا له مخي جادوګرانو په خپل جادو سره د خلکو په ذهن او سترګو داسي اغېز کړی چي دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهيت کې څه

تبديلي نه ده راغلې بلکې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی. يعني جادوګرانو په خپل جادو سره يوازې دومره څه کړي چې پر زمکې پراته پړي او عصاګانې موسی علیه السلام او نورو ته داسي برېښېدلې چي ګواکې خوځي او ځغلي، د دوی په جادو سره د دغو شيانو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې، حقيقتاً له ځای نه خوځېدل بلکي د خلکو ذهن ته داسي ورغلې چې دا پړي او عصاګانې د مارانو په څېر ځغلي.

د سحر د اغېز په اړه په ټول قرآن کې درې ځايه څه ويل شوي؛ چې يو ئې همدغه آيت دئ، بل ئې د الاعراف د سورې پورتني ته ورته او په همدې مناسبت راغلی. آيت دا دئ:

قَالَ أَلْقُواْۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْاْ سَحَرُوٓاْ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾

الاعراف: ۱۱٦

وئې ويل: وئې غورځوئ؛ نو کله چې دوی وغورځول د خلکو سترګې ئې په جادو (سره اغېزمنې) کړې، وئې وېرول او ستر جادو ئې وړاندې کړ.

او بل ئې د البقره سورې ۱۰۲ آيت دئ چې وايي:

وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتْلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْۚ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٢﴾ البقره: ۱۰۲

او د هغه څه متابعت ئې پيل کړ چې شيطانانو به د سليمان علیه السلام د پاچاهۍ (په اړه) لوستل؛ دا په داسي حال کې چې سليمان د کفر لار نه وه غوره کړې؛ بلکې په خپله دا شيطانان کافران شوي وو، خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چې د بابل په دوو ملائکو: هاروت او ماروت نازل شوي وو. (دې دواړو ملائکو) به هيچا ته څه تعليم نه ورکاوو مګر دا چې ورته ويل به ئې: موږ (خو د يوه) امتحان (لپاره راغلي) يو؛ نو ته مه کافرکېږه. خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چې په هغه سره نارينه او مېرمنه ئې سره بېل کړي؛ دا په داسي حال کې چې په دې سره دوی د الله له اذن پرته هيچا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسي حال کې چې هغه څه ئې زده کول چې تاوان ئې وررساوو او ګټه ئې نه وررسوله او يقيناً په دې پوه شوي وو چې هر څوك دا وپېري نو په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي او يقيناً چې ډېر بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو؛ کاش پوهېدلی.

دلته په اصل کې د بني اسرائيلو په څېره کې د يوه بې لارې ديندار ولس څو سترو سترو

انحرافاتو ته اشاره شوې: په خپلو ژمنو نه ودرېدل، د الله کتاب داسي شا ته غورځول لکه چي په هيڅ څه ئې نه پوهېږي او د الله د کتاب پر ځای کوډو، جادو او تعويذونو ته مخه کول. دا حرام کارونه نه يوازي حلال ګڼل بلکي د سليمان عليه السلام هغه ستره واکمني، چي بېلګه ئې په تاريخ کي نه وه ليدل شوې؛ د يوې جادويي ګوتې او د څه کوډو او منتر نتيجه ګڼل، نه د ده او د ده د مجاهد پلار داؤد عليه السلام د جهادونو نتيجه. د دوی لويه مشغله دا چي په کوډو سره د مېړه او مېرمني تر منځ ئې بېلتون راولي. بني اسرائيل هم ورو ورو له الهي دين لري شول، په دوی کي فکري او اخلاقي انحرافات راپيدا شول، له اخلاقي لحاظه هومره راپرېوتل چي يو د بل ناموس ته په کمين کي کښېناستل، يو به په دې لټه کي وو چي څنګه د بل مېرمن د ځان لپاره ترې رابېله کړي، د الله کتاب ئې شا ته وغورځاوو، کوډو، جادو او تعويذونو ته ئې مخه کړه. الله تعالی د اتمام حجت لپاره دوی ته دوې ملائکي د انسانانو په څېره کي ولېږلې، د دې لپاره چي دوی له انحرافاتو، جاهلانه دودونو او کافرانه مشغلو وژغوري او دوی ته ووايي چي کوډو او جادو ته په پناه وړلو سره مه کافران کېږئ. خو دوی له ملائکو هم د هغه څه زده کولو هڅه کوله چي ښځه له خپل خاوند پرې ببېله کړی شي.

په دې آيت کي نه يوازي دا نه دي ويل شوي چي په کوډو او جادو سره توانېدل چي مېړه او مېرمن ئې سره بېل کړي بلکي د دې خلاف ويل شوي چي کوډو هيڅ ګټه نه وررسوله، د ګټې پر ځای ئې تاوان وررساوو.

څوك چي د قرآن دا دوه څرګند آيتونه ګوري او سره له دې يا جادو او کوډو ته پناه وړي يا ګمان کوي چي سحر او جادو کولی شي د شيانو ماهيت بدل کړي او مېرمن له خپل مېړه ببېله کړي، د چا مينه ئې په زړه کي راپيدا کړي، په بيماري ئې اخته کړي او دې ته ورته نور اغېز او تأثير ورته ثابتوي؛ نو هغه يا پر قرآن ايمان نه لري، يا قرآن د هري خبري لپاره وروستی ملاك او معيار نه ګڼي او يا ناپوه او له قرآني لارښوونو بې خبر دئ.

که تاسو د سحر او جادو د اغېز په اړه د قرآن لارښوونو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چي د سحر او جادو د اغېز خبري کافرانو ته منسوبوي او دا د دوی غلطه انګېرنه او عقيده ګڼي.

ښه به وي چي دلته د بايبل وينا هم له نظره تېره کړو چي له موسی عليه السلام سره د جادوګرانو د مقابلې خبره کوي. بايبل تر دې عنوان (د هارون عصا) لاندي ليکي: (خدای موسی او هارون ته وويل: دا ځل به د مصر پاچا له تاسو معجزه وغواړي، نو هارون دي خپله عصا د فرعون په مخکي پر زمکه وغورځوي، عصا به مار شي... موسی او هارون بيا فرعون ته ورغلل... هارون د فرعون او درباريانو په وړاندي خپله عصا پر زمکه وغورځوله او مار ترې جوړ شو، فرعون د مصر حکيمان او جادوګران راوغوښتل، هغوی هم د خپل جادو په مرسته همدا کار وکړ، خپلي عصاګاني ئې پر زمکه وغورځولې او ماران ترې جوړ شول؛ خو د هارون مار د جادوګرانو ټول ماران وخوړل...خو د دې معجزې له ليدو سره سره د فرعون زړه سخت پاته شو... بيا خدای موسی ته وويل: سبا هغه عصا درسره واخله چي

مار ترې جوړ شوی وو، د نیل ژۍ ته ورشه، د فرعون تر راتلو انتظار وکړه، ورته ووایه: ... اوس به خدای داسې کار وکړي چې پوه شې هغه خدای دئ... زه به د ده په امر د نیل اوبه په یوه گوزار سره په وینو بدلې کړم... هارون د پاچا او درباریانو په وړاندې د نیل اوبه په خپلې عصا ووهلې او په وینو بدلې شوې، ټول ماهیان مړه شول او اوبه گنده شوې، ...خو د فرعون زړه همغسې سخت پاته شو... له دې ورځې یوه اونۍ وروسته خدای موسی ته وویل: فرعون ته ورشه او ورته ووایه: زما قوم پرېږده چې ولاړ شي او زما عبادت وکړي؛ که نه نو ټول مصر به له چنگاښو درته ډك کړم، د نیل سیند به داسې له چنگاښو ډك شي چې بهر به راووځي او ستا د قصر په لوري به هجوم راوړي... ستا د خوب خونې، د اوړو نغریو او تنورونو ته به ځان ورسوي... هارون خپله عصا د نیل سیند، چینو او حوضونو ته اوږده کړه، ټول له چنگاښو ډك شول... خو مصري جادوگرانو هم په خپل جادو سره همدا کار وکړ او ډېرې زیاتې چنگاښې ئې راپیدا کړې!! فرعون له موسی وغوښتل چې خپل خدای ته دعاء وکړي چې دا بلا زموږ له سره لرې کړي، ژمنه کوم چې په هغه صورت کې به بني اسرائیل پرېږدم چې ولاړ شي او د خپل خدای لپاره قرباني وکړي... موسی دعاء وکړه... ټولې چنگاښې مړې شوې ... خو بیا هم د فرعون زړه نرم نه شو... بیا خدای موسی ته وویل: هارون ته ووایه چې سبا خپله عصا پر زمکه ووهي چې ټول مصر له ماشو ډك شي... همداسې ئې وکړل او ټول مصر له ماشو ډك شو او پر خلکو ئې برید پیل کړ... د مصر جادوگرانو وغوښتل چې همدا کار وکړي خو دا ځل موفق نه شول... نو فرعون ته ئې وویل: په دې کار کې حتماً خدای لاس لري... خو بیا هم د فرعون زړه نرم نه شو... ورپسې په همدې توگه د مچانو، طاعون، دانو، ږلۍ، ملخ او سختې تیارې داسې یادونه کوي لکه چې ئې د مخکینیو مصیبتونو یادونه کړې، الفاظ ئې تکراري او جملې ئې سره ورته، هرځل د هارون په عصا یو له دغو مصیبتونو پر مصریانو مسلط شوی او بیا فرعون له موسی غوښتې چې دعاء وکړي... د موسی علیه السلام د دعاء له کبله مصیبت ترې دفع شوی خو فرعون په خپل قول عمل نه دئ کړی!! په پای کې لیکي چې فرعون موسی علیه السلام ته وویل: زما له مخې لرې شه او بیا مه راځه که نه نو وژل کېږې. موسی ورته وویل: لکه څنگه چې تا وویل بیا به ما ونه گورې. نو خدای موسی ته وویل: داسې بلا به پر فرعون او د ده پر قوم راولم چې دی به په خپله له تاسو وغواړي چې له مصر ووځئ!! د اسرائیلیانو ښځو ته ووایه چې له وتلو مخکې له خپلو مصري گاونډیو سره او سپین زر (په امانت) تر لاسه کړي!!! نو موسی فرعون ته وویل: خدای فرمایي: نن نیمه شپه به د مصر له منځه تېر شم، (په همدې سره به) د مصري کورنیو ټول مشران زامن ومري، د فرعون له مشر زوی چې د ده ځای ناستی دئ؛ نیولې د هغې وینځې تر زوی پورې چې کار ئې په مېچنې سره د غنمو وړه کول وي؛ حتی د مصر د څارویو لومړي بچیان به هم ومري!!! ... نو دغه وخت موسی له غصې سره د فرعون له قصر ووت،...)

دلته د بایبل گڼ شمېر خبري د سالم عقل او صحیح الهي دین خلاف دي او قرآن ئې

ردوي:

- بايبل داسي ښيي لکه چي موسى عليه السلام ځو اونۍ سر په سر د فرعون په دربار کي تېرې کړې وي او په همدې مودې کي خدای په وار وار ورته راغلی او ده ته ئې د نوې معجزې ښودلو لارښوونه کړې وي، ده هم خپلي ټولي معجزې د فرعون په حضور کي او له جادوګرانو سره په مقابله کي ښودلې دي، هر څه چي ده کړي جادوګرانو هم همغه کار کړی، دوی یوازې د ماشو په پيدا کولو نه دي توانېدلې!! دا هسي يوه بې بنسته او په خرافاتو ولاړه خبره ده، هيڅ جادوګر، که هر څومره ماهر او چالاك وي، هيڅ شیء نه شي پيدا کولی، نه مړ شیء او نه ژوندی، د جادوګر کمال او هنر په دې کي وي چي د خلکو ذهن تر اغېز لاندي راولي او يو شیء د خپلي اصلي بڼې په ځای په بدلې بڼې کي وګوري. جادوګر له دې پرته نور هيڅ نه شي کولی، له الله تعالى پرته نه څوك په جادو سره څه پيدا کولی شي او نه په بل څه سره. د قرآن د وينا له مخي جادوګرانو خپل پړي اچولي او په جادو سره ئې د خلکو په ذهن او سترګو داسي اغېز کړی چي دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښېي، د پړو په ماهيت کي څه تبديلي نه ده راغلې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی.
- د ټولو معجزو موخه دا ښودل شوې چي فرعون د بني اسرائيلو پرېښودو ته اړ کړي، نه دا چي مصريان پر خدای ايمان راوړي، له کفر او شرك لاس واخلي او د الله تعالى دين ته غاړه کښېږدي!! خو که تاسو په دې اړه د قرآن وينا ته ځير شئ وبه ګورئ چي موسى عليه السلام فرعون او مصريانو ته جامع او بشپړ پيغام لري، د بني اسرائيلو آزادي د اساسي مسائلو په ضمن کي او د يوې ثانوي موضوع په څېر مطرح کوي.
- که معجزې يوازې فرعون ته ښودل کېدې او مقصد ئې دا وو چي فرعون بني اسرائيلو ته له مصره د وتلو اجازه ورکړي؛ ولي ئې په ټولو مصريانو دا مصيبتونه راوستل؟ ولي ئې د ټولو مصريانو حتى د هغو وينځو مشران زامن هم ورته وژل چي مېچني ئې چلولې؟!! آيا دا خبره د کوم انسان عقل منلی شي چي الله تعالى د مصريانو د زامنو د وژلو لپاره په خپله د مصر له منځه تېر شوی؟!! او آيا الله تعالى د چا د وژلو لپاره دې ته اړ کېږي چي زمکي ته راکوز شي او د هغه کلي له منځه تېر شي چي د کليوالو د وژلو پرېکړه ئې کړې؟!! دا هره ورځ چي انسانان د الله تعالى په اراده پيدا کېږي او مري؛ آيا داسي مري لکه چي بايبل وايي؟! او تر ټولو مسخره خبره خو لا هغه ده چي بايبل تر دې وروسته کړې او ليکلي ئې دي چي خدای به په مصر کي د بني اسرائيلو او مصريانو کورونه له دې نښې سره بېلوي چي د بني اسرائيلو د کورونو دروازې به د قربانۍ په وينو سرې شوې وي او د دغو وينو په ليدو سره به د بايبل خدای له دغو کورونو تېرېږي، يوازې د مصريانو کورونو ته به ننوځي او د دوی مشران زامن به وژني!!!

ګورئ چي بايبل دلته هم خدای داسي معرفي کوي چي بني اسرائيلو ته د غدر او خيانت لارښوونه کوي؛ وايي چي خدای موسى عليه السلام ته ويلي وو: د اسرائيليانو ښځو ته ووايه چي له خپلو مصري ګاونډيو د سرو او سپينو زرو ښه ډېري ګاڼې (په کومه پلمه) تر لاسه

کړي، چې بيا ئې د وتلو په وخت کې له ځان سره يوسي!! آيا ممکنه ده چې د زمکې او آسمانونو رب به خپلو بندګانو ته د داسې غدر او خيانت درس ورکوي!!

فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾

نو موسی په خپل زړه کې وېره احساس کړه؛ ومو ويل: مه وېرېږه؛ يقيناً چې همدا ته برلاسی يې؛ او هغه شیء وغورځوه چې ستا په لاس کې دئ؛ چې هغه څه ښوی تېر کړي چې دوی جوړ کړي. يقيناً هغه څه چې دوی جوړ کړي د کوډګر مکر دئ؛ او جادوګر چې هر چېرې ورشي بريا نشي موندلی.

(٦٧-٦٩)- له دې مبارکو آيتونو څو خبرې معلومېږي:

- د کوډګرو له لورې ښودل شوې ننداره دومره هيبتناکه وه چې موسی عليه السلام په خپل زړه کې وېره احساس کړه. دلته دا نه دې ويل شوي چې آيا پر ځان وېرېدلی، که له دې چې په مسابقې کې به برلاسی نشي او که په دې چې خلك به دوکه شي او د جادوګرانو تر اغېز لاندې به راشي؟! خو له وروستۍ فقرې معلومېږي چې وېره ئې په مسابقې کې د خپلې بريا په اړه وه. ځکه الله تعالی فرمايي: ومو ويل: مه وېرېږه؛ يقيناً چې همدا ته برلاسی يې.
- د الله تعالی له لورې موسی عليه السلام ته ويل شوي چې د خپل لاس عصا وغورځوي، چې دا به ټول هغه پړي او عصاګانې ښوی تېرې کړي چې دوی د خوځنده مارانو په څېر ښودلې.
- دلته ويل شوي چې جادو هسې يوه دوکه او غولونه وه، د فرعون د ماهرو جادوګرانو دا لوبه د لاس هنر وو نه د جادو اغېز؛ دا په حقيقت کې يو مکر وو نه بل څه؛ د پړو او عصاګانو حقيقت نه دئ بدل شوی بلکې خلك غولول شوي او د خوځنده مارانو ګمان ئې پرې کړی!! د آيت دا برخه چې وايي: جادوګر چې هر چېرې ورشي بريا نشي موندلی؛ دا حقيقت مزيد واضح کوي او ښيي چې د جادوګر مکر او کيد د څو شېبو داسې غولونکې ننداره ده چې نه ده ته کومه ګټه رسوي او نه بل ته.

فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدٗا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾

نو کوډګر په سجده پرېوتل (او) وئې ويل: د هارون او موسی پر رب مو ايمان راوړ.

(٧٠)- د دې مبارك آيت له فحوی معلومېږي چې موسی عليه السلام د الله تعالی له حکم

سره سم خپله عصا غورځولې او هغې د کوډګرو د لويې سامان ټول ښوی ښوی تېر کړي، کوډګرو د دې صحنې په ليدو سره نه يوازې خپله ماته منلې، تسليم شوي او په سجده پرېوتي بلکې په واضح الفاظو او جګ غږ سره ئې اعلان کړی چې: موږ د هارون او موسی عليه السلام پر رب ايمان راوړ.

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ فِي جُذُوعِ ٱلنَّخۡلِ وَلَتَعۡلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابٗا وَأَبۡقَىٰ ﴿٧١﴾

وئې ويل: آيا تر دې وړاندې چې اجازه درکړم ده ته مو ايمان راوړ؟ يقيناً چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی!! نو هرومرو به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې يوه د بل خلاف پرې کوم او حتماً به تاسو د خرما په ستو پانسی کوم او تاسو به هرومرو پوه شئ چې څوك په موږ کې د عذابولو له پلوه شديد دئ او څوك د ډېر پايښت خاوند.

(۷۱)- د دې مبارك آيت له لارښوونو څو حقائق تر لاسه کېږي:

- فرعون د خپلې توطئې په لومې کې ونښت، تدبير ئې معکوسه نتيجه ورکړه، د موسی عليه السلام د رسالت حقانيت ټول ولس ته جوت شو؛ نو په بلې توطئې لاس پورې کوي او وايي: اې جادوګرانو! تاسو ولې د مسابقې د پايلو له اعلان وړاندې خپله ماته ومنله او د موسی (عليه السلام) پر رب مو د ايمان راوړلو اعلان وکړ؟! ولې مو زما پرېکړې ته انتظار ونه کړ؟ ولې مو تر دې وړاندې چې زه اجازه درکړم ايمان راوړ؟ د دې معنی دا ده چې تاسو لا دمخه له ده سره توافق کړی وو، په ګډه مو دا لوبه جوړه کړې وه، هغه ستاسو مشر دئ، جادو هغه درښودلی!! دا د خلکو د غولولو لپاره د فرعون بل کيد او مکر وو!!
- له بلې خوا ئې جادوګران په دې ووېرول چې اوس به هرومرو ستاسو لاسونه او ستاسو پښې يوه د بل خلاف پرې کوم، ښی لاس او کيڼه پښه، يا کيڼ لاس او ښی پښه؛ او حتماً به تاسو د خرما په ستو پانسی کوم؛ اوس به تاسو هرومرو پوه شئ چې څوك د عذابولو له پلوه شديد دئ او څوك د ډېر پايښت خاوند.

قَالُواْ لَن نُّؤۡثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِي فَطَرَنَاۖ فَٱقۡضِ مَآ أَنتَ قَاضٍۖ إِنَّمَا تَقۡضِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَآ ﴿٧٢﴾ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغۡفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ أَكۡرَهۡتَنَا عَلَيۡهِ مِنَ ٱلسِّحۡرِۗ وَٱللَّهُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ﴿٧٣﴾ إِنَّهُۥ مَن يَأۡتِ رَبَّهُۥ مُجۡرِمٗا

فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾ وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾

وئې ویل: هیڅکله به تا تر هغو څرګندو دلائلو او نښو چې زموږ په برخه شوي او پر هغه چا چې موږ ئې پیدا کړي یو؛ غوره ونه ګڼو، نو هغه پرېکړه وکړه چې ته ئې کوونکی یې؛ یقیناً چې ته یوازې د دنیوي ژوند په اړه پرېکړه کولی شې؛ یقیناً چې موږ پر خپل رب ایمان راوړی، چې زموږ خطاګانې او هغه جادو راوبخښي چې تا ورته اړ کړو؛ او الله تر ټولو غوره او تر ټولو زیات د پایښت خاوند دئ؛ یقیناً هغه څوك چې خپل رب ته د مجرم په توګه وراندې شي نو داسې دوزخ به د هغه په برخه شي چې نه به په کې مري او نه به ژوند کولی شي؛ او څوك چې د مؤمن په توګه وروړاندې شي په داسې حال کې چې نېك عملونه ئې کړي وي نو هغوی ته لوړې لوړې درجې دي، داسې تلپاته جنتونه چې ترې لاندې ویالې بهېږي، په هغه کې به تلپاته وي؛ او دا د هغه چا بدله ده چې ځان ئې پاك کړ.

(۷۲-۷٦)- په دغو مبارکو آیتونو کې د دغو ایمان راوړونکو جادوګرانو داسې زړه راښکونکې ویناوې انځور شوې دي چې له یوې خوا پر انسان د ایمان ژور اغېز او هغه تبدیلي په ګوته کوي چې په انسان کې ئې رامنځته کوي او له بلې خوا مؤمنانو ته وايي چې تاسو به د ګواښونو په وړاندې داسې دریځ غوره کوئ چې دغو مؤمنانو غوره کړ. کوم ځواب چې جادوګران ئې فرعون ته ورکوي؛ ډېر عجیب، د پام وړ او ارزښتناك دئ؛ وايي: هیڅکله به تا تر هغو څرګندو دلائلو او نښو چې زموږ په برخه شوي او پر هغه چا چې موږ ئې پیدا کړي یو؛ غوره ونه ګڼو. نو هغه پرېکړه وکړه چې ته ئې کوونکی یې؛ یقیناً چې ته یوازې د دنیوي ژوند په اړه پرېکړه کولی شې، یقیناً چې موږ پر خپل رب ایمان راوړی؛ چې زموږ خطاګانې او هغه جادو راوبخښي چې تا ورته اړ کړو؛ او الله تر ټولو غوره او تر ټولو زیات د پایښت خاوند دئ، هیڅ پروا مو نشته، مرګ ته چمتو یو، ته خو یوازې زموږ د وژلو پرېکړه کولی شې، دا مرګ خو له دې پرته بل څه نه دئ چې موږ د خپل پالونکي رب په لوري بیایي، هسې هم مرو او د خپل رب په لوري خامخا ورګرځو!! په دې سره قرآن موږ ته له یوې خوا دا لارښوونه کوي چې پر خدای باندې ایمان انسان ته داسې جرأت او شهامت ورپه برخه کوي، دا جادوګران ګورئ چې څو شېبې مخکې د فرعون په امر راغونډ شوي وو، د ده لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، د فرعون پر سر ئې لوړه کوله او د ده د عزت او جلال له برکته ئې خپله بریا یقیني او حتمي ګڼله، له فرعون ئې د اجورې طمع وه او تر ټولو ستر

هدف ئې دا وو چې د فرعون د درباريانو په ډله کې ونيول شي. خو اوس او پر الله تعالی له ايمان وروسته په دوی کې دومره ژوره تبديلي راغلې چې د فرعون د ګواښونو پروا نه کوي، له مرګ نه وېرېږي، مرګ د الله تعالی په لوري د تلو وسيله ګڼي او پرونۍ مادي طمع ئې اوس په معنوي تلوسې بدله شوې او موخه ئې دا ده چې الله تعالی ترې راضي شي او ګناهونه ئې ورته وبخښي!! له بلې خوا موږ ته وايي چې د ايمان خاوند بايد داسي وي، كه تاسو په رښتيا پر الله تعالی ايمان لرئ نو د فرعونانو له ګواښونو به نه وېرېږئ.

دا مؤمنان تر دې هم وړاندې درومي او فرعون ته وايي: يقيناً هغه څوك چې خپل رب ته د مجرم په توګه وړاندې شي نو داسي دوزخ به ئې په برخه شي چې نه به په کې مري او نه به ژوند کولی شي، هغه ورځ به ئې ژوند ژوند نه وي، له ژونده به بې زاره وي، د مرګ هيله او تمنی به کوي خو نه به ئې په برخه کېږي؛ او څوك چې د مؤمن په توګه ورووړاندې شي په داسي حال کې چې نېك عملونه ئې کړي وي نو هغوی ته لوړې لوړې درجې دي، داسي تلپاته جنتونه چې ترې لاندې ئې ويالې بهېږي، په هغه کې به تلپاته وي؛ او دا د هغه چا بدله ده چې ځان ئې پاك کړ.

وَلَقَدۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِي فَٱضۡرِبۡ لَهُمۡ طَرِيقٗا فِي ٱلۡبَحۡرِ يَبَسٗا لَّا تَخَٰفُ دَرَكٗا وَلَا تَخۡشَىٰ ﴿٧٧﴾

او يقيناً چې موسی ته مو وحي وکړه چې زما بندګان (د شپې مهال) روان کړه، نو په سيند کې وچه لار ورته پرانيزه، مه له نيول کېدو وېرېږه او مه (له بله پلوه) وېرېږه.

(۷۷)- د دې مبارك آيت خلاصه مطالب دا دي:

الله تعالی موسی عليه السلام ته په وحي سره لارښوونه وکړه چې بني اسرائيل د شپې له لوري له مصر د سينا په لور روان کړه، دوی مخکې او ته ورپسې، په خپلې عصا سره سيند ووهه چې وچه لار په کې پرانېستل شي، مه له دې وېره لره چې د فرعون لښکري به تاسو تعقيب او ونيسي او مه په سيند کې د تېرېدو پر مهال د سيند په څپو کې له لاهو کېدو.

فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلۡيَمِّ مَا غَشِيَهُمۡ ﴿٧٨﴾ وَأَضَلَّ فِرۡعَوۡنُ قَوۡمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾

نو فرعون له خپلو لښکرو سره ورپسې شو، نو د سيند اوبو راونغاړل همغسي چې راوئې نغاړل؛ او فرعون خپل قوم بې لارې کړ او هدايت ئې نه کړ.

(۷۸-۷۹)- دا آيتونه هغه حالت انځوروي چې فرعون له خپلو لښکرو سره په بني اسرائيلو

پسي ووت، د شپې شپې ئې هر لوري ته اربکې ولېږل چې خپل پلويان او فوځيان راغونډ کړي، اعلان ئې وکړ چې دا يو وړوکی ټولگی دئ، که خپلې مخې ته پرېښودی شي او له مصر روغ ووځي موږ ته ستونزي راولاړوي، بايد ونيول شي، په سباوون کې ورپسې شو، کله چې موسی عليه السلام د بحر خوا ته ورسېد، له لري د فرعون لښکري راڅرگندې شوې، د موسی عليه السلام ملگري پرېشان او لالهانده شول، موسی عليه السلام ته راغلل او وئې ويل: موږ محاصره شوو، د وتلو لار نشته، د دښمن په لاس کې پرېوتو. موسی عليه السلام ورته وويل: داسي نه ده، الله تعالی له موږ سره دئ، هغه به د نجات لار راښيي. له همدې وينا سره سم د الله تعالی له لوري ورته وحي وشوه چې بحر په خپلې عصا ووهه، بحر وچاود او ځپې ئې دواړو خواوو ته د لوړو غونډيو په څېر ودرېدې، تېزه هوا وچلېده او زمکه ئې وچه کړه، دوی ته د اوبو په منځ کې وچه لار پرانيستل شوه، له بحر روغ رمټ واوښتل، فرعون له خپلو لښکرو سره د بحر ژۍ ته راورسېد، لار ئې وچه او پرانيستې ومونده، تش لاس او نامراده بېرته ستنېدا ئې د خپل کبر او غرور خلاف وگڼلو، له خپلو آسونو، سپرو او پلو فوځيانو او گاډيو سره ئې بحر ته ودانگل، هغه مهال چې ټول فوځ ننوت، يو سر ئې د بحر يوې ژۍ کې او بل سر ئې بلې ژۍ ته نژدې، ناڅاپي ځپې سره ورغلې، ټول ئې تر خپل کومي تېر کړل، همغسي غرقېدا چې ټول ئې له قصې خبر دي، فرعون خپل قوم بې لاري او له داسي برخليك سره مخامخ کړ، د ده ادعاء بې بنسټه وه چې زه ولس ته سمه لار ښيم او همغه لوري ته ئې بيايم چې رفاه او سوکالي ئې په برخه شي.

---

يَـٰبَنِيٓ إِسۡرَـٰٓءِيلَ قَدۡ أَنجَيۡنَـٰكُم مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوَٰعَدۡنَـٰكُمۡ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنَ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰ ﴿٨٠﴾ كُلُواْ مِن طَيِّبَـٰتِ مَا رَزَقۡنَـٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡاْ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِيۖ وَمَن يَحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِي فَقَدۡ هَوَىٰ ﴿٨١﴾ وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَـٰلِحٗا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ ﴿٨٢﴾

اې بني اسرائيلو! يقيناً چې له خپل دښمن مو وژغورلئ، د طور د ښي (يا بختور) لوري وعده مو درسره وکړه؛ او پر تاسو مو من او سلوی نازل کړل، له هغو پاکيزه وو چې درروزي مو کړل وخورئ او تېری مه په کې کوئ؛ که نه نو زما غضب به درباندي راپرېوځي؛ او پر چا چې زما غضب پرېوځي هغه له شك پرته کوز وغورځېدو. او زه د هغه چا په اړه ډېر بخښونکی يم چې توبه ئې وکړه، ايمان ئې راوړ، صالح عمل ئې وکړ او بيا (همداسي) په سمه لار ولاړ.

---

(٨٠-٨٢)- په دې مبارکو آيتونو کې هغه الهي لارښووني زموږ مخي ته ايښودل شوې چې د

الله تعالی له لوري بني اسرائيلو ته شوې وې او ورته ويل شوي وو: اې بني اسرائيلو! موږ له خپل دښمن وژغورلئ، د طور د ښي لوري وعده مو درسره وکړه، هلته مو مستقر کړئ، پر تاسو مو من او سلوی نازل کړل؛ درته ومو ويل: هغه پاکيزه پاکيزه شيان وخورئ چي موږ درروزي کړل، په الهي نعمتونو کې تيری مه کوئ، که نه نو زما غضب به دربانديې نازل شي، څوك چي زما په غضب اخته شي هغه له شك پرته د ذلت او سپکاوي په ژوري کندي کې پرېوځي. زه د هغه چا په اړه ډېر بخښونکی يم چي توبه ئې وکړه، ايمان ئې راوړ، صالح عمل ئې وکړ او بيا همداسي په سمه لار ولاړ. په دې اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

- دلته د مغفرت لپاره څلور شرائط اېښودل شوي: توبه يعني له گناهونو لاس اخيستل، ايمان راوړل يعني پر الله تعالی، آخرت، پيغمبر او ټولو مؤمن به شيانو ايمان راوړل، صالح عمل؛ او د هدايت پر لار ټينگ پاته کېدل.
- ځينو مفسرينو د طور ښي لوري ته وعده هغه وعده گڼلې چي موسی عليه السلام د الله تعالی سره د ملاقات لپاره هغه ځای ته تللی وو. خو له الفاظو داسي معلومېږي چي مراد ئې د طور خوا ته برکتناکې سيمي کې د بني اسرائيلو مېشت کول دي، دا ځکه چي د ژغورني او من او سلوی تر څنگ ئې يادونه شوې او دا ښيي چي دلته د ايمن معنی بختور دئ؛ او د جانب الطور الايمن مراد د طور بختور اړخ دئ، په قرآن کې دې سيمي ته بختوره سيمه ويل شوې او د بارکنا فيها الفاظ ورته کارول شوي.

---

وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ إِلَيۡكَ
رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ﴿٨٤﴾ قَالَ فَإِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۢ بَعۡدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾
فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ وَعۡدًا
حَسَنًاۚ أَفَطَالَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡعَهۡدُ أَمۡ أَرَدتُّمۡ أَن يَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّكُمۡ
فَأَخۡلَفۡتُم مَّوۡعِدِي ﴿٨٦﴾

او اې موسی! څه شي له خپل قوم راگړندی کړې؟ وئې ويل: دا دي دوی راپسې دي؛ او اې زما ربه! د دې لپاره مي ستا لوري ته تلوار وکړ چي (له ما) راضي شې. وئې فرمايل: يقيناً چي له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کې واچاوو او سامري دوکه او بې لاري کړل. نو موسی خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو؛ وئې ويل: اې زما قومه! آيا خپل رب د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې؟ آيا (د وعدې دا) موده دربانديې اوږده شوه؟ يا ومو غوښتل چي د خپل رب غضب دربانديې راپرېوځي؟ نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ!!

(۸۳-۸٦)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د طور غره ته د موسی علیه السلام د تګ هغه قصه بیان شوې چې د خپل قوم له یوه درونډ وفد سره تللی او د تورات احکام ورکړی شوي، میقات ته تر نورو وړاندې رسېدلی، الله تعالی ترې پوښتلي: اې موسی! څه شي له خپل قوم راګړندی کړې؟ وئې ویل: دا دي دوی راپسې دي؛ او د دې لپاره مې ستا لوري ته تلوار وکړ چې له ما راضي شې. الله تعالی وفرمایل: له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کې واچاوو او سامري دوکه او بې لارې کړل. په دې سره قرآن د بني اسرائیلو او هر هغه قوم فکري تزلزل او تردد انځوروي چې دیني روزنه ئې کمزورې وي، حالت ئې داسې وي چې د قائد څو ورځنی غیابت د دې باعث شي چې په ټګمارو مشرانو پسې روان شي. دا دئ ګورئ چې موسی علیه السلام د تورات راوړلو لپاره د طور غره ته ولاړ، لا څو ورځې نه وې تېرې شوې چې په دوی کې د سامري په څېر جهل او شرك ته بلونکی راپیدا شو، دوی ته ئې د سخوندر په بڼه کې بُت جوړ کړ، د هغه خوا ته دېره شول او هغه ئې د معبود په توګه ونیو، له سرو او سپینو زرو جوړ شوی سخوندر ئې معبود شو او هغه ئې د خدای او بنده تر منځ واسطه او وسیله وګڼلو. د بني اسرائیلو او د هر جاهل قوم یوه ستونزه دا ده چې د صالح مشر او زعیم په شتون کې په سمه لار راشي؛ خو چې هغه ترې لرې یوې خوا ته شي؛ نو دوی په بې لارې او منحرف مشر راغونډ شي او سمه لار پرېږدي. بني اسرائیل خو داسې وو چې د موسی علیه السلام د دعوت په نتیجه کې ئې نه یوازې پر الله ایمان راوړ؛ بلکې په دې لار کې د کړاوونو او ستونزو ګاللو او له مصر هجرت ته هم چمتو شول؛ خو چې څو ورځې موسی علیه السلام میقات ته ترې ولاړ؛ د سامري په شا و خوا راغونډ شول، په هغه پسې ئې اقتداء وکړه او د هغه په وینا (سخوندر) ته په سجده پرېوتل. دوی د څارویو او بوده وو په څېر دي، شپون ئې په هر لوري بیولی شي. د دوی دا جرم د سختې نیونې وړ وو، که موسی علیه السلام نه وی، هغه دروغجن معبود ئې نه وی نسکور کړی او سامري ئې نه وی مجازات کړی؛ نو د الله ستر عذاب به پرې نازلېدو. خو الله تعالی د همدې له کبله ورته عفو وکړه. د دې نعمت مقتضی خو دا وه چې تاسو تل د الله شاکر بندګان وئ او هیڅکله مو د شرك او عصیان لار نه وی غوره کړې.
- قرآن موږ ته وايي چې له سرو او سپینو زرو بُت جوړول د سامري کار دئ!! واقعاً چې د سرو زرو معبد او معبود جوړول د هغو ټګمارانو کار دئ چې د سامري په څېر وي!! هیڅ واقعي خدای پالونکی به په دې راضي نه شي چې د الله تعالی په نامه دې له غولېدلو عوامو سره زر تر لاسه شي او هغه دې په داسې مواردو کې مصرف شي. واقعي الهي دین هغه دئ چې خلکو ته وايي: د الله تعالی د بې وزلو بندګانو مرسته وکړئ، شتمنۍ مو د خیر په کارونو کې، د وږو په مړولو کې، د بربنډو په پټولو کې، د بیمارانو په تداوي کې او د مسکینانو په لاس نیوې کې ولګوئ، سره او سپین زر مه ذخیره کوئ، چا چې ذخیره کړل ځای ئې جهنم دئ!!
- موسی علیه السلام خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو؛ وئې ویل: اې زما قومه! آیا الله د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې؟ آیا د وعدې دا موده درباندې اوږده

شوه؟ يا ومو غوښتل چې د خپل رب غضب درباندې راپرېوځي؛ نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ؟!

قَالُواْ مَآ أَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ بِمَلۡكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلۡنَآ أَوۡزَارٗا مِّن زِينَةِ ٱلۡقَوۡمِ فَقَذَفۡنَٰهَا
فَكَذَٰلِكَ أَلۡقَى ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخۡرَجَ لَهُمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٞ فَقَالُواْ هَٰذَآ
إِلَٰهُكُمۡ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوۡنَ أَلَّا يَرۡجِعُ إِلَيۡهِمۡ قَوۡلٗا وَلَا يَمۡلِكُ
لَهُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدۡ قَالَ لَهُمۡ هَٰرُونُ مِن قَبۡلُ يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦۖ
وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوٓاْ أَمۡرِي ﴿٩٠﴾ قَالُواْ لَن نَّبۡرَحَ عَلَيۡهِ
عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرۡجِعَ إِلَيۡنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾

وئې ويل: موږ په خپلې خوښې او واك سره ستا له وعدې نه يو په شا شوي، خو د هغه قوم د ګاڼو پېټي راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول، نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوايسته چې رمباړه ئې وه؛ او وئې ويل: دا ستاسو او د موسى معبود دئ چې هېر کړی ئې دئ، آيا دې ته ئې نه کتل چې هيڅ خبره نه ورګرځوي (د خبرې ځواب نه شي ورکولی) او نه دوی ته د کومې ګټې واك لري او نه د څه تاوان؛ او يقيناً چې هارون تر دې وړاندې ورته ويلي وو: اې زما قومه! يقيناً چې په دې سره وآزمويل شوئ او ستاسو رب خو له شك پرته هماغه رحمن رب دئ؛ نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ. وئې ويل: تر هغه به ئې تل اعتکاف کوو (پر لمانځنې به ئې ټينګار کوو) چې موسى راوګرځي.

(٨٧-٩١)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

• قوم موسى عليه السلام ته وويل: موږ دا کار په خپل سر نه دئ کړی، په خپله خوښه ستا له وعدې نه يو په شا شوي؛ خو د هغه قوم د ګاڼو پېټي راپه شا شول؛ نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول؛ نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوايسته چې رمباړه ئې وه. او وئې ويل: دا ستاسو او د موسى معبود دئ. دلته د آيت په پای کې راغلي چې هېر ئې کړ؛ ځيني مفسرين دا د سامري وينا ګڼي او وايي چې هغه د موسى عليه السلام په اړه وويل: همدا د موسى عليه السلام خدای دئ؛ خو ترې هېر شوی!! چې په دې صورت کې به ئې معنى دا وي چې موسى عليه السلام غوښتل داسې معبود جوړ کړي خو د هېربدو له کبله دا کار ترې پاته شوی. د بل تعبير له مخې دا د الله تعالى قول ګڼل شوی چې معنى ئې دا ده: قوم د موسى عليه السلام هغه لارښوونې هېرې کړې چې د الله تعالى په اړه ئې دوی ته

کړې وې، له همدې کبله د سامري په لومې کې ونښتل او له سرو زرو جوړ شوی سخوندر ئې د الله تعالی ځای ناستی وګڼلو.

- دوی دې ته هم نه کتل چې دا سخوندر ډوله معبود هیڅ خبره نه ورګرځوي، د هیڅ خبرې ځواب نه شي ورکولی، نه دوی ته د کومې ګټې واك لري او نه د څه تاوان.
- هارون علیه السلام تر دې وړاندې ورته ویلي وو: اې زما قومه! یقیناً چې په دې سره وآزمویل شوئ او ستاسو رب خو له شك پرته هماغه رحمن رب دئ؛ نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ.
- قوم په ځواب کې ورته ویلي: تر هغه به ئې تل پر ځانځني ټینګار کوو چې موسی راوګرځي.

ګورئ چې قرآن موږ ته وایي: (طلایي بُت) جوړول د (سامري) کار دئ، موږ ته د ټولو طلایي معبودانو او معبدونو حقیقت بیانوي او لارښوونه راته کوي چې که چېرې تاسو ته داسې معبد او معبود په نظر درشي چې له سرو او سپینو زرو جوړ شوی نو پوه شئ چې د دې په جوړولو کې حتماً د کوم سامري لاس وو!! یوازې دوکه ماران او ټګماران د سرو او سپینو زرو جعلي معبود او معبد جوړوي؛ همدا ئې دام او دکان وي؛ د همدوی په نامه له ساده او له عقل پیاده غولېدلو ډېر څه شکوي؛ یوه برخه ئې د خپل دام پر سینګار لګوي او ډېره برخه ئې پر خپل ځان.

قَالَ يَـٰهَـٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓاْ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِى ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِى وَلَا بِرَأْسِىٓ ۖ إِنِّى خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِى ﴿٩٤﴾

وئې ویل: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چې دوی دې بې لارې وموندل او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آیا زما له امر دې سرغړاوی وکړ؟ وئې ویل: اې زما د مور بچیه! تر ږیرې او تر سر مې مه نیسه، زه له دېووېرېدم چې ته به (راته) ووایې: په بني اسرائیلو کې دې تفرقه راولاړه کړه او زما د وینا خیال دې ونه کړ!!

(۹۲-۹۴)- دا مبارك آیتونه د موسی علیه السلام هغه جلالي حالت انځوروي چې خپل قوم ته غضبناك راګرځېدلی، خپل ورور هارون علیه السلام ئې د سر او ږیرې له وېښتانو کلك نیولی، ځان ته ئې راکښ کړی او ورته ویلي ئې دي: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چې دوی دې بې لارې وموندل او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آیا زما له امر دې سرغړاوی وکړ؟ د هارون علیه السلام ځواب هم د یوه صالح، صبرناك، د لوی زغم خاوند او باحکمت او بادرایت ورور په توګه داسې انځوروي: اې زما د مور بچیه! تر ږیرې او تر سر مې مه نیسه،

ما خپله دنده تر سره کړې، د خپل وس او توان تر حده مې د دوی مخنیوی کړی، دومره چې ووېرېدم ته به مې ورتې او راته وبه وایې: په بني اسرائیلو کې دې تفرقه راولاړه کړه او زما د وینا خیال دې ونه کړ!!

دې ته مو پام وي چې ځینو درنو مفسرینو د هارون علیه السلام دا وینا داسې تعبیر کړې لکه چې هغه اصلاً د سامري هیڅ مقابله ئې نه وي کړې، حال دا چې قرآن په ډېر صراحت سره په ۹۰ آیت کې وایي: هارون تر دې وړاندې ورته ویلي وو: اې زما قومه! یقیناً چې په دې سره وآزمویل شوئ او ستاسو رب خو له شك پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ. قوم ځواب ورکړی وو چې موږ د موسی علیه السلام تر راتلو پورې د دې بُت له لمانځنې لاس نه اخلو.

دا مطلب د الاعراف په سوره کې په دې توګه راغلی:

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾ الاعراف: ١٥٠-١٥١

او کله چې موسی خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوګرځېدو وئې ویل: له ما وروسته مو زما ډېر بد نیابت کړی، آیا د خپل رب په کار کې مو دومره تلوار وکړ؟ (داسې ژر مو د الله تعالی په ځای د بُت عبادت پیل کړ؟) الواح ئې لرې وغورځولې او خپل ورور ئې تر سر ونیو او د ځان په لوري ئې راکشود، (ورور ئې) وویل: زما د مور بچیه! قوم کمزوری وګڼلم، نژدې وو ومې وژني؛ نو دښمنان مه راباندې ښادوه او د ظالم قوم له ډلې مې مه ګرځوه! وئې ویل: زما ربه! ما ته بخښنه وکړې او زما ورور ته هم او په خپل رحمت کې مو داخل کړې او ته خو یقیناً چې تر ټولو رحم کوونکو زیات رحم کوونکی یې.

دا آیتونه موږ ته وایي:

- موسی علیه السلام خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوګرځېد، له یوې خوا سخت غصه وو او له بلې خوا ئې د دې ناپوه قوم په حالت تأسف کولو چې څنګه دومره ژر دوکه شول او د شرك په ګنده ډنډ کې پرېوتل.
- ورور ته ئې وویل: زما بد نیابت دې کړی.
- له ډېرې غصې ئې الواح پر زمکه وغورځولې.
- خپل ورور ئې له ږیرې او د سر له وېښتانو ونیولو او په زور ئې ځان ته راکشود.
- هارون علیه السلام د یوه مطیع او صالح ورور په توګه ورته وویل: ما خپله دنده تر

سره کړې، دوی مې له دې کار منعه کړې؛ خو راباندې برلاسې شول، نژدې وو ما ووژني، له ما سره دا اندېښنه وه چې ته به مې پر دې ملامتوې چې ولې دې په قوم کې اختلاف راولاړ کړ او زما تر راتلو دې انتظار ونه کړ؛ خو د انتظار خلاف گورم چې ته مې رټې، دښمنان مه راباندې ښادوه، مه مې د ظالمانو له ډلې شمېره او مه مې داسې کار ته اړ کوه چې ظالمان ئې کوي!

- د هارون علیه السلام د خبرو له اورېدو وروسته حقیقت ورته جوت شوی، له تحقیق او پوښتنې گروېږنې مخکې د هارون علیه السلام په اړه دا کار ئې خپله غلطي او اشتباه گڼلې، د ځان او خپل ورور لپاره ئې د مغفرت او رحمت دعاء کړې.

په دې قصې کې د موسی علیه السلام لوړ همت، جلال او دیني غیرت انځور شوی، دا ئې نه شو زغملی چې د ده قوم د شرك په ډنډ کې پرېوځي، گمان ئې کړی چې هارون علیه السلام تساهل او نرمي کړې، نو ځکه ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونیولو او په زور ئې ځان ته راکشود. هیبت ئې هومره چې نه ئې سامري مخې ته ودرېدی شو او نه د هغه مشرك پلویان.

گورئ چې د موسی علیه السلام چلن جدي وو، له خپل نائب سره هم او له سامري او د سامري له پلویانو سره هم، خپل ورور د سر او ږېرې له ویښتانو نیسي، په قهر او غصې سره ئې د ځان په لوري راکاږي، ورته وایي: ولې دې د سامري او د هغه د پلویانو د شرك په وړاندې سکوت وکړ؟ کله چې دې دوی ولیدل د الله تعالی په ځای د سخوندر عبادت کوي ولې دې مخنیوی ونه کړ؟ هغه ورته وایي: ای زما د مور زویه! "ای زما وروره!" زه قوم بې وسه کړم، نژدې وو چې ما ووژني، دښمنان مه راباندې خوشحالوه! او ما د ظالمانو له جملې مه گرځوه! ما مه د دوی ملگری گڼه او مه مې داسې کار ته اړ کوه چې ستا په وړاندې بې ادبي وکړم او له ظالمانو شم. ورته وایي: ما تر ډېره حده د دوی مقابله وکړه، حتی له ما سره دا وېره راولاړه شوه چې ته به له راگرځېدو وروسته ما په دې ملامت کړې چې ولې دې زما تر راتلو انتظار ونه کړ؟ ولې دې په ولس کې اختلاف راولاړ کړ؟ ولې دې د ولس د وحدت او یووالي خیال ونه ساتو؟

موسی علیه السلام بُت ټوټې ټوټې کوي، بیا ئې سوزوي او ایرې ئې په اوبو کې غورځوي؛ او سامري ته داسې سزا اعلانوي چې هر څوك به ترې لرې گرځي او له لاس وروړو به ځان ساتي.

کله چې بني اسرائیل له مصر وتل، د لارې په اوږدو کې د داسې قوم خوا ته تېر شول چې بُتان ئې لمانځل، دوی هم له موسی علیه السلام وغوښتل چې همداسې کوم بُت ورته جوړ کړي، موسی علیه السلام سخت ورټل او دا ئې د یوه جاهل او ناپوه قوم غوښتنه وگڼله، سامري د قوم دا تلوسه او د ضعف نقطه درك کړه، منتظر وو چې په کوم مناسب فرصت کې ترې گټه واخلي، پوه شو چې دا خلك څرگند او تر سترگو کېدونکی خدای غواړي، د ولس جاهلانه تلوسې او د موسی علیه السلام موقت غیابت دا موقع په لاس ورکړه، په بیړه پاڅېد

او خلكو ته ئې وويل: بايد د نورو قومونو په څېر د دعاء او عبادت پر مهال د خداى انځور زموږ مخې ته ولاړ وي، سخوندر د قوت نښه ده، د خداى قدرت او ځواكمني بايد د سخوندر په بڼه كې انځور كړو، كه تاسو خداى منئ نو خپلې ګاڼې راوړئ. دوى ته ئې د سخوندر داسې مجسمه جوړه كړه چې كله كله به رمباړه ترې پورته كېده، منځ ئې ګوګ او مجوف وو، كله چې به هوا د ګوګ له منځه تېرېده نو غږ به ئې ترې پورته كېدو، قوم ته ئې وويل: دا همغه خداى دئ چې تاسو ئې له مصر راوايستئ!!

د ګاڼو له غونډولو معلومېږي چې ښايي په دې كار كې د ښځو ونډه تر نارينه وو زياته وه!! اوس هم ګورئ چې د كوډګرو، تعويذګرو، فال نيوونكو، نجوميانو، زيارتوالو، پيرانو او فقيرانو خوا ته اكثراً ښځې ورځي او د خپلو حاجتونو تر سره كېدا ترې غواړي؛ او په بدل كې ئې شكرانې او نذرانې وركوي.

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِى نَفْسِى ﴿٩٦﴾ قَالَ فَٱذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِى ٱلْحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَ ۖ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّن تُخْلَفَهُۥ ۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِى ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِى ٱلْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

وئې ويل: اې سامري! ستا څه حال وو؟ وئې ويل: هغه څه مې تر سترګو شول چې د نورو تر سترګو نه شول، نو د پيغمبر له آثارو مې يو موټ تر لاسه كړل، بيا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښايسته كړ. وئې ويل: نو درومه او ستا لپاره به د دنيا په ژوند كې دا ويل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته داسې نېټه ټاكل شوې چې ترې شا ته كېدا دې نشته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پېرمخې ئې خوا ته پرېوتى وې، خامخا به ئې وسوزوو، بيا به ئې د ايرو په څېر په سيند كې وشيندو، خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هر څه احتواء كړې.

(٩٥-٩٨)- د دې مباركو آيتونو په اړه مو ځو خبرو ته پام وي:

- موسى عليه السلام سامري ته مخ كړ او وئې پوښتو: اې سامري! ستا څه حال وو؟ ولې دې دا كار كړى؟ سامري ځواب وركړى: داسې څه مې تر سترګو شول چې د نورو خلكو نه وو تر سترګو شوي، نو د پيغمبر له آثارو مې يو موټ تر لاسه كړل، بيا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښايسته كړ! دلته دا وضاحت نه تر سترګو كېږي چې سامري څه ليدلي، دومره ويل

شوي چې د پيغمبر آثار ئې تر ستړګو شوي او يو موټ ئې ترې اخيستی. ځينو له دغو الفاظو دا انتباه اخيستې چې سامري جبريل عليه السلام ليدلی او د هغه د آس د پلونو يو موټ خاوره ئې تر لاسه کړې، همدا ئې د سخوندر په خوله کې اچولې او د سخوندر د رمباړې وجه همدا خاوره وه!! خو دا خوشې ادعاء او بې بنسټه انګېرنه ده. په څو دلائلو: قرآن نه دي ويلي چې جبريل په اسپي سپور ځان فرعون ته ورښودلی چې د ده آس وهڅوي او ورپسې شي او سيند ته ننوځي، دوی دا خبره له کوم ځای رااېستلې؟ که دا کار شوی وي نو دا خو به ئې د سيند آبلي غاړې کې فرعون ته ښودلي وي نو سامري څنګه وليد، په داسې حال کې چې سامري د سيند په دې غاړې کې وو؟ ولې به يوازې سامري ليدو او ولې به ګڼ شمېر نورو نه وي ليدلی؟ دې ته څه ضرورت وو چې د فرعون د آس د هڅولو لپاره بايد جبريل عليه السلام له آسمان راکوز او پر يوې اسپې سپور شي؟!! مګر الله تعالی له دې پرته دا کار نشي کولی؟!!

- په لږ دقت سره د آيت له فحوی معلومېږي چې د سامري مراد له رسول په خپله موسی عليه السلام دئ او د رسول له اثر ئې مراد د موسی عليه السلام لارښوونې دي، په عربي کې اثر او آثار همدې ته وايي، مطلب ئې دا دئ چې ما د پيغمبر ځينې لارښوونې تر لاسه کړې، د دين په ځينو برخو پوه شوم، څه علم راپه برخه شو، خو د هوی او هوس په غوښتنه مې هغه لرې وغورځول؛ او دغه کار ته ئې وهڅولم، خلکو د هغه مخکينې ديني علم او پوهې له امله زما خبرې ومنلې او سخوندر لمانځلو ته چمتو شول. په دې سره قرآن موږ ته د سامري او سامريانو د ښه پېژندو په اړه لارښوونه کوي او د دوی ځانګړتياوې داسې معرفي کوي: تر عامو خلکو ئې پوهه او بصيرت نسبتاً زيات دئ، يعني شيخ او ملا دئ، هم خلك ورته د پوه په سترګه ګوري او هم په خپله ځان تر نورو پوه ګڼي، د پيغمبر له لارښوونو، شعارونو او علومو ئې هم څه برخه تر لاسه کړې، خو په نيمې لارې کې ئې ټول شا ته غورځولي، نفس دوکه کړی او د خلکو غولولو ته ئې هڅولی. يعني د شرك بنسټ د هغو ټګمارو مذهبي مشرانو په لاس ايښودل شوی چې د پيغمبر له آثارو او د دين له ويناوو ئې څه برخه درلوده، خو دا ئې شا ته غورځولي او د خلکو د دوکه کولو لپاره ئې ملا تړلې، د سرو زرو بُت ئې ورته جوړ کړی، هغه هم په خپله د دوی له ګاڼو او پيسو او ورته ويلي ئې دي: دا ستاسو رب دئ او په دې توګه ئې خلك د الله تعالی په ځای د (سخوندر) عبادت ته چمتو کړي!!

- موسی عليه السلام هغه ته وويل: نو درومه او ستا لپاره به د دنيا په ژوند کې دا ويل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته داسې نېټه ټاکل شوې چې ترې شا ته کېدا دې نشته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پرمخې ئې خوا ته پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوزوو، بيا به ئې د ايرو په څېر په سيند کې وشيندو، خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هر څه احتواء کړې. سامري ته د موسی عليه السلام له دې وينا معلومېږي چې هغه غوښتل خلك وغولوي، د ځان ملګري ئې کړي، د پلويانو شمېر ئې زيات شي، په همدې موخه ئې دا بُت جوړ کړی وو، نو څکه موسی عليه

السلام د هغه سزا داسې اعلان کړه: درومه او ستا لپاره به د دنيا په ژوند کې دا ويل وي چې: لاس مه راوړئ!! يعني همدغو خلکو ته به وايې: زما خوا ته مه راځئ، له ما لرې گرځئ، ما ته لاس مه راوړئ!!

دې ته مو هم پام وي چې غربي مستشرقينو د نورو مواردو په څېر دلته هم د (سامري) د نامه په اړه دا اعتراض کړی چې گواکې قرآن د سامري نوم له مخکينيو کتابونو په غلطه توگه اخيستی او دا په اصل کې سامريه د بني اسرائيلو د هېواد هغه پلازمېنه ده چې تر دې واقعې ډېر وروسته دا پلازمېنه جوړه شوې او دا نوم ورته غوره شوی!! خو که له دې جنابانو پوښتنه وکړو چې د (سامريه) نوم له څه اخيستل شوی؟ ولې دې پلازمېنې ته دا نوم ورکړی شو؟ که دا نوم په دوی کې پېژندل شوی نوم نه وی څنگه ئې د پلازمېنې لپاره غوره کاوو؟ ځواب به ئې څه وي؟!!، د دې بې بنسټه او چټې اعتراض وجه دا ده چې بايبل د سخوندر جوړول هارون عليه السلام ته منسوب کړي، نو دا مستشرقين ځکه د سامري د نامه په اړه دې وينا ته اړ شوي!! بايبل په دې اړه ليکلي: کله چې موسی د سينا په غره کې وو خدای ورته هغه لوحې ورکړې چې په خپلو گوتو ئې لس احکام په کې ليکلي وو!! خو د سينا په غره کې ئې ځنډ وکړ... خلك هارون ته راغلل چې پاڅه او موږ ته خدای جوړ کړه چې زموږ لارښوونه وکړي... هارون ورته وويل: د سرو زرو هغه گاڼې ما ته راوړئ چې ستاسو د مېرمنو، لوڼو او زامنو په غوږونو کې دي، خلکو دا کار وکړ... هارون ټولې ويلې کړې، په يوه قالب کې ئې واچولې او سخوندر ئې ترې جوړ کړ، کله چې خلکو سخوندر وليد چيغې ئې کړې: اې بني اسرائيلو! دا ستاسو هغه خدای دئ چې له مصر ئې راوايستئ!! هارون د دې صحنې په ليدو سره د سخوندر مخې ته د قربانۍ ځای هم جوړ کړ او وئې ويل: سبا د خدای لپاره جشن نيسو!! سبا خلك سهار وختې پاڅېدل، د سخوندر په وړاندې ئې د سوزولو او سلامتۍ قربانۍ وړانده کړه، کېنېنستل... ښه ډېر خوراك څښاك او د بې حيايۍ کارونه ئې وکړل... خدای موسی ته وويل: په تلوار لاندې ولاړ شه چې ستا قوم فاسد شوی... پرېږده چې د خپلې غصې اور پرې بل کړم... او ټول ووژنم... خو موسی وويل: خدايه! ولې پر خپل قوم دومره غصه يې؟ سؤال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازات تېر شه!!... خپله هغه لوړه درياد کړه چې ابراهيم او اسحاق ته دې ويلې وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!!... نو له دې کبله خدای له خپل تصميم تېر شو!!... نو موسی له غره راکوز شو... او هغه دوه ډبريني لوحې ئې په لاس کې وې چې په دواړو خواوو ئې (خدای په خپل لاس) لس احکام ليکلي وو... کله چې پنډغالي ته رانژدې شو، شور او ځوږ ئې تر غوږ شو... سترگې ئې پر طلايي سخوندر ولگېدې چې خلك ئې مخې ته په نڅا او خندا بوخت دي... داسې غصه شو چې لوحې ئې تر غره!! لاندې وغورځولې او ټوټې ټوټې شوې... بيا ئې طلايي سخوندر په اور کې ويلې کړ، وئې ټکاوو او د هغه دوړې ئې پر اوبو وشيندلې او دا اوبه ئې پر بني اسرائيلو وڅښلې!!! ... هارون ته ئې وويل: ولې دې له قوم سره دا جفا وکړه؟.. د پنډغالي په دروازه کې ودرېدو او غږ ئې کړ:

ځوك چې د خدای پلوي وي زما خوا ته دې راشي... د لاوي ټول ټبر د ده خوا ته راغونډ شو... ورته وئې ويل: خدای امر کوي چې توري تر ملا وتړئ، د پنډغالي له يوه سر تر بل سر ولاړ شئ، خپل ورور، دوست او گاونډی ووژنئ...لاويانو اطاعت وکړ او په دې ورځ درې زره اسرائيليان ووژل شول... موسی لاويانو ته وويل: تاسو ثابته کړه چې د خدای د خدمت وړ ياست... نو خدای به تاسو ته برکت درکړي!!!... موسی خدای ته وويل: دې قوم لويه گناه کړې، خو ته ئې وبخښه او يا خو زما نوم له خپل کتاب محوه کړه!! خدای ورته وويل: ستا نوم به ولې محوه کوم... چا چې گناه کړې هغه ته سزا ورکوم...خدای د هغه بُت د لمانځنې له کبله چې هارون جوړ کړی وو پر بني اسرائيلو لويه بلا نازله کړه!! بيا خدای موسی ته وفرمايل: دا قوم هغې سيمې ته بوځه چې شات او شيدې په کې بهېږي!!! خو زه به په دې سفر کې ستاسو په منځ کې نه وم، ځکه چې سرکښ يئ... ممکن په لارې کې مو هلاك کړم!! که يوه شېبه ستاسو په منځ کې پاته شم نو تاسو حتماً وژنم... تر هغه چې ستاسو په اړه وروستۍ پرېکړه کوم هر ډول گاڼې او جواهرات له ځان لرې کړئ... )

که څه هم د دې وينا جمله جمله غلطه او مسخره ده او هر عاقل انسان ئې په غلطۍ پوهېږي، خو د بايبل د هغو منونکو لپاره چې دا کتاب ئې له غور پرته منلی او هره وينا ئې ورته مقدسه برېښي، څو وضاحتونه ضروري گڼو:

- آيا الله تعالی زموږ په څېر دئ چې د څه ليکلو لپاره بايد قلم په لاس کې واخلي او په خپلو گوتو څه وليکي؟!! د الله تعالی په اړه داسي وينا خو يوازې هغه ځوك کولی شي چې نه ئې پېژني او په يوه کمزوري او محتاج انسان ئې قياسوي، راشئ د بايبل دا ضعيفه وينا د قرآن له جامع او کاملي وينا سره مقايسه کړئ چې فرمايي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ يس: ٨٢

يقيناً چې د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه؛ نو هغه (له ځنډ پرته تر سره) کېږي!!

- که په رښتيا دا د سرو زرو سخوندر ډوله بُت او د هغه مخې ته د قربانۍ ځای هارون جوړ کړی وي؛ نو تر ټولو سخته سزا خو بايد ده ته ورکړی شوې وی!! دا څنگه موسی عليه السلام د نورو د وژلو امر کوي، هغه هم له پوښتني او گروېږنې پرته او د پنډغالي له يوه سر تر بل سر د ټولو د وژلو امر؛ او هارون عليه السلام ته نه يوازې کومه سزا نه ورکوي بلکې دی او زامن ئې (لاويان) د معبد د ساتونکو او پالونکو په توگه پرېږدي او پرېمانه امتيازات ورته مني؟!!!

آيا ستاسو عقل او ايمان دا مني چې الله تعالی به داسي پرېکړه کړې وي چې يوه ډله به توري له تېکو راباسي او د پنډغالي له يوه پلوه به تر بله پلوه پوري درومي او چې ځوك مخې ته ورځي، که ئې ورور وي، که دوست، که گاونډی؛ نو وژني به ئې؟!! پرته له دې چې وگوري د سخوندر عبادت ئې کړی وو که نه، د وژلو وړ دئ که نه؟ د عقل، عدل او دين

تقاضا خو دا ده چې يوازې مجرم ته سزا ورکړی شي او يوازې بُت لمانځونکي مجازات شي!!
که دا د پټو سترګو وژنه وی نو ولې به له شپږو لکو يوازې درې زره وژل کېدل؟! په کار خو
دا وه چې په داسې عام قتل کې د وژل شوو شمېر ډېر زيات وی. که د بايبل دا خبره رښتيا
وي چې درې زره وژل شوي نو بيا خو د دې معنی دا ده چې يوازې مجرمان وژل شوي.
متأسفانه زموږ ځينې مفسرين هم د دغو اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندې تللي او د بايبل دا
غلطه او بې بنسټه وينا ئې د قرآن د دې مبارك آيت په تفسير کې رااخيستې.

هر عقلمن انسان په دې پوهېږي چې د معبد د سينګارولو لپاره سره او سپين زر کارول
او مجاور ته ئې د نفيس ټوکر جامې جوړول او قيمتي ډبرې ئې په سينه بند او ملابند کې
کارول يوازې د ټګمارو مذهبي مشرانو کار کېدی شي، په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه
شته، نه ئې خاص امتيازات، نه ئې خاصه تبعيضي او امتيازي جامه، نه ئې په قربانيو او
صدقاتو کې خاصه برخه. اسلام موږ ته وايي ټوله زمکه مسجد دئ، په هر ځای کې د الله تعالی
عبادت کولی شئ، امام په خپله غوره کړئ، هغه امام مه نيسئ چې پر امامت اجوره غواړي،
مسجد به مو ساده وي او له سينګارولو به ئې ډډه کوئ، د لمانځه په مهال به امام له
مقتديانو په لوړ ځای نه ودرېږي. او دا همغه خبره ده چې د بايبل ليکونکي سهواً ليکلې
وه: د قربانۍ ځای له خاورو جوړ کړئ، که ډبره کاروئ نو مه ئې تراشئ، تراشلې ډبرې له ما
سره نه ښايي!! په معبد کې زينه هم مه جوړوئ، خو هغه د انجيل په دغې خبرې کې تحريف
کړی او دا ئې پرې اضافه کړې: داسې نه چې له دغو زينو د پورته تلو په مهال مو عورت
بربنډ نه شي...د بايبل ليکونکی دې ته نه دئ تيار چې ووايي: زينې د دې لپاره مه جوړوئ
چې د الله تعالی په وړاندې يو برابر ودرېږئ!!

آيا ستاسو عقل دا خبره مني چې موسی عليه السلام به په بني اسرائيلو له اېرو ډکې اوبه
څښلې وي؟! ولې به ئې دا خوشې او بې معنی کار کاوو او د دې ګټه څه وه او څه معنی
ئې درلوده؟! قرآن د بايبل دا وينا ردوي او فرمايي چې بني اسرائيلو د سوزول شوي بُت په
اېرو لړلې اوبه نه وې څښلې بلکې د دې بُت مينه ئې څښلې وه!!

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ ءَاتَيْنَـٰكَ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾
مَّنْ أَعْرَضَ عَنْهُ فَإِنَّهُۥ يَحْمِلُ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خَـٰلِدِينَ فِيهِ ۖ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ
ٱلْقِيَـٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ ۚ وَنَحْشُرُ ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾
يَتَخَـٰفَتُونَ بَيْنَهُمْ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذْ يَقُولُ
أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾

همدا راز تا ته د هغو (پېښو) قصې بيانوو چې وړاندې تېرې شوې او يقيناً چې له خپل

لوري مو تا ته يو ذکر درکړی، څوك چې ترې ډډه وکړي نو د قيامت په ورځ به يو پېټی پر شا وړي، تلپاتې په هغه کې، د قيامت په ورځې به ئې بار څومره بد وي، هغه ورځ چې په شپېلۍ کې به پو شي او مجرمين به په دې ورځ داسي راغونډ کړو چې شنه شنه به (اوښتي) وي، په خپلو منځونو کې به ورو ورو او په پټه پټه دا خبره کوي چې يوازي لس ورځې ځنډېدلي يئ!! موږ په هغه څه ښه پوه يو چې دوی ئې وايي هغه مهال چې د تګلاري له پلوه غوره به ئې وايي: يوازي يوه ورځ ځنډېدلي يئ.

(۹۹-۱۰٤)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي:

په دې توګه تا ته د مخکينيو پېښو قصې بيانوو، له خپل لوري مو تا ته دا د پند او يادوني (ستر کتاب قرآن ) درکړی، څوك چې ترې ډډه وکړي نو د قيامت په ورځ به د ګناه يو درونډ پېټی پر شا وړي، تر دې درونډ پېټي لاندي تلپاته، د قيامت په ورځ به ئې دا بار څومره بد وي، هغه ورځ چې په شپېلۍ کې به پو شي او مجرمين به په دې ورځ داسي راغونډ کړو چې شنه شنه به اوښتي وي. د دې معنی يا دا ده چې سترګي به ئې له ډېري وېري، هيبت او کړاو شنې شوې وي، ړدي ړدې به راوتلې وي او د سترګو تور به شنه بخون شوي وي؛ او يا دا چې د دوی رنګ به له هيبته او وېري شين بخون شوی وي، په خپلو منځونو کې به ورو ورو او په پټه پټه دا خبره کوي چې يوازي لس ورځې ځنډېدلي يئ!! تر ټولو غوره به ئې وايي: يوازي يوه ورځ ځنډېدلي يئ. ډېری به په دنيا کې او تر خاورو لاندي خپله ځنډېدا د لسو ورځو ځنډېدا ګڼي او هغه چې د تګلاري له پلوه تر نورو غوره وي او محتاطانه خبره کوي هغه به ئې يوازي د يوې ورځې ځنډېدا بولي.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّى نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾
لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَآ أَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِىَ لَا عِوَجَ لَهُۥ ۖ وَخَشَعَتِ
ٱلْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنْ
أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَرَضِىَ لَهُۥ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا
يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴿١١٠﴾

او د غرونو په اړه تا پوښتي، ووايه: زما رب به ئې د دوړو په څېر خواره واره کړي، نو د آوار ډاګ په څېر به ئې پرېږدي، نه به کوم پېچومی په کې ګورې او نه لوړه ژوره. په دې ورځ به په بلونکي پسې داسي درومي چې کوږوالی به ئې نه وي؛ او د رحمن رب په وړاندي به غږونه ټت شي. نو له کښهار (د پښو څپا) پرته به بل څه نه اورې. په

هغه ورځ به شفاعت څه ګټه نه رسوي، مګر د هغه چا چې خدای اجازه ورکړې او د ده په وینا راضي شي. هر هغه څه ورته معلوم دي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي او دوی علماً پرې احاطه نشي کولی.

(۱۰۵-۱۱۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- د قیامت منکرین له رسول الله صلی الله علیه و سلم پوښتل چې دا ستر ستر غرونه به څنګه شي؟ څنګه ومنو چې دا به ټوټې ټوټې شي؟! دوی ته په ځواب کې ویل شوي: زما رب به ئې د دوړو په څېر خواره واره کړي، زمکه به د آوار ډاګ په څېر کړي، نه به کوم پیچومی په کې ګورې او نه لوړه ژوره. هغه خلك چې نظر ئې کمزوری او لري لید ئې لنډ او تنګ دئ، د یوه مضبوط دېوال رنګېدل هم ورته ګران برېښي؛ د سترو سترو غرونو رنګېدل او ټوټې ټوټې کېدا خو آخوا پرېږده. خو هغه چې له حقائقو خبر دي پوهېږي چې په دې خور عالم کې هره ګړۍ داسې ستر ستر ستوري له منځه ځي چې زمکه د هغوی په پرتله یوه توپ ته ورته ده. دا غرونه په حقیقت کې له داسې وړو وړو اتومونو جوړ شوي چې د جاذبې یوه ځواك سره راغونډ کړي، که دا جاذبه له منځه ولاړه شي نو غرونه به ټوټې ټوټې نه بلکې داسې دوړې دوړې شي چې ذرات به ئې په سترګو هم نه لیدل کېږي.
- قرآن وایي چې د قیامت په ورځ به دا زمکه او آسمان په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، نوې زمکه او نوی آسمان به پیدا شي، د هغې زمکې سر به داسې آوار ډاګ وي چې نه به پیچومي په کې لیدل کېږي او نه لوړې ژورې.
- په دې ورځ به ټول خلك له قبرونو راپاځي، د محشر په لور به د تلو او راغونډېدو بلنه ورکړی شي، ټول به په بلونکي پسې داسې دروميي چې یوې خوا بلې خوا ته به نه کږېږي، د رحمن رب په وړاندې به ودرېږي، غږونه به تت اوټیټ شي، له کښهار پرته به بل څه نه اورېدل کېږي.
- په دغه ورځ به شفاعت څه ګټه نه رسوي، مګر د هغه چا چې خدای اجازه ورکړې او د ده پر وینا راضي شي، الله تعالی پر دې راضي شي چې هغه څه ووایي او یوازې هغه څه به ویلی شي چې الله تعالی پرې راضي کېږي، نه د الله تعالی له اجازت او رضایت پرته شفاعت کولی شي او نه د نامستحقو په اړه د شفاعت مجال تر لاسه کولی شي. دا ځکه چې الله تعالی ته هر هغه څه معلوم دي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي، په ظاهر او باطن ئې، په ماضي او مستقبل ئې، په مخکیني عمل ئې او په راتلونکې مناسبې سزا ئې، په هغو کارونو ئې چې وړاندې ئې لېږلي او هغه چې شا ته ئې پرېښي؛ پر ټولو پوهېږي. نو د داسې علیم ذات په وړاندې به شفاعت څه ارزښت لري؟ شفاعت خو د هغه چا په وړاندې ارزښت لري چې د بل معلومات ته اړ وي، بل ئې د چا له ښېګنو خبر کړي، ورته ووایي: دا ښه سړی دئ، د سزا وړ نه دئ، د بخښنې مستحق دئ، زه ئې پېژنم نو ځکه ئې شفاعت کوم!!
- د آیت د وروستۍ فقرې په اړه لږ توقف په کار دئ. دلته ویل شوي: او دوی علماً پرې

احاطه نشي کولی. دا پوښتنه راولاړېږي چي په چا او څه علماً احاطه نشي کولی؟ پر الله تعالی که پر هغه چا چي شفاعت ئې کېږي؟ د الله تعالی پر علم او که د دې کس پر کړنو؟ که څه هم اکثر مفسرين دا الله تعالی او د هغه علم ته راجع ګڼي خو د فقرې له الفاظو او سياق و سباق معلومېږي چي مراد ترې د دغه کس حالت او کړني دي. يعني شفاعت کوونکي په بشپړه توګه نه پوهېږي چي دا کس څنګه دئ، د شفاعت وړ دئ که نه؟ د بخښني مستحق دئ که د عذاب؟ د کوم کس کوم عمل ښه ورته معلوم شوی او همدې ته په پام سره ئې د شفاعت او بخښني وړ ګڼي، خو هغه څه خبر دئ چي د دې عمل تر شا ئې څه اراده او قصد وو او نور عملونه ئې څنګه دي. دا تعبير د دې لپاره دقيق دئ چي دلته د همدې کس په اړه د علم او معلومات موضوع مطرح ده نه د الله تعالی د علم موضوع، مطلب ئې دا دئ چي الله تعالی ئې ښه پېژني او شفاعت کوونکي ئې سم او په بشپړه توګه نه پېژني. بغوي وايي: وَلا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْماً، قِيلَ: الْكِنَايَةُ تَرْجِعُ إِلَى مَا، أَيْ هُوَ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ، وَهُمْ لَا يَعْلَمُونَهُ؛ جلالين وايي: {يَعْلَم مَا بَيْن أَيْدِيهمْ} مِنْ أُمُور الْآخِرَة {وَمَا خَلْفهمْ} مِنْ أُمُور الدُّنْيَا {وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا} لَا يَعْلَمُونَ ذَلِكَ؛ کشاف وايي: أى يعلم ما تقدّمهم من الأحوال وما يستقبلونه، ولا يحيطون بمعلوماته علما؛ مراغي او خازن هم دې ته ورته رأی لري.

- دا آيتونه پدې دلالت کوي چي د قيامت په ورځ به د مشرکانو مزعوم شفاعت نه وي، د شفاعت په اړه د دوی تصور او ګمان بې اساسه او غلط دئ، دا ډول تصور په شرك ککړ او له شرکي افکارو راولاړ شوی تصور دئ، شريعت هغه شفاعت مني چي د دې خصوصياتو درلودونکي وي:
- شفاعت کوونکي د الله تعالی له خوا ټاکل کېږي او د الله تعالی له اجازې وروسته به شفاعت کولی شي.
- د شفاعت وړ او د سفارش مستحق کسان به هم د الله تعالی له خوا غوره کېږي او له الهي اذن وروسته به د دوی شفاعت کېدی شي.
- هيڅوك دا جرأت او وس نه لري چي د الله تعالی له اجازې پرته د هغه په وړاندې څه ووايي او نه څوك د هغه له اذن پرته د چا د شفاعت حق او جرأت لري.
- هغه شخص د شفاعت وړ بلل کېږي چي مسلمان وي خو جرم ترې شوی وي، د مشرك لپاره شفاعت نشته، الله تعالی له شرك پرته د ټولو ګناهونو بخښنه کوي، خوشرك نه بخښي او نه د مشرك په حق کې د چا شفاعت قبلوي او هيڅوك هم دا جرأت نشي کولی چي د الله تعالی په وړاندې د کوم مشرك شفاعت وکړي.

---

وَعَنَتِ ٱلۡوُجُوهُ لِلۡحَيِّ ٱلۡقَيُّومِۖ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمٗا ﴿١١١﴾ وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا يَخَافُ ظُلۡمٗا وَلَا هَضۡمٗا ﴿١١٢﴾

او مخونه د مدبر ژوندي رب په وړاندي خاضع او تسليم دي او يقيناً هغه څوك نامراد

شو چې د ظلم پېټی ئې پر شا کړ؛ او څوك چې نېك عملونه وكړي؛ په داسې حال کې چې مؤمن وي؛ نو نه به له ظلم وېره لري او نه له حق تلفي.

(١١١-١١٢)- دلته د قيامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندې د دوو ډلو د ودرېدو څرنګوالی انځور شوی: يوې خوا ته هغه چې سرونه به ئې ټيټ، غاړې كړې، په څېرو کې ئې د وېرې او ذلت نښې له وړايه څرګندې؛ دا هغه خلك دي چې د ظلم پېټي به ئې پر شا وي، په دنيا کې خپل زور ځواك مغرور كړي ول، د كفر، شرك او ظلم لار ئې غوره كړې وه؛ نن به د سرټيټو او ذليلو انسانانو په څېر د الله تعالی په وړاندې ولاړ وي. بلې خوا ته به هغه مؤمنان وي چې نېك عملونه ئې كړي؛ د الله تعالی په وړاندې به ډاډه او مطمئن ولاړ وي، نه به له دې وېرېږي چې ظلم به پرې وشي او نه له دې چې حق به ئې تلف شي.

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَـٰهُ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ ٱلْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾

همداسې مو د عربي قرآن په توګه نازل كړ او په هغه کې مو ډول ډول تنبيهات بيان كړل چې ځان ساتنه وكړي او يا دوی ته پند اخيستنه رامنځته كړی شي.

(١١٤)- لكه چې نورو قومونو ته خپل خپل پيغمبران ورغلل، هر يوه ته د خپل قوم په ژبه كتاب وركړی شوی وو؛ عربو ته مو عربي قرآن ولېږو، په دې قرآن کې مو په مكرره توګه ډول ډول تنبيهات بيان كړل؛ په دې موخه چې دوی له انحرافاتو، ظلم او فساد ځان وساتي او د پند اخيستو مجال تر لاسه كړي.

فَتَعَـٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ۗ وَلَا تَعْجَلْ بِٱلْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰٓ إِلَيْكَ وَحْيُهُۥ ۖ وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِىَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

نو حقيقي ټولواك الله د لوړ شأن څښتن دئ؛ او پر قرآن تر هغه وړاندې تلوار مه كوه چې تا ته ئې وحي بشپړه شي؛ او ووايه: اې زما ربه! علم مي زيات كړې. او يقيناً چې تر دې وړاندې مو آدم ته حكم كړی وو؛ نو هېر ئې كړ او د عزم خاوند مو ونه موند.

(١١٤-١١٥)- د دې مباركو آيتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- د آيت لومړۍ فقره د مخكينيو آيتونو شكلي تتمه ده، د قيامت په اړه د مشركينو انګېرنې ناسمې بولي او وايي: الله تعالی له هغه څه ډېر لوړ دئ چې دوی ئې د حقيقي

ټولواك په اړه وايي، نه د قيامت راوستل ورته گران دي او نه به هغه ډول شفاعت وي چي دوی پرې باور لري.

- د دوهمي فقرې په اړه په تفسيرونو کي بېل بېل آراء تر سترگو کېږي؛ بايد وگورو چي معنى ئې څه ده، آيا معنى ئې دا ده چي نورو ته د قرآن په اورولو کي عجله مه کوه، يا دا چي د وحي په دوران کي د قرآن د حفظ او تکرار عجله مه کوه، يا دا چي د دې تلوار مه کوه چي قرآن ژر ژر دربانديي نازل او بشپړ شي. هره رأيه د ابن عباس، مجاهد، قتاده، ابن جريج او نورو په څېر شخصيتونو ته منسوب شوې. خو که د فقرې سياق و سباق ته ځير شو نو له کوم شك پرته دې نتيجې ته رسېږو چي تر ټولو دقيق تعبير درېيم تعبير دئ، يعني دا چي د دې تلوار مه کوه چي قرآن ژر ژر درباندي نازل او بشپړ شي، پرېږده چي هره برخه په خپل خپل مناسب وخت کي دربانديي نازله شي، له مناسب وخت مخکي د احکامو تر لاسه کول ډېر ځلي په دې منتج کېږي چي عمل پرې ونه شي، يا لږ تر لږه د عمل په مرحله کي حکم هېر کړی شي، په حکم باندي د عمل نه کولو يوه ځرگنده او معروفه بېلگه زموږ د ستر جد آدم عليه السلام په هغي کړني کي انځوروي چي د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه، د آدم عليه السلام په اړه ويل شوي: تر دې وړاندي مو آدم ته حکم کړی وو؛ نو هېر ئې کړ او د عزم خاوند مو ونه موند. دا تعبير د ټولو فقرو تر منځ ژور تړاو په گوته کوي خو نور تعبيرونه نه يوازي دا يووالی او تړاو له منځه وړي بلکي بې ربطه فقرې ترې جوړوي.

ځينو درنو مفسرينو دا هڅه کړې چي د آدم عليه السلام په اړه راغلي الفاظ داسي تعبير او توجيه کړي چي وښيي آدم عليه السلام هيڅ اشتباه نه ده کړې، حکم ترې هېر شوی وو، د الهي حکم د مخالفت عزم او اراده ئې نه وه کړې، هسي په هېره او غير قصدي توگه ئې هغه مېوه خوړلې وه!! خو دا توجيه نه يوازي له ډېر تکلف ډکه توجيه ده بلکي د قرآن د همدې آيت او د گڼ شمېر نورو صريح او واضح آيتونو خلاف توجيه ده. دوی دې ته پام نه دئ کړی چي آدم عليه السلام او مېرمن ئې د دغي اشتباه له کبله له خپلي مخکينۍ جامې محروم شول، له جنت کوز شول، الله تعالی د دوی په اړه فرمايلي: فَتَلَقَّى آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ: نو آدم عليه السلام له خپل رب داسي څو ټکي تر لاسه کړل چي د هغه له کبله ئې توبه قبوله کړه، بې شکه چي هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ. يعني آدم عليه السلام د توبې اراده وکړه، د داسي الفاظو په لټه کي شو چي خپل ندامت ورباندي بيان کړی شي او الله ئې توبه قبوله او اشتباه ئې عفو کړي! الله تعالی ورته هغه الفاظ تلقين کړل چي په کوم سره ئې هم خپل ندامت ځرگندولی شو او هم ئې د الله تعالی د مغفرت او رحمت غوښتنه پرې کولی شوه. د همدې الفاظو په ويلو سره الله تعالی د ده توبه قبوله کړه. قرآن د دغو کلماتو په اړه داسي فرمايي: قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ: دواړو وويل: اې زموږ ربه! په رښتيا چي موږ په خپل ځان ظلم وکړ، که ته راته بخښنه ونه کړې او رانباندي رحم ونه کړې؛ نو هرومرو به له

زيانمنو وو. په دې سره قرآن موږ ته وايي چي له هرچا خطأ او غلطي کېدی شي، غلطي او اشتباه کول ستاسو فطري کمزوري ده، خو که له غلطي وروسته توبه وکړئ، ندامت وښيئ، الله ته رجوع وکړئ او د خپلي غلطۍ د جبران په لټه کي شئ؛ الله تعالی به بخښونکی او مهربان ومومئ.

دا فقره چي په کوم ځای او مناسبت راغلې دا په خپله ښيي چي مراد ئې د آدم عليه السلام د هغي کړني سپيناوی او توجيه نه ده، بلکي د يوې اشتباه يادونه ده، عجيبه ده چي ځوك دا ټول حقائق له پامه وغورځوي او د قرآن د دې آيت داسي تعبير او توجيه وړاندي کړي چي هم د آيت له الفاظو او سياق و سباق سره اړخ نه لگوي او هم له ګڼ شمېر نورو آيتونو سره جدي او ژور تعارض رامنځته کوي!!!

دې ته مو پام وي چي يوازي الله تعالی کامل او له هر عيب او نقص مبراء دئ، په الهي اخلاقو سمبالېدا په حقيقت کي د بې انتهاء معنوي کمال او ارتقاء هغه لوړي ځوکي ته د رسېدا په معنی ده چي هغې ته رسېدل د انسان له وسه وتلې ده، هغي ځوکي ته نژدې کېدا ممکنه ده خو رسېدا محال. پيغمبران عليهم السلام دې لوړي ځوکي ته د رسېدلو په لار کي هغه ځای ته رسېږي چي د انسان لپاره وروستی او آخري معراج دئ، په يوه بې انتهاء او پای نه منونکي مسير کي وروستی تم ځای او د توقف آخري پړاو. هيڅ انسان ته تر دې نقطې آخوا تېرېدا ممکنه نه ده. د پيغمبرانو عليهم السلام شخصيت د انساني لوړو اخلاقو، د ده اوچتو معنوي ځانګړتياوو او د غوره صفاتو او خصوصياتو لپاره وروستی معراج او د ګراف آخري لوړه ځوکه ده. هغوی په هر څه کي د نورو لپاره بېلګه، اسوه او قدوه دي، الله جل شأنه له ګناه، خطأ او اشتباهاتو خوندي او مصون ساتلي، له فکري، اخلاقي او عملي پلوه له ګناه او خطأ معصوم دي، د ګناه عصمت په دې معنی چي که کله د انساني طبيعت په مقتضی له دوی کومه وړه اشتباه هم وشي، الله جل شأنه ئې ډېر ژر متوجه کوي، د اشتباه مخنيوی او جبران کوي او تکرار ته ئې نه پرېږدي. په دې معنی هغوی معصوم دي او الله جل شانه له ګناه مصون ساتلي، الله تعالی د خپل رسالت او پيغام لپاره داسي شخصيتونه غوره کوي چي دا امانت په بشپړ امانت او صداقت سره خلکو ته ورسوي.

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾ فَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ
هَٰذَا عَدُوّٞ لَّكَ وَلِزَوۡجِكَ فَلَا يُخۡرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلۡجَنَّةِ فَتَشۡقَىٰٓ ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا
تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعۡرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظۡمَؤُاْ فِيهَا وَلَا تَضۡحَىٰ ﴿١١٩﴾

او هغه مهال چي ملائکو ته مو وويل: د آدم لپاره سجده وکړئ، نو ټولو سجده وکړه؛ له ابليس پرته چي ډډه ئې وکړه. نو ومو ويل: اې آدمه! يقيناً چي دا ستا او ستا د مېرمني دښمن دئ؛ نو داسي نه چي له جنت مو وباسي که نه نو په مصيبت کي به

پرېوځې. يقيناً چې په دې کې به تا ته دا درېه برخه وي چې نه به وږى کېږې او نه به بربنډ کېږې؛ او ته به نه په کې تږى کېږې او نه به دې گرمي کېږي.

(۱۱۶-۱۱۹)- په دې مبارك آيت سره د سورې دوهمه اساسي موضوع پيل شوې. په سر کې ئې د آدم عليه السلام لپاره د ملائکو سجده او له دې سجدې د ابليس سرغړاوى راغلى. د پورتنيو دريو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالى ملائکو ته امر وکړ چې د آدم عليه السلام لپاره سجده وکړئ؛ له ابليس پرته ټولو سجده وکړه. د آدم عليه السلام په وړاندي د ملائکو سجده په حقيقت کې د ټولو مخلوقاتو د انقياد په معنى وه؛ په ټولو کې يوازې ابليس د آدم عليه السلام په وړاندي له انقياد ډډه وکړه.
- الله تعالى آدم عليه السلام ته وويل: اې آدمه! يقيناً چې دا ستا او ستا د مېرمني دښمن دئ؛ نو داسي نه چې له جنت مو وباسي که نه نو په مصيبت کې به پرېوځې. يعني د ابليس هڅه دا ده چې تاسو له جنت وباسي، که د ده د وسوسو په لومې کې ونښتئ له جنت به ووځئ او په مصيبتونو به اخته شئ، هغه ستاسو دښمن دئ، د دښمن په سترگه ورته گورئ او له وسوسو ئې ځان ساتئ.
- الله تعالى آدم عليه السلام ته دا هم ويلي چې په جنت کې به ستا حالت داسي وي چې نه به وږى کېږې، نه به بربنډ کېږې، نه به تږى کېږې او نه به دې گرمي کېږي. يعني لوږه او تنده به نه گالې، تل به دې پرېمانه خوراك څښاك په برخه وي، نه به له يخنۍ ځورېږې او نه له تودوخې، داسې جامې دې په برخه شوې چې هم دې له يخني ساتي او هم له تودوخې.
- د يو سل اتلسم آيت له وروستۍ فقرې په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چې دا جامه کومه مصنوعي جامه نه وه، ځکه په مصنوعي جامه کې انسان حتماً او په وار وار بربنډ کېږي، د غسل په وخت کې، د زړښت په صورت، د شړېدو او شلېدو په نتيجه کې، په بلې د بدلولو په وخت کې. خو دا آيت وايي چې ته به په جنت کې هيڅکله نه بربنډ کېږې، نو د دې معنى يوازې دا کېدى شي چې دا جامه يوه داسي طبيعي جامه وه چې د دوى له بدن سره نښتې وه، همغسي لکه چې الله تعالى ټولو نورو ژوو ته ورکړې، دا جامه د ممنوعه مېوې د خوړلو په نتيجه کې ترې ايستل شوې، له همدې کبله اوس گورو چې په ټولو ژوو کې يوازينى بربنډ مخلوق انسان دئ چې مصنوعي جامې ته ضرورت لري، په ژمي کې تودو جامو ته او په دوبي کې سړو ته. دې ته مو پام وي چې مصنوعي جامه انسان په خپل لاس جوړوي، کله د حيواناتو له پوستکي، کله د دوى له وړيو، کله له سونډو او ورېښمو او کله له نيلون. الله تعالى چې مخلوق ته کومه جامه ورکوي هغه مصنوعي نه بلکې طبيعي جامه وي؛ چې نه خيرنېږي، نه شړېږي، نه زړېږي او نه بدلولو ته ضرورت لري. د دې تفصيل د الاعراف د سورې په۲۰ آيت کې وگورئ.

فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ ٱلشَّيْطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ ٱلْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴿١٢٠﴾ فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ ۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾

نو شیطان ورته وسوسه وکړه؛ وئې ویل: اې آدمه! آیا د پایښت ونه او داسي واکمني ته دي لارښوونه وکړم چي له منځه نه ځي؟! نو دواړو (مېوه) ترې وخوړه؛ نو خپل بدنونه ورته څرګند شول؛ نو په دې ئې پيل وکړ چي پر خپل ځان د جنت پاڼي ونښلوي؛ او آدم له خپل رب سرغړاوی وکړ نو (له سمي لاري ئې) تېروتنه وکړه.

---

(۱۲۰-۱۲۱)- د دې مبارکو آیتونو په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

• دلته ویل شوي چي شیطان آدم علیه السلام وسوسه کړ؛ د دې خبري معنی دا ده چي شیطان دوی ته مجسم شوی نه دئ؛ بلکي داسي ئې وسوسه کړي لکه چي نن د دوی اولاد وسوسه کوي. د دې آیت په رڼا کي په ټول ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چي آدم علیه السلام ته شیطان داسي ورغلی لکه نن چي د ده اولاد ته ورځي. قرآن د آدم علیه السلام د غولولو او له جنت د ده د ایستلو کار شیطان ته منسوبوي، شیطان همغه څوك دئ چي د آدم علیه السلام اولاد (انسان) ګناه ته هڅوي؛ خو آیا دا شیطان په کومي څرګندي بڼي کي آدم او حواء علیهما السلام ته ځان ښودلی؛ لکه ځیني چي د محرف بایبل تر اغېز لاندي تللي، د بایبل غلطه خبره تکراروي او ادعاء کوي چي شیطان دوی ته مجسم شوی؟ او که همغسي ورغلی او دوی ئې وسوسه کړي لکه نن چي د دوی اولاد وسوسه کوي؟ په یقین او ډاډ سره ویلی شو چي هغه وسوسه به داسي وه لکه د ده ننۍ وسوسې، نن چي موږ احساسوو یو څوك مو پر زړه چونډۍ لګوي، ګناه ته مو هڅوي، ګناه او حرام راته ښایسته کوي، زموږ د (ارتقاء) او (دوام) باعث ئې ګڼي؛ همغه چي موږ ئې په سترګو نه ګورو خو هره شېبه ئې اغېز احساسوو؛ زموږ جد ته همدا دوکه مار مخلوق او همدا وسوسه اچوونکی په همدې توګه ورغلی؛ همداسي ئې ورته ویلي: که دا مېوه وخورئ (په جنت کي تل پاته کېدا) او (معنوي ارتقاء) به مو په برخه شي. قرآن په دې اړه همغه خبره کړې چي هر انسان ئې هره شېبه په خپل ژوند کي احساسوي. خو بایبل خوشې او چټي خبره کوي او دا وسوسه د مار له لوري ګڼي!! او متأسفانه زموږ ځیني مفسرین وایي چي شیطان د مار په بڼي کي یا د مار په خوله کي جنت ته ورغلی او دوی ئې دوکه کړي!! دا د هغو خلکو کار دئ چي غواړي د قرآن آیتونه د بایبل په استناد تفسیر کړي او د قرآن او بایبل تر منځ د تلفیق هڅه کوي. دا په داسي حال کي چي قرآن ټول هغه مسائل چي په بایبل کي پرې بحث شوی او قرآن هم څېړلي نو هغه ئې تصحیح کړي؛ نه تصدیق او تأیید؛ که لږ ورته ځیر شئ نو په واضح توګه به وګورئ چي په دواړو کي هم د محتوی له پلوه ژور توپیرونه شته، هم د ارقامو او هم الفاظو له

پلوه.

- د آیت له الفاظو داسې معلومېږي لکه چې د دې اشتباه پیلوونکی آدم علیه السلام وو، د (عصی) او (غوی) نسبت ده ته شوی؛ او دا د بایبل د هغې وینا تردید کوي چې وایي د دې مېوې د خوړولو محرك او باعث حواء رضی الله عنها وه. بایبل وایې: یوه ورځ مار د ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د میوو له خوړلو منع کړي یئ؟ ښځې په ځواب کې ورته وویل: موږ ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې ونې چې د باغ په منځ کې ده. خدای امر کړی چې د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چې نه مرئ؛ بلکې خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګې مو پرانستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځې ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې "کېدی شي د دې ښایسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مي په برخه کړي. نو د دې ونې میوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګې پرانستل شوې، په خپلې بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه...

د بایبل په دې برخې کې دومره خوشې او د خندا وړ خبرې دي چې انسان ورته حیران شي. نه پوهېږو مسیحیان څنګه دا خبرې د الله تعالی له لوري او د یوه مقدس آسماني کتاب خبرې ګڼي!! لاندې څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

وایي: مار ښځې ته وویل: خدای تاسو ته حقیقت نه دئ ویلی، دا سمه نه ده چې د دې میوې په خوړلو سره تاسو مرئ. حقیقت دا دئ چې د دې میوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای د دې لپاره نه غواړي چې تاسو دا مېوه وخورئ چې په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت تر لاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقیبان درنه جوړېږي، هغه نه غواړي چې رقیب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغې میوې له خوړلو منع کړي یئ!! بایبل وایې چې د مار خبره سمه وخته او د خدای خبره ناسمه او د حقیقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!

بایبل په دې بحث سره ښځه د ګناه اصلي عامل او باعث معرفي کوي، د ګناه پیل د دې لخوا شوی، د زمکې پر سر لومړی ګناه د دې له لوري وه، نارینه هم د دې په لاس ګناه ته هڅول شوی! او دا د حقیقت او واقع کاملاً خلاف خبره ده. د ګناه په کولو کې د ښځې جسارت تر نارینه ډېر لږ دئ، په نارینه وو کې د مجرمانو شمېر تل تر ښځو زیات وي، ښځه غالباً د نارینه تقلید کوي، په هغه پسې اقتدا کوي، د ښځو جوړښت داسې دئ چې تر نارینه ئې ښېګڼو ته تمایل زیات وي، قوي عاطفه ئې د بدو په ځای ښو ته هڅوي، تل ګورو چې نارینه د ګناه لپاره په ښځو پسې ورځي.

په ۱۲۱ آیت کې ویل شوي چې دوی دواړو د ممنوعه شجرې مېوه وخوړه؛ او په دې

سره خپل بدنونه ورته څرګند شول. دلته دا الفاظ راغلي: "فَبَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا"؛ ځینو سوءات د غلیظه عورت په معنی اخیستی؛ او دا ډېر کمزوری تعبیر دئ؛ دا ځکه چې د انسان غلیظه عورت په خپله له ده پټ نه پاته کېږي؛ او په خپله ده او زوج ته ئې څرګندېدا ګناه نه ده، مصنوعي جامه دا عورت د تل لپاره له ده پټ نشي ساتلی، د آیت الفاظ داسې دي چې ښيي له دې جامې وروسته دوی ته خپل سوءات څرګند شوي؛ او د دې معنی له دې پرته بل څه نشي کېدی چې مخکینۍ جامې ئې ټول بدن او د بدن پوستکی پټ کړی وو او هغه مهال چې دا جامه ئې له لاسه ورکړه ټول بدن ئې ورته څرګند شوی. د مائدې په سوره کې همدا لفظ د بدن او جثې لپاره راغلی:

فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾

نو الله یو کارغه راولېږو چې زمکه ئې سپړله؛ چې وروښيي د خپل ورور جثه څنګه پټه کړي، وئې ویل: های افسوس؛ آیا له دې هم عاجز شوم چې د دې کارغه په څېر وای او د خپل ورور جثه مې پټه کړې وای؛ نو له پښیمانې کوونکو شو.

قرآن وايي چې د مېوې په خوړلو سره جامه ترې وایستل شوه، بربنډ شول او لګیا شول چې ځان په پاڼو پټ کړي؛ د آیت الفاظ داسې دي چې ښيي ټول ځان ئې لوڅ شوی او د ټول ځان د پټولو لپاره ئې پاڼې په ځان نښلولې. د دې معنی دا ده چې له لوڅېدو وروسته د انسان لومړۍ جامه پاڼې وې، نوري جامې ئې ډېر وروسته جوړې کړې دي. د علمي تحقیقاتو په نتیجه کې څېړونکي همدې نتیجې ته رسېدلي چې لومړنیو انسانانو د ونو له پاڼو د جامې په توګه استفاده کړې، وروسته ئې د حیواناتو له څرمنو او بیا ئې له نورو شیانو جامې جوړې کړې. په داسې حال کې چې دا آیت د قرآن یو څرګند علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي، هغه خبره کوي چې انسان له ډېرو ژورو څېړنو وروسته پرې پوه شوی؛ خو متأسفانه ځینو د بایبل غلطه او بې بنسټه وینا د دې آیت په تفسیر کې وړاندې کړې!! د دې تفصیل د الاعراف سورې د۲۰ آیت او د المائدې سورې د ۳۱ آیت په تفسیر کې وګورئ.

---

ثُمَّ ٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيۡهِ وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾

بیا خپل رب غوره کړ؛ (له مهربانۍ سره) پرې راوګرځېدو؛ او هدایت ئې کړ.

---

(۱۲۲)- دا آیت وايي چې الله تعالی آدم علیه السلام غوره کړ، د ده توبه ئې قبوله کړه، ده د خپل رب لوري ته مخه کړه او الله تعالی د ده لوري ته له مهربانۍ او پیرزوینې سره وروګرځېدو او هدایت ئې کړ. دا د ټولو بنیادمانو په اړه د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونکې سنت بیانوي، کله چې دوی اشتباه وکړي، خدای ته مخه کړي، توبه وکړي، الله تعالی ئې توبه قبلوي، د خپل رحمت وزر پرې غوړوي او د هدایت دروازه ئې په وړاندې پرانیزي.

قَالَ ٱهۡبِطَا مِنۡهَا جَمِيعَۢاۖ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ﴿١٢٤﴾

وئې ويل: دواړه په ګډه له دې کوز شئ، ځيني د ځينو نورو لپاره دښمن؛ نو که زما له لوري کوم هدايت درغی نو چا چې زما د لارښوونې متابعت وکړ نو نه به بې لارې شي او نه بدبخت او چا چې زما له ذکر اعراض وکړ؛ نو د تنګسې او اضطراب ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند راپاڅوو.

(۱۲۳-۱۲٤)- د دې مبارکو آيتونو مهمې مهمې لارښوونې دا دي:

- الله تعالی آدم عليه السلام، د ده مېرمنې او شيطان ته وفرمايل: تاسو دواړه فريقه له دې کوز شئ؛ ځيني د ځينو نورو لپاره دښمن. په دې فقرې کې د جميعاً له لفظ معلومېږي چې خطاب دواړو فريقو ته وو نه يوازې آدم عليه السلام او د ده مېرمنې ته، د دواړو تر منځ له دښمنۍ هم مراد د انسان او شيطان تر منځ دښمني ده نه د آدم عليه السلام د اولاد تر منځ.
- الله تعالی مزيد وفرمايل: که زما له لوري کوم هدايت درغی نو چا چې زما د لارښوونې متابعت وکړ نو هغه به نه بې لارې شي او نه بدبخت او چا چې زما له ذکر اعراض وکړ؛ نو د تنګسې او اضطراب ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند راپاڅوو. په دې کې هم خطاب دواړو ډلو ته دئ نه يوازې د آدم عليه السلام اولاد ته. يعني چا چې په دنيا کې د الله تعالی له ذکر او يادولو او د الهي کتاب له پند او لارښوونو ډډه وکړه، الله جل شأنه ئې هېر کړ، د ړندو په څېر ئې ژوند وکړ؛ د هغه دنيايي ژوند به له تنګسې، اضطراب، پرېشانۍ او تشويش سره توأم وي، هغه به د واقعي اطمئنان او آزادۍ مخ ونه ګوري، په اختناق او وحشت کې به ژوند کوي، که څه هم له زياتو امکاناتو برخمن وي، ډېر وسائل، ذرائع او امکانات ئې په واك کې وي؛ خو زړه به ئې ډاډه نشي، تل به مضطرب او پرېشان وي. د انسان ترټولو لويه شتمني د زړه ډاډ او اطمئنان دئ، هغه به له دې شتمنۍ محروم وي، وسائل، بنګلې، مال، دولت او شتمني انسان ته د زړه اطمئنان نشي ورکولی؛ دا د الله تعالی ذکر او يادونه ده چې انسان ته اطمئنان ورکوي او زړه ئې ډاډه کوي. چا چې د الله له ذکر او ياد ډډه وکړه؛ په دې معنی چې الله ورپه ياد نه شو او کوم کتاب چې الله تعالی نازل کړی هغه ئې خپل لارښود نه کړ، د هغه په رڼا کې ئې ژوند ونه کړ، هغه د ده د لارې ډېوه او د ژوند په ټولو برخو کې لارښود نه وو او د هغه له منلو ئې ډډه وکړه؛ د دې اجتناب له کبله به په دنيا کې مضطرب، پرېشان، ناامن او له کړاوونو ډك ژوند لري او د قيامت په

ورځ به ړوند حشر کېږي.

په ۱۲۳ آیت کې د اهبطا صیغه راغلې چې معنی ئې (دواړه کوز شئ) ده، دا صیغه هغه چا ته کارول کېږي چې له یوه ځای په خپلو پښو د کوزېدو امر ورته کېږي، له دې صیغې په ډېر صراحت سره معلومېږي چې آدم علیه السلام د زمکې په کوم جنت (باغ) کې وو، نه د آسمان په جنت کې. د آسمان له جنت په خپلو پښو راکوزېدل ممکن نه دي. د قرآن له هیڅ آیت او هیڅ لفظ دا نه معلومېږي چې آدم علیه السلام په آسمان کې پیدا شوی، یا په زمکې کې له پیدایښت وروسته آسمان ته بېول شوی او یا له آسمان بېرته زمکې ته راوستل شوی. چا چې د (اهبطوا) له صیغې دا معنی اخیستې چې ګواکې دوی ته ویل شوي له آسمان کوز شئ؛ سخته اشتباه ئې کړې، دوی به په خپلو پښو څنګه له آسمان راکوزېدل، الله تعالی به څنګه داسې څه ورته ویل چې د دوی له وس پوره نه وه. د قرآن ګڼ شمېر آیتونه ښیي چې آدم علیه السلام په زمکې کې پیدا شوی، د زمکې په جنت کې مېشت شوی، له همدې جنت کوز شوی، همدلته وفات شوی او له همدې زمکې به بیا راژوندی کېږي. په اصلي جنت کې نه ممنوعه شجره شته، نه شیطان او د ده ملګري ورننوتی شي. الله تعالی دا جنت او مېوې ئې پر دوی حرامې کړې دي، دې جنت ته جنتیان له محاسبې وروسته ننوځي، بېرته وتل ترې نشته. د دې تفصیل د الاعراف د سورې په ۱۹آیت کې وګورئ.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَنۡ أَسۡرَفَ وَلَمۡ يُؤۡمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦۚ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ ﴿١٢٧﴾

وئې ویل: اې زما ربه! ولې دې ړوند حشر کړم په داسې حال کې چې سترګه ور وم. وئې فرمایل: همدا راز زما آیتونه درغلل خو تا هېر کړل "هغه دې ونه منل"، نو همداسې به نن هېر کړی شې. او همداسې به هغه چا ته سزا ورکړو چې اسراف او تېری ئې وکړ او د خپل رب په آیتونو ئې ایمان رانه وړ؛ او د آخرت عذاب حتماً ډېر شدید او ډېر پایښت لرونکی دئ.

(۱۲۵-۱۲۷)- د دې آیتونو په اړه لاندې مطالب په پام کې ولرئ:

- د قیامت په ورځ به دغه ړوند حشر شوی بنده ووایي: اې زما ربه! ولې دې ړوند حشر کړم؛ په داسې حال کې چې سترګه ور وم؟ الله تعالی به د ده په ځواب کې وفرمایي: همدا راز زما آیتونه درغلل خو تا هېر کړل، هغه دې ونه منل؛ نو همداسې به نن هېر کړی شې. لکه چې تا د الله آیتونه هېر کړل، پند او عبرت دې ترې وانه خیست، عمل دې پرې ونه کړ، اعتناء دې ورته ونه کړه؛ همداسې به الله تعالی نن تا ته التفات نه کوي، تا ته به توجه او

اعتناء نه لري؛ دا ځکه چي تا د هغه آيتونو ته اعتناء او توجه ونه کړه.

- په کومه معنى چي دلته د (نسي) لفظ راغلى، د آدم عليه السلام په اړه په ۱۱۵ آيت کي د (فنسي) معنى همدا ده. دا قطعاً صحيح نه ده چي دلته ئې په يوه معنى واخلو او هلته په بله معنى!!
- په ۱۲۷ آيت کي چي ويل شوي: همداسي به هغه چا ته سزا ورکړو چي اسراف او تېرى ئې وکړ او د خپل رب په آيتونو ئې ايمان رانه وړ؛ او د آخرت عذاب حتماً ډېر شديد او ډېر پايښت لرونکى دئ، د دې معنى دا ده چي په دنيا کي تنگ او ضيق معيشت د دوى دنيوي سزا ده او په آخرت کي به له لازيات شديد او اوږد عذاب سره مخامخ کېږي.

---

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ يَمْشُونَ فِى مَسَٰكِنِهِمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾

نو آيا دا نه ده ورته ښکاره شوې چي تر دوى وړاندي مو څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) هلاك کړل چي دوى ئې په هستوگنځيو کي گرځي؟ يقيناً چي په دې کي عقلمنو ته څرگندي نښي دي؛ او که ستا د رب وينا وړاندي نه وى (ويل شوې) او ټاکل شوې نېټه نه وى؛ نو حتماً به لازم شوى وو (الهي عذاب).

---

(۱۲۸-۱۲۹)- په دې مبارکو آيتونو کي دا لارښووني مومو:

- د هغه چا په اړه چي له الهي لارښوونو اعراض کوي ويل شوي: آيا دا نه ده ورته ښکاره شوې چي تر دوى وړاندي مو څومره پېړۍ پېړۍ خلك د همدې جرم له کبله هلاك کړل، هغه چي اوس دوى د هغوى په هستوگنځيو کي گرځي، هر څه ئې نورو ته په ميراث پاته شول، يقيناً چي په دې کي عقلمنو ته څرگندي نښي دي.
- که د دوى په اړه ستا د رب دا وينا له وړاندي نه وى ويل شوې چي مهلت ورکوم، ژر او له گناه او عصيان سره سم ئې نه نيسم او که د محاسبې او مؤاخذې لپاره ټاکل شوې نېټه نه وى نو ډېر وړاندي به په الهي عذاب اخته شوي وو.

---

فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ۖ وَمِنْ ءَانَآىِٕ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ ﴿١٣٠﴾

نو په هغه څه چي دوى ئې وايي صبر وکړه او له ستايني سره د خپل رب تسبيح وايه؛ تر لمر راختو مخکي او تر لوېدو ئې مخکي او د شپې په يوې برخي کي تسبيح وايه او د

ورځې په اطراف کې؛ چې راضي شې.

(١٣٠)- په دې مبارك آيت کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د دښمنانو د تبليغاتو او مخالفتونو په وړاندې څو سپارښتنې شوې دي:

- په هغه څه چې دوی ئې وايي صبر وکړه.
- له ستاينې سره د خپل رب تسبيح وايه؛ يعنې لمونځ کوه، تر لمر راختو مخکې او تر لوېدو ئې مخکې او د شپې په يوې برخې کې تسبيح وايه او د ورځې په اطراف کې؛ چې راضي شې.
- يعني د دوی د مخالفتونو په وړاندې صبر او لمانځه ته پناه يوسه، په دې سره به د الله تعالی داسې رعايت او عنايت تر لاسه کړې چې پرې راضي به شې؛ او دا هغه څه دي چې د بقرې د سورې په ٤٥ او ١٥٣آيتونو کې په دې صيغه راغلي:

وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلۡخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾ البقره: ٤٥

او په صبر او لمانځه سره مرسته تر لاسه کړئ او دا خو يقيناً چې ګران او ستر کار دئ مګر خاشعينو ته.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ البقره: ١٥٣

اې مؤمنانو! په صبر او لمانځه سره مرسته تر لاسه کړئ، يقيناً چې الله له صبر کوونکو سره دئ.

د طهٰ د سورې په دې آيت کې د تسبيح او تحميد لپاره دا وختونه ښودل شوي: سحر له لمر ختو وړاندې، مازديګر له لمر لوېدو مخکې؛ او د شپې په ځينو برخو کې؛ چې په دې سره ماښام، ماخستن او د تهجد لمانځه وختونو ته اشاره ده. خو يوه بل وخت ته د اطراف النهار په لفظ اشاره شوې. دا اطراف النهار نه سحر او مازديګر کېدی شي او نه سحر او ماښام؛ ځکه دغو وختونو ته وړاندې په واضح توګه اشاره شوې. بايد وګورو چې اطراف څه ته وايي او په اطراف النهار سره کوم وخت ته اشاره شوې. دې پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره دوه مراجع لرو: په خپله قرآن او د رسول الله صلی الله عليه و سلم سنت. د سنت له مخې د لمانځه پنځم وخت ماسپښين دئ. له دې معلومېږي چې په اطراف النهار سره د ماسپښين لمانځه ته اشاره شوې، د هود په سوره کې د اطراف په ځای طرفي النهار راغلي؛ آيت داسې دئ:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ هود: ١١٤

او د ورځې په دواړو خواوو کې او (ورپسې نژدې) د شپې ځينې برخې کې لمونځ کوه. يقيناً چې ښېګڼې بدې له منځه وړي، دا د پند اخستونکو لپاره پند دئ.

د دې آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې له (طرفي النهار) مراد د ورځې دواړه خواوې

دي؛ له غرمې مخکې او وروسته برخې ئې؛ چې په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چې ورځې ته نژدې وي؛ چې په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

ماسپښين د ورځې د دواړو برخو منځ کې دئ، هم له لومړنۍ برخې سره وصل دئ او هم له وروستنۍ برخې سره. دلته د ورځې اطراف سره يو ځاى شوي؛ له همدې امله ماسپښين ته د اطراف نوم ورکړى شوى.

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٣١﴾

او خپلې سترګې د هغه څه لورې ته مه اړوه چې د دوى ځينو ډلو ته مو ورپه برخه کړي؛ دا د دنيوي ژوند د سينګار اسباب دي چې دوى په کې آزمويو؛ او ستا د رب رزق ډېر غوره او زيات پاتېدونکى دئ.

(۱۳۱)- په دې مبارك آيت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته او د ده له لارې ټولو مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې خپلې سترګې د هغه څه لورې ته مه اړوه، اعتناء ورته مه کوه او ارزښت مه ورکوه چې د حق د مخالفينو ځينو ډلو ته ورپه برخه شوي. دا د دنيوي ژوند د سينګار اسباب او وسائل دي، دا د کومې ورتيا له مخې دوى ته نه دي ورکړى شوي؛ بلکې د دې لپاره ورکړى شوي چې دوى په کې وآزمويو. غوره او د اعتناء او التفات وړ رزق هغه دئ چې د خپل رب خوا ته به ئې تر لاسه کوئ، هغه رزق هم ډېر غوره دئ او هم زيات پاتېدونکى.

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾

او خپل اهل او عيال پر لمانځه وګماره او پرې کلك اوسه؛ کوم رزق نه درنه غواړو؛ موږ تا ته روزي درکوو؛ او (نېکه) پايله د تقوى (د خاوندانو) ده.

(۱۳۲)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته او د هغه له لارې ټولو مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چې خپل اهل او عيال پر لمانځه وګماري او په خپله هم پرې کلك واوسي، د هغو خلکو په څېر نه وي چې ټول هم او غم ئې د رزق تر لاسه کول وي، له هرې لارې چې ورته ممکنه وي، نه د حلال پروا لري او نه د حرام. ستاسو د خلقت هدف دا نه دئ چې فقط ځان ته رزق ولټوئ، دا کار خو هر حيوان هم کوي، هر ژوى د رزق لټه کوي. ستاسو د

پيدايښت هدف تر دې ډېر لوړ دئ. الله تعالی کوم رزق نه درنه غواړي، هغه ستاسو او د ټولو ژوو د رزق ضامن دئ، څه چې له حلالو لارو تر لاسه کوئ په هغه اکتفاء وکړئ، له مقابل لوري سره په دې کې سيالي مه کوئ، د هغوی ظاهري حالت ته له اعتناء پرته خپلو اصلي دندو ته توجه وکړئ، له هغه څه ځان وساتئ چې الله تعالی ترې منع کړي يئ، په دې پوه شئ چې نېکه پايله د تقوی او متقينو ده، دوی به هم د دنيا بريا تر لاسه کوي او هم د آخرت.

او دا همغه مطلب دئ چې تر دې وړاندي د آدم عليه السلام په قصې کې موږ ته انځور شوی وو، هغه په تقوی ګمارل شوی وو؛ د ممنوعه شجرې له مېوې د ځان لرې ساتلو سپارښتنه ورته شوې وه، الله تعالی ده ته په هغه جنت کې پرېمانه رزق ورکړی وو، تاسو ته هم دې ته ورته سپارښتنه کوي، تقوی غوره کړئ، له هغه څه ځان وساتئ چې الله تعالی ترې منع کړي يئ، د رزق ضامن مو الله تعالی دئ، دا د هدف په توګه مه غوره کوئ، د يوې وسيلې په سترګه ورته وګورئ.

وَقَالُوا۟ لَوْلَا يَأْتِينَا بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّهِۦٓ ۚ أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾

او وئې ويل: ولې د خپل رب له لوري کومه څرګنده نښه نه راته راوړي؟ آيا دوی ته هغه ښکارندويه نښې نه دي راغلې چې په مخکينيو صحيفو کې وې؟!

(١٣٣)- دلته يو ځل بيا د کافرانو هغه وينا راغلې چې معجزې ئې غوښتلې، داسې معجزې چې هر څوك ايمان راوړو ته اړ کړي. له پيغمبر عليه السلام ئې داسې خارق العاده کار غوښتو چې انسان ئې له کولو عاجز وي او هر چا ته ثابته کړي چې دا کار د الله تعالی له لوري تر سره شوی، يوازې د داسې معجزې په ليدو سره به ايمان راوړي او پر دې به باور کوي چې دی د الله رسول دئ!! د دوی په ځواب کې ويل شوي: آيا دوی ته هغه ښکارندويه نښې نه دي راغلې چې په مخکينيو صحيفو کې وې؟! چې مطلب ئې دا دئ: آيا په دې قرآن کې ټولې هغه څرګندې نښې نه دي راغلې چې په مخکينيو الهي کتابونو او صحيفو کې راغلې وې؟ که قرآن هغه څه وايي چې په تورات، انجيل او زبور کې راغلي وو، که رسول الله صلی الله عليه و سلم خلکو ته همغه خبره کوي چې ابراهيم، موسی، عيسی او داؤد عليهم السلام او نورو پيغمبرانو کولې؛ نو آيا دغه څرګند دليل کافي نه دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د دوی په څېر يو پيغمبر دئ او قرآن د الله تعالی کتاب؟!! هر څوك د خپلې وينا او پيغام له مخې پېژندل کېږي، پيغمبر هغه دئ چې پيغام ئې د پيغمبرانو په څېر وي، عقلمن وګړي د چا پيغام ته په پام سره د هغه په اړه قضاوت کوي، جاهلان، متعصبين او متعنتين معجزې او خارق العاده کارونه غواړي، خو آيا دغو جاهلانو د هغو پيغمبرانو مخالفت نه دئ کړی چې سترې سترې معجزې ئې وړاندې کړې وې؟!!

وَلَوۡ أَنَّآ أَهۡلَكۡنَٰهُم بِعَذَابٖ مِّن قَبۡلِهِۦ لَقَالُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبۡلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخۡزَىٰ ١٣٤

او که موږ تر ده وړاندي په عذاب سره هلاك کړي وی نو حتماً به ئې ویلي وو: ولې دي موږ ته یو پیغمبر راونه لېږو چي ستا د آیتونو متابعت مو کړی وی؛ مخکې تر دې چي ذلیل او سپك شو؟

(١٣٤)- دلته مزید ویل شوي چي که دوی د الهي عذاب په بنې کې کومه معجزه غواړي او مقصد ئې دا وي چي که ته واقعاً د الله رسول یې، گواښونه دي حقیقت لري او موږ د عذاب مستحق یو نو دا عذاب ولې نه راځي؟!! د دوی په ځواب کې ویل شوي: که موږ د پیغمبر تر بعثت او د قرآن تر نازلېدو وړاندي په عذاب سره هلاك کړي وی نو حتماً به ئې ویلي وو: ولې دي موږ ته یو پیغمبر راونه لېږو چي ستا د آیتونو متابعت مو کړی وی؛ مخکې تر دې چي ذلیل او سپك شو. د دې لپاره چي سبا د الهي محاکمې او محاسبې پر مهال دا عذر او بهانه وړاندي نه کړی شئ نو تر عذاب وړاندي ئې تاسو ته پیغمبر او د هغه په لاس قرآن درولېږو؛ اوس نو ستاسو او د عذاب، ذلت او سپکاوي تر منځ لنډ واټن پاته دئ.

قُلۡ كُلّٞ مُّتَرَبِّصٞ فَتَرَبَّصُواْۖ فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ أَصۡحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِيِّ وَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ١٣٥

ووایه: هر څوك منتظر دئ نو تاسو هم انتظار وکړئ؛ ژر به پوه شئ چي څوك د سمي لاري خاوندان ول او څوك په سمه لار روان!!

(١٣٥)- دا آیت چي د سورې وروستی آیت دئ؛ د سورې د ټولو مضامینو لپاره د یوې ښکلې تتمې په توگه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چي خپلو مخالفینو ته ووایي: هر څوك منتظر دئ نو تاسو هم انتظار وکړئ؛ ژر به پوه شئ چي څوك د سمي لاري خاوندان ول او څوك په سمه لار روان!! هر څوك د خپلو هیلو، باورونو او گمانونو مطابق د راتلونکې په اړه اټکلونه کوي، د روښانه مستقبل انتظار لري، گمان ئې دا دئ چي تگلاره ئې سمه، مذهب ئې الله تعالی ته مقبول دئ او هدایت او لارښوونه ئې په برخه شوې، تاسو هم د خپلو انگېرنو او هیلو په شنه بڼ کې خوښ او هیله من اوسئ؛ ژر به پوه شئ چي صحیح او حقیقي لارښوونه د چا په برخه شوې، سمه تگلاره د چا وه او روڼ مستقبل چا تر لاسه کړی. وبه گورئ چي څوك د فرعون، هامان او شیطان ملگري او له همغه برخلیك سره مخامخ شول چي سلف ئې ورسره مخامخ شوی وو او څوك د موسی علیه السلام او آدم علیه السلام په لار درومي او له همغه برخلیك سره به مخامخ کېږي چي دا دواړه ستر ستر

شخصیتونه ورسره مخامخ شوي وو.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## الانبياء

### د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الأنبياء) دئ، دا نوم له دې کبله ورسره مناسب ګڼل شوی چې په دې کې د ګڼ شمېر انبیاوو یادونه شوې. یو سل دولس آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (معرضون) او د درېیم آیت (العليم) او د اتم آیت (خٰلدين) ته ورته دي، یوازې شپږشپېتم آیت ئې په (يضركم) پای ته رسېدلی خو دا آیت هم په اصل کې له ورپسې آیت سره تړلی دئ او په ګډه په تعقلون پای ته رسېدلي، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په وروستیو کلونو کې نازل شوي.

کوم مطالب چې د سورې په لومړیو لسو آیتونو کې زموږ مخې ته څلېږي؛ همدا مطالب په ټولې سورې کې په مشرح او مفصله توګه راغلي؛ د لومړنیو لسو آیتونو خلاصه مطالب دا دي:

- له دغو خلکو سره د الهي محاسبې ورځ رانژدې شوې، خو دوی ترې غافل او بې اعتناء دي. ګمان نه کوي چې د خپل کفر، ظلم او فساد له بدو پایلو سره به مخامخ شي، په الهي مکافات او مجازات باور نه لري، نو څکه د حق له منلو ډډه کوي.
- ظالمانو ته چې کله هم کوم پیغمبر ورغلی او نوی حق دین ئې خلکو ته وړاندې کړی نو د هغه په ضد ئې ډول ډول تبلیغات پیل کړي، کله ئې ویلي: دا خو ستاسو په څېر یو انسان دئ، څنګه ئې د الله د پیغمبر په توګه منئ؟ کله ئې ویلي: آیا یوه ساحر او کوډګر ته د پیغمبر په سترګه ګورئ! په داسې حال کې چې د بصیرت خاوندان یئ؟!! کله به ئې د دوی د پیغام په اړه ویل: دا هسې څه پرېشان خوبونه دي، کله به ئې ویل دا خبرې ئې له ځانه په تکلف سره او په دروغو جوړې کړې او الله تعالی ته ئې منسوب کړې!!، کله به تر دې هم وړاندې ولاړل او ویل به ئې: دی یو شاعر دئ او وینا ئې شعر، که دی په رښتیا د الله تعالی رسول وي نو د لومړنیو لېږل شوو پیغمبرانو په څېر دې کومه څرګنده نښه او معجزه موږ ته راوړي!! د دوی په څواب کې ویل شوي: تر دوی وړاندې هیڅ داسې قوم ایمان نه دئ راوړی چې موږ هلاك کړ نو آیا دوی به ایمان راوړي؟!!
- قریشو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه ویل: محمد (علیه السلام) خو د نورو سړو په څېر یو سړی دئ، له نورو سره ئې خاص توپیر نشته، داسې څرګنده نښه نه تر سترګو

کېږي چې وشيي دا د الله تعالی استازی او پيغمبر دئ!! د دوی په ځواب کې ويل شوي: تر رسول الله صلی الله عليه و سلم وړاندي ټول پيغمبران همداسي د نورو انسانانو په څېر انسانان ول. که تاسو اې قريشو! د نورو پيغمبرانو په اړه معلومات نه لرئ نو د تورات خاوندان وپوښتئ.

- د مخالفينو بل اعتراض دا وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم خو زموږ په څېر خوراك کوي، ووږ وو، ځوان شو، ورو ورو د زړښت په لور درومي، د خدای پيغمبر خو بايد داسي نه وي چې هم خوراك ته اړ وي او هم ئې حالت بدلېږي او د زړښت په لور درومي!! د دوی په ځواب کې ويل شوي: مخکيني پيغمبران هم د ده په څېر ول، يو ئې هم داسي نه وو چې خوراك ئې نه کولو او تلپاته ول.
- د مخالفينو بل اعتراض دا وو چې که محمد (عليه السلام) د الله تعالی پيغمبر وی نو دی او پلويان به ئې له کړاوونو، ستونزو او مخالفتونو سره مخامخ نه ول، هيڅوا به د دوی مقابله نشوی کولی، د فرشتو فوځونه به ئې په څنګ کې ول او هر مخالف ته به ئې کلکه څپېړه ورکوله!! د دوی په ځواب کې ويل شوي: له مخکينيو پيغمبرانو سره هم الله تعالی په خاص ډول مرسته کړې او له دوی سره ئې خپله ژمنه تر سره کړې، دوی او د دوی ځيني پلويان ئې ژغورلي او تېري کوونکي ئې هلاك کړي. له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره به هم الهي وعدې تر سره کېږي او مخالفين به ئې له همغه برخليك سره مخامخ کېږي چې مخکيني ورسره مخامخ شول.
- قريشو ته ويل شوي: ولې د قرآن او د هغه د حامل رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه دا رنګ رنګ پوښتني او شکونه وړاندي کوئ، کله د شعر نسبت ورته کوئ، کله ئې افتراءات ګڼئ، کله ئې پرېشان خوبونه، کله يوه او کله بله مطالبه ترې کوئ او معجزې ترې غواړئ!! په دې پيغمبر او د ده په پيغام کې مو کوم داسي څه تر سترګو شوي چې د حيرت او تعجب او نه منلو وړ وي؟ دا کتاب خو تاسو ته خپل ځان درښيي، ماضي او مستقبل مو درښيي، ستاسو د مخکينيو برخليك ستاسو په وړاندي ږدي، ستاسو د نېکو او بدو کړنو، سمو او غلطو تګلارو پايلي په ګوته کوي، د سعادت او شقاوت لاري درښيي، د فلاح او بريا په لوري مو بلې، نو آيا تعقل نه کوئ؟

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱقۡتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمۡ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ مُّعۡرِضُونَ ۝١ مَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّن
رَّبِّهِم مُّحۡدَثٍ إِلَّا ٱسۡتَمَعُوهُ وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ۝٢ لَاهِيَةٗ قُلُوبُهُمۡۗ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَى
ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡۖ أَفَتَأۡتُونَ ٱلسِّحۡرَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ۝٣

---

دغو خلکو ته خپل حساب ورنژدې شوی، حال دا چې دوی په غفلت کې (پراته) اعراض کوونکې دي. د خپل رب له لوري چې کوم نوی ذکر (پند) دوی ته راغلی په داسې حال کې ئې اوري چې لوبې (ورسره) کوي. زړونه ئې (په همدې لوبو کې) بوخت او دغو چې ظلم ئې کړی دا د راز خبره ئې په پټه (یوه بل ته) وکړه چې آیا دا ستاسو په څېر له بشر پرته بل څه دئ؟ آیا سحر ته (تسلیمېدونکي) درومئ په داسې حال کې چې د بصیرت خاوندان یئ؟!!

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• دلته ویل شوي چې دغو خلکو ته خپل حساب ورنژدې شوی، باید وګورو چې دا کوم حساب دئ، د قیامت د ورځې حساب که په دنیا کې له دوی سره الهي محاسبه؟ له شپږم آیت چې وایي: تر دوی وړاندې هیڅ داسې قوم ایمان نه دئ راوړی چې موږ هلاك کړ نو آیا دوی به ایمان راوړي؟!! له دې معلومېږي چې دلته له حساب هغه الهي محاسبه مراد ده چې بېلګې ئې تر دوی وړاندې تېرې شوې دي، ډېرو نورو ایمان رانه وړ او له الهي مجازات سره مخامخ او هلاك شول.

• دوی له الهي محاسبې غافل دي، ګمان نه کوي چې د خپل کفر، ظلم او فساد له بدو پایلو سره به مخامخ شي، په الهي مکافات او مجازات باور نه لري، نو ځکه د حق له منلو ډډه کوي.

• د خپل رب له لوري چې کوم نوی ذکر او پند دوی ته راغلی او کوم داعي د حق لوري ته بللي، تل ئې د دې پند او بلنې په وړاندې بې اعتنائي کړې ده، د داسې څه په سترګه ئې ورته کتلي لکه کوم ماشوم چې د لوبو توکی وموندي، په لوبو لوبو او بشپړه بې اعتنائي سره ئې د بلنې او پند په وړاندې چلن کړی.

• زړونه ئې په همدې لوبو کې بوخت وي، بېهوده مشغولتیاوې د غور او دقت مجال نه ورکوي، دې ته ئې نه پرېږدي چې د زړه سواندو دعوتګرانو د بلنې محتوی ته ځیر شي او خپلې کړنې، باورونه، انګېرنې، تګلاره او پایلې ئې په غور سره وڅېړي.

• دوی ظالمان دي، له نورو سره په خپل چلن کې هم ظلم کوي او د خپل ځان او خپل عقل په اړه هم ظلم کوي.

• د ظلم یوه بېلګه ئې دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر د یوه زړه سواند مرشد په اړه به ئې هغو مؤمنانو ته چې ایمان به ئې راوړی وو؛ پټ پټ ویل: دا خو ستاسو په څېر یو انسان دئ، له تاسو څه توپیر لري چې هغه ته په پام سره ئې د الله تعالی له لوري غوره شوی پیغمبر ګڼئ؟!! مګر جادو دربانديې شوی؟! مګر سترګې مو ړندې دي؟!! ګورئ چې له یوې خوا رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې کبله نه مني چې هغه یو انسان دئ او د دوی په زعم د الله تعالی پیغمبر باید له نورو انسانانو په هر څه کې توپیر ولري!!! او له بلې خوا هغه مؤمنان وسوسه کوي چې ایمان ئې راوړی او رسول الله صلی الله

عليه و سلم د الله تعالی رښتينی پيغمبر گڼي، دوی ته وايي: آيا کوډو ته سر ټيټوئ؟!! آيا سترگي مو ړندې دي او نه گورئ چي محمد (عليه السلام) ستاسو په څېر يو انسان دئ؟!!

د دريېم آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د دوی دا نجوی خپل منځي سري غونډي نه وې، همغسي چي ځينو درنو مفسرينو انگېرلې بلکي په دې سره د دوی هغو وسوسو ته اشاره شوې چي د مؤمنانو په زړونو کي به ئې اچولې، چا چي به ايمان راوړ نو دوی به ورپسې شول، پټ پټ او په دې او هغي گوښې کي به ئې هغوی ته ويل: دا خو ستاسو په څېر يو انسان دئ، څنگه ئې د الله پيغمبر گڼئ؟ مگر جادو درباندي شوی؟! مگر سترگي مو ړندې دي؟!!

﴿قَالَ رَبِّي يَعْلَمُ ٱلْقَوْلَ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ٤﴾

وئې ويل: زما رب د آسمان او زمکي په خبري پوهېږي او هغه پوه اورېدونکی دئ.

(٤)- د دوی د دغو تبليغاتو په ځواب کي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: زما رب پوه اورېدونکی دئ، هم ستاسو وينا اوري او هم زما، نه په آسمان کي کومه وينا ترې پټه پاته کېږي او نه په زمکي کي. زما او ستاسو د ويناوو په اړه قضاوت به الله تعالی ته پرېږدو. د الله تعالی په ټولو کتابونو کي وگورئ چي زما وينا څنگه ده او ستاسو څنگه، کومه وينا سمه او د الله تعالی خوښه ده؟!!

دې ته مو پام وي چي په زمکي او آسمانونو کي له انسان علاوه د ډېرو نورو مخلوقاتو غږونه هم شته، علمي تحقيقاتو ښودلې چي اکثر ژوي په خپلو منځونو کي د افهام او تفهيم لپاره ځانگړي غږونه او الفاظ لري، قرآن هم دې مطلب ته د مېږي په ارتباط اشاره کړې او وايي: ... قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١٨:

يوې مېږۍ نورو ته غږ کړ: خپلو کورونو ته ننوځئ؛ داسي نه چي سليمان مو په خپلو لښکرو سره تر پښو لاندي کړي په داسي حال کي چي نه به پوهېږي.

دغه آيت هم وايي چي الله تعالی په هر هغه قول پوهېږي چي په آسمانونو او زمکي کي ويل کېږي.

﴿بَلۡ قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمِۭ بَلِ ٱفۡتَرَىٰهُ بَلۡ هُوَ شَاعِرٞ فَلۡيَأۡتِنَا بِـَٔايَةٖ كَمَآ أُرۡسِلَ ٱلۡأَوَّلُونَ ٥ مَآ ءَامَنَتۡ قَبۡلَهُم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآۖ أَفَهُمۡ يُؤۡمِنُونَ ٦﴾

بلکي وئې ويل: دا څه پرېشان خوبونه دي، بلکي له ځانه ئې جوړ کړی، بلکي هغه يو شاعر دئ، که نه نو د لومړنيو لېږل شوو په څېر دي کومه څرگنده نښه موږ ته راوړي!! تر دوی وړاندي هيڅ داسي قوم ايمان نه دئ راوړی چي موږ هلاك کړ نو آيا دوی به

ایمان راوړي؟!!

(٥-٦)- دلته د مخالفینو ځینو نورو خصمانه او معاندانه تبلیغاتو ته اشاره شوې او ویل شوي چي دوی به کله د قرآن او رسول الله صلی الله علیه و سلم د ویناوو په اړه ویل: دا هسي څه پرېشان خوبونه دي، کله به ئي ویل هسي پرېشان خوبونه نه دي بلکي له ځانه ئي په تکلف سره او په دروغو جوړ کړي او الله تعالی ته ئي منسوب کړي!!، کله به تر دې هم وړاندي ولاړل او ویل به ئي: دی یو شاعر دئ او وینا ئې شعر، که دی په رښتیا د الله تعالی رسول وي نو د لومړنیو لېږل شوو پیغمبرانو په څېر دي کومه څرګنده نښه او معجزه موږ ته راوړي!! د دوی په ځواب کي ویل شوي: تر دوی وړاندي هیڅ داسي قوم ایمان نه دئ راوړی چي موږ هلاك کړ نو آیا دوی به ایمان راوړي؟!! دغو مخکینیو قومونو ته خپل خپل پیغمبران له ګڼ شمېر معجزو سره ورغلل، د سترو سترو معجزو له لیدو سره سره ئي ایمان رانه وړ، نو آیا دوی به د داسي معجزو په لیدو سره ایمان راوړي؟!! غافل انسان، ظالم انسان، په بېهوده لوبو کي بوخت انسان د معجزو په لیدو سره نه بلکي د عذاب په لیدو سره ایمان راوړي، دوی نه دلائلو ته اعتناء کوي او نه معجزو ته، د معجزو مطالبه ئي خوشې پلمه ده.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ۝٧ وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدٗا لَّا يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ۝٨ ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ۝٩

او تر تا وړاندي مو له سړو پرته (څوك) نه دي لېږلي چي وحي مو ورته کوله، نو که نه پوهېږئ د ذکر (تورات) خاوندان وپوښتئ، او دوی مو داسي جسدونه نه وو ګرځولي چي خوراك نه کوي او تلپاته هم نه ول، بیا مو خپله ژمنه ورسره رښتینې کړه او دوی او هغه خلك مو وژغورل چي غوښتل مو، او تېری کوونکي مو هلاك کړل.

(٧-٩)- په دې مبارکو آیتونو کي هم د پغمبرانو علیه السلام په اړه د مخالفینو دا اعتراضات او د هغوی ځوابونه زموږ په وړاندي ځلېږي:

- دوی به ویل: دا محمد (صلی الله علیه و سلم) خو د نورو سړو په څېر یو سړی دئ، له نورو سره ئې خاص توپیر نشته، داسي څرګنده نښــه نه تر سترګو کېږي چي وښیي دی واقــعاً د الله تعــالی استازی او پیغمبر دئ!! که دی د الله تعالی رسول وی نو هرو مرو به ئي له نورو انسانانو واضح توپیر درلودی!! د دوی په ځواب کي ویل شوي: تر رسول الله صلی الله علیه و سلم وړاندي ټول پیغمبران همداسي د نورو انسانانو په څېر انسانان ول. که تاسو اې قریشو! د نورو پیغمبرانو په اړه معلومات نه لرئ نو د تورات خاوندان وپوښتئ. په دې اړه باید څو خبري په پام کي ولرئ: ١- د تورات له خاوندانو مراد یهودان او نصاری دي، تورات

د دواړو ګډ کتاب دئ، عیسی علیه السلام ته د دواړو علم ورکړی شوی وو، هغه تورات منسوخ کړی نه دئ بلکې د هغه مصدق وو، هم ئې تورات خلکو ته ښودو او هم انجیل، یوازې هغه څه ئې بېرته خلکو ته حلال کړي چې د یهودانو مذهبي مشرانو له ځانه تحریم کړې وو، ٢- مسیحیان اوسنی بایبل د تورات او انجیل مجموعه ګڼې، خو په حقیقت کې په بایبل کې نه اصلي تورات شته او نه اصلي انجیل، ځینې متصوفین اهل الذکر د ذاکرینو (متصوفینو) په معنی تعبیروي، خو دا بې بنسټه او غلط تعبیر دئ، د ذاکرینو ئې له دې سره څه چې مخکیني پیغمبران سړي وو که فرشتې؟!! ځینې نور بیا اهل الذکر د علماءو په معنی اخلي او وایي: که نه پوهېږئ نو له علماءو پوښتنه وکړئ، خو د آیت معنی دا نه ده!! دلته (الذکر) یا تورات دئ یا د (یادښت) په معنی دئ؛ نو اهل الذکر یا اهل تورات دي او یا هغه خلك چې له مخکینیو تاریخي واقعاتو خبر دي او پوهېږي چې مخکیني پیغمبران د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر سړي ول.

- د مخالفینو بل اعتراض دا وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم خو زموږ په څېر خوراك کوي، وږی وو، ځوان شو، ورو ورو د زړښت په لور درومي، د خدای پیغمبر خو باید داسې نه وي چې هم خوراك ته اړ وي او هم ئې حالت بدلېږي او د زړښت په لور درومي!! د دوی په ځواب کې ویل شوي: مخکیني پیغمبران هم د ده په څېر ول، یو ئې هم داسې نه وو چې خوراك ئې نه کولو او تلپاته ول،
- د مخالفینو بل اعتراض دا وو چې که محمد (علیه السلام) د الله تعالی پیغمبر وی نو دی او پلویان به ئې له کړاوونو، ستونزو او مخالفتونو سره مخامخ نه ول، هیڅا به د دوی مقابله نشوی کولی، د فرشتو فوځونه به ئې په څنګ کې ول او هر مخالف ته به ئې کلکه څپېړه ورکوله!! د دوی په ځواب کې ویل شوي: له مخکینیو پیغمبرانو سره هم الله تعالی په خاص پړاو کې مرسته کړې او له دوی سره ئې خپله ژمنه تر سره کړې، دوی او د دوی ځینې پلویان ئې ژغورلي او تېري کوونکي ئې هلاك کړي. له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره به هم الهي وعدې تر سره کېږي او مخالفین به ئې له همغه برخلیك سره مخامخ کېږي چې مخکیني ورسره مخامخ شول.

---

لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠﴾ وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ
كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿١١﴾ فَلَمَّآ أَحَسُّواْ بَأْسَنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا
يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُواْ وَٱرْجِعُوٓاْ إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ
تُسْـَٔلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُواْ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَىٰهُمْ حَتَّىٰ
جَعَلْنَٰهُمْ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ﴿١٥﴾

يقيناً چې تاسو ته مو داسې كتاب نازل كړ چې په هغه كې ستاسو ذكر او يادونه شوې نو آيا تعقل نه كوئ؟ او څومره هغه كلي (وال) مو مات كړل چې ظالمان ول، او ترې وروسته مو د نورو قوم پيدا كړ، نو كله چې ئې زموږ عذاب احساس كړ ناڅاپه ترې تښتېدل. مه تښتئ او هغه څه ته ستانه شئ چې په هغه كې مو سوكالي په برخه شوې وه او خپلو هستوګنځيو ته؛ چې وپوښتی شئ!! وايي به: زموږ پر حال افسوس! يقيناً چې موږ ظالمان وو. نو تر هغه به ئې تل دا وينا وه چې موږ رېبل شوي مړاوي (يخ او ساړه) كړل.

(۱۰-۱۵)- په دې مباركو آيتونو كې څو لارښووني شوې دي:

- قريشو ته ويل شوي: ولې د قرآن او د هغه د حامل رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه دا رنګ رنګ پوښتني او شكونه وړاندې كوئ، كله د ده پيغام ته د شعر نسبت كوي، كله ئې افتراءات ګڼئ، كله ئې پرېشان خوبونه، كله يوه او كله بله مطالبه ترې كوئ او معجزې ترې غواړئ!! په دې كې مو كوم داسې څه تر سترګو شوي چې د حيرت او تعجب او نه منلو وړ وي؟ دا كتاب خو تاسو ته خپل ځان درښيي، ماضي او مستقبل مو درښيي، ستاسو د مخكينيو برخليك ستاسو په وړاندې ږدي، ستاسو د نېكو او بدو كړنو، سمو او غلطو تګلارو پايلې په ګوته كوي، د سعادت او شقاوت لارې درښيي، د فلاح او بريا په لورې مو بلي، نو آيا تعقل نه كوئ؟ مګر خبر نه يئ چې تر تاسو وړاندې مو څومره هغه كلي وال وځپل چې ظالمان ول، او تر دوى وروسته مو نور قومونه راپيدا كړل؟!! مګر نه پوهېږئ چې كله به الهي عذاب پر دوى سيورى وغوړاوو او په دې به پوه شول چې ژر به په سخت عذاب اخته شي نو هر څه به ئې شا ته پرېښودل او د تېښتې لار به ئې ونيوله، كه به هرڅومره دوى ته ويل كېدل چې مه تښتئ او خپلو هستوګنځيو او د چړچو او عيش عشرت سامان ته ستانه شئ، هغه څه ته بېرته وګرځئ چې سوكالي ئې درپه برخه كړې وه؛ ښايي وپوښتی شئ!! يعني بيا به ستاسو خادمان لاس په نامه درته ودرېږي او له تاسو به وپوښتي: باداره څه حكم دئ؟! بيا به د مخكې په څېر پتې غونډې جوړې كړئ چې پلويان مو وپوښتي: جنابه! له دې حقپالو او حق غوښتونكو سره څه وكړو او څنګه ئې مخه ونيسو؟!! خو د دوى ځواب به دا وو: زموږ پر حال افسوس! يقيناً چې موږ ظالمان وو. نو تر هغه به ئې دا وينا تكراروله او پر خپل بد حال به ئې افسوس كولو چې جرړې به ئې وايستشوې او د رېبل شوو بوټو په څېر به شول، د ژوند حرارت او شيمه به ئې مړاوې شوه او په مرګ به محكوم شول.
- د دې آيتونو له فحوى داسې معلومېږي لكه چې يوازې مترفين به په الهي عذاب اخته او په دوزخ كې به پراته وي، د قرآن ځيني نور آيتونه هم داسې ښيي لكه چې په دوزخ كې به يوازې مترفين تر سترګو كېږي، د دې وجه دا ده چې همدغو مترفينو او مستكبرينو د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفت ته ملاتړلې او نور ئې مخالفت ته هڅولي، د كفر او شرك اصلي بانيان او حاميان دوى ول، هر پيغمبر چې كوم ولس ته لېږل شوى نو تر ټولو وړاندې

او تر ټولو زيات مترفينو او مستکبرينو د دوی مخالفت کړی، د قريشو د مخالفت قيادت او لارښوونه هم د دوی د صناديدو او د زر او زور خاوندانو په لاس کې وه، په دې آيتونو کې دوی ته ويل شوي چې پايله مو د دوزخ کنده ده. د سبإ په سورې کې لولو:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ سبإ

او هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی پيغمبر نه دئ لېږلی مگر دا چې مترفينو ئې وويل: مونږ په قطعي توگه ستاسو له رسالته منکر يو.

---

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿١٦﴾ لَوۡ أَرَدۡنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهۡوٗا لَّٱتَّخَذۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٧﴾ بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٞۚ وَلَكُمُ ٱلۡوَيۡلُ مِمَّا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾

او آسمان، زمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي د لوبې کوونکو په توگه مو نه دي پيدا کړي، که مو غوښتی چې د بېهوده مشغولتيا په توگه ئې ونيسو نو له خپل لوري به مو (همداسې) نيولی وو که (د داسې کار) کوونکي وی، بلکې پر باطل د حق گوزار کوو نو سر ئې وروڅېي، نو همدا مهال هغه له منځه تلونکی شي، او تاسو ته د هغه څه له کبله افسوس دئ چې بيانوئ ئې.

---

(۱٦-۱۸)- په دې مبارکو آيتونو کې د دې لارښوونو شاهد يو:

الله تعالی آسمان، زمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي داسې نه دي پيدا کړي لکه څوك چې په لوبو لوبو او په بې مقصده توگه لاس يوې بلې خوا ته خوځولو سره څه پيدا کړي، دلته نه بېهوده او بې مقصده شی شته او نه د باطل لپاره د بقاء او دوام مجال، هر څه ئې د دقيقې منصوبې له مخې په سمه توگه پيدا کړي، که خبره داسې وی لکه کفار چې گمان کوي او وايي دلته نه د حق او باطل په نامه څه شته، نه د ښه او بد په نامه کوم کار، نه د حلال او حرام په نامه کوم شی، نه د مکافات او مجازات په نامه کوم الهي سنت، نو الله تعالی به آسمانونه او زمکه همداسې پيدا کړي ول، هرې خوا ته به د بېهوده او عبث شيانو شاهد وو، نه به کله حق غالبېدو او نه به د باطل ټغر ټولېدو، خو دا دئ تاسو په خپلو سترگو گورئ چې د تاريخ په اوږدو کې په وار وار د حق گوزارونو د باطل سر ځپلی او د هغه ټغر ئې ټول کړی!! دا پېښې که د کومې خبرې شهادت ورکوي نو هغه دا ده چې الله تعالی آسمانونه او زمکه بېهوده او خوشې نه دي پيدا کړي. ستاسو په حال افسوس چې دا حقيقت نشئ درك کولی او هغه څه وايئ چې په ټول عالم کې د هغه په تأييد کې هيڅ شاهد نشئ موندلی.

وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَنۡ عِندَهُۥ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُونَ ﴿١٩﴾ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴿٢٠﴾

او هغه څه ټول د ده دي چې په آسمانونو او زمكې كې دي، او هغه چه له ده سره دي نه ئې له بندګۍ ځان لوړ ګڼي او نه ستومانه كېږي. شپه او ورځ په تسبيح لګيا وي او نه سستېږي.

(۱۹-۲۰)- دا مبارك آيتونه د مخكيني مطلب مزيد وضاحت كوي او وايي: د آسمانونو او زمكې هر څه د الله تعالى دي، ده پيدا كړي او د ده په واك كې دي، د ده په وړاندې خاضع او منقاد دي، د ده په عبادت او بندګۍ بوخت دي، همغه څه كوي چې الله تعالى پرې ګمارلي، نه يوه شېبه د ده له عبادت او بندګۍ سرغړاوى كوي او نه ستومانه كېږي. شپه او ورځ په تسبيح لګيا وي او د خپلې دندې په تر سره كولو كې سستي او لټي نه كوي.

أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ ءَالِهَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ هُمۡ يُنشِرُونَ ﴿٢١﴾

آيا داسې زمكني خدايان ئې نيولي چې هغوى مړي راژوندي كوي؟

(۲۱)- آيا په زمكې كې داسې كوم معبود ښودلى شي چې مړي راژوندي كولى شي؟ كه داسې څوك نشي موندلى چې يوه وړه حشره او د يوه بوټي يوه پاڼه راپيدا كړي او كوم مړى راژوندى كړي نو څنګه له الله تعالى پرته په بل معبود باور كوي او له الله تعالى سره ئې شريكوي؟!!

لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾

كه په دوى دواړو (آسمان او زمكې) كې له الله پرته نور خدايان وى؛ دواړه حتماً تباه كېدل، نو د دوى له ستايلو د عرش پالونكي الله لره پاكي ده.

(۲۲)- په دې مبارك آيت كې ويل شوي: كه چېرې په آسمانونو او زمكې كې له الله تعالى پرته نور آلهه او معبودان وى، نو حتماً به دواړه تباه شوي وو، د زمكې او آسمانونو بقاء او دوام او په هغوى كې د تباهي له رامنځته كېدا مخنيوى ښيي چې د آسمانونو او زمكې ټولواك رب نه كوم شريك لري او نه كوم څه د ده د سلطې له عرشه بهر دي، له ټولو هغو عيبونو لوړ دئ چې مشركان ئې الله تعالى ته منسوبوي.

دا د توحيد د اثبات او د متعددو خدايانو د غلطي انګېرنې د ترديد په ارتباط دومره مضبوط دليل دئ چې هر عاقل او باضميره انسان قانع كوي او د انكار هره پلمه ترې سلبوي،

دا آيت وايي: د دې ځمکې او آسمانونو پيدا کوونکی او پالونکی رب يو دئ، د عالم په ادارې او سمبالولو کې هيڅوك له هغه سره شريك نه دئ، په آسمانونو او ځمکې کې د يوه الله حکم نافذ دئ او له همدې يوې مرجع د ټولو ساتنه او پالنه کېږي، له همدې کبله د عالم د دې بې حسابه اجسامو او اجرامو تر منځ ټکر او تصادم نه راځي او هر څه په خپل خپل مدار او مسير کې اداره کېږي، د دې پراخ عالم په هيڅ برخي کې توپير، تضاد، بې نظمي، تشه، خلأ او تعارض نه موندل کېږي، که چېري د دې خور او پراخ عالم اداره، حفاظت او ساتنه په مختلفو لاسونو کې وی، هرومرو به د ارادو اختلاف په ټکر او تصادم منتج کېدو او د دنيا نظم به متلاشي کېدو. د ځمکې او آسمان تر منځ يووالی او هم جهتي دا ثابتوي چي د دواړو خالق، پالونکی او ساتونکی يو دئ.

لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴿٢٣﴾

**له هغه څه؛ نه پوښتل کېږي چي دی ئې کوي او دوی پوښتل کېږي.**

(۲۳)- الله تعالی د دې عالم مطلق ټولواك دئ، نه په خپلو تصرفاتو کې د بل موافقې او تأييد ته اړ دئ او نه د چا په وړاندې مسئول او ځواب ويونکی دئ، په ټول عالم کې داسې ځواك نه موندل کېږي چي د الله تعالی پرېکړې تر اعتراض لاندې ونيسي او د عملې کېدا مخه ئې ونيسي، خو له الله تعالی پرته بل هر څوك،که هر څومره ځواکمن او واکمن وي، هم د بل مرستي او ملاتړ ته اړ وي، هم ئې کړني تر پوښتنو او اعتراض لاندې راځي او هم ئې د پرېکړو ممانعت او مخالفت کېدی شي. آيا څوك کولی شي په دې اعتراض وکړي چي لمر ولې له مشرقه راپورته کېږي او په مغرب کې پرېوځي، آيا دا اعتراض ئې څه ځای نيسي او څه نتيجه پرې مرتب کېږي او د لمر په مسير کې تبديلي راوستی شي؟!!

أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةًۖ قُلْ هَاتُواْ بُرْهَٰنَكُمْۖ هَٰذَا ذِكْرُ مَن مَّعِىَ وَذِكْرُ مَن
قَبْلِىۗ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْحَقَّۖ فَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٤﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ
مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾

**آيا له ده پرته ئې نور معبودان نيولي؟ ووايه: خپل دليل وړاندې کړئ، دا د هغه ذکر دئ چي له ما سره دئ او د هغه ذکر چي له ما وړاندې وو، بلکې د دوی ډېری حق نه پېژني، نو ځکه دوی اعراض کوونکي دي، او تر تا وړاندې مو هيڅ پيغمبر نه دئ لېږلی مگر دا چي هغه ته مو وحي کوله چي له ما پرته بل معبود نشته نو زما عبادت وکړئ.**

(۲۴-۲۵)- د دې مبارکو آيتونو په اړه دا خبري په پام کې ولرئ:

- په مخکينيو آيتونو کې د توحيد مضبوط او انکار نه منونکي دلائل وړاندې شول، دلته د

مشركينو په اړه ويل شوي چي آيا له دغو څرګندو دلائلو سره سره ئې له ده پرته نور معبودان نيولي؟ ووايه: خپل دليل وړاندي كړئ، دا وينا خو يوازي د قرآن وينا نه ده چي په آسمانونو او زمكي كي له الله تعالى پرته بل معبود نشته، په ټولو مخكينيو الهي كتابونو كي دغه خبره شوې، د دوى د انكار وجه دا نه ده چي د خپل شرك لپاره كوم عقلي او نقلي دليل لري، وجه ئې د دوى ناپوهي ده، د دوى ډېرى حق نه پېژني، نو ځكه اعراض كوي.

- الله تعالى تر محمد عليه السلام وړاندي هيڅ داسي پيغمبر نه دئ لېږلى چي هغه ته د الله تعالى له لوري دا وحي نه وي شوې چي له ده پرته بل معبود نشته او يوازي زما عبادت وكړئ.

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۚ بَلۡ عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٧﴾ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ﴿٢٨﴾ ۞وَمَن يَقُلۡ مِنۡهُمۡ إِنِّيٓ إِلَٰهٞ مِّن دُونِهِۦ فَذَٰلِكَ نَجۡزِيهِ جَهَنَّمَۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾

او وئې ويل: رحمن خداى يو زوى نيولى! پاكي ده ورته (له دې عيب)، بلكي عزتمن بندګان دي، په وينا كي ترې وړاندي والى نه كوي، او دوى د ده په امر كار كوي، په هغه څه پوهېږي چي د دوى وړاندي او وروسته دي او شفاعت نه كوي مګر د هغه چا چي ترې راضي وي، په داسي حال كي چي له هيبته ئې ورېږېږي. او كه د دوى كوم څوك ووايي چي زه له ده پرته معبود يم نو دا به هغه وي چي د دوزخ سزا به وركړو، ظالمان همداسي مجازات كوو.

(۲٦-۲۹)- د دې مباركو آيتونو په اړه لاندي خبري بايد په پام كي ولرو:

- دلته ويل شوي چي دوى وويل: رحمن خداى يو زوى نيولى! د دوى په ځواب كي ويل شوي: له دې عيب الله تعالى ته پاكي ده، دا پوښتنه راولاړېږي چي دلته د چا وينا ته اشاره شوې؟ د قريشو چي فرشتې ئې د الله تعالى لوڼي ګڼلې؟ كه د نصرانيانو او يهودو چي عيسى عليه السلام او عزير عليه السلام ئې د خداى زامن ګڼل؟ كه د آيت الفاظو ته ځير شو نو راته جوته كېږي چي دلته د يوه زوى يادونه شوې ده، او دا ښيي چي دلته هغه چا ته ګوته نيول شوې چي الله تعالى ته يوازي يو زوى منسوبوي، نه ګڼ شمېر زامن يا لوڼي، نصرانيانو عيسى عليه السلام د الله تعالى يوازينى زوى او ځاى ناستى ګڼلى او يهودو عزير عليه السلام يوازينى زوى او ځاى ناستى، نو اشاره دوى دواړو ته ده، البته ټولي هغه فرقې په كي راځي چي د دوى په څېر كوم نازولى د الله تعالى يوازينى زوى او ځاى ناستى ګڼي.
- د دوى په ځواب كي مزيد ويل شوي: دا د الله تعالى زامن او ځاى ناستي نه دي، بلكي د

الله داسې عزتمن او مکرم بندګان دي چې: ۱- په خپلو ویناوو کې تر الله تعالی وړاندې والی نه کوي، همغه خبره کوي چې الله تعالی ورته کړې، نه له خپله ځانه څه وایي او نه خپل قول د الله تعالی تر قول وړاندې کوي، ۲- همغه څه کوي چې الله تعالی پرې ګمارلي. الله تعالی د دوی په اړه دا وینا د هغه علم له مخې کوي چې د دوی په اړه ئې لري، هم د دوی په مخکینیو کړنو او ویناوو پوهېږي او هم ئې په وروستنیو، ۳- یوازې د هغه چا شفاعت کوي چې الله تعالی ترې راضي وي، خو دا شفاعت هم په داسې حال کې کوي چې د خپل رب له هیبته وېرېږي.

- الله تعالی فرمایي: که له دغو مکرمو بندګانو څوك ووایي چې زه له الله تعالی پرته معبود یم! نو هغه ته به د دوزخ سزا ورکړو، داسې ظالمانو ته همداسې سزا ورکوو.

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾

آیا کافرانو دې ته پام نه دئ کړی چې آسمانونه او زمکه سره نښتي ول، نو موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی، نو آیا ایمان نه راوړي؟!

(۳۰)- د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- دا مبارك آیت په ډېر صراحت او وضاحت سره وایي چې په سر کې ټول کائنات، زمکه، لمر او د آسمان ټول اجرام یوه کتله وه او الله تعالی په یوې چاودنې سره دوی بېل بېل کړل او اوسنۍ بڼه ئې ورکړه. د (رتق) معنی پیوستون او یو له بل سره نښتل ده؛ او د (فتق) معنی بېلتون او جلا کېدا ده؛ یعني د عالم هر څه که دا په آسمانونو کې دي او که په زمکې کې؛ سره پیوست او نښتي ول او الله تعالی سره جلا جلا او بېل بېل کړل.
- د ټولو ژوو د پیدایښت لومړی او اساسي ماده اوبه دي؛ الله تعالی ټول ژوي له اوبو پیدا کړي.
- د ایمان راوړو لپاره دغه دوه دلائل کافي دي؛ آیا د دغو دوو څرګندو دلائلو له لیدو او اورېدو سره سره کافران ایمان نه راوړي؟!! (افلا یؤمنون؟!!)

مخکې له دې چې د قرآن دا وینا وڅېړو باید ووایو چې دا څه عادي او معمولي خبره نه ده، د دې خبرې په ارزښت او اهمیت هغه څوك ښه پوهېږي چې د عالم د پیدایښت په اړه ئې ژور علمي تحقیقات او څېړنې کړې، د ډېرو ساینسپوهانو نظریات او تحلیلونه ئې لوستلي، تجربې ئې کړې او له کلونو کلونو تحقیق وروسته دغې نتیجې ته رسېدلی چې د قرآن په پورتني آیت کې ورته اشاره شوې؛ که تاسو د قرآن دغه آیت د همداسې کوم ساینسپوه مخې ته کېښېږدئ او ورته ووایئ: زموږ په دغې دیني کتاب کې څوارلس پېړۍ مخکې لیکل شوي چې آسمانونه او زمکه سره نښتي او پیوست ول او الله تعالی سره بېل کړي؛ نو یقیناً

چې هغه به یا اعتراف کوي چې دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ، انسان نه شو کولی چې له شلمي پېړۍ وړاندي د عالم د پیدایښت په اړه داسي علمي او دقیقه وینا وکړي؛ یا خو به دا خبره هغه ته لږ تر لږه دومره حیرانوونکې وي چې د څه ویلو توان به ترې سلب کړي.

که څوك په شفاف ذهن سره دې آیت ته ځیر شي نو له الفاظو ئې څو نتائج تر لاسه کوي:

- په سر کې به دا زمکه، لمر، سپوږمۍ او ټول ستوري سره نښتي وو، د بېلېدو پر مهال به زمکه، سپوږمۍ او نور ستوري داسي ځلانده او تاوده ول لکه لمر، ورو ورو به ځینو خپله رڼا او تودوخه له لاسه ورکړې وي!!
- لابد به زموږ زمکه له نورو د رابېلېدو په وخت کې د لمر په څېر گرمه او سره وه، دا ځکه چې دواړه یو ځای وو او په یوه وخت کې سره بېل شوي. لمر چې ستر دئ خپل حرارت ئې تر ننه حفظ کړی، خو زمکه چې تر لمر ډېره وړه ده؛ ورو ورو سړه شوې، سر ئې سوړ او زړه ئې لا تر اوسه تود او سخت گرم پاته شوی، هومره تود چې هرڅه په کې ویلي؛ د قرآن په اصطلاح هر څه په کې (نحاس: ویلي) دي. او دا هغه څه دي چې هم ئې زموږ عقل راته وایي او هم ئې ساینس د تجربو او مشاهداتو له مخي وایي. د زمکي پر سر هره ورځ د داسي صحنو شاهد یو چې دلته او هلته د زمکي له زړه دغه نحاس او ویلي سره او خوټېدونکي مواد راوځي، بهېږي او د اور د سکروټو په څېر شیندل کېږي او موږ د زمکي د زړه له تودوخي خبروي، تحقیقات ښیي چې د زمکي د زړه تودوخه د سانتي گرېډ په حساب څو زره درجې ده.
- د دې وینا بله طبیعي نتیجه دا ده چې د زمکي بهرنی قشر به له سړېدو وروسته د ډېري په څېر کلك وو، داسي لکه د اورشیندو په ترڅ کې چې د زمکي د زړه ویلي مواد راوځي او د زمکي پر سر له بهېدو وروسته کلکه ډبره ترې جوړېږي، د زمکي دا ډبرین پوستکی به ورو ورو په خاوري بدل شوی وي، دا هم هغه څه دي چې زموږ عقل ئې راته وایي او د ساینسي څېړنو په ترڅ کې ثابت شوي، د زمکي اصلي برنی پوستکی ډبرین دئ، دا پوستکی په ځینو برخو کې په ډېري خاوري او په ځینو کې په لږ خاوري پوښل شوی، دغه پوستکي د زمکي د زړه ویلي او تاوده توکي داسي په خپلي غېږ کې راتم کړي لکه د بخار په دیگ کې خوټېدونکي مواد، د زمکي پر سر اورشیندي هغه مهال او په هغه سیمه کې راڅرگندېږي چې دا پوستکی وچوي او له چاودونو ئې د زمکي د زړه ویلي مواد بهر راووځي.
- د زمکي او د زمکي پر سر د ژوو د پیدایښت په اړه محققین وایي: زمکه له خپل پیدایښت وروسته سخته توده او سره وه، د زمکي قشر او پوستکی ورو ورو سوړ شو، خو د سختي تیري په څېر وو، لومړی اوبه پیدا شوې، د زمکي ټولي اوبه د پرېړو وریځو په بڼه کې تر زمکي راتاو وې، د بارانونو وریدا پیل شوه، د باران او گڼ شمېر نورو عواملو په وجه د زمکي د سر دا ډبرین پوستکی ورو ورو په خاوره بدل شوی، سیلابونو دا خاوره له ځان سره د زمکي آوارو

او ژورو برخو ته انتقال کړه، د زمکې تودوخه لا هومره وه چې اوبه ئې د ځان د پاسه نه پرېښودې، د اوبو د تبخیر په نتیجه کې سیلاب راوړې ختې په کړنګېدونکې وچې ختې او کودړې بدله شوه، خو د زمکې د مزید سړېدو او مزید بارانونو په نتیجه کې داسې حالت راپیدا شو چې له یوې خوا د پرېړو وریځو پرده څېرې شي او د لمر وړانګې زمکې ته ورسي او له بلې خوا د زمکې د سر خاوره په لومړي سر کې نمجنه خټه او وروسته توره بوی ناکه خټه شي، د زمکې پر سر د ژوو پیدایښت په دغه مرحله کې پیل شو.

راشئ د محققینو او ساینسپوهانو دا وینا د قرآن د وینا په څنګ کې کښېږدو او وګورو چې قرآن د دغو نظریاتو په اړه څه ویلي، آیا په قرآن کې داسې څه مومو چې دغو بېلو بېلو مراحلو او د زمکې د سر تغییراتو ته ئې اشاره کړې وي؟ که داسې وي چې قرآن دغو خبرو ته په واضح الفاظو اشاره کړې وي، همغسې لکه چې د پیدایښت د پیل او د زمکې او آسمانونو د پېوستون او بېلتون په اړه ئې ویلي، نو آیا د دې معنی به دا نه وي چې ساینسپوهان په هغه څه ډېر وروسته پوه شوي چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه ویلي؟!!

راشئ وګورو چې قرآن د زمکې د زړه د ډېرې تودوخې او په هغه کې د ویلې شوو توکو په اړه څه ویلي؛ د قرآن لاندې آیتونو ته لږ ځیر شئ:

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ﴿٣٣﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٤﴾ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ الرحمن

اې د انسانانو او پېریانو ټولګیو! که کولی شئ چې دآسمانونو او زمکې له اقطارو ووځئ نو ووځئ؛ وتلی نشئ مګر په ځانګړې ځواک سره، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟ پر تاسو به د اور داسې شعلې او داسې ویلې مس لېږل کېږي چې مقابله ئې نشئ کولی.

په دې آیتونو کې د قرآن دوه ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ځلېږي: یو دا چې وایي: که آسمان ته بر ولاړ شئ نو له داسې بې دوده لمبو سره به مخامخ شئ چې مقابله ئې نشئ کولی، یعني د آسمان په برنۍ برخې کې د شهاب ثاقب تېزې او تودې لمبې دومره زیاتې او زورورې دي چې تاسو ئې له مقابلې عاجز یئ!! او دا هغه حقیقت دئ چې انسان اوس او هغه مهال پرې پوه شو چې سپوږمۍ او ستورو ته ئې د ختلو لړۍ پیل کړه او متوجه شو چې دا شهاب ثاقب د فضائي سفرونو په وړاندې داسې ستر ګواښ دئ چې مقابله ئې نشي کېدی. یقیناً چې دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو ژورو تحقیقاتو وروسته انسان ته جوته شوې چې آسمان ته د لوړ تلو په لار کې تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکې آسماني اجرام) دي چې هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ممکن نه دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چې هر څه ویلې کوي او هیڅ څه ئې مخې ته تم کېدی نشي.

انسان تر نن پورې د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلی يا نژدې شوی، تر دې وړاندې تګ يوازې په هغه صورت کې ورته ممکن دئ چې وسيله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادم کولو خوندي پاته شي.

او د الملك په سورې کې لولو:

ءَأَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ الملك: ﴿١٦﴾

آيا له هغه چې په آسمان کې دئ له دې پلوه خوندي شوي يئ چې په زمکې کې مو ښخ کړي چې ناڅاپه به بيا خوځي؟

په دې مبارك آيت کې چې د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ايښودل شوی؛ څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مګر ګمان کوئ دا آواره زمکه چې تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی، او ستاسو د رزق او روزي د تأمين وسيله ده، همداسې به د تل لپاره ستاسو په خدمت کې وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاته، مستمر او ثابت دئ او هيڅکله به تغيير په کې نه راځي؟ مګر له دې هيڅ وېره نه لرئ چې د عالَم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چې د زمکې دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسې چې نه نور ستاسو په خدمت کې وي، نه تاسو پر خپلو اوږو يوسي، او نه رزق او روزي درکړي، بلکې برعکس ستاسو په هدېرې بدله شي، تاسو تر خاورو لاندې کړي، سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترګو وګورئ؟!! څه شي ډاډه کړي يئ؟ څه شي د داسې حالت له راتلو مطمئن کړي يئ؟ د دې کاذب ډاډ او اطمئنان لپاره څه دليل لرئ؟

ب: په دې آيت کې د خسف: د زمکې کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره يو ځای ذکر شوي، د بيان اسلوب داسې دئ چې ښيي که د زمکې کومې برخې کې خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي، او دا هماغه خبره ده چې ساينس ئې نن د زمکې د زلزلو د عواملو په اړه کوي.

علمي تحقيقات ښيي چې د زلزلې يو اساسي سبب خسف دئ، وايي چې د زمکې منځنۍ برخه، د سختې تودوخې په وجه د خوټېدو په حالت کې ده او هر څه ئې ويلي او ذوب شوي دي، دا توده او ويلې برخه په کلك پټوکي چې کلکې ډبرې ته ورته دئ، احاطه شوې، د زمکې پورتنۍ خاورينه برخه د همدې ډبرين پوټکي په ذريعه له منځنۍ برخې بېله شوې، کله چې دا ډبرين پوټکی، د زمکې په کومې برخې کې، د برنې يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کې مات شي او د زمکې هماغه برخه د مذاب او ويلي موادو د پاسه واقع شي، هلته زلزلې پيل شي.

کوم مطلب چې په دې آيت کې د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی، يوازې په تېرې پېړۍ کې او له ژورو څېړنو او تحقيقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

همدا راز دا آيت ښيي چې کله زمکه خسف شي نو داسې برخه ئې راڅرګنده شي چې

خوځېږي، د زمکې د زړه ويلې او خوځېدونکې توکې راڅرګند شي، او دا هغه حقيقت ته په واضح توګه اشاره کوي چې وايي: د زمکې د زړه توکې مذاب او ويلې دي.

تاسو د الأنبياء د سورې په دېرشم آيت کې وليدل چې د آسمانونو او زمکې له پيدايښت سره متصل د اوبو او له اوبو د ټولو ژوو پيدايښت ته اشاره کوي او وايي: آيا کافران په دې نه پوهېږي چې آسمانونه او زمکه سره (نښتي) وو، نو موږ سره (بېل) کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پيدا کړی، نو آيا ايمان نه راوړي؟! په دې آيت کې او يو په بل پسې د زمکې او آسمان له پيدايښت سره متصل د اوبو او له اوبو د هر ژوي د پيدايښت ذکر دا مطلب په ګوته کوي چې د زمکې پر سر تر ټولو د مخه اوبه پيدا شوې. او دا هغه حقيقت دئ چې قرآن څوارلس سوه کاله مخکې بيان کړی دئ او ساينس اوس پرې پوهېدلی. نن چې ته له هر ساينس پوه د زمکې، آسمان او اوبو د پيدايښت په اړه پوښتنه وکړې، نو ځواب به ئې همدا وي چې قرآن ويلي. ساينسپوهان وايي چې هايډروجن تر ټولو سپک عنصر دئ چې اتم ئې له يوه پروټون او يوه اليکټرون جوړ شوی او د زمکې پر سر له لومړنيو جوړ شوو عناصرو دئ، هيليوم ورپسې دئ چې اتم ئې يو پروټون او دوه اليکټرون لري، هايدروجن د اوبو د ترکيب دوه درېيمه برخه ده، دوه ماليکول هايدروجن له يوه ماليکول آکسيجن سره يو ځای شوي او اوبه ترې جوړې شوې. نور عناصر وروسته جوړ شوي او اړوند مرکبات ئې هم وروسته وروسته راپيدا شوي. قرآن د هود د سورې په اوم آيت کې فرمايي:

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ ٱلْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ هود

او دی (الله) هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، او عرش ئې پر اوبو وو، د دې لپاره چې تاسو وآزمويي چې کوم يو مو د عمل له مخې تر ټولو غوره دئ، او که ته ووايې چې تاسو به له خپلې مړينې وروسته هرومرو راپاڅئ نو هغه چې کفر ئې کړی حتماً به ووايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!

په دې مبارک آيت کې ويل شوي چې الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کې پيدا کړل، په داسې حال کې چې عرش ئې پر اوبو وو. د دې آيت په تفسير کې د درنو مفسرينو تر منځ ژور اختلاف تر سترګو کېږي، هم په دې اړه چې آيا له شپږو ورځو همدا زموږ اوسنۍ ورځې مراد دي او که شپږ تکويني مرحلې؟ او هم په دې اړه چې د دې فقرې معنی څه ده چې د آسمانونو او زمکې د پيدايښت پر مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آيا عرش او اوبه د زمکې او آسمانونو له پيدايښته مخکې پيدا شوي؟ آيا عرش داسې شی دئ چې د بل څه پر سر ولاړ وي همغسې لکه د زمکې کوم تخت؟ او که معنی ئې دا ده چې هغه مهال يوازې اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندې وې او نور څه نه وو؟ آيا له اوبو مراد همدا زموږ اوسنۍ د

څښلو اوبه دي که دا چې هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ویلي او مائع) وو؟
د دې مبارك آیت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځې) یادونه شوې، انسانانو دا دوه نومونه د خاصو شیانو لپاره وضع کړي، کله چې دې ته ورته نومونه د الله تعالی په اړه راځي نو موږ ئې په هغه متبادره معنی نه شو اخیستی چې انسانان ئې ورته کاروي، نه عرش داسې شی دئ چې د زمکې کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چې زموږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آیتونو کې چې داسې الفاظ د غیبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آیتونه ویل کېږي، په هغوی کې داسې غیبي شیان چې انسان ورته نوم نه لري په داسې الفاظو یاد شوي چې انسان د لیدل کېدونکو شیانو لپاره وضع کړي، په دې سره موږ ته د غیبي شیانو په اړه نسبي معلومات راکول کېږي، د دې یو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چې قرآن ئې یو ځای د داسې مودې لپاره راوړي چې زموږ له زرو کلونو سره برابره ده، او بل ځای ئې د پنځوسو زرو کلونو اوږدې مودې لپاره کارولې، نو دا شپږ ورځې هم دا زموږ شپږ ورځې نه دي چې نژدې دوه اویا ساعتونه کېږي بلکې شپږ تکویني مراحل دي چې اوږدوالی ئې یوازې الله تعالی ته معلوم دئ. د دې تفصیل د الاعراف د سورې د ٥٤ آیت په تفسیر کې ولولئ.
- د آیت د دې فقرې (وکان عرشه علی الماء) په اړه درنو مفسرینو بېل بېل آراء وړاندې کړي، د ځینو له تعبیرونو داسې معلومېږي چې ګواکې د الله تعالی عرش به د زمکې د سر کوم تخت ته ورته شی وي او پر اوبو ئې اوسېدا همغسې وه لکه د اوبو پر سر د کوم تخت ودرېدا!! په داسې حال کې چې نه د الله تعالی عرش د زمکې کوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسې ده لکه پر اوبو د زمکې د کوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چې د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه وو او نه د الله تعالی عرش داسې شی دئ چې د ودرېدو لپاره کومې آوارې سطحې ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه له کومې ستنې پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه داسې څه ته اړ وي؟! دا غلطې انګېرنې او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تیاره ذهن زېږنده دي چې الله تعالی او عرش ئې د زمکې د سر له مخلوقاتو سره تشبیه کوي، د آیت معنی دا نه ده چې د آسمانونو او زمکې د پیدایښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر داسې ولاړ وو لکه د زمکې کوم تخت چې پر اوبو ولاړ وي!! ځوك چې د دې آیت په تعبیر کې دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسې پوښتنو سره مخامخ کېږي چې هیڅ ځواب ورته نشي موندلی، لکه دا چې: عرش تر اوبو مخکې چېري وو او پر څه ولاړ وو؟ الله تعالی تر عرش مخکې چېرې وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟
- د یوه آیت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چې وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکې او وروسته څه ویل شوي؟ که دلته لږ ځیر شو نو راته جوته کېږي چې دا آیت له مخکیني آیت سره ژور ارتباط لري، په مخکیني

کې ويل شوي چې د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چې د دوی د پيدايښت او مړيني له ښېټې خبر دئ، ورپسې ويل شوي چې الله همغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي، تاسو پوهېږئ چې د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چې له يوه باران راورېږي او لمر ئې زمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي او بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي، او بيا په آسمان او زمکې کې د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چې ورېدا، ذخيره کيدا، د زمکې پر سر روانېدا ئې د الله تعالی په حکم دي، چې خبره داسې ده نو بايد پوه شې چې واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وار دئ، او دا همغه مطلب دئ چې په همدې توګه د العنکبوت په سوره کې په دې بڼه راغلی:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ٱللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٣﴾ العنکبوت

او څومره ژوي داسې دي چې خپله روزي نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم، او هغه پوه اورېدونکی دئ، او که ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ، دا خو الله دئ چې په خپلو بندګانو کې هغه چا ته روزي پراخوي چې دی ئې غواړي او يا ئې ورته محدوده او تنګه کوي، يقيناً چې هغه پر هر څه ښه پوه دئ، او که ئې وپوښتې چې له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلې مړينې وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووايه: ستايني ټولې الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

په دې آيتونو کې هم ګورئ چې لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بيا د آسمانونو او زمکې د پيدايښت، د لمر، سپوږمۍ د تسخير (چې شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بيا له آسمانه د اوبو راورېدا او بيا په زمکې کې د ژوندون پيلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ويل شوي چې رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پيدا شوي او ذمه وار ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چې چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. که لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چې د دغو دواړو سورتونو په دغو آيتونو کې بشپړ ورته والی او يو د بل شرح او تفسير دئ.

دې ته مو هم بايد پام وي چې لکه په (على الله رزقها) کې (على) د فوقيت او بروالي په معنی نه شو اخيستی او داسې نه شو ويلی چې رزق ئې د الله د پاسه دئ بلکې وايو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسې په (كان عرشه على الماء) کې نه شو ويلې چې عرش ئې د

اوبو له پاسه ولاړ وو، بلکې باید ووایو: اوبه د الله تعالى د واکمنۍ تر عرش لاندې وې. ځکه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چې د رزق او روزۍ وسائل د الله تعالى په واك كې دي.

تاسو پوهېږئ چې اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه برخه ده، دانه، مېوه او واښه هم په اوبو راټوكېږي، په دې آيت سره موږ ته لارښوونه شوې چې الله تعالى د ژوو له پيدايښته مخكې د دوى روزي پيدا كړې، داسې لكه د ماشوم له پيدا كېدو مخكې چې د مور په تي كې شيدې ورته پيدا كوي.

ځينو درنو مفسرينو ويلي چې دا عالم د آسمانونو او زمكې له پيدايښته مخكې د مائع (اوبو) په څېر وو، كه څه هم دا تعبير تر يوه حده د پام وړ دئ، خو دا تعبير به يوازې په هغه صورت كې د منلو وړ وو چې د بحث اصلي موضوع د عرش د څرنگوالي بيانول وى، نه ژوو ته روزي وركول. ځينې بيا په دې عقيده دي چې په سر كې زمكه په پرېړو ورېځو پوښل شوې وه، پر له پسې زورور بارانونه پيل شوي دومره چې ټوله زمكه په اوبو كې پټه شوې، او همدا د قرآن د دې آيت مصداق گڼي چې وايي: و كان عرشه على الماء، ځكه دا مهال د زمكې پر سر له اوبو پرته بل هيڅ څه نه وو، نه نباتات وو، نه حيوانات او نه لوړه او وچه تر سترگو كېده. هغوى وايي: د زمكې په ټولو مركباتو كې د اوبو مقدار تر ټولو زيات دئ، كه دا نن د زمكې سطح آواره وى او لوړې ژورې ئې نه درلودى او ټولې اوبه د مائع په بڼه كې وى نو د ټولې زمكې مخ به ئې داسې پوښلى وو چې د اوبو ژور والى به نژدې دوه ميله وو. خو تر ټولو دقيق تعبير همغه دئ چې اوبه د زمكې لومړنى پيدا شوى مركب دئ.

---

وَجَعَلْنَا فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ
يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾ وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا وَهُمْ عَنْ ءَايَٰتِهَا مُعْرِضُونَ ﴿٣٢﴾ وَهُوَ
ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٣٣﴾

او په زمكې كې مو لنگرونه (غرونه) وگرځول (جوړ كړل) چې دوى ونه خوځوي، او په هغې كې مو ارتې لارې جوړې كړې چې لار ومومي، او آسمان مو خوندي چت وگرځولو دا په داسې حال كې چې دوى ئې له آيتونو اعراض كوونكي دي، او دى هغه ذات دئ چې شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ئې پيدا كړل، داسې چې هر يو په يوه فلك كې لامبو وهي (خوځي).

---

(۳۱-۳۳)- په دې مباركو آيتونو كې څو خبرې جدي توجه او دقت غواړي:

- دلته د غرونو لپاره د لنگرونو نوم غوره شوى، رواسي د راسيه جمع ده چې معنى ئې ثابت او ټينگ دئ، د كښتيو لنگرونو ته د دې لپاره رواسي ويل كېږي چې كښتۍ پرې تم كېږي.

• دلته د غرونو د پيدايښت په اړه د (جعل: گرځول) صيغه کارول شوې، ولې د جوړولو او پيدا کولو پر ځای دا صيغه راغلې؟ ولې د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنگرونه) نوم راوړل شوی؟ ولې ويل شوي چې دا غرونه مو د دې لپاره لنگرونه وگرځول چې زمکه دوی ونه خوځوي، آيا د غرونو تر پيدايښت وړاندې زمکه خوځېده؟ غرونو څنگه د هغې خوځښت کم کړ؟ ولې د غرونو تر څنگ د لارو يادونه شوې؟ آيا د غرونو او لارو تر منځ کوم تړاو شته؟ دې پوښتنو ته بايد دقيق او علمي ځوابونه ولټوو.

• علمي څېړنې ښيي چې غرونه د زمکې له زړه راټوکېدلي، ډېره برخه ئې د زمکې په زړه کې وې او لږ ئې بهر راوتلې وې، دا غرونه هغه مهال راوټوکېدل چې د زمکې بهرنۍ قشر سوړ او د ډبرې په څېر کلك شو، خو نازك وو او د زمکې په سينه کې د متراکمې انرژۍ د فشار په وړاندې ئې مقاومت نه شو کولی او په پر له پسې توگه چاودېدو، له دغو چاودونو ويلې مواد بهر شيندل کېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل، اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشيندو په ترڅ کې غرونه د جوړېدو په حال کې دي خو په لږ پيمانه، دا ښيي چې د غرونو لپاره د (جعل) صيغه کارول ډېر ستر علمي حقيقت افاده کوي او د قرآن يو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي. د زمکې پر سر د غرونو د جوړېدو څرنگوالی له دې سره شباهت لري چې څوك هگۍ په جوش اوبو کې کښېږدي، د هگۍ زېړ او سپين ورو ورو گرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له کبله د هگۍ پوستکی وچوي، د هگۍ سپين له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاته شي، غرونه د زمکې پر سر همداسې جوړ شوي.

• د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقيقت هم ثابت شوی چې زمکه د پيدايښت په لومړيو مراحلو کې او هغه مهال چې بهرنی قشر ئې لا مضبوط او پرېږ شوی نه وو او غرونه لا نه وو پيدا شوي، د دغو چاودنو له کبله له شديدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چې د زمکې بهرنی قشر مضبوط او دروند شي، بېلې بېلې ټوټې ئې سره وصل او ويلډينگ شي او د زلزلو مخه ونيول شي، دا داسې وگڼئ لکه چې د يخو اوبو پر سر د مات کنگل ټوټې له کوم لوی او دروند او ډېر سوړ کنگل سره ونښلي او په دې توگه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنگر نوم غوره کول په حقيقت کې دغه ستر علمي حقيقت ته اشاره کوي او يقيناً چې دا د قرآن يو بل قاطع او ښکاره علمي اعجاز دئ.

• دغو سترو او درنو غرونو د زمکې بېلې بېلې برخې په خپلو کې سره کلکې نښلولې دي، داسې لکه د اوسپنې تختې چې د ولډنگ په ذريعه په خپلو کې سره ونښلي، دا غرونه د زمکې پر سر هغه درانه پېټي وگڼئ چې نه پرېږدي د زمکې هغه کلك او ډبرين پوستکی چې تر خاورو څو کيلومتره لاندې دئ، د هغه فشار په وجه مات شي چې د زمکې د زړه له خوټېدونکو موادو راولاړېږي، په دې ترتيب غرونه د زمکې د زلزلو مخنيوی کوي، انسان له ډېرو علمي څېړنو وروسته نن په دې حقيقت پوه شوی چې د زمکې تر خاورين قشر لاندې، د کلکې ډبرې پرېږ پوستکی راتاو شوی او د زمکې په زړه کې د ډېر فشار او تودوخې په وجه

هر څه ويلي او د خوټېدو په حالت کې دي، له دې چې کوم فشار راپيدا کېږي هغه داسي وګڼئ لکه په سره اور پروت، د خوټېدو په حال کې د بخار دېګ چې له داخله تر سخت فشار لاندي وي، د زمکې ډېرين پوستکی هم دې ته ورته د ډېر ستر فشار لاندي وي، که دا غرونه او د دوی زيات وزن نه وی نو د دې فشار په وړاندي به ئې د مقاومت تاب نه درلود او دلته هلته به يو په بل پسې ماتېدو او زلزلې به راولاړېدې. دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه ئې د (مېخونو) او (لنګر) په نامه ياد کړي او دا هغه حقيقت دئ چې انسان فقط په دې پېړۍ کې ورباندي پوه شو. قرآن دا حقيقت هم بيان کړی چې د غرونو له راپيدا کېدو د مخه زمکه خوځېده، له پرله پسې زلزلو سره مخامخ وه، الله تعالی غرونه ورباندي راپيدا کړل او دا خوځښت ئې سمبال شو او دا هم د غرونو په ارتباط يو بل ستر علمي حقيقت دئ چې انسان اوس ورباندي پوه شوی.

• په دې هم پوهېږو چې غرونه د اوبو زېرمي په خپلي سينې کې ساتي، د واوري ستر ستر ذخاير له فوري ويلي کېدو ساتي، نهرونه، چينې او کارېزونه له همدې غرونو رابهېږي، د مختلفو سيمو د هوا او موسم په تغيير او د رنګ رنګ نباتاتو په زرغونېدو کې د غرونو ونډه ډېره اساسي او ټاکونکې ده، نو غرونه له دې پلوه هم د زمکې د خېمې لپاره د مېخونو حيثيت لري چې د ژوند د بقاء او ژونديو ته د رزق او روزي په برابرولو کې مؤثره ونډه لري.

• د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقائق هم ثابت شوي چې د زمکې د سر نهرونه د غرونو په وجه راپيدا شوي، دغه نهرونه د دې باعث شوي چې خوړونه او درې رامنځته شي، د اوبو د مسير ډېري وسولېږي او خوړونه او درې په کې جوړ شي، او بيا په همدغو درو کې انسان ته له يوې سيمي بلي ته د تلو لاري پرانيستل شي، تاسو که دا نن د لويو غرونو په سيمو کې تېري شوو لارو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې ټولي لاري د نهرونو په ژۍ کې او په هغو درو کې تېري شوې چې دغو نهرونو رامنځته کړې دي. او دا له شك پرته د قرآن بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه، نهرونه او لاري ئې څنګ په څنګ ياد کړي. که په غرونو کې د نهرونو له کبله دا ارتي لاري نه وی پرانيستل شوې نو انسانانو ته به څومره ګرانه وه چې له دغو دنګو غرونو واوړي او له يوې سيمي بلي ته ولاړ شي؟!!

د ۳۲ آيت لومړۍ فقره وايي: آسمان مو خوندي سقف ګرځولی، د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې آسمان د چت او محفوظ سقف په نامه ياد شوی، نن او له څوارلس پېړيو وروسته انسانان په دې پوهېږي چې د دوی د زمکې په فضاء کې داسي څه شته چې د زمکې لپاره د يوه محفوظ چت او سقف حيثيت لري، چې هم ئې د لمر له ځينو خطرناکو وړانګو خوندي ساتي او هم له شهاب ثاقب چې په ډېر سرعت سره د زمکې په لوري خوځي خو له دغه سقف سره د تصادم په نتيجه کې يا ذره ذره شي او يا ئې مسير بدل او په بل لوري مخه کړي. که يوه باانصافه ساينس پوه ته ووايئ چې زموږ په يوه ديني کتاب کې چې څوارلس پېړۍ ورباندي تېري شوې، څو ځايه راغلي چې دا آسمان ستاسو د زمکې لپاره محفوظ سقف او چت دئ، خو يو وخت به په دې کې چاودونه او سوري راپيدا شي! همغه خبره چې تاسو ئې

نن کوئ، د زمکې فضاء د هغې خوندي سقف ګڼئ او د اوزون پرده ئې د لمر له مضرو وړانګو د خوندي پاته کېدو وسيله، همغه پرده چې اوس د کاربن ډای اکسايډ ګاز د زياتېدو په وجه ځای ځای کې سوليدلې او سوري په کې راپيدا شوي، ما ته ووايئ چې د هغه عکس العمل به څه وي؟ د دې دقيقې علمي وينا او وړاندوينې په اړه به څه وايې؟ د قرآن او د هغه د راوړونکي په اړه به څه قضاوت کوې؟ آيا له دې پرته د بلې خبرې مجال ورته شته چې ووايي: دا خبره د يوه انسان خبره نشي کېدی، هغه څوك ئې کولی شي چې زموږ د فضاء له ډېرو اسرارو خبر وي. او په قرآن کې د دغسې خبرو په استناد ويل شوي چې د دې کتاب رالېږونکی هغه ذات دئ چې د زمکې او آسمانانو په اسرارو پوه دئ.

• پدې خور او ستر آسمان کې، دا دقيق او کلك نظم، دا بې شمېره ستورې چې هر يو ئې په خپل خپل مدار کې ساتل کېږي، له تصادم او ټکر ئې مخنيوی کېږي او نه پرېږدي چې ستر ستر ستوري واړه واړه جذب کړي، يو د بل په مدار کې داخل شي او هر څه سره ګډ وډ شي، پدې دلالت کوي چې پدې عالم کې نظم حاکم دئ، خوشې او بيهوده او بې هدفه نه دئ پيدا شوی، خپلې مخې ته نه دئ پرېښودل شوی، دا ټول داسې واکمن ذات اداره کوي چې هرڅه ئې په واك کې دي او په هر څه قادر دئ.

• د همدې ۳۲ آيت په وروستۍ فقرې کې ويل شوي چې (دا په داسې حال کې چې دوی ئې له آيتونو اعراض کوونکي دي)، د دې فقرې تړاو له مخکينيو سره داسې دئ چې الله تعالی دغه ټول نعمتونه د انسانانو په برخه کوي سره له دې چې دوی اعراض کوونکي دي، د دوی د اعراض له کبله دا نعمتونه نه ترې سپموي.

• په دري دېرشم آيت کې ويل شوي چې الله تعالی هغه ذات دئ چې شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ئې پيدا کړل داسې چې هر يو په يوه فلك کې لامبو وهي. تاسو پوهېږئ چې يو مهال خلکو داسې انګېرله چې زمکه ولاړه ده او لمر خوځي، بيا کله چې د لمر پر محور د زمکې چورلېدا ورته څرګنده شوه داسې ئې انګېرله چې لمر ولاړ دئ او زمکه خوځي، وروسته وروسته ورته جوته شوه چې لمر هم له ټولو هغو اجرامو سره چې د ده پر محور څرخي په يوه ستر مدار کې منظم او مسلسل خوځي، له خپلو دغو اقمارو سره: عطارد، زهرة، زمکه، مريخ، مشترى، زحل، أورانوس، نپتون او پلوتون، چې ځينې د زمکې په څېر اقمار او سپوږمۍ هم لري، چې دوی په يوې سطحې کې خو په بېل بېل مدار او فلك کې د لمر پر محور څرخي، او بيا ټول له لمر سره يو ځای په يوه ستر مدار کې خوځي، د دې شمسي نظام سرعت په هر ساعت کې اُوه سوه ۷۰۰ کيلومتره دئ. دا مدار په نژدې دوه سوه مليونه نوري کلونو کې يو ځل پلې کوي، دې ته مو پام وي چې لمر د زمکې او نورو ستورو په څېر پر خپل محور هم څرخي، دا څرخېدا په شپږويشتو ورځو کې بشپړوي، دا حقائق د شلمې پېړۍ په وروستيو کې ستور پېژاندو ته څرګند شول. دا مطلب په بل آيت کې په دې توګه راغلی:

وَٱلشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَٱلْقَمَرَ قَدَّرْنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ

عَادَ كَٱلْعُرْجُونِ ٱلْقَدِيمِ ﴿٣٩﴾ لَا ٱلشَّمْسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدْرِكَ ٱلْقَمَرَ وَلَا ٱلَّيْلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٤٠﴾ يس

او لمر په خپل مستقر او ځای کې درومي، دا د پوه ځواکمن ذات مقدره ټاکنه ده؛ او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي تر هغه چې د کجوري د وچې زړې څانگې په څېر شي، نه لمر ته ښايي چې سپوږمۍ لاندې کړي او نه شپه پر ورځ وړاندې کېدونکې ده؛ او هر يو په خپل خپل فلك کې لامبي (په فضاء کې درومي).

دا مبارك آيتونه څو ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي:

- لمر د حرکت ثابت او ټاکلی مدار لري. او دا هغه حقيقت دئ چې انسان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو.
- سپوږمۍ د حرکت ټاکلې پړاوونه لري، په هر پړاو کې موږ ته په يوې بڼې کې راښکاري، د نرۍ سپينې گاري په څېر راڅرگنده شي، ورو ورو ستره شي، بشپړه شي، بيا ورو ورو وړېږي، تر هغه چې له سترگو پټه شي.

---

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ ٱلْخُلْدَۖ أَفَإِيْن مِّتَّ فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِۗ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ فِتْنَةًۖ وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِى يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٣٦﴾ خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍۚ سَأُوْرِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿٣٧﴾

او تر تا وړاندې مو هيڅ انسان ته تلپاته پايښت نه دئ گرځولی، نو آيا که ته ومرې دوی به تلپاته وي؟ هر نفس د مرگ خوند څکونکی دئ، او په شر او خير مو د يوې فتنې په توگه آزمويو، او زما لوري ته راگرځول کېږئ، او کله چې کافران تا ويني له استهزاء پرته بل څه نه درباندې کوي، (وايي) آيا دا همغه دئ چې ستاسو د معبودانو يادونه کوي په داسې حال کې چې دوی په خپله د رحمن رب د يادونې کافران دي، انسان له تلوار او عجلې پيدا شوی، ژر به خپل آيتونه دروښيم، نو عجله مه کوئ.

---

(٣٤-٣٧)- د دې مبارکو آيتونو په اړه بايد دا خبرې په پام کې ولرو:

- له لومړي آيت داسې معلومېږي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخالفينو يا د ده د مرگ انتظار او طمع درلوده چې په دې سره ئې زړونه آرام او تشويشونه رفع شي؛ او يا خو دوی ويل: څنگه ومنو چې محمد (عليه السلام) د خدای پيغمبر دئ حال دا چې

ماشوم وو، ورو ورو ستر او دا دئ د عمر په وروستيو کلونو کې دئ او بيا به مري؟!! د خداى پيغمبر خو بايد تل ځوان، پياوړى او مضبوط وي او حالت ئې له عادي انسانانو ژور توپير ولري، ښايي ځينو هغه څه ويل او ځينو دا، د دوى په ځواب کې ويل شوي: تر تا وړاندې مو هيڅ انسان ته تلپاته پايښت نه دئ ګرځولى، نو آيا که ته ومرې دوى به تلپاته وي؟ هر نفس د مرګ خوند څکونکى دئ، د شر او خير پرېکړه د الله تعالى له لوري کېږي، دواړه د انسان لپاره الهي آزموينه وي. په پاى کې به ټول د الله تعالى لوري ته ګرځول کېږئ.

• د کافرانو چلن له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره داسې وو چې کله به ئې هغه وليد نو استهزاء به ئې پرې کوله او په خپلو منځونو کې به ئې ويل: آيا دا همغه کس دئ چې ستاسو معبودان په بدو بدو نومونو يادوي؟!! څنګه د دې جرأت او جسارت کوي؟! دا په داسې حال کې چې دوى په خپله د رحمن رب داسې يادونې کوي چې کافران ئې کوي.

• په اُوه دېرشم آيت کې ويل شوي: انسان له تلوار او عجلې پيدا شوى، ژر به خپل آيتونه دروښيم، نو عجله مه کوئ. بايد وګورو چې په دې سره کافرانو ته ويل شوي چې عجله او تلوار مه کوئ، او که رسول الله صلى الله عليه و سلم او مؤمنانو ته؟ له وروستي آيت معلومېږي چې د آيت مخه کافرانو ته ده او هغوى ته ويل شوي چې د هغه الهي عذاب د ژر راتلو غوښتنه مه کوئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو پرې ګواښې او تاسو ورته وايئ: که دا ګواښ حقيقت لري او يقيناً موږ د الهي عذاب مستحق يو نو څه ته معطل دئ او تر اوسه ولې رانه غى؟!! په ځواب کې ورته ويل شوي: عجله مه کوئ ژر به ئې نښې په خپلو سترګو وګورئ.

• بايد دې ته متوجه وو چې له تلوار او عجلې د انسان پيدايښت هيڅکله دا معنى نه لري چې عجله او تلوار کومه ماده ده او انسان له دغې مادې پيدا شوى، معنى ئې له دې پرته بل څه نه ده چې انسان عجول او بېړنى پيدا شوى، په فطرت او خټه کې ئې عجلت او تلوار اېښودل شوى. ځيني متأسفانه په داسې مواردو کې اشتباه کوي او د الفاظو ظاهر ته په پام سره د اصلي معنى په ځاى د خپل تنګ ذهن غلط تعبير ترې راباسي. د مثال په توګه رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چې ښځه له پوښتۍ پيدا شوې، يعني د هغې په فطرت او خټې کې ځيني نيمګړتياوې شته، نارينه بايد دا يو طبيعي او فطري امر وګڼي او هغه تحمل کړي، که هغه حساسه ده او ژر ناراضه کېږي، دا بايد وزغمي او ترې تنګ نشي. ځينو دا حديث د هغه غلط ذهنيت تر سيوري لاندې چې له محرف بايبل ئې اخيستى وايي: حواء د آدم عليه السلام له کيڼې پوښتۍ پيدا شوې!! دا په داسې حال کې چې نه رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره کړې چې حواء د آدم عليه السلام له کيڼې پوښتۍ پيدا شوې، نه په قرآن کې داسې الفاظ راغلي چې دا تعبير ترې واخيستى شي، بلکې قرآن په ډېر صراحت سره وايي چې انسان، که ښځه وي او که نارينه له خاورې پيدا شوى، الله تعالى ئې اوس هم له خاورې پيدا کوي او د انسان د پيدايښت په لومړي سر کې ئې هم له خاورې پيدا کړ. هلته ئې له يوه نفس يوه جوړه پيدا کړه او اوس له دوو نطفو يو انسان جوړوي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ حِينَ
لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٣٩﴾ بَلْ
تَأْتِيهِم بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٤٠﴾

او وايي: دا وعده به كله وي كه رښتيني يئ؟ كاش كافران پوهېدلي وى چې هغه مهال به نه له خپلو مخونو اور دفع كولى شي او نه له خپلو شاګانو او نه به ئې مرسته كېدى شي. بلكې ناڅاپي به ورته راشي نو حيران به ئې كړي، نو نه به ئې پر ردولو توانېدى شي او نه به مهلت وركول كېږي.

(۳۸-٤۰)- هغه څه چې كافرانو له رسول الله صلى الله عليه و سلم په تلوار او عجلې سره غوښتو الهي عذاب وو، كله به ئې د قيامت له راتلو انكار كولو او كله په دنيا كې د الله تعالى له مؤاخذې او عذابونو، ويل به ئې: دا د الهي عذاب او قيامت ګواښونه به كله رښتيني كېږي؟ څنګه باور وكړو چې تاسو رښتيا وايئ؟!! دلته د دلائلو پر ځاى هغوى ته ويل شوي: هغه ورځ هرومرو راتلونكې ده، تلوار مه كوئ په خپل وخت به راځي، دا تلوار د انسان يوه فطري كمزوري ده. كاش پوهېدى چې تاسو په دې بې ځايه تلوار سره د څه غوښتونكي يئ: د داسې اور چې لمبې به ئې درباندې راتاو وي، نه به ئې له خپلو مخونو دفع كولى شئ او نه له خپلو شاګانو، نه به داسې څوك مومئ چې مرسته مو وكړي او له عذابه مو وژغوري، ناڅاپي به راځي، له ناڅاپي راتلو به ئې هك پك او حيران شئ، نه به دا ورځ ځنډولى شئ او نه به مهلت دركول كېږي.

وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا۟ مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤١﴾

يقيناً چې تر تا وړاندنيو پيغمبرانو باندې هم ملنډې ووهل شوې، نو پر هغو چې د دوى په اړه ئې ملنډې وهلې وې همغه څه (عذاب) محقق شو چې ملنډې ئې پرې وهلې.

(٤١)- په دې مبارك آيت كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: پر هغو پيغمبرانو هم ملنډې وهل شوې دي چې تر تا وړاندې تېر شوي، چا چې پر دوى ملنډې وهلې وې همغه عذاب پرې نازل شو چې دوى ئې اړوند ګواښونه د ملنډو وړ ګڼل، د پيغمبرانو دا خبري ئې د خندا وړ ګڼلې چې د الله تعالى عذاب به پر دوى نازل شي، خو ناڅاپي او د خپل انتظار خلاف دغه عذاب پرې نازل شو.

قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحْمَٰنِۗ بَلْ هُمْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ
﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَاۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا
يُصْحَبُونَ ﴿٤٣﴾ بَلْ مَتَّعْنَا هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُۗ أَفَلَا يَرَوْنَ
أَنَّا نَأْتِي ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَآۚ أَفَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾

ووایه: څوك مو له رحمن رب د شپې او ورځې له لوري ساتي، بلكې دوی د خپل رب له يادوني ډډه كوونكي دي. آيا له موږ پرته داسي معبودان لري چي وئې ساتي، نه د ځان مرسته كولی شي او نه زموږ ملتيا ورسره شته، بلكې دوی او د دوی پلرونه مو دومره متمتع كړل چي موده پرې اوږده شوه، نو آيا دې ته نه گوري چي موږ په داسي حال كې زمكې ته رادرومو چي له څنډو ئې راكموو، نو آيا دوی به برلاسي وي؟

(٤٢-٤٤)- د دې مباركو آيتونو لارښوون دا دي:

- كافرانو ته ووايه: هغه به څوك وي چي كه الله تعالی وغواړي د شپې يا ورځي له لوري پر تاسو عذاب نازل كړي ترې ومو ساتي؟ آيا داسي ځواك په نظر درځي چي تاسو له الهي عذاب وژغوري؟ ښه پوهېږي چي په ټول عالم كې نه داسي ذات شته او نه داسي ځواك چي د الهي عذاب په وړاندي د دوی مرسته وكړی شي، خو سره له دې نه غواړي پر دې حقيقت اعتراف وكړي او ووايي: له الله تعالی پرته بل داسي ځواك نشته، وجه ئې دا ده چي دوی د الله تعالی د نامه له يادولو ډډه كوي، دغه شيطاني هوډ ئې دې اعتراف ته نه پرېږدي.
- آيا له الله تعالی پرته داسي معبودان لري چي وئې ساتي؟ آيا داسي معبودان لري چي د الله تعالی د عذاب په وړاندي د دوی ساتنه وكړي؟ هغه څه چي د معبود په سترگه ورته گوري او د مرستي طمع ترې لري، دا جعلي او دروغجن معبودان نه د ځان مرسته كولی شي او نه د الله تعالی ملتيا ورسره شته.
- د دوی د انحراف ستره وجه دا ده چي الله تعالی دوی او د دوی پلرونو ته د دنيا مال او متاع وركړل، له اوږدې مودې رادېخوا مرفه او سوكاله ژوند لري، د ټولني موجود اجتماعي، اقتصادي، مذهبي او سياسي جوړښت دوی ته كافي امتيازات وركړي، هر تغيير د خپلو شته امتيازاتو په ضد گڼي، نو ځكه ئې د مخالفت ملا كلكه تړلې.
- خو دوی دې حقيقت ته متوجه نه دي چي د ټولني موجود وضعيت د بدلېدو په حال كې دئ، ټغر ئې له څنډو راټولېږي، كچه او بې ځايه طمعي غولولي او گمان كوي چي همداسي به د تل لپاره برلاسي او غالب وي! دې ته نه گوري چي موږ په داسي حال كې زمكې ته رادرومو چي له څنډو ئې راكموو، نو آيا دوی به برلاسي وي؟

قُلْ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلْوَحْيِ ۚ وَلَا يَسْمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾

ووايه: زه يوازې په وحي سره تاسو ته خبرداری درکوم، او کوڼ بلنه نه اوري کله چې انذار کړی شي.

(٤٥)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې له يوې خوا مخالفينو ته ووايي: زه له ځانه تاسو ته څه نه وايم، څه چې وايم دا د الله تعالى له لوري وحي ده، د دې الهي وحي په رڼا کې تاسو ته وايم چې يوازې په وحي سره تاسو ته خبرداری درکوم، ستاسو د اوسنۍ وضعي د بدو پايلو په اړه دا ګواښونه زما له لوري نه دي، د الله تعالى له لوري دي، له بلې خوا ورته ويل شوي چې ځيني د کڼو په څېر دي، بلنه هيڅ اغېز پرې نه کوي، که هر څومره حکيمانه او اغېزمنه وي. دوی هغه دي چې له خپلې تګلارې په هيڅ توګه لاس نه اخلي، له دې ډېر ناروا او حرامې مادي ګټې تر لاسه کوي، باور ئې نه راځي چې د دې کړنلارې پايلې به بدې وي نو ځکه انذار هيڅ اغېز او تأثير پرې نه کوي.

وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَـٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَـٰلِمِينَ ﴿٤٦﴾

او که ستا د رب د عذاب تاو او براس وروروسېږي حتماً به وايي: ای وای! افسوس پر موږ، يقيناً چې موږ ظالمان وو.

(٤٦)- دوی د الهي عذاب مطالبه کوي او په تلوار سره ئې غواړي خو که د دې عذاب هسې له لرې کوم تاو او براس وروروسېږي نو هغه مهال به له ځنډ پرته وايي: موږ بدبخته وو، افسوس پر موږ، يقيناً چې موږ ظالمان وو.

وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَـٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾

او د قيامت د ورځې د انصاف تلې به کښېږدو نو پر هيچا به هيڅ ظلم نه کېږي، او که د سپيلني د دانې په مقدار څه (عمل) وي نو رابه ئې وړو. او موږ د محاسبه کوونکو په توګه کافي يو.

(٤٧)- د قيامت په ورځ به د انصاف او عدل هغه تلې ودرول شي چې هر عمل په دقيقه توګه پرې تلل کېږي، پر هيچا به له هيڅ پلوه ظلم نه کېږي، که چا د سپيلني د دانې په مقدار ښه يا بد عمل کړی وي نو ښکاره به شي، الله تعالى د محاسبه کوونکي په توګه کافي دئ.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ ٱلَّذِينَ
يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ وَهُم مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ
أَنزَلْنَٰهُ ۚ أَفَأَنتُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾

او یقیناً چې موسی او هارون ته مو فرقان، رڼا او د متقیانو لپاره ذکر او پند ورکړ، د هغو لپاره چې له خپل رب په غیاب کې وېرېږي په داسي حال کې چې د قیامت له نېټې وېرېدونکي دي. او دا مبارك ذکر دئ چې نازل مو کړ، نو آیا تاسو ترې انکار کوونکي یئ؟

(٤٨-٥٠)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- موسی او هارون علیهما السلام ته هغه کتاب ورکړی شوی وو چې له یوې خوا د حق او باطل، مفید او مضر، حلال او حرام، ښه او بد تر منځ د توپیر محك او معیار وو، له بلې خوا د داسي روڼ څراغ په څېر وو چې په تیارو کې انسان ته سمه لار ښيي، له تورتم د وتلو مشعل او لارښود او د متقیانو لپاره ذکر او پند وو، یعنې هغه کتاب د هر چا لپاره فرقان او روڼ څراغ وو خو د متقیانو لپاره پند وو، یعنې د تورات له لارښوونو هغه چا ګټه اخیستی شوی چې په هغه کې تقوی وه، دا متقیان هغه وو چې هم له خپل رب په غیاب کې وېرېدل او هم د قیامت له نېټې.
- قرآن د تورات په څېر مبارك ذکر دئ چې د همغه الله تعالی له لوري تاسو ته راغلی، نو آیا غواړئ د هغه له الهي پند همغسې انکار وکړئ چې یهودانو د تورات له منلو او عملي کولو انکار وکړ؟!! آیا غواړئ تاسو هم له همغه تور او سپېره برخلیك سره مخامخ شئ؟

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَآ إِبْرَٰهِيمَ رُشْدَهُۥ مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ﴿٥١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ
مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِىٓ أَنتُمْ لَهَا عَٰكِفُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا۟ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ
﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا بِٱلْحَقِّ أَمْ
أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلَّذِى فَطَرَهُنَّ
وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٦﴾ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَٰمَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا۟
مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾

او یقیناً چې ابراهیم ته مو تر دې وړاندې د ده رشد او لارښوونه ورپه برخه کړه، او

موږ پرې پوه وو، هغه مهال چې خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا انځورونه (بتان) څه دي چې تاسو ئې لمانځونکي يئ؟ وئې ويل: خپل پلرونه مو داسي موندلي چې د هغوی لمانځونکي ول، وئې ويل: يقيناً چې تاسو او ستاسو پلرونه په ښکاره بې لارې کې يئ، وئې ويل: آيا موږ ته دي حق راوړی او که له لوبې کوونکو يې، وئې ويل: بلکې ستاسو رب د آسمانونو او زمکې هغه رب دئ چې دغه ئې پيدا کړي او زه پر دې له گواهي ورکوونکو يم، او پر الله قسم چې ستاسو د بتانو څه بندوبست به کوم، له هغه وروسته چې تاسو مخ واړوئ او تر شا شئ، نو له ستر پرته ئې هغوی ټوټې ټوټې کړل، د دې لپاره چې هغه ته به رجوع وکړي

(۵۱-۵۸)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی ابراهيم عليه السلام ته لارښوونه وکړه، رشد او کمال ته د رسېدو لار ئې وروښوده، الله تعالی چې د ده په اړه څه وايي د هغه کامل علم له مخې دي چې د ده په اړه ئې لري، الله تعالی ښه پوهېږي چې ده خپل پلار او قوم ته څه وويل، هغه مهال ده خپل پلار او خپل قوم ته وويل: دا انځورونه (بتان) څه دي چې تاسو ئې لمانځونکي يئ؟
- د ده د پلار او قوم ځواب دا وو: خپل پلرونه مو داسي موندلي چې د دغو بتانو لمانځونکي ول، د دوی لمانځنه له پلار نيکه موږ ته په ميراث پاته ده، اې قريشو! تاسو نن رسول الله صلی الله عليه و سلم ته همغه ځواب ورکوئ چې ابراهيم عليه السلام ته خپل جاهل قوم ورکړی وو، همغه د ټولو جاهلو ولسونو گډ ځواب، په ميراثي مذهب ټينگار، که څه هم د حق او عقل خلاف وي!!
- د ابرهيم عليه السلام ځواب دا وو: يقيناً چې تاسو او ستاسو پلرونه په ښکارنده توگه تېروتي يئ، سمه لار مو ورکه کړې او بې لاري شوي يئ.
- پلار او قوم ئې گمان نه کولو چې ابراهيم عليه السلام به خپل پلرنی دين پرېښی وي، د ده وينا ئې داسي وگڼله لکه چې هسي ټوکې کوي، وئې ويل: ته موږ ته رښتينې خبره کوې او که هسي لوبې کوې؟!! ابراهيم عليه السلام وويل: ټوکې نه کوم، جدي يم، ستاسو رب هغه ذات دئ چې د آسمانونو او زمکې رب دئ، همغه چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي او زه پر دغه رب ايمان لرم، ستاسو په وړاندې په واضح الفاظو د دې خبرې گواهي ورکوم.
- کله چې ابراهيم عليه السلام احساس کړه چې قوم ئې د بتانو له لمانځلو لاس نه اخلي، په دلائلو نه قانع کېږي، دې نتيجې ته ورسېدو چې د ټولني د ټولو بدمرغيو بنسټ د دغو بتانو لمانځنه ده، د دې پټې ټول گنده بوټي له دغې گنده چينې خړوبه کېږي، که دا د نمرود واکمني ده، که په ټولني کې ظلم او بې عدالتي ده، که يوه لوري ته ځيني په عيش او عشرت کې غرق دي او بل لوري ته لوږه او فقر ده، که ځيني د حرامو شتمنيو ډېرښت مست کړي او ځيني د لاس په تناکو او د تندي په خولو سره خپل نس نشي ډکولی، وجه ئې دغه شرکي مذهب دئ چې دا ظالمانه نظام پرې ولاړ دئ، نو له ځان سره ئې وپتېله او لوړه ئې وکړه

چې دا بتان به ماتوم، په یوې داسې ورځ کې چې خلك له معبده په شا شوي وي، د هغه جشن په ورځ چې خلك له معبده لرې راغونډېږي، هلته د نمرود مخې ته سر ټیټوي او دا ژوندی بت لمانځي او د ورځې په پای کې او وړاندې تر دې چې خپلو کورونو ته ستانه شي، معبد ته درومي او دلته د مړو بتانو په وړاندې سر ټیټوي، هغه ورځ راورسېده، خلك د غونډې ځای ته روان شول، ځوان ابراهیم چې لا د ځوانۍ په لومړیو کې وو له دوی سره ملګرتیا ونه کړه، ځینو ترې وپوښتل چې ولې د جشن په مراسمو کې برخه نه اخلې؟!! د ناروغۍ پلمه ئې وړاندې کړه، په ښار کې پاته شو، کله چې ئې معبد له خلکو تش وموند نو له خپل تبر سره ورننوت، واړه بتان ئې یو په بل پسې وځپل، په پای کې ئې خپل تبر د لوی بت په غاړې کې ځوړند کړ، دا د دې لپاره چې خلك به معبد ته له راتلو سره سم وګوري چې ټول معبودان ئې پرمخې ټوټې ټوټې پر زمکه پراته دي، تبر د لوی بت په غاړې کې دئ، دی تر نورو زیات توهین شوی، دی د نورو په ځپلو تورن دئ خو د اتهام په وړاندې له ځانه دفاع نشي کولی!! دا صحنه به هر چا ته وایي چې د بتانو د ماتولو جرم دغه لوی بت کړی، خو هغه نه له ځانه دفاع کولی شي او نه خلکو ته ویلی شي چې دا کار ما نه دئ کړی او نه هغه څوك ښودلی شي چې د ده ملګري ئې په دې برخلیك اخته کړي. د وروستي آیت په پای کې راغلي (لعلهم الیه یرجعون: ښایي هغه ته به رجوع وکړي)، یعني خلك به د لوی بت په وړاندې ودرېږي، دا هیله به کوي چې هغه ئې له پېښې خبر کړي او ورته ووایي: اې زموږ ستر خدایه! دا واړه خدایان تا ټوټې ټوټې کړي که بل چا؟ که تا دا کار کړی وي نو ولې؟ که بل چا دا کار کړی هغه څوك دئ؟ خو دا دروغجن ستر معبود به نه د یوې پوښتنې ځواب ورکولی شي او نه د بلې!!

قَالُوا۟ مَن فَعَلَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾ قَالُوا۟ سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبْرَٰهِيمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوا۟ فَأْتُوا۟ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعْيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾

وئې ویل: چا زموږ له معبودانو سره دا کار کړی؟ یقیناً چې هغه له ظالمانو دئ. وئې ویل: اورېدلې مو دي چې یو زلمي ئې یادونه کوي، هغه ته ابراهیم ویل کېږي. وئې ویل: د خلکو د سترګو په وړاندې ئې راولئ چې خلك ئې شاهد شي (د ابراهیم د مجازات صحنه په خپلو سترګو وګوري).

(٥٩-٦١)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- خلك له مېلې راستانه شول، کور ته تر تلو وړاندې معبد ته ولاړل، خپل معبودان ئې داسې وموندل چې واړه ئې ټوټې ټوټې پر زمکه پراته دي او ستر بت ئې تر اتهام لاندې دئ، د لوی بت په وړاندې داسې ولاړ ول لکه چې هر یوه پر خپل سر او خپل ایمان د دروند تبر ګوزار خوړلی وي، یوازې یوه خبره ئې له خولو وتلې شوې: دا کوم ظالم زموږ له سپېڅلو

معبودانو سره دا ستر ظلم کړی؟!! ځواب څرګند وو، له ابراهیم علیه السلام پرته ئې بل داسې څوك نه تر سترګو کېدو چې د داسې جسارت شك پرې وکړي، له یوې او بلې خوا دا ځواب ورکړی شو: یو زلمی دئ چې د ابراهیم په نامه یادېږي؛ له هغه مو اورېدلي چې زموږ د معبودانو په ضد تبلیغات کوي.

- اوس نو د ابراهیم علیه السلام په ضد د نمرودیانو پرېکړه څرګنده وه، سخته سزا، داسې چې د نظام او مذهب هر باغي ته د عبرت وسیله شي، د خلکو په وړاندې سزا، همدلته په معبد کې، او له ځنډ پرته، وئې ویل: د خلکو د سترګو په وړاندې ئې راولئ چې خلك د ده د مجازات او شدید عذاب صحنه په خپلو سترګو وګوري.
- ابراهیم علیه السلام همدا غوښتل چې ټول خلك د خپلو دروغجنو معبوادنو نسکورېدا په خپلو سترګو وګوري، ده ته د ټولو خلکو په وړاندې او په څرګنده توګه د څه ویلو فُرصت په لاس ورشي، همداسې وشول، دی معبد ته احضار شو، او د قهرجنو خلکو په وړاندې تر پوښتنو لاندې ونیول شو!!

قَالُوٓاْ ءَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا
فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُواْ يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓاْ إِنَّكُمْ أَنتُمُ
ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُواْ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾
قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ
لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُواْ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓاْ
ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٦٨﴾

وئې ویل: اې ابراهیمه! آیا زموږ له معبوادانو سره دا کار تا کړی؟ وئې ویل: بلکې دا کار خو د دوی دغه ستر بت کړی، نو دوی وپوښتئ که خبرې کولی شي!! نو خپلو نفسونو ته ئې رجوع وکړه او وئې ویل: یقیناً چې تاسو په خپله ظالمان یئ، بیا ئې سرونه نسکور او ټیټ کړی شول، (او وئې ویل:) یقیناً چې ته پوهېږې چې دوی خبرې نشي کولی، وئې ویل: نو آیا له الله پرته داسې څه لمانځئ چې نه کومه ګټه دررسولی شي او نه ضرر دررسولی شي؟!! افسوس پر تاسو او پر هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ! نو آیا تعقل نه کوئ؟! وئې ویل: وئې سوزوئ او د خپلو معبودانو ملتیا وکړئ که (د کوم کار) کوونکې یئ.

(٦٢-٦٨)- د دې آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدا لپاره لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

• دوه شپېتم آيت وايي چې ابراهيم عليه السلام همlته احضار شو او دا پوښتنه ترې وشوه: اې ابراهيمه! آيا زموږ له معبوادانو سره دا کار تا کړی؟ په دري شپېتم آيت کې ويل شوي چې ابراهيم عليه السلام دوی ته دا ځواب ورکړ: بلکې دا کار خو د دوی دغه ستر بت کړی، نو دوی وپوښتئ که خبرې کولی شي!! بايد وګورو چې د دې ځواب معنی څه ده! آيا معنی ئې دا ده چې ابراهيم عليه السلام انکار کړی؟ آيا په دغو الفاظو کې داسې څه تر سترګو کېږي چې وښيي ابراهيم عليه السلام دا تور رد کړی او داسې څه ئې ويلي وي چې وښيي ده دا کار نه دئ کړی؟ له ورپسې آيتونو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې ابراهيم عليه السلام نه يوازې د بتانو په ماتولو اعتراف کړی بلکې قوم او د دوی بتان ئې په کلکه غندلي او هغوی ته ئې ويلي: آيا له الله پرته داسې څه لمانځئ چې نه کومه ګټه دررسولی شي او نه ضرر دررسولی شي؟!! افسوس پر تاسو او پر هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ! نو آيا تعقل نه کوئ؟! د ده دغه اعتراف او نيوکو ته په پام سره ېتولو د ده د مجازات پرېکړه وکړه او وئې ويل: وئې سوزوئ او د خپلو معبودانو مرسته وکړئ، که د څه کولو اراده او همت لرئ نو همدا اوس اوس دا کار وکړئ.

• دا پوښتنه راولاړېږي چې د دې فقرې معنی څه ده: بل فعله کبيرهم هذا؟ په دې اړه بايد ووايو: ځينو درنو مفسرينو ويلي چې دا په حقيقت کې د استدلال په موخه د واقع خلاف خبره کول دي، هدف ئې دروغ ويل نه وو بلکې د استدلال لپاره ئې ويلي چې تبر د لوی بت پر اوږه پروت دئ او دا خو ښيي چې دا نور بتان ده مات کړي، له ده او له نورو وپوښتئ چې دا کار چا کړی، متأسفانه ځينو نورو ويلي چې دا د ابراهيم عليه السلام يو له هغو دريو دروغو وو چې ده په خپل ژوند کې ويلي، په دې اړه په يوه غريب روايت استناد کوي چې شرح او تفصيل به ئې وروسته وګورئ!! خو که الفاظو ته ځير شو نو داسې معلومېږي چې ابراهيم عليه السلام د دغې وينا (بل فعله کبيرهم هذا) سره هغوی ته ويلي: د دې پر ځای چې ما تورنوئ او دا پوښتنه کوئ چې آيا دا کار تا کړی، په کار خو دا وه چې تاسو ويلي وی: دا کار دغه لوی بت کړی چې تبر ئې پر اوږه ځوړند دئ!! اوس له ده او له مات شوو بتانو وپوښتئ چې دا کار چا کړی. تاسو بايد له ما پوښتنه نه وی کړې، زما په اړه خو هيڅ شاهد او دليل نه لرئ، بلکې دا کار مو بايد د هغه چا ګڼلی وی چې ستاسو مخې ته ولاړ دئ او د بتانو د ماتولو وسيله (تبر) ئې پر اوږه!!

• په ٦٤ آيت کې ويل شوي: نو خپلو نفسونو ته ئې رجوع وکړه او وئې ويل: يقيناً چې تاسو په خپله ظالمان يئ، ځيني وايي چې د دې آيت معنی دا ده چې دوی له ځان سره فکر کړی، خپل زړه ته ئې رجوع کړې، خو په دې تعبير دا نيوکه کېږي چې د آيت د لومړۍ او وروستۍ فقرې تر منځ تړاو نشي رامنځته کېدی، دا تعبير په هغه صورت کې صحيح ګڼل کېدی شو چې د آيت په پای کې ويل شوي وی: زه ظالم يم، يا موږ ظالمان يو، حال دا چې دلته ويل شوي: تاسو ظالمان يئ. له وروستۍ فقرې معلومېږي چې دوی د ابراهيم عليه السلام د وينا له اورېدو وروسته په دوو ډلو وېشل شوي، يوې ډلې بلې ته ويلي: تاسو ظلم

کوئ چې ابراهیم (علیه السلام) د بتانو په ماتولو تورنوئ، ولې له لوی بت پوښتنه نه کوئ چې دا کار چا کړی؟!! یعني د لومړۍ فقرې معنی دا ده چې دوی په خپلو منځونو کې یوه بل ته مخه کړه.

• همداراز په ٦٥ آیت کې راغلي چې سرونه ئې نسکور او ټیټ کړی شول، ځینو ویلي چې معنی ئې دا ده: د دوی سرونه له شرمه ټیټ کړی شول، ځینو ویلي چې په اندېښنو کې ولوېدل، خو دا تعبیرونه له وروستۍ فقرې سره اړخ نه لګوي، له وروستۍ فقرې معلومېږي چې په مخکینۍ کې د دوی لجاجت او سرټمبګۍ ته اشاره شوې او معنی ئې دا ده چې لجاجت او مذهبي تعصب پرې غالب شو او دې خبرې کولو ته ئې وهڅول چې وواېي: یقیناً چې ته پوهېږې چې دوی خبرې نشي کولی.

• چا چې د ابراهیم علیه السلام دې وینا ته د درواغو نوم ورکړی نه ئې دې ته پام کړی چې دا تعبیر سل په سلو کې غلط او د قرآن خلاف دئ، ابراهیم علیه السلام نه انکار کړی او نه ئې دروغ ویلي، څنګه ومنو چې هغه لومړی انکار کړی او بیا څو شېبې لا نه وې تېرې چې نه یوازې اعتراف ئې کړی بلکې قوم ته ئې د بتانو د ماتځولو په ضد هغسي انقلابي وینا کړې؟!!! نه ئې دې ته کتلي چې د ابراهیم علیه السلام په څېر ستر موحد او بت ماتوونکي ته د دروغو نسبت کول څومره لوی جسارت دئ؟!! او نه ئې د هغه روایت د الفاظو او اسنادو په اړه غور کړی چې ابراهیم علیه السلام ته د درېو درواغو نسبت کوي!! راځئ وګورو چې دا روایت څومره د اعتبار وړ دئ؟!! روایت داسي دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَطُّ إِلَّا ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ اثْنَتَيْنِ فِي ذَاتِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ قَوْلُهُ: {إِنِّي سَقِيمٌ} [الصافات: ٨٩] وَقَوْلُهُ: {بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا} [الأنبياء: ٦٣] وَوَاحِدَةٍ فِي شَأْنِ سَارَةَ....

له ابو هریرة رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابراهیم علیه السلام له درېو درواغو پرته هیڅ درواغ نه دي ویلي، دوه ئې د الله تعالی د ذات په اړه وو، چې یو ئې د ده دا وینا وه چې وئې ویل: زه ناروغ یم او بل ئې دا وینا چې وئې ویل: د دوی دغه لوی بت دا کار کړی او یو ئې د ساره په اړه چې ویلي ئې وو دا مې خور ده...

دا روایت د سند له مخې غریب دئ، په صحابه وو کې یو او په تابعینو کې دوه راویان لري، د متن له پلوه نه یوازې له قرآن سره تعارض لري بلکې ګڼ شمېر نوري ستونزې لري. د قرآن له مخې د ابراهیم علیه السلام پنځه خبرې داسي ګڼل کېدی شي چې یا ئې توریه کړې او یا ئې د استدلال لپاره داسي څه ویلي چې وروسته ئې په خپله رد کړې:

١- فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبًاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلْءَافِلِينَ ﴿٧٦﴾ الانعام

کله چې د شپې تیاره پرې راغله او ستورى ئې ولید وئې ویل: دا مې رب دئ، خو کله چې پرېوت وئې ویل: پرېوتونکي نه خوښوم.

۲- فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ۝٧٧ الانعام

کله چې ئې سپوږمۍ د راختو په حال کې ولیدله وئې ویل: دا مې رب دئ، خو چې پرېوته وئې ویل: که مې خپل رب لارښوونه ونه کړي له لار ورکو قوم به وم.

۳-فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ۝٧٨ الانعام

کله چې ئې لمر د راختو په حال کې ولید وئې ویل: دا مې رب دئ، دا خو تر ټولو ستر دئ، خو چې پرېوت وئې ویل: اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زاره یم چې تاسو ئې له (خدای) سره شریکوئ.

٤- غوښتل ئې د بتانو د ماتولو لپاره په ښار کې پاته شي، خلکو ته ئې وویل: إني سقيم (زه ناروغ یم)، مېلې ته نه ځم.

۵- کله چې ئې بتان مات کړل او تبر ئې د لوی بت په غاړې کې وځړاوو، خلکو ترې وپوښتل چې دا کار تا کړئ، وئې ویل: بل فعله كبيرهم: بلکې د دوی دغه ستر بت دا کار کړی. خو ورپسې ئې ورته وویل آیا د هغه څه عبادت کوئ چې نه ګټه دررسولی شي او نه تاوان درنه دفع کولی شي؟!!

په حقیقت کې دا پنځه پورتنۍ خبرې دروغ نه وې، د درواغو اطلاق نه شي پرې کېدی، خو که د دغه روایت له مخې په هغوی د درواغو اطلاق کېږي، نو بیا خو درې کذبات نه بلکې پنځه دي او د الله تعالی په اړه خو دوه نه بلکې درې دي، د خپلې مېرمنې په اړه دا خبره ده ته منسوبول چې ویلې ئې وو دا مې خور ده، په دې اړه نه یوازې په قرآن کې کومه اشاره نه مومو، بلکې د دې خبرې په کولو سره د قرآن د وینا مخالفت کېږي، ځکه قرآن هغه پنځه خبرې یادوي او دا روایت دغه درې ترې حذفوي او په ځای ئې هغه خبره راوړي چې قرآن نه ده کړې!! د قرآن له مخې خو د الله تعالی په اړه درې ځلې درواغو ته ورته خبره شوې، درې ځلې ئې ویلې: هذا ربي، هذا ربي، هذا ربي، دا ولې دوه ځلې ګڼل شوي، په روایت کې خو دې درې ځلې وینا ته هیڅ اشاره نه ده شوې، که په تکلف سره دا درې یو وګڼو نو دوهم ئې کوم دئ، (إني سقيم) او که (بل فعله كبيرهم)؟ دا دواړه خو في ذات الله نه دي!! یو ئې د بت په اړه دئ او بل ئې د ځان په اړه، په روایت کې خو ویل شوي چې: لم يكذب إبراهيم النبي عليه السلام قط إلا ثلاث كذبات ثنتين في ذات الله... او دا دواړه في ذات الله ګڼي: (إني سقيم)، (بل فعله كبيرهم)، حال دا چې دا دواړه (في ذات الله) نه دي، د الله تعالی د ذات په اړه خو یوازې هغه درې ځلې (هذا ربي) ویل دي، د ساره د قصې لپاره خو په دې

روایت کې هم مجال نه پاته کېږي!! قرآن ابراهیم علیه السلام په دې صیغه ستایي: کان صدیقاً نبیاً: رښتینی نبي وو، خو روایت هغه په داسي کذب تورنوي چي د الله تعالی په اړه دئ!!

د ساره اړوند قصه خو نه یوازي په قرآن کې نه مومو، بلکې منشأ ئې محرف بایبل دئ؛ او په بایبل کې په داسي بڼه راغلې چي د ابراهیم علیه السلام د ستر شخصیت په اړه ډېر کرکجن تور او د ده پر لمن تور داغ ګڼل کېږي؛ بایبل وایي چي ابراهیم علیه السلام د دې لپاره چا ته نه ویل چي ساره زما مېرمن ده چي داسي نه د ساره تر لاسه کولو لپاره دی ووژني، خو که د خور په نامه ئې معرفي کړي نو خلك به د ساره لپاره د ده درناوی کوي!! دا طمع به ترې کوي چي ساره به ده ته په نکاح ورکړي!! متأسفانه ځینو د بایبل دا غلطه او دروغجنه قصه راوړې، او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې منسوب کړې!! ښایي د دې اشتباه وجه دا وي چي راوي د بایبل خبره کوله خو اورېدونکي ګمان کړی چي دا د ده خبره ده!!

دا باید ووایم چي په بایبل کې تر تحقیق وړاندي ما څو ځلي د دې حدیث په اورېدو سره ژړلي او ویلي مي دي: یا الله! آیا تا ابراهیم علیه السلام؛ خپل خلیل؛ په دې سره هم ابتلاء کړی؟!! خو د بایبل له مطالعې وروسته چي کله ما په دې روایت کې غور وکړ او د قرآن په رڼا کې ورته ځیر شوم؛ راته معلومه شوه چي دا روایت له قرآن سره تعارض لري او د بایبل خبره یو دروغجن او بې بنسټه تور دئ. راشئ وګورو چي بایبل په دې اړه څه وېلي: بایبل دوه ځلي دا خبره ابراهیم علیه السلام ته منسوب کړې چي د سفر په دوران کې ئې خپله مېرمن د خور په نامه معرفي کړه او د پاچا عسکرو ترې بوتله، یو ځل وایي چي له ابراهیم علیه السلام سره دا معامله په مصر کې او د مصر د فرعون لخوا شوې، خو څو پاڼي وروسته لیکي چي دا پېښه د فلسطین په جرار نومي ښار کې واقع شوې او دا کار د فلسطین د پاچا ابیملك له لوري شوی، هلته لیکي چي په دې وخت کې ابراهیم پنځه نوي کلن وو!! او دلته لیکي چي په دې وخت کې ابراهیم پنځه اویا کلن وو!! او لږ وروسته همدا پېښه اسحاق علیه السلام ته منسوبوي او وایي چي له ده سره دا معامله د ابیملك له لوري شوې!!
بایبل لیکي:
"خدای ابرام ته وفرمایل: خپل ولایت، پلرنی کور او خپلوان پرېږده او هغه ځای ته ولاړ شه چي زه به ئې درته لارښوونه وکړم، ابرام وخوځېدو، لومړی کنعان، بیا د کنعان جنوب او په پای کې مصر ته ولاړ، کله چي مصر ته ورسېدو، خپلې مېرمن ته ئې وویل: ته ښکلې یې، که د مصر خلك پوه شي چي ته زما مېرمن یې نو ستا د تصاحب او تر لاسه کولو لپاره به ما ووژني، خو که ووایې چي زما خور یې نو ستا لپاره به خلك له ما سره ښه چلن کوي او سر به مي خوندي وي!! فرعون ته ځینو درباریانو اطلاع ورکړه چي سارا ډېره ښکلې ده، د دې د ښایست ډېره ستاینه ئې وکړه، فرعون امر وکړ چي زما قصر ته ئې راولئ، بیا فرعون د سارا په خاطر ابرام ته ډېري هدیې لکه پسونه، غوایي، اوښان، خره، غلامان او وینځي ورکړې،

خو خدای فرعون او د ده په قصر کې اوسېدونکي په سخت مصيبت اخته کړل، دا ځکه چې د ابرام مېرمن ئې قصر ته بېولې وه، فرعون ابرام وروغوښت او ورته وئې ويل: دا څه کار وو چې تا له ما سره وکړ، ولې دې ما ته ونه ويل چې سارا ستا مېرمن ده؟ ولې دې هغه خپله خور وښوده چې ځان ته ئې په نکاح کړم؟ اوس ئې درسره بوځه او له دې ځايه ولاړ شه!!

د ابراهيم عليه السلام او د ده د پاك لمنې مېرمنې په شأن کې دې پرېوتې وينا ته او د داسې عظيم الشأن شخصيتونو په اړه د داسې سپکو او رذيلانه خبرو په اورېدو سره د انسان وېښتان ځېږ شي، دا هغه ابراهيم عليه السلام دئ چې قرآن ئې د مؤمنانو جد، ستر بت ماتوونکی، ستر موحد او د کعبې معمار معرفي کوي او وايي چې د عراق د ستر ظالم حاکم په وړاندې ئې سر ټيټ نه کړ، له ګواښونو ئې ونه وېرېدو، په اور کې له لوېدو ونه وېرېدو، په منجنيق کې د کښېنولو په وخت کې ئې ويل حسبنا الله و نعم الوکيل، نمرود په مرګ تهديد کړ، ده په ځواب کې ورته وويل: د مرګ ژوند پرېکړه زما رب کوي، نه ته، داسې لکه لمر چې د ده په اراده له ختيځه طلوع کوي او په مغرب کې پرېوځي، نه ئې ته وخت او مسير بدلولی شې او نه بل څوك. ابراهيم عليه السلام هغه وخت هم دروغ ونه ويل او ونه وېرېدو چې په يوازې سر معبد ته ننوت، ټول بتان ئې مات مات کړل، کله چې خلك معبد ته راغلل او خپل بتان ئې نسکور وموندل او ژر پوه شول چې دا کار له ابراهيمه پرته د بل چا نه دئ، نو دی ئې راحاضر کړ او وئې پوښتو: دا کار تا کړی؟ هغه د انکار په ځای وويل: تېر خو د ستر بت په غاړه کې دئ، ترې وپوښتئ که خبري کولی شي؟ هغوی وويل: ته پوهېږې چې دوی خبري نه شي کولی، نو ده ورته وويل: افسوس پر تاسو او ستاسو پر دغو معبودانو، نه خبري کولی شي، نه له ځانه دفاع کولی شي او نه د ځان په خلاف اتهام ردولی شي، څنګه د هغه څه عبادت کوئ چې نه ګټه رسولی شي او نه تاوان دفع کولی شي؟!! داسې يو ستر، زړه ور او پر خپل رب متوکل پيغمبر به څنګه له وېرې دروغ وايي؟!! بايبل نه يوازې د ابراهيم عليه السلام د قصې دا مهمې برخې نه رااخلي او له نمرود سره د ده د مبارزې په اړه هيڅ نه وايي بلکې د نمرود ستاينه کوي، هلته چې وايي: د نوح عليه السلام يو لمسی (د کوش زوی) نمرود نومېدو، چې يو زړه ور او نوميالی اتل وو، د هغه قدرت په سبب چې خدای ورکړی وو، ډېر ماهر غشي ويشتونکی شو، د همدې لپاره ده چې که نن څوك وغواړي د غشو په ويشتو کې د چا مهارت وستايي نو وايي: خدای دې تا د نبي په ويشتو کې د نمرود په څېر کړي!!

بايبل وايي چې کنعان ته د تلو په وخت کې ابرام (ابراهيم عليه السلام) پنځه اويا کلن وو، طبيعي ده چې مېرمن به ئې هم همدومره عمر درلود، په داسې زړښت کې د دې د ښايست خبره کول او دا بې بنسټه ادعاء او دروغجنه دعوی کول چې فرعون هغه ځان ته په دې خاطر په نکاح کړه چې ابراهيم عليه السلام ويلي وو دا زما خور ده، ډېره مسخره خبره ده، مګر فرعون ته د مصر ښايسته او ښکلې پېغلې کمې وې چې يوه پنځه اويا کلنه بوډۍ په نکاح کړي؟ بايبل دلته ليکي چې له ابراهيم عليه السلام سره دا معامله په مصر کې

او د مصر د فرعون لخوا شوې، خو څو پاڼې وروسته ليکي چي دا پېښه د فلسطين په جرار نومي ښار کي واقع شوې او دا کار د فلسطين د پاچا ابيملك له لوري شوی، هلته ليکي چي په دې وخت کي ابراهيم پنځه نوي کلن وو!!

بايبل ليکي چي ابرام ډېر شتمن وو، ډېري رمې ئې درلودې، پوښتنه کوو چي د رمو خاوند خو په صحرا او غرونو کي اوسېږي، هغه په مصر کي څه کول؟ مصر خو هغه وخت هم لوی ښار وو او د همدې لپاره د مصر (ښار) په نامه يادېدو؟!! که بايبل ليکلي وی چي ابراهيم عليه السلام د دعوت په ارتباط مصر ته تللی وو، چا وربانديې اعتراض نه کاوو خو هغه ليکي چي ابرام د خپلو څارويو او له رمو سره د مصر په لوري وخوځېدو!! دې ته مو پام وي چي قرآن د ابراهيم او لوط عليهما السلام په اړه وايي چي د شام او فلسطين په برکتناکي سيمي کي مي مېشت کړل، او دا ښيي چي مصر ته د ابراهيم عليه السلام د تلو ادعاء حقيقت نه لري.

بايبل تر دې عنوان (ابراهيم او ابيملك) لاندي يو ځل بيا د ابراهيم عليه السلام هغه قصه تکراراً ليکي چي يوه ظالم واکمن د ده مېرمن ساره ترې بوتله، خو دا ځل په داسي بڼې کي چي له مخکينۍ سره سل په سلو کي توپير لري، لکه چي دا کاملاً بله قصه وي، دا ځل داسي ليکي: کله چي ابراهيم د جرار په ښار کي وو، ساره ئې خپله خور معرفي کړه، نو ابيملك د جرار پاچا ځيني کسان ولېږل چي ساره د ده قصر ته راولي، خو په همدې شپې خدای په خوب کي ابيملك ته ورځرگند شو او ورته وئې ويل: ته به خامخا ومرې ځکه مېړوښه ښځه دې په نکاح کړې!! ابيملك لا تر هغه مهاله له دې سره نه وو څملاستلی، نو عرض ئې وکړ: خدايه! زه بې تقصيره يم، آيا ته به ما او زما قوم وژنې؟ په خپله ابراهيم ما ته وويل چي دا مي خور ده او ساره هم د ده خبره تأييد کړه او وئې ويل چي دی مي ورور دئ، ما هيڅ بد نيت نه درلود، خدای وويل: هو؛ ستا خبره صحيح ده؛ د همدې لپاره مي پرې نښودې چي گناه وکړې او هغې ته لاس وروړې، اوس نو دا ښځه خپل خاوند ته وسپاره، هغه به دعاء درته وکړي او ته به ژوندی پاته شې!! پاچا سبا سحر وختي پاڅېدو، په تلوار ئې خپل درباريان راوغوښتل، خپل خوب ئې ورته تېر کړ او ټول سخت ووېرېدل، نو دغه وخت پاچا ابراهيم خپل دربار ته راوغوښت او ورته وئې ويل: دا څه کار وو چي تا له موږ سره وکړ؟ ما له تا سره څه بد کړي وو چي زه او زما ملك دې په داسي لويې گناه اخته کړو؟... ابراهيم ځواب ورکړ: گمان مي دا وو چي د دې ملك خلك به له خدايه نه وېرېږي او د دې لپاره چي زما مېرمن تصاحب کړي ما به ووژني، پر دې سربېره دا زما ناسکه خور هم ده، له يوه پلاره يو او ما دا ځان ته په نکاح کړه!!! کله چي زما خدای زه له خپل ټاټوبي نورو ملکونو ته ولېږلم، له ساره مي وغوښتل چي دا ښېگڼه له ما سره وکړي چي په هر ځای کي ځان زما خور معرفي کړي!! نو ابيملك ډېر پسونه، غواگاني، غلامان او وينځي ورکړې، د ده مېرمن ساره ئې وروسپارله او ورته وئې ويل: زما په ټول ملك کي وگرځه، د اوسېدو لپاره چي دي کوم ځای خوښ شو هلته مېشت شه!!

د بايبل په دې دوارو قصو کې دومره ژور اختلاف او توپير شته چې هيڅوک ئې نه شي توجيه کولی، په مخکينۍ کې ويل شوي چې دا د مصر فرعون وو او دلته ويل شوې چې دا د جرار پاچا ابيملك وو او ورپسې ويل شوي چې ابيملك د فلسطين پاچا وو، هلته ويل شوي چې ساره ئې په نکاح کړه او ډېر وروسته ورته معلومه شوه چې دا د ابراهيم خور نه بلکې مېرمن ده، خو دلته ويل شوي چې خدای پاچا ته د نکاح په همغې لومړۍ شپه په خوب کې وويل چې دا د ابراهيم مېرمن ده، هلته ويل شوي چې فرعون؛ ابراهيم او مېرمن ئې د همدې غلطۍ په سبب له خپل ملکه د فوځيانو په لاس وشړل او دلته ويل شوي چې ابيملك ورته وويل: زما د ملك په هر ځای کې چې خوښ دي وي مېشت شه!!

علاوه پر دې د بايبل له وينا خو داسې معلومېږي چې ابيملك هيڅ تقصير نه درلود، تقصير د ابراهيم او د ساره وو چې ده ته ئې حقيقت نه وو ويلی او دا نکاح د ساره په خوښه تر سره شوې!! که داسې وي نو ابيملك څه گناه درلوده؟ ولې خدای ورته ويلي چې ته حتماً مرې؟ او که ده کومه گناه کړې وي ولې به خدای د ده په گناه د ده قوم هم هلاکوي؟ دا ضد او نقيض خبرې او الله تعالی ته د داسې غيرعادلانه پرېکړو نسبت به د بايبل ليکونکی او منونکي څنگه توجيه کوي؟؟ څنگه ومنو چې ساره د ابراهيم عليه السلام ناسکه خور وه او ده ورسره نکاح کړې وه!! قرآن خو موږ ته وايي چې ستاسو دين همغه د ابراهيم دين دئ، څه چې په هغه دين کې حلال وو درته حلال دي او څه چې حرام وو حرام دي، قرآن خو له خور سره نکاح تحريم کړې ده، آيا دا کېدی شي چې د ابراهيم عليه السلام په دين کې داسې نکاح جائز وي؟ نن خو علم په قاطع الفاظو د قرآن خبره تأييدوي او له داسې نژدې خپلوانو سره نکاح سخت مضر گڼي، عليم خدای به څنگه داسې مضر او تاواني نکاح جائز شمېري؟!!

بايبل د دې قصې په پای کې ليکي: (دغه مهال ابراهيم خدای ته دعاء وکړه او خدای پاچا، د ده مېرمنو او وينځو ته شفا ورکړه، د دې لپاره چې وکولی شي د اولاد خاوند شي، دا ځکه چې خدای په دې خاطر د ده ټولې مېرمنې شنډې کړې وې چې ابيملك د ابراهيم مېرمن ساره ځان ته نکاح کړې وه!!)

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: د دې خبرې معنی خو دا ده چې ساره دومره اوږده موده د ابيملك په نکاح کې پاته شوې چې ده او مېرمنو ته ئې معلومه شوې چې ټولې شنډې شوې دي، د ښځو شنډېدل خو په يوه شپه کې نه ښځو ته معلومېږي او نه ئې خاوندانو ته!! د پاچا مېرمنو څه گناه کړې وه چې د مېړه په جرم مجازات کېږي؟ وينځو څه گناه کړې وه چې هغوی هم د پاچا په جرم ناروغه کړی شوې؟! آيا دا خبره له انساني عقل سره اړخ لگوي چې د يوې شپې په څو ساعتونو کې هم د پاچا مېرمنې شنډې شي او هم ببرته روغې، د ښځې په شنډېدو خو داسې ژر ډېر حاذق ډاکټر هم له ډېرو پرمخ تللو وسائلو سره نه شي پوهېدی!! تر ټولو لويه پوښتنه دا ده چې آيا د بايبل ليکونکي خپله هغه خبره هېره کړې چې ويل ئې د ابراهيم عليه السلام خېمې ته د خدای او دوو فرشتو د راتلو په مهال د ده

مېرمن ساره هومره عمر خوړلې بوده وه چې د اولاد درلودو طمع ئې ختمه شوې وه او حتى د فرشتو او حتى خداى په دې خبرې ئې باور نه شو كولى چې په راتلونكي كال كې به د اولاد خاونده شي، د ابيملك په څېر پاچا چې ګڼ شمېر نوري مېرمني ئې درلودې او حتماً به ټولې ډېرې ښايسته او پېغلې وې، ولې به يوه بوډۍ ځان ته نكاح كوي؟ د بايبل د وينا مطابق دا مهال ابراهيم عليه السلام نه نوي كلن او د ساره عمر به تر نوي زيات وو، كوم عقل به دا خبره ومني چې يوه داسې پاچا دا په زور ځان ته نكاح كړه چې ګڼ شمېر نوري مېرمني ئې هم درلودې؟!

قرآن چې د ابراهيم عليه السلام په اړه څه وايي د بايبل ټولې خبرې حرف حرف ردوي. بايبل په دې اړه هيڅ نه دي وايي چې ابراهيم عليه السلام د خپل پلار او قوم پر غلط دين اعتراض وكړ، د خپل پلار او قوم له مخالفت سره مخامخ شو، خپل پلار له كوره په شړلو وګواښو، بتان ئې مات كړل، زنداني شو، نمرود په مرګ تهديد كړ، په اور كې واچول شو او له عراقه ئې هجرت وكړ، بايبل د دې ټولو خبرو په اړه ساكت دئ او حتى له عراقه د ابراهيم عليه السلام د وتلو په اړه ليكي چې تارح (د ابرام پلار) له خپل زوى ابرام، له خپلې نږور ساراى او له خپل لمسي لوط سره يو ځاى له اوركلدانيان نه د كنعان په لوري وكوچيدو او په حران كې ځاى په ځاى شول!! قرآن د ابراهيم عليه السلام د پلار د نوم په اړه هم د بايبل ادعاء غلطه ګڼي او هغه د تارح په ځاى د آزر په نامه يادوي، متأسفانه زموږ ځيني مفسرين هومره د دغه جعلي بايبل تر اغيز لاندي تللي چې د قرآن د دغې صريح وينا په خلاف وايي چې د ابراهيم عليه السلام د پلار نوم تارح وو او آزر د بت نوم وو!!

يوه محترم ورور ما ته د دې آيت د تفسير په اړه خپل ملاحظات ليكلي وو چې ما ئې ځواب ورلېږلى، دا راته مناسب برېښي چې د ده ځواب دلته رانقل كړم:

د (بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ) په اړه ستا لومړى توجيه داسي ده لكه چې دا دروغ نه وي، بلكې كاملاً رښتيا وي او د دې معنى دا ده چې تاسو په دې توجيه سره د ثلاث كذبات روايت ردوئ!!

دا تعبير امام طبري په سختو الفاظو سره رد كړى؛ د هغه الفاظ دا دي: ځيني خلك چې روايات نه مني او يوازې داسې آثار قبلوي چې په عوامو كې خوله په خوله خورېږي، وايي چې د دې آيت ( بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا) معنى ګواكې دا ده چې (كه دا بُتان خبرې كولى شي نو د دوى د ماتولو كار به دغه لوى بُت كړى وي؛ حال دا چې دا تعبير د هغو رواياتو خلاف دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم روايت شوي چې وايي: ابراهيم عليه السلام يوازې درې ځلي دروغ ويلي او ټول ئې د الله تعالى په اړه ول!!... دا مستحيل نه ده چې الله تعالى به هغه ته د همداسې ويلو اجازه وركړې وي، چې خپل قوم پرې قانع كړي او پر خپلو اشتباهاتو او غلطو نظرياتو ئې پوه كړي، همداسي لكه د يوسف عليه السلام مؤذن چې د ده ورونو ته وويل: اې كاروانيانو! تاسو غله يئ، حال دا چې دوى غلا نه وه كړې!!

وقد زعم بعض من لا يصدّق بالآثار، ولا يقبل من الأخبار إلا ما استفاض به النقل من العوامّ، أن معنى قوله( بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا ) إنما هو: بل فعله كبيرهم هذا إن كانوا ينطقون

فاسألوهم، أي إن كانت الآلهة المكسورة تنطق، فإن كبيرهم هو الذي كسرهم، وهذا قول خلاف ما تظاهرت به الأخبار عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أن إبراهيم لم يكذب إلا ثلاث كذبات كلها في الله، قوله( بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا ) وقوله(إِنِّي سَقِيمٌ ) وقوله لسارة: هي أختي، وغير مستحيل أن يكون الله تعالى ذكْره أذن لخليله في ذلك، ليقرّع قومه به، ويحتجّ به عليهم، ويعرّفهم موضع خطئهم، وسوء نظرهم لأنفسهم، كما قال مؤذّن يوسف لإخوته( أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ) ولم يكونوا سرقوا شيئا.

تاسو ليکلي چي په دې سره د روايت او آيت تر منځ تعارض له منځه ځي، حال دا چي خبره کاملاً د دې عکس ده، دا توجيه نه يوازي ډېره کمزورې ده بلکي هم د قرآن خلاف ده او هم د دغه روايت خلاف.

تاسو د مفتي تقي عثماني تعبير ته اشاره کړې، خو د ده د تعبير معنی دا ده چي ګواکي د ابراهيم عليه السلام وينا کذب نه ده او د دې معنی دا ده چي هغه هم دا روايت رد کړی چي وايي: دا يو کذب وو!! ستاسو دوهمه توجيه چي وايي: بل حرف د ايجاب په معنی د استفهام دئ او معنی ئې دا ده چي آيا دا کار دې غټ کړی دئ؟ که څه هم له دې تعبير سره توافق کول د هر انسان لپاره ګران کار دئ خو د دې معنی هم دا ده چي ګواکي دا کذب نه دئ. او په دې سره هم تاسو د روايت خلاف خبره کړې.

او درېيمه توجيه خو لا ډېره عجيبه او د حيرانتيا وړ ده چي وايي له کبير مراد الله تعالی دئ!! خو د دې تعبير معنی هم دا ده چي د روايت خلاف خبره ئې کړې.

حقيقت دا دئ چي که څوك د ابراهيم عليه السلام وينا ته له کذب پرته هره جامه ورواغوندي او په هري بڼي کي ئې تعبير کړي، توريه، کنايه او تعريض ئې وګڼي د ټولو معنی دا ده چي ابوهريره رضی الله عنه ته منسوب روايت ئې نه دئ منلی او له دې سره ئې توافق نه دئ کړی چي دا دروغ وو!! ځکه هغه روايت دې ته د کذب نوم ورکوي!!

کذب کبيره ګناه ده، د الله تعالی په اړه کذب د کفر مترادف ده، پيغمبران عليهم السلام له ګناه معصوم دي، څنګه به داسي روايت منو چي د ابراهيم عليه السلام په څېر ستر موحد ته د کذب نسبت کوي او هغه هم د الله تعالی په اړه کذب؟!! آيا دا به لوی جسارت وي چي څوك د ابراهيم عليه السلام په څېر يوه پيغمبر ته د کذب نسبت وکړي او که يو غريب او له قرآن سره متعارض روايت ونه مني؟

دا روايت له سره تر پايه غلط او د قرآن خلاف دئ، يا به قرآن منو يا دا روايت، هيڅ عقلمن مؤمن نه د قرآن خلاف خبري منلی شي او نه دوه متعارضي او متضادي خبري همزمان منلی شي. عجيبه ده چي څوك له يوې خوا دا روايت مني او وايي: ابراهيم عليه السلام درې ځلي دروغ ويلي!! او له بلي خوا وايي: ابراهيم عليه السلام دروغ نه دي ويلي بلکي توريه ئې کړې!! دا خو صريح تناقض دئ!! څوك چي دا روايت مني نو د هغو مفسرينو رأيه بايد ونه مني چي وايي: ابراهيم عليه السلام دروغ نه دي ويلي بلکي توريه ئې کړې!!

تاسو ليکلي چي د دې روايت پر متن يوازي امام رازي په تفسير کبير کي تنقيد کړی...

باید ووایم چې د امام رازي تر څنګ ډېر نور شته چې دا روایت په بشپړه توګه غلط ګڼي، تاسو په پاکستان کې اوسئ، تفهیم القرآن یو له هغو تفاسیرو دئ چې د امام رازي په څېر ئې په دې روایت سختې نیوکې کړې دي او نه یوازې دا چې هغه ئې بې اعتباره ګڼلی بلکې هغو خلکو ته حیران شوی چې څنګه داسې روایات مني. تفهیم القرآن لیکي:

"له بده مرغه په یوه روایت کې دا خبره راغلې ده چې ابراهیم علیه السلام په خپل ژوند کې درې ځله دروغ ویلي دي، له هغو یو (دروغ) خو دا (بل فعله کبیرهم) دئ، او دوهم (دروغ) په سوره صافات کې د ابراهیم علیه السلام د ((إنّی سقیم)) وینا ده او درېیم (دروغ) خپلې مېرمنې ته د هغه د خور ویلو خبره ده، چې په قرآن کې د هغې ذکر نشته بلکې د بایبل کتاب د (پیدایښت) په باب کې ئې یادونه شوې ده. یوه ډله په روایت پالنه کې تر دې کچې غلو کوي چې هغوی ته د بخاري او مسلم د یو څو راویانو صداقت ډېر ارزښت لري او دا خبره له پامه غورځوي چې په دې سره په یوه نبي باندې د دروغو تور لګېږي. دوهمه ډله د دې یوه روایت له مخې د احادیثو په درسته زېرمه باندې برید کوي او وایي چې ګرد احادیث راواخلئ او پر دیوال ئې وولئ ځکه چې په هغو کې داسې داسې روایتونه موندل کېږي، په داسې حال کې چې په یوه یا څو روایتونو کې د خرابۍ په موندلو سره دا نه لازمېږي چې ټول روایات دې د اعتماد وړ نه وي، او نه هم د حدیثو د فن له مخې د کوم روایت د سند قویتوب د دې خبرې مستلزم دئ چې د هغه متن که څه هم هر څومره د اعتراض وړ وي خو هغه دې هرو مرو او په پټو سترګو ومنل شي. د سند د قویتوب او باوریتوب سره سره ډېر اسباب داسې کېدی شي چې له کبله ئې یو متن په غلطه بڼه نقل شوی وي او په داسې مضامینو مشتمل وي چې قباحت ئې پخپله د دې څرګندونه کوي چې دا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلې خبرې نشي کېدی. نو له همدې کبله د سند تر څنګ متن ته کتل هم اړین دي او که په متن کې رښتیا هم څه قباحت وي نو بیا هرومرو د هغه په صحت ټینګار کول، سم نه دي.

دا روایت چې په هغه کې ابراهیم علیه السلام ته درې (دروغ) منسوب شوي، یوازې له دې کبله د اعتراض وړ نه دئ چې دا یو پیغمبر درواغجن ګڼي بلکې له دې کبله هم غلط دئ چې په دې کې د کومو دریو پېښو یادونه شوې ده هغه درې واړه د بیا کتنې او نقد وړ دي. په هغوی کې د یوه (دروغ) حال اوس تاسو ولید، چې د ډېر لږ عقل او پوهې خاوند سړی هم په دې سیاق او سباق کې د ابراهیم علیه السلام په دې وینا د ( درواغو) اطلاق نشي کولی، دا خو لا ډېره لرې ده چې مونږ نعوذ بالله پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم د داسې خبرې کولو ګمان وکړو.

پاته شوه د ((إنّی سقیم)) والا خبره؛ نو له دې (دروغ) نشي ثابتېدی، تر هغه چې دا ثابته نه شي چې ابراهیم علیه السلام په حقیقت کې دغه مهال بالکل روغ رمټ او صحتمن وو، او ان چې معمولي شکایت ئې هم نه درلود، دا خبره نه په قرآن مجید کې چېرې یاده شوې ده او نه له دغه روایت پرته چې تر بحث لاندې دئ په بل کوم معتبر روایت کې د

هغې يادونه شوې ده.
اوس پاته کېږي مېرمني ته د خور ويلو واقعه، نو دا په خپله يوه داسي مهمله واقعه ده چي هر څوك دا واوري نو هرومرو به ووايي چي دا واقعه صحيح نه ده. دا د هغه وخت کيسه ده چي کله ابراهيم عليه السلام له خپلي مېرمني ساره بي بي سره مصر ته لاړ، د بايبل له مخي هغه وخت د ابراهيم عليه السلام عمر ۷۵ کاله او د ساره بي بي عمر له ٦۵ کلونو اوښتی وو او په دې عمر کې ابراهيم عليه السلام ته دا وېره پيدا کېږي چي د مصر واکمن به د دې حسيني مېرمني دلاسته کولو لپاره ما ووژني، نو هغه خپلي مېرمني ته وايي چي کله تا مصري ونيسي او بادشاه ته دي بيايي نو ته هم ما خپل ورور وښيه او زه به هم تا خپله خور وښيم، د دې لپاره چي زه له وژلو خوندي پاته شم (پيدايښت: باب۱۲). تر بحث لاندې روايت کې د درېيم ځل (دروغو) بنسټ همدا څرګند لغوه او مهمل اسرائيلي روايت دئ، آيا دا کومه عقلمنه خبره ده چي مونږ داسي روايت چي متن ئې په داسي کمزورو او ناسمو خبرو مشتمل وي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې يوازې په دې دليل منسوبوو او پرې ټينګار کوو چي د هغه سند مجروح نه دئ؟!
دا ډول افراط خوښونه نه يوازې کار خرابوي بلکې هغه تفريط ته لار آواروي چي د احاديثو منکرين ئې مرتکب کېږي. (تفهيم القرآن مزيد ليکي: د زيات تفصيل او وضاحت لپاره زما د رسايل و مسائل د کتاب د دوهم ټوک ۳۵-۳۹ مخونه وګورئ)"
رازي هم وايي: څو راويانو ته د کذب نسبت تر دې اولى دئ چي پيغمبرانو عليهم السلام ته د دراوغو نسبت وشي، د روايت د ردولو قاطع دليل دا دئ چي که پيغمبرانو ته د درواغو ويل د کوم مصلحت لپاره جائز وګڼل شي او ومنو چي الله تعالى دا اجازه ورکوي نو بيا خو دا احتمال د ټولو هغو خبرو په اړه واردېږي چي دوی ويلي او الله تعالى مونږ ته خبر راکړی، په دې سره خو د ټول شريعت په اړه وثوق او باور کول له منځه ځي او تر اتهام لاندې راځي، او بيا که احياناً دا روايت صحيح وي نو کېدی شي په داسي څه حمل شي چي الفاظ ئې همزمان متعارضي معاني لري، همغسي لکه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: « إن في المعاريض لمندوحة عن الكذب: په معاريضو يعني توريېو سره له دروغو ډډه کېدی شي»، نو د ده دا وينا چي زه بيمار يم، ښايي هغه په دې وخت کې څه بيماري هم درلوده، او د ساره په اړه د ده دا وينا چي دا مي خور ده نو مراد ئې دا دئ چي هغه مي په دين کې خور ده، او د بل فعله كبيرهم هذا وضاحت مي تر دې وړاندي وکړ. نو کله چي د کلام حمل په ظاهر ئې ممکن وي، پرته له دې چي انبياء عليهم السلام ته د درواغو نسبت وشي نو په دې صورت کې به يوازې يو زنديق دوی ته د کذب نسبت کوي!! "أما الخبر الأول وهو الذي رووه فلأن يضاف الكذب إلى رواته أولى من أن يضاف إلى الأنبياء عليهم الصلاة والسلام، والدليل القاطع عليه أنه لو جاز أن يكذبوا لمصلحة ويأذن الله تعالى فيه، فلنجوز هذا الاحتمال في كل ما أخبروا عنه، وفي كل ما أخبر الله تعالى عنه وذلك يبطل الوثوق بالشرائع وتطرق التهمة إلى كلها، ثم إن ذلك الخبر لو صح فهو محمول على المعاريض على ما قال عليه

السلام: « إن في المعاريض لمندوحة عن الكذب » فأما قوله تعالى: { إِنِّي سَقِيمٌ } فلعله كان به سقم قليل واستقصاء الكلام فيه يجيء في موضعه. وأما قوله: { بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ } فقد ظهر الجواب عنه. أما قوله لسارة: إنها أختي، فالمراد أنها أخته في الدين، وإذا أمكن حمل الكلام على ظاهره من غير نسبة الكذب إلى الأنبياء عليهم السلام فحينئذ لا يحكم بنسبة الكذب إليهم إلا زنديق"

دا دئ گورئ چي امام رازي پيغمبرانو عليهم السلام ته د كذب نسبت كول د زنديقانو كار گڼي!! تاسو (اني سقيم) او (هذه اختي) ګي د امام رازي قول ليكلی، دا په داسي حال کې چي امام رازي دا خبره د روايت په رد کې كړې او ويلي ئې دي چي د دې د دواړو معنی دا ده چي دا كذبات نه دي؛ خو عجيبه ده چي تاسو ئې د روايت په تأييد کې كوئ!!

تاسو د تفسير بالرأى يادونه كړې، نه پوهېږم په كوم مناسبت!! بايد ووايم: تفسير بالرأى حرام دئ، خو تاسو به حتماً پوهېږئ چي تفسير بالرأى دا نه دئ چي څوك د قرآن د كوم آيت په اړه خپله رأيه وړاندي كړي، يا د څو مفسرينو د آراءو له منځه يوه غوره وگڼي، كه دې ته څوك تفسير بالرأى ووايي نو بيا خو ټول مفسرين همداسي دي، بيا خو تا په خپله د همدغه آيت په اړه څلور څلي تفسير بالرأى كړی، د هغو مفسرينو رأيه دي رانقل كړې چي د دغه آيت په اړه ئې بېل بېل تفسيرونه كړي، او د ټولو تفسيرونه د هغه روايت خلاف دي چي ته ئې صحيح گڼې او هغه چا ته د پرويزي خطاب كوې چي دا روايت نه مني، په دې سره خو تا پر خپل ځان د پرويزي حكم كړی، دا روايت وايي چي (نعوذ بالله) ابراهيم عليه السلام درې څلي دروغ ويلي چي په دې کې دوه څلي ئې د الله تعالی په اړه ول!! خو بيا د هغه چا تفسيرونه رانقلوې او هغه هم صحيح گڼې چي دا روايت كاملاً ردوي او وايي چي د ابراهيم عليه السلام ويناوي دروغ نه بلكي سل په سلو کې رښتيا وې!!! كه داسي تفسير ناجائز وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به له صحابه وو داسي پوښتنه نه كوله چي د قرآن د فلان مطلب په اړه څه وايئ؟ عمر رضی الله عنه به له صحابه وو همداسي پوښتنه نه كوله، كه دا كار جائز نه وی نو دا پوښتني به نه كېدې!! مفسرينو به د قرآن د آيتونو په اړه خپل خپل آراء نه وړاندي كول. دغو درنو مفسرينو د دغو آراءو په وړاندي كولو سره نه يوازي كومه گناه نه ده كړې بلكي طمع مو دا ده چي الله تعالی به دوی ته د صحيح تفسير په صورت کې دوه او د اشتباه په صورت کې يو اجر وركوي. تفسير بالرأى دې ته وايي چي څوك له ځان سره كومه خاصه رأيه ولري او بيا د دغي رأيي لپاره په تكلف سره د قرآن كوم آيت تأويل او تحريف كړي، داسي لكه چي څوك يو غريب روايت واوري يا د مذهبي تعصب له مخي كومه رأيه قبوله كړي او بيا د قرآن كوم آيت د خپل ظاهري او څرگند مفهوم په خلاف د همدې غريب روايت او همدې مذهبي رأيي په تأييد کې تحريف كړي، د دې پر ځای چي آيت معيار وگڼي او روايات د هغه په تله وتلي برعكس همدا كمزوري روايات معيار گڼي او د قرآن آيتونه د هغوی په تأييد کې تحريفوي!! د دې پروا هم نه كوي چي وينا ئې د قرآن خلاف ده، د مثال په توگه دغه تر بحث لاندي آيت چي د ابراهيم عليه

السلام په اړه ئې مفهوم ډېر واضح دئ او هيڅوك ترې دا معنى نشي رااېستلی چې ابراهيم عليه السلام دروغ ويلي، تا چې د كومو مفسرينو توجيهات رانقل كړي هغوی هم وايي چې دا دروغ نه دي، خو متأسفانه څيني په تكلف سره هڅه كوي چې له دې كذب جوړ كړي!! د دې پروا هم نه كوي چې تعبير ئې د قرآن د ظاهر او څرګند مفهوم خلاف دئ او په دې سره يوه پيغمبر ته د كبيره ګناه نسبت كوي!! همدا تفسير بالرأى دئ!!

قُلْنَا يَـٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَـٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ وَأَرَادُوا۟ بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَـٰهُمُ ٱلْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنَـٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَـٰرَكْنَا فِيهَا لِلْعَـٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا صَـٰلِحِينَ ﴿٧٢﴾ وَجَعَلْنَـٰهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِمْ فِعْلَ ٱلْخَيْرَٰتِ وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِ ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا عَـٰبِدِينَ ﴿٧٣﴾

ومو ويل: اې اوره! پر ابراهيم سوړ او سلامتي شه، او هغوی د پټ تدبير اراده ورته وكړه نو موږ تر ټولو ډېر تاوانيان كړل، او دی او لوط مو هغې سيمې ته وژغورل چې په هغې كې مو د عالميانو لپاره بركتونه اچولي، او ده ته مو په اضافي توګه اسحاق او يعقوب ورپه برخه كړل، او هر يو مو له صالحينو وګرځولو. او له دوی مو داسې مشران جوړ كړل چې زما په امر سره ئې (د خلكو) لارښوونه كوله، او دوی ته مو د نېكو كارونو كولو، لمونځ قائمولو او زكات وركولو وحي وكړه، او دوی زما عبادت كوونكي ول.

(۶۹-۷۳)- د دې مباركو آيتونو لارښوونې دا دي:

- دښمن دا پرېكړه وكړه چې ابراهيم عليه السلام په اور كې واچوي، ټول خلك د ده د سوزېدو صحنه په خپلو سترګو وګوري، چې په دې سره په ټول ملك كې د وېرې داسې فضا رامنځته شي چې له دې وروسته هيڅوك له حاكم نظام د بغاوت او د دې نظام د رعيت د معبودانو د سپكاوي او اهانت جرأت ونه كړي، د ابراهيم عليه السلام د سوزولو كار ته بايد مذهبي رنګ وركړی شي، ټول خلك بايد دا د ثواب كار وګڼي، د خاشاكو او لرګيو په راوړو سره د ثواب په دې كار كې برخه واخلي، همداسې وشول، د ابراهيم عليه السلام لپاره ستر اور بل شو، په منجنيق كې ئې كښېنولو، له لرې ئې اورته وغورځولو، دغه مهال الله تعالى اور ته امر وكړ چې د ابراهيم لپاره سوړ شه، داسې چې هيڅ تاوان ورونه رسېږي او په بشپړه توګه روغ رمټ پاته شي. هغه مهربان رب چې په اور كې ئې د سوزولو استعداد اېښی؛ كولی شي په يوه امر سره د اور دا د سوزولو استعداد په سړولو بدل كړي، همداسې وشول، د سره اور كنده په داسې سړې غېږې بدله شوه چې كه الله تعالى دا لارښوونه نه وی ورته كړې چې د

سړېدا تر څنګ د سلامتيا باعث شه نو ابراهيم عليه السلام ته به د اور سرو لمبو دومره تاوان نه وو رسولی لکه د دې سړې غبرې يخي هوا!!

• دا دئ ګورئ چې ابراهيم عليه السلام د قهرجنو خلکو د لويې غونډې په وړاندې د توحيد غږ اوچت کړ او په مېړانې او جرأت سره ئې د حق دفاع وکړه او الله تعالی تر هغې د سترې غونډې او تر هغوی د لازياتو قهرجنو خلکو په وړاندې له ده دفاع وکړه او د اور لمبې ئې د ده لپاره سړې کړې!!

• دښمن ابراهيم عليه السلام ته د پټ تدبير اراده وکړه، د ده د سوزولو دا هيبتناکه صحنه ئې د همدې لپاره جوړه کړې وه چې له دې وروسته هيڅوك د ابراهيم د خدای نوم په خوله وانه خلي او د بتانو په ضد څه ونه وايي، خو په خپلې لومې کې ونښتل، خلکو په خپلو سترګو وليدل چې د ابراهيم رب هغه د اور په سرو لمبو کې روغ رمټ وساتو. نمروديانو په دې پټ تدبير کې د ګټې پر ځای تاوان وکړ!! له دغو الفاظو داسې معلومېږي چې د دې صحنې په ليدو سره ډېرو خلکو ايمان راوړی، او د نمروديانو د اقتدار نسکورېدا له همدې ځايه پيل شوې.

• په پلرنې ملك کې د ابراهيم عليه السلام مأموريت بشپړ شوی وو، هغه څه چې بايد د ده په لاس خلکو ته ښودل شوي وی هغه وښودل شول، اوس بايد بلې سيمې ته ولاړ شي، نو ځکه الله تعالی دی او لوط عليهما السلام د شام او فلسطين سيمې ته بېولل، قرآن دا سيمه داسې راپېژني: هغه سيمه چې الله تعالی په هغې کې د عالميانو لپاره برکتونه اچولي، خو بايد وګورو چې دا مادي برکت دئ او که معنوي، دا سيمه له مادي پلوه هم برکتناکه سيمه ده، خو د آيت له سياق و سباق معلومېږي دلته د هغې معنوي برکتونو ته اشاره شوې، په دې سيمې کې ګڼ شمېر پيغمبران مبعوث او د پېړيو پېړيو لپاره د وحې مهبط او د پيغمبرانو مبعثت پاته شوې او له همدې سيمې د نړۍ ګوټ ګوټ ته د هدايت پلوشې خورې شوې. ورپسې آيتونه هم ښيي چې دلته له برکت مراد معنوي برکتونه دي ځکه په دغو آيتونو کې ويل شوي: ابراهيم عليه السلام ته مو په اضافې توګه اسحاق او يعقوب ورپه برخه کړل او هر يو مو له صالحينو وګرځولو او له دوی مو داسې مشران جوړ کړل چې زما په امر سره ئې لارښوونه کوله، او دوی ته مو د نېکو کارونو کولو، لمونځ قائمولو او زکات ورکولو وحې وکړه، او دوی زما عبادت کوونکې ول.

وَلُوطًا ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِي كَانَت تَّعْمَلُ ٱلْخَبَٰٓئِثَۚ إِنَّهُمْ كَانُواْ قَوْمَ سَوْءٍ فَٰسِقِينَ ﴿٧٤﴾ وَأَدْخَلْنَٰهُ فِي رَحْمَتِنَآۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾

او لوط چې حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او له هغه کلي مو وژغورو چې پليت پليت کارونه ئې کول، يقيناً چې هغوی د فاسقانو يو بد قوم وو، او په خپل رحمت کې مو ننايست، يقيناً چې هغه له صالحانو وو.

(۷٤-۷٥)- په دې مبارکو آیتونو کې د یوه فاسق او بدکار قوم له شر د لوط علیه السلام د ژغورنې قصه د بلې عملي او تاریخي بېلګې په توګه زموږ په وړاندې اېښودل شوې او ویل شوي: الله تعالی لوط ته حکمت او علم ورپه برخه کړ او له هغه کلي او کلیوالو ئې وژغورو چې پلیت پلیت کارونه ئې کول، یقیناً چې هغوی د فاسقانو یو بد قوم وو، الله تعالی د خپل پراخ رحمت وزر پر لوط علیه السلام وغوړاوو دا ځکه چې هغه له صالحانو وو.

وَنُوحًا إِذۡ نَادَىٰ مِن قَبۡلُ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ
٧٦ وَنَصَرۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ
أَجۡمَعِينَ ٧٧

او نوح چې تر دې وړاندې ئې (د دعاء لپاره) غږ کړ، نو موږ د ده دعاء قبوله کړه، نو دی او د ده ټبر مو له هغه ستر کړاو وژغورل. او د هغه قوم له (شره) مو (د ده د ژغورنې) مرسته ورسره و کړه چې زما آیتونه ئې تکذیبول، یقیناً چې دوی یو بد قوم وو نو ځکه مو ټول غرق کړل.

(۷٦-۷۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د نوح علیه السلام ژغورنې ته اشاره شوې او ویل شوي: الله تعالی تر مخکینیو پیغمبرانو وړاندې د نوح علیه السلام دعاء قبوله کړه، او دی او د ده ټبر ئې له هغه ستر کړاو وژغورل او د هغه قوم له شره ئې د ده د ژغورنې مرسته ورسره و کړه چې د الله تعالی آیتونه ئې تکذیبول، بد قوم وو نو ځکه الله تعالی غرق کړل.

وَدَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ إِذۡ يَحۡكُمَانِ فِي ٱلۡحَرۡثِ إِذۡ نَفَشَتۡ فِيهِ غَنَمُ ٱلۡقَوۡمِ وَكُنَّا
لِحُكۡمِهِمۡ شَٰهِدِينَ ٧٨ فَفَهَّمۡنَٰهَا سُلَيۡمَٰنَۚ وَكُلًّا ءَاتَيۡنَا حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَسَخَّرۡنَا
مَعَ دَاوُۥدَ ٱلۡجِبَالَ يُسَبِّحۡنَ وَٱلطَّيۡرَۚ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ٧٩ وَعَلَّمۡنَٰهُ صَنۡعَةَ لَبُوسٖ
لَّكُمۡ لِتُحۡصِنَكُم مِّنۢ بَأۡسِكُمۡۖ فَهَلۡ أَنتُمۡ شَٰكِرُونَ ٨٠ وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ
عَاصِفَةٗ تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦٓ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۚ وَكُنَّا بِكُلِّ شَيۡءٍ عَٰلِمِينَ
٨١ وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعۡمَلُونَ عَمَلٗا دُونَ ذَٰلِكَۖ وَكُنَّا لَهُمۡ
حَٰفِظِينَ ٨٢

او داؤد او سلیمان چې کله ئې د هغه کښت په اړه پرېکړه کوله چې د هغه قوم د

مېږو رمه په کې ننوته (او هغه ئې تباه کړ)، موږ ئې د پرېکړې شاهد وو، نو سليمان مو پرې پوه کړ او هر يوه ته مو حکمت او علم ورپه برخه کړی وو، داؤد ته مو هم غرونه داسې مسخر کړي وو چې تسبيح به ئې ويله او هم مارغان، او کوونکي ئې موږ وو او هغه ته مو د داسې پوښاك (زغرې) جوړول ورزده کړل چې تاسو د خپلو جګړو (په مهال) ساتي، نو آيا شکر کوونکي يئ؟ او سليمان ته مو توند باد مسخر کړ چې د ده په امر به هغې سيمې ته خوځېدو چې برکت مو ورکړی او موږ په هر څه پوه يو. او له شيطانانو هغه چې د ده لپاره به ئې (په سيند کې) غوټې وهلې، او پر دې سربېره به ئې نور کارونه کول، او موږ د دوی ساتونکي وو.

۷۸-۸۲)- په دې مبارکو آيتونو کې د داؤد او سليمان عليهما السلام څو ځانګړتياوې بيان شوې:

- د خلکو د شخړو د حل و فصل ښه بصيرت او حکمت ئې په برخه شوی وو. په دې کې سليمان عليه السلام تر خپل پلار هم وړاندې وو. بېلګه ئې د هغې نزاع او شخړې حل و فصل ده چې د يوه کس رمه د بل د انګورو تاکونو ته د شپې لخوا ننوتله، ټول تاکونه ئې له پاڼو، مېوو او څانګو سره وخوړل، د منازعې د حل لپاره داؤد عليه السلام ته راغلل، هغه پرېکړه وکړه چې د تاکونو د تاوان په بدل کې دې د رمې د خاوند مېږې د باغ خاوند ته ورکړی شي، سليمان عليه السلام دا پرېکړه عادلانه ونه ګڼله او خپل پلار ته ئې وويل: په کار ده د رمې خاوند په دې مکلف شي چې په باغ کې کار وکړي او بېرته ئې خپل مخکيني حالت ته ورسوي، تر هغه دې د ده رمه د باغ د خاوند په واك کې وي چې له شيدو او نورو محصولاتو ئې استفاده کوي، بيا دې رمه او باغ خپل خپل خاوند ته وسپارل شي. داؤد عليه السلام د ده پرېکړه غوره وګڼله او شخړه په دې توګه حل شوه.
- له اوسپنې د زغرې جوړول د دوی لخوا پيل شوي.
- په لومړي ځل بادي کشتۍ د سليمان عليه السلام لخوا جوړه شوې. ده ته د توند باد د مسخر کېدو معنی همدا ده چې بادي کښتۍ ئې جوړې کړې.
- له يمن تر شام پورې د ده ملك غزېدلی وو، د فلسطين او لبنان خوا ته د مديترانې اوبه هم د دوی په ملك پورې مربوطې وې او همدلته به د دوی بادي کشتۍ تلې راتلې.
- د نظامي موخو او د خطونو وړو راوړو لپاره له مارغانو د استفادې لړۍ د ده په دور کې پيل شوې. د سبإ ملکې ته د ده ليك د هدهد په واسطه لېږل شوی.
- داؤد عليه السلام ته داسې خوږ او اغېزناك غږ ورکړی شوی وو چې د تسبيح او ذکر په وخت کې به غرونو هم خپل غږ ورسره يو ځای کړ.
- الله تعالی سليمان عليه السلام ته پېريان مسخر کړي ول، چې د ده لپاره به ئې په سيند کې غوټې وهلې، او ډېر نور کارونه به ئې ورته کول، د ده تر واك او سلطې لاندې د پېريانو ساتل د الله تعالی يوه ځانګړې پېرزوينه وه چې د سليمان عليه السلام په برخه شوې وه. دا

کار نه انسان ته ممکن دئ او نه له سليمان عليه السلام پرته د بل چا په برخه شوی.
د دې مزيد تفصيل د سبإ په سوره کې راغلی.

وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَكَشَفۡنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرّٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَذِكۡرَىٰ لِلۡعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾

او ايوب چې خپل رب ته ئې (د دعاء لپاره) غږ کړ چې يقيناً ما ته کړاو رارسېدلی او ته تر ټولو رحم کوونکو زيات مهربان يې، نو موږ د ده دعاء قبوله کړه او په کوم کړاو چې اخته وو هغه مو ترې لرې کړ، او ده ته مو د ده خپله کورنۍ او مثل ئې ورسره يو ځای ورپه برخه کړ، د خپلې پېرزوينې له مخې او عبادت کوونکو ته د پند او يادونې په توګه.

(۸۳-۸٤)- دلته د ايوب عليه السلام د ژغورنې په قصې کې د صالح بندګانو په اړه د الله تعالی د رعايت او عنايت يوه بله عبرتناکه بېلګه زموږ په وړاندې ځلېږي. ايوب عليه السلام له سخت الهي آزمېښت سره مخامخ شو، دومره چې له وفادارې او صابرې مېرمنې پرته ټولو دوستانو او خپلوانو يوازې پرېښود او خپلې اړيکې ئې ورسره وشلولې، هر څه ئې په سړه سينه زغمل، مصيبتونو دومره تنګ کړ چې مجبور شو د خپل مهربان رب په وړاندې د دعا ء لاسونه اوچت کړي او ووايي: زما ربه! کړاوونو محاصره کړی يم، او ته تر ټولو رحم کوونکو زيات مهربان يې!! الله تعالی د ده دعاء قبوله کړه، کړاوونه ئې ترې لرې کړل، نه يوازې مخکيني دوستان او خپلوان ئې بېرته پر شاوخوا راغونډ شول بلکې الله تعالی همدومره نور دوستان او خپلوان هم ورپه برخه کړل. الله تعالی د خپلې پېرزوينې له مخې دا احسان پرې وکړ او په همدې کې د الله تعالی د ټولو مخلصو بندګانو لپاره د پند او عبرت لوی درس دئ، دوی بايد ډاډه او مطمئن وي چې که د آزموينو په وړاندې د صبر او استقامت لمن پرې نږدي، بې حوصلې نشي، د ايوب عليه السلام په څېر صبر وکړي او د مشکلاتو حل له خپل مهربان رب وغواړي نو الله تعالی به تر هر مهربان زيات مهربان ومومي.

راشئ وګورو چې بايبل د ايوب عليه السلام په اړه څه ويلي او د دې جليل القدره صابر پيغمبر شخصيت ئې څنګه انځور کړی:

بايبل تر دې سرليك لاندې (د ايوب د ايمان آزموينه) يوه مهمه اعتقادي مسئله د پنځو څپرو د ويناوو په ترځ کې څېړي، دا بحث په ټول بايبل کې ځانګړی او استثنائي حيثيت لري، د بحث موضوع او د څېړنې څرنګوالي دې عنوان ته د بايبل په ټولو نورو عنوانو غوره والی ورکړی، په دې اړه ئې بحث کړی چې انسان ولې له کړاوونو او مصيبتونو سره مخامخ کېږي،

څوك او څه ئې مخامخ كوي؟ او د مصيبتونو په وړاندې د چا غبرگون مثبت او صحيح دئ او د چا ناسم او غلط؟ څوك د صبر او قناعت لار غوره كوي او څوك د شكايت او اعتراض لار؟ د پنځو كسانو په ويناوو كې ئې دې ته پنځه ځوابونه وركړي، خو متأسفانه په دې نه دئ توانېدلى چې دې پوښتنې ته واضح او معقول ځواب ووايي، تاسو به وگورئ چې بېل بېل نظريات ئې سره خلط كړي، په داسې حال كې چې غواړي يو كس د صابر او قانع په توگه معرفي كړي او د هغه په وينا او عمل كې صبر او قناعت انځور كړي، هغه ته ئې شكايت او اعتراض هم منسوب كړى، له دې بحث لوستونكى دا نتيجه نه شي تر لاسه كولى چې د چا وينا سمه ده او د چا ناسمه؟ او په الله تعالى د ايمان او باور تقاضا څه ده؟ ...

بايبل ليكي: يوه ورځ چې فرشتې د خداى په وړاندې حاضرې شوې وې، شيطان هم ورسره وو، خداى له شيطانه وپوښتل: چېرې وې؟ شيطان ورته وويل: د زمكې چارچاپېر گرځېدم، خداى وويل: آيا زما بنده ايوب دې وليد؟ د زمكې پر سر د ده په څېر انسان نشته، نېك، له خدايه وېرېدونكى، له گناه ځان ساتونكى، شيطان وويل: كه له خدايه وېرې ده ته گټه نه رسولى نو دا كار ئې نه كاوو!! هرڅه دې وركړي... شتمني ئې ترې واخله بيا وگوره چې په ښرگنده به له تا انكار كوي!! خداى شيطان ته وويل: لاړ شه، د شتمنيو په اړه ئې چې څه غواړې هغه وكړه خو ده ته تاوان مه رسوه، شيطان ووت... يوه ورځ چې د ايوب زامن د ده د مشر زوى په كور كې مېلمانه وو، يو كس ايوب ته راغى او وئې ويل: موږ يوې كوله، خره څرېدل چې سابيانو ناڅاپي بريد وكړ، كارگران ئې ووژل او څاروي ئې له ځان سره يوړل، يوازې زه ژوندى پاته شوم، د ده خبرې لا پاى ته نه وې رسېدلې چې بل قاصد راغى او وئې ويل: له آسمانه اور راپرېوت، ټول شپانه او رمې ئې وسوزول، يوازې زه ژوندى پاته شوم... د ده خبره لا نه وه ختمه شوې چې بل كس راغى او وئې ويل: كلدانيانو پر موږ بريد وكړ، ستا اوښان ئې يوړل او نوكران ئې ووژل، يوازې زه ترې ژوندى پاته شوم، په همدې كې بل كس راورسېدو او وئې ويل: ستا ټول زامن او لوڼې د مشر زوى په كور كې مېلمانه وو، چې ناڅاپي تونده سيلۍ راغله او كور ئې وران كړ، ټول تر چتونو لاندې شول، يوازې زه ترې ژوندى پاته شوم، په دې وخت كې ايوب پاڅېدو، له ډېره ويره ئې خپلې جامې څيرې كړې، د سر وېښتان ئې وخرېيل او د خداى په وړاندې په خاورو كې پرېوت او وئې ويل: د مور له رحمه لوڅ دنيا ته راغلم او لوڅ به ځم، خداى راكړي وو او خداى واخيستل، د خداى نوم دې مبارك وي!! له دې ټولو سره سره ايوب گناه ونه كړه او خداى ته ئې نامناسبه خبره ونه كړه!! بيا ملائكې د خداى په وړاندې حاضرې شوې، شيطان هم ورسره وو، د شيطان او خداى تر منځ همغه مخكينۍ خبرې تكرار شوې او دا ځل خداى ورته وويل: ځه د ده د بدن په اړه چې څه غواړې ورسره وئې كړه خو وژنه ئې مه!! نو شيطان د خداى له حضوره ووت او ايوب ئې په دردوونكو دانو اخته كړ، ايوب په ايرو كې كښېناست او يو كودړى ئې راواخيست او ځان ئې پرې گراوو، مېرمنې ئې ورته وويل: آيا سره له دې چې خداى دا ټول مصيبتونه درباندې راوستل بيا هم ورته وفادار يې، په خداى لعنت ووايه او

ومره!! ايوب ورته وويل: ته د يوې بې عقلې ښځې په څېر خبري کوې، آيا يوازې ښه شيان به له خدايه مونږ ته رسېږي او بد نه؟!! د دغو ټولو مصيبتونو سره سره ايوب د خدای په اړه بده خبره ونه کړه. خو وروسته د ايوب په اړه ليکي: ايوب په شکايت کولو پيل وکړ، وئې ويل: په هغې ورځې هم لعنت چې زه په کې دنيا ته راغلم او په هغې شپې هم چې زه د مور په رحم کې پيدا شوم، کاش دا ورځ د تل لپاره هېره شي، د خدای له ياده هم ووځي!! ... محوه شي او نور نو د مياشتې په ورځو کې حساب نه شي!! ... په دې شپې لعنت ووايئ چې زما د زېږېدو سبب شوه او له دغو مصيبتونو سره مخامخ شوم، ولې په دې ورځ مړ نه شوم؟!! ... کاش مړ پيدا شوی وی...ځکه د مرګ په دنيا کې انسان آرامه وي او د شريرو خلکو له ځورونو خوندي، زنداني د زندان د ساتونکي چيغې نه ځوروي، غني او فقير يو شانې وي، غلام د ارباب له لاسه آزاد وي، ... ولې بايد پر هغو خلکو د ژوند رڼا ولګېږي چې په بدبختۍ کې ژوند کوي؟ ولې هغو خلکو ته مرګ نه راځي چې د مرګ په انتظار کې دي، داسې لکه څوك چې د ګنج په لټه کې وي؟ ... ګورئ چې دلته ايوب عليه السلام داسې ښودل شوی: له خپل پيدايښته بې زار، مرګ تر ژوند غوره ګڼي او تمنی ئې کوي، د هغو خلکو په پېدا کولو اعتراض لري چې بدمرغيو کې ژوند کوي!! دا خبري نه له يوه پيغمبر سره ښايي او نه له يوه صابر بنده سره، دا يوازې د يوه شاکي او بې صبره بنده خبري کېدی شي.

د بايبل په دې ويناوو کې څو خبري د پام وړ دي:

- شيطان داسې معرفي کوي چې کولی شي د ملائکو په څنګ کې د الله تعالی په حضور کې په وار وار ودرېږي، د خبرو کولو مجال او د الله تعالی د مخلصو بندګانو د ځورولو او په مصيبتونو د دوی د اخته کولو اجازه تر لاسه کړي!! دا خبري نه له الهي کتابونو سره اړخ لګوي او نه د الله تعالی له شأن سره، له مقربو فرشتو سره يو ځای د الله تعالی په حضور کې د شيطان په وار وار حاضرېدل او د الله تعالی د يوه مخلص او صالح بنده د ځورولو اجازه تر لاسه کول، له ديني ارشاداتو سره متصادمه رأيه ده، الله تعالی له دې ډېر لوړ دئ چې شيطان په خپل حضور کې ومني او هغه ته د مصيبتونو د نازلولو واك ورکړي، قرآن، شيطان داسې معرفي کوي چې الله تعالی رټلی، لعنت ئې پرې ويلی او آسمان ته د ختلو لار ئې پرې تړلې. همدا راز قرآن فرمايي چې په آسمان او زمکې کې الله تعالی داسې څوك نه دئ پيدا کړی چې د ګټې او تاوان رسولو واك ئې هغه ته سپارلی وي، شيطان خو پرېږده مقربو فرشتو او پيغمبرانو عليهم السلام ته هم دا واك نه دئ ورکړی شوی. په الهي دين کې د شرك او توحيد تر منځ توپير په دې کې دئ چې يو ئې الله تعالی ټولواك ګڼي او بل ئې د الله تعالی تر څنګ نور ذوات د واك خاوندان او د الله تعالی شريکان.
- له يوې خوا ايوب عليه السلام د يوه شاکر او صابر بنده په توګه معرفي کوي خو له بلې خوا ئې د يوه شاکي، ناراضه او د الله تعالی په پرېکړو د اعتراض لرونکي په توګه!! له يوې خوا ده ته دا خبره منسوبوي چې مېرمنې ته ئې وويل: آيا له خدايه به يوازې ښه شيان رارسي او بد شيان نه؟ خو له بلې خوا ئې داسې معرفي کوي چې په الله تعالی باندې سخت اعتراض

لري چي ولې ئې له کړاوونو سره مخامخ کړی!! خو قرآن د ايوب عليه السلام په اړه فرمايي:

- او ايوب درياد کړه چي کله ئې خپل رب ته داسي دعاء وکړه: ما ته تکليفونه رارسېدلي او ته تر هر رحم کوونکي ډېر مهربان يې! نو د ده دعاء مو قبوله کړه او هغه کړاو مو ترې دفع کړ چي پرې اخته شوی وو، د ده کورنۍ مو ورکړه او له مثل سره ئې، زموږ له لوري د يوې پېرزويني په توگه او عابدانو ته د يوه تذکار او يادونې په توگه.
- گورئ چي دلته ايوب عليه السلام د الله تعالی د واقعي بندگانو لپاره د يوې بېلگې په توگه معرفي شوی، خپل رب ته يوازې دومره وايي: په مصيبت اخته شوی يم او ته تر هر مهربان زيات مهربان يې!! په الفاظو کې ئې شکايت خو پرېږده حتی دا هم نشته چي مصيبت رانه لري کړه، بلکي د دې له يادولو ئې ډډه کړې او هغه ئې د خپل مهربان رب پېرزويني ته پرېښې، خو بايبل له يوې خوا ده ته دا خبره منسوبوي چي وئې ويل: د مور له رحمه لوڅ دنيا ته راغلم او لوڅ به ځم، خدای راکړي وو او خدای واخيستل، د خدای نوم دې مبارك وي!! خو له بلې خوا ليکي چي په دې وخت کې ايوب پاڅېدو، له ډېره ويره ئې خپلي جامې څيري کړې، د سر وېښتان ئې وخرييل او د خدای په وړاندې په خاورو کې ورغښت!!! او تاسو پوهېږئ چي د يهودانو له نظره د سر وېښتان خرېيل د بغاوت او عصيان ستره نښه ده!! يوه کس ته په يوه وخت کې دا دواړه خبري منسوبول صريح تناقض دئ.

قرآن د ايوب عليه السلام په اړه فرمايي چي هغه نېك انسان، صبرناك او الله تعالی ته ډېر مخه کوونکی وو:

وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلشَّيْطَٰنُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾ ٱرْكُضْ بِرِجْلِكَ ۖ هَٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَشَرَابٌ ﴿٤٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٤٣﴾ وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَٱضْرِب بِّهِۦ وَلَا تَحْنَثْ ۗ إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ ٱلْعَبْدُ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٤٤﴾ ص

او زموږ بنده ايوب درياد کړه، کله چي ئې خپل رب ته غږ کړ: شيطان په کړاو او عذاب اخته کړی يم، (ورته ومو ويل): په خپلې پښې سره ئې ووهه، دا ئې د غسل سوړ ځای او څښاك، او ده ته مو د ده ټول ټبر او له هغوی سره ورته ئې ورپه برخه کړل، زموږ له لوري يوه پېرزوينه او د عقلمنو لپاره يو پند، او په خپل لاس يوه گېډۍ واخله او وهل پرې وکړه او لوړه دې مه ماتوه، يقيناً چي هغه مو صبرناك وموند، غوره بنده، يقيناً چي هغه ډېر رجوع کوونکی وو.

بايبل د ايوب عليه السلام مېرمني ته دا وينا منسوبوي چي گواکې هغې ايوب عليه السلام ته وويل: آيا سره له دې چي خدای دا ټول مصيبتونه درباندې راوستل بيا هم ورته وفادار يې، په خدای لعنت ووايه او ومره!!

په يقين سره ويلی شو چي په اصلي تورات کې به د ايوب عليه السلام يادونه په همغه

توګه شوې وي چې په قرآن کې راغلې، خو د بایبل کمزوري لیکوال له هغه داسي بې محتوی قصه جوړه کړې! که د بایبل لیکوال په دې قصې کې د قرآن اسلوب غوره کړی وی، ایوب علیه السلام ئې د صبر او قناعت بېلګه، مېرمن ئې د وفادار دوست په توګه، زامن او خپلوان ئې د بې وفا خپلوانو او دوستانو په توګه او دا څلور کسان ئې داسي انځور کړي وی چې یو ئې د مصیبتونو او کړاوونو په وخت کې په مصیبتونو اخته دوست ملامتوي او مصیبتونه د ده د اشتباهاتو او ګناهونو نتیجه ګڼي، بل ئې له کړاوونو د وتلو لپاره د غلطو لارو چارو غوره کولو ته هڅوي او بل ئې په خپلو کړنلارو کې تجدید نظر ته تشویقوي، د قصې په ترڅ کې ئې د شیطان ونډه ښه تمثیل کړې وی او الله تعالی ئې هغسي معرفي کړی وی چې له هغه سره ښایي، نو دا کتاب به د بایبل تر ټولو غوره او مفید کتاب وو، خو متأسفانه هغه اشتباه کړې او قصه ئې په ناسم لوري غزولې ده.

د بایبل د نظر په خلاف قرآن شیطان داسي معرفي کوي چې کار ئې یوازي د انسان وسوسه کول، ګناه او بد کار ته هڅول، بد عزایم او غلط افکار ئې په سینه کې راپیدا کول دي، نه پر انسان څه تسلط لري او نه د تاوان او ضرر رسولو توان.

د حوادثو، مصیبتونو او پېښو په اړه څلور نظریې وړاندي کېږي:

- یوه د بایبل دغه نظریه چې وایي: په انسان باندي چې کوم مصیبتونه راځي؛ دا د شیطان کار دئ؛ خدای شیطان ته دا اجازه ورکوي چې انسان له کړاوونو او مصیبتونو سره مخامخ کړي.
- بله دا چې انسان د خپلو ګناهونو په سبب له مصیبتونو سره مخامخ کېږي، هر په مصیبت اخته انسان په حقیقت کې یو ګناهګار انسان دئ!! دا څکه چې مصیبتونه یوازي یو عامل لري او هغه د انسان ګناه ده او بس.
- دریمه نظریه هغه ده چې وایي: ټولې پېښې تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سیلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښې؛ د یوه انسان له عادي بیمارۍ نیولې تر هغو لویو لویو پېښو چې په میلونونو خلك ترې متاثره شي، دا ټول طبیعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هیڅ تعلق نشته، هم ګناهګار نیسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کې څه ونډه لري او نه ئې ښه عملونه په مخنیوي کې.
- خو قرآن فرمایي چې د ښه او بد، راحت او مصیبت، نعمت او نقمت پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نه شیطان په دې کې څه تصرف او مداخله کولی شي او نه په زمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته بل څوك. د هري پېښې پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولني سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخي ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښې دي او نه واړه واړه مصیبتونه، کله د انسان بد عملونه د دې مصیبتونو د راتلو باعث وي او نېك عملونه ئې د تم کیدو باعث او کله الله تعالی غواړي د مصیبتونو

په ترڅ کې انسان وروزي، کمال ته ئې ورسوي او هغه استعدادونه په کې راویښ او ځلانده کړي چې یوازې له کړاوونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې په انسان کې وده کوي، لکه هغه ماشوم چې په لومړي ځل په خپلو پښو تگ زده کوي نو په وار وار لوېږي او لټېږي او په همدغو لوېدلو او لټېدلو کې د ده روزنه کېږي، ډېر څه ورښودل کېږي، هډوکي ئې مضبوطېږي او په لوړو ژورو کې د تلو هنر زده کوي.

قرآن فرمايي:

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٍ ۝٣٠ الشورى

او په کوم مصیبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاس ته راوړنو په وجه دي او له ډېرو ئې (الله) تېرېږي.

دا آیت په ډېر صراحت او قاطعیت سره وايي چې مصیبتونه ستاسو د کړنو او عملونو په سبب راځي او دا چې دا ستاسو د گناهونو یوازې د یوې برخې سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوې په ځای د عدل له مخې معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصیبتونه دربانديي نازل کړي وو.

همدا راز فرمایي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ۝١١ التغابن

هیڅ مصیبت نه راځي مگر د الله په إذن؛ او څوك چې پر خدای ایمان لري، زړه ئې ورهدایت کړي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

دا آیت هم په ډېر تأکید او قاطعیت سره وايي چې هیڅ مصیبت په خپل سر او تصادفي نه راځي، د الله په حکم او إذن راځي، د ایمان خاوندان ئې په وجه او حقیقت پوهېږي او په دې اړه ئې الله زړونه روښانه کوي او له شك او اعتراض ئې خوندي ساتي.

---

وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِدۡرِيسَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ كُلّٞ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ۝٨٥ وَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ فِي رَحۡمَتِنَآۖ إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ۝٨٦

او اسمعیل، ادریس او ذالکفل، چې هر یو ئې له صابرانو وو، او موږ په خپل رحمت کې ننایستل، یقیناً چې له صالحانو ول.

---

(٨٥-٨٦)- دلته د دریو نورو پیغمبرانو یادونه شوې او دا ئې ځانگړتیاوې ښودل شوې: صابران ول، د الله تعالی د رحمت وزر پرې غوړېدلی وو او صالحان ول، په دوی کې اسمعیل او ادریس علیهما السلام مشهور پیغمبران دي خو د ذالکفل په اړه د مفسرینو بېل بېل آراء زموږ مخې ته راځي، د دغو آراءو له منځه د یوې غوراوی ممکن نه دئ، د ترجیح لپاره کوم

مضبوط دليل ورته نه شو موندلی. دې ته مو پام وي چي په ورپسې آيت کې يونس عليه السلام د ذالنون (کب وال) په نامه ياد شوی، له دې معلومېږي چي ذاالکفل (بختور يا برخمن) هم لقب دئ نه اصلي نوم، خو دا چي دا به د چا لقب وي څه نه شو ويلی.

وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبٗا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٧ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨

او هغه کب وال چي کله غضبناك روان شو او گمان ئې وکړ چي مونږ به هيڅکله تنگي پرې رانه ولو، نو په تيارو کې ئې غږ کړ: له تا پرته بل معبود نشته، پاکې تا ته ده، يقيناً چي زه له ظالمانو وم!! نو د ده دعاء مو قبوله کړه او له غمه مو وژغورو او مؤمنان همداسي ژغورو.

(۸۷-۸۸)- په دې مبارکو آيتونو کې د يونس عليه السلام د دعاء د اجابت او له کړاوونو د نجات قصه د بلې تاريخي بېلگې په توگه انځور شوې، ده ته د (ذالنون: کبوال لقب) ورکړی شوی، يعني هغه يونس چي ستر کب له خپل ستوني ژوندی تېر کړی وو، هغه چي د خپل قوم مخالفتونو غصه کړی وو، وړاندې تر دې چي خپل مأموريت بشپړ کړي، د خپل قوم له ايمان راوړو ناهيلی شو او ترې ولاړ، گمان ئې دا وو چي کېدی شي په دې سره له هغه ستونزمن او له کړاوونو ډك ژوند وژغورل شي، په بل ځای کې سوکاله او له مخالفتونو فارغ ژوند ورپه برخه شي، خو د خپل گمان خلاف د سيند څپو ته وغورځول شو او کب له خپل ستوني تېر کړ!! ړنا ورځ ئې تياره شپه شوه، غمونو او اندېښنو خپل تور وزر پرې وغوړاوو، دغه مهال خپلې اشتباه ته متوجه شو، خپل رب ته ئې دعاء وکړه: الهي! يوازينی معبود ته يې، زما په اړه ستا پرېکړه عادلانه ده، زه پرې قانع يم او اعتراض نه لرم، اعتراف کوم چي له ما تېری شوی!! الله تعالی ورته عفو وکړه، د کب له نسه روغ رمټ ووت، خپل قوم ته ستون شو، هغوی الهي عذاب د نازلېدو په حال کې ليدلی وو، ايمان ئې راوړ او الله تعالی هغه عذاب تم کړ.

د آيت په پای کې ويل شوي: نو د ده دعاء مو قبوله کړه او له غمه مو وژغورو او مؤمنان همداسي ژغورو. يعني همدا د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت دئ، د مؤمنانو توبه او دعاء به داسي قبلوي لکه چي د يونس عليه السلام توبه او دعاء ئې قبوله کړه، مؤمنان به له کړاوونو داسي ژغوري لکه چي يونس عليه السلام ئې وژغورو.

وَزَكَرِيَّآ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٨٩ فَٱسۡتَجَبۡنَا

لَهُۥ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ يَحۡيَىٰ وَأَصۡلَحۡنَا لَهُۥ زَوۡجَهُۥٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾

او زکریا چې خپل رب ته ئې (د دعاء په توګه) غږ کړ: اې زما ربه! ما یوازې مه پرېږده او ته تر ټولو غوره وارث یې. نو د ده دعاء مو قبوله کړه او یحیی مو ورپه برخه کړ او د ده مېرمن مو ورته ورغوله، یقیناً چې دوی په ښېګنو کې تلوار کولو او له رغبت او وېرې سره ئې موږ ته دعاء کوله، او زموږ په وړاندې خشوع کوونکې ول.

(۸۹-۹۰)- دلته له یوې خوا د زکریا علیه السلام دعاء، د الله تعالی له لوري د ده د دعاء اجابت، په زړښت کې ده ته د یحیی علیه السلام په څېر زوی ورکول او شنډه مېرمن ئې د زېږولو جوګه کول، د دعاء د قبلېدو د یوې بلې تاریخي بېلګې په توګه زموږ مخې ته اېښودل شوې، او له بلې خوا د یوې مؤمني او صالح کورنۍ ځانګړتیاوې په دې توګه راښيي:

- په ښېګنو کې تلوار کوي.
- له رغبت او وېرې سره خپل رب لمانځي او د هغه په وړاندې دعاء کوي.
- د الله تعالی په وړاندې خاشع او خاضع وي.

وَٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلۡنَٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩١﴾

او هغه (مېرمن) چې د خپل عورت او عفت ساتنه ئې وکړه، نو موږ خپله روح په کې پو کړه، او موږ دا او د دې زوی د عالمیانو لپاره یوه ښکاره نښه وګرځوله.

(۹۱)- له هغه وروسته چې د مخکینیو انبیاوو علیهم السلام د عبرتناکو قصو په ترڅ کې؛ د دعاګانو د اجابت او د حق د لارې له داعیانو سره د الله تعالی د مرستو ګڼ شمېر تاریخي بېلګې زموږ په وړاندې انځور شوې، د دغو قصو په لړ کې او د وروستۍ بېلګې په توګه د مریمې علیها السلام داسې یادونه شوې: هغه مېرمن چې د خپل عورت او عفت ساتنه ئې وکړه، نو الله تعالی دغې پاک لمنې او عفیفې مریمې ته په خارق العاده توګه زوی ورکړ، دا او د دې زوی ئې د ټولو عالمیانو لپاره یوه ښکاره نښه وګرځوله.

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٩٢﴾

یقیناً چې همدا ستاسو امت دئ، یوازینی امت؛ او زه مو رب یم؛ نو زما عبادت وکړئ.

(۹۲)- دلته د قرآن مخاطبینو ته ویل شوي چې همدا ستاسو امت دئ، یوازینی امت، لړۍ

ئې له آدم عليه السلام پيل شوې، د تاريخ په اوږدو کې بېلو بېلو پيغمبرانو د دوی لارښوونه کړې، د ټولو لار يوه وه، له ټولو سره د الله تعالی معامله يو شاني وه، کوم څه چې ئې له مخکينيو سره کړي له تاسو سره ئې هم کوي، که په سختو حالاتو کې ئې د هغوی دعاګانې قبولې کړي، له کړاوونو د وتلو لار ئې ورته پرانيستې او د دښمنانو په وړاندې ئې د دوی مرسته کړې، ډاډه اوسئ چې له تاسو سره به همداسې کوي. ستاسو ټولو رب يو دئ، ستاسو اسلاف د همدې يوازيني رب عبادت کاوو؛ تاسو هم د خپل رب پر عبادت ګمارل شوي يئ.

وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ ۝٩٣ فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ۝٩٤

او په خپلو منځونو کې ئې خپل کار (ملت او دين) ټوټې ټوټې (بېل بېل) کړ، ټول زموږ په لور راګرځېدونکي دي، نو چا چې نېك عملونه وکړل په داسې حال کې چې هغه مؤمن وي نو د هغې ناسپاسي به ئې نه کېږي، او موږ ئې ورته ليکونکي يو.

(۹۳-۹٤)- په داسې حال کې چې د ټولو ملت او دين يو دئ، ټولو ته د الله تعالی وينا دا وه چې زه مو رب يم او يوازې زما عبادت وکړئ، خو ځينو د تفرق لار غوره کړه، هم ئې واحد امت ټوټې ټوټې کړ او هم ئې واحد دين، که څه هم دوی په بېلو بېلو کړو لارو سر شول خو په پای کې به د الله تعالی په وړاندې راپوځای کېږي، مرجع ئې يوه ده، د مزل پای يو دئ، د الله تعالی په وړاندې ودرېدل، نېکان د تاريخ د ټولو نېکانو په څنګ کې او بدان د تاريخ د ټولو بدانو په خوا کې، هغه مهال به هر څوك په خپلو سترګو وګوري چې د صالح مؤمنانو د هڅو قدرونه کېږي، په دنيا کې ئې ټولې کړنې ليکل کېدې او د قيامت په ورځ به ئې پايلې خپلې مخې ته حاضر ومومي.

وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ۝٩٥ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ ۝٩٦ وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ۝٩٧

او پر يوه داسې کلي چې موږ هلاك کړی دا حرامه ده چې بېرته به نه راګرځي، تر هغه چې يأجوج او مأجوج پرانيستل شي، په داسې حال کې چې له هرې لوړې به راکوزېږي.

او هغه رښتينې وعده به رانژدې شوې وي، نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګې رډې رډې پاته شي چې کفر ئې کړی (وايي به) افسوس زموږ په حال؛ يقيناً چې موږ له دې غافل وو؛ بلکې ظالمان وو.

(۹۵-۹۷)- د دې مبارکو آيتونو په اړه څو خبرې دقت او توجه غواړي:

د ۹۵ آيت څو تعبيرونه په تفسيرونو کې مومو، ځينې وايي: د کوم کلی خلك چې د کفر او عصيان له کبله هلاك کړی شي دنيا ته بېرته راګرځېدا پرې حرامه ده، ځينې وايي: ايمان او توبې ته راګرځېدا پرې حرامه ده، د توبې کولو او د ايمان راوړو توفيق به ئې هيڅکله په برخه نشي، ځينو (حَرَام) د (حِرم او عزم) په معنی اخيستی او آيت ئې داسې تعبير کړی: کله چې الله تعالی د يوه کلي د هلاکولو إراده وکړي نو هيڅکله به د ايمان او توبې په لوري راونه ګرځي، په دغو تعبيرونو کې ځينې داسې دي چې ډېر کمزوري برېښي، له هلاکت وروسته بېرته دنيا ته راتګ او يا د توبې توفيق تر لاسه کول؛ داسې څه نه دي چې په اړه ئې څه ويل ضروري وي، طبيعي ده چې داسې خلك نه د توبې مجال لري او نه ئې تر قيامت وړاندې د بيا ژوندون ګمان او تصور کېدی شي، په ځينو کې (لا) زائد ګڼل شوې او لايرجعون د يرجعون په معنی اخيستل شوې او آيت داسې ژباړل شوی: او پر يوه داسې کلي چې موږ هلاك کړی حرامه ده چې بېرته راوګرځي (ايمان ته، يا توبې ته، يا دنيا ته، او يا خپل مخکينې مقام ته)، ځينې ئې داسې دي چې شاذ قرائت معتبر ګڼل شوی او د لفظ غير معروفه ژباړه شوې، خو که دا آيت د مخکينيو آيتونو په رڼا کې وڅېړو نو د (يرجعون) معنی همغه ده چې په ۹۳ آيت کې راغلې (کل الينا راجعون: ټول زموږ لوري ته راګرځېدونکي دي)، هلته په دې مطلب پسې متصل ويل شوي چې د صالح مؤمنانو د هڅو ناسپاسي به نه کېږي، خو هلته د کافرانو د هڅو په اړه څه نه دي ويل شوي، له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چې نو له کافرانو او له هغو سره به څه کېږي چې الله تعالی هلاك کړي؟ په دغه آيت کې دغې پوښتنې ته ځواب ويل شوی او د آيت مطلب دا دئ: دوی به هم د الله تعالی په لوري درومي، د الله تعالی په لوري نه ګرځېدا پرې حرامه ده. دا ثابته او نه بدلېدونکې الهي پرېکړه ده، دوی به هغه مهال له نورو سره يو ځای د الله تعالی په وړاندې ودرېږي چې قيامت راشي، د قيامت تر راتلو وړاندې به د يأجوج او مأجوج هغه ستره فتنه راڅرګنده شي چې د فساد او تباهي خورولو لپاره به له هرې لوري راکوزېږي. تر هغه به دوی په خپلو قبرونو کې پراته وي چې يأجوج او مأجوج بيا د فساد خورولو مجال تر لاسه کړي، دا لار يو ځل بيا ورته پرانيستل شي، هغه مهال به بيا پر نورو سيمو د دوی يرغل پيل شي، يرغل به ئې داسې وي چې له هرې لوري به راکوزېږي او بريدونه به کوي، خو دا به هغه مهال وي چې قيامت به ډېر رانژدې شوی وي، او د الله تعالی په وړاندې د دوی ودرېدا به ډېر ژر تر سره شي.

ځينو له دغې فقرې (حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ: تر هغه چې يأجوج او مأجوج

پرانیستل شي، دا انتباه اخیستې ده چې ښايي د ذوالقرنین هغه سد به د قیامت تر رانژدې کېدو پورې همداسې روغ پاته وي او د یأجوج او مأجوج د راتېرېدا مخه به نیسي؛ خو هغه مهال به نسکور شي او دوی ته به د تېرېدا او پر نورو د یرغلونو مجال په لاس ورشي. خو دا انګېرنه له یوې خوا د آیت له الفاظو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه آیت وايي چې هغه مهال به دوی له هرې لوري راکوزېږي، یوازې د هغه یوه بند له لوري د راکوزېدا خبره نه کوي، له بلې خوا دا جوته ده چې دلته د دوی د شمېر زیاتوالي ته اشاره شوې او د دومره زیاتو خلکو مخنیوی په یوه ووړ بند، هغه هم د یوې ورې سیمې په یوه ناو او خوړ کې نه ممکن دئ او نه ئې عقل مني، له بلې خوا دا انګېرنه له الهي سننو سره اړخ نه لګوي، قومونه مري، ستر ستر او مضبوط مضبوط بندونه د وخت په تېرېدو سره شړېږي او نسکورېږي، د انسان وسائل او امکانات وده کوي، یو وخت په اوبو کې تګ، له غرونو اوښتل، په هوا کې الوتل ورته محال وو، خو اوس په لویو لویو سمندرونو کې اوږده اوږده سفرونه کولی شي، له غرونو او بندونو تېرېدا څه چې له یوې وچې بلې ته د هوا له لارې درومي، فضاء ته سفرونه کوي او پر سپوږمۍ کوزېږي. د قرآن د یوه آیت داسې تعبیر چې له واقعیتونو سره اړخ نه لګوي نه یوازې صحیح تعبیر نه دئ بلکې د دې ستر او عظیم الشأن الهي کتاب په اړه بې ځایه شکونه راولاړوي. قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چې دا ټول عالم ئې پیدا کړی او له ټولو اسرارو ئې خبر دئ، په دې کتاب کې یوه کلمه داسې نشته چې د واقعیتونو خلاف وي او د انسان عقل ئې نشي منلی. یأجوج او مأجوج د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، ژوند او مرګ لري، د دوی په اړه به همغه څه وایو چې په بل هر انسان ئې اطلاق کېدی شي، د قرآن له نظره دا یو مفسد قوم وو، په ځمکې کې ئې فساد او تباهي خوروله، د دوی خوا ته پراته خلك ترې تنګ ول، تل به ئې پر دوی غلچکي بریدونه کول او بېرته به تښتېدل، دوی ذو القرنین ته شکایت وکړ، هغه د دغو بریدونو د مخنیوي لپاره په یوه ناو کې داسې اوسپنیز بند او سد جوړ کړ چې د هغوی بریدونه ئې تم کړل. دا د هغه مهال یو مؤثر تدبیر وو، د دې معنی دا نه ده چې همدا سد به تر قیامت پورې د دوی مخنیوی کوي. د دې تفصیل د الکهف په سوره کې وګورئ.

که له علمي او تاریخي پلوه دې آیت ته ځېر شو نو یقیناً چې دا د قرآن داسې یوه وړاندوینه ده چې څو پېړۍ وروسته تر سره شوه، د مغولو هغه پراخ یرغل ئې مصداق دئ چې په ترڅ کې ئې په لکونو مسلمانان ووژل شول، ستر ستر ښارونه ئې وران شول، لوی لوی جوماتونه ئې نسکور شول، بې شمېره کتابونه او کتابتونونه وسوزول شول او د ډېرو مظلومو مسلمانانو د وینو سیلابونه روان شول. ښايي تر قیامت وړاندې یو ځل بیا دا قومونه فساد ته مخه کړي او د قرآن د دغې وړاندوینې مصداق وګرځي.

دا آیت وايي چې د یأجوج او مأجوج فتنه به هغه مهال رامنځته شي چې قیامت به ډېر نژدې شوی وي، د دوی یرغل به دومره پراخ وي چې هر لوري ته مخه کړې نو وبه ګورې چې دوی له هرې لوري راکوزېږي، آیت داسې وايي: "او هغه رښتیني وعده به رانژدې شوې

وي، نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګې رډې رډې پاته شي چې کفر ئې کړی، (وايي به) افسوس زموږ په حال؛ يقيناً چې موږ له دې غافل وو؛ بلکې ظالمان وو". يعني کافران به په ناڅاپي توګه او د خپلو انګېرنو خلاف د قيامت هيبتناکې صحنې وګوري، هغه مهال به اعتراف کوي چې له حقائقو غافل ول او د ظلم لار ئې غوره کړې وه.

إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمۡ لَهَا وَٰرِدُونَ ﴿٩٨﴾ لَوۡ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةٗ مَّا وَرَدُوهَاۖ وَكُلّٞ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٩٩﴾ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَهُمۡ فِيهَا لَا يَسۡمَعُونَ ﴿١٠٠﴾

يقيناً چې تاسو به او هغه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ د دوزخ سون وئ، تاسو به ورننوتونکي وئ، که دوی معبودان وی نو نه به ورننوتل، او ټول به په کې تلپاته وي، هلته به ئې زګېروی او کوکاري وي او دوی به په هغه کې څه نشي اورېدی.

(۹۸-۱۰۰)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت په ورځ د دوزخي مشرکينو او د دوی د جعلي معبودانو حالت داسي انځور شوی:

- دوی او هغه جعلي معبودان به ئې چې له الله پرته ئې لمانځل د دوزخ سون وي. دې ته مو پام وي چې حصب په اصل کې وړو ډبرو ته ويل کېږي، د دوزخ سون به ډبري او دوزخيان وي، د دې تفصيل د البقره د سورې د ۲٤ آيت په تفسير کې وګورئ. د مشرکينو بتان هم له ډبرو جوړ شوي وو.
- دوزخ ته د دوی ننوتل به ورته جوته کړي چې نه دا جعلي معبودان د عبادت وړ وو او نه د مشرکينو شرکي مذهب صحيح او د منلو وړ، دا دئ ګورئ چې دواړه په دوزخ کې پراته دي.
- په دوزخ کې به ټول تلپاته وي، هيڅکله به ترې وتلی نشي.
- هلته به زګېروي کوي او چيغي او کوکاري به وهي، د دوی زګېرويو او د دوزخ لمبو به داسي شور جوړ کړی وي چې دوزخيان به څه نشي اورېدی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ لَهُم مِّنَّا ٱلۡحُسۡنَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُونَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسۡمَعُونَ حَسِيسَهَاۖ وَهُمۡ فِي مَا ٱشۡتَهَتۡ أَنفُسُهُمۡ خَٰلِدُونَ ﴿١٠٢﴾ لَا يَحۡزُنُهُمُ ٱلۡفَزَعُ ٱلۡأَكۡبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا يَوۡمُكُمُ ٱلَّذِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾

يقيناً هغه چې زموږ له لوري لا له وړاندي حسنی (ښېګڼه) ورته ټاکل شوې، ترې لرې کړی شوي، د لمبو کښهار به ئې نه اوري او دوی به په تلپاته توګه په هغه څه کې وي

چې زړه ئې غواړي. هغه لويه وېره به ئې غمجن نه کړي، ملائکې به (له دې وينا سره) د دوی ملاقات کوي چې: دا ستاسو همغه ورځ ده چې وعده ئې درکول کېده.

---

(۱۰۱-۱۰۳)- په دې مبارکو آيتونو کې د جنتيانو په اړه ويل شوي:

- الله تعالی د دوی په اړه لا له وړاندي پرېکړه کړې چې ښکلې بدله او پايله به ئې په برخه شي. دا ښکلې پايله د حسنی په نامه ياده شوې، چې ښکلا او غوره والی افاده کوي. يعني ښکلی جنت او ښايسته مقام به ئې په برخه شي.
- له دوزخه به دومره لري وي چې نه به ئې تاو وررسي او نه به ئې د اور د لمبو کښهار.
- تل به ئې هغه څه په برخه کېږي چې د دوی زړه ئې غواړي.
- د قيامت د ورځي هيبتناك او وېرونکی حالت به دوی غمجن او اندېښمن نه کړي.
- ملائکې به په داسي حال کې ورسره مخامخ کېږي چې دوی ته به وايي: دا همغه څه دي چې په دنيا کې ئې له تاسو سره وعده شوې وه.

---

يَوۡمَ نَطۡوِي ٱلسَّمَآءَ كَطَيِّ ٱلسِّجِلِّ لِلۡكُتُبِۚ كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٠٤﴾

هغه ورځ چې آسمان به داسي راونغاړو لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل، لکه چې لومړی پيدايښت مو پيل کړ بيا به ئې اعاده کړو، دا زموږ پر ذمه يوه ژمنه ده، يقيناً چې موږ ئې کوونکي يو.

---

(۱۰٤)- د دې مبارك آيت مهمي لارښوونې دا دي:

- الله تعالی به د قيامت په ورځ آسمان داسي راونغاړي لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل.
- بيا به الله تعالی د لومړي پيدايښت په څېر يو ځل بيا نوی آسمان او نوې زمکه پيدا کړي.
- الله تعالی دا په خپله ذمه اخيستې ده چې قيامت به راولي، د عالَم دا خور ټغر به ټولوي او نوی عالَم به پيدا کوي، دا د ده قطعي ژمنه ده، هرومرو به ئې تر سره کوي.

دې ته مو پام وي چې دلته د آسمانونو رانغاړل د ليکل شوو پاڼو له رانغاړلو سره تشبيه شوي، په سطحي نظر سره خو دا تشبيه داسي برېښي لکه چې د خور آسمان ټغر به ټول شي او له منځه به ولاړ شي، خو د قرآن په دغي تشبيه کې يو ستر علمي اعجاز مضمر دئ؛ او هغه داسي: زموږ شمسي نظام او اړوند ستوري ئې يوې داسي دائرې ته ورته دي چې لمر ئې په منځ کې او ستوري ئې پر شاوخوا په يوې آواري سطحي کې خوځي، مثال ئې داسي دئ لکه چې تاسو څو پړي درواخلئ، چې اوږدوالی ئې توپير لري، د هر پړي په سر کې يوه گرده ډبره وتړئ، بيا دا پړي په زور سره داسي تاو کړئ چې ستاسو شاوخوا وڅرخي، وبه گورئ چې ټول په يوې سطحي کې څرخي، هم د پړو استقامت او سطح يوه ده او هم د ډبرو؛ د لمر اړوند

ستوري همداسي د لمر شاوخوا ځرخي، بيا زموږ شمسي نظام په مجموع کې د يوه بل محور شاوخوا همداسي خوځي، زموږ اړوند ستور ليکی همداسي جوړښت لري، ټول ستوري ئې په يوې سطحي کې پراته دي، د عالم ټول ستور ليکي دې ته ورته هيئت لري، يعني په ډېري پراخي مستوی په يوې سطحي کې خوځي، نه زموږ شمسي نظام د توپ په څېر گرد دئ او نه زموږ ستور ليکی او نه د عالم ټول ستور ليکي په گډه، د دوی لپاره تر ټولو دقيقه او غوره تشبيه همدا ده چي له غوړېدلو پاڼو سره تشبيه شي، او رانغاړل ئې د پاڼي له رانغاړلو سره. که تاسو د شپې له لوري آسمان ته ځېر شئ نو د ستورو يوه داسي کرښه به وگورئ چي ليندۍ ته ورته برېښي، دا د ستور ليکو مجموعه ده، که ستور ليکي د يوې صفحې په څېر پراته نه وی نو داسي کرښه به نه تر سترگو کېده!! که دا آسمان له يوه حوض سره تشبيه کړو، نو د عالم د ټولو اجرامو د خوځېدو او خورېدو هيئت ئې دې ته ورته دئ چي تاسو د حوض په منځ کې کومه ډبره واچوئ، دا ډبره په اوبو کې د دائرې په بڼې کې څپې رامنځته کړي، چي هم ئې شمېر ورو ورو زياتېږي او هم ئې د دائرې پراخوالی، د اوبو پر سر چي د څپو کوم هيئت جوړېږي؛ دا عالم او ستور ليکي ئې دې ته ورته هيئت لري. د قرآن د دغي وينا په اهميت او عمق هغه څوك پوهېږي چي د سترو سترو تلسکوپونو په مرسته ئې د ستور ليکو هيئت د يوې سطحي او صفحې په بڼې کې موندلی.

وَلَقَدۡ كَتَبۡنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعۡدِ ٱلذِّكۡرِ أَنَّ ٱلۡأَرۡضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغٗا لِّقَوۡمٍ عَٰبِدِينَ ﴿١٠٦﴾

او يقيناً چي له توراته وروسته مو په زبور کې هم وليکل چي زمکه به زما صالح بندگان په ميراث وړي. يقيناً چي په دې کې عابدو وگړو ته يو (اغېزمن) تبليغ دئ.

(۱۰۵-۱۰٦)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکينيو بحثونو نتيجه او پايله په دې الفاظو بيان شوې:

- په مخکينيو الهي کتابونو؛ تورات او زبور کې د الله تعالی دا ثابت او دائمي سنت ليکل شوی چي زمکه به د الله صالح بندگان په ميراث وړي.
- په دې وينا کې د هغو عابدانو لپاره يو اغېزمن تبليغ دئ چي د خپل رب د بندگۍ لار ئې غوره کړې. دوی بايد ډاډه وي چي الله تعالی به خپله زمکه دوی ته په ميراث ورکوي.
- د مخکينيو تاريخي قصو په ترڅ کې دغه ځلانده حقيقت او د الله تعالی دغه ثابت او دائمي سنت انځور شوی وو، د هري قصې په پای کې مو وليدل چي د الله تعالی دغه نه بدلېدونکې پرېکړه تر سره شوې وه او صالح بندگانو ته زمکه په ميراث رسېدلې وه.
- که تاسو د قرآن دا وينا د بايبل له هغي وينا سره مقايسه کړئ چي وايي: خدای له ابراهيم عليه السلام سره ژمنه کړې وه چي د شام او فلسطين سيمه به د ده اولاد ته په

میراث ورکوي، دا ژمنه د یوه خوب په ترڅ کې له ده سره شوې وه!! او قرآن وايي چې الله تعالی له کوم خاص قوم او قبیلې سره نه بلکې د نړۍ له ټولو صالحو بندګانو سره وعده کړې چې زمکه به دوی ته په میراث ورکوي، د بایبل او د قرآن د وینا تر منځ هومره ژور توپیر شته لکه د زمکې او آسمان تر منځ، لکه د الله تعالی د کلام او د یوه متعصب انسان د کلام تر منځ!! یو وايي چې زمکه د ټولو صالحانو ګډ کور دئ او بل وايي چې خدای له فلان کس سره ژمنه کړې چې د زمکې دا پراخه برخه ستا نسل ته سپارم!! او د دې زمکې قباله په خوب کې ورکړی شوې، لیکلی سند هم نه لري!! نن اسرائیلیان په همدې خوب استناد کوي او نور قومونه له هغې سیمې شړي، کورونه ئې ورورانوي او بېرته ستنېدو ته ئې نه پرېږدي!!

دې ته مو باید پام وي چې د دې الهي سنت معنی دا نه ده چې هر هغه څوك صالح دئ چې اقتدار ئې په لاس کې وي او د زمکې په کومې برخې حکومت کوي، ګواکې په هرې سیمې او هېواد کې تر ټولو غوره او د حکومت کولو لپاره تر نورو زیات وړ او مناسب خلك هغه دي چې اقتدار ئې په لاس کې دئ!! قرآن د صالح او طالح لپاره ځانګړي معیارونه لري، د هر یوه فکري او اخلاقي مواصفات او ځانګړتیاوې ئې موږ ته راښودلې، نه یوازې دا چې اقتدار او واکمني د ښه او وړتیا معیار او ملاك نه ګڼي بلکې اکثراً د اقتدار خاوندان، مترفین او مستکبرین د فساد او ورانۍ اصلي عاملین بولي او دا د پیغمبرانو او موحدینو اساسي دنده ګڼي چې د دغو واکمنانو په ضد مبارزه وکړي او د ټولنې مستضعفین د دوی له منګولو وژغوري. د آیت معنی دا ده چې الله تعالی د زمانې په هر پړاو کې د صالحانو داسې ټولګی راپیدا کوي چې د مفسدو او ظالمو واکمنانو مقابله وکړي، الله تعالی له دوی سره دا ژمنه کړې چې زمکه به دوی ته په میراث ورکوي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٧﴾

او ته مو نه ئې لیږلی مګر د ټول عالم لپاره رحمت.

(۱۰۷)- دا مبارك آیت وايي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ټولو عالمیانو لپاره د رحمت په توګه لېږل شوی، په څو معنی:

- د ده رسالت عالم شمول دئ، ټوله نړۍ او ټول انسانان احتوی کوي، نه د یوې خاصې سیمې لپاره دئ او نه د کوم ځانګړي قوم لپاره.
- دی د رحمت پیغام له ځان سره لري، هغه څه ته بلنه ورکوي چې د رحمن رب د پراخ رحمت دروازه ستاسو پر مخ پرانیزي.
- هغه څوك به له الهي رحمت او پېرزوینې محروم وي چې دا د رحمت پیغمبر خپل امام ونه نیسي او د ده لارښوونې د خپل ژوند مشعل.

قُلۡ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٠٨﴾ فَإِن تَوَلَّوۡاْ

فَقُلْ ءَاذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَآءٍۖ وَإِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾

**ووايه: يقيناً چې له دې پرته بل څه نه دي چې ما ته دا وحي کېږي چې ستاسو معبود يوازينی معبود دئ، نو آيا تاسو مسلمانېدونکي يئ؟ نو که ئې مخ واړاوو نو ووايه: په سمه توګه مې درته اعلان کړه، او نه پوهېږم هغه څه به نژدې وي چې وعده ئې درسره کېږي او که لرې! يقيناً چې هغه هم په څرګندې وينا پوهېږي او هم په هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ.**

(١٠٨-١١٠)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته څو لارښووني شوې:

- مخاطبينو ته ووايه: زه يوازې دا خبره تاسو ته کوم چې د وحي له لارې ما ته ويل کېږي چې ستاسو معبود يوازينی معبود دئ، نه شريك لري او نه له ده پرته بل معبود شته. نو آيا تاسو دې ته چمتو يئ چې دا حقيقت ومنئ او د متعددو خدايانو له بندګۍ لاس واخلئ؟!!
- که دوی د دې حقيقت له منلو ډډه وکړه نو ورته ووايه: ما خپل پيغام په واضح او سمه توګه تاسو ته ورساوو، نور نو زه نه پوهېږم چې الله تعالی به له تاسو سره څه معامله کوي، هغه الهي وعيدونه به کله تحقق مومي چې تاسو ته متوجه دي، نه پوهېږم هغه څه به نژدې وي چې وعده ئې درسره کېږي او که لرې! زما رب هم ستاسو په څرګندو ويناوو پوهېږي او هم په هغه څه چې تاسو ئې پټوئ، د همدې علم له مخې به هم ستاسو د عذاب د څرنګوالي په اړه پرېکړه کوي او هم ئې د نېټې او وخت په اړه.

وَإِنْ أَدْرِى لَعَلَّهُۥ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

**او زه نه پوهېږم، ښايي دا به ستاسو لپاره يوه آزموينه وي او تر يوې نېټې برخمن کېدا.**

(١١١)- د مخکينيو لارښوونو په لړ کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته دا هم ويل شوي چې مخاطبينو ته ووايې: زه نه پوهېږم چې په الهي عذاب کې د ځنډ او تأخير سبب څه دئ، آيا په دې سره الله تعالی غواړي تاسو وآزمويي او که غواړي مزيد فرصت درکړي او پرېږدي مو چې څو ورځې نور هم د دنيا له مال او متاع برخمن شئ.

قَٰلَ رَبِّ ٱحْكُم بِٱلْحَقِّۗ وَرَبُّنَا ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾

**وئې ويل: اې زما ربه! رښتينې پرېکړه وکړه، او زموږ مهربان رب د هغه څه په وړاندې د استعانت مرجع دئ چې تاسو ئې وايئ.**

(١١٢)- دا مبارك آيت چې د سورې وروستی آيت او د سورې د مضامينو لپاره يوه ښکلې

او جامع تتمه ده، دوه خبرې زموږ په وړاندې ږدي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل دعوت په بهیر کې هغه ځای ته ورسېد چې د خپلو مخکینیو ورونو پیغمبرانو په څېر ئې خپل رب ته د دعاء لاسونه اوچت کړل او وئې ویل: اې زما ربه! خپله حقیقي او رښتینې پرېکړه وکړه، همغه چې له دغو خلکو سره وړ وي، همغه چې دا خلك ئې مستحق دي.
- قوم ته ئې وویل: د هغه څه په وړاندې چې تاسو ئې وایئ؛ زه د استعانت یوازې یوه مرجع لرم؛ همغه زموږ د ټولو مهربان رب، هغه ته رجوع کوم او له هغه مرسته غواړم.
- او ټولو په خپلو سترګو ولیدل چې الله تعالى د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا دعاء همغسې قبوله کړه لکه چې د نورو پیغمبرانو دعاګانې ئې قبولې کړې وې، قریش له همغه برخلیك سره مخامخ شول چې د نورو پیغمبرانو مخالفین ورسره مخامخ شوي وو.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## الحج

### د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الحج) دئ، دا نوم د سورې له اُوه ویشتم آیت اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ، اته اویا آیتونه لري، د اکثرو آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (عظیم) ته ورته دي، لکه شدید، مرید، سعیر، بهیج، قدیر، او له هرو څو آیتونو وروسته یو په داسې صیغې پای ته رسي چې د اوم آیت (القبور) ته ورته دي، لکه جلود، سجود، الزور، قلوب، کفور، یوازې اتلسم آیت ئې په (یشاء) پای ته رسېدلی خو دا آیت هم په اصل کې له ورپسې آیت سره تړلی دئ او په ګډه په (الحمیم) پای ته رسېدلي، د آیتونو اوږدوالی ئې تر متوسط زیات او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په وروستیو او د مدني دور په لومړیو کلونو کې نازل شوي.

د سورې له مضامینو معلومېږي چې لومړنۍ برخه ئې له لومړي آیت تر څلرویشتم آیت پورې د مکې دور په وروستي کال کې او پاته برخه ئې د مدني دور په ابتداء کې نازله شوې، په دوهمې برخې کې ئې د حج، هجرت او جهاد یادونه شوې او دا ښیي چې دا برخه په مدینه کې نازله شوې. د سورې له لومړي آیت تر لسم پورې د قیامت او بیاژوندون په اړه بحث شوی، بیا له یولسم آیت تر شپاړسم پورې د هغو کسانو په اړه وضاحت شوی چې ایمان ئې په دنیوي ګټې او تاوان پورې مربوط وي، که په ایمان کې کومه مالي او مادي ګټه تر لاسه کړي نو په دې ګټې او ایمان راضي وي خو که د ایمان په لار کې له کوم کړاو او ستونزې سره مخامخ شي تر شا شي، د کفر لوري ته مخه کړي او له مؤمنانو سره خپلې اړیکې وشلوي.

له دې وروسته تر څلرويشتم آيت پورې ويل شوي چې خلك په دوو متخاصمو ډلو ويشل شوي، مؤمنان او كافران، يوه ډله به جنت ته درومي او بله دوزخ ته، په جنت او دوزخ كې د دواړو حالت انځور شوى، له دې وروسته د مسجد الحرام داسې يادونه شوې چې قريشو مسلمانان ترې منع كول، په داسې حال كې چې الله تعالى دا د ټولو خلكو لپاره برابر ګرځولى، كه ئې هستوګن وي او كه مسافر او له بهره راغلى، بيا د حج ځينې مناسك بيان شوي، دا بحث تر اُوه دېرشم آيت پورې دوام كوي، ورپسې د سورې تر پاى پورې د جهاد اړوند لومړني احكام او د إذن دلائل ئې او له مجاهدينو سره د الهي نصرت او ملتيا يادونه او هجرت او له مهاجرينو سره د الله تعالى وعدې بيان شوې او د سورې په پاى كې يوه ښكلې تتمه راغلې چې مطالب ئې دا دي:

مؤمنانو ته سپارښتنه كوي چې ركوع وكړئ، سجده وكړئ، د خپل رب عبادت وكړئ او د ښېګڼې كارونه وكړئ چې بريالي شئ، او د الله لپاره داسې جهاد وكړئ چې د ده په لار كې له جهاد سره ښايي، الله تعالى تاسو د دغې دندې لپاره غوره كړي يئ، په دين كې ئې پر داسې څه نه يئ ګمارلي چې تاسو په زحمت كې وغورځوي. دا له خپل پلار ابراهيم عليه السلام درته په ميراث پاته ديني تګلاره ده، الله تعالى ستاسو مخكينې هم د مسلمانانو په نامه نومولي وو او تاسو ئې هم په دغه نامه ونومولئ.

مؤمنانو ته ويل شوي چې پيغمبر به پر تاسو شاهد وي او تاسو پر خلكو، داسې چې د پيغمبر شخصيت، فكر، قول او عمل، تګلاره او كړنلاره به ستاسو لپاره ملاك او معيار وي او د همدې له مخې به د حق او باطل، ښه او بد، سم او ناسم او حلال او حرام پرېكړه كوئ او ستاسو قول او عمل به د خلكو لپاره ميزان وي، د همدې له مخې به خلك حق او باطل پېژني.

دوى ته ويل شوي چې د شهادت د دغې سترې دندې تر سره كولو لپاره څو كارونه كوئ: لمونځ قائم كړئ، زكات وركړئ او له الله سره خپلې اړيكې مضبوطې كړئ، هغه مو مولا دئ، څومره غوره مولا او څومره غوره مرستندوى. يعني دغه درې ستر ستر كارونه: لمونځ كول، زكات وركول او له الله تعالى سره خپلې اړيكې مضبوطې ساتل به تاسو د دې جوګه كړي چې د شاهد امت په توګه خپلې دندې تر سره كړئ او د الله تعالى مرسته او تأييد تر لاسه كړئ.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ۝١ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا
تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ

سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ ۝٢

اې خلكو! له خپل رب ووېرېږئ، يقيناً چې د قيامت د ورځې زلزله ستره پېښه ده، هغه ورځ چې هره تى وركوونكې به گورې چې هغه څه له ياده باسي.چې تى ئې وركړى او هره حامله به خپل بچى ضائع كوي او خلك به بې سده گورې خو دوى به بې سده نه وي بلكې د الله عذاب به سخت وي.

(۱-۲)- په دې مباركو آيتونو كې د قيامت د ورځې هيبتناك حالت انځور شوى، په لومړي آيت كې ويل شوي: اې خلكو! د خپل رب له عذاب او مؤاخذې ځان وساتئ، د قيامت ورځ راتلونكې ده، له داسي زلزلې سره چې ډېره به ستره وي، دومره به هيبتناكه وي چې هره تى وركوونكې به له خپل زوى او تې خور بچې تښتي، هره حامله به خپل بچى ضائع كړي، خلك به بې سده گورې خو دوى به بې سده نه وي بلكې د الله عذاب به سخت وي.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَٰنٍ مَّرِيدٍ ۝٣ كُتِبَ
عَلَيْهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ۝٤

او له خلكو ځيني د الله په اړه له پوهې پرته جدل كوي او په هر سركښ شيطان پسې درومي، پر ده لازم شوې چې څوك ورسره دوستي وكړي نو هغه به ئې بې لارې كړي او د دوزخ د عذاب په لوري به ئې بوځي.

(۳-٤)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- ځيني خلك داسي دي چې د الله تعالى په اړه له پوهې پرته جدل كوي، الله تعالى او د هغه صفات نه پېژني، خو بيا هم په دې اړه بحث او مناقشه كوي، مناقشه ئې په حقائقو د پوهېدو په موخه نه وي، بلكې سركښ شيطان ئې دې مناقشې ته هڅوي او د هغه په وينا دا كار كوي.
- الله تعالى د دې سركښ شيطان په اړه ليكلي چې څوك ورسره دوستي وكړي نو هغه به ئې بې لارې كړي، په حقيقت د پوهېدو او د خپل رب د ښه پېژندو امكان به ترې سلب كړي، او په هغو لارو به ئې بوځي چې په دوزخ منتهي كېږي. يعني له علم او پوهې پرته د الله تعالى په اړه څه ويل د هغه چا كار دئ چې له سركښ شيطان سره ئې د دوستۍ اړيكې ټينگې كړې، د هغه متابعت كوي، لار ورکې دئ او ځاى ئې دوزخ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن
نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِى

ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ
وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ
عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ
وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ۝٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ
وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ۝٦ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَأَنَّ ٱللَّهَ
يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ ۝٧

اې خلكو! كه د بيا ژوندون په اړه په شك كې يئ، نو موږ خو له خاورې راپيدا كړئ، بيا له نطفې، بيا له علقې، بيا له ژوول شوې يوې ټوټې غوښې چې انځور شوې او نه انځور شوې وي، د دې لپاره چې تاسو ته وښيو او څه چې وغواړو تر يوې نېټې ئې په رحم كې ځاى پر ځاى كوو، بيا مو د ماشوم په څېر راباسو، بيا (همداسې ستاسو پالنه كوو) تر هغه چې خپل قوت ته ورسېږئ او له تاسو ځيني ومري او ځيني مو تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسېږي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمكه گورې چې وچه كلكه ده، خو كله چې اوبه پرې نازل كړو، وخوځېږي، وده وكړي او هر راز سمسور بوټي راوټوكوي. دا له دې كبله چې الله په خپله حق دئ، او دا چې هغه مړي راژوندي كوي، او دا چې هغه پر هر څه ښه قادر دئ، او دا چې (د قيامت) هغه نېټه حتماً راتلونكې ده، هيڅ شك په كې نشته، او دا چې الله به هغه راپاخوي چې په قبرونو كې دي.

---

(۵-۷)- د دې مباركو آيتونو په پراخو او ژورو مطالبو د پوهېدا لپاره بايد دا خبري په پام كې ولرو:

- دلته د ټولو انسانانو د عادي او ورځني خلقت مختلفو پړاوونو ته اشاره شوې، چې له خاورې پيل او په مرگ ئې پاى ته رسي، كه څه هم ځينو درنو مفسرينو داسې انگېرلې چې ښايي دلته به له خاورې د انسانانو پيدايښت په دې معنى وي چې آدم عليه السلام له خاورې پيدا شوى، خو دا تعبير دقيق نه برېښي، ځكه دلته خطاب عام دئ، ټول انسانان احتوى كوي، آيت وايي: اې خلكو! تاسو مو له خاورې پيدا كړئ، په داسې حال كې چې عملاً گورو د هر انسان پيدايښت له خاورې پيل كېږي، له خاورې جوړې شوې مېوې او دانې د انسان په وجود كې په مني واوړي، بيا له دې مني د انسان نطفه جوړه شي، بيا علقه شي، بيا نور مراحل پرې راشي او په پاى كې يو بشپړ انسان ترې جوړ شي. د آيت الفاظ او تركيب

ئې دغه حقيقت ته اشاره کوي، نه پوهېږو ولې بايد د آيت د الفاظو څرګند او واضح مطلب پرېږدو او يوازې د آدم عليه السلام په پيدايښت پورې ئې محدود کړو؟!!

• دلته د بيا ژوندون په اړه د هغو خلکو پوښتنې، شك او اندېښنې ته ځواب ويل شوی چې وايي: کله چې ومرو او بدن مو خاورې شي څنګه به له خاورې بيا راژوندي کېږو؟!! دوی ته ويل شوي: الله تعالی هره ورځ له همدې خاورې د انسان نطفه جوړوي او له دې نطفې بشپړ انسان جوړوي؛ ولې له خاورې د انسان بياراپيدا کېدا درته ګرانه برېښي؟!!

• دا آيت وايي چې الله تعالی له خاورې د انسان نطفه جوړه کړې، دا نطفه په علقه (ځوړند توکي) واړوي، بيا يوې ژوول شوې ټوټې غوښې ته هيئت ورکړي، چې انځور شوې او نه انځور شوې وي، دا الفاظ ښيي چې انسان ته د صورت او انځور ورکولو لړۍ په درېيمې مرحلې کې پيل کېږي، د غړو پيدايښت ئې هم مهاله نه وي، بلکې ځيني وړاندې او ځيني وروسته پيدا کېږي.

• قرآن چې د انسان د پيدايښت د مختلفو پړاوونو او حالتونو په اړه څه ويلي، علم نن همدا خبره کوي او همغه څه وايي چې قرآن ويلي: د انسان نطفه له خاورو جوړېږي، هغه دانه او مېوه چې وني او بوټي ئې له خاورو ټوکوي، بوي ناکي، توري ختې جوړوي؛ د انسان په بدن کې نطفه ترې جوړه شي، د پلار او مور دا نطفې سره يو ځای شي او د مور رحم ته انتقال شي، دوه نطفې يوه له بلې سره وصل شي، يوه ګډه او مختلطه نطفه (خليه او سلول) ترې جوړ شي، څه موده وروسته د ځوړند توکي په څېر د مور په رحم پورې نښتی وي، بيا د ژوول شوې غوښې د يوې ټوټې بڼه غوره کړي، دلته دغه نوي مخلوق ته د صورت ورکولو لړۍ پيل شي، د ځينو برخو کار تر نورو وړاندې پيل او بشپړ شي، زړه، غوږونه، سترګې، خوله، پزه، لاسونه، پښې، او نور غړي ورکړی شي، د هډوکو جوړيدا ئې په خاص پړاو کې پيل شي، په يوې خاصې مرحلې کې يو ژوندی او متحرك ماشوم ترې جوړ شي، په ټاکل شوې نېټې د مور له رحمه د وتلو لار ورته پرانيستل شي او له يوې تياره او تنګې نړۍ يوې روښانه او پراخې نړۍ ته راووځي. که تاسو د قرآن دغه آيتونه د داسې چا په وړاندې کښېږدئ چې د ماشوم د پيدايښت د څرنګوالي پړاوونه ئې په دقيقه توګه او په مجهز لابراتوار کې تر نظر لاندې تېر شوي وي؛ او اوس په دې پوهېږي چې انسان په لومړي سر کې د ژنونو مجموعه وي چې هر يو ئې د يوه خاص غړي د جوړولو دنده په غاړه لري، يو ئې د زړه جوړولو دنده تر سره کوي، بل ئې د غوږونو، بل ئې د سترګو، بل ئې د لاسونو، بل ئې د پښو او همداسې د هر غړي لپاره يو ځانګړی ژن، د دوی شمېر څه باندې دېرشو زرو ته رسېږي، هر يو ئې په خاص پړاو کې خپل کار پيلوي او په ډېر دقت سره ئې بشپړوي، که داسې يوه عالم ته د قرآن دا وينا واوروئ نو يقيناً چې هغه به تاسو ته ووايي: دا هغه څې دي چې ساينس اوس او د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شوی!!

• همدا وړه نطفه چې په سترګو نه ليدل کېږي، له بېلو بېلو پړاوونو تېره شي او نژدې نه مياشتې وروسته د بشپړ ماشوم په څېر دنيا ته راشي.

- له زېږېدو وروسته هم د ده د روزنې او پالنې لړۍ دوام وکړي، تر هغه چې خپل قوت ته ورسېږئ، ځيني تر دې وړاندې په مخکينيو مراحلو کې ومري او ځيني تر ټولو لوېدلې عمر ته ورسېږي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي. د علمي څېړنو په ترڅ کې ثابته شوې چې د عمر په زياتېدو سره د دماغ ځيني شرائين ورو ورو تنګېږي او خبره داسې ځای ته ورسېږي چې دا شرائين د دماغ هغې برخې ته وينه نشي رسولی چې وظيفه ئې حفظ او په ياد ساتل دي، دغه مهال د انسان حافظه په بشپړه توګه له کاره ولوېږي. قرآن دې حقيقت ته په دې الفاظو سره اشاره کړې: وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ: او ستاسو ځيني تر ټولو ناکاره عمر ته رد کړی شي، داسې چې له پوهې وروسته په څه نه پوهېږي.
- همداراز د بیاژوندون منکرينو ته ويل شوي: ځمکه ګورې چې وچه کلکه وي، د ژوند او خوځښت هيڅ نښه نه په کې تر سترګو کېږي، خو کله چې باران پرې وورېږي، ناڅاپه وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي. څوك چې هره شېبه له مړې ځمکې د ژونديو بوټو راټوکېدا په خپلو سترګو ګوري، هغه ولې د بیاژوندون په اړه شك کوي او دا ورته محال او ګران برېښي؟!! مګر الله تعالی په لومړي سر کې انسان له خاورې نه دئ پيدا کړی؟ مګر دا اوس د هر انسان نطفه د خاورو له اجزاء نه جوړوي؟ د الله تعالی په اراده هغه دانه او مېوه چې له خاورې جوړه شوې د انسان په بدن کې د ده نطفه ترې جوړه شي، بيا له نطفې علقه "داسې ځوړند توکی چې ژورې ته ورته وي"، بيا د غوښې داسې ټوټه ترې جوړه شي چې ژوول شوې ته ورته وي، چې د ځيني برخې تخليق ئې بشپړ او مکمل شوی او د بلې برخې تخليق ئې نامکمل وي، په هغې بڼې کې چې الله تعالی ورته غوره کړې تر معينې نېټې د مور په رحم کې پاته شي، بيا د ماشوم په توګه دنيا ته راشي، روزنه ئې کېږي، تر هغه چې د خپل قوت او ځوانۍ پړاو ته ورسېږي، ځيني په نيمايي لارې کې ومري، ځيني د عمر داسې پړاو ته ورسېږي چې خپله ټوله مخکينۍ پوهه له لاسه ورکړي، له علم او پوهې وروسته په څه نه پوهيږي، همدا راز ځمکه ګورئ چې سپېره او وچه وي خو کله چې اوبه پرې وورېږي وخوځېږي، وده وکړي او هر راز غوره بوټي راشنه کړي.
- دا څوك دئ چې له خاورې انسان پيدا کوي؟ په انسان باندې دا مختلف مراحل د چا په اراده رادرومي؟ انسان ترټولو مخلوقاتو افضل او اشرف دئ، هر څه ده ته مسخر شوي، خو هغه له داسې مراحلو طوعاً او کرهاً تېرېږي چې د ده خپله اراده په کې هيڅ اثر او اغېز نه لري. نه غواړي په زړښت محکوم شي، د بل د اوږو پېټی شي او د عمر هغې مرحلې ته ورسېږي چې د ماشوم په څېر شي، په څه نه پوهېږي، دا ئې زړه نه غواړي چې ژوند ئې پای ته ورسېږي او په مرګ محکوم شي، خو چاره نه لري، مخالفت نشي کولی، د يوه مجبور او محکوم موجود په توګه له دې مراحلو تېرېږي، وواياست: هغه څوك دئ چې انسان د ده د ارادې په وړاندې محکوم دئ؟ له هغه وروسته چې د خاورو له اجزاوو د ده نطفه جوړه شي، د مور په رحم کې تر معينې نېټې پاته کېږي، له مختلفو مراحلو تېرېږي او بيا په معينه

نېټه د مور د رحم له تيارې او تنگي دنيا د پراخي دنيا غېږ ته راووځي، ضعيف او ناتوانه او د بل مرستې ته اړ، خو ورو ورو ئې روزنه کېږي، د قوت آخري معراج ته ورسېږي، خو له هغه ځايه ئې بېرته زوال پيل شي، د ضعف او ناتوانۍ په لور درومي، په زړښت محکوم شي، طاقتونه او استعدادونه ئې ختم شي او په پای کې ئې د مرگ فيصله وشي.

- انسان په خپل ژوند کې "له خاورې پيدايښت"، "له يوې دنيا بلې ته تگ"، "د پيدايښت نېټه"، "دنيا ته د راوتلو نېټه"، "د مور په رحم کې د پاته کېدو معينه موده" او "د مرگ نېټه او اجل" په خپلو سترگو گوري، سره له دې څنگه او د څه لپاره له بيا ژوندون او له دې دنيا بلې ته د تگ له مسلم حقيقت انکار کوي!!؟
- همدا راز د زمکې وچ او سپېره ډاگونه گورئ چې هيڅوك له هغه د ژوندي شي د راټوکېدو طمع نه لري، خو الله جل شأنه له آسمانه اوبه ورباندې ووروي، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز غوره او ښاېسته نباتات راشنه کړي.
- آيا عجيبه نه ده چې څوك د دغو صحنو له ليدو سره سره د انسان بيا ژوندون محال وگڼي؟ هغه ذات چې د ونو ډکې او دانې، له هغه وروسته چې تر خاورو لاندې وراسته شي، بېرته راشنه کوي، انسان به هم له خپل قبر او له هغه وروسته چې هډوکي ئې وراسته شي بيا راژوندی کوي.

په دې مبارك آيت کې چې د انسان د پيدايښت د مختلفو مراحلو په اړه او له زمکې د نباتاتو د راشنه کېدو په اړه کوم بحث شوی، قرآن عظيم الشأن له هغه څو سترې مسئلې ثابتوي او دا نتائج ورباندې مرتب کوي:

۱- ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ: دا د دې لپاره چې الله حق دئ، په الوهيت او شته والي کې ئې شك نشته، دا تحولات او بدلونونه، هم د انسان په ژوند کې او هم د دې عالم په غېږ کې ښيي او په دې شهادت ورکوي چې الله تعالی حق دئ، يو ذات شته چې د هغه په اراده دا تحولات او بدلونونه راځي.

۲- وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ: او دا چې هغه مړي ژوندي کوي، په خپلو سترگو گورئ چې انسان او نبات له خاورو راپيدا کوي.

۳- وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ: او دا چې هغه په هرڅه قادر او برلاسی دئ

٤- وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا: او دا چې د قيامت هغه معين ساعت راتلونکی دئ، په هغه کې هيڅ شك نشته.

لکه څنگه چې ته په خپل ژوند کې گورې چې په يوې معينې نېټې له يوې دنيا بلې دنيا ته درومې، د مرگ ساعت دې له مخکې ټاکل شوی، د پيدايښت نېټه دې تعيين شوې او کمال ته ستا د رسېدلو گراف ټاکل شوی، چې بيا له دې ځايه ستا د زوال لړۍ پيل کېږي، همدا راز د دې دنيا د ختمېدو او د بلې د پيل کېدو لپاره اجل او ثابته نېټه ټاکل شوې.

۵- وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ: او دا چې الله به هغه بېرته راژوندي کوي چې په قبرونو کې دي، لکه څنګه چې الله تعالی د وچې او سپېرې زمکې له زړه نباتات راشنه کوي، همدا راز به هغه چې په قبرونو کې دي بېرته راژوندي کړي.

ګورئ چې قرآن د انسان په ژوند کې او د دې عالم او طبیعت په دغو تحولاتو باندې استناد کوي او دا پنځه نتائج زموږ مخې ته ږدي: الله حق دئ، هغه مړي ژوندي کوي، په هر کار قادر دئ، د قیامت معین ساعت راتلونکی دئ او الله جل شأنه به هغه چې په قبرونو کې دي راژوندي کوي.

---

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ۝٨ ثَانِيَ عِطۡفِهِۦ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ لَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَنُذِيقُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ۝٩ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ يَدَاكَ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ۝١٠

او له خلکو ځيني هغه دي چې د الله په اړه له کومې پوهې، هدايت او روڼ کتاب پرته مجادله کوي، په داسې حال کې چې د خپل اړخ اړوونکی وي، د دې لپاره چې د الله له لارې (خلك) تېرباسي، هغه ته په دنيا کې سپکاوی دئ او د قيامت په ورځ به د اور عذاب وروڅکو، دا د همغه څه له کبله چې ستا لاسونو وړاندې لېږلي او دا ځکه چې الله پر بندګانو ظلم کوونکی نه دئ.

---

(۸-۱۰)- په دې مبارکو آيتونو کې د هغه جاهل مذهبي مشر حالت انځور شوی چې د الله تعالی او د هغه د دين په اړه په داسې حال کې له نورو سره شخړې کوي چې نه په خپله کومه پوهه او علم لري، نه ئې له نورو څه زده کړي او نه په کوم روڼ الهي کتاب استناد کوي، خو سره له دې مضاعف جهل او ناپوهي مغرور دئ، نه يوازې د حق وينا له منلو ډډه کوي بلکې په دې لټه کې وي چې نور هم د الله له لارې تېرباسي، له حق دين او واقعي ديندارانو سره د دوی د مخالفت اساسي وجه دا وي چې د دين په نامه خلك غولوي، له دين او مذهب ئې ځان ته دام او دکان جوړ کړی، که خلك په حق دين پوه شي نو د دوی په دام کې نه نښلي، د دوی بازار سړېږي او دکان ئې بندېږي. الله تعالی د دغو ټګمارانو سزا داسې ټاکلې: په دنيا کې به ذلت او سپکاوی ورپه برخه کړي او د قيامت په ورځ به د اور عذاب وروڅکي، او هلته به ورته ويل کېږي: دا عذاب د همغه څه له کبله دئ چې ستا لاسونو وړاندې لېږلي او دا ځکه چې الله پر بندګانو ظلم کوونکی نه دئ.

---

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ

أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ
ٱلۡمُبِينُ ﴿١١﴾ يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ
ٱلۡبَعِيدُ ﴿١٢﴾ يَدۡعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقۡرَبُ مِن نَّفۡعِهِۦۚ لَبِئۡسَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَلَبِئۡسَ ٱلۡعَشِيرُ
﴿١٣﴾

او له خلکو ځيني داسي دي چي په يوې ژۍ کي د الله عبادت کوي، نو که کومه ښېګڼه ورورسېږي په هغې ډاډه شي او که د آزمويني (کومه ستونزه) وروورسېږی خپل مخ اړوي، دنيا او آخرت ئې تاواني شو او دا ښرګنده تباهي ده. له الله پرته هغه چا ته دعاء کوي چي نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه وررسولی شي، همدا ژوره لار ورکتيا ده، هغه چا ته دعاء کوي چي تاوان ئې تر ګټې ډېر نژدې دئ، ښومره بد مولی او ښومره بد ملګری.

(۱۱-۱۳)- په دې مبارکو آيتونو کي د هغه چا حالت انځور شوی چي مسلمانېدا ئې مشروطه ده، که اسلام د دوی غرضونه تر سره کړي نو پر اسلام او خپلې مسلمانۍ راضي وي، خو که اسلام د دوی د اغراضو په وړاندي خنډ شي، د مسلمانانو په څنګ کي خپل غرضونه تر لاسه نه کړی شي، له ګواښونو او خطرونو سره مخامخ شي، دين او ايمان د قربانۍ غوښتنه ترې وکړي، نو خپل دين او ايمان ته لته ورکړي، په شا ولاړ شي او له مسلمانانو سره خپلې اړيکې وشلوي!! هغه له داسي چا سره تشبيه شوی چي د اسلام د دائرې له مرکزه ډېر لرې؛ په هغې کرښې چي اسلام او کفر سره بېلوي، ولاړ دئ او همملته د خدای عبادت کوي، د کفر له دائرې يو ګام دې لوري ته رااوښتی، له مخکې تلو ئې ډډه کړې، همملته ودرېدلی او په همدومره څه ئې اکتفاء کړې، که دلته کومه ګټه او منفعت تر لاسه کړي، نو په خپلې ګټې او دغه يو قدم رااوښتو خوښ وي، خو که له کومې ستونزې او خطر سره مخامخ شي، بېرته يو ګام په شا ولاړ شي او خپل مخکيني حالت ته وروګرځي. دا د خپل هوس بنده دئ، له الله تعالی سره ئې معامله د يوه بازاري سوداګر ده، ايمان او عقيده هم د مادي ګټې په تله تلي، هغه عقيده ورته د منلو وړ ده چي مادي اغراضو ته په رسېدو کي د ده مرسته وکړي، له هري هغې عقيدې کرکه لري چي د سپېڅلو اهدافو په لار کي د قربانۍ مطالبه ترې وکړي. د مادي ګټې په طمع د داسي چا خوا ته درومي او له هغه مرسته غواړي چي له معنوي او اخلاقي پلوه ئې تباه کوي او دومره تاوان وررسوي چي په دنيا کي سپك شي او په آخرت کي د دوزخ وړ!! په دې نه پوهېږي چي د ګټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، له الله تعالی پرته نه څوك د ګټې رسولو توان لري او نه د تاوان رسولو، د الله تعالی پر ځای داسي چا ته مخه کړي چي تاوان وررسولی شي خو ګټه نه، ښومره بد مولی او ښومره بد ملګری.

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾

يقيناً چې الله هغه وګړي چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي په داسې جنتونو کې ننباسي چې ترې لاندې ويالې بهېږي، يقيناً چې الله همغه څه کوي چې وئې غواړي.

(١٤)- د مخکينۍ ډلې د بدو پايلو له بيانولو وروسته د هغو مؤمنانو يادونه کوي چې عملونه ئې صالح دي او د همدغه ايمان او صالح عمل په بدله کې به داسې جنتونو ته ننوځي چې ترې لاندې ويالې بهېږي، يقيناً چې الله همغه څه کوي چې وئې غواړي.

مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لۡيَقۡطَعۡ فَلۡيَنظُرۡ هَلۡ يُذۡهِبَنَّ كَيۡدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾

څوک چې ګمان کوي الله به ئې په دنيا او آخرت کې مرسته ونه کړي نو په کوم پړي سره دې د آسمان لوري ته لوړ شي بيا دې وشلوي او ودې ګوري چې د ده تدبير هغه څه له منځه وړي چې دی ئې غصه کړی؟

(١٥)- د دې مبارك آيت په اړه مې نژدې دېرش کاله وړاندې تحقيق کولو، ډېرو تفسيرونو ته مې مراجعه وکړه، ګڼ شمېر تعبيرونه او تأويلونه مې له نظره تېر شول، خو اندېښنې مې رفع نشوې او د خپلو پوښتنو ځواب مې ونه موندو، په دې ضمن کې مې د تفهيم القرآن اُوه تفسيرونه مخې ته راغلل خو پوښتنې مې په خپل حال پاته وې، په پای کې الله تعالی په خپل عميم فضل سره زما لارښوونه وکړه او د دې مبارك آيت په حقيقي مفهوم ئې د پوهېدو توفيق راکړ، داسې چې ټولې اندېښنې مې رفع او پوښتنې مې ځواب شوې، متوجه شوم چې دا آيت د همدې سورې په ٣١ آيت کې په ډېر وضاحت او صراحت سره تشريح شوی. له هغې ورځې وروسته دې نتيجې ته رسېدلی يم چې که کله د قرآن د کوم آيت يا د کوم لفظ په فهم کې له ستونزې سره مخامخ شو نو بايد شرح او وضاحت ئې په خپله په قرآن کې ولټوو، قرآن داسې لارښود کتاب دئ چې د خپل مخاطب هرې پوښتنې ته ځواب وايي، په قرآن کې داسې مبهم او غامض مورد نشته چې قرآن په خپله د هغه وضاحت نه وي کړی، قرآن د خپل مخاطب شکونه رفع کوي، که څوك د قرآن د کوم لفظ، کومې فقرې يا کوم آيت په معنی سم پوه نشي نو په لږ دقت سره او د وړاندې او وروسته آيتونو په رڼا کې کولی شي په حقيقي معنی پوه شي او د خپلو پوښتنو دقيق ځواب ومومي.

د دې مبارك آيت لاندې تعبيرونه شوي:

١- څوك چې ګمان کوي الله به د رسول الله صلی الله عليه و سلم مرسته ونه کړي نو هغه

دي ځان زندۍ کړي.
۲- ځوك چي گمان كوي الله به د رسول الله صلی الله عليه و سلم مرسته ونه كړي نو هغه دي آسمان ته د ختلو هڅه وكړي او د مرستي راتلو مخنيوی دي وكړي.
۳- ځوك چي گمان كوي الله به د رسول الله صلی الله عليه و سلم مرسته ونه كړي نو هغه دي آسمان ته د ختلو هڅه وكړي او د وحي راتلو مخنيوی دي وكړي.
٤- ځوك چي گمان كوي الله به د رسول الله صلی الله عليه و سلم مرسته ونه كړي نو هغه دي آسمان ته د ختلو هڅه وكړي او د هغه رزق او روزي دي بنده كړي.
۵- ځوك چي گمان كوي الله به ئې مرسته ونه كړي نو هغه دي آسمان ته د ختلو او مرستي تر لاسه كولو هڅه وكړي.
٦- ځوك چي گمان كوي الله به ئې مرسته ونه كړي نو هغه دي ځان زندۍ كړي.
۷- ځوك چي گمان كوي الله به ئې مرسته ونه كړي نو هغه دي آسمان ته د ختلو او د مقدراتو د بدلولو هڅه وكړي.
۸- ځوك چي دا هيله لري چي په خپلو تدبيرونو سره به له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د الهي نصرت او مرستي مخنيوی وكړي نو هغه دي خپله هڅه وكړي او ودي گوري چي د دوی د تدبيرونو پايله به څه وي!!

په دې تعبيرونو کې څو جدي ستونزي او اشكالات تر سترگو كېږي:

- ځيني ئې د آيت له سياق او سباق سره هيڅ اړخ نه لگوي، نه په دې آيت کې او نه تر هغه وړاندي او وروسته د رسول الله صلی الله عليه و سلم او له هغه سره د الله تعالی د مرستي يادونه شوې، نو هغه تعبيرونه صحيح نه دي چي دا آيت له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د الله تعالی په مرستي پوري تړي.
- په آيت کې نه د تقدير د بدلولو يادونه شوې، نه د رزق د بندولو، نه د الهي مرستي د مخنيوي او نه د ځان زندۍ كولو، چا چي آسمان ته د ختلو موخه او غرض دغه موارد گڼلي د خپل تعبير لپاره معقوله توجيه نه لري، كه پوښتنه ترې وشي چي ولې آسمان ته د كوم پړي په مرسته ختل داسي تعبيروئ؟ هيڅ مقنع ځواب نشي ويلی. د قرآن د كوم آيت داسي تعبير چي له ځانه څه مطلب په کې زيات شي او په آيت کې د هغه اړوند الفاظ نه وي سم او محتاطانه تعبير نه دئ، زه هيڅكله له داسي تعبير سره توافق نه كوم.

خو كه تاسو د همدې سورې د ۳۱ آيت الفاظو ته ځير شئ وبه گورئ چي د دې آيت دقيقه او واضح شرح وړاندي كوي او موږ ته ښيي چي د كومي رسۍ په مرسته آسمان ته د لوړ تلو او بيا په نيمايي لار کې د رسۍ د قطع كولو پايله به څه وي، پايله به ئې يا دا وي چي د ښكاري مرغانو په منگولو کې پرېوځي او يا ئې هوا پر سر واخلي او په كومي ژوري كندي کې ئې وغورځوي؛ ۳۱ آيت وايي: او ځوك چي له الله سره شرك وكړي نو هغه داسي دئ لكه له آسمان چي لاندي راپرېوځي نو ښكاري مرغان ئې وتښتوي او يا ئې باد په ژوري كندي کې وغورځوي.

يعني څوك چې پر الله تعالی ایمان راوړي، بیا د الله په لار کې له کوم کړاو سره مخامخ شي، خو د دې پر ځای چې صبر وکړي، مأیوس نشي، هیله من وي چې الله تعالی به ئې په دنیا او آخرت کې مرسته کوي؛ برعکس مأیوس شي، د خپل رب د مرستې په اړه شك وکړي، طمع ئې وشلېږي، خپله رابطه وشلوي، بېرته د کفر لوري ته مخه کړي؛ د هغه مثال هغه چا ته ورته دئ چې د کومې رسۍ په مرسته د لوړ تلو هڅه کوي، خو په نیمايي لار کې ستړی شي، نو د دې پر ځای چې هغه مهال دا رسۍ لازیاته ټینګه ونیسي او د مرستې راتلو ته انتظار وکړي، برعکس د رسۍ د پرې کولو اراده کوي، که دا کار وکړي نو طبیعي ده چې پایله به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې له لوړ ځای به لاندې پرېوځي او په مرګ به ئې منتج کېږي، څوك چې په نیمې لارې کې ستړی او ستومانه شي او د وړاندې تلو پر ځای تر شا شي نو یا به د هغو ښکاریانو په منګولو کې پرېوځي چې په هر ګام کې ئې ورته کمین نیولی او یا به په داسې ژورې کندې کې نسکورېږي چې له هغې روغ رمټ وتل محال وي.

دا په حقیقت کې همغه مطلب دئ چې تر دې وړاندې په (۱۱-۱۳) آیتونو کې په دې توګه راغلی: او له خلکو ځیني داسې دي چې په یوې ژۍ کې د الله عبادت کوي، نو که کومه ښېګڼه وروروسېږي په هغې ډاډه شي او که کومه ستونزه وروروسېږی خپل مخ اړوي، دنیا او آخرت ئې تاواني شو او دا ځرګنده تباهي ده. له الله پرته هغه چا ته دعاء کوي چې نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه وررسولی شي، همدا ژوره لار ورکتیا ده، هغه چا ته دعاء کوي چې تاوان ئې تر ګټې ډېر نژدې دئ، څومره بد مولی او څومره بد ملګری.

کله چې موږ د قرآن د یوه آیت شرح او تفصیل په بل آیت کې ګورو نو هغه به وروستۍ شرح ګڼو او د بلې شرحې له وړاندې کولو او یا د بل چا د داسې شرحې له منلو به ډډه کوو چې له خپله ځانه ئې جوړه کړې، دلته په یوه آیت کې ویل شوي چې د الله تعالی له مرستې مأیوس انسان دې په یوه پړي آسمان ته د لوړېدو هڅه وکړي، بیا دې پړی وشلوي او ودې ګوري چې دا تدبیر ئې د ده غصه ختمولی شي که نه!! په بل آیت کې ویل شوي: څوك چې له آسمان لاندې راپرېوځي نو یا به د ښکارې مرغانو په منګولو کې لوېږي او یا به ئې سیلۍ پر سر اخلي او په ژورې کندې کې به ئې غورځوي؛ او په دې سره هغه پوښتنه ځواب شوې چې د پړي له شلولو وروسته به څه واقع کېږي. همدا د هغه آیت شرح ده، ولې به د بلې شرحې لټه کوو؟!!

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يُرِيدُ ﴿١٦﴾

او همداسې مو د ځرګندو نښو په توګه نازل کړ او دا چې الله هغه څوك هدایتوي چې دی ئې غواړي.

(۱٦)- یعني قرآ د ځرګندو نښو داسې بشپړه او کامله مجموعه ده چې د انسان د لارښوونې لپاره کفایت کوي، خو له دې لارښوونو یوازې هغه څوك برخمن کېدی شي چې د الهي سننو

مطابق د هدايت وړتيا ولري.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلۡمَجُوسَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾

يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړی، هغه چې يهودان شوي، صائبين، نصاری، مجوسيان او هغه چې شرك ئې كړی، الله به حتماً د قيامت په ورځ د دوی تر منځ پرېكړه كوي، يقيناً چې الله پر هر څه شاهد دئ.

(۱۷)- دلته د شپږو مذهبي ډلو نومونه اخيستل شوي؛ مؤمنان، يهودان، صابئين، نصاری، مجوسيان او مشركان او ورپسې ويل شوي چې الله تعالی به د قيامت په ورځ د دوی تر منځ وروستۍ پرېكړه كوي، پرېكړه به نه د دوی د نومونو له مخې وي او نه ئې د ادعاګانو له مخې، بلكې د دوی د عقائدو او عملونو له مخې به وي، په الهي محكمه كې نه د چا نوم ته ارزښت وركول كېږي او نه ئې ادعاء ته، الله تعالی د هر چا د كړنو او باورونو شاهد دئ، د خپل جامع او كامل علم له مخې به د هر چا د برخليك په اړه پرېكړه كوي.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ۩ ﴿١٨﴾

آيا پام دي نه دئ چې الله ته ټول هغه څه سجده كوي چې په آسمانونو او زمكې كې دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، ونې، حيوانات او ډېری خلك، او په ډېرو ئې عذاب محقق شوی، او الله چې څوك سپك كړي نو هغه هيڅ عزت وركوونكی نه لري، "هيڅوك اكرام او عزت نشي وركولی". يقيناً چې الله همغه څه كوي چې وئې غواړي.

(۱۸)- د دې مبارك آيت په مطلب د ښه پوهېدا لپاره بايد لاندې مهمې خبرې په پام كې ولرو:

- دلته قرآن خپل مخاطب ته وېلي چې آيا پام دي نه دئ چې الله ته ټول هغه څه سجده كوي چې په آسمانونو او زمكې كې دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، ونې، حيوانات او ډېری خلك، او په ډېرو ئې عذاب محقق شوی. آيا د لمر، سپوږمۍ، ستورو، حيواناتو، ونو او نورو سجده لكه د انسان د سجدې په شان ده؟ آيا دا شيان هم د ملا تير او بندونه لري، ټيټېږي او سر پر زمكه ږدي؟ او د انسان په څېر سجده كوي؟ او كه نه له دې سجدې مراد او مطلب اطاعت او تسليمي ده؟ داسې اطاعت چې په هر څه كې د الله تعالی امر ته تابع دي، په

هرڅه کې د هغه حکم عملي کوي او په همغه لار روان دي چې الله تعالی ورته ټاکلې او د ټاکلي هدف په لور مخ په وړاندې ځي او هیڅ انحراف او غفلت نه کوي. که د آیت الفاظو ته ځیر شو نو څرگنده معنی ئې دا ده چې د آسمانونو او زمکې سجده داسې ده چې د قرآن هر مخاطب ئې په خپلو سترگو گوري، که سجده د کامل انقیاد او اطاعت په معنی ونیول شي نو د آیت په اړه نه کومه پوښتنه راولاړېږي او نه د شك ځای، ځکه عملاً گورو چې هر څه هغو سننو ته په بشپړه توگه منقاد دي چې الله تعالی وضع کړي، خو که سجده په دې معنی تعبیر کړو چې تندی پر زمکه اېښودل افاده کړي نو دا نه یوازې د لمر، سپوږمۍ، ستورو، غرونو، ونو او حیواناتو په اړه صدق نه کوي، ځکه هغوی نه تندی لري او نه ملا او زنگنونه چې کوپ شي او تندی پر زمکه کښېږدي، او نه موږ د دوی داسې سجده گورو، بلکې ډېری انسانان هم د دې مصداق نه شو گڼلی، په انسانانو کې هم ډېر لږ ئې د الله تعالی په وړاندې سجده کوي، نو یقیناً چې دلته سجده د کامل فطري انقیاد او اطاعت په معنی ده، نه په بله معنی.

- د زمکې او آسمانونو هر څه الله تعالی ته منقاد دي، هر څه به د هغه چا ملاتړ کوي چې خپل رب ته مطیع وي، هر څه به ئې درناوی کوي او که هغه له خپل رب مخ واړوي، الله تعالی به ئې سپك او ذلیل کړي او داسې څوك به ونه مومي چې ده ته عزت ورکړي. په خپلو سترگو گورو چې الله تعالی ډېر داسې مغرور انسانان ذلیل کړي چې ځان به ئې تر هر چا لوړ گڼلو او هر شریف انسان ته به ئې د حقارت په سترگه کتلو، خو الله تعالی ئې داسې سپك کړي او عزت ئې داسې ختم کړي چې هر څوك ورته په سپکه سترگه گوري، هیڅوك د ده په څنگ کې ودریدو ته تیار نه وي، یقیناً الله تعالی چې څوك سپك او ذلیل کړي، په دنیا کې به داسې څوك پیدا نه کړي چې هغه ته عزت ورکړي، په ټول عالم کې به داسې څوك او څه ونه مومي چې له سپکاوي ئې وژغوري او عزت ورپه برخه کړي.

---

هَٰذَانِ خَصۡمَانِ ٱخۡتَصَمُواْ فِي رَبِّهِمۡۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٞ مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ﴿٢١﴾ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿٢٢﴾

دا دوه متخاصمې ډلې دي چې د خپل رب په اړه ئې شخړه وکړه، نو هغه چې کفر ئې کړی د اور جامې به ورته وسکڼل (بیاتې کړی) شي، د سرونو له پاسه به ئې سرې اوبه پرې توی شي، داسې چې په هغوی سره به ئې د خېټو هر څه او پوستکې خوړین (ویلي) کړی شي، او د دوی لپاره به د اوسپنو گورزونه وي، کله چې له ډېره غمه

وغواړي ترې ووځي بېرته به ورستانه کړی شي، (له دې وینا سره چې) د اور عذاب وڅکئ.

(۱۹-۲۱)- په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي چې دا مختلفي مذهبي ډلي په حقیقت کې دوه ډلي دي: هغه چې د خپل رب په اړه ئې کفر کړی او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، د قیامت په ورځ به د کافرانو دردوونکي حالت داسي وي:

- د اور جامې به ورته وسکېل شي، داسي چې د دوی پر ځان برابري وي او اور ئې له هر لوري د جامو په څېر احاطه کړي.
- د سرونو له پاسه به ئې سرې اوبه پرې توی شي، داسي چې په هغوی سره به ئې د خېټو هر څه او پوستکي خوړین او ویلي شي.
- د دوی لپاره به د اوسپنو داسي گورزونه وي چې که له ډېره درده او غمه وغواړي له دوزخه ووځي نو پر سر سر به وهل کېږي او بېرته به دوزخ ته ستانه کېږي.
- په وار وار به دوی ته ویل کېږي: په اور کې د سوزېدو خوند وڅکئ.

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ﴿٢٤﴾

یقیناً چې الله به هغه کسان چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي داسي جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، په هغوی کې به دوی د سرو زرو په بنگړو او ملغلرو سینگار کړی شي، او هلته به ئې جامې د وربښمو وي، او د پاکیزه پاکیزه خبرو په لوري ئې لارښوونه وشوه او ستایل شوې لاري ته هدایت شول.

(۲۳-۲٤)- په دې مبارکو آیتونو کې د جنتیانو حالت داسي بیان شوی:

- الله تعالی به دا نېك عمله مؤمنان داسي جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي.
- په جنت کې به دوی د سرو زرو په بنگړو او ملغلرو سینگار کړی شي.
- هلته به ئې جامې د وربښمو وي.
- د پاکیزه پاکیزه خبرو په لوري به ئې لارښوونه شوې وي.
- او هغي لاري ته به هدایت شوي وي چې په ستایل شوي مقام منتج کېږي.

باید دې ته متوجه وو چې دلته د نېك عمل مؤمنانو حالت د دوزخي کافرانو په پرتله توضیح شوی، د هغوی جامې به د اور وي خو د دوی به د وربښمو وي، هغوی به پر سر سر د اوسپنو په گورزونو وهل کېږي خو دوی به د سرو زرو په بنگړو او ملغلرو سینگار کېږي، هغوی ته به ویل کېږي چې په اور کې د سوزېدو خوند وڅکئ او دوی ته به په ښکلو

ښکلو او پاکېزه پاکېزه الفاظو هر کلی ویل کېږي، د هغوی تګلاره په دوزخ منتهي شوه او د دوی په غوره او ستایل شوي جنت. که دا آیتونه په مستقله توګه راغلي وی او له مخکینیو سره ئې کوم تړاو نه وی نو په دې کې څه حرج نه وو چې د (هدوا الی الطیب من القول و هدوا الی صراط الحمید) آیت مو داسې ژباړلی وی: په دنیا کې د پاکېزه کلام په لور هدایت کړی شول او د ستایل شوي الله تعالی لارې ته هدایت کړی شول، خو د مخکینیو آیتونو په تړاو سره ئې مراد دا دئ چې په جنت کې به دوی ته په ښکلو او پاکېزه الفاظو هر کلی ویل کېږي او تګلاره ئې په ستایل شوي مقام منتهي شوه.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ ٱلَّذِي جَعَلۡنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِۚ وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ نُّذِقۡهُ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٢٥﴾

یقیناً هغه چې کفر ئې کړی او د الله له لارې او له هغه مسجدالحرام مخنیوی کوي چې ټولو خلکو ته مو یو ډول ګرځولی، که په کې هستوګن وي او که له بهره راتلونکی، او که څوك په دې کې په ظالمانه توګه د کږېدو اراده وکړي دردناك عذاب به وروڅکو.

---

(۲٥)- د دې مبارك آیت په مطلب د ښه پوهېدا لپاره باید دا خبري په پام کې ولرو:

- دلته ویل شوي چې الله تعالی مسجدالحرام د ټولو خلکو لپاره برابر ګرځولی که د مسجدالحرام هستوګن وي او که مسافر او له بهره راغلی، باید وګورو چې د دې خبري معنی څه ده؟ له مسجدالحرام مراد یوازې جومات دئ که ټوله مکه؟ د مقیم او مسافر لپاره ئې د برابروالي معنی دا ده چې هر څوك په هر وخت کې په دې جومات کې عبادت کولی شي او هیڅوك حق نه لري د عبادت کوونکو مخنیوی وکړي او که ئې معنی دا ده چې د مکې مکرمې پر ټولي زمکي څوك د ملکیت دعوی نشي کولی او هر حاجي کولی شي په هر ځای د مکې کې مېشت شي؟ په دې اړه د فقهاءو تر منځ د اختلاف رأی شاهد یو، ځیني په دې نظر دي چې دلته له مسجدالحرام مراد یوازې مسجد دئ نه ټول حرم، او په مسجدالحرام کې د مقیم او مسافر د برابروالي معنی دا ده چې ټول خلك په دې جومات کې د عبادت کولو برابر حق لري. دوی وایي چې د مکې پر زمکو او کورونو د خلکو ملکیت هم له اسلام وړاندې ثابت دئ او هم ترې وروسته، امام شافعي رحمة الله علیه د دغي رأیي پلوي کوي. د فقهاءو دوهمه ډله په دې رأیه دي چې له مسجدالحرام مراد ټول مکې حرم دئ، او د حرم ټوله زمکه د عام وقف حکم لري، د دوی دلائل دا دي:
- دغه آیت په خپله وایي چې دلته له مسجدالحرام د خلکو مخنیوی له ټول حرم د خلکو مخنیوی دئ، ځکه د حج مناسك له جومات بهر، منیٰ، عرفات، مزدلفه، صفا او مروه هم

احتوى كوي.

- د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې مسجدالحرام د ټول حرم په معنی راغلی، نه یوازي د مسجد په معنی، لکه د البقره د سورې په ۱۹۶ او ۲۱۶ آیتونو کې.
- ګڼ شمېر روایات وایي چي ټوله مکه د عام وقف حیثیت لري، څوك ئې د ملکیت ادعاء نشي کولی، هر حاجي د هغې په هر ځای کې مېشت کېدی شي، څوك ئې نه د مخنیوي حق لري او نه له خپل ځای د لټولو، لکه دا روایات:

عن مجاهد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " مكة حرم حرمها الله، لا يحل بيع رباعها ولا إجارة بيوتها ". مصنف ابن ابی شيبه

له مجاهد روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: مکه حرم دئ، الله تعالی ورته حرمت ورکړی، نه ئې د زمکو پېر پلور جائز دي او نه ئې د کورونو اجاره ورکول.

عن عبد الله بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مكة مناخ لا يباع رباعها ولا تؤاجر بيوتها.

له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: مکه د مسافرانو د کوزېدو ځای دئ، نه ئې زمکې پلورل کېدی شي او نه ئې کورونه په اجاره ورکول کېدی شي. السنن الکبری للبیهقي

د ابراهیم نخعي مرسل روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي:

مكة حرمها الله، لا يحل بيع رباعها ولا إجارة بيوتها:

مکې ته الله تعالی حرمت ورکړی، نه ئې د زمکو پېر پلور جائز دي او نه ئې د کورونو اجاره ورکول.

د عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت دئ چي عمر رضی الله عنه امر کړی وو چي د حج په موسم کې دي د مکې هیڅ اوسېدونکی د خپل کور دروازه نه بندوي، چي له نورو سیمو راتلونکي حاجیان وکولی شي د دوی د کور په غولي کې مېشت شي، دی دا هم وایي چي څوك د مکې پر کورونو کرایه تر لاسه کړي خپله خېټه په اور ډکوي، په بل روایت کې راغلي چي عمر رضی الله عنه مکه والو ته امر کړی وو چي د خپلو کورونو غولي د حاجیانو لپاره خلاص پرېږدي او حتی د دروازو له لګولو ډډه وکړي.

علقمه وایي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم، ابوبکر، عمر او عثمان رضی الله عنهم په زمانې کې د مکې زمکې سوائب (لامالکه) ګڼل کېدې، چي چا به ورته ضرورت درلود په کې اوسېدو به که نه نو بل ته به ئې پرېښوده.

د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي وایي: الله تعالی د مکې ټول حرم ته د مسجد نوم ورکړی، او په هغه کې د ټولو خلکو یو برابر حق دئ، د مکې هستوګن دا حق نه لري چي له مسافرو حاجیانو کرایه تر لاسه کړي.

عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه امر کړی وو چې د مکې هستوګن دي له حاجيانو کرايه نه اخلي ځکه دا کار حرام دئ.

دغو رواياتو ته په پام سره د تابعينو اکثريت د دغي رأيي پلوي کوي او په فقهاءو کې امام ابوحنيفه، امام مالك، امام احمد بن حنبل، سفيان ثوري، او اسحاق بن راهويه همدا رأيه لري، او وايي چې د مکې د زمکې پېر پلور او د حج په موسم کې د کورونو کرايه اخيستل جائز نه دي. ځيني فقهاء د مکې پر زمکې نه بلکې پر کورونو ئې د خلکو ملکيت مني او د عمارتونو پېر پلور هم جائز بولي.

غوره رأيه دا ده چې ټول مکې حرم عام وقف او په ټولو مسلمانانو پوري تړلی وګڼل شي او د دې مخنيوی وشي چې څوك د مکې زمکې تصرف کړي او د حج له موسم له حاجيانو د ګټو تر لاسه کولو وسيله جوړه کړي. د قرآن د دغه صريح آيت او د پورتنيو رواياتو څرګنده مقتضی همدا ده. له وروستيو آيتونو هم په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د مسلمانانو مشران په دې مکلف دي چې د حاجيانو لپاره د حج ضروري تسهيلات برابر کړي، داسې چې حج نه يوازې له معنوي او ديني پلوه دوی ته آسان او ګټور ثابت شي بلکې له مالي پلوه هم د تاوان پر ځای دوی ته ګټه ورسوي.

---

وَإِذۡ بَوَّأۡنَا لِإِبۡرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلۡبَيۡتِ أَن لَّا تُشۡرِكۡ بِي شَيۡـٔٗا وَطَهِّرۡ بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ
وَٱلۡقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ
ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٖ ﴿٢٧﴾ لِّيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ وَيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ فِيٓ
أَيَّامٖ مَّعۡلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۖ فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡبَآئِسَ
ٱلۡفَقِيرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لۡيَقۡضُواْ تَفَثَهُمۡ وَلۡيُوفُواْ نُذُورَهُمۡ وَلۡيَطَّوَّفُواْ بِٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ ﴿٢٩﴾
ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦۗ وَأُحِلَّتۡ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ
إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱجۡتَنِبُواْ ٱلرِّجۡسَ مِنَ ٱلۡأَوۡثَٰنِ وَٱجۡتَنِبُواْ قَوۡلَ ٱلزُّورِ ﴿٣٠﴾

او هغه مهال چې ابراهيم ته مو د بيت الحرام ځای وټاکو (ورته ومو ويل) له ما سره هيڅ څه مه شريکوه، او زما کور د طواف کوونکو، قيام کوونکو او رکوع او سجده کوونکو لپاره پاك وساته، او په خلکو کې د حج اعلان وکړه، چې پلي او پر ډنګرو اوښو سپاره به له لرې لرې لارو درته راځي، د دې لپاره چې ځان ته د ګټو شاهد وي او په څو معلومو ورځو کې د الله نوم پر هغو بوده وو څارويو ياد کړي چې ورروزي کړې ئې دي، نو په خپله ترې وخورئ او پر بدحال فقير ئې وخورئ. بيا دي خپلې خيري

وځنډي، خپل نذرونه دي تر سره کړي او د بيت العتيق (آزادي خونې) طواف دي وکړي. همدا؛ او څوك چې د الهي حرمتونو درناوی وکړي نو همدا د خپل رب خوا ته ورته غوره دئ، او دا څاروي تاسو ته حلال کړی شوي مګر هغه چې (په قرآن کې ئې) تاسو ته يادونه کېږي، نو له دغو پليتو بُتانو ډډه وکړئ او له دروغجنې وينا اجتناب وکړئ.

(۲٦-۳۰)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی خپل خليل ابراهيم عليه السلام ته لارښوونه کړې وه چې کعبه به په همدغه ځای کې جوړوي. د دې خبرې معنی دا ده چې ابراهيم عليه السلام د الله تعالی په حکم هاجر او اسمعيل عليهما السلام هغه مهال د مکې په وادي کې پرېښودل چې هلته نه اوبه وې، نه ونه او واښه او نه له دوی دواړو پرته بل انسان. همدلته له زمکې د زمزم چينه راوخوټېده، د دوی په څنګ کې نور خلك مېشت شول، ورو ورو د خلکو شمېر زيات شو، او هغه وخت راورسېدو چې دلته د الله تعالی کور کعبه د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په مبارکو لاسونو جوړه شوه.
- ابراهيم عليه السلام ته ويل شوي وو چې يوازې به د يوه الله عبادت کوي او هيڅ څه او هيڅوك به له هغه سره نه شريکوي. د کعبې بنسټ پر دغې عقيدې ايښودل شوی، د دې معنی دا ده چې د بيت الله د جوړولو اصلي موخه دا ده چې خلك د الله له کور پرته نه د بل کور طواف وکړي، نه د بل چا د دړې په درشل کې سر ټيټ کړي او نه بل ته د احتياج لاس اوږد کړي، هم ئې عبادت يوازې د الله تعالی په وړاندې وي او هم ئې استعانت يوازې د ده په درشل کې.
- ابراهيم عليه السلام ته دا دنده سپارل شوې وه چې د الله کور له هر راز ظاهري او باطني ناپاکيو، له شرکي رسوماتو او ناولو حرکاتو پاك او د طواف کوونکو، قيام کوونکو او رکوع او سجده کوونکو لپاره ئې چمتو وساتي، په خلکو کې د حج اعلان وکړي، دا اطمئنان ورکړی شوی وو چې د همدې بلنې په طفيل به د الله تعالی مخلص بندګان د دې کور لوري ته پلي او پر داسې سورليو سپاره له لرو لرو سيمو رادرومي چې د اوږدو مزلو له کبله به ډنګر شوي وي، دلته به د ډېرو مادي او معنوي ګټو او برکاتو شاهد وي، څو معلومې ورځې به خپل رب يادوي، د الله تعالی په وړاندې به د قربانۍ څاروي ذبح کوي، په خپله به ئې خوري او پر بې وزلو فقيرانو به ئې خوري. بيا به خپلې خيرې له ځانه مينځي، خپل نذرونه به تر سره کوي او د همدې بيت العتيق (آزاد الهي کور) طواف به کوي. دلته کعبه د بيت العتيق په نامه ياده شوې، عتيق هم د پخوانې په معنی راځي او هم د آزاد په معنی، خو بايد وګورو چې دلته په کومه معنی کارول شوی، که الفاظو ته لږ ځير شو نو راته جوته کېږي چې دا وينا ابراهيم عليه السلام ته هغه مهال شوې چې لا کعبه نه وه جوړه شوې، نو يقيناً چې د پخوانې معنی دلته صدق نه کوي، له آزاد پرته ئې بله معنی نه شو اخيستی، دا نوم هم په داسې محل او ځای کې کارول شوی چې يوازې همدا معنی ورسره مناسب

برېښي. کعبه د آزادۍ نښه ده، انسان د انسان له بندګۍ آزادوي، له الله تعالی پرته بل ته له سر ټيټولو، د بل په درشل کې له ودرېدو او د بل ځلي او کور له طواف کولو آزادي ورکوي، د نړۍ ټول موحدين په يوه صف کې ودروي، قبله ئې يوه کوي، مختلفو لوريو ته له مخ اړولو ئې راګرځوي، د وړو وړو کليو او تنګو تنګو هېوادو د هستوګنو په ځای د نړۍ شمول هېواد د هستوګنو تصور په کې راژوندی کوي، له هغې ګنده وطن پالنې او تنګ نظره سمت پالنې ئې ژغوري چې انسانان سره بېلوي. نو واقعاً چې له دې الهي کور سره دغه د آزاد کور ښکلی نوم ښايي.

• د پورتنيو لارښوونو په پای کې ويل شوي چې څوك د الهي حرمتونو درناوی وکړي نو همدا د خپل رب په خوا کې ورته غوره دئ، يعني د حج او طواف مناسك په انسان کې د الهي حرمتونو د درناوي جذبه راولاړوي او د خپل رب له لوري غوره بدله ورپه برخه کوي.

• همداراز ويل شوي چې که څه هم د څارويو قرباني د يوې ديني وجيبې په توګه تر سره کوئ او هدف مو د خپل رب رضا تر لاسه کول دي خو په خپله هم کولی شئ د هغه غوښه وخورئ او پر بې وزلو فقيرانو ئې هم خوړلی شئ. دا د اسلام له نظره د قربانۍ فلسفه زموږ مخې ته ږدي او په دې سره د قربانۍ په اړه د اهل کتاب هغه غلطه او خرافي عقيده ردوي چې د قربانۍ په وينو د معبد ځينې برخې رنګول، وازګي ئې د معبد خوا ته سوزول، خوندوري برخې ئې د معبد مجاورانو ته ورکول د قربانۍ د قبلېدو لوازم ګڼي. قرآن وايي: دا څاروي تاسو ته حلال کړی شوي مګر هغه چې په قرآن کې ئې تاسو ته يادونه کېږي، د حج په څېر عبادت په دوران کې هم داسې درته حلال دي لکه په نورو وختونو کې، داسې عبادات نه تاسو د حلال رزق له خوړلو منع کوي او نه له تجارت او مالي حلالو ګټو تر لاسه کولو، دا هم په هغو خرافي مذاهبو يو سخت ګوزار دئ چې ښه خوراك کول، ښې جامې اغوستل، ځان پاك ساتل، د حلال رزق لاس ته راوړو لپاره کار او زيار ايستل د تقوی او معنوي ارتقاء خلاف کارونه ګڼي او داسې زهد د معنوي ارتقاء لپاره ضروري ګڼي چې ښو او خوندورو خوراکونو، پاکو جامو، ځان پاك ساتلو او دنيايي کارونو ته اعتناء ونه شي!!!

• د آيت په پای کې ويل شوي: نو له دغو پليتو بُتانو ډډه وکړئ او له دروغجنې وينا اجتناب وکړئ، له پليتو بُتانو د اجتناب معنی دا ده چې د هر هغه پليت او ناولي معبود له لمانځلو ډډه وکړو چې له الله تعالی پرته او يا د الله تعالی په څنګ کې لمانځل کېږي، او د قول الزور معنی که څه هم په هرې دروغجنې وينا ئې اطلاق کېږي او موږ ترې منع شوي يو خو دلته ئې معنی شرك دئ، شرك تر ټولو ظلمونو ستر ظلم او تر ټولو دروغجنو ويناوو ستره دروغجنه وينا ده، او د دې معنی دا ده چې د حج د مناسکو ستره موخه دا ده چې موږ له شرك او د جعلي معبودانو له لمانځنې وژغوري.

• که د دغو آيتونو د لارښوونو تسلسل او ترتيب ته ځير شو نو معلومېږي چې د حج د مناسکو په پای کې قرباني کول، له احرامه وتل او بيا طواف کول راغلي، همدا ترتيب بايد په

حج کې مراعات شي، کله چې حاجي احرام تړي نو تر هغه به د نوکانو له اخیستلو، د وېښتانو له خرېیلو او لنډولو، پر ځان د عطر له وهلو او له نورو اړوند ممنوعه چارو ډډه کوي چې قرباني وکړي او له احرامه ووځي، بیا به د افاضې طواف کوي او له دې وروسته ټول هغه بندیزونه پای ته رسي چې د حج او احرام له کبله لازم شوي وو، له خپلو مېرمنو سره د مجامعت په شمول.

دې ته مو هم پام وي چې دلته د قربانۍ د غوښې په اړه ویل شوي چې په خپله ئې هم وخورئ او پر فقیرانو ئې هم وخورئ، ځینو دا وینا داسې تعبیر کړې لکه چې دا یو واجبي امر وي او همداسې کول واجب او فرض وي، خو دا وینا همغسې ده لکه چې د ځینو نورو مستحبو امورو په اړه د امر الفاظ کارول شوي، د قربانۍ غوښه هم په خپله خوړلی شو، هم ئې خپلوانو ته ورکولی شو، هم ئې په فقیرانو او غیرفقیرانو خوړلی شو. د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت او د صحابه وو له منهج همدا حقیقت معلومېږي.

حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيۡرَ مُشۡرِكِينَ بِهِۦۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
فَتَخۡطَفُهُ ٱلطَّيۡرُ أَوۡ تَهۡوِي بِهِ ٱلرِّيحُ فِي مَكَانٖ سَحِيقٖ ﴿٣١﴾ ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَٰٓئِرَ
ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ ﴿٣٢﴾ لَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ مَحِلُّهَآ
إِلَى ٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ ﴿٣٣﴾

الله ته مخه کوونکي په داسې حال کې چې د ده په اړه مشرکین نه وي، او څوک چې د الله په اړه شرك وکړي نو دا داسې ده لکه چې له آسمانه راپرېوځي نو بیا ئې یا مارغان وتښتوي او یا ئې باد پر سر واخلي او په ژوري کندې کې ئې وغورځوي. همدا؛ او څوك چې د الهي نښو درناوی وکړي نو دا د زړونو د تقوی له کبله ده، په دې کې تاسو ته تر یوې ټاکلې نېټې ګټې (تر لاسه کول) دي بیا ئې (د قربانۍ غوره) ځای د بیت العتیق په لوري دئ.

(۳۱-۳۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- له پلیتو بُتانو او د شرك له دروغجنې وینا په داسې حال کې ډډه وکړئ چې په بشپړه توګه او په واقعي معنی مو د خپل رب لوري ته مخه کړې وي او په هیڅ څه کې د خپل رب په اړه مشرك نه یئ.
- څوك چې د الله په اړه شرك وکړي مثال ئې هغه چا ته ورته دئ چې د آسمان له لوړې لاندې راپرېوځي، نو یا ئې ښکاري مارغان وتښتوي او یا ئې باد پر سر واخلي او په ژوري کندې کې ئې وغورځوي. یعنې یا د ټګمارو مذهبي مشرانو په منګولو کې پرېوځي، هم ئې

دنیا تباه شي او هم ئې ایمان او یا د خرافاتو، جهل، سپکاوي او ذلت په ژورو کندو کې وغورځي.

- حج او د حج د مناسکو مقتضی او غوښتنه او نتائج او اغېزونه ئې همدا دي.
- څوك چې د الهي نښو درناوی کوي دا درناوی ښيي چې د ده په زړه کې ایمان، تقوی او له خپل رب خوف او وېره شته، هغه څوك د الهي شعائرو درناوي کوي چې په زړه کې ئې تقوی او ایمان وي، او څوك چې د شعائرالله سپکاوي کوي زړه ئې له ایمان او تقوی خالي دئ، په شعائر الله کې ټول هغه شیان شامل دي چې په دیني امورو پوري تړلي دي، لکه جومات، کعبه، قبله، صفا، مروه، لمونځ، روژه، حج، اذان، قرباني، هدي.

په همدې ارتباط ویل شوي چې د قربانۍ په څارویو کې تر ټاکلې نېټې تاسو ته د ګټې اخیستو اجازه درکړی شوې، د دې معنی دا ده چې که تاسو د حج په دوران کې د قربانۍ لپاره کوم څاروي درسره روان کړئ، کولی شئ تر هغه ترې استفاده وکړئ چې د قربانۍ ټاکلي ځای ته ئې رسوئ او د قربانۍ ټاکلې نېټه ئې رارسېږي، په دې مودې کې له دې څارویو د سورلۍ یا بل غرض لپاره استفاده کول څه مانع او اشکال نه لري او داسي کار د شعائر الله د سپکاوي په معنی نه دئ، همغسي لکه چې د جاهلیت په دوران کې به اعرابو انګېرله چې له دغو څارویو هر ډول کار اخیستل ناروا دي!! ځینو فقهاءو ویلي چې دلته له ټاکلې نېټې مراد هغه نېټه ده چې څاروي د قربانۍ لپاره غوره کېږي، ګواکې له دې وروسته چې د قربانۍ لپاره غوره او روان کړی شي استفاده ترې روا نه ده، د دوی په مقابل کې نور په دې عقیده دي چې له ټاکلې نېټې مراد د قربانۍ ورځ ده، تر دې نېټې پوري له دغو څارویو استفاده څه شرعي مانع نه لري، دواړه لوري د خپلو آراءو لپاره د استناد وړ روایات لري، احناف د ضرورت په صورت کې استفاده جائز ګڼي. که د آیت الفاظو ته ځیر شو نو په یقین سره ویلی شو چې د اجل مسمی (ټاکلې نېټې) مصداق یوازې د حلالولو ټاکلې نېټه ګڼلی شو نه د څاروي غوراوی او له ځان سره روانول، دې غوراوي او له ځان سره روانولو ته د ټاکلې نېټې نوم ورکول قطعاً مناسب نه برېښي.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣٥﴾

او د هري ډلې لپاره مو د قربانۍ ځانګړې طریقه ټاکلې، چې د الله نوم د هغو بوده څارویو (د حلالولو په مهال) یاد کړي چې ورروزي کړي ئې دي، نو ستاسو معبود

یوازینی معبود دئ نو هغه ته تسلیم اوسئ، او دې تواضع کوونکو ته زېری ورکړه، هغه چې کله د الله یادونه وشي نو زړونه ئې پوړېږي او پر وررسېدلو مصیبتونو صبر کوونکي او د لمانځه قائموونکي او له هغه څه انفاق کوونکي چې موږ ورروزي کړي.

(٣٤-٣٥)- په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي چې الله تعالی د هر امت لپاره د قربانۍ طریقه ټاکلې، ټولو ته ئې لارښوونه کړې چې د څارویو د حلالولو په وخت کې د الله تعالی نوم یاد کړي، همداسې چې د ټولو رب یوازیني رب دئ؛ مناسك او د ذبح طریقه ئې هم سره ورته دي، ټولو ته ویل شوي چې د خپل رب اوامرو ته تسلیم اوسئ، هغو خلکو ته په دنیا او آخرت کې د روښانه مستقبل زېری ورکړی شوی چې د خپل رب په وړاندې مخبتین (تواضع کوونکي) وي، د مخبت نوم د هغه چا په اړه صدق کوي چې ځانګړتیاوې ئې دا وي:

- کله چې د الله یادونه وشي نو زړونه ئې پوړېږي،
- پر وررسېدلو مصیبتونو صبر کوي،
- لمونځ قائموي،
- او له هغه څه انفاق کوي چې الله تعالی ورروزي کړي.

وَٱلْبُدْنَ جَعَلْنَـٰهَا لَكُم مِّن شَعَـٰٓئِرِ ٱللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ ۖ فَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ
عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۖ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا۟ مِنْهَا وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْقَانِعَ وَٱلْمُعْتَرَّ ۚ كَذَٰلِكَ
سَخَّرْنَـٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٣٦﴾ لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا
وَلَـٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقْوَىٰ مِنكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا۟ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا
هَدَىٰكُمْ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٣٧﴾

او (د قربانۍ) اوښان مو تاسو ته د شعائر الله په ضمن کې ټاکلي، په همدې کې ستاسو لپاره ښېګڼه ده، نو په داسې حال کې د الله نوم پرې یاد کړئ (حلال ئې کړئ) چې ولاړ وي، نو کله چې ئې ډډې پر زمکې ولګېږي، بیا هم په خپله ترې وخورئ او هم ئې پر قانع او طمع کوونکي وخورئ، همداسې مو تاسو ته مسخر کړي چې شکر وکړئ. نه ئې غوښې الله ته رسي او نه ئې وینې، بلکې ستاسو تقوی وررسي، همداسې مو تاسو ته مسخر کړي چې الله د هغې لارښوونې په بدل کې په لویي یاد کړئ چې تاسو ته ئې درپه برخه کړې او دغو محسنینو ته زېری ورکړه.

(٣٦-٣٧)- دلته د قربانۍ اوښان هم د شعائر الله په نامه یاد شوي او د حلالولو د طریقې په اړه ئې ویل شوي چې په ولاړې د الله نوم پرې یاد کړئ، تفصیل ئې دا دئ چې د اوښ

يوه مخکينۍ کينه پښه له ورون سره په پړي وتړل شي؛ په دريو پښو ولاړ پرېښودى شي، بيا ئې د غاړې ببخ (حلقوم) کې په زور سره تېزه چاړه ووهل شي، چې په دې سره دويني بهېدا پيل کېږي، د زياتې وينې په وتلو سره هغه په اړخ ځملي، له هغه وروسته چې سا ئې وخېژي او خوځېدا ئې بنده شي، نو ټوټه ټوټه کېدا پيل شي. ويل شوي چې له دې وروسته ئې په خپله هم خوړلى شئ او پر قانع او طمع کوونکي ئې هم خوړلى شئ، په مکرره توګه د دې وينا راوړل ښيي چې تر دې وړاندې خلکو په خپله د خپلې قربانۍ د غوښې له خوړلو ډډه کوله، له مسکينانو پرته بل چا ته ئې د هغې خوړل روا نه ګڼل، همداسې لکه چې د قربانۍ له څاروي د سورلۍ يا بار وړلو لپاره کار اخيستل يا ئې شيدې او وړۍ کارول ناروا ګڼل، دلته دا ټول پخواني دودونه باطل وګڼل شول. همداراز په جاهليت کې به خلکو د يهودانو تر اغېز لاندې د قربانۍ غوښې د کعبې خوا ته اېښودې او د قربانۍ په وينو به ئې د کعبې دېوالونه رنګول، دلته دا جاهلانه دودونه هم مردود وګڼل شول.

د دې مبحث په پای کې څو لارښوونې شوې: ۱- دا څاروي مو تاسو ته مسخر کړي؛ چې شکر وکړئ. ۲- نه ئې غوښې الله ته رسي او نه ئې وينې؛ بلکې ستاسو تقوی وررسي، ۳- همداسې مو تاسو ته مسخر کړي چې الله د هغې لارښوونې په بدل کې په لويي ياد کړئ چې تاسو ته ئې درپه برخه کړې، ٤- دغو محسنينو ته چې شکر کوي، خپل رب په لويي يادوي او د الهي لارښوونو مطابق عمل کوي زېرى ورکړه.

دې ته مو بايد پام وي چې د څارويو د قربانۍ دا حکم يوازې حاجيانو ته متوجه نه دئ، بلکې هر هغه مسلمان ته راجع دئ چې د استطاعت خاوند وي، هغوی هم مکلف دي چې د قربانۍ په وړاندې کولو سره د الله تعالی د هغه نعمت شکر ادا کړي چې څاروي ئې انسان ته مسخر کړي او له هغوی د ډول ډول استفادې اجازه ئې ورکړې.

بايبل وايي چې د قربانۍ تر ټولو خوندوره برخه به د خدای په نامه د کاهن وي!! که تاسو په بايبل کې لږ غور وکړئ نو وبه ګورئ چې د بايبل د ليکونکي له نظره تر ټولو مهمه او اساسي خبره همدا ده؛ وبه ګورئ چې وايي: د څارويو لومړي بچيان به د کاهن وي، د زمکې لومړی فصل به د کاهن وي، د باغونو لومړۍ مېوه به د کاهن وي، له انګورو لومړي جوړ شوي شراب به د کاهن وي او ...!!

بايبل وايي چې موسی عليه السلام د هارون عليه السلام او د ده د زامنو په غوږونو د قربانۍ وينه ومونښله او د دوی جامې ئې په وينو ورولړلې نو په دې سره هغوی سپېڅلي شول!! حيران يو چې د بايبل پلويان څنګه دا خبره مني؟!! څنګه ئې عقل په دې قانع کېږي چې د وينو په لړلو سره څوك د ناپاکېدو په ځای سپېڅلی کېږي؟!! قرآن د بايبل د دغې خندوونکې وينا د ترديد لپاره په موجزو او قاطع الفاظو سره فرمايي:

- د الله تعالی په نامه د څاروي حلالول او د ده په لار کې ئې قرباني کول په الله د ايمان او باور نښه ده.
- نه ئې وينې الله تعالی ته رسي او نه ئې غوښه، په خپله ئې وخورئ او پر مسکينانو ئې

وخوري، د الله تعالی برخه مسکین ته ورکړئ. داسي مه ګڼئ چي د قرباني ويني سپېڅلې دي او که ځوك پرې ولړل شو نو سپېڅلی او مقدس شو، د قرباني شوي ځاروي نه وينه سپېڅلې ده نه غوښه، موخه ئې د چا تقديس نه بلکي خپل او پردي مسکين ته طعام ورکول دي.

- په دې قرباني سره په تاسو کې تقوی راپيدا کېږي، له حرص او بخل خوندي کېږئ، الله تعالی ستاسو دغه تقوی او ځان ساتنه خوښوي.

---

إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٖ كَفُورٍ ٣٨ أُذِنَ
لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ
مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم
بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ
وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي
ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ
وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٤١

يقيناً چي الله له هغو وګړو دفاع کوي چي ايمان ئې راوړی، يقيناً چي الله هيڅ خائن او ناسپاس انسان نه خوښوي. هغو ته اجازه ورکړی شوې چي په خلاف ئې جنګ کېږي، د دې لپاره چي پر هغوی ظلم شوی او يقيناً چي الله د دوی پر نصرت او بريا ښه توانا دئ. هغه چي له کوم حق پرته له خپلو کورونو ايستل شوي، (له دې پرته ئې کوم جرم نه وو چي) ويل ئې: زموږ رب الله دئ!! او که د خلکو ځيني په ځينو نورو سره د دفع کولو الهي سنت نه وی نو حتماً به صوامع (د رهبانانو عبادت ځايونه)، بيع (د نصرانيانو معبدونه)، صلوات (د يهودو معبدونه) او مساجد (د مسلمانانو جوماتونه) چي د الله نوم په کې زيات زيات يادېږي ټول وران شوي وو؛ او الله به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چي د ده ملتيا کوي، يقيناً چي الله عزتمن ځواکمن دئ. هغه چي که په زمکي کې تمکين ورکړو، لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په معروف ګمارل او له منکراتو مخنيوی کوي او د چارو پايله الله لره ده.

---

(۳۸-٤۱)- د دې مبارکو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- الله تعالی له هغو وګړو دفاع کوي چي ايمان ئې راوړی او د تېري کوونکو په وړاندي ئې يوازي او بې مرستي نه پرېږدي.

- الله تعالی هیڅ خائن او ناسپاس انسان نه خوښوي، مرسته ئې نه کوي او د مؤمنانو په خلاف د دوی په بریا او برلاسي نه راضي کېږي.
- د کومو مظلومانو په خلاف چې جنګ پیل شوی، الله تعالی هغوی ته له ځان د دفاع اجازه ورکړې، دا د دې لپاره چې پر هغوی ظلم شوی، الله تعالی دا نه خوښوي چې د ده پر بې وزلو او مظلومو بندګانو ظلم وشي، دغو مظلومانو ته ئې نه یوازې له ځان د دفاع اجازه ورکړې بلکې له دوی سره ئې د نصرت او مرستې وعده کړې او هغوی ته ئې اطمئنان ورکړی چې الله تعالی د دوی مل او دوی ته پر خپلو دښمنانو د برلاسي او بریا په ورکولو ښه توانا دئ. د دفاع دا اجازه او د نصرت او بریا دا وعده له هغو مظلومانو سره شوې چې له کوم حق پرته له خپلو کورونو ایستل شوي، له دې پرته کوم جرم نه لري چې وایي: زموږ رب الله دئ!!
- دا ثابت، دائمي او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې د خلکو د یوې ډلې ظلم او تېری د بلې په لاس دفع کوي، مظلومانو ته دا اجازه او توفیق ورکوي چې د ظالمانو او تېري کوونکو طغیان د دوی په لاس دفع کړي او د ظلم ټغر ټول کړي. که دا الهي سنت نه وئ نو حتماً به ټول هغه معبدونه وران شوي وو چې د الله تعالی نوم په کې یادېږي، که دا له خلکو لرې په غرونو او ځنګلو کې د رهبانانو عبادت ځایونه دي، که د یهودو او نصاروو معبدونه دي او که د مسلمانانو جوماتونه، د دې الهي لارښوونې معنی دا ده چې کوم ولسونه ظالمانو ته تسلیم شي، له خپلو حقوقو د دفاع لپاره د ظالمانو په خلاف د مقاومت لار غوره نه کړي، له خپلو انساني حقوقو او دیني اقدارو دفاع ونه کړي، د ظالمانو مخې ته ونه درېږي، د زور په ضد زور او د وسلې په خلاف وسله ونه کاروي؛ نو نه یوازې دا چې خپل حقوق به تر لاسه نه کړي بلکې معبدونه به ئې هم وران شي.
- دا آیت په پرېکنده توګه اعلان کوي چې له دیني شعائرو او مقدسو ځایونو الله تعالی په دې توګه دفاع کوي چې یوه ډله په بلې ډلې دفع کوي، د خدای پالونکو په لاس هغه خلك دفع کوي چې غواړي عبادت ځایونه وران کړي، کله چې له شعائرو د دفاع لپاره خدای پالونکي ملا وتړي نو الله تعالی ئې مرسته کوي او په دین دښمنه ځواکونو برلاسي ورکوي، که دا الهي سنت نه وی نو د عبادت ټول مخکیني او اوسني ځایونه به وران شوي وو!! د دې معنی دا ده چې الله تعالی په خارق العاده توګه د خلکو له دیني مقدساتو او عبادت ځایونو دفاع نه کوي، له انسانانو پرته ئې په خپلو نورو لښکرو نه ساتي، په انسانانو ئې هم یوازې هلته ساتي چې دوی ئې ساتنې ته ملا وتړي. تر هغه چې د الهي نصرت لپاره ښایسته او وړ خلك راپیدا نه شي؛ الله تعالی خپل نصرت او تائید نه نازلوي. که داسې نه وی نو کعبه به په طبیعي پېښو کې نه ورانېده او په داخلي جګړو کې به تاوان نه وررسېدو.
- الله تعالی به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چې د ده ملتیا کوي، دا د هغه الله قطعي او حتمي وعده ده چې عزتمن ځواکمن دئ، نه د چا زور او ځواك د ده د پرېکړو د پلي کېدو مخنیوی کولی شي او نه د چا ضعف او کمزوري د ده د وعدو د عدم تحقق سبب

کېدی شي.

- الله تعالی د مظلومو باایمانه مجاهدینو جهاد داسي گڼي لکه څوك چي د ده ملتیا کوي، یعني د ظالمانو په ضد جنگ د الله تعالی له لوري جنگ دئ او په دې جنگ کې مجاهد د الله تعالی داسي سپاهي دئ چي غواړي د خپل رب ملتیا وکړي او د هغه چا په ضد وجنگېږي چي الله تعالی د هغه د ځپلو او ماتولو اراده کړې.
- د الهي نصرت او تأیید دا وعده له هغو مجاهدینو سره شوې چي که الله تعالی هغوی ته په زمکې کې تمکین ورکړي، نو لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په معروف گمارل او له منکراتو مخنیوی کوي، یعني د دوی لومړنی کار د لمانځه قائمول دي، له دې وینا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي په اسلامي نظام کې د واکدارانو لومړنۍ او تر ټولو ستره وظیفه د لمونځ قائمول دي. د یوې غوره اسلامي ټولني په جوړولو کې ترټولو زیات اغېزمن کار، د لمانځه قائمول دي. که اسلامي حکومت پدې وتوانېدو چي جوماتونه له معنوي لحاظه آباد کړي، د جومات امامت صالح، متقي او په دین پوه داعي ته وسپاري، خلك له جومات سره عادت کړي او جومات چي د خلکو په فکري، معنوي، اجتماعي او سیاسي روزني کې کوم اغېزمن کارکولی شي هغه تر سره شي، کولی شي د ټولني ټولي ناخوالي سمي او ټول مشکلات حل کړي. دا په دې شرط چي د لمانځه تر څنگ له شتمنو زکات تر لاسه کړي او په خپلو شرعي مواردو کې ئې ولگوي، ښېگڼو ته وده ورکړي او د منکراتو مخنیوی وکړي.
- د دې لارښوونو په پای کې ویل شوي چي د چارو پایله الله تعالی ټاکي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چي څوك له کوم برخلیك سره مخامخ کړي او د چا پر کارونو کوم نتائج مرتب کړي، د الله د لاري مجاهدین باید ډاډه او مطمئن وي چي هلي ځلي او قرباني ئې هدر نه ځي او بې نتیجې نه پاته کېږي.

---

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَقَوْمُ إِبْرَٰهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَٰبُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ ۖ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَٰفِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾

او که تا تکذیب کړي نو یقیناً چي تر دوی وړاندي د نوح قوم، عاد او ثمود (خپل خپل پیغمبران) تکذیب کړل، او د ابراهیم قوم او د لوط قوم، او مدین والو، او موسی تکذیب کړی شو، نو دغو کافرانو ته مو مهلت ورکړ بیا مو ونیول، نو (وگوره چي) زما بدلول څنگه وو؟

---

(۴۲-۴۴)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: که ستا قوم نن ستا مخالفت ته ملا تړلې او تا تکذیبوي نو د دوی مخکینیو او اسلافو هم خپل خپل

پیغمبران تکذیب کړل، د نوح قوم، عاد، ثمود، د ابراهیم او لوط قومونو او مدین والو همدا کار وکړ، فرعونیانو موسی علیه السلام تکذیب کړ، هر یوه ته مو تر یوې ټاکلې نېټې مهلت ورکړ او د مهلت په پای کې مو ونیول او سخته سزا مو ورکړه، وګوره چې د دوی حالت مو څنګه بدل کړ، د مهلت په دوران کې ئې حالت څنګه وو او په عذاب له اخته کېدو وروسته څه پرې راغلل او څنګه شول؟!!

فَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئۡرٖ مُّعَطَّلَةٖ وَقَصۡرٖ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ﴿٤٦﴾

او څومره کلي چې ظالمان وو او هلاك مو کړل، نو دا ئې په خپلو چتونو راپرېوتي کلي او وزګار پاته څاګان او ښېنګي ماڼۍ. نو آیا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې داسې زړونه ئې په برخه شي چې پرې تعقل کوي او داسې غوږونه چې پرې اوري، خبره دا ده چې سترګې نه ړندېږي بلکې هغه زړونه ړندېږي چې په سینو کې دي.

(٤٥-٤٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- څومره کلي چې هستوګن ئې ظالمان ول تر دې وړاندې وران او کلیوال ئې د خپلو ظلمونو له کبله په الهي عذاب اخته شوي او هلاك شوي؟!!، دا دئ تاسو ئې کلي ګورئ چې پر خپلو چتونو راپرېوتي، څاګان ئې ګورئ چې وزګار پاته دي او ښېنګي ماڼۍ ئې په کنډوالو بدلې شوې.
- نو آیا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي او له تاریخي پېښو د عبرت اخیستو وړتیا نه لري، که دوی دا وړتیا درلودی نو دغو پېښو به د دوی ویده او غافل زړونه داسې ویښ او حساس کړي ول چې تعقل پرې کولی شي او د دوی غوږونه به ئې داسې ورپرانیستي وو چې حق خبرې پرې اورېدی شي، خو خبره دا ده چې د دوی زړونه بې حسه شوي، د حقائقو له لیدو او پېژندو عاجز شوي، په خپلو سترګو ډېر څه ګوري خو هغه پند نشي ترې اخیستی چې حساس او ژوندي زړونه ئې ترې اخلي.

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥۚ وَإِنَّ يَوۡمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلۡفِ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ ثُمَّ أَخَذۡتُهَا وَإِلَيَّ

ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٨﴾

او په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي حال دا چې الله له خپلې وعدې هيڅکله نه تر شا کېږي؛ او يقيناً چې ستا د رب په وړاندې يوه ورځ داسې ده لکه هغه زر کلونه چې تاسو ئې ګڼئ؛ او څومره کلي چې فرصت مو ورکړ سره له دې چې ظالم ول، بيا مو ونيول او بېرته ګرځېدا خو زما په لورې ده.

(٤٧-٤٨)- دلته د مخالفينو دا ادعاء څېړل شوې چې وايي: که دا د الهي عذاب ګواښونه رښتيا وي او موږ حقيقتاً د الهي عذاب مستحق وو نو دا عذاب ولې نه راځي؟ څه شي ځنډولی؟ کله به راځي؟ ستاسو دا ګواښونه به کله رښتيا کېږي؟ د دوی په ځواب کې ويل شوي: الله له خپلې وعدې هيڅکله نه تر شا کېږي، دا الهي وعده به حتماً او په خپل وخت تر سره کېږي، تلوار او عجله مه کوئ، لنډو لنډو مهلتونو ته د اوږدې مودې په سترګه مه ګورئ، د الله تعالی په وړاندې يوه ورځ داسې ده لکه هغه زر کلونه چې تاسو ئې ګڼئ، څه ته چې تاسو د اوږدې مودې په سترګه ګورئ د الله تعالی په وړاندې داسې ده لکه څو شېبې، آيا دې ته نه ګورئ چې الله تعالی تر تاسو وړاندې څومره خلکو ته سره له دې چې ظالمان ول همداسې مهلت ورکړی، د ظلم په پيل کې او له مهلت پرته ئې فوراً نه دي نيولي، د مهلت په پای کې ئې نيولي، ستاسو دا مهلت هم د پای ثابته نېټه لري، کله چې هغه نېټه راورسېږي په داسې سخت الهي عذاب به اخته کېږئ چې ستاسو اسلاف ورسره مخامخ شول. آيا دې ته نه ګورئ چې بېرته ګرځېدا مو د الله تعالی په لورې ده؟ که په خپل ژوند کې په الهي عذاب اخته نشئ نو په دې سره خو د الله تعالی له عذابه نه ژغورل کېږئ، په خپل مرګ سره د الله په لورې درومئ، هلته به هرومرو خپله سزا ګورئ.

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٩﴾ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٥٠﴾ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡاْ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥١﴾

ووايه: اې خلکو! زه خو تاسو ته يوازې يو څرګند خبرداری درکوونکی يم، نو چا چې ايمان راوړ او نېک عملونه ئې وکړل دوی ته بخښنه او غوره رزق دئ او هغه چې زما د آيتونو په اړه ئې د بې وسه کوونکو په څېر هڅه وکړه دوی دوزخيان دي.

(٤٩-٥١)- په دې مبارکو آيتونو سره رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې خلکو ته ووايي:

- زه خو تاسو ته يوازې يو څرګند خبرداری درکوونکی يم، د الله تعالی له لورې پر دې ګمارل

شوی يم چې د ايمان او کفر له حتمي پايلو مو خبر کړم.

- څوك چې ايمان راوړي او نېك عملونه وکړي د الله تعالی بخښنه او غوره رزق به ئې په برخه شي.
- او څوك چې د الله تعالی د آيتونو او وعد او وعيد په اړه دا هڅه وکړي چې د تحقق او تر سره کېدو مخه ئې ونيسي نو هغه به له دې پرته بله نتيجه تر لاسه نه کړي چې د دوزخيانو ملگری شي او له دوی سره يو ځای په دوزخ کې پرېوځي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٖ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلۡقَى ٱلشَّيۡطَٰنُ فِيٓ أُمۡنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ ثُمَّ يُحۡكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٥٢﴾ لِّيَجۡعَلَ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِي شِقَاقِۢ بَعِيدٖ ﴿٥٣﴾ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤۡمِنُواْ بِهِۦ فَتُخۡبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمۡۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٤﴾

او تر تا وړاندې مو هيڅ رسول او نبي نه دئ لېږلی مگر داسې چې کله ئې تمنی (هيله) کړې شيطان د هغه په تمنی کې خلل اچونه کړې؛ نو الله هغه څه له منځه وړي چې شيطان ئې اچوي بيا خپل آيتونه مضبوطوي؛ او الله باحکمت پوه دئ. د دې لپاره چې هغه څه چې شيطان ئې اچوي د هغو لپاره چې په زړونو کې ئې بيماري ده او د سخت زړو لپاره يوه آزموينه وگرځوي، او يقيناً چې دا ظالمان په ژور عناد او بېلتون کې دي. او د دې لپاره چې د چا علم په برخه شوی پر دې پوه شي چې دا حق ستا د رب له لوري دئ؛ نو ايمان پرې راوړي او زړونه ئې ورته خضوع وکړي او يقيناً چې الله هغه کسان سمې لارې ته هدايتوي چې ايمان ئې راوړی.

(۵۲-۵٤)- د دې مبارکو آيتونو په مطلب د ښه پوهېدا لپاره لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

که تاسو د دغو آيتونو په اړه تر دې دمخه څه نه وي اورېدلي، تفسيرونه مو نه وي لوستلي، کوم روايت مو له نظره نه وي تېر شوی، يوازې د آيتونو الفاظو، ترکيب او سياق و سباق ته په پام سره وغواړئ د هغوی کوم تعبير وړاندې کړئ او کوم مفهوم ترې واخلئ نو يقيناً او له هرراز شك پرته به ووايئ: دا آيتونه د مخکينيو لپاره يوه ښکلې تتمه ده او د هغوی مزيد شرح او تفصيل زموږ مخې تهږدي، تر دې وړاندې ويل شوي: کافران په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي حال دا چې الله له خپلې وعدې هيڅکله نه تر شا کېږي؛ او

يقيناً چي ستا د رب په وړاندي يوه ورځ داسي ده لکه هغه زر کلونه چي تاسو ئې ګنئ او ځومره کلي چي فرصت مو ورکړ سره له دې چي ظالمان ول، بيا مو ونيول او بېرته ګرځېدا خو زما په لوري ده. او ورپسې ويل شوي: ځوك چي د الله تعالی د آيتونو او وعد او وعيد په اړه دا هڅه وکړي چي د تحقق او تر سره کېدو مخه ئې ونيسي نو هغه به له دې پرته بله نتيجه تر لاسه نه کړي چي د دوزخيانو ملګری شي او له دوی سره يو ځای په دوزخ کې پرېوځي. دلته دغه مخکينۍ خبري په دې توګه مزيد توضيح شوې چي: تر تا وړاندي مو هيڅ رسول او نبي نه دئ لېږلی مګر داسي چي کله ئې د الهي لارښوونو په رڼا کې کومه ټمنی او هيله کړې او د حق د بري او د باطل د زوال هيله ئې ځرګنده کړې، نو شيطان د پيغمبر د دغي هيلي او ټمنی په اړه د خلکو په زړونو کې شکوك او شبهات راولاړ کړي، چا ته ئې ويلي چي دا وعدې غولوونکې دي او هيڅکله به تحقق ونه مومي او چا ته ئې ويلي دا وعيدونه هسي ګواښونه دي چي خلك پرې وېروي، نه د مخکينيو په اړه تر سره شول او نه به ستاسو په اړه تر سره شي!! خو الله تعالی دا شيطاني وسوسې او القاءات له منځه وړي او د خپلو هغو آيتونو مصداق ئې عملاً خلکو ته ښودلی چي وعدې او وعيدونه په کې راغلي وو. مؤمنان پوهېږي چي دا وعدې او وعيدونه حق دي، هرو مرو به تر سره کېږي، خو د وعد او وعيد دغه ويناوي د هغو خلکو لپاره آزموينه وي چي بيمار زړي او سخت زړي دي، بيمار او سخت زړونه ئې دې ته نه پرېږدي چي پر دې خبرو باور وکړي او ايمان راوړي. هر ځوك چي په شفاف ذهن سره دغو آيتونو ته ځير شي نو له دې پرته به بله انتباه ترې وانخلي او بل تعبير به ئې مناسب او دقيق ونه ګڼي.

خو که تاسو تفسيرونو او د رواياتو کتابونو ته مراجعه وکړئ نو د دغه مبارك آيت په اړه به دومره ژور اختلافات او متضاد او متعارض روايات ومومئ چي که د ټولو له منځه د يوه انتخاب درته محال نه وي نو لږ تر لږه به دا کار ډېر ډېر ګران ومومئ. دا ستونزه هم د نورو په څېر له متعارضو او متضادو رواياتو راولاړه شوې.

راشئ وګورو چي په دې اړه په رواياتو کې څه راغلي او مفسرينو څه ويلي.

ځيني وايي: له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره دا هيله راپيدا شوه چي کاش په قرآن کې داسي څه راغلي وی چي له کبله ئې د اسلام په اړه د کفارو قريشو مخالفت او کرکه کمه شوې وی او مسلمانانو ته رانژدې شوي وی، يا لږ تر لږه د دوی د دين په خلاف داسي سخت تنقيد نه کېدی چي دوی پاروي. همدا ټمنی ئې په زړه کې وه چي يوه ورځ په داسي حال کې چي د قريشو په يوې لويې غونډې کې ناست وو او د النجم سوره پرې نازله شوه؛ او هغه په جګ ږغ د هغې لوستل پيل کړل، کله چي دې آيت ته ورسېد: (أَفَرَأَيْتُمُ اللاتَ وَالْعُزَّى) (وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأُخْرَى) النجم: ۱۹-۲۰ نو ناڅاپي ئې دا الفاظ پر ژبه جاري شول: تلك الغرانقة العلی و إن شفاعتهن لترجی: دا لوړ لوړ سپين مارغان (سپېڅلي ذوات) دي او هرومرو ئې د شفاعت هيله کېږي؛ بيا ئې همداسي د النجم د سورې پاته برخه ولوسته، تر هغه چي د سورې په پای کې ئې سجده وکړه نو ټولو خلکو (کفارو او مسلمانانو) هم سجده

وکړه، مشرکینو وویل: اوس نو زموږ او د محمد (علیه السلام) تر منځ کوم اختلاف پاته نشو، موږ خو همدا ویل چي اصلي خالق او رازق الله دئ خو زموږ دا معبودان د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي، ماښام جبرئیل علیه السلام راغی او هغه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: دا تا څه کړي؟ دغه دوه جملې خو ما نه دي درته راوړې، په دې سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېر غمجن شو، بیا الله تعالی دا آیتونه نازل کړل:

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ﴿٧٣﴾ وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا ﴿٧٥﴾ الاسراء

او نږدې وه په فتنه کې دي واچوي او له هغه څه دي واړوي چي تا ته مو دروحي کړي، په دې توګه چي د وحي خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نږدې دوست نیولې، او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چي نږدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، چي په هغه صورت کي به مو په ژوند کي هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دي زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

د دې آیتونو په اورېدو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم اندېښنه او خفګان لازیات شو، تر هغه چي د الحج د سورې دغه آیتونه نازل شول او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې اطمئنان ورکړ چي تر تا وړاندي پر نورو پیغمبرانو هم داسي حالت راغلی. د قریشو او مسلمانانو د دې یو ځایي سجدې خبر د حبشې مهاجرینو ته ورسېد، هغوی ګمان وکړ چي د مسلمانانو او قریشو تر منځ روغه جوړه شوې، نو ځکه ځیني بېرته مکې ته راستانه شول، خو دلته ورته معلومه شوه چي د روغي جوړي خبره حقیقت نه لري او د مسلمانانو او قریشو تر منځ دښمني د سابق په څېر دوام لري.

ګڼ شمېر مفسرین او محدثین دا روایت د اعتبار وړ نه ګڼي، د ابن کثیر، بیهقي، ابن خزیمه، قاضي ابوبکر، امام رازي، قرطبي، بدرالدین عیني، شوکاني او آلوسي په څېر شخصیتونه د دوی له ډلي دي، ابن کثیر وایي: په څومره سندونو سره چي دا روایت راغلی ټول ئې مرسل او منقطع دي او ما د هغه صحیح او متصل سند ونه موندو، بیهقي وایي: د روایاتو له مخي دا قصه صحیح او ثابته نه ده، ابن خزیمه وایي: دا قصه د زندیقانو له لوري جوړه شوې، قاضي عیاض وایي: د دې روایت د ضعف لپاره دا هم کافي ده چي د صحاح سته په مؤلفینو کي هیچا د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی او نه دا له صحیح، متصل او بې عیب سند سره د ثقه راویانو له لوري نقل شوی. خو په مقابل کي ئې د حافظ ابن حجر، ابوبکر جصاص، زمخشري او ابن جریر په څېر شخصیتونه دا روایت صحیح بولي او د الحج د سورې د دغه آیت شرح او تفسیر ئې ګڼي!!

په دې اړه د یوه روایت الفاظ دا دي:

عن محمد بن كعب القرظی ومحمد بن قيس قالا جلس رسول الله صلى الله عليه وسلم فی ناد من أندية قريش كثير أهله، فتمنى يومئذ أن لا يأتيه من الله شیء فينفروا عنه، فأنزل الله عليه: (وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى ) فقرأها رسول الله صلى الله عليه وسلم، حتى إذا بلغ: (أَفَرَأَيْتُمُ اللاتَ وَالْعُزَّى وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأخْرَى ) ألقى عليه الشيطان كلمتين: تلك الغرانقة العلى، وإن شفاعتهنّ لترجى، فتكلم بها. ثم مضى فقرأ السورة كلها. فسجد فی آخر السورة، وسجد القوم جميعا معه، ورفع الوليد بن المغيرة ترابا إلى جبهته فسجد عليه، وكان شيخا كبيرا لا يقدر على السجود. فرضوا بما تكلم به وقالوا: قد عرفنا أن الله يحيي ويميت، وهو الذی يخلق ويرزق، ولكن آلهتنا هذه تشفع لنا عنده، إذ جعلت لها نصيبا، فنحن معك، قالا فلما أمسى أتاه جبرائيل عليه السلام، فعرض عليه السورة؛ فلما بلغ الكلمتين اللتين ألقى الشيطان عليه قال: ما جئتك بهاتين، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: افْتَرَيْتُ عَلى الله، وَقُلْتُ عَلى الله ما لَمْ يَقُلْ، فأوحى الله إليه: (وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِی أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِیَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ ) ... إلى قوله:( ثُمَّ لا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ). فما زال مغموما مهموما حتى نزلت عليه:( وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ وَلا نَبِيٍّ إِلا إِذَا تَمَنَّى أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِی أُمْنِيَّتِهِ فَيَنْسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِی الشَّيْطَانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ). قال: فسمع من كان من المهاجرين بأرض الحبشة أن أهل مكة قد أسلموا كلهم، فرجعوا إلى عشائرهم وقالوا: هم أحبّ إلينا، فوجدوا القوم قد ارتكسوا حين نسخ الله ما ألقى الشيطان.

خو كه تاسو د همدې قصې په اړه نور روايات وګورئ نو د دوی تر منځ به څو ستر ستر توپيرونه ومومئ: ځيني ئې وايي چي دا الفاظ (تلك الغرانقة العلى و إن شفاعتهن لترجى) د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژبه راغلي، ځيني ئې وايي چي دا الفاظ د شيطان له لوري د ده د غږ په منځ کې ويل شوي، ځيني ئې وايي چي د وحي په دوران کې شيطان دا خبره کړې او رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي ګمان کړی چي دا د جبرئيل عليه السلام له لوري ورته ويل شوي، ځيني ئې وايي چي دا خبري رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلي هغي تمنى له کبله کړې دي چي غوښتل ئې د قريشو دښمني او عداوت راکم شي. په ځينو کې د ترجى، په ځينو کې د ترتجى، په ځينو کې ترضى او په ځينو کې د ترتضى الفاظ راغلي، په ځينو کې د العرانقة پر ځای الغرانيق او الغرانقة، او په ځينو کې ويل شوي إن الآلهة التي

تدعي أن شفاعتها لترتجى وإنها للغرانيق العلى راغلي، تفهيم القرآن په دې رواياتو د جدي او دقيقو اعتراضاتو په ضمن کې ليکي چي په الفاظو کې ئې پنځلس ژور توپيرونه تر سترګو کېږي. دا روايات نه يوازي د سند له پلوه کمزوري او د متن له پلوه په خپلو منځونو کې ژور توپيرونه او تعارضات لري بلکي له قرآن سره په جدي توګه متعارض دي، هغه څه وايي چي د قرآن له اساسي اصولو سره تضاد لري، قرآن وايي چي پيغمبر يوازي هغه خبره کوي چي د الله تعالی له لوري ورته وحي کېږي،

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝٤ النجم

خو دا روايات وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرآن د صريح حکم خلاف د بُتانو ستاينه کړې!! د النجم د سورې په سر کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه ويل شوي چي هغه هيڅ خبره د هوی او هوس له مخي نه کوي، يوازي هغه څه وايي چي د الله تعالی له لوري ورته وحي کېږي، څنګه ومنو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم به د الله تعالی د دغي وينا خلاف په همدې سوره کې داسي خبري کړې وي چي هغه له کفر سره مترادفي خبري دي؟!! قرآن وايي چي وحي د داسي فرشتو په لاس تر پيغمبر پوري رسي چي شاوخوا ئې ساتونکي وي او په بشپړ امانت او حفاظت سره ئې تر پيغمبر پوري رسوي إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ٢٧ لِّيَعۡلَمَ أَن قَدۡ أَبۡلَغُواْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمۡ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيۡهِمۡ وَأَحۡصَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ عَدَدَۢا ٢٨ خو دا روايات وايي چي شيطان وتوانېدو د جبرئيل عليه السلام د وينا په منځ کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته داسي څه القاء کړي چي د بُتانو ستاينه وکړي!! دا روايات نه يوازي رسول الله صلی الله عليه و سلم د بُتانو د ستايني په څېر په ستري ګناه تورنوي بلکي وايي چي ټولو پيغمبرانو عليهم السلام داسي غلطي کړې!! دا روايات د پيغمبرانو د عصمت او د دين د حفاظت عقيده تر سوال لاندي راولي او د ټول شريعت په اړه دا شکوک راولاړوي چي ښايي رسول الله صلی الله عليه و سلم او نورو پيغمبرانو عليهم السلام به د داسي شيطاني مداخلاتو له کبله ډېر داسي څه ويلي وي چي د وحي خلاف دي. قرآن تل (تمنی) د هيلي په معنی کارولې، دا لفظ د قرآن په هيڅ آيت کې د وينا او مقال په معنی نه دی راغلی، خو دا روايات تمنی د وينا په معنی نيسي!! که تاسو هغه درې آيتونه چي په دغو رواياتو کې په دې قصې پوري تړل شوي بېل بېل او دغو رواياتو ته له پام پرته وڅېړئ نو هيڅکله به هغه معنی ترې وانه خلئ چي په دې رواياتو کې راغلې، چا چي دا آيتونه په دغي قصې پوري تړلي په ډېر تکلف سره توانېدلي چي د دغه رواياتو په ګټه ئې تعبير کړي. دې ته ئې هم پام نه دئ کړی چي د النجم د سورې آيت د بعثت په پنځم کال کې، د الاسراء د سورې آيت په يولسم يا دولسم کال کې او د الحج د سورې دغه آيت له هجرت وروسته په مدينه کې نازل شوی، کوم بې عقله انسان به دا خبره ومني چي دا درې واړه آيتونه په يوې قضيې پوري تړلي دي، داسي چي ګواکې رسول الله صلی الله عليه و سلم دغه اشتباه د بعثت په پنځم کال کې کړې، الله

تعالی شېږ کاله وروسته پرې تنبیه کړی او بیا ئې نژدې نه کاله وروسته هغه ته خپله عفو اعلان کړې او دا تسلیت ئې ورکړی چې باك نه لري داسي اشتباهات تر تا وړاندي نورو پیغمبرانو هم کړي!!! د الاسراء د سورې اړوند آیت دا نه وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کومه اشتباه کړې او پر الله تعالی ئې افتراء کړې، بلکې وایي:

وَإِن كَادُواْ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَـٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَـٰكَ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الاسراء

او نژدې وه په فتنه کې دې واچوي او له هغه څه دې واړوي چې تا ته مو دروحي کړي، په دې توگه چې د وحي خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نیولې، او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرگ وروسته هم دوه برابره، بیا به دې زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

د دې آیتونو وینا په بشپړه توگه د روایت د ادعاء خلاف ده، دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دې منلې وی چې په الهي وحي کې د لږ قدري تغییر مطالبه ئې کوله او له ځانه دې څه ویلي وی نو هم به مو په دنیا کې تا ته دوه برابره عذاب درڅکلی وو او هم په آخرت کې!! خو د الله تعالی د پېرزویني له امله پر خپل دریځ ثابت او ټینگ پاته شوې او د دوی غلطي غوښتني ته تسلیم نشوې!! له دې آیتونو معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له ځانه څه نه دي ویلي، بلکې نژدې وه داسي څه ووایي، حال دا چې روایت وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي څه ویلي وو او د بُتانو ستاینه ئې کړې وه، دا آیتونه وایي چې که رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي څه ویلي وی نو الله تعالی به په دنیا او آخرت کې دوه برابره عذاب ورکړی وو، حال دا چې روایت وایي: د بُتانو له ستاینې سره سره تر پنځو کلونو پوري الله تعالی حتی هغه ته کوم عتاب هم نه دئ کړی او په پای کې ئې نه کاله وروسته هغه ته عفو اعلان کړه!!

زه داسي حدس وهم چې که دا روایت سل په سلو کې جعلي او موضوعي نه وي، همغسي لکه چې ابن خزیمه وایي: دا قصه د زندیقانو له لوري جوړه شوې، او واقعاً چا له ابن عباس رضی الله عنهما دا قصه اورېدلې وي نو ښایي قضیه به داسي وه: کله چې د النجم سوره نازله شوې او په هغې کې د قریشو د سترو سترو معبودانو لات، عزی او مناة په سختو الفاظو غندنه شوې او ویل شوي چې دا خو له تشو نومونو پرته بل څه نه دي، نو د قریشو ځینو شرارتیاتو دا افواه خوره کړې چې محمد (علیه السلام) د دغو بُتانو د یادولو پر مهال دا الفاظ وویل: تلك الغرانیق العلی و إن شفاعتهن لترجی، دا دروغجنه افواه ئې دومره زیاته

خوره کړې چې حتی تر حبشې پورې رسېدلې او ځينو مهاجرينو گمان کړی چې همداسي به شوي وي نو ځکه مکې ته راستانه شوي، ډېرو نورو به هم دا خبره منلې وي، د سپيناوي فرصت به ئې هم نه وي تر لاسه کړی، همدا خبره به څو کاله وروسته ابن عباس رضی الله عنهما ته په مدينه کې رسېدلې وي، دا فرصت به ئې نه وي موندلی چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې قصې په اړه پوښتنه وکړي، د دغو رواياتو له اسنادو هم معلومېږي چې ابن عباس رضی الله عنهما دا قصه له رسول الله صلی الله عليه و سلم نه ده اورېدلې، او يا دا چې هغه د دغې دروغجنې افواه يادونه کړې خو راوي داسي گمان کړی چې گواکې همداسي شوي.

وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾ ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾

او هغه چې کفر ئې کړی تل به د دې په اړه په شك کې وي؛ تر هغه چې د قيامت نېټه ناڅاپه ورشي او يا د شنډي (بې خيره) ورځې عذاب ورشي، په دې ورځ به واکمني (يوازې) د الله وي، د دوی تر منځ به پرېکړه کوي، نو هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي له نعمتونو ډکو جنتونو کې به وي او هغه چې کفر ئې کړی او زما آيتونه ئې تکذيب کړي نو دوی ته به سپکوونکی عذاب وي.

(٥٥-٥٧)- دا مبارك آيتونه وايي:

کافران به د دې په اړه په شك کې وي، دا شك به ئې تر هغه دوام کوي چې يا قيامت راشي او يا د هغې ورځې له عذاب سره مخامخ شي چې هيڅ خير په کې نه وي او بله ورځ ورپسې رانشي، همغه د مهلت وروستۍ ورځ، هغه چې د دوی ټغر به په هغې کې په بشپړه توگه ټول شي. خو دا بايد وگورو چې کافران به د څه په اړه په شك کې وي، ځواب دا دئ چې دوی به د هغه وعد او وعيد په اړه تل شك لري چې په وړاندينيو آيتونو کې ورته اشاره شوې، همغه چې ټولو پيغمبرانو عليهم السلام خپلو خپلو ولسونو ته ويلي، له مؤمنانو سره د الله تعالی وعدې او کافرانو ته د الهي عذاب وعيدونه، کافران به تل د دغو وعدو او وعيدونو په اړه شکمن وي، تر هغه چې يا قيامت راشي او يا د عقيم او شنډې ورځې له عذاب سره مخامخ شي. له دې آيت هم په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې هغه روايت قطعاً له دې آيتونو سره اړخ نه لگوي او په بشپړه توگه له آيتونو سره تعارض لري. ځکه دا آيتونه د پيغمبرانو عليهم السلام تمنی د هغه وعد او وعيد په اړه انځوروي چې کافران به

تل د هغوی په اړه شکمن وي، یوازې هغه مهال به ئې ومني چې یا الهي عذاب په خپلو سترګو وګوري او یا د قیامت هغه ورځ چې واکمني به په بشپړه توګه د الله تعالی په واك کې وي او د هر چا برخلیك به د ده له لوري ټاکل کېږي.

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓاْ أَوۡ مَاتُواْ لَيَرۡزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٥٨﴾ لَيُدۡخِلَنَّهُم مُّدۡخَلٗا يَرۡضَوۡنَهُۥۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٞ ﴿٥٩﴾ ۞ذَٰلِكَۖ وَمَنۡ عَاقَبَ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيۡهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ ﴿٦٠﴾

او هغه چې د الله په لار کې ئې هجرت کړی، بیا یا وژل شوي یا مړه شوي، الله به حتماً غوره رزق ورکړي او یقیناً چې الله تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ. حتماً به ئې داسې ننوتځای ته ننباسي چې پرې راضي کېږي، او یقیناً چې الله د زغم خاوند پوه دئ، همدا؛ او څوك چې داسې غچ واخلي چې ترې اخیستل شوی، بیا تېری پرې وشي، الله به حتماً نصرت ورکړي، یقیناً چې الله عفو کوونکی بخښونکی دئ.

(۵۸-۶۰)- دا مبارك آیتونه موږ ته وایي:

- الله د هغه خلکو لپاره د غوره رزق ذمه وار دئ چې د خدای په لار کې هجرت کوي او شهیدان ورکوي.
- داسې ګمان مه کوه چې که د الله په لار کې هجرت وکړې، کور، کلی او پټی پرېږدې، نو د الله په ټولې پراخې زمکې کې به نه د پناه ځای پیدا کړې او نه د معیشت وسیله، داسې نه ده، د الله زمکه پراخه ده، چې عادي بندګانو ته رزق او روزي ورکوي نو د خپلې لارې له مجاهدینو او مهاجرینو به ئې څنګه سپموي؟!! پدې دې باید پوخ باور وي چې د هجرت په صورت کې به له پراخې او کثرت سره مخامخ کېږې نه له تنګسې او قلت سره، الله تعالی به په دنیا کې غوره مېشت ځای او په آخرت کې ښکلی جنت درپه برخه کړي.
- الله تعالی (علیم) دئ، د خپلې لارې مهاجرین ښه پېژني، پوهېږي چې دوی د کومې بدلې او انعام مستحق دي، هغه (حلیم) دئ، د خپلې لارې له مهاجرینو سره ئې معامله د حلم او زغم معامله ده، په وړو وړو اشتباهاتو ئې نه نیسي، د داسې اشتباهاتو له کبله ئې نه د هجرت په ثوابونو کې کمی راولي او نه ئې ستر ستر خدمات له پامه غورځوي. د هجرت او د هجرت په دوران کې د مړینې په صورت کې به الله تعالی ستا ګناهونه درته وبخښي او خپلې پېرزوینې به ستا په حال شاملې کړي. هغه ولس چې د الله په لار کې هجرت ته اړ شي او له مرګ ژوبلې سره مخامخ شي، الله جل شأنه به د رحمت او پېرزوینې لاس د دوی پر سر راکاږي.

• پر چا چې ظلم وشي، له ظالمانو خپله بدله واخلي، خو بيا پرې تېرى وشي، الله تعالى به ئې حتماً مرسته كوي او پر تېري كوونكو به ئې بريالى كوي، يقيناً چې الله عفو كوونكى بخښونكى دئ. كه له دغو مظلومو غچ اخيستونكو د بالمثله اقدام په ترڅ کې كومه غيرارادي اشتباه كېږي نو عفو كوونكى او بخښونكي خداى به ورته عفو او بخښنه وكړي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ
بَصِيرٞ ٦١ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ
ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٦٢

دا له دې كبله چې الله شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپې کې ننباسي او د دې لپاره چې الله ليدونكى اورېدونكى دئ. دا له دې كبله چې همدا الله حق دئ او هغه چې له ده پرته ئې وربلي همدا باطل دئ او د دې لپاره چې همدا الله ستر لوړ دئ.

(٦١-٦٢)- په دې مباركو آيتونو کې د مخكينيو مطالبو لپاره څو دلائل په گوته شوي:

• لكه څنگه چې الله تعالى شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپې کې، همداسې كله پر خپلو بندگانو يو حالت راولي او كله بل، كه شپه دربانديې راشي نو د ورځې د راوستو طمع له الله تعالى پرته له بل چا نشې كولى، نو كه له آزموينو، ستونزو او كړاوونو سره مخامخ او هجرت ته اړ شوې، مطمئن اوسه چې الله تعالى به ستا تياره شپه په رڼې ورځې بدله كړي، په بل ځاى کې به تر مخكيني ډېر غوره مېشت ځى درپه برخه كړي. الله تعالى سميع دئ د خپلو مخلصو بندگانو دعاگاني اوري، بصير دئ د رحمت په نظر ورته گوري او حالت ته ئې اعتناء او التفات كوي.

• الله تعالى حق دئ او د حقپالو مل دئ، پر چا چې ظلم وشي، حق ئې تر پښو لاندې شي او وغواړي خپل حق تر لاسه كړي او له ظالمانو خپل غچ واخلي نو الله تعالى ئې مرسته كوي او پر ظالمانو برلاسى ورپه برخه كوي، كه څه هم دوى ستر ستر ظالمان وي، دا ځكه چې الله تعالى تر هر ستر ستر دئ او تر هر لوړ لوړ.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَتُصۡبِحُ ٱلۡأَرۡضُ مُخۡضَرَّةًۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ
خَبِيرٞ ٦٣ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٦٤

آيا دې ته دې پام نه دئ چې الله له آسمانه اوبه راكوزې كړې او (په دې سره) زمكه زرغونه شوه، يقيناً چې الله ښه باخبره لطيف دئ، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمكې کې دي د ده دي، او يقيناً چې همدا الله ستايل شوى غني دئ.

(٦٣-٦٤)- آيا نه ګورې چې الله تعالی په يوه باران سره وچ ډاګ شين چمن کړي او له سپېرې خاوري زرغونه بوټي راوټوکوي، نو اې د الله د لارې مهاجره! مطمئن اوسه چې ستا رب به سپېره ډاګونه درته زرغونه کړي، ستا رب ښه باخبره لطيف دئ، د خپلې لارې د مهاجرينو له حاله تل باخبره وي، پوهېږي چې څنګه ئې مرسته وکړي. آيا نه پوهېږې چې د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی دي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته څه ورکړي، الله تعالی غني دئ، ستا ټولې اړتياوې رفع کولی شي، الله تعالی حميد او ستايل شوی دئ، له دې عيب منزه دئ چې د خپلې لارې مهاجرين بې اسرې پرېږدي او مرسته ئې ونه کړي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ وَيُمْسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾

آيا پام دې نه دئ چې الله ټول هغه څه تاسو ته مسخر کړي چې په زمکې کې دي، او کښتۍ هم چې د ده په امر په سمندر کې درومي، او آسمان ټموي چې پر زمکې راپرېوځي، مګر د ده په إذن سره، يقيناً چې الله د خلکو په اړه مهربان رؤف دئ.

(٦٥)- په دې مبارك آيت کې هم د مخکينيو مطالبو په ارتباط ويل شوي: نه ګورې چې الله تعالی د زمکې هر څه تاسو ته مسخر کړي، ستاسو په خدمت کې دي او ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي، نه ګورې چې کښتۍ ئې هم درته مسخر کړې دي او د ده په امر په سمندر کې درومي، نه ګورې چې پر زمکې د آسمان راپرېوتل ده تم کړي؟ آيا دغه مشاهدات درته کافي نه دي چې مطمئن شې ستا رب رؤف (زړه سواند) او رحيم (مهربان) دئ؟ دا رؤف او مهربان رب به څنګه د خپلې لارې مهاجرين په ستونزو کې راګير پرېږدي او مظلومان به د ظالمانو په وړاندې يوازې او بې اسرې پرېږدي؟!!

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾

او دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې راژوندي کړئ بيا مو مړوي بيا مو راژوندي کوي، يقيناً چې انسان ډېر ناسپاس دئ.

(٦٦)- ستاسو د ژوند او مرګ پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، مرګ مو د ژوند پای نه دئ بلکې له يوې دنيا بلې ته تګ او د بل ژوندون پيل دئ، آيا هغه انسان ډېر ناسپاس نه دئ چې د خپل رب دغه نعمتونه له پامه غورځوي، د هغه مهربان ذات پېرزوينې هېروي چې ده ته ئې ژوند ورکړی او د ده مرګ ئې د بل ژوند پيل ګرځولی؟!!

لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُۖ فَلَا يُنَٰزِعُنَّكَ فِي ٱلْأَمْرِۚ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ
إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَٰدَلُوكَ فَقُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾
ٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ
ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ
﴿٧٠﴾

هر امت ته مو خپل خپل منسك (د عبادت طريقه) ټاكلې چي دوی پرې عمل كوي، نو په دې كار كې دي له تاسره شخړه نه كوي، او د خپل رب لوري ته بلنه كوه، يقيناً چي ته په سمي لارښووني يې، او كه جدل درسره وكړي نو ووايه: الله په هغه څه ښه پوهېږي چي تاسو ئې كوئ. الله به ستاسو تر منځ د قيامت په ورځ د هغه څه په اړه پرېكړه كوي چي تاسو په كې اختلاف كولو، آيا نه پوهېږې چي الله پر هغه څه پوهېږي چي په آسمان او زمكي كې دي، يقيناً چي دا په يوه كتاب كې (ليكل شوي) دي، يقيناً چي دا الله ته آسان دي.

---

(٦٧-٧٠)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی هر امت ته د عبادت مشخصه طريقه ټاكلې، مخكينيو ته د خپلو ظروفو او شرائطو سره سم خپله خپله طريقه او خپله خپله قبله، هر څوك خپلي قبلې ته مخه كوي او په خپلي خپلي طريقې عمل كوي، په كار ده چي په دې اړه له تا سره شخړه ونه كړي.
- د دوی د مخالفتونو پروا مه كوه، خپل اصلي كار ته چي د الله لوري ته د خلكو بلنه ده دوام وركړه، تا ته د الله تعالی له لوري سمه لارښوونه شوې او صحيح تگلاره درښودل شوې.
- كه دوی درسره جدل وكړي نو ورته ووايه: الله په هغه څه ښه پوهېږي چي تاسو ئې كوئ، هم ستاسو له مخالفتونو او څرنگوالي ئې خبر دئ، هم له هغو عملونو او كړنو چي تاسو دغو مخالفتونو ته هڅوي، له تاسو سره به د الله تعالی معامله ستاسو د ادعاگانو له مخي نه بلكي ستاسو د عملونو له مخي وي.
- الله تعالی به ستاسو او ستاسو د مخالفينو تر منځ د قيامت په ورځ د هغه څه په اړه پرېكړه كوي چي تاسو په كې اختلاف كولو.
- بايد په دې پوه وئ چي الله تعالی پر هغه څه پوهېږي چي په آسمان او زمكي كې دي، نه يوازي په هر څه پوهېږي بلكي هر څه ئې په يوه كتاب كې ليكلي، څه چي تر دې وړاندي شوي يا تر دې وروسته تر سره كېږي ليكل شوي، دا كار الله تعالی ته آسان دئ.

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا وَمَا لَيۡسَ لَهُم بِهِۦ عِلۡمٞۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٖ ﴿٧١﴾

او له الله پرته د داسې څه عبادت کوي چې نه (الله) کوم دليل ورته نازل کړی او نه دوی کوم علم پرې لري، او دغو ظالمانو ته هيڅ مرستندوی نشته.

(٧١)- دا معاندين له شرك او دروغجنو معبودانو د دفاع په خاطر له تاسره شخړه کوي، داسې څه لمانځي چې نه الله تعالى د هغوی د لمانځنې په اړه په خپلو کتابونو کې کوم حجت او برهان پرې نازل کړی او نه په ټول عالم کې داسې دليل مومو چې له الله تعالى پرته د بل څه او بل چا عبادت او لمانځنه توجيه کړي، دا جاهل مشرکين د دغو معبودانو د لمانځنې په ارتباط هيڅ عقلي او علمي دليل نه لري، له هغوی د مرستې او د دوی د مشکلاتو د حلولو طمع لري خو په دې نه پوهېږي چې دا دروغجن معبودان نه يوازې د دوی مرسته نشي کولی بلکې په دې شرك سره دا ظالمان د عالم د هر څه له تأييد او مرستې محروم کېږي، په ټول عالم کې به داسې څه ونه مومي چې د دوی مرسته وکړی شي.

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمُنكَرَۖ يَكَادُونَ يَسۡطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتۡلُونَ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۗ قُلۡ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرّٖ مِّن ذَٰلِكُمُۚ ٱلنَّارُ وَعَدَهَا ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٧٢﴾

او کله چې زموږ څرګند آيتونه پرې ولوستل شي د هغو کسانو په څېرو کې به کرکه وګورې چې کفر ئې کړی، نژدې وي هغو ته لاس واچوي چې زموږ آيتونه پرې لولي، ووايه: آيا تر دې مو په لازيات بد څه خبر کړم؟ هغه اور چې الله ئې له کافرانو سره وعده کړې، او (له يوه حالته بل ته) څومره بده ګرځېدنه!!

(٧٢)- دا کافران داسې دي چې کله د الله تعالى د کتاب څرګند آيتونه پرې ولوستل شي، نو په څېرو کې ئې کرکه او نفرت تر سترګو کېږي، تندی ئې تريو او ګونځې ګونځې شي، غصه ئې داسې په سر واخلي چې نژدې وي هغو کسانو ته لاس واچوي چې دا آيتونه پرې لولي!!

د دوی د دغه کرکجن چلن په وړاندې رسول الله صلى الله عليه و سلم او مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې ورته ووايي: آيا ستاسو تر دې تريو تندي، هغه کرکه چې د الله تعالى د آيتونو د اورېدو په وړاندې ئې څرګندوئ، هغه قهر او غصه چې د داعيانو په خلاف ئې ښکاروئ، په لازيات بد څه مو خبر کړو؟ په هغه اور چې الله تعالى ئې له کافرانو سره وعده کړې، او دا څومره بده پايله ده او له يوه بد حالته بل ته بده ګرځېدنه!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن
يَخۡلُقُواْ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ
ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣ مَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ
٧٤ ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ٧٥

اې خلکو! يو مثال ويل شوی، ورته غوږ شئ: بې شکه څوك چې تاسي له الله پرته خپلې مرستې ته دربلئ، يو مچ هم نه شي پيدا کولی، که څه هم ورته راغونډ شي، او که دا مچ څه ترې وتښتوي نه ئې شي ترې ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله قدرونه ئې لکه څنګه چې له ده سره ښايي نه ده کړې، بې شکه چې الله ځواکمن عزتمن دئ.

(۷۳-۷٤)- يعني له الله تعالی پرته چې تاسو له بل هر څه او هر چا مرسته وغواړئ، که دا په آسمان کې وي او که په زمکې کې، انسان وي که فرشته، ژوندی وي که مړ، يو هم نشي کولی يوه وړه او حقيره حشره پيدا کړي او که دا حشره څه ترې وتښتوي نو د هغه د ژغورنې توان هم نه لري، نه کوم څه پيدا کولی شي او نه ئې ژغورلی شي، په دې معامله کې طالب او مطلوب دواړه کمزوري او بې وسه دي، مطلوب کمزوری او بې وسه دئ ځکه چې نه د کوم څيز د خلقت او پيدا کولو توان لري او نه پر نورو د حکمرانۍ او واکمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځکه کمزوری او ضعيف دئ چې پداسې يوې بې وسه او کمزورې متکاء ئې تکيه وکړه او مرسته ئې ترې وغوښتله چې د هيڅ څه واك او توان نه لري. وَ إِن يَسلُبهُمُ الذُّبَاب شَيْئاً لا يَستَنقِذُوهُ مِنْهُ: او که دا مچ څه ترې وتښتوي له هغه ئې ژغورلی نشي، ضَعُف الطالِب وَ الْمَطلُوب: طالب او مطلوب دواړه ضعيف او ناتوانه شول، هم دا مطلوب ضعيف او ناتوانه دئ، دومره چې يوه حقيره حشره هم نشي پيدا کولی، نه يوازې پيدا کولی ئې نشي بلکې که هغه ترې څه وتښتوي ترې خلاصولی ئې هم نشي، نه په پيدايښت کې څه اثر لري او نه په ژغورنې او نجات کې څه اغېز، لکه څرنګه چې په خلقت او پيدايښت کې هيڅ ونډه نه لري، د امورو په تدبير کې هم دومره بې وسه او ناتوانه دئ چې د مچ په شان له حقيرې حشرې څه نشي ژغورلی، او طالب (هغه څوك چې له بل مرسته غواړي)، هغه هم ضعيف شو، دا ځکه چې چا په ناتوانه او ضعيف شي تکيه او بروسه وکړه هغه هم ضعيف شو.

ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ٧٥ يَعۡلَمُ
مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٧٦

الله له فرشتو هم استازي غوره کوي او له خلکو هم، يقيناً چي الله ليدونکی اورېدونکی دئ، په هغه څه چي د دوی په وړاندي دي او په هغه څه چي د دوی تر شا دي پوهېږي، او کارونه د الله لوري ته ګرځول کېږي.

(٧٥-٧٦)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

• الله تعالى هم د فرشتو له منځه استازي غوره کوي او هم د خلکو له منځه، د فرشتو په لاس پيغمبرانو ته خپل پيغامونه لېږي او د پيغمبرانو په لاس خلکو ته، د ټولو خلکو په هر څه پوه دئ، خبري ئې اوري او حالت ئې ګوري، په پټو او ښکاره کارونو او عملونو ئې پوهېږي. چاري ټولي د الله تعالى په واك کې دي.

• بايد وګورو چي دا آيت له مخکيني سره څه ارتباط لري، په مخکيني کې د مشرکينو حالت انځور شوی او ويل شوي چي څوك له الله تعالى پرته بل ذات او ځواك لمانځي او مرسته ترې غواړي، نه به ئې هيلې تر سره شي او نه به مرستندوی ومومي، په دې آيتونو کې د فرشتو او پيغمبرانو په اړه ويل شوي چي دوی د الله تعالى د پيغام رسولو دنده په غاړه لري، د دواړه تر منځ ارتباط داسي دئ: ځيني مشرکين فرشتې لمانځي، ځيني پيغمبران د الله تعالى ځای ناستي ګڼي، ځيني صالحان د الله تعالى نازولي ذوات، د دعاګانو قبلېدو وسيله او د حاجتونو رفع کولو مرجع او د عالم د ځينو چارو متصرف، خو الله تعالى نه ځای ناستي لري، نه ئې فرشتو او پيغمبرانو ته د خپل پيغام له رسولو پرته بله دنده سپارلې، نه د عالم د چارو په سمبالولو کې شريك لري، نه دې ته اړ دئ چي څوك ئې د چا له وړتياوو خبر کړي، د هغه د شفاعت له مخي ئې وبخښي او له مؤاخذې ئې منصرف شي، په شاهد او غائب، او په پټ او ښکاره پوهېږي، له ماضي او مستقبل خبر دئ او د عالم چاري ټولي د ده په واك کې دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ
تُفۡلِحُونَ۩ ﴿٧٧﴾ وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ
عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ
مِن قَبۡلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيۡكُمۡ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى
ٱلنَّاسِۚ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ
ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٧٨﴾

اې هغو چي ايمان ئې راوړی! رکوع وکړئ، سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ، او

د ښېګڼې کارونه وکړئ چې بريالي شئ، او د الله لپاره داسې جهاد وکړئ چې له الهي جهاد سره ښايي، ده غوره کړئ، او په دين کې ئې پر تاسو کومه تنګسه او ستونزه نه ده ايښې، ستاسو د پلار ابراهيم ملت، ده تر دې وړاندې او په دې (دين) کې مسلمانان ونومولئ، چې پيغمبر پر تاسو شاهد وي او تاسو پر خلکو شاهد وئ، نو لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ او له الله سره خپلې اړيکې مضبوطې کړئ، هغه مو مولا دئ، څومره غوره مولا او څومره غوره مرستندوی.

(۷۷-۷۸)- د دې مبارکو آيتونو مهمې لارښوونې دا دي:

- مؤمنانو ته سپارښتنه کوي چې رکوع وکړئ، سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ، او د ښېګڼې کارونه وکړئ چې بريالي شئ، او د الله لپاره داسې جهاد وکړئ چې د ده په لار کې له جهاد سره ښايي، الله تعالی تاسو د دغې دندې لپاره غوره کړي يئ، په دين کې ئې پر داسې څه نه يئ ګمارلي چې ستونزمن وي او تاسو په زحمت کې وغورځوي. دا له خپل پلار ابراهيم عليه السلام درته په ميراث پاته ديني تګلاره ده، الله تعالی ستاسو مخکېنې هم د مسلمانانو په نامه نومولي وو او تاسو ئې هم په دغه نامه ونومولئ.
- مؤمنانو ته ويل شوي چې پيغمبر به پر تاسو شاهد وي او تاسو پر خلکو، داسې چې د پيغمبر شخصيت، فکر، قول او عمل، تګلاره او کړنلاره به ستاسو لپاره ملاك او معيار وي او د همدې له مخې به د حق او باطل، ښه او بد، سم او ناسم او حلال او حرام پرېکړه کوئ او ستاسو قول او عمل به د خلکو لپاره ميزان وي، د همدې له مخې به خلك حق او باطل پېژني.
- دوی ته ويل شوي چې د شهادت د دغې سترې دندې تر سره کولو لپاره څو کارونه کوئ: لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ او له الله سره خپلې اړيکې مضبوطې کړئ، هغه مو مولا دئ، څومره غوره مولا او څومره غوره مرستندوی. يعنې دغه درې ستر ستر کارونه: لمونځ کول، زکات ورکول او له الله تعالی سره خپلې اړيکې مضبوطې ساتل به تاسو د دې جوګه کړي چې د شاهد امت په توګه خپلې دندې تر سره کړئ او د الله تعالی مرسته او تأييد تر لاسه کړئ.
- په دې آيتونو کې د سجدې امر شوی، ځينو دغه امر ته په پام سره دلته د تلاوت سجده واجب ګڼې، امام شافعي، امام احمد، عبدالله بن مبارك او اسحاق بن راهويه له دې ډلې دي، دوی د خپلې رأيې په تأييد کې څو دلائل وړاندې کوي: ۱- وايي دلته د سجدې امر شوی، ۲- په دغو رواياتو هم استناد کوي:

عن عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ يَقُولُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفُضِّلَتْ سُورَةُ الْحَجِّ عَلَى سَائِرِ الْقُرْآنِ بِسَجْدَتَيْنِ قَالَ «نَعَمْ فَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلاَ يَقْرَأْهُمَا». مسند احمد

له عقبه بن عامر روايت دئ چې وايي: ومې ويل: يا رسول الله! آيا د حج سورې ته پر نور قرآن د دوو سجدو له کبله فضيلت ورکړی شوی؟ وئې فرمايل: هو؛ نو څوك چې دا دواړه

سجدې نه کوي هغه دوه آيتونه دي نه لولي.

دا روايت له همدې اسنادو او له همدغو راويانو سره خو له څو توپيرونو سره هم راغلی، داسې چې په يوه کې أفُضِّلَتْ سُورَةُ الْحَجِّ عَلَی سَائِرِ الْقُرْآنِ بِسَجْدَتَيْنِ او په بل کې أفُضِّلَتْ سُورَةُ الْحَجِّ عَلَی الْقُرْآنِ بِأَنْ جُعِلَ فِيهَا سَجْدَتَانِ په بل کې فِى سُورَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَانِ؟ په يوه کې فَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلاَ يَقْرَأْهُمَا په بل کې إِنْ لَمْ تَسْجُدْهُمَا فَلاَ تَقْرَأْهُمَا راغلي، په متن کې ئې دا ستونزه تر سترګو کېږي چې په کې ويل شوي: فَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلاَ يَقْرَأْهُمَا: نو څوك چې دا دواړه سجدې نه کوي هغه دوه آيتونه دي نه لولي!! د آيتونو د نه لوستلو سپارښتنه محتمل نه برېښي.

دوی پر دې روايت هم استناد کوي چې وايي:

عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَقْرَأَهُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَجْدَةً فِى الْقُرْآنِ مِنْهَا ثَلاَثٌ فِى الْمُفَصَّلِ وَفِى سُورَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَانِ. ابوداؤد

له عمرو بن العاص روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په قرآن کې پنځلس سجدې ورښودلې دي درې ئې په مفصلو سورتونو کې دي او دوه ئې د الحج په سورې کې دي.

دوی دا هم وايي چې: عمر، عثمان، علي، ابن عمر، ابن عباس، ابوالدرداء، ابوموسی اشعري او عمار بن ياسر رضى الله عنهم ويلي چې په دې سوره کې دوه د سجدې آيتونه دي.

د دوی په مقابل کې دوهمه ډله چې په ضمن کې ئې امام ابوحنيفه، امام مالك، حسن بصري، سعيد بن جبير، سعيد بن المسيب، ابراهيم نخعي او سفيان ثوري شامل دي له دې رأيې سره موافق نه دي او وايي: دلته سجده د رکوع په څنګ کې ياده شوې او مراد ترې ټول لمونځ دئ نه يوازې سجده، ځکه په قرآن کې معمولاً هغه مهال چې رکوع او سجده يو ځای ذکر شي نو مراد ترې ټول لمونځ وي. د دغو دوو روايتونو په اړه وايي: د عقبه بن عامر روايت د سند له مخې ضعيف دئ، په سند کې ئې ابن لهيعه دئ چې له ابومصعب بصري روايت کوي او دا دواړه ضعيف شخصيتونه دي، په ځانګړې توګه ابومصعب بصري هغه څوك دئ چې له حجاج بن يوسف سره ئې پر کعبې شريفې د منجنيق په وسيله ډبرو ورولو کې ملګرتيا کړې، د عمرو بن العاص روايت هم په دې دليل ضعيف ګڼې چې په سند کې ئې دوه مجهول الهويه کسان دي، هيڅوك نه پوهېږي چې سعيدالعتقي او عبدالله بن مُنَين الکلبي څوك او څنګه اشخاص ول، او د ابن عباس رضى الله عنهما د روايت په اړه وايي چې هغه په بل روايت کې د حج د سورې د دوو سجدو په ارتباط وايي: يوه ئې لازمي او دوهمه ئې تعليمي ده: الاولى عزمة والاخرى تعليم.

دې ته مو بايد پام وي چې ځينې دلته جهاد داسې تعبيروي چې ګواکې مراد ئې جد و جهد دئ نه مسلحانه جهاد او قتال، خو دا رأيه په دوه دلائلو ضعيفه ده: لومړی دا چې په دغې سورې کې د قتال يادونه شوې او ويل شوي چې هغو ته اجازه ورکړی شوې چې په

خلاف ئې جنګ پیل شوی، ځکه چې مظلومان دي، الله تعالی به ئې حتماً مرسته کوي، او دوهم دا چې په ټول قرآن کې جهاد في سبیل الله د قتال په معنی راغلی نه د جد و جهد په معنی او اړوند آیتونه ئې په مدینه کې او د جهاد له فرضیت وروسته نازل شوي. په دې اړه چې آیا له جهاد فی سبیل الله مراد یوازې قتال دئ که هر جد وجهد؟ آیا هر جد و جهد ته جهاد ویلی شو؟ آیا تبلیغ او دعوت ته هم د جهاد فی سبیل الله نوم ورکولی شو؟ څو خبرې په پام کې ولرئ:

- قرآن د هر کار او عمل لپاره ځانګړې او خاص اصطلاحات لري، هره اصطلاح باید په خپل خپل ځای او خپل خپل خاص مورد کې استعمال شي، ځوك چې په قرآن ایمان لري هغه ته په کار ده چې د قرآن هره اصطلاح په خپل ځای کې وکاروي او له خپل خاص مورد پرته ئې د بل څه لپاره استعمال نه کړي.
- په قرآن کې د جهاد فی سبیل الله اصطلاح یوازې د دښمن په خلاف د مسلحانه جهاد په معنی راغلې، که قرآن ته مراجعه وکړئ نو وبه ګورئ چې د (جهاد فی سبیل الله) ذکر له (هجرت) وروسته راځي او دا ټول په هغو سورتونو کې راغلي چې په مدینه کې او د جهاد له فرض کېدو وروسته نازل شوي، د مکي دور په څو محدودو آیتونو کې د (جهدا‌ئمانهم)، ( وان جٰهدٰك)، (جاهدوا فینا) او ( ومن جاهد) په صیغه راغلي چې هلته ئې مراد زیار او زحمت ایستل دي.
- د اسلام ټول ائمه په دې متفق دي چې له جهاد فی سبیل الله مراد قتال فی سبیل الله دئ نه بل څه.
- د قرآن له هیڅ آیت دا نه معلومېږي چې (تبلیغ) او (دعوت) ته دې (جهاد فی سبیل الله) ویل شوي وي.
- د الله په لار کې مالي قرباني ته (انفاق فی سبیل الله) ویل شوي نه جهاد فی سبیل الله.
- په مکي دور کې (دعوت) او (انفاق) وو خو دې ته په مکي سورتونو کې د جهاد نوم نه دئ ورکړی شوی، جهاد په مدینه کې فرض شوی او اساسي او تفصیلي ذکر ئې په مدني سورتونو کې راغلی، له دې معلومېږي چې جهاد بېل شی دئ او دعوت او انفاق بېل.
- دا خبره چې (دعوت، تبلیغ او انفاق) هم ( جهاد فی سبیل الله) دي، په حقیقت کې هغه کسان کوي چې یا په دې نه پوهېږي چې د قرآن هره اصطلاح باید په خپل ځای کې استعمال شي او یا د الله په لار کې د جهاد کولو اراده او همت نه لري. د دې لپاره چې په نه جهاد سره ئې څوك ملامت نه کړي نو وایي: زما دعوت او تبلیغ، زما وینا او لیکنه او زما سیاسي او اجتماعي مبارزه هم جهاد فی سبیل الله دي!! دوی ته وایو: ستا دا ټول کارونه د قدر وړ دي، الله تعالی دې مزید توفیق درکړي، خو هیڅ یو ئې جهاد فی سبیل الله نه دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# المؤمنون

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم (المؤمنون) دئ، دا نوم له لومړي آيت (قد افلح المؤمنون) اخيستل شوی، يو سل اتلس آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (المؤمنون) او د دولسم آيت (طين) ته ورته دي، آيتونه ئې د مکي دور د منځنيو کلونو سورتونو په څېر لنډ لنډ او شعارونو ته ورته دي چې ډېر ښکلی غږ او وزن لري، اوږده آيتونه ئې هم له لنډو فقرو جوړ شوي. د سورې له مضامينو هم معلومېږي چې دا د مکي دور په منځنيو کلونو کې او هغه مهال نازله شوې چې د قريشو او مسلمانانو تر منځ منازعه تشديد شوې خو لا هغه پړاو ته نه وه رسېدلې چې د مسلمانانو په ضد له زور زياتي کار واخلي. له عمر رضی الله عنه روايت شوی چې هغه د رسول الله صلی الله عليه و سلم په خوا کې وو چې وحي پرې نازله شوه، کله چې د وحي د نزول حالت پای ته ورسېد، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: پر ما باندې اوس داسې لس آيتونه نازل شول چې که څوك ئې عملي کړي نو حتماً به جنت ته ننوځي، بيا ئې د دې سورې لومړي لس آيتونه تلاوت کړل:

« لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ عَشْرُ آيَاتٍ مَنْ أَقَامَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ ». ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا (قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ) حَتَّى خَتَمَ الْعَشْرَ. رواه احمد، ترمذی، النسائی

د دې مبارکې سورې د بحث محوري موضوع د انسان د فلاح او بريا عوامل او له دې فلاح او بريا د محروميت اسباب څېړل دي، په لومړيو يولسو آيتونو کې د فلاح او بريا اُوه عوامل په ګوته شوي، بيا د دې لپاره د انسان د پيدايښت ببل ببل اُوه ګونې پړاوونه د شاهد په توګه وړاندې شوي، ورپسې د آسمان پوړ پوړ پيدايښت، له آسمانه د اوبو ورېدا او په دې اوبو سره د ډول ډول ونو او بوټو راټوکېدا د بل شاهد په توګه د مخاطب په وړاندې اېښودل شوي، بيا د نوح عليه السلام او هود عليه السلام په قصو کې له يوې خوا د برياليو او له بلې خوا د نامرادو او له بريا د محرومو وګړو بېلګې وړاندې شوې، بيا همدا مطلب د ګڼ شمېر پيغمبرانو په قصو کې انځور شوی، چې په ضمن کې ئې د موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام يادونه هم شوې، ورپسې په عامه توګه ويل شوي چې د حقپالو امت واحد امت دئ، رب ئې يو دئ، پيغمبران ئې مشران دي، مأموريتونه ئې سره ورته او برخليك ئې سره مشابه دئ، لار ورکو خلکو دا واحد امت او واحد دين ټوټې ټوټې کړی، هره ډله په خپلې تګلارې راضي شوې، ځينو داسې انګېرلې چې د مال زياتوالی او د پلويانو ډېرښت د

فلاح او بریا نښه ده، د دوی په مقابل کې یو ځل بیا د بریالیو مؤمنانو نوري ځانګړتیاوې او مواصفات په دې توګه راغلي: هغه چې د خپل رب له هیبته وېرېدونکي دي، هغه چې د خپل رب پر آیتونو ایمان راوړونکي دي، هغه چې د خپل رب په اړه شرك نه کوي، او هغه چې په داسې حال کې د خپلې ورکړې شیان ورکوي چې زړونه ئې له دې کبله پوړېږي چې د خپل رب په لوري ستنېدونکي دي، همدا دوی په ښېګڼو کې تلوار کوي او ژر ورسېدونکي دي. بیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وړاندې د قریشو چلن، له بیا ژوندون د دوی انکار او د دوی شرك څېړل شوی او ویل شوي چې دوی د خپلو مشرکو اسلافو لار تعقیبوي او له همغه برخلیك سره به مخامخ کېږي چې هغوی ورسره مخامخ شول. بیا د قیامت په ورځ د دغو مشرکینو او د حق منکرینو بد حالت انځور شوی او د سورې په تتمې کې راغلي چې هغه کافران هیڅکله نشي بریالي کېدی چې له الله تعالی پرته بل معبود لمانځي او په قیامت او بیاژوندون باور نه لري. او په آخري آیت کې د الله تعالی صالح او مخلص بنده ته لارښوونه شوې چې د خپل مهربان رب په وړاندې دا دعاء کوي: اې زما ربه! بخښنه وکړه، رحم وکړه، یقیناً چې ته تر ټولو رحم کوونکو غوره یې.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ﴿٢﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنِ
ٱللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ﴿٤﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ
حَٰفِظُونَ ﴿٥﴾ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ﴿٦﴾
فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ﴿٧﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ
رَٰعُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ﴿١٠﴾
ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١١﴾

یقیناً هغه مؤمنان بریالي شول چې په خپل لمانځه کې خشوع کوونکي دي، او هغه چې له بېهوده (خوشې کار او خبرې) ډډه کوونکي دي، او هغه چې د زکات تر سره کوونکي دي، او هغه چې د خپلو عورتونو ساتونکي دي، مګر پر خپلو جوړو او وینځو چې په دې سره دوی پړه او ملامت نه دي، نو څوك چې سربېره پر دې لټوي نو هغوی تېری کوونکي دي، او هغه چې د خپلو امانتونو او ژمنو پالونکي دي، او هغه چې د خپلو لمونځونو ساتنه کوي، همدا دوی هغه وارثان دي چې فردوس په میراث وړي، په هغه

کې به تلپاته وي.

(۱-۱۱)- په دې مبارکو آیتونو کې فلاح او بریا ته د رسېدو دغه لوازم او شرائط بیان شوي:
۱- په لمانځه کې خشوع او عاجزي، ۲- له عبثو خبرو او کارونو ډډه کول، ۳- په پاکوني او روزني بوختیا، ٤- له ناروا جنسي اړیکو د خپلو عورتونو ساتنه؛ ۵- د امانتونو حفاظت، ٦- خپلې ژمنې تر سره کول، ۷- د خپلو لمونځونو حفاظت.

په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- په دغو آیتو نو کې چې کومو سترو سترو اخلاقي ښېګڼو ته اشاره شوې په سر او پای کې ئې د لمانځه ذکر راغلی او ټول ئې لمونځ کوونکو ته منسوب شوي چې معنی ئې دا ده: لمونځ د ټولو ښېګڼو د پیل نقطه ده، لمونځ د ټولو دغو ښېګڼو بنسټ دئ، لمونځ په دغو ټولو ښېګڼو احاطه کړې، هم ئې د پیل عامل دئ او هم ئې د دوام باعث. یعني د فلاح او بریا د عواملو په ډله کې لومړی عامل له خشوع سره لمونځ او وروستی عامل د لمونځونو ساتنه ښودل شوې. خشوع د انکسار او عجز هغه حالت ته وایي چې د الله تعالی عظمت او لویې ته په پام سره د انسان په زړه کې راپیدا کېږي، د زړه دغه حالت هم د انسان پر غړ غړ خپل اغېز کوي، هم ئې پر غړو او هم ئې پر حرکاتو او سکناتو، په لمانځه کې د خشوع معنی دا ده چې د الله تعالی په وړاندې به ستا دغه ودرېدا داسې وي لکه د یوه محتاج، عاجز او مطیع بنده ودرېدا، په لهجې، حرکاتو او سکناتو کې به دې د ستر رب په وړاندې د ودرېدا آثار څرګند وي. یوې خوا بلې خوا ته نه کتل، له غیر ضروري حرکاتو، لاس خوځولو، له ضرورته پرته د جامو له غونډولو او یوې خوا بلې خوا ته کولو ډډه کول، په قرائت کې خپل غږ له ضرورته زیات نه لوړول، ژړغوني شاني په نرم او ټیټ ږغ قرائت، په تأني سره لمونځ کول او له تلوار او عجلې ډډه کول د همدې خشوع له مقتضیاتو او آثارو دي.
- په درېیم آیت کې له (لغو د اعراض) الفاظ راغلي، لغو هر هغه څه ته وایي چې بې معنی، بې ګټې او بېهوده وي. دا د مؤمنانو له ځانګړتیاوو ګڼل شوې چې له داسې کارونو ډډه کوي.
- په څلورم آیت کې د (للزکوة فاعلون) فقره راغلې، معنی ئې د تزکیې او پاکوني کار کول دي، له غلطو افکارو، فاسدو اخلاقو، ګنده ویناوو او ناولو کارونو ډډه کول هم افاده کوي او د منکراتو او مفاسدو په ضد مبارزه هم احتوی کوي. تزکیه هم د پاکوني معنی ورکوي او هم د روزني، قرآن د پیغمبرانو علیهم السلام مأموریتونه په څو مهمو مهمو دندو کې راخلاصه کوي چې یوه ئې د خلکو تزکیه کول او روزل دي:

لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَـٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾ آل عمران

يقيناً چې الله پر مؤمنانو احسان وکړ چې په دوی کې ئې د دوی له منځه داسې پيغمبر مبعوث کړ چې پر دوی باندې ئې آيتونه لوستل، د دوی روزنه کوي او کتاب او حکمت ورښيي، په داسې حال کې چې له دې د مخه په ښکاره ګمراهۍ کې وو.

يعني پيغمبر خلک له ضلالت او بې لارېتوبه ژغوري، له فکري او عملي پلوه هغوی تزکيه کوي، د ده بعثت پر خلکو د الله تعالی يوه ستره پېرزوينه وي، هغه حلال او حرام، پاک او ناپاک، مفيد او مضر ورښيي، کتاب او حکمت ورزده کوي.

که څه هم ځينو مفسرينو دلته زکات د مالي زکات په معنی اخيستی، خو دا تعبير کمزوری دئ، هم له دې کبله چې د الفاظو له ترکيب سره اړخ نه لګوي، الفاظ د پاکوني په کار بوختېدا افاده کوي نه د زکات ورکړه، او هم له دې پلوه چې مالي زکات په مدينه کې فرض شوی او دا سوره په مکه کې نازله شوې.

په پنځم آيت کې روا او جائز جنسي تعلق په دوو کې راخلاصه شوی: له خپلو مېرمنو او وينځو سره، دا ښيي چې له دې دواړو پرته د نارينه او ښځې تر منځ د جنسي رابطې بل جائز او روا صورت نشته، بل هر صورت له شرعي او فطري محدودې وتلی او تېری ګڼل کېږي. ځينو محققينو دغو الفاظو ته په پام سره ويلي چې متعه او موقته نکاح حرامه ده، ځکه ممتوعه ښځه نه د منکوحه مېرمنو په ضمن کې راځي او نه د وينځو په ضمن کې، بايد وواېو چې متعه نه يوازې د دې آيت له مخې حرامه ده، او په صريح او صحيح حديث سره حرام ګڼل شوې، بلکې د قرآن ګڼ شمېر آيتونه د هغې د حرمت شهادت ورکوي، قرآن د نکاح په دوام او غيرمؤقت والي تأکيد کوي، د نکاح کوونکو لپاره د (محصنين) او د نکاح کېدونکيو لپاره د (محصنات) الفاظ کاروي او مسلمانانو ته مکرر او په تأکيد سره وايي چې له نکاح نه داسې څه مه جوړوئ چې ښکاره زنا يا د پټې يار نيولو ته ورته وي. مصيبت دا دئ چې ځيني کسان د خپل مسلک او مذهب مربوط روايت ځان ته معيار او ملاک کړي او دا هڅه کوي چې د قرآن آيتونه د دغو رواياتو په ګټه تأويل کړي، که کوم روايت د قرآن له کوم آيت سره مغاير مومي او د آيت ټول الفاظ او د الفاظو ترکيب ئې په صراحت او قاطعيت سره د ده روايت نفي کوي، خو دی دې ته نه تيارېږي چې يا روايت پرېږدي يا ئې د آيت په ګټه تأويل کړي، برعکس د آيت صريح مفهوم پرېږدي او داسې کوږ او له تکلف ډک مطلب ترې راباسي چې همدا غلط او ضعيف روايت تأييد کړي. د مؤقتي نکاح او متعې په باره کې ئې کوم روايت تر لاسه کړی، هڅه کوي په قرآن کې د دې روايت په تأييد کې کوم دليل راپيدا کړي، خو ښکاره دليل نه مومي، دې ته هم نه چمتو کېږي چې د قرآن مغاير روايت پرېږدي، ناچار به په آيت کې لاسوهنه کوي او مطلب به ئې داسې برابروي چې د روايت تأييد ترې راووځي!! هغه روايت به څنګه د اعتبار وړ ګڼو چې د قرآن له صريح آيت سره تضاد او تعارض لري؟! څنګه به يو غريب روايت چې په درې او څلورو طبقو کې يوازې يو يو راوي لري په داسې حال کې منو چې د قرآن له ګڼ شمېر آيتونو سره ژور تعارض لري، په قرآن د ايمان مقتضی خو دا ده چې د داسې روايت په اړه ووايو: ښايي راوي اشتباه

کړې ده یا ښایي دا روایت د هغې مرحلې په اړه وي چې لا دا آیت نه وو نازل شوی. شیعه د متعې په اباحت قائل دي، د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما په یوه روایت استناد کوي، حال دا چې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما ته دا هم منسوب شوي چې د متعې په اړه وایي: ما هي الا کالمیتة لا تحل الا للمضطر: دا خو داسي ده لکه مرداره غوښه چې یوازې د مضطر لپاره حلاله ده، او دا هم ویل شوي چې هغه له دغه قول هم په شا شوی او د هغې د تحریم حکم ئې کړی!!

ځینو مفسرینو او فقهاءو د آیت په دغو الفاظو (فمن ابتغاء وراء ذالك) کې د ذالك اشاره د جنسي غریزې اشباع ته راجع کړې او ویلي ئې دي چې له بلي هري لاري د دې غریزې اشباع حرامه ده، خو د آیت الفاظ داسي دي چې ښیي په ذالك سره مېرمنو او وینځو ته اشاره شوې او له دوی دواړو پرته له نورو ښځو سره جنسي تعلق ناروا ګڼل شوی. همدې ته په پام سره د فقهاءو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې استمناء بالید (جلق) جائز دئ که حرام، امام احمد بن حنبل او ځیني نور ئې مباح او جائز ګڼي او وایي د حرمت په اړه ئې واضح نص نشته، د ناجائز جنسي تعلق حرمت په نص سره ثابت دئ، که دا له محرماتو سره وي، یا د نارینه او نارینه او ښځي تر منځ وي یا له حیوان سره، خو د مني بې اختیاره وتل (لکه په خوب کې) یا په خپله د مجبوریت په وخت کې د استمناء بالید له لاري ایستل سره برابر دي، او حکم ئې داسي دئ لکه نور مواد چې د انسان له بدنه وځي، امام مالك او امام شافعي ئې مطلقاً حرام بولي، احناف د حرام په سترګه ورته ګوري خو وایي: که د شدید مجبوریت له کبله وشي امید دئ الله تعالی عفو وکړي.

په دې آیت کې دا هم ویل شوي چې که څوك په همدې اکتفاء وکړي پړ او ملامت نه دئ، او دا د هغو خلکو غلطه رأیه تردیدوي چې روا جنسي تعلقات هم د معنوي ارتقاء په وړاندي خنډ او مانع ګڼي او د مجرد ژوند سپارښتنه کوي، همغسي لکه د نصرانیانو کشیشان او مذهبي مشران چې له نکاح ډډه کوي او غواړي د عیسی علیه السلام په څېر د ژوند تر پایه مجرد پاته شي، یا هندي مرتاضان او ځیني لار ورکي متصوفین چې ګمان کوي روا جنسي تعلقات هم د معنوي ارتقاء مانع کېږي. د دوی دا غلط باور هم د الهي دین خلاف دئ او هم د انساني فطرت خلاف، دا په حقیقت کې له فطرت سره جنګ دئ، د دې جنګ بدي پایلي په هغو شرموونکو اخلاق او عفت ضد خبرونو کې له ورایه ګورو چې ورځ بله ئې له کلیساوو او د کشیشانو او راهبانو د جنسي انحرافاتو په اړه اورو!! دوی نه پوهېږي چې عیسی علیه السلام د واده فرصت نه دئ موندلی، نه دا چې واده کول ئې د معنوي ارتقاء مانع ګڼلی او د همدې لپاره ئې ترې ډډه کړې.

دلته دا وضاحت هم ضروري برېښي چې که څه هم په دې آیتونو کې مؤمنون او ورپسې نوري اړوند صیغې نارینه افاده کوي خو د قرآن د نورو آیتونو په څېر دواړو (مؤمنو نارینه او ښځو) ته راجع دي، خو په دې صورت کې دا پوښتنه راولاړېږي چې په ما ملکت ایمانهم کې یوازې وینځې مراد دي که غلامان هم، یوازې نارینه وو ته له خپلو وینځو سره دا تعلق

جائز دئ او که ښځو ته هم له خپلو غلامانو سره؟ په دې اړه ټول مفسرين متفق دي چې مراد ئې يوازې وينځې دي، خو د دوی تر منځ د آيت په توجيه کې کافي اختلافات تر سترګو کېږي، د ځينو دلائل خو دومره کمزوري دي چې په يادولو نه ارزي، غوره او دقيقه توجيه دا ده چې کله په قرآن کې د (ملکت ايمانکم، ملکت ايمانهم او ملکت ايمانهن) الفاظ د نکاح او مباشرت په ارتباط راغلي نو په ټولو کې ئې مراد يوازې وينځې وې، لکه د النساء د سورې په ۲، ۲٤، او ۲۵ آيتونو کې، د الاحزاب په ۵۰ او ۵۲ او د النور په۳۱ آيتونو کې، او کله چې په عامه توګه او له ازدواج پرته راغلي نو مراد ئې دواړه غلامان او وينځې وي لکه د النساء ۳٦، د النحل۷۱، د النور۳۳، د الفرقان ۵۸ او د الروم په ۳۸ آيتونو کې.

په اتم آيت کې د امانت مراعات او په خپلو ژمنو د عمل کولو يادونه شوې، امانت عام دئ، زموږ هر څه الهي امانتونه دي، ژوند مو، استعدادونه مو، فرصتونه مو او هغه نعمتونه او امکانات چې الله تعالی موږ ته راپه برخه کړي، د حکامو او واکمنو په لاس کې اقتدار، صلاحيت او ولسي شتمنۍ امانتونه دي، د يو چا مال او دولت چې موقتاً تا ته سپارل کېږي امانت دئ، د يوه چا هغه شخصي سِر او راز چې نه غواړي څوک پرې خبر شي، دا ټول د امانت په ضمن کې راځي، رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: څوک چې امين نه وي هيڅ ايمان نه لري. همداراز په خپلو ژمنو ودرېدل او په خپلو تعهداتو وفا کول پراخ ميدان لري، له الله تعالی سره د بنده تعهدات هم احتوی کوي او د انسان او انسان تر منځ ژمنې هم، فردي ژمنې هم او اجتماعي ژمنې هم، رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: څوک چې پر خپلو ژمنو ولاړ نه وي هيڅ دين نه لري.

په نهم آيت کې يو ځل بيا د لمانځه يادونه شوې او ويل شوي: او هغه چې د خپلو لمونځونو ساتنه کوي، يعني د لمونځ اړوند ټولو چارو ته پاملرنه کوي، اوقات او آداب ئې په پام کې نيسي، نه پرېږدي چې شيطان په خپلو شرارتونو سره د ده په لمانځه کې خلل واچوي يا دنيوي چارې او مصروفيتونه ئې ترې غافل کړي.

څوک چې دا اُوه صفتونه لري نو د فردوس جنت به ئې په برخه شي او په هغه کې به تلپاته وي.

دا مطلب د المعارج په سورې کې په دې توګه راغلی:

إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا
ٱلْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱلَّذِينَ فِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴿٢٤﴾
لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿٢٥﴾ وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٢٦﴾ وَٱلَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِم
مُّشْفِقُونَ ﴿٢٧﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴿٢٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا
عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ

فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ۝٣١ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ۝٣٢ وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمۡ
قَآئِمُونَ ۝٣٣ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ۝٣٤ أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ ۝٣٥

المعارج

يقيناً چې انسان ډېر کم ظرفه او بې صبره پيدا شوی، چې شر وروړسېږي، زګېروی کوونکی شي او چې خير ئې په برخه شي (د خير د کار) سخت مخنيوی کوونکی شي، مګر لمونځ کوونکي، هغه چې په خپل لمانځه پايښت کوي او هغه چې په شتمنيو کې ئې د سوال کوونکو او بې وزلو لپاره څرګنده برخه وي، او هغه چې د بدلې ورځ رښتونې ګڼي او هغه چې د خپل رب له عذابه وېرېږي، ځکه چې د دوی د رب له عذابه خوندي پاته کېدا نشته، او هغه چې د خپلو شرم ځايونو ساتنه کوي، مګر په خپلو مېرمنو يا وينځو چې پدې صورت کې دوی پړه او ملامت نه دي او چا چې پر دې سربېره څه وغوښتل تېری کوونکي دي، او هغه چې د خپلو امانتونو او ژمنو پاملرنه کوي، او هغه چې په خپلو شهادت ورکولو په نېغه ودرېږي، او هغه چې د خپل لمانځه ساتنه کوي، د دوی به په جنت کې درناوی کېږي.

پدې مبارکو آيتونو کې لاندې ټکي د خاصې پاملرنې وړ دي:

• د ستونزو او کړاوونو په وخت کې بې صبري، سرټکول، بده ورځ جوړول او شکوه او شکايت کول او د شتمن کېدو په صورت کې بخل کول، د خير په لار کې د خپل مال له مصرفولو ډډه او له خپلې شتمنۍ د ښېګڼې د هر کار د مخنيوي په لار کې کار اخيستل، د انسان هغه دوه ناوړه او بد خويونه دي چې د ده اکثره اجتماعي مشکلات له همدې راولاړېږي، له دې به يوازې "مصلين" يعنی لمونځ کوونکي خوندي پاته کېږي.

• د دوهم آيت په اړه بايد ووايو چې په لمانځه کې د خشوع د څرنګوالي په ارتباط بېل بېل آراء او روايات تر سترګو کېږي، د بخاري يو روايت دا دئ:

عن قَتَادَةُ أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُمْ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فِي صَلاَتِهِمْ". فَاشْتَدَّ قَوْلُهُ فِي ذَلِكَ حَتَّى قَالَ "لَيَنْتَهُنَّ عَنْ ذَلِكَ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ". (بخاری:۷۵۰)

له قتاده روايت دئ چې انس بن مالک رضی الله عنه ووېل: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (پر هغو خلکو څه شوي چې په لمانځه کي سترګي پورته آسمان ته نيسي)؟ پدې اړه ئې وينا تر دې حده سخته شوه چې وئې فرمايل: (يا دې حتماً له دې کار ډډه وکړي او يا دا چې سترګي به ئې اختطاف شي ( نظر به ئې ختم شي).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی، په نورو کتابونو کې هم راغلی، خو په مقابل کې ئې ابن تيميه رحمة الله عليه د ابن سيرين او نورو دا روايت راوړی:

وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ: " كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - يَرْفَعُونَ

أَبْصَارَهُمْ فِي الصَّلَاةِ إِلَى السَّمَاءِ , حَتَّى نَزَلَتْ: {قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ , الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ} فَقَالُوا بَعْدَ ذَلِكَ بِرُؤُوسِهِمْ هَكَذَا " عن ابن سيرين وغيره: كان النبى صلى الله عليه و سلم وأصحابه يرفعون أبصارهم فى الصلاة إلى السماء وينظرون يمينا وشمالا حتى نزلت هذه (قد أفلح المؤمنون الذين هم فى صلاتهم خاشعون) المؤمنون: ۱-۲ فجعلوا بعد ذلك أبصارهم حيث يسجدون وما رؤى أحد منهم بعد ذلك ينظر إلا إلى الأرض. الايمان، ابن تيمية

له ابن سيرين او نورو روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه وو به په لمانځه کې آسمان ته او ښي او کيڼ لوري ته کتل، تر هغه چې دا آيتونه نازل شول: قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ؛ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ: يقيناً چې هغه مؤمنان بریالي شول چې په خپل لمانځه کې خاشع وي، نو له دې وروسته به ئې د سجدې ځاى ته نظر کاوو او د دوى هيڅوك داسي نه دئ ليدل شوى چې له زمکې پرته بل لوري ته وګوري.

د انس رضى الله عنه روايت له دې روايت سره تعارض لري. د المؤمنون سوره په مکه کې نازله شوې او د انس روايت وايي چې په مدينه کې ځينو خلکو همدا کار کاوو، ابن تيميه وايي چې د دې سورې له نازلېدو وروسته هيچا له زمکې پرته بل لوري ته نه کتل. د ابن تيميه دا روايت د بخاري له هغه روايت سره هم تعارض لري چې په هغه کې د خباب رضى الله عنه دا وينا راغلې چې موږ به په لمانځه کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدو چې د ماسپښين او مازديګر په لمونځونو کې ئې هم خفيه قرائت کاوو. يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم ته به مو کتل او د هغه د شونډو له خوځېدو به پوهېدو چې هغه خفيه قرائت کوي.

دغو او نورو رواياتو ته په پام سره ويلى شو چې په لمانځه کې د سجدې ځاى ته کتل او نورو خواوو ته نه کتل غوره دي خو د سترګي له کونج کتل او هغه هم د کوم ضرورت له امله د لمانځه او په لمانځه کې د خشوع منافي کار نه دئ.

---

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ
﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَٰمًا
فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَٰمَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَٰلِقِينَ
﴿١٤﴾ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾

او يقيناً چې انسان مو د خټې له خلاصې (عصارې) پيدا کړ، بيا مو يوه نطفه وګرځاوو

په يوه مضبوط ځای کې، بیا مو دا نطفه علقه وګرځوله، بیا مو دا علقه د غوښې یوه ټوټه جوړه کړه، بیا مو د غوښې دا بوټۍ هډوکي وګرځول، بیا مو دا هډوکي په غوښې وپوښل، بیا مو په یوه بل جوړښت کې پیدا کړ، نو مبارك دئ دا تر ټولو غوره پیدا کوونکی الله. بیا تاسو له دې وروسته حتماً مرئ بیا تاسو حتماً د قیامت په ورځ راپاڅول کېږئ.

(۱۲-۱٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

• دلته د انسان د پیدایښت اوو مرحلو ته اشاره شوې، په دې توګه: ۱- انسان مو د خټې له خلاصې (عصارې) پیدا کړ، چې مراد ترې د انسان په مني کې جوړه شوې نطفه ده، ۲- بیا مو یوه نطفه وګرځاوو په یوه مضبوط ځای کې، چې مراد ئې د مور په رحم کې د ګډې نطفې استقرار دئ، ۳- بیا مو دا نطفه علقه وګرځوله، ٤- بیا مو دا علقه د غوښې یوه ټوټه جوړه کړه، ۵- بیا مو د غوښې دا بوټۍ هډوکي وګرځول، ٦- بیا مو دا هډوکي په غوښې وپوښل، ۷- بیا مو په یوه بل جوړښت کې پیدا کړ، یعني بشپړ ماشوم ئې ترې جوړ کړ.

• دا پوښتنه راولاړېږي چې تر دې وړاندې د انسان د فلاح او بریا اوو اسبابو ته اشاره وشوه، دلته د انسان د پیدایښت اوو پړاوونو ته او ورپسې ویل شوي چې ستاسو له پاسه مو اُوه لارې پیدا کړې، د دغو دریو خبرو او دغو اوو عواملو، مراحلو او آسماني لارو تر منځ څه تړاو شته؟ د دې پوښتنې ځواب دا دئ چې هو؛ یقیناً د دوی تر منځ ژور تړاو شته؛ او هغه داسې: د انسان معنوي ارتقاء همغسې بېل بېل مدارج لري، له بېلو بېلو معنوي پړاوونو له تېرېدو وروسته کولی شي د فلاح او بریا لوړو لوړو څوکو ته ورسېږي، همغسې لکه چې د ده پیدایښت او د یوه بشپړ انسان په توګه دنیا ته د ده راتګ پړاوونه لري، او همغسې لکه چې زموږ له پاسه لوړ آسمان پوړ پوړ دئ.

• الله تعالی د انسان نطفه د خټې له خلاصې جوړوي، یعني د ده په نطفه کې د اوبو په شمول د خاورې ټول هغه مواد شته چې خاوره ترې جوړه شوې، له همدغې لمدې خاورې (خټې) دانه او مېوه جوړه کړې، وني او بوټي له لمدې خټې مواد جذبوي او مېوه او دانه ترې جوړوي، دغه دانه او مېوه د انسان (نارینه او ښځې) په بدن کې په مني واوړوي، د دغې مني له یوې وړې ذرې (نطفې) د ده پېدایښت پیل کړي. علم نن همدا خبره کوي چې د انسان د بدن په ترکیب کې د خاورې ټول مواد کارول شوي. او همدا خبره کوي چې د انسان پیدایښت له یوې وړې نطفې پیل شي.

• د نارینه د مني یوه نطفه او د ښځې یوه نطفه (هچۍ) غوره شي، تر ټولو ښه او پیاوړې ئې، دوی سره یو ځای شي، له همدې ځایه د انسان جوړښت پیل شي، بیا ئې الله تعالی په یوه مضبوط، خوندي او مناسب ځای کې ځای په ځای کړي. دلته هم د قرآن یو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندې ځلېږي او هغه دا چې د نارینه او ښځې د دوو نطفو (سپرم او اووم) یو ځای کېدا د مور د بدن په یوې برخې کې او هلته چې اووم (هګۍ) سپرم ته په انتظار

پرته وي، تر سره کېږي او بیا له یو ځای کېدا وروسته رحم ته درومي او هلته تر هغه پاته کېږي چي د یوه بشپړ ماشوم په څېر دنیا ته راشي. د قرآن دغه وینا چي لومړی ګډه نطفه جوړه شي او بیا په مضبوط مستقر کي ځای په ځای شي هغه ستر حقیقت انځورووي چي انسان په شلمي پېړۍ کي پرې پوه شو، تر دې وړاندي عامیانه انګېرنه دا وه چي د نارینه او ښځي مني په رحم کي یو ځای کېږي او همدلته ماشوم ترې جوړېږي. خو قرآن لا د مخه ویلي وو چي په رحم کي استقرار د نطفې له جوړېدا وروسته تر سره کېږي.

- دا نطفه وده وکړي، لومړی د علقه بڼه غوره کړي، د یوه ځوړند توکي په څېر شي، بیا د ژوول شوې غوښي بڼه غوره کړي، بیا ئې د هډوکو جوړېدا پیل شي، بیا دا هډوکي د غوښي په بوټیو پټ کړی شي، قرآن هغه مخکینۍ غوښه د مضغه په نامه یاده کړې او دا ئې د لحم په نامه او دا ښیي چي د دواړو ترکیب او حالت بېل بېل دئ او په خپلو کي توپیر لري.
- له دې وروسته هغه ته د یوه بشپړ ماشوم صورت او شکل ورکړی شي.

څه چي په دې مبارك آیت کي ویل شوي علم نن د هغه حرف حرف تأییدوي او د انسان د پیدایښت د بېلو بېلو مراحلو حالت همغسي ګڼي چي په دغو مبارکو آیتونو کي انځور شوي.

دا مطلب د الزمر په سورې کي په دې الفاظو راغلی:

خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْأَنْعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ٦ الزمر

تاسو ئې له یوه نفس (ژوي او ساکښ) پیدا کړئ، بیا ئې د هغه جوړه ترې پیدا کړه، او تاسو ته ئې د څارویو اته جوړې پیدا کړې، تاسو د خپلو میندو په رحمونو کي په پر له پسې جوړښت او پیدایښت سره پیدا کوي، (یو پیدایښت په بل پسې) په دریو تیارو کي، همدا ستاسو رب دئ چي ټولواکي د ده ده، له ده پرته بل معبود نشته، نو کوم لوري ته ګرځول کېږئ (بې لاري کېږئ)؟

په دې مبارك آیت کي هم ویل شوي چي د انسان پیدایښت داسي دئ چي له یوه حالته بل ته اوړي، په بېلو بېلو مراحلو کي بېل بېل خلقت او جوړښت ورپه برخه کېږي، داسي نه دئ چي لومړنی جوړښت ئې ورو ورو وده کوي او تر پایه خپل لومړنی شکل او بڼه ساتي.

علم ته له څوارلسو پېړیو وروسته دا خبره څرګنده شوه چي د انسان جوړښت د خاوري د اجزاوو له خلاصې دئ او د ده په وجود کي د خاوري ټول اجزاء را غونډ شوي او په دې هم پوه شوی چي په ماشوم باندي د مور په رحم کي همغه مراحل او پړاوونه یو په بل پسي راځي چي په پورتني آیت کي ذکر شوي، د نطفې په شکل کي راپیدا شي، ورو ورو دا نطفه په داسي ځوړند توکي بدله شي چي ژوري ته ورته وي او بیا د داسي یوې ټوټې غوښي شکل

غوره کړي چي ژوول شوې ته ورته وي، وروسته د ده هډوکي راپیدا شي او بیا دغو هډوکو ته غوښه وراغوستی شي او په پای کې د یوه مکمل ماشوم شکل غوره کړي او دنیا ته راشي.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعَ طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ ﴿١٧﴾

او یقیناً چي ستاسو له پاسه مو اُوه لاري پیدا کړې دي او موږ له پیدایښت غافل نه یو.

(۱۷)- د دې مبارك آیت په وړاندي باید لږ توقف وکړو او وګورو چي زموږ له پاسه د اوو لارو د پیدا کولو معنی څه ده؟ آیا مراد ئې اُوه آسمانونه دي؟ ولي آسمانونه د لارو په نامه یاد شوي؟ او ولي تر دې وروسته ویل شوي چي موږ له پیدایښت غافل نه یو؟ د دې خبري ئې له مخکیني سره څه تړاو؟

د دغو پوښتنو ځوابونه دا دي:

- له اوو لارو مراد اُوه آسمانونه دي، ځکه تر دې آیت وروسته ویل شوي چي له آسمانه مو اوبه نازلي کړې. خو له آسمانونو مراد د زمکي اُوه مدارونه دي، ځکه دلته د زمکي هغې فضاء ته د آسمان نوم ورکړی شوی چي وریځي په کي خوځېږي او باران ترې ورېږي.
- د زمکي مدارونه د لارو په نامه یادول ډېره دقیقه او علمي نومونه ده او په ارزښت او اهمیت ئې هغه څوك پوهېږي چي د فضاء په اړه څېړني کوي، یقیناً چي دا نومونه د قرآن یو ستر علمي اعجاز دئ. لکه چي هر اتم په خپلي شاوخوا کي مدارونه لري او په دې مدارونو کي الیکټرونونه خوځېږي، د اتم د مدارونو شمېر حد اعظمي اُوه وي، تر دې نه زیاتېږي، هر الیکټرون خپله خپله تګلاره لري، زموږ زمکه او د آسمان هر ستوری همداسي په خپلي فضاء کي مدارونه لري، د دغو مدارونو لپاره تر ټولو غوره او دقیق نوم طرائق (یعني لاري) دئ، سپوږمۍ پر زمکي راڅرخي، د څرخېدو خاص او ټاکلی مدار لري، دا مدار د هغې لپاره یوه ځانګړې لار ده، وریځي د زمکي په فضاء کي خوځي، د خوځېدو مدار ئې د هغوی لپاره ځانګړې لار ده، سپوږمکۍ د زمکي شاوخوا څرخي، د هري سپوږمکۍ لپاره ځانګړی مدار ټاکل کېږي چي همدا ئې لار وي. دا مدارونه د هغه جاذبې او دافعې تر منځ د ځانګړي تناسب له مخي ټاکل کېږي چي د زمکي او د هغې پر محور د چورلېدونکي توکي تر منځ راپیدا کېږي، زمکه ئې ځان ته راکاږي او د چورلېدونکي جرم حرکت هغه ته د لري تلو ځواك وربخښي، د جذب او تېښتي د دغو ځواکونو تر منځ یو خاص تناسب د دې باعث شي چي دا چورلېدونکی توکی په خاص مدار کي خوځېدو ته اړ شي، چي همدا ئې تګلاره شي.
- د آیت په پای کي دا فقره (وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ: او موږ له پیدایښت غافل نه یو) ښیي چي د دې مبارك آیت د نزول په وخت کي انسانان له دې حقیقت غافل ول، نه پوهېدل چي د زمکي اُوه آسمانونه لارو ته ورته مدارونه دي، دا حقیقت نن او د دې آیت له نزوله نژدې څوارلس پېړۍ وروسته انسان ته جوت شو.

وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّٰهُ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ
﴿١٨﴾ فَأَنشَأْنَا لَكُم بِهِۦ جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ لَّكُمْ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٌ
وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَآءَ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهْنِ وَصِبْغٍ
لِّلْـَٔاكِلِينَ ﴿٢٠﴾

او له آسمانه مو په ټاکلې اندازه اوبه وورولې او په زمکې کې مو هستوګنې کړې، او يقيناً چې موږ ئې پر له منځه وړلو قادر يو، نو په دې سره مو تاسو ته د کجورو او انګورو داسې باغونه راوټوکول چې په هغوی کې تاسو ته ډېرې مېوې دي او خوراك ترې کوئ. او هغه ونه چې په طور سينا کې راوځي چې له غوړيو او د خوړونکو لپاره له کتغ (خوړو) سره راټوکېږي.

(۱۸-۲۰)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي:

الله تعالی له آسمان په ټاکلې اندازه اوبه ورويې، د ضرورت په اندازه، نه تر ضرورت زياتې او نه کمې، داسې انتظام ئې کړی چې دا اوبه په زمکې کې پاته شي، ځينې برخې ئې د واورو په شکل په غرونو کې، ځينې ئې په سمندورونو کې، ځينې ئې د زمکې پر سر او ځينې ئې په منځ کې، د زمکې پر سر د ژوند دوام دغه انتظام ته ضرورت لري، که دا انتظام نه وی او يا اوس له منځه ولاړ شي نو د ژوند امکانات به پای ته رسي، الله تعالی دا اوبه پيدا کړې او له منځه ئې وړی شي، د دغو اوبو په ورولو او په زمکې کې د هغې د ساتلو انتظام د دې سبب شو چې الله تعالی تاسو ته د کجورو او انګورو داسې باغونه راوټوکول چې په هغوی کې تاسو ته ډېرې مېوې دي او همدا باغونه او مېوې ئې د نورو خوراکي شيانو د تر لاسه کولو په اړه ستاسو مرسته کوي، هغه پلورئ او نور ضروري توکي پرې اخلئ. په دغو اوبو سره د زيتون هغه ونه راشنه کوي چې په طور سينا کې راوځي چې تاسو ته غوړي هم راپيدا کوي او خواړه هم.

وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ
كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾

او يقيناً چې په څارويو کې تاسو ته د عبرت نښې دي، هغه څه ئې درباندې څښو چې په نسونو (تيو) کې ئې دي، او په دوی کې تاسو ته ډېرې (نورې) ګټې دي او ترې خوراك کوئ، او پر دوی او کښتيو بارېږئ.

(۲۱-۲۲)- د اوبو او مېوو له يادولو وروسته مور هغو نعمتونو ته متوجه کوي چي الله تعالی د څارويو په بڼې کې زموږ په برخه کړي، وايي: په څارويو کې تاسو ته د عبرت نښې دي، شيدې درکوي، ډېري نوري گټې دررسوي، همدا څاروي ستاسو د خوړو ستره منبع ده، پر دوی او کښتيو سپرېږئ او خپل بارونه پرې وړئ.

---

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ
أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ ٱلْمَلَؤُا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ
مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً مَّا سَمِعْنَا
بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا۟ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٍ
﴿٢٥﴾

او يقيناً چي نوح مو د خپل قوم لوري ته ولېږو چي وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود درته نشته، آيا (له شرکه) ځان ساتنه نه کوئ؟ نو د ده د قوم هغو مشرانو چي کفر ئې کړی وو وويل: دا خو ستاسو په څېر له يوه انسان پرته بل څه نه دئ، غواړي پر تاسو فضيلت او غوره والی تر لاسه کړي، او که الله غوښتی نو هرومرو به ئې کومه فرشته راکوزه کړې وه، دا خو مو په خپلو لومړنيو پلرونو کې (له هيچا) نه وه اورېدلې، يقيناً چي دی خو له داسي سړي پرته بل څه نه دئ چي پېری پرې ناست وي، نو تر يوې مودې ورته انتظار وکړئ.

---

(۲۳-۲۵)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- نوح عليه السلام خپل قوم ته لېږل شوی، د ده د دعوت خلاصه دا وه: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود درته نشته، آيا له شرك، ظلم او فساد ځان ساتنه نه کوئ؟
- د قوم کافرو مشرانو د ده د مخالفت لپاره ملا تړلې او د ده په اړه ئې خلکو ته ويلي: دا خو ستاسو په څېر يو انسان دئ، له نورو انسانانو هيڅ توپير نه لري، څنگه او ولې د ده دا ادعاء منئ چي د الله له لوري لېږل شوی؟ که دی د الله له لوري لېږل شوی وی نو هرو مرو به ئې له نورو انسانانو سره په هر څه کې توپير درلود!!
- دی غواړي پر تاسو فضيلت او غوره والی تر لاسه کړي او د قوم زعامت او مشري ده ته په لاس ورشي!! د دوی له دغي وينا معلومېږي چي اصلي وېره ئې دا وه چي نوح عليه السلام او د ده دعوت ئې د خپل زعامت لپاره گواښ گڼلو، وېره ئې دا وه چي خلك د نوح عليه السلام مشري ونه مني او د دوی د ظالمانه اقتدار ټغر ټول نشي!! د تاريخ په اوږدو کې

تل د شر او فساد ځواکونو د ټولو پيغمبرانو او ټولو زړه سواندو داعيانو په خلاف همدا تور لګولی چې دوی خو د اقتدار وږي دي، مقصد ئې اقتدار تر لاسه کول دئ، دا تور تل د هغو مفسدو واکمنانو له لوري پر دوی لګېدلی چې د حقپالو دعوت ئې د خپل اقتدار لپاره ګواښ ګڼلی، فرعون د موسی علیه السلام په خلاف همدا خبره کوله، دا دئ د نوح علیه السلام د قوم کافرو مشرانو پر ده همدا تور لګولی، د قریشو صنادید، مذهبي او قومي مشرانو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ضد همدا خبره کړې. له دې وینا دا هم معلومېږي چې له دغو مفسدو ځواکونو سره د حقپالو تصادم یو طبیعي بهیر او د الله تعالی د دین یوه مقتضی ده، هغه چا ته باید د حقپال په سترګه ونه ګورو او د پیغمبرانو علیهم السلام سنت ته ئې متعهد ونه بولو چې نه دی د دغو مفسدو واکمنانو په ضد څه وايي او نه هغوی د ده مخالفت کوي.

- که الله غوښتی چې موږ ته کوم استازی راولېږي نو هرومرو به ئې کومه فرشته رالېږلې وه.
- هغه څه چې دی ئې وايي دا مو په خپلو مخکینیو پلرونو کې له هیچا نه ده اورېدلې.
- دی داسي دئ لکه چې پېریان پرې ناست وي، روغ انسان هیڅکله داسي خبرې نه کوي.
- تر یوې مودې ورته انتظار وکړئ، د ده په منلو کې تلوار مه کوئ، ډېر ژر به د ده او د ده د ویناوو حقیقت درته معلوم شي او وبه ګورئ چې نه دی پیغمبر دئ او نه ئې وینا د الله تعالی پیغام.

قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ٢٦ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ أَنِ ٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا
وَوَحۡيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ فَٱسۡلُكۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ
وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ مِنۡهُمۡۖ وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم
مُّغۡرَقُونَ ٢٧ فَإِذَا ٱسۡتَوَيۡتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلۡفُلۡكِ فَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي
نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٨ وَقُل رَّبِّ أَنزِلۡنِي مُنزَلٗا مُّبَارَكٗا وَأَنتَ خَيۡرُ
ٱلۡمُنزِلِينَ ٢٩ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ وَإِن كُنَّا لَمُبۡتَلِينَ ٣٠

وئې ویل: اې زما ربه! پر هغو بریا را چې زه ئې تکذیب کړم، نو هغه ته مو وحي وکړه چې زموږ تر نظر لاندې او زموږ له وحې سره سم هغه کښتۍ جوړه کړه، نو کله چې زموږ حکم راشي او هغه تنور وخوټېږي نو په هغې کې د هر یوه دوه ګونې جوړه ننباسه او خپل ټبر هم؛ له هغه ئې پرته چې په اړه ئې د عذاب وینا شوې، او د هغو په اړه له ما سره خبره مه کوه چې ظلم ئې کړی، یقیناً چې هغوی غرقېدونکي دي، نو

**كله چې ته او هغه چې له تا سره دي پر كښتۍ سم سپاره شئ نو ووايه: ستاينې هغه الله ته دي چې له ظالم قوم ئې وژغورلو، او ووايه: اې زما ربه! په مبارك ځاېتوبي كې مې كوز كړې او ته تر ټولو غوره كوزوونكى يې، يقيناً چې په دې كې ښرگندې نښې دي او يقيناً چې موږ آزمويونكي وو.**

(٢٦-٣٠)- د دې مباركو آيتونو لارښوونې دا دي:

- كله چې د كافرو مشرانو مخالفت انتهاء ته ورسېد او نوح عليه السلام د دوى له هدايت ناهيلى شو او ورته جوته شوه چې دوى په هيڅ توگه او هيڅكله ايمان نه راوړي نو په دې وخت كې ئې خپل رب ته دعاء وكړه او وئې ويل: اې زما ربه! پر هغو بريا را چې زه ئې تكذيب كړم!
- الله تعالى هغه ته وحي وكړه چې د خپل رب تر رعايت لاندې او د ده له وحي سره سم هغه كښتۍ جوړه كړه، بيا تر هغه انتظار وكړه چې د الله تعالى له لوري وروستۍ پرېكړه وشي او تا ته د څه كولو امر وكړي.
- نوح عليه السلام ته يوه داسې نښه وټاكل شوه چې له مخې ئې د هغې نېټې راتگ ورته معلوم شي، له يوه تنوره د اوبو راخوټېدا ورته نښه وټاكل شوه.
- دا لارښوونه ورته وشوه چې په هغې كښتۍ كې د څارويو له هرې ډلې يوه دوه گونې جوړه له ځان سره واخلي، خپل ټبر او ملگري هم؛ خو د ده د ټبر هغه غړي ترې مستثنا دي چې ظالمان دي او په اړه ئې د عذاب وينا شوې او د الهي عذاب وړ او مستحق دي، او ورته ويل شوي وو چې د ظالمانو په اړه به الله تعالى ته د بخښنې او ژغورنې دعاء نه كوې، دوى ټول غرقېدونكي دي كه څه هم ستا د ټبر غړي، ستا زوى او مېرمن وي.
- نوح عليه السلام ته دا لارښوونه شوې وه چې كله دى او ملگري ئې په كښتۍ كې سپاره شي نو دا دعاء به كوي: ستاينې هغه الله ته دي چې له ظالم قوم ئې وژغورلو، اې زما ربه! په مبارك ځاېتوبي كې مې كوز كړې او ته تر ټولو غوره كوزوونكى يې!
- همداسې وشول، د الله تعالى وعده تر سره شوه، د عذاب نېټه راورسېده، ظالمان غرق شول او نوح عليه السلام له خپلو ملگرو سره وژغورل شول، يقيناً چې په دې كې ښرگندې نښې دي، هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم او د هغه حقپالو ملگرو ته او هم د اسلام دښمنانو ته، دواړه بايد هغه څه ته منتظر وي چې د دوى اسلاف ورسره مخامخ شوي. د يوه به فلاح او بريا په برخه كېږي او بل به خاسر او نامراد كېږي.
- دا ښكاره ښيي چې الله تعالى خپل بندگان آزمويي، كه كافر وي او كه مؤمن، كافرانو ته هم فرصت وركوي او مؤمنان هم له داسې پېښو سره مخامخ كوي چې په ترڅ كې ئې خپل اخلاص، صداقت، پر الله توكل او پر خپلو ژمنو ودرېدا ثابت كړي.

د نوح عليه السلام د قصې د دې برخې مزيد تفصيل د قرآن پلوشې په درېيم جلد كې د هود د سورې په هغې برخې كې وگورئ چې په پنځه ويشتم آيت پيل شوې.

ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴿٣١﴾ فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ أَنِ ٱعْبُدُوا۟
ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۖ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾

بیا مو تر دوی وروسته د نورو یو نسل راپیدا کړ، نو په دوی کې مو د دوی له منځه استازی ولېږو، (له دې پیغام سره) چې د الله عبادت وکړئ، له ده پرته معبود درته نشته، آیا ځان ساتنه نه کوئ؟

(۳۱-۳۲)- الله تعالی د نوح علیه السلام له قوم وروسته بل نسل راپیدا کړ، د عاد قوم، په هغوی کې ئې هود علیه السلام په پیغمبرۍ وگمارو، د ده په لاس همغه د ټولو پیغمبرانو گډ او اساسي پیغام خلکو ته ولېږل شو، چې د الله عبادت وکړئ، له ده پرته معبود درته نشته، آیا ځان ساتنه نه کوئ؟

وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِلِقَآءِ ٱلْءَاخِرَةِ وَأَتْرَفْنَٰهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ
ٱلدُّنْيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا
تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ أَطَعْتُم بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٣٤﴾ أَيَعِدُكُمْ
أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا
تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنْ
هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُۥ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾

او د ده د قوم هغو مشرانو چې کفر ئې کړی وو او د آخرت لیدنه ئې دروغجنه گڼلې وه او موږ په دنیایي ژوند کې سوکالي ورپه برخه کړې وه؛ وویل: دا خو له دې پرته بل څه نه دئ چې ستاسو په څېر یو انسان دئ، له همغه څه خوري چې تاسو ئې خورئ او له همغه څه څښي چې تاسو ئې څښئ، او که تاسو د ځان په څېر د یوه انسان اطاعت وکړئ یقیناً چې هغه مهال به حتماً زیانمن یئ، آیا تاسو ته دا وعده درکوي چې کله ومرئ او خاوري او هډوکي شئ بیا به ( ژوندي له زمکې) راوځئ؟!! لریوالی دئ، لریوالی دئ هغه څه ته چې وعده ئې درکول کېږي، یقیناً چې دا (ژوند) خو زموږ له همدې دنیایي ژوند پرته بل څه نه دئ، چې مرو او ژوندي کېږو، او بیاراپاڅېدونکي نه یو!! یقیناً چې دی له هغه سړي پرته بل څوك نه دئ چې پر الله په درواغو افتراء کوي او موږ د ده لپاره ایمان راوړونکي نه یو.

(۳۳-۳۸)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- د عاديانو هغو مشرانو چې کفر ئې کړی وو، د آخرت ليدنه او له الله تعالی سره مخامخېدا ئې دروغجنه ګڼلې وه او الله تعالی دوی ته په دنيايي ژوند کې سوکالي ورپه برخه کړې وه او مترفين ول؛ عام ولس ته وويل:
- هود (عليه السلام) خو ستاسو په څېر يو انسان دئ، خوراك او څښاك ئې ستاسو په څېر دئ، ولې ئې د الله تعالی استازی ګڼئ، که هغه د الله تعالی پيغمبر وی نو هم به ئې شکل بدل وو او هم خوراك څښاك!! خوا ته به ئې فرشتې وې او چا به ئې مخالفت نه شو کولی.
- که تاسو د ځان په څېر د يوه انسان اطاعت وکړئ نو يقيناً چې په دې سره به خپل ځان ته تاوان ورسوئ، ښايي په دې وينا سره ئې هغوی ګواښلي وي چې پر هود عليه السلام د ايمان راوړو او د ده د ملګرتيا پايلي به ډېرې بدې وي، موږ به دې ته اړ شو چې ستاسو په خلاف جدي اقدامات وکړو او په دې توګه به تاسو په خپل لاس ځان ته تاوان رسولی يی!!
- آيا تاسو ته دا وعده درکوي چې کله ومرئ او خاورې او هډوکي شئ بيا به له زمکې ژوندي راووځئ؟!! دا له امکانه لرې خبره ده، د دې وعدې تحقق هيڅ امکان نه لري، زموږ ژوند يوازې دغه دنيايي ژوند دئ، چې يو مو مري او بل راپيدا کېږي، له مرګ وروسته بل ژوند او له قبرونو بيا راپاڅېدا نشته!!
- د هود (عليه السلام) دا ادعاء حقيقت نه لري چې دی د الله تعالی استازی دئ او د الله تعالی پيغام ئې موږ ته راوړی، ګواکې دا خبره الله تعالی کړې چې موږ به بياراژوندي کېږو!! دا خبرې ئې له ځانه جوړې کړې او الله تعالی ته ئې منسوب کړې دي!! موږ نه پر ده ايمان راوړو او نه ئې پر خبرو باور کوو.
- دا دئ ګورئ چې پيغمبرانو عليهم السلام ته د مترفينو او کافرو قومي او مذهبي مشرانو ځواب څه وي؛ د دوی له رسالت او دعوت انکار، د دوی او د دوی د پيغام مخالفت، ولسونه د دوی په ضد پارول، د دوی په ضد تبليغات کول، قيامت، بياژوندون او له الله تعالی سره مخامخېدا نه منل!! د زمانې په هر پړاو کې به د حقپالو په خلاف د مترفو قومي او مذهبي مشرانو دريځ همدا وي.

---

قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيلٖ لَّيُصۡبِحُنَّ نَٰدِمِينَ ﴿٤٠﴾
فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ بِٱلۡحَقِّ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ غُثَآءٗۚ فَبُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾

وئې ويل: اې زما ربه! پر هغو بريا را چې زه ئې تکذيب کړم، وئې فرمايل: له لږ وخت تېرېدو وروسته به پښېمانه شي، نو هغې چيغې په رښتيني توګه ونيول، نو دوی مو شاوړي (د سېل د سر ځګ او خاشاك) وګرځول، نو دغه ظالم قوم ته دې لرېوالی (رټنه او شړنه) وي.

(۳۹-٤۱)- دا آیتونه وايي:

- کله چې د عادیانو مخالفت انتهاء ته ورسېد او هود علیه السلام د دوی له هدایت ناهیلی شو او ورته جوته شوه چې دوی په هیڅ توګه او هیڅکله ایمان نه راوړي نو په دې وخت کې ئې خپل رب ته دعاء وکړه او وئې ویل: اې زما ربه! پر هغو بریا را چې زه ئې تکذیب کړم!
- الله تعالی هغه ته وحي وکړه چې ډېر ژر به دا خلك له داسې شدید عذاب سره مخامخ شي چې له کبله به ئې له خپلو ټولو مخکینیو کړنو او ستا له مخالفت پښېمانه شي، همداسې وشول، په الهي عذاب اخته شول، دا ستر عذاب له یوې لویې هیبتناکې چیغې سره توأم وو، داسې ئې وځپل چې د مړو اجساد ئې هر لوري ته د سېل راوړو خاشاکو په څېر خواره واره پراته ول. د الهي رټنې او لعنت وړ وګرځېدل.
- که څه هم ځینو درنو مفسرینو دې ته په پام سره چې د دغه قوم عذاب ته د الصیحه نوم ورکړی شوی او د قرآن په نورو آیتونو کې (الصیحة) د ثمودیانو عذاب ګڼل شوی، نو ګمان ئې کړی چې ښايي دا به ثمودیان ول چې صالح علیه السلام د دوی لوري ته لېږل شوی وو، خو قرآن په دې باندې صراحت لري چې د نوح علیه السلام له قوم وروسته عادیان راڅرګند شوي او په دوی کې هود علیه السلام مبعوث شوی. صیحه او چیغه هم له سترې زلزلې سره توأم وي او هم له توندې او زورورې سیلۍ سره، په زلزلې کې دا چیغه لنډه او یو وار وي، همغه مهال چې زمکه وچوي، خو په زورورې سیلۍ کې دا چیغه اوږده او لازیاته هیبتناکه وي، د عاد پر قوم اته ورځنۍ سیلۍ مسلطه شوې او هر څه ئې پر دوی رانسکور کړي، د دوی عذاب د صیحه په نامه یادول موزونه او مناسبه نومونه ده. د الصیحة تر څنګ د بالحق الفاظ هم ښیي چې دا په حقیقي معنی یوه ستره او هیبتناکه چیغه وه. یوازې د ثمودیانو عذاب د الصیحة په نامه نه دئ یاد شوی، د مدین والو، اصحاب الحجر او د لوط علیه السلام د قوم او د ځینو نورو قومونو عذاب ته هم دا نوم ورکړی شوی، د قرآن له وینا داسې معلومېږي لکه چې دا ټول الهي عذابونه له سترې چیغې سره توأم وو. صحیح نه ده چې د قرآن کوم آیت داسې تعبیر شي چې له بل سره تعارض رامنځته کړي، قرآن وايي چې د نوح علیه السلام له قوم وروسته د عاد قوم ورپسې شوی، دلته د همدې قوم په اړه بحث شوی، سمه نه ده چې د الصیحه لفظ ته په پام سره دا د ثمودیانو قوم وبولو!!

---

ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قُرُونًا ءَاخَرِينَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۖ كُلَّ مَا جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ ۚ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُم بَعْضًا وَجَعَلْنَـٰهُمْ أَحَادِيثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾

بیا مو تر دوی وروسته نور نسلونه راپیدا کړل، هیڅ امت؛ نه له خپلې ټاکلې نېټې

وړاندي کېږي او نه وروسته کېږي. بيا مو خپل پيغمبران په پرله پسې توګه ولېږل، هر کله چي کوم امت ته خپل پيغمبر ورغلی هغه ئې تکذيب کړی، نو ځيني مو په ځينو نورو پسې کړل او قصې مو ترې جوړې کړې، نو لعنت او رټنه دي وي هغه قوم ته چي ايمان نه راوړي.

(۴۲-۴۳)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی تر دغو هلاك شوو قومونو وروسته نور نسلونه راپيدا کړي، هر ظالم او کافر امت په خپلې خپلې ټاکلې نېټې هلاك شوی، نه له خپلې ټاکلې نېټې وړاندي هلاك شوي او نه ترې وروسته پاته شوي.
- پيغمبران ئې هم په پرله پسې توګه لېږلي، هر کله چي کوم امت ته خپل پيغمبر ورغلی هغه ئې تکذيب کړی، او الله تعالی هم دوی داسي يو په بل پسي هلاك کړي چي له عبرتناکو قصو پرته بل څه نه دي ترې پاته شوي.
- د ټولو هغو وګړو چي ايمان نه راوړي؛ ګډ برخليك دا دئ چي په الهي لعنت او رټني به اخته کېږي.
- په دې کې قريشو ته ويل شوي چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم ستاسو هغه غوښتنه چي په تلوار سره د الهي عذاب راتلو مطالبه کوئ او په عذاب کې ځنډ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دعوت او وينا په خلاف د يوه دليل په توګه وړاندي کوئ بې ځايه او خطرناکه غوښتنه ده، عذاب به په خپل ټاکلي وخت راځي، نه له خپلې ټاکلې نېټې وړاندي کېږي او نه وروسته کېږي.

ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَٰرُونَ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ
فَٱسْتَكْبَرُواْ وَكَانُواْ قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوٓاْ أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا
عَٰبِدُونَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُواْ مِنَ ٱلْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾

بيا مو موسی او د ده ورور هارون له خپلو آيتونو او څرګند حجت سره ولېږل، د فرعون او د ده د درباريانو لوري ته، نو د (مزيد) لويي لټه ئې وکړه، حال دا چي (د قوم) لوړ پوړي (مشران او لويان) وګړي ول. نو وئې ويل: آيا د ځان په څېر د دوو انسانانو لپاره ايمان راوړو؛ په داسي حال کې چي قوم ئې زموږ مريان دي، نو دواړه ئې تکذيب کړل چي په پايله کې ئې له هلاك شوو شول.

(۴۵-۴۸)- دا مبارك آيتونه وايي:

الله تعالی له دغو پيغمبرانو وروسته موسی او د ده ورور هارون عليهما السلام له خپلو

آيتونو او څرګند حجت سره د فرعون او د ده د درباريانو لوري ته ولېږل، هم معجزې ورسره وې او هم له فکري او اخلاقي پلوه داسې څرګند حجت چې د دوی پر رسالت ئې ګواهي ورکوله، هر عقلمن انسان ئې پر دې قانع کولو چې دوی د الله تعالی له لوري لېږل شوي پيغمبران دي، خو فرعونيانو د ايمان راوړلو پر ځای د لويي او د خپل اقتدار خوندي ساتلو په لټه کې شول، عملاً د ولس لوړ پوړي مشران او لويان ول، تکبر او غرور ئې دې کچې ته رسېدلی وو چې د موسی عليه السلام د بلنې په ځواب کې ئې وويل: آيا د ځان په څېر د دوو انسانانو لپاره ايمان راوړو؛ په داسې حال کې چې قوم ئې زموږ مريان دي؟!! همدغه لويي او تکبر د دې باعث شو چې دواړه پيغمبران تکذيب کړي، د تکبر او تکذيب پايله ئې دا وه چې د خپلو اسلافو په څېر هلاك شول.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

او يقيناً چې موسی ته مو کتاب ورکړ چې دوی هدايت شي.

(٤٩)- د فرعونيانو له هلاکت وروسته موسی عليه السلام ته تورات ورکړی شو چې د بني اسرائيل لارښوونه وشي او په سمه لار روان شي.

وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً وَءَاوَيْنَـٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾

او د مريمې زوی او د ده مور مو يوه څرګنده نښه وګرځول، او د داسې لوړې زمکې په لوري مو پناه ورکړه چې د قرار (تيکاو) خاونده وه او چينې ئې درلودې.

(٥٠)- د دې مبارك آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته ويل شوي چې الله تعالی عيسی عليه السلام او د ده مور يوه څرګنده نښه وګرځول، يعني دواړه په ګډه د يوې څرګندې نښې په توګه ښودل شوي، او د دې معنی دا هم کېدی شي چې په دې سره د عيسی عليه السلام خارق العاده او له پلار پرته پيدايښت ته اشاره شوې او دا هم چې الله تعالی دوی دواړه د دښمنانو له شره وژغورل، د مريمې عليها السلام په خلاف هغه شديد او کرکجن تورونه او اتهامونه ئې بې اغېزه کړل او د هغې پاکلمني ئې ټولو ته جوته کړه او د عيسی عليه السلام په خلاف ئې د ده د ځواکمنو دښمنانو توطئې شنډې کړې، له دې دواړو تعبيرونو دوهم په دې دليل دقيق او غوره دئ چې دا مطلب د يوه داسې بحث په ضمن کې راغلی چې د حقپالو د بريا او ژغورنې او د دوی د دښمنانو د هلاکت او تباهۍ مثالونه وړاندې شوي، د آيت له سياق و سباق سره يوازې دغه دوهم تعبير اړخ لګوي.
- دلته په يوې داسې لوړې زمکې کې عيسی عليه السلام او د ده مور ته د پناه ورکولو خبره شوې چې د قرار او تيکاو خاونده وه او چينې ئې درلودې. له دې وينا ځينو دا انتباه اخيستې

ده چې ښايي مراد به ئې هغه ځنګل وي چې د عيسى عليه السلام د زېږون په وخت کې مريم عليها السلام هغه ته پناه وړې وه او په قرآن کې ئې يادونه شوې او ځيني دا بېله پېښه او د هغه مهال ګڼي چې ګواکې عيسى عليه السلام تنکۍ ځواني ته رسېدلی وو او د وخت واکمن غوښتو چې هغه ووژني، نو مريم عليها السلام د همدې انديښني له کبله شام، مصر، رمله يا بيت المقدس ته تللې، دا قصه له بايبل اخيستل شوې او په قرآن کې کوم شاهد ورته نه مومو.

- تر کومه ځايه چې خبره په بايبل پورې اړه لري نو بايد ووايو چې د بايبل وينا قطعاً د اعتبار وړ نه ده، د عيسى عليه السلام د پيدايښت قصه د بايبل په يوه کتاب کې يو ډول او په بل کې بل ډول ده او تر منځ ئې ژور توپيرونه تر سترګو کېږي، متى يو څه ليکي او مرقس بل څه، متى له ځانه جوړه کړې او په مرقس کې نشته، متٰى تر دې عنوان لاندې ليکي چې د خداى فرشته يوسف ته راڅرګنده شوه او ورته وئې ويل: پاځه او ماشوم او مور ئې درسره روان کړه او مصر ته وتښته او تر هغه هلته پاته شه چې زه خبر درکړم، ځکه هېروديس پاچا غواړي ماشوم ووژني، يوسف مصر ته ولاړ او د هېروديس تر مرګ هلته پاته شو، يوه نبي څو پېړۍ مخکې په دې اړه وړاندوينه کړې وه چې (خپل زوى مې له مصره راوبالو)!! داسې معلومېږي چې د کتاب ليکونکي دا ټوله قصه د دې لپاره جوړه کړې چې د هغه نبي وړاندوينه رښتينې ثابته کړي او عيسى عليه السلام ئې مصداق وګڼي، د همدې لپاره ئې مريمې ته مېړه جوړ کړی، د هغه نوم ئې يوسف ايښی، يوسف ئې د يعقوب زوى ښودلی، عوام چې دا خبرې اوري ژر ئې يقين راځي او مني ئې چې يوسف د يعقوب زوى په مصر کې اوسېدلی!! حقيقت دا دئ چې مريمې مېړه نه دئ کړی، که د بايبل دا دروغجنه خبره ومنل شي نو بايد ټولې هغه وړاندويني ئې دروغجنې وګڼو چې وايي: بې مېړه (پيغله) به ماشوم وزېږوي!! له دې دواړو خبرو خو يوازې يوه رښتينې کېدی شي!! همدا راز د دغې څو پېړۍ مخکينۍ وړاندويني الفاظ ښيي چې په تکلف سره د عيسى عليه السلام لپاره جوړه کړی شوې، د وړاندويني الفاظ داسې دي چې (خداى څو پېړۍ مخکې ويلي چې خپل زوى مې له مصره راوبالو)؛ د دې الفاظو معنى خو دا ده چې دا کار څو پېړۍ مخکې تر سره شوی، د کوم منطق له مخې د دې اطلاق له مصر د عيسى عليه السلام په راستنېدو کوي؟!!

دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چې له دې پناځي مراد همغه ځنګل دئ چې مريمې عليها السلام د خپل زوى د زېږون په شپو ورځو کې هلته پناه وړې وه.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾
وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ﴿٥٢﴾

اې پيغمبرانو! پاکيزه پاکيزه وخورئ او نېك عمل وکړئ، يقيناً چې زه په هغه څه ښه پوهېږم چې تاسو ئې کوئ. او يقيناً چې دا ستاسو واحد امت دئ او زه مو رب يم نو

له ماووېرېږئ.

(۵۱-۵۲)- په دې مباركو آيتونو كې د هغو سترو سترو لارښوونو خلاصه راغلې چې د الله تعالی له لوري پيغمبرانو ته او د دوی په لاس خلكو ته شوې، په دې توگه:
۱- پاكيزه شيان وخورئ، ۲- نېك عمل وكړئ، ۳- باور مو دا وي چې الله تعالی په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې كوئ، ٤- تاسو ټول د يوه امت غړي يئ، ۵- الله تعالی ستاسو ټولو يوازينی رب دئ، ٦- د الله تعالی په وړاندې تقوی ولرئ او له هغه څه ځان ساتنه وكړئ چې د ده له حكمه سرغړاوی وي.

فَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ زُبُرٗاۖ كُلُّ حِزۡبِۭ بِمَا لَدَيۡهِمۡ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ فَذَرۡهُمۡ فِي غَمۡرَتِهِمۡ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾ أَيَحۡسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن مَّالٖ وَبَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمۡ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ بَل لَّا يَشۡعُرُونَ ﴿٥٦﴾

نو خپل كار (د دين دغه مهمه چاره) ئې په خپلو منځونو كې په ټوټو ټوټو ووېشو، هر ټولی پر هغه څه خوشحال شول چې ورسره وو، نو په خپلې بې سدۍ كې ئې تر يوه وخته پرېږده. آيا داسې انگېري چې له مال او اولاد مو په كوم څه د دوی مرسته كړې ده دوی ته په ښېگڼو كې تلوار كوو؟ داسې نه ده بلكې دوی شعور نه لري (نه پوهېږي).

(۵۳-۵٦)- په دې مباركو آيتونو كې د هغو خلكو حالت انځور شوی چې د پيغمبرانو په لاس راوړل شوی دين ئې ټوټې ټوټې كړی، هر چا يوه برخه ترې غوره كړې او نورو ته ئې شا كړې، د دوی په اړه وايي: خپل دين ئې په خپلو منځونو كې په ټوټو ټوټو ووېشو، بېل بېل مذهبونه ئې رامنځته كړي، هر ټولی پر هغه څه خوشحال شوی چې ورسره وو، خپل خپل مذهب ئې غوره گڼلی، كه څه هم هغه به د پيغمبرانو له لوري راوړل شوو لارښوونو سره په بشپړه توگه تعارض درلود، ړوند تعصب به د دوی پر زړه او دماغ داسې توره پرده وغوړوله چې عقل به ئې ترې سلب كړ، د حق له منلو به ئې عاجز كړل، خبره به ئې هغه پړاو ته ورسېده چې د دوی په اړه له انتظار پرته به بله چاره نه وه، دوی بايد په خپلو سترگو د خپلو غلطيو بدې پايلې وگوري، نو ځكه الله تعالی فرمايلي: په خپلې بې سدۍ كې ئې تر يوه وخته پرېږده، دوی داسې انگېرلې چې د مال او پلويانو زياتوالی د فلاح او سعادت معيار دئ، هغه څوك ئې بريالی او سعادتمن گڼلی چې تر نورو ئې مال ډېر او پلويان زيات ول، گمان ئې دا وو چې د مال او پلويانو زياتوالی د الله تعالی له لوري د دوی په اړه د رعايت او عنايت نښه ده، گواكې همدا ثابتوي چې دوی په حقه دي او خدای ترې راضي دئ!! خو الله تعالی د دوی د دغې غلطې انگېرنې په اړه فرمايي: داسې نه ده؛ بلكې دوی شعور نه لري، په دې نه پوهېږي چې نه دا د فلاح لپاره معيار دئ، نه د الله تعالی د رضايت

نښه، نه د فلاح او بريا ضامن، په دې هم نه پوهېږي چې تر دوی وړاندې څومره؛ د مال او ځواك خاوندان، مترفين، مستكبرين او د ځواكمنو درباريان په الهي عذاب اخته شوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ خَشۡيَةِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ
﴿٥٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمۡ لَا يُشۡرِكُونَ ﴿٥٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤۡتُونَ مَآ ءَاتَواْ وَّقُلُوبُهُمۡ وَجِلَةٌ
أَنَّهُمۡ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ رَٰجِعُونَ ﴿٦٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَهُمۡ لَهَا سَٰبِقُونَ ﴿٦١﴾
وَلَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ وَلَدَيۡنَا كِتَٰبٌ يَنطِقُ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ
﴿٦٢﴾

يقيناً هغه چې د خپل رب له هيبته وېرېدونكي دي، او هغه چې د خپل رب پر آيتونو ايمان راوړونكي دي، او هغه چې د خپل رب په اړه شرك نه كوي، او هغه چې په داسې حال كې د خپلې وركړې شيان وركوي چې زړونه ئې له دې كبله پوړېدونكي وي چې د خپل رب په لوري ستنېدونكي دي، همدا دوی په ښېګڼو كې تلوار كوي او ژر وررسېدونكي دي. او هيڅوك نه ګمارو مګر د ده له خپل وس سره سم، او له موږ سره داسې كتاب دئ چې د حق مطابق وينا كوي او پر دوی به ظلم نه كېږي.

(۵۷-۶۱)- په دې مباركو آيتونو كې د فلاح او بريا په اړه د پورتني غلط او ناسم اټكل او انګېرنې په مقابل كې د فلاح حقيقي معيار ښودل شوی او ويل شوي چې رښتيني بريالي او سعادتمن خلك او د ښېګڼو په لور تلوار كوونكي او ژر وررسېدونكي هغه دي چې لاندې ځانګړتياوې لري:

- هغه چې د خپل رب له هيبته وېرېدونكي دي،
- هغه چې د خپل رب پر آيتونو ايمان راوړونكي دي،
- هغه چې د خپل رب په اړه شرك نه كوي،
- هغه چې خپل مال په ډېر احتياط سره او په داسې حال كې د الله په لار كې مصرفوي چې زړونه ئې له دې كبله پوړېږي چې د خپل رب په لوري ستنېدونكي دي او الله تعالی به ئې پوښتي چې دا مال ئې له كومې لارې تر لاسه كړی او په كومو لارو ئې لګولی.
- همدا دوی په ښېګڼو كې تلوار كوي او ژر وررسېدونكي دي.
- د فلاح او بريا كوم اسباب او عوامل چې دلته په ګوته شوي داسې څه نه دي چې د انسان له وس او توان لوړ وي، الله تعالی هيڅوك په داسې څه نه ګماري چې د ده تر وس او توان لوړ وي، الهي دين د خلكو د فطرت مطابق دئ او غوښتنې ئې د دوی له وس سره سم.

- د خلکو ټولي کړني او وَيَني په داسي کتاب کې ليکل کېږي چي د قيامت په ورځ به د حق مطابق وينا کوي، د همدغه کتاب له مخي به د هر چا د برخليك په اړه پرېکړه کېږي او پر هيچا به ظلم نه کېږي.

---

بَلۡ قُلُوبُهُمۡ فِي غَمۡرَةٖ مِّنۡ هَٰذَا وَلَهُمۡ أَعۡمَٰلٞ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمۡ لَهَا عَٰمِلُونَ ٦٣
حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذۡنَا مُتۡرَفِيهِم بِٱلۡعَذَابِ إِذَا هُمۡ يَجۡـَٔرُونَ ٦٤ لَا تَجۡـَٔرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّكُم
مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ٦٥ قَدۡ كَانَتۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ
تَنكِصُونَ ٦٦ مُسۡتَكۡبِرِينَ بِهِۦ سَٰمِرٗا تَهۡجُرُونَ ٦٧

بلکي د دوی زړونه له دې په غفلت کې دي او له دغو پرته ئې داسي کړني دي چي دوی ئې تر سره کوونکي دي، تر هغه چي د دوی مترفين (د سوکالۍ خاوندان) مو په عذاب اخته کړي، ناڅاپه دوی نارې وهلې دي، نن نارې مه وهئ، يقيناً چي نن زموږ له لوري ستاسو مرسته نه کېږي، يقيناً چي (تر دې وړاندي) زما آيتونه درباندي لوستل کېدل خو تاسو پر خپلو پوندو اوښتئ، په داسي حال کې چي د هغه په اړه تکبر کوونکي، د شپې له پلوه جلسې کوونکي وئ او لري کېدئ به.

---

(٦٢-٦٧)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- کافران له دغو حقائقو بې خبر دي، زړونه ئې ترې غافل دي،
- کړني ئې هغسي نه دي چي په مخکينيو آيتونو کې ورته اشاره وشوه او سعادت او نېکمرغي ته د رسېدو اسباب او عوامل ګڼل شوي.
- د دوی دا له حقائقو غفلت او بدي کړني تر هغه دوام کوي چي د دوی مترفين په الهي عذاب اخته شي، هغه وخت بيا په کوکارو او چيغو سر شي، خو دا نارې سورې هيڅ ګټه نه وررسوي، هغه مهال به د دوی د فريادونو په ځواب کې د الله تعالی وينا دا وي: نن نارې مه وهئ، يقيناً چي نن زموږ له لوري ستاسو مرسته نه کېږي، نه الله تعالی ستاسو مرسته کوي او نه په ټول عالم کې داسي څه موندلی شئ چي له الهي عذابه مو وژغوري، تر دې وړاندي زما آيتونه درباندي لوستل کېدل خو تاسو به په داسي حال کې پر خپلو پوندو اوښتئ چي ځان به مو تر دې ستر او لوړ ګاڼو چي د الله تعالی کتاب ومنئ او عمل پرې وکړئ، د شپې له پلوه به مو د حق په ضد مرکې کولې، او لازيات به ترې لري کېدئ.

---

أَفَلَمۡ يَدَّبَّرُواْ ٱلۡقَوۡلَ أَمۡ جَآءَهُم مَّا لَمۡ يَأۡتِ ءَابَآءَهُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٦٨ أَمۡ لَمۡ يَعۡرِفُواْ

رَسُولَهُمۡ فَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَمۡ يَقُولُونَ بِهِۦ جِنَّةُۢۚ بَلۡ جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ
وَأَكۡثَرُهُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴿٧٠﴾

نو آيا په دغې وينا کې ئې غور (سوچ) نه دئ کړی، يا دا چې داسې څه ورته راغلي چې لومړنيو پلرونو ته ئې نه وو ورغلي؟ يا دا چې خپل پيغمبر ئې سم نه دئ پېژندلی نو له همدې کبله د ده انکار کوونکي دي، يا وايي چې ده ته جنون (ليونتوب) لاحق شوی، بلکې دوی ته ئې حق راوړی خو د دوی ډېری له حق کرکجن دي.

---

(٦٨-٧٠)- په دې مبارکو آيتونو کې د پيغمبر د مخالفينو او د دوی د اختلاف د څرنګوالي په اړه ويل شوي:

- آيا په هغې وينا کې ئې غور او سوچ نه دئ کړی چې د پيغمبر له لوري دوی ته وړاندې شوې؟ د دوی د مخالفت وجه به همدا وي چې د پيغمبر د وينا په حقيقت او اهميت نه دي پوه شوي؟
- آيا پيغمبر دوی ته داسې دين راوړی چې هيڅ سابقه نه لري او تر دې وړاندې د هيچا له خوا مخکينيو نسلونو ته نه دئ وړاندې شوی؟ حال دا چې دا دين او د پيغمبر وينا د تاريخ په زړه کې ژوري جرړې لري، دا پيغمبر همغه خبره کوي چې تر ده وړاندې ټولو مخکينيو پيغمبرانو خلکو ته کړې!
- آيا خپل پيغمبر ئې سم نه دئ پېژندلی نو له همدې کبله د ده انکار کوونکي دي؟ آيا کوم ناآشنا کس ورته راغلی، نه ئې پېژني نو ځکه ئې پر خبرې باور نه کوي؟!! حال دا چې پيغمبر د دوی له منځه مبعوث شوی، تر بعثت وړاندې ئې پېژندو، ښه ورته معلوم وو چې صادق، امين، رښتينی، د لوړ اخلاق خاوند، زړه سواند، پوه او صالح شخصيت دئ، ټولو په درنه سترګه ورته کتل او د يوه غوره مشر جوړېدو طمع ئې ترې درلوده، ولې له بعثت وروسته له ده سره مخالفت کوي؟
- آيا داسې ده چې دوی ته پيغمبر مجنون برېښي، د ده په اړه حقيقتاً دا له انصاف لرې او د عقل خلاف قضاوت کوي چې پيغمبر په لېونتوب اخته شوی او پېريانو نيولی؟!! کوم عقلمن انسان به د پيغمبر په اړه د داسې څه ويلو جسارت وکړي؟ څنګه به د ټولني تر ټولو پوه، هوښيار، عقلمن، سترلارښود او زړه سواند داعي ته د مجنون خطاب کوي؟!! هغه هم په داسې حال کې چې دوی ته ئې حق وړاندې کړی او سمه لار ئې ورښودلې!!
- د دوی د مخالفتونو يوازينۍ ستره وجه دا ده چې د دوی ډېری له حق کرکه لري.

---

وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم
بِذِكۡرِهِمۡ فَهُمۡ عَن ذِكۡرِهِم مُّعۡرِضُونَ ﴿٧١﴾

او که حق د دوی د هوس تابع شي، نو آسمانونه او زمکه او هر هغه څه به تباه شي چي په دوی کي دي، خو موږ د دوی ذکر ورته راوړی خو دوی له خپل ذکر اعراض کوونکي دي.

(٧١)- د دې مبارك آيت مهمي مهمي لارښووني دا دي:

• دوی له دې کبله د پيغمبر مخالفت کوي چي د خپل هوس بندګان دي، د حق منلو ته چمتو نه دي، داسي دين او مذهب خوښوي چي د دوی له هوی او هوس سره برابر وي، خو که حقيقت د دوی د هوس تابع شي، هغه څه حق وګڼل شي چي د دوی هوی او هوس ئې خوښوي، د عالم دا حقيقي نظام د دوی د هوس تابع کړی شي او دوی ته د خپل هوس مطابق د تصرف موقع ورکړی شي، د دې عالم هر څه له تباهۍ سره مخامخ کېږي. د دې عالم نظم او په هغه کي د حق ونډه داسي وګڼئ لکه په يوه ډېر ستر هوائي ميدان کي چي هره شېبه ګڼ شمېر جهازونه ترې الوزي او په کي کښيني او دا ټول د يوه حساس کمپيوټر په واسطه اداره کېږي، که د دې کمپيوټر سرانجنير خپل نازولی ماشوم زوی د کمپيوټر خوني ته له ځان سره بوځي او اجازه ورکړي چي د کمپيوټر په هري بټني چي زړه ئې غواړي ګوته کښېږدي، د دې پايله به څه وي؟!! همدا راز که د دې عالم په نظم او اداره کي د انسان هوس دخالت وکړي، د تودوخي کم والی زياتوالی، د ورځي او شپې اوږدوالی او لنډ والی، د لمر او سپوږمۍ د راختو او لوېدو اوقات د ده د خوښي مطابق بدل رابدل شي، دا عالم تباه کېږي!!

• د آيت په پای کي ويل شوي: موږ د دوی ذکر ورته راوړی خو دوی له خپل ذکر اعراض کوونکي دي، يعني دا کتاب خو دوی ته خپل ځان ورښيي، ماضي او مستقبل ورښيي، د مخکينيو برخليك ئې د دوی په وړاندي ږدي، د دوی د نېکو او بدو کړنو، سمو او غلطو تګلارو پايلي په ګوته کوي، د سعادت او شقاوت لاري ورښيي، د فلاح او بريا په لوري ئې بلي، خو دوی له دې ذکر اعراض کوي!!

أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ خَرۡجٗا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيۡرٞۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّكَ لَتَدۡعُوهُمۡ
إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ عَنِ ٱلصِّرَٰطِ لَنَٰكِبُونَ
﴿٧٤﴾ وَلَوۡ رَحِمۡنَٰهُمۡ وَكَشَفۡنَا مَا بِهِم مِّن ضُرّٖ لَّلَجُّواْ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿٧٥﴾ وَلَقَدۡ
أَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ فَمَا ٱسۡتَكَانُواْ لِرَبِّهِمۡ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحۡنَا
عَلَيۡهِم بَابٗا ذَا عَذَابٖ شَدِيدٍ إِذَا هُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ ﴿٧٧﴾

آيا کومه خرڅه (بدله) ترې غواړې، په داسي حال کي چي ستا د رب خرڅه غوره ده او هغه تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ، او يقيناً چي ته ئې سمي لاري ته بلې، او يقيناً

هغه چې پر آخرت ایمان نه راوړي له دغې لارې ځنګ ته کېدونکي دي. او که رحم پرې وکړو او هغه کړاو ترې لرې کړو چې دوی پرې اخته دي نو هرو مرو به په خپل طغیان او سرغړاوي کې ټینګار کوي په داسې حال کې چې لالهانده به وي، او یقیناً چې په عذاب مو اخته کړل خو نه ئې خپل رب ته عاجزي وکړه او نه زاري کوي. تر هغه چې داسې ور پرې پرانیزو چې د سخت عذاب وال وي نو هغه مهال به دوی په کې ناهیلي وي.

(٧٢-٧٧)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• دلته دوه داسې مضبوط دلائل وړاندې شوي چې له مخې ئې نه یوازې د پیغمبر علیه السلام حقانیت ثابتېږي او قریش پرې قانع کوي؛ بلکې د قرآن له نظره د همدغو دلائلو له مخې کولی شو یو واقعي او مخلص داعي له کاذب، ټګمار او غرضي مبلغ تفکیك کړو، هغه دلائل دا دي:

• پیغمبر علیه السلام له خلکو طمع نه لري، څه نه ترې غواړي، نه مادي بدله او خرڅه او نه معنوي، نه مال ترې غواړي، نه مقام، طمع ئې یوازې له خپل رب  ده، اجر او بدله له هغه غواړي، پر هغه حلال رزق بسنه کوي چې خیرالرازقین رب ئې ورکوي.

• هغه خلك سمې لارې ته بلې او د حق او عدالت لورې ته بلنه ورکوي.

• که تاسو د قرآن لارښوونو ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چې قرآن د یوه پیغمبر او صالح لارښود د پېژندو لپاره دغه دوه معیارونه په مکرره توګه زموږ په وړاندې ږدي؛ وايي: هر پیغمبر خپل قوم ته ویلي: زه د دعوت په عوض کې له تاسو هیڅ اجر او بدله نه غواړم، نه مالي بدله، نه مادي او نه معنوي، نه ستاینه او توصیف، نه زما لویي او برلاسي منل، قرآن دا د ټولو پیغمبرانو او واقعي دعوتګرانو یوه مهمه ځانګړتیا ګڼي چې له خپل مخاطب د هیڅ اجر او بدلې طمع نه لري، خپل اجر یوازې له رب العالمین غواړي، دا د واقعي دعوتګرانو او ټګمارو مبلغینو د پېژندو لپاره د یوه حساس ملاك او محك په توګه معرفي کوي، څوك چې په خپل دعوت او تبلیغ له خلکو څه تر لاسه کوي، څوك چې له دین او مذهب ځان ته دوکان جوړوي، څوك چې په تعویذونو شکرانې تر لاسه کوي، یو ټګمار داعي، دوکه مار مبلغ او غولوونکی مذهبي مشر دئ.

• همداراز قرآن فرمايي چې پیغمبر د خپلې وینا او دعوت له مخې پېژندل کېږي، د یوه چا پیغام ته په پام سره دا قضاوت کولی شو چې هغه پیغمبر دئ که نه، د یوه داعي دعوت، د یوه مبلغ تبلیغ او د یوه لارښود لارښوونو ته په پام سره ویلی شو چې صادق او مخلص دئ که ټګمار او دوکه مار، قرآن د یوه مؤمن شخصیت له قوله حکایت کوي او وايي چې هغه خپل قوم ته وویل: د هغه چا متابعت وکړئ چې له تاسو کومه بدله نه غواړي او په سمه لار روان دئ: اتبعوا من لا یسئلکم اجراً و هم مهتدون.

• په آیت کې ویل شوي: هغه خلك له دغې لارې ډډه کوي چې پر آخرت ایمان نه راوړي. یعني د آخرت منکرین په هغې سمې لارې تلو ته نه چمتو کېږي چې پیغمبر علیه السلام

پرې روان دئ او خلکو ته بلنه ورکوي چي پرې روان شي.

- كه الله تعالى پر دغو خلكو رحم وكړي او هغه كړاوونه ترې لرې كړي چي پرې اخته دي نو وبه گورئ چي د الله تعالى د دې پيرزويني هيڅ پروا نه كوي، پر خپل طغيان او سرغړاوي به ټينگار كوي او په خپل جهالت كي به لالهانده وي.
- تر دې وړاندي هم په وار وار پر دوی د الله تعالى له لوري واړه واړه عذابونه نازل شوي خو خپل رب ته ئې عاجزي ونه كړه، تر هغه به الله تعالى ته مخه نه كړي او زاري او تضرع به ونه كړي چي د يوه سخت عذاب ور پرې پرانيستل شي، خو هغه مهال به دوی په دې شديد الهي عذاب كي له هره پلوه ناهيلي وي.

وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي ذَرَأَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخۡتِلَٰفُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٨٠﴾

او دی همغه ذات دئ چي تاسو ته ئې غوږونه، سترگي او زړونه راپيدا كړل، ډېر لږ شكر كوئ، دی همغه ذات دئ چي تاسو ئې په زمكي كي خواره كړئ او د ده لوري ته ورغونډ كېږئ. او دی هغه ذات دئ چي ژوندي كول او مړول كوي (د ژوند او مرگ پرېكړه كوي)، د شپې او ورځي يوه په بلي پسي راتله د ده له لوري دي، نو آيا تعقل نه كوئ؟!

(۷۸-۸۰)- دا مبارك آيتونه د الله تعالى د قدرت څو مهمو نښو ته زموږ پاملرنه هڅوي:

- الله تعالى همغه ذات دئ چي تاسو ته ئې غوږونه، سترگي او زړونه دركړل خو تاسو د الله تعالى د دغي پيرزويني ډېر لږ شكر كوئ. دلته دوه خبري غور غواړي: د غوږونو، سترگو او زړونو د وركړي لپاره د (انشأ لكم: تاسو ته ئې راوټوكول) الفاظ كارول شوي، ولي د خلق لكم يا اعطى لكم په ځای د انشأ لكم الفاظ راغلي؟ همداراز د غوږونو يادونه ئې تر سترگو او زړونو وړاندي كړې، دا ولي؟ آيا غوږونه تر سترگو او زړونو وړاندي جوړېږي؟ آيا د غړو د پيدايښت لپاره د (أنشأ) صيغه راوړل كوم خاص مطلب افاده كوي؟ راشئ د دې ځواب له ساينسپوهانو او هغو ډاكټرانو وغواړو چي د ماشوم د پيدايښت د څرنگوالي په اړه ئې ژوري څېړني كړې دي او كلونه كلونه ئې د پرمختللو وسائلو څنگ ته تېر كړي، نن هغوی همدا خبره كوي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي كړې!! دوی وايي: د مور په رحم كي لومړی د ماشوم د غوږونو جوړېدا پيل شي، بيا ئې د سترگو او بيا ئې د زړه، او دا هغه حقيقت دئ چي علم د شلمي پېړۍ په پای كي د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شو. دوی وايي: دا هر غړی د يوه ځانگړي ژن له لوري په داسي توگه جوړېږي چي د هر غړي لومړنی

سلول وده کوي، شمېر ئې ډېرېږي او ورو ورو بشپړ غړى ترې جوړ شي، د جوړېدا لپاره ئې تر ټولو غوره صيغه همدا د أنشأ صيغه ده، ځکه د ورو ورو ودې له لارې بشپړ غړى جوړېږي.

- همدا راز تر سترګو وړاندې د غوږ د يادولو بله وجه دا ده چې غوږ تر سترګې ډېر حساس دئ، غوږ د حجاب او پردې له شا هم خبرېږي خو سترګې دا کار نشي کولى، غوږ ستا له حکم پرته تا خبروي خو سترګې به ته په خپله يوه لوري ته اړوې او پرانيستې به ئې نيسې چې اطلاع درکړي، د دماغ پرېکړه د هغو معلوماتو له مخې وي چې د غوږونو او سترګو له لارې ئې تر لاسه کوي، تل ئې کار تر دوى دواړو وروسته پيل کېږي.
- الله تعالى همغه ذات دئ چې تاسو ئې په زمکې کې خواره کړئ او د ده لوري ته ورغونډ کېږئ.
- الله تعالى همغه ذات دئ چې د ژوند او مرګ پرېکړه د ده له لوري کېږي.
- الله تعالى همغه ذات دئ چې د شپې او ورځې يوه په بلې پسې راتله د ده له لوري دي.
- لکه چې د شپې او ورځې تګ راتګ د ده په اراده تر سره کېږي، همدا راز د مرګ ژوند پرېکړه هم د ده له لوري کېږي، لکه چې د شپې او ورځې په تلو راتلو کې له الله تعالى پرته د بل هيڅ اراده هيڅ ډول اثر او اغېز نه لري، يوه شېبه ئې نه مخکې کولى شي او نه ئې وروسته کولى شي، همدا راز د مرګ او ژوند فيصله هم الله تعالى صادروي او پدې کار کې هم له الله تعالى پرته بل هېڅ شى هيڅ ډول ونډه او اغېز نه لري.
- د آيت په پاى کې ويل شوي چې آيا تعقل نه کوئ؟! يعني که د يوه عقلمن انسان په سترګه دغو سترو سترو ځرګندو حقائقو ته وګورئ ستاسو قضاوت او پرېکړه به څه وي؟

---

بَلْ قَالُواْ مِثْلَ مَا قَالَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾ قَالُوٓاْ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا
لَمَبْعُوثُونَ ﴿٨٢﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ
ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾

بلکې همغسې څه ئې وويل چې لومړنيو ويلي وو، وئې ويل: آيا کله چې ومرو او خاورې او هډوکې شو، آيا موږ به حتماً راپاځول کېږو؟!! يقيناً چې د دې وعده خو موږ ته هم راکړى شوې او تر دې وړاندې زموږ پلرونو ته هم، دا خو د وړاندينيو له قصو پرته بل څه نه دئ.

---

(۸۱-۸۳)- دا مبارک آيتونه وايي: د دغو کافرانو او منکرينو ځواب همغسې وو لکه د لومړنيو کافرانو، د قيامت او بياژوندون په اړه د دوى وينا همغه زړه او پخوانۍ وينا ده چې مخکينيو کافرانو پيغمبرانو ته کړې او هغه دا: آيا کله چې ومرو او خاورې او هډوکې شو، نو موږ به

حتماً له خپلو قبرونو بيا ژوندي راپاځول کېږو؟!! دا د بياژوندون وعده خو موږ ته هم راکړی شوې او تر دې وړاندې زموږ پلرونو ته هم، ولې تر نن پورې هيڅوك راژوندی نشو؟ ولې دا وعده تر سره نشوه؟!! دا خو د وړاندينيو له قصو پرته بل څه نه دي.

قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا
تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ
لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ
عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ ﴿٨٩﴾ بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم
بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾

ووايه: زمکه او هغه څه چې په هغې کې دي د چا دي، که پوهېږئ (ځواب ئې راکړئ)؟ حتماً به ووايي: د الله دي، ووايه: نو آيا پند نه اخلئ؟ ووايه: د اووو آسمانونو خاوند او د ستر عرش خاوند څوك دئ؟ حتماً به ووايي: د الله دي، ووايه: آيا نه وېرېږئ؟ ووايه: هغه څوك دئ چې د هر څه واکمني ئې په لاس کې ده او هغه پناه ورکوي او د ده خلاف پناه نشي ورکول کېدی؛ که پوهېږئ؟ حتماً به ووايي: د الله دي، ووايه: نو له کومه کوډې دربانديې کېږي؟ بلکې موږ حق ورته راوړ او يقيناً چې دوی دروغجن دي.

(٨٤-٩٠)- په دې مبارکو آيتونو کې د توحيد په اړه څو ستري ستري لارښوونې د پوښتنې او ځواب په بڼې کې انځور شوې، په دې توګه:

- ترې وپوښته: زمکه او هغه څه چې په هغې کې دي د چا دي؟ که پوهېږئ ځواب ئې راکړئ؟ د دوی ځواب له دې پرته بل څه نشي کېدی چې ووايي: د الله دي، ځکه بل خاوند ورته نشي موندلی، نو ورته ووايه: په دې ستر حقيقت له اعتراف سره سره ځنګه پند نه اخلئ؟
- ترې وپوښته: د اووو آسمانونو خاوند او د ستر عرش خاوند څوك دئ؟ حتماً به ووايي: د الله دي، نو ورته ووايه: آيا د داسې ستر رب له مخالفت او د ده په وړاندې له عصيان او بغاوت وېره نه لرئ؟
- وئې پوښته: هغه څوك دئ چې د هر څه واکمني ئې په لاس کې ده او هغه پناه ورکوي او د ده په وړاندې هيڅوك چا ته پناه نشي ورکولی، که پوهېږئ؟ حتماً به ووايي: د الله دي، واکمني هم د ده په لاس کې ده او پناه ورکول هم د ده کار دئ، نو ورته ووايه: نو له کومه کوډې دربانديې کېږي؟ دا وروستۍ فقره (انى تسحرون: له کومه کوډې دربانديې کېږي؟) ځينو درنو مفسرينو داسې تعبير کړې چې ګواکې دلته سحر د دوکه کولو او غولولو په معنی راغلی او مراد ئې دا دئ چې تاسو چا غولولي يئ چې پر آخرت ايمان نه راوړئ؟ ځينو نورو

ویلي چي مراد ئې دا دئ: چا درباندي جادو کړی چي پر آخرت له ایمان راوړو مو مخ بل لوري ته اړوي او په حقیقت ئې له پوهېدو ستاسو مخنیوی کوي؟ په دې دواړو تعبیرونو کې دوه اساسي ستونزي تر سترګو کېږي: په لومړۍ توجیه کې سحر په خپلې اصلي معنی نه دئ نیول شوی او په دوهمي توجیه کې سحر ته دومره اغېز ثابت شوی چي یو څوك له ایمان راوړو هم منع کولی شي!! نو ځکه دا دواړه تعبیرونه د منلو وړ نه دي. د دې فقرې غوره او دقیق تعبیر دا دئ: په داسي حال کې چي تاسو ټولو پورتنیو پوښتنو ته همغه ځواب ورکوئ چي پیغمبر ئې درته وایي، تاسو دا منئ چي زمکه او د هغې هر څه د الله دي، د اوو آسمانونو خاوند او د ستر عرش خاوند الله دئ، د هر څه واکمني د الله په لاس کې ده او هغه پناه ورکوي او د ده په وړاندي هیڅوك چا ته پناه نشي ورکولی، نو ولي پیغمبر علیه السلام ته کوډګر وایئ او ستاسو له منځه چي چا ایمان راوړی هغوی ته د مسحور نوم ورکوئ او وایئ چي پر دوی کوډي شوې؟ فأنى تسحرون؟: له کومه کوډې درباندي کېږي؟، ولي هغو خبرو ته د کوډو نوم ورکوئ چي پیغمبر علیه السلام ئې تاسو ته کوي؟ دا په داسي حال کې چي د الله تعالی په اړه ټولو پورتنیو پوښتنو ته همغه ځواب ورکوئ چي پیغمبر ئې تاسو ته وایي!! د دغو ځوابو طبیعي او د عقل مطابق غوښتنه دا ده چي الله تعالی شریك نه لري او د قیامت راتګ حتمي دئ، خو تاسو له یوې خوا الله تعالی ته دروغجن شریکان ټاکلي او له بلي خوا د قیامت راتګ نه منئ!! د آیت د پای فقره په ډېر وضاحت سره ښیي چي همدا تعبیر دقیق او صحیح دئ، ځکه دا فقره په (بل) سره پیل شوې او ورپسې ویل شوي چي موږ حق ورته راوړی او دوی دروغجن دي، او د دې معنی دا ده: داسي نه ده لکه چي دوی ئې وایي، او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ساحر وایي او د دعوت اغېز ئې سحر بولي، بلکي خبره دا ده چي موږ حق ورته راوړی او دوی دروغجن دي، ځکه دوی حق ته د سحر په سترګه ګوري. که دغو آیتونو ته لږ ځیر شو نو ګورو چي دلته یوازي یوه دروغجنه خبره تر سترګو کېږي چي هغه د سحر اړوند خبره ده، دا دروغجنه خبره ځکه مخالفینو ته منسوب ګڼو چي په پای کې دوی ته د دروغجنو خطاب شوی. په ورپسې آیت کې هم ګورو چي د دوی دوه نوري دروغجني خبري هم تردید شوې: یوه ئې دا چي وایي خدای زوی او ځای ناستی لري او بله ئې دا چي وایي خدای شریکان لري.

مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَـٰهٍۚ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَـٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍۚ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ عَـٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ فَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٩٢﴾

نه الله کوم زوی نیولی او نه د هغه خوا ته کوم بل معبود شته، که داسي وی نو هر معبود به هغه څه له منځه وړي وو چي پیدا کړي ئې دي (یا به ئې له ځان سره بل

لوري ته وړي ول) او حتماً به ځيني پر ځينو نورو برلاسي شوي وو، الله ته له هغه څه پاکي ده چي دوی ئې بيانوي، په غيب او ښکاره پوه، له هغه څه لوړ دئ چي دوی ئې (ورسره) شريکوي.

---

(۹۱-۹۲)-په دې مبارکو آيتونو کي د الله تعالی په اړه د مشرکينو او اهل کتاب دوه دروغجني خبري او د دوی د غلطو انګېرنو د ترديد لپاره دوه مضبوط او قاطع دلائل زموږ مخي ته ايښودل شوي، په دې توګه:

- د هغو وګړو ادعاء دروغجنه او بې بنسټه ده چي وايي: الله تعالی کوم څوک د زوی او ځای ناستي په توګه غوره کړی، ګمان کوي چي الله تعالی له خپلو اختياراتو ځيني برخي خپلو نازولو ذواتو ته سپارلي، هغوی د شفاعت او سپارښتني حق لري، الله تعالی د هغوی له لاري د خپلو بندګانو دعاګاني اوري او قبلوي، هغوی کولی شي د خلکو مشکلات حل او حاجتونه تر سره کړي!! حال دا چي الله تعالی هيڅ زوی او ځای ناستی نه لري، هيڅوک ئې د زوی او ځای ناستي په توګه نه دئ غوره کړی، نه الله تعالی شريکان لري او نه ئې خپل اختيارات پر نورو وېشلي.
- هغه مشرکين دروغجن دي چي د الله تعالی تر څنګ بل معبود مانځي، په ډېرو معبودانو باور لري، بل چا او بل څه ته د معبود په سترګه ګوري، حال دا چي د الله تعالی تر څنګ بل معبود نشته.
- د يوې ډلي په ځواب کي ويل شوي: که له يوه الله پرته بل اله او معبود وی نو د دوی تر منځ مخالفت، نزاع او تصادم حتمي وو، هر يوه به هڅه کوله چي پر نورو برلاسی شي، يوازيني برلاسی معبود ترې جوړ شي، په دې نزاع کي به کمزورو معبودانو خپل هر څه له لاسه ورکول، ځيني به ئې د فاتح په لاس له منځه تلل او ځيني به دوی په خپل لاس په دې تصادم کي له منځه وړل، دا عالم به د دغو الهه وو تر منځ د مسلسل او پرله پسې تصادمونو او نزاعاتو شاهد وو، حال دا چي په ټول عالم کي د بشپړ يووالي، وحدت، تنسيق، ګډ کار او نظم شاهد يو او د دې پراخ عالم په هيڅ ګوټ کي نه د داسي نزاع او تصادم څه بېلګه تر سترګو کېږي او نه د بل اله او معبود د شتون کوم شاهد او نښه او نه بل عالم چي د بل اله تر واکمنۍ لاندي وي.
- د بلي ډلي په ځواب کي ويل شوي چي الله تعالی له دې عيب منزه او پاك دئ چي شريك، زوی او ځای ناستی ولري، شريك، زوی او ځای ناستی هغه څوك نيسي چي په خپل ځان بسيا نه وي، ټول کارونه په خپله نشي کولی، د بل مرستي ته اړ وي، هر ځای او هر کار ته په خپله نشي رسېدی، علم او معلومات ئې محدود وي، له ټولو اسرارو نشي خبرېدی، بل ئې بايد مرسته وکړي او په هغه څه ئې خبر کړي چي د ده له سترګو پټ وي. خو الله تعالی په غيب او ښکاره پوه دئ او له هغه څه ډېر لوړ دئ چي دوی ئې ورسره شريکوي.

قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾ وَإِنَّا
عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَٰدِرُونَ ﴿٩٥﴾

ووایه: اې زما ربه! که هغه څه راوښیې چې له دوی سره ئې وعده کېږي نو زما ربه! په دې ظالم قوم کې مې (پاته) ونه ګرځوې. او یقیناً چې موږ پر دې قادر یو چې هغه څه دروښیو چې وعده ئې ورسره کوو.

(۹۳-۹۵)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د یوې داسې ښکلې دعاء لارښوونه شوې چې پر ظالمانو د الهي عذاب له راتلو سره تړاو لري، ورته ویل شوي: وواېه: اې زما ربه! که هغه حالت راښیې چې ستا له پرېکړو سره سم پر ظالمانو ستا عذاب سیوری غوړوي، نو زما ربه! ما په دې ظالم قوم کې مه پرېږده، تر عذاب وړاندې مې ترې وباسه. یعني که زما په ژوند کې او په داسې حال کې چې زه په کوم ظالم قوم کې مېشت یم او دوی ته د حق په لوري بلنه ورکوم، دوی پر خپل کفر او شرك تر هغه ټینګار وکړي چې مهلت ئې پای ته ورسېږي او د الهي عذاب نېټه راورسېږي نو ما په دوی کې مه پرېږده، تر عذاب وړاندې مې ترې وباسه. الله تعالی کولی شي دا حالت راولي او پر دوی د عذاب د راتلو ورځ درباندې وګوري.

ٱدْفَعْ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ٱلسَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ
مِنْ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾

بدې په هغه څه دفع کړه چې تر ټولو غوره وي، موږ په هغه څه ښه پوه یو چې دوی ئې بیانوي، او وواېه: اې زما ربه! د شیطانانو له وسوسو پناه دروړم، او له دې پناه دروړم چې خوا ته مې حاضر شي.

(۹٦-۹۸)- دلته هم رسول الله صلی الله علیه و سلم ته او د ده لارې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې بدې په نېکې ځواب کړي، د بدې دفع کولو لپاره تر ټولو غوره او ښکلې طریقه غوره کړي، د مخالفینو بد سلوك، بده ژبه، کچه او سپکې خبرې باید د دې باعث نشي چې تاسو هم ورته چلن وکړئ، دا شیطانان دي چې انسان بدې کړني او بدې وینا ته هڅوي، غصه ئې پاروي، ناسم او ناوړه غبرګون ته ئې تیاروي، د شیطان له وسوسو خپل رب ته پناه یوسئ، له دې هم ده ته پناه یوسئ چې دا شیطانان مو خوا ته راشي.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ٱرْجِعُونِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّيٓ أَعْمَلُ صَٰلِحًا فِيمَا

تَرَكۡتُۚ كَلَّآۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَاۖ وَمِن وَرَآئِهِم بَرۡزَخٌ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٠٠﴾

تر هغه چې د دوی کوم يوه ته مرگ ورشي نو وايي: اې زما ربه! بېرته مې وگرځوئ، چې په هغه څه کې نېك عمل وکړم چې (تر شا مې) پرېښي، نه نه، دا (هسې) يوه وينا ده چې هغه ئې ويونکی دئ، او تر دوی آخوا تر هغې ورځې چې (له قبرونو به) راپاڅول کېږي يو برزخ (پرده) ده.

(۹۹-۱۰۰)- په دې مبارکو آيتونو کې ويل شوي:

- د متعصبو او متعنتو کافرانو به همدا حال وي، پر مخالفت به ټينگار کوي، له ايمان راوړو به ډډه کوي، دلائل به نه مني، تر هغه چې د مرگ نښه ئې راشي، نو هغه مهال به وايي: اې زما ربه! بېرته مې وگرځوئ، چې په هغه څه کې نېك عمل وکړم چې تر شا مې پرېښي، په خپلو پاته شتمنيو، امکاناتو او وسائلو کې سم او د مخکيني ژوند خلاف تصرف وکړم، خپل اولاد سمې لارې ته هدايت کړم، د مهلت ورکولو او د خپل مرگ د ځنډېدو غوښتنه به کوي، خو دا غوښتنه به ئې داسې وي لکه خوشې او بې گټې وينا، چې نه الله تعالی ورته اعتناء کوي، نه دی په کې رښتينی او صادق وي او نه کومه نتيجه پرې مرتب کېږي، څو شېبې وروسته به هغه ځای ته درومي چې د قيامت تر ورځې به په کې پراته وي، تر هغې ورځې چې له قبرونو به راپاڅول کېږي.
- دلته په قبر کې د پاته کېدا مودې ته برزخ ويل شوي، برزخ د پرده معرب دئ، يعني د انسان او قيامت تر منځ دغه پرده حائل ده، له دې پردې آخوا قيامت او بله نړۍ ده.

فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿١٠١﴾

نو کله چې په شپېلۍ کې پو شي بيا به په دې ورځ نه د دوی تر منځ خپلوي وي او نه به يو بل پوښتی شي.

(۱۰۱)- که نن دا د حق دښمنان په گډه د اسلام مخالفت کوي، په دې گډ مخالفت کې تر هر څه زيات پر قومي اړيکو ترکيز کوي او وايي: له پلار نيکه راپاته دود دستور پالو او نوي دين نه منو، د حقپالو په ضد قومي او ژبني تعصبات پاروي، د قيامت په ورځ به د دغو حق دښمنو کافرانو تر منځ ټولې اړيکې شلېدلې وي، حتی د خپلوۍ اړيکې، هر څوك به د ځان په غم کې وي، هغه ورځ به نه يو له بل مرسته غوښتی شي، نه به يو د بل حال پوښتی شي او نه به له الهي عذاب د ژغورنې د لارو چارو په اړه له چا پوښتنه کولی شي.

فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ

فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فِي جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ١٠٣ تَلۡفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ
وَهُمۡ فِيهَا كَٰلِحُونَ ١٠٤ أَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ
١٠٥

نو د چا چې تلل شوي درانه وختل همدا دوی بریالي دي او د چا چې تلل شوي سپك وختل نو همدا دوی خپل ځانونه تاواني کړل، په دوزخ کې به تلپاته وي. اور به ئې مخونه وریت (بې پوسته) کړي او دوی به په کې بربنډ ژامي وي، آیا زموږ آیتونه نه درباندې لوستل کېدل په داسې حال کې چې تاسو به هغوی تکذیبول؟

(١٠٢-١٠٥)- د دې مبارکو آیتونو مهم مهم مطالب دا دي:

• د قیامت په ورځ به عملونه تلل کېږي، د چا چې تلل شوي درانه وخېژي نو دوی به بریالي وي او د چا چې تلل شوي سپك وخېژي دوی به هغه خلك وي چې خپل ځانونه ئې تاواني کړي، په دوزخ کې به تلپاته وي، اور به ئې مخونه داسې وریت کړي چې د مخ پوستکې به ئې وسوزي او ژامې او غاښونه به ئې لوڅ شي.

• دغو دوزخیانو ته به وویل شي: آیا زموږ آیتونه نه درباندې لوستل کېدل په داسې حال کې چې تاسو به هغوی تکذیبول؟ دا عذاب او سپکاوي د همدې ګناه سزا ده.

• دلته ویل شوي چې د هر انسان بریا د ده د موازین په دروندوالي او سپکوالي پورې تړلې ده، دلته موازین د موزون جمع افاده کوي، یعنې بریالی هغه دئ چې تلل شوي ئې درانه وي، داسې عملونه ئې کړي وي چې د الله تعالی په وړاندې او د حقیقت له مخې قدرمن او ارزښتمن وي، دا (حق) او (حقیقت) دئ چې د انسان عمل ته دروندوالی، قدر او ارزښت ورکوي، کوم عمل چې له (حق) او (حقیقت) تش وي، هغه به سپك او بې ارزښته وي. په روایاتو کې هم راغلي چې د لااله الا الله وزن به د زمکې او آسمانونو تر وزن زیات وي، فان السماوات والأرض وما فیهما لو وضعت في كفة الميزان ووضعت لا إله الا الله في الكفة الأخرى كانت أرجح، د دې معنی دا ده چې هلته به حقیقت وزن او دروندوالی وي. دا تعبیر صحیح نه دئ چې موازین د میزان جمع وګڼل شي او د تلې دروند والی او سپکوالی د فلاح او خسران نښه وګڼل شي، په دې تعبیر کې دا خبره مجهوله پاته کېږي چې د څه شي وزن به د فلاح او خسران نښه وي؟! کېدی شي د چا د نېکو عملونو پېټی سپك وي او لږ نېك عملونه ئې کړي وي او د بل د بدو عملو پېټی دروند وي او ډېر بدعملونه ئې کړي وي، آیا کولی شو داسې سپکوالی او دروندوالی معیار وګڼو.

قَالُواْ رَبَّنَا غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا شِقۡوَتُنَا وَكُنَّا قَوۡمٗا ضَآلِّينَ ١٠٦ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَإِنۡ

عُدۡنَا فَإِنَّا ظَٰلِمُونَ ﴿١٠٧﴾ قَالَ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿١٠٨﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٞ
مِّنۡ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٠٩﴾
فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم مِّنۡهُمۡ تَضۡحَكُونَ ﴿١١٠﴾ إِنِّي
جَزَيۡتُهُمُ ٱلۡيَوۡمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿١١١﴾

وئې ویل: اې زموږ ربه! زموږ بدمرغي راباندې غالبه شوه او موږ لار ورکي وګړي وو، اې زموږ ربه! له دې (دوزخ) مو وباسه! نو که بېرته (خپل مخکیني کفر او عصیان) ته وروګرځېدو نو موږ به ظالمان وو، وئې ویل: په دې (دوزخ) کې پټه خوله کښینئ او خبري مه راسره کوئ. یقیناً چې زما د بندګانو یوه ډله داسې وه چې ویل به ئې: اې زموږ ربه! ایمان مو راوړ نو موږ ته بخښنه وکړه او رحم راباندې وکړه؛ یقیناً چې ته تر ټولو رحم کوونکو غوره یې، نو تاسو تر هغه تر ملنډو لاندې نیولي ول چې زما یادونه ئې درنه هېره کړه او په دوی پوري مو خندل، یقیناً چې ما نن دوی ته دا بدله ورکړه چې همدا دوی به بریالي وي، له دې کبله چې صبر ئې وکړ.

(١٠٦-١١١)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- دوزخیان به وایي: اې زموږ ربه! زموږ بدمرغي راباندې غالبه شوه، ډېر بدمرغه او شقي وو چې له دې برخلیك سره مخامخ شوو، یقیناً چې موږ لار ورکي وو، اې زموږ ربه! له دې دوزخ مو وباسه! بیا به هغه څه نه کوو چې تر دې وړاندې مو کول او د دوزخ اور ئې راپه برخه کړ، که بېرته خپل مخکیني کفر او عصیان ته وګرځېدو نو موږ به ظالمان وو.
- الله تعالی به هغوی ته وفرمایي: په همدې دوزخ کې پټه خوله کښینئ او خبري مه راسره کوئ. یقیناً چې زما د بندګانو یوه ډله داسې وه چې ویل به ئې: اې زموږ ربه! ایمان مو راوړ نو موږ ته بخښنه وکړه او رحم راباندې وکړه؛ یقیناً چې ته تر ټولو رحم کوونکو غوره یې، تاسو پر دغو مؤمنانو ملنډې وهلې، دومره چې زه مو په بشپړه توګه هېر کړی وم، نه له ما وېرېدئ او نه مو پر دوی رحم کاوو، په دوی پوري مو خندل، دوی ستاسو د ټولو ملنډو، خندا، اهانت او ځورونو په وړاندې پر خپل ایمان صبر کاوو، د دغه صبر له کبله مې هغوی ته دا بدله ورکړه چې همدا دوی به بریالي وي.

قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ
ٱلۡعَآدِّينَ ﴿١١٣﴾ قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١١٤﴾

وئې ویل: په زمکي کې څو کلونه پاته شوئ؟ وئې ویل: یوه ورځ یا د یوې ورځې یوه

برخه پاته شوو، نو شمېرونکي وپوښته، وئې ویل: یوازي لږ (لنډه موده) پاته شوي یئ؛ کاش تاسو پوهېدی.

(۱۱۲-۱۱٤)- د قیامت په ورځ به له هغو دوزخیانو چي د قیامت او بیاژوندون عقیده ئې نه منله؛ پوښتنه وشي: په زمکي کي څو کلونه پاته شوئ؟ دوی به ځواب ورکړي: یوه ورځ یا د یوې ورځي یوه برخه، سم نه پوهېږو، له هغه چا وپوښته چي دا موده ئې سمه شمېرلې وي!! دوی ته به وویل شي: یوازي لنډه موده پاته شوي یئ؛ کاش تاسو پوهېدئ. دوی په دنیا کي په تلوار سره د قیامت غوښتنه کوله، د قیامت په راتلو کي ځنډ له قیامت د دوی د انکار دلیل وو، د خپلي غلطي عقیدې په تأیید که به ئې دا دلیل وړاندي کاوو: کله چي ومرو، خاوري او هدوکي شو، کلونه کلونه تر خاورو لاندي راباندي تېر شي، څنګه ومنو چي بیا به راژوندي کېږو؟!! خو د قیامت په ورځ به وایي: په زمکي کي او تر خاورو لاندي یوه ورځ یا تر دې هم لږ د ورځي د یوې برخي په اندازه پاته شوي یو. دوی ته به وویل شي: کاش په دې خبري هغه مهال پوه شوي وئ چي پیغمبران درتلل او تاسو ته ئې د قیامت او بیاژوندون په اړه وینا کوله او تاسو انکار کولو!!

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ
ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْكَرِيمِ ﴿١١٦﴾ وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا
ءَاخَرَ لَا بُرْهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ
﴿١١٧﴾ وَقُل رَّبِّ ٱغْفِرْ وَٱرْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١١٨﴾

آیا داسي مو انګېرلې ده چي موږ عبث او بېهوده پیدا کړي یئ او دا چي زموږ لوري ته به نه راګرځول کېږئ؟!! نو حقیقي ټولواک (له دې عیب ډېر) لوړ دئ، له ده پرته بل معبود نشته، او هغه د پرتمین عرش رب دئ. او څوک چي د الله خوا کي بل معبود ماڼځي (او مرستي ته ئې وربلي)؛ د دې (بلني او ماڼځني) په اړه هیڅ برهان او حجت نه لري، له دې پرته بل څه نه دي چي حساب ئې له خپل رب سره دئ، حقیقت دا دئ چي کافران نه بریالي کېږي. او ووایه: اې زما ربه! بخښنه (راته) وکړه، رحم (راباندي) وکړه او یقیناً چي ته تر ټولو رحم کوونکو غوره یې.

(۱۱۵-۱۱۸)- د دې مبارکو آیتونو په پراخو او مهمو مطالبو د پوهېدا لپاره باید لاندي خبري په پام کي ولرو:

- دا آیتونه د دې مبارکي سوري تتمه ده، لکه څنګه چي د دې سورې په لومړنیو آیتونو کي د فلاح او بریا اُوه ګوني اسباب معرفي شوي او هغه مؤمنان بریالي ښودل شوي چي دغه اُوه

صفات لري، دلته هغه کافران د بدمرغو او نامرادو په توګه په ګوته شوي چې د انسان پیدایښت عبث او بېهوده ګڼي، په بیاژوندون باور نه لري او له الله تعالی پرته بل معبود لمانځي او مرسته ترې غواړي.

• دلته دوه باورونه سره ورته او یو د بل مترادف ښودل شوي: دا باور چې انسان عبث او بېهوده پیدا شوی، او دا چې قیامت، بیاژوندون او د محاسبې، مکافات او مجازات لپاره د الله تعالی لوري ته ګرځېدا نشته!! حقیقت دا دئ چې له بیاژوندن انکار داسي دئ لکه څوك چې وایي: انسان بې هدفه او عبث پیدا شوی!! حال دا چې په دې ټول پراخ عالم کې داسي توکی نه شو موندلی چې عبث او بې هدفه وي!!

• د هغه چا په ځواب کې چې له بیاژوندون انکار کوي، او په دې توګه د انسان پیدایښت عبث او بې هدفه ګڼي؛ ویل شوي: الله تعالی دا د عالم حقیقي ټولواك؛ له دې عیب ډېر لوړ دئ چې انسان دې عبث پیدا کړی وي او له هغه سره دې محاسبه ونه کړي، او د نېك او بد عمل سزا او جزا دې ورنه کړي.

• مشرکینو ته ویل شوي: له الله تعالی پرته بل معبود نشته، هغه د پرتمین عرش رب دئ، هغه ټولواك دئ او ټول عالم د ده تر واکمنۍ او سلطې لاندي دئ. یعني الله تعالی حقیقي مالك دئ، له ده پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه ټولواك دئ، د عالم هر څه د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي دي، هر څه د ده د سیطرې او سلطې ته تسلیم دي، له کوم عرش چې د عالم د دې پراخ ملك پالنه، ساتنه او څارنه کېږي او هر څه ئې په خپل خپل ځای کې اداره کېږي، هغه د ده عرش دئ، او دا هستي ټوله د هغه د سیطرې او سلطې تر تخت او عرش لاندي ده، یعني دلته هغه هم مالك دئ او هم حاکم. په ټوله هستي کې د ده اراده نافذه ده، هغه د عرش مالك دئ، څوك چې د الله په ملك کې ژوند کوي، نو هغه به د همغو ضوابطو او سننو سره سم چې الله وضع کړي د خپلو عملونو اجر، بدله او نتائج ویني، څوك به تعذیبوي او چا ته به مغفرت او بخښنه کوي.

• څوك چې د الله خوا کې بل معبود لمانځي او مرستي ته ئې وربلي؛ د دې بلني او لمانځني په اړه هیڅ برهان او حجت نه لري، باور ئې بې بنسټه دئ او بلنه او لمانځنه ئې بې ګټي لوبي ته ورته. له قیامت او محاسبې انکار ده ته هیڅ ګټه نه رسوي، هرو مرو به د خپل رب په وړاندي ودرېږي او دقیقه محاسبه به ورسره کېږي. حقیقت دا دئ چې دا کافران نه بریالي کېږي، نه په دنیا کې او نه په آخرت کې.

• هر څوك چې د الله تعالی په څنګ کې بل چا ته، بل دربار او پناه ځای ته د سوال او احتیاج لاس اوږد کړي او مرسته ترې وغواړي، په حقیقت کې ئې همدا مرجع خپل اله او د خدای شریك ګرځولې، دا پداسي حال کې چې د دې غلط تصور او انګېرني لپاره هیڅ دلیل او برهان نه لري، په همدې خاطئ تصور سره چې ګمان کوي: "د خدای تر څنګ بل داسي معبود او اله هم شته چې د دعا په قبلولو کې ورسره شریك دئ" هغه د کافرانو په ډله کې شامل شوی او له فلاح او بریا نه محروم شوی.

- د سورې په پای کې د الله تعالی صالح او مخلص بنده ته لارښوونه شوې چې د خپل مهربان رب په وړاندې دا دعاء وکړي: اې زما ربه! بخښنه راته وکړه، رحم راباندې وکړه، يقيناً چې ته تر ټولو رحم کوونکو غوره يې.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## النور

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم (النور) دئ، چې د سورې د ۳۵ آيت له (الله نور السمٰوٰت و الارض) اخيستل شوی، څلور شپېته آيتونه لري، د ډېری آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (المؤمنين) ته ورته دي، له هرو څو آيتونو وروسته ئې فواصل بدلېږي او د لومړي آيت (تذکرون) ته په ورته صيغو پای ته رسي، پنځه آيتونه ئې په حساب او ابصار پای ته رسېدلي.

په دې کې ټول متفق دي چې دا مبارکه سوره په مدينه کې نازله شوې، خو دا چې د مدينې په کومې مرحلې او د هجرت په کوم کال کې نازله شوې، په دې اړه د مفسرينو تر منځ او په رواياتو کې د پراخ اختلاف او تعارض شاهد يو، ځيني د دې سورې نزول د احزاب له جګړې او د الاحزاب د سورې له نزول وړاندې ګڼي او ځيني ئې ترې وروسته، که څه هم ټول په دې متفق دي چې دا سوره د بني المصطلق له غزوې وروسته او د هغې پېښې په اړه نازله شوې چې له د دغې غزوې د راستنېدو پر مهال رامنځته شوه، او منافقينو د ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها په اړه داسې دروغجنه، کرکجنه او د هغې د عظمت او عفت خلاف افتراء وکړه چې الله تعالی د دغې مبارکې سورې په لېړلو سره دا تور رد کړ او هغه ئې د منافقينو له لوري دروغجنه افتراء وګڼله.

د بني المصطلق د غزوې په اړه اکثر روايات وايي چې دا په پنځم هجري کال کې رامنځته شوې؛ يو روايت ئې د څلورم هجري کال پېښه ګڼي او بل روايت ئې د شپږم هجري کال. دا تعارض او اختلاف د يوې مهمې مسئلې په ارتباط د فقهاءو تر منځ د جدي اختلاف رأي باعث شوی؛ د ښځو د حجاب د څرنګوالي په اړه د فقهاءو تر منځ اختلاف له دغو متعارضو رواياتو راولاړ شوی؛ د حجاب او ستر په اړه په دوو سورتونو کې لارښوونې شوې؛ د النور او الاحزاب سورتونه؛ د إفك پېښه؛ پر عائشې رضي الله عنها؛ دروغجن او کرکجن تور؛ د همدې المصطلق غزوې په دوران کې د منافقينو له لوري وارد شوی؛ او بيا د دې افتراء او دروغجن تور د رد او غندلو لپاره؛ د قرآن يوه بشپړه سوره؛ د النور سوره؛ نازله شوې؛ چې نه يوازې دا تور ئې غندلی؛ او د عائشې رضي الله عنها برائت ئې څرګند کړی؛ بلکې په همدې ارتباط

ئې ګڼ شمېر جامع او رغنده لارښوونې؛ د مسلمانانو مخې ته ايښې دي. د مېرمنو د حجاب او شرعي لباس په اړه چې متعارضو رواياتو کومه ستونزه راولاړه کړې؛ ځيني ئې له همدې غزوې سره تړاو لري؛ يو ئې عائشې رضي الله عنها ته دا خبره منسوبوي چې ګواکې هغې ويلې: ما خپل مخ پټ کړ؛ ځکه چې د حجاب آيت نازل شوی وو؛ په داسې حال کې چې د حجاب يادونه د احزاب په سوره کې شوې؛ او دا سوره تر دې غزوې او د النور سورې له نزول وروسته؛ او هغه مهال نازله شوې چې د احزاب جګړه هم پای ته رسېدلې وه؛ او په همدې سورې کې د احزاب جګړې په اړه تفصيلي بحث شوی؛ او دا ښيي چې دغه روايات هيڅ اعتبار او وزن نه لري چې وايي: د احزاب سوره د بني المصطلق تر غزوې وړاندې نازله شوې.

په څو دلائلو ويلی شو چې د النور سوره تر الاحزاب وړاندې نازله شوې:

- له دوو رواياتو پرته نور ټول روايات همدا خبره کوي.
- د النور په سوره کې په عامه توګه ويل شوي چې کورونو ته د ننوتلو پر مهال له هستوګنو اجازه وغواړئ او سلام پرې واچوئ او د الاحزاب په سوره کې ويل شوي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم کور ته له اجازې پرته مه ننوځئ، که بلنه درکړی شوه نو له خوراك وروسته خواره شئ او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د خبرو اورېدو تلوسه دې تاسو زيات پاته کېدو ته ونه هڅوي چې دا کار د رسول الله صلی الله عليه و سلم د مزاحمت باعث کېږي. هغه لارښوونه عامه او دا خاصه ده، معمولاً عامه لارښوونه تر خاصې وړاندې وي.
- د الاحزاب په سورې کې ويل شوي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له وفات وروسته به د هغه مېرمنې داسې ګڼئ لکه خپلې ميندې او له هغوی سره به نکاح نه کوئ. دا لارښوونه ښيي چې د الاحزاب سوره د رسول الله صلی الله عليه و سلم له رحلت لږ وړاندې نازله شوې، په همداسې وخت کې داسې لارښوونې ته ضرورت وو نه تر دې ډېر وړاندې.
- د دې سورې ۵۳ آيت وايي: وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ قُل لَّا تُقْسِمُواْ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعْمَلُونَ: په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چې که امر ورته وکړې نو حتماً به د جهاد لپاره ووځي، ووايه: لوړه مه کوئ، پېژندل شوی اطاعت دئ (ستاسو دنده)، يقيناً چې الله په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ. له دې آيت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره په هغو کلونو کې نازله شوې چې لا د مسلمانانو او د دوی د دښمنانو تر منځ ډېرې نښتې نه وې شوې او لا د منافقينو هغه خصلت عملاً نه وو جوت شوی چې د نښتو په وخت کې د مسلمانانو له ملګرتيا او په جګړو کې له برخې اخيستو ډډه کوي، له دې معلومېږي چې دا سوره د احزاب له سورې وړاندې نازله شوې.
- کوم روايت چې وايي د الاحزاب سوره تر النور وړاندې نازله شوې په هغه کې داسې خبرې تر سترګو کېږي چې د روايت اعتبار ته کلکه صدمه رسوي، لکه دا چې وايي: رسول

الله صلی الله علیه و سلم له هغه ځا په جومات کې او د مسلمانانو په وړاندې شکایت وکړ چې دا افتراء ئې جوړه کړې وه، په ځواب کې ئې سعد بن معاذ رضی الله عنه وویل: یا رسول الله! که دا د اوس له قبیلې وي نو موږ به ئې سر غوڅ کړو او که د خزرج د قبیلې وي نو هغه څه به ورسره کوو چې ته ئې امر وکړې. دا په داسې حال کې چې سعد بن معاذ رضی الله عنه د الاحزاب په غزوې کې ټپي شوی وو او د همدې ټپ له کبله لږ وروسته وفات شو!! که سعد بن معاذ رضی الله عنه دا خبره کړې وي نو معنی ئې دا ده چې دا غزوه تر الاحزاب او د سعد بن معاذ رضی الله عنه تر وفات وړاندې وه. د دې اختلاف او د دې روایاتو تفصیل به د سورې په تفسیر کې وګورئ. (*)

نامناسبه ئې مه ګڼئ که دلته د یوې رؤیا یادونه وکړم: د ۱۳۹۰ کال د حمل په یوویشتمه د دې مبارکې سورې تفسیر بشپړ شو، زه معمولاً د هرې سورې د معرفې په اړه هغه مهال لیکل پیل کړم چې د سورې تفسیر مې بشپړ کړی وي، او په معنی ئې ښه پوه شوی وم، په دې ورځ مې د سورې پېژندنه دغه ځای (*) ته رسولې وه، ډېر خوښ وم چې د الله تعالی په فضل سره د دې سورې تفسیر بشپړ شو، دومره لکه چې الله تعالی د یوه ستر کار تر سره کولو سعادت راپه برخه کړی وي، د دې سورې د تفسیر له پیلولو وړاندې ډېر وارخطا او هیبت وهلی وم، د سورې د ځینو برخو دقیق تفسیر راته ګران برېښېدو، د مفسرینو تر منځ هغو ژورو اختلافاتو هم وېرولی وم چې په تفاسیرو کې مې په دې اړه تر سترګو کېدل، د متعارضو آراءو او روایاتو له منځه د ارجح غوره کول هم راته آسان کار نه برېښېدو، خو کله چې د دې سورې له تفسیر فارغ شوم؛ داسې احساس مې کولو لکه چې د زړه سلول سلول مې د ایمان په رڼا روښانه او ټوله سینه مې له علمه ډکه شوې وي. ماخستن شو، لمونځ مې وکړ او ویده شوم، د شپې مې خوب لیدو چې د مېوو په یوه باغ کې یم، د یوې جګې ونې سر ته په الوتو سره لوړ ولاړ شم، پرته له دې چې پر تنې ئې وخېژم، د ونې په سر کې کله یوې او کله بلې څانګې ته لاس کړم، په یوه لاس څانګه ونیسم او په بل لاس مېوه راشکوم او خورم ئې، خو داسې لکه په هوا کې چې ولاړ وم او لاس مې هسې د ونې په نرۍ څانګې پورې تم کړی وي، د ونې په سر کې یوه داسې وړه څانګه راوشکوم چې له توتانو ډکه وي، خو د انګور د وږي په څېر ډکه وي، خولې ته ئې رانژدې کړم، څو ډکې ډکې خولې ترې وخورم او ډېر خوند ترې واخلم، خو له لاسه مې لاندې پرېوځي او پر زمکه ئې د لګېدو غږ هم واورم، له ځان سره ووایم چې ښه ده بل څوك به ئې وخوري، بیا د ونې د سر څانګې چې له توتانو ډکې وې په زور سره وخوځوم چې توت توی شي او خلك ئې وخوري، له همغه ځایه لاندې وګورم، د پخو خښتو څو لوړ لوړ دېوالونه مې تر سترګو شي خو دا ونه دومره لوړه وي چې دا دېوالونه ډېر واړه واړه په نظر راشي، هیبت راباندې راشي او له ځان سره ووایم: د راختو په څېر د هوا له لارې په الوتو کوز شم که د ونې پر تنې، په همدې حالت کې له خوبه راویښ شوم، همغه وخت مې د خوب د تعبیر په اړه فکر وکړ او دې نتیجې ته ورسیدم: په قرآن کې پاکیزه وینا او کلمه له هغې جګې ونې سره تشبیه شوې چې جرړې ئې

په زمکې کې ژورې تللې وي او ځانګې ئې د آسمان په غېږ کې لوړې شوې وي او په هر موسم کې خپله مېوه ورکوي، د قرآن هر جزء د سورې په نامه ياد شوی او دېوال ته هم سور ويل شوي، د دواړو بنسټ يو دئ، د قرآن د لېږلو لپاره د نزول اصطلاح کارول شوې چې له بره لاندې لېږل افاده کوي، د دغې سورې د تفسير له پيلولو وړاندې زه هيبت وهلی غونډې وم او ګمان مې کولو چې د ځينو آيتونو د تفسير په اړه به له داسې ستونزو سره مخامخ شم چې ترې وتل به راته ګران وي، همغسې لکه په خوب کې چې د راکوزېدو په ارتباط هيبت راباندې راغی، دغو مطالبو ته په پام سره د خوب تعبير دا دئ: د النور د سورې عظمت او لوړ والی د قرآن د ځينو سورتونو په پرتله داسې دئ لکه هغه جګه ونه او هغه جګ جګ دېوالونه چې ما ته د وني له سره ټيټ معلومېدل، د دې مبارکې سورې د جګو جګو ځانګو خوندورې مېوې هم زما په برخه شوې او هم مې نورو ته راوځنډلې. زه چې پرون دغه ځای (*) ته رسېدلی وم نو غوښتل مې د دې مبارکې سورې د عظمت او اهميت په اړه څه وليکم، خو اوس په دغه خوب اکتفاء کوم.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سُورَةٌ أَنزَلۡنَٰهَا وَفَرَضۡنَٰهَا وَأَنزَلۡنَا فِيهَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لَّعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ١

يوه ځانګړې سوره چې موږ نازله کړې او موږ فرض کړې ده او په هغې کې مو څرګندونکې نښې نازلې کړې چې پند واخلئ.

---

(١)- په دې مبارك آيت کې د دې سورې په اړه څو خبرې تر سترګو کېږي چې د سورې ځانګړتيا او اهميت په ګوته کوي:

- الله تعالی فرمايي چې دا يوه ځانګړې سوره ده چې موږ نازله کړې.
- په دې کې يوازې د الله تعالی له لورې نازلې شوې لارښوونې نه دي بلکې فرض شوي احکام هم ځای شوي.
- په دې کې داسې آيتونه راغلي چې حقائق څرګندوي.
- موخه ئې دا ده چې تاسو پند واخلئ.

---

ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢

زناکاره ښځه او زناکار نارینه د دوی هر یو سل درې ووهئ، او د الله په دین کې دې تاسو د دوی په اړه زړه سوی نه نیسي، که پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان لرئ، او د دوی عذاب دې د مؤمنانو یوه ډله وګوري.

(٢)- د دې لپاره چې دا مبارك آیت د زنا او زناکارو د سزا په څېر مهمې او حساسې انساني قضیې په اړه بحث کوي، باید په وړاندې ئې لږ توقف وکړو او ټولو هغو پوښتنو ته دقیق ځواب ولټوو چې په دې اړه وړاندې کېږي، لکه دا پوښتنې: آیا زنا ته د جرم په سترګه کتل صحیح دي؟ په ځانګړې توګه هغه مهال چې د دواړو لوریو په توافق تر سره شي، او هغه هم په داسې حال کې چې دواړه مجرد وي او د کومې نکاح په قید او شرط کې نه وي داخل شوي؟ دا له کومه پلوه جرم دئ؟ له مذهبي پلوه جرم دئ، که له فطري او انساني پلوه، که له اخلاقي او رواني پلوه او که دا د بل په حق تېری دئ نو ځکه جرم ګڼل کېږي، او که دا د ټولني له حاکم او منل شوي قانون تېری دئ نو د جرم اطلاق پرې کېږي؟ که ومنو چې دا جرم دئ آیا دا سزا ورسره مناسبه او عادلانه ده؟ آیا د خلکو په وړاندې یو مجرم په درو وهل مناسب کار دئ؟ دغو او دې ته ورته پوښتنو ته باید معقول او د منلو وړ ځوابونه ولټوو. د آیت په مفهوم د ښه پوهېدو او بیا اړوند پوښتنو ته د صحیح ځواب ویلو لپاره باید تر ټولو وړاندې لاندې خبري په پام کې ولرو:

- قرآن هغه جنسي مباشرت ته د زنا نوم ورکړی چې د سړي او ښځې تر منځ په نامشروع او غیر قانوني توګه تر سره شي، مباشرت ئې مشروع مباشرت ته ورته او له فطري لارو وي خو له نکاح پرته وي، که دا د مجردو تر منځ وي او که د متأهلو تر منځ، د زنا اطلاق پر نورو جنسي کړنو نشي کېدی، که دا د نارینه او نارینه تر منځ وي او که د نارینه او ښځې تر منځ له غیر فطري لاري، او که د انسان او حیوان تر منځ او یا له نورو لارو د جنسي غریزې اشباع، د هر جنسي شذوذ او جرم لپاره بېل بېل نوم ټاکل شوی.
- ټول مفسرین او فقهاء په دې متفق دي چې په دې آیت کې هغه زناکار نارینه او زناکارې ښځې ته اشاره شوې چې واده ئې نه وي شوی. خو په دې اړه د دوی تر منځ اختلاف تر سترګو کېږي چې د اختصاص وجه څه ده، د قرآن کوم آیت د اختصاص منشأ ده که کوم روایت او د رسول الله صلی الله علیه و سلم عمل؟ آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په دې اړه بېله وحي شوې که د قرآن له لارښوونو ئې دا حکم استنباط کړی؟ خو که د همدې آیت ترکیب او د ورپسې آیت الفاظو ته ځېر شو نو راته جوتېږي چې د دې اختصاص منشأ په خپله همدا آیتونه دي، د لومړي آیت له فحوی داسې معلومېږي لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دې آیت تر نزول وړاندې د زنا قضیه وړاندې شوې وي، هغه په دې اړه پرېکړه د الهي لارښوونې راتلو ته ځنډولې وي، ځکه (الزاني) او (الزانية) معرفه صیغې دي او په هغه چا ئې اطلاق کېږي چې له وړاندې پرې خبره شوې وي، که داسې نه وی نو بیا به داسې ویل کېدل: که څوك زنا وکړي نو سزا به ئې دا وي. په ورپسې آیت کې د همدې

(الزاني) په اړه ویل شوي چې دا یوازې زناکاره یا مشرکه ښځه نکاح کوي، او دا (الزانیة) یوازې له زناکار او مشرك سره نکاح کوي. له دې الفاظو په لازیات وضاحت سره معلومېږي چې خبره د هغه چا په اړه ده چې لا ئې نکاح نه ده شوې او متأهل نه دئ، د داسې زناکار سزا سل درې دي. دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې د واده شوي نارینه او ښځې سزا څه ده او د حکم منشأ ئې د قرآن کوم آیت دئ که کوم روایت او که پیغمبر صلی الله علیه و سلم دې ته په پام سره دا حکم کړی چې په مخکیني الهي شریعت کې ئې همدا حکم وو؟ مفسرین او فقهاء په دې اړه هم متفق دي چې سزا ئې رجم (سنگسارول) دي. خو په دې اړه بېل بېل آراء لري چې د حکم منشأ څه ده، دقیقه رأیه دا ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دې ته په پام سره چې د مجرد زناکار سزا سل درې ده نو طبیعي ده چې د متأهل زناکار سزا به تر دې زیاته وي، دا سزا همغه ده چې په مخکیني شریعت کې راغلې او قرآن هغه نه ده منسوخ کړې. همغسې لکه چې د آزادې ښځې او وینځې سزا توپیر لري، وینځې ته د دې لپاره چې محدودیتونه ئې تر آزادې زیات دي، د خپلې خوښې نکاح ئې نه ده په برخه شوې نو سزا ئې تر آزادې نیمه ټاکل شوې.

- د دغو زناکارو سزا داسې ټاکل شوې: (فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ: هر یو ئې سل درې ووهئ)، جلد پوستکي ته وایي، خو دا چې دلته ئې مراد له پوستکي جوړه شوې متروکه ده که مجرم داسې وهل چې یوازې پر خپل پوستکي درد احساس کړي او غوښې او هډوکو ته ئې سرایت ونه کړي او داسې ونه وهل شي چې غوښه ئې زخمي یا هډوکی ئې شین شي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت معلومېږي چې په دې وینا کې دا دواړه خبرې نغښتې دي. متروکه به د څرمنې وي، نه به ډېره کلکه او ځیره وي او نه ډېره نرمه او پسته، وهل به داسې وي چې د وهونکي لاس دومره لوړ نشي چې تخرگ ئې معلوم شي، د متروکې په وهلو کې به نه ډېر زور کاروي او نه به ئې سوکه سوکه وهي، پر سر، مخ او نازکو ځایونو به له وهلو ډډه کوي، هڅه به ئې دا وي چې پر یوه ځای څو وارې گوزار ونه کړي.
- مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې د الله په دین کې دې تاسو ته د دغو مجرمینو د مجازات په اړه زړه سوی لاحق نشي، پر الله او د آخرت پر ورځې د ایمان مقتضی همدا ده، دا ځکه چې دا حکم د الله تعالی له لورې دئ، او الله تعالی د قیامت ورځ د محاسبې او مجازات لپاره ټاکلې، یعني ستاسو رب محاسبه کوي او مجرم ته سزا ورکوي، پر محاسبه کوونکي او مجازات کوونکي رب د ایمان غوښتنه دا ده چې مجرم ته د هغه له حکم سره سم سزا ورکړی شي، نه زیاته نه کمه، د مجرم په مجازات کې به د خپلو شخصي احساساتو او عواطفو تر اغېز لاندې نه راځئ، نه به ستاسو زړه سوی په حد کې تخفیف او کمی راولي او نه به مو قهر او غصه په هغه کې د زیاتوالي او شدت باعث کېږي.
- دا لارښوونه هم ورته شوې چې د دوی عذاب دې د مؤمنانو یوه ډله وگوري. یعني دا مجازات باید علني وي نه په پټه او د تړلو دروازو تر شا، یوه ډله مؤمنان باید د مجازات صحنه په خپلو سترگو وگوري. دلته څو خبرې باید په پام کې ولرو: د صحنې لیدونکي باید د

مؤمنانو یوه ډله وي، او د دې معنی دا ده چې دا مجازات به دومره هم علني نه وي چې حتی کافران ئې هم ولیدی شي، داسې چې په آزاد میدان کې او په بشپړه توګه علني مجازات شي، یا د مجازات صحنه په ټلویزیون کې وښودل شي، بلکه یوازې د مؤمنانو یوه ډله به دا صحنه ګوري. په دې څرګند مجازات کې ځینې مصلحتونه مضمر دي، د نورو لپاره د عبرت باعث کېږي، د اصلي مجرم او د نورو جسارت له منځه وړي، د قاضیانو د غلطو تصرفاتو مخنیوی کوي، پټ مجازات هم مجرم ته دا مجال ورکوي چې ځان پاك ثابت کړي او هم واکمنانو ته دا امکان په لاس ورکوي چې د رشوت په بدل کې مجرم له مجازات وژغوري. دا د ټولني حق دئ چې هغه مجرم وپېژني چې د نورو پر حقوقو تېری کوي، د دې لپاره چې له هغه سره په خپلو معاملاتو کې محتاط وي، او له خطره ئې ځان وساتي. دا قطعاً د منلو وړ خبره نه ده چې د یوه مجرم د پت او عزت لپاره ټولنه له ګواښ سره مخامخ شي. داسې جرم چې په بشپړه توګه شخصي بڼه لري، بل ته ئې ضرر نه وي متوجه، په پټه تر سره شوی وي، او مخصوصاً چې هغه محکمې ته هم نه وي راجع شوی، په داسې جرم پرده اچول او په هغه کې د مجرم د پت او عزت خیال ساتل نه یوازې مانع نه لري بلکې غوره کار دئ او اسلام پرې تأکید کوي، خو دا او هغه بل جرم په خپلو کې ژور توپیرونه لري او یو پر بل نه شو قیاسولی.

• د دې لپاره چې دا موضوع او اړوند احکام ئې لازیات راته واضح شوي وي باید هغه روایات هم له نظره تېر کړو چې په دې اړه راغلي، خو تر دې وړاندې باید دا وضاحت وکړو چې آیا د دغو زناکارو سزا یوازې همدا پورتنۍ سزا ده که اسلامي حکومت کولی شي څه پرې زیات کړي؟ ځیني په دې باور دي چې له دې سزا سره یو کلن تبعید هم مل دئ، قاضي به د پورتنۍ سزا تر څنګ دا پرېکړه هم کوي چې زناکار تر یوه کال پورې له خپل مېشت ځای بلې سیمې ته په تلو مکلف کړي، دوی ځینو روایاتو ته په پام سره دا سزا واجب او د پورتنۍ ضمیمه ګڼي، خو ځیني نور بیا دا د حد د سزا ضمیمه نه بلکې تعزیري سزا ئې بولي او د حاکم رأیې ته ئې محول کوي، چې که دا تبعید د مجرم او ټولنې لپاره غوره ورته معلوم شي نو داسې کار کولی شي. احنافو دغې رأیې ته ترجیح ورکړې او یقیناً چې صحیح رأیه همدا ده، په څو دلائلو: ۱- په آیت کې سزا ټاکل شوې، په دې آیت او د قرآن په نورو آیتونو کې د مزید سزا لپاره شاهد نه مومو. ۲- هر تبعید ته د سزا په سترګه نه شو کتلی، د هغه زناکار لپاره چې په څرګنده مجازات شوی او له خلکو سره په جګو سترګو مخامخېدا ورته ګرانه شوې، دا غوره ده چې څه موده له خپلې سیمې بل ځای ته ولېږل شي، په بل ځای کې به دی هم له روحي فشار خوندي وي او د ده مخکینۍ ټولنه به هم له هغه ضرره خوندي وي چې د مجرم آزاد ګرځېدا ئې ورسره مخامخ کوي، دا ځکه چې د مجرم آزاد ګرځېدا د جرم په اړه حساسیت ورو ورو له منځه وړي او هغو کسانو ته جسارت بخښي چې د همداسې جرم شوق لري. لاندې روایت دا مطلب ډېر ښه توضیح کوي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: بَيْنَمَا أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه فِي الْمَسْجِدِ جَاءَهُ رَجُلٌ فَلاَثَ عَلَيْهِ بِلَوْثٍ مِنْ كَلاَمٍ وَهُوَ دَهِشٌ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: قُمْ إِلَيْهِ فَانْظُرْ فِي شَأْنِهِ فَإِنَّ لَهُ شَأْنًا. فَقَامَ إِلَيْهِ عُمَرُ رضى الله عنه قَالَ: إِنَّهُ ضَافَهُ ضَيْفٌ فَوَقَعَ بِابْنَتِهِ فَصَكَّ عُمَرُ رضى الله عنه فِي صَدْرِهِ وَقَالَ: قَبَّحَكَ اللَّهُ أَلاَ سَتَرْتَ عَلَى ابْنَتِكَ. قَالَ: فَأَمَرَ بِهِمَا أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه فَضُرِبَا الْحَدَّ ثُمَّ تَزَوَّجَ أَحَدُهُمَا مِنَ الآخَرِ وَأَمَرَ بِهِمَا فَغُرِّبَا عَامًا أَوْ حَوْلاً. رواه البيهقى

له ابن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چي يوه ورځ په داسي حال کي چي ابوبکر رضی الله عنه په جومات کي وو يو سړی ورته راغی چي لالهانده او پرېشانه وو، خبري ئې هم څرګندي او واضح نه وې، ژبه ئې بنده بنده کېده، نو ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه ته وويل: ورشه او حال ئې معلوم کړه، حتماً څه خبره ورسره ده، عمر رضی الله عنه ورغی او هغه ورته وويل: يو مېلمه ئې خپل کور ته راوست او هغه ئې له لور سره زنا وکړه، عمر رضی الله عنه هغه په سينه وواهو او ورته وئې ويل: خدای دي سپك کړه، ولي دي پر خپلي لور پرده وانه چوله!! ابوبکر رضی الله عنه دواړه راوغوښتل، دواړو پر خپلي ګناه اعتراف وکړ، پر دواړو حد جاري شو، خو د حد تر ځنګ ئې هم دوی دواړه سره نکاح کړل او هم ئې تر يوه کال پوري تبعيد کړل.

که غور وکړو نو د دې بدوي لپاره تر ټولو غوره کار دا وو چي لور او دغه مېلمه ئې سره کښېنولي وی، دواړو ته ئې ويلي وی چي تاسو دا غلطي وکړه، اوس نو په کار دا ده چي تاسو دواړه په خپلو کي نکاح وکړئ، ځکه له قانوني او شرعي پلوه نه ده په خپله سزا ورکولی شوی، نه ئې په محکمې کي دوی ته سزا ورکولی شوی، ځکه محکمې به يا څلور شاهدان ترې غوښتل يا به دوی دواړو اعتراف کولو، محکمې ته د دواړو بېول له دې پرته چي هغوی تنبيه شي؛ ده ته کومه ګټه ونه رسوله. د عمر رضی الله عنه په اړه دا روايت هم راغلی چي ويلي ئې دي: له دې وروسته به څوك تبعيد نه کړم، دا خبره ئې هغه مهال وکړه چي يو مجرم ئې تبعيد کړ او هغه روميانو ته پناه يووړه. د علي رضی الله عنه په اړه هم راغلي چي له تبعيد سره ئې مخالفت کړی. له دې رواياتو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي هغه رأيه کمزورې ده چي تبعيد د حد ضميمه او واجب ګڼي.

خو دا چي آيا له عقلي، علمي، اخلاقي او فطري پلوه زنا ته د جرم په سترګه کتلی شو که نه او داسي سزا ورسره ښايي که نه؟ دې پوښتني ته له ځواب ورانديي څو خبري ستاسو مخي ته ږدم: آيا وړو مرغيو ته مو پام کړی چي کله د الوتو شي نو دوه دوه سره جوړه شي، په يوې خوندي ګوښې کي ځان ته په ګډه ځاله جوړه کړي، د ژوند تر پايه سره ملګري وي، تر منځ ئې وفا او مينه وي، ټول هم و غم ئې دا وي چي بچيان وزېږوي، ستر ئې کړي او الوتو

ته ئې چمتو کړي، نه ئې نارينه بلې ښځې ته او نه ئې ښځه پردي نارينه ته تمايل ښيي. آيا د مرغانو دا صفا او له ميني او وفا ډك ژوند کافي نه دئ چې ووايو: د فطرت مقتضی همدا ده، جنسي تمايل د ګډ ژوند او ګډې کورنۍ جوړولو محرك او موخه ئې د اولاد زېږول او روزل.

آيا هغه چرګ ته ځير شوي يئ چې ګڼ شمېر چرګي ساتي، بل چرګ ئې خوا ته نه پرېږدي، که بل د ده پر مېرمنو جنسي تېری وکړي تر هغه ورسره جنګېږي چې زخمي زخمي شي، د چرګانو تر منځ د جګړو لويه وجه همدا وي!! دا صحنه د کومې خبرې غمازي کوي او موږ ته څه پيغام لري؟!! آيا زموږ په وړاندې دا څرګند پيغام نه ږدي چې پر خپلو مېرمنو غيرت کول د ژوو د فطرت غوښتنه او په همدې کې د دوی د بقاء رمز پروت دئ؟!! آيا دا چې الله تعالی د ژوو په فطرت کې دا احساس ايښی چې د ښځې په رحم کې د دوو نارينه وو د مني د توئېدو په وړاندې حساسيت وښيي او مخنيوی ئې وکړي او د دې په وړاندې جدي غبرګون وښيي چې د ده مېرمنې ته بل څوك ورنژدې شي، داسې حساسيت او غبرګون چې جګړې ته چمتو شي او د دې پروا هم ونه کړي چې ښايي په دې جګړې کې به دی په خپله زخمي شي!! آيا دا فطري عکس العمل د دې خبرې شهادت نه ورکوي چې په همدې کې د ژوو د بقاء رمز مضمر دئ او دا فطري اصل تر پښو لاندې کول بدې پايلې لري؟!!

کبان به ګورې چې دوه سره جوړه شي، يوه خوندې ځای ته ولاړ شي، نارينه ئې ځای برابر کړي، په خپلې لکۍ د زمکې د سر تيرې يوې خوا بلې خوا ته کړي، ښځه ئې راشي او هملته په هګۍ اچولو لګيا شي، دی ئې په شاوخوا کې ګرځي او په حرکاتو کې ئې د شوق او ميني اغېز دومره ځلاند وي چې سړی ګمان کوي هغه مستي کوي، بل کب د هغې خوا ته نه پرېږدي او که کوم يو دا جسارت وکړي نو پرې حمله کوي، کله چې ښځه د هګيو له اچولو فارغه شي، هغه ورشي او پر همدغو هګيو خپله مني وشيندي، او بيا هڅه وکړي چې دا هګۍ پټې کړي ښايي د دې لپاره چې مارغان ئې ونه خوري او ښايي د دې لپاره چې بل کب همدا د ده کار ورسره ونه کړي!!

ما په يوه فيلم کې د مارغانو يوه جوړه ليده چې ګډه ځاله ئې وه، ښځې ئې په داسې حال کې خپل مېړه له لاسه ورکړ چې هګۍ ئې اچولې وې، دې ته اړه شوه چې د ژوند بل ملګری ځان ته پيدا کړي، بختوره وه، داسې ملګری ډېر ژر په لاس ورغی، په مخکينۍ ځالې کې ئې د نوي ګډ ژوند د دوام پرېکړه وکړه، خو کله چې نارينه دې ځالې ته راغی او په هغې کې ئې داسې هګۍ تر سترګو شوې چې مېرمنې ئې له مخکيني مېړه تر لاسه کړې وې، نو ټولې ئې يوه په بلې پسې له ځالې لاندې وغورځولې، او ځای ئې هغو هګيو ته تش کړ چې مېرمن به ئې له دې وروسته اچوې!! دا ځکه چې ده د نوي ګډ ژوند پرېکړه په دې موخه کړې وه چې په خپله د بچيانو خاوند شي، وئې پالي او په دې توګه ئې نسل دوام وکړي او د فطرت غوښتنه ئې تر سره شي!! ما ته ووايئ: دا صحنې موږ ته څه درس راکوي؟! آيا د يوه سالم الفطرت انسان لپاره دا کافي نه ده چې ووايي: الله تعالی د ژوو په فطرت کې جنسي

غريزه او له هغه لذت اخيستل د دوی د نسل د بقاء لپاره اېښې نه يوازې د تلذذ او خوند اخيستو لپاره، هغه چې دا غريزه په غير فطري طريقې او فقط د خوند اخيستو لپاره اشباع کوي، يقيناً چې دومره جاهل او کودن دئ چې دغه مارغان تر هغه ډېر شرف لري!! که تاسو د ژوو ژوند ته ځير شئ نو دا به درته جوته شي چې د ټولو جنسي اړيکې د فطري قانون مطابق او د اولاد درلودو په موخه تر سره کېږي، قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چې دا ټول ژوي ئې پيدا کړي او د دوی په فطرت کې ئې دا ځانګړتياوي اېښې دي، نو ځکه د انسان د جنسي غريزې او د هغې د اشباع په اړه د قرآن لارښووني همغسې دي چې د ژوو فطرت ئې غوښتنه کوي. قرآن جنسي بې لاريتوب او شذوذ د جاهليت له مظاهرو ګڼي، د قرآن له نظره په هرې ټولنې کې چې د دې ګنده او ناوړې عمل مظاهر راځرګند شي نو هغه له تمدن وروسته پاته او جهل وهلې ټولنه ده. علم او تمدن انسان د قانونيت خوا ته کاږي او ټولې اړيکې د همدغې قانونمنۍ په سيوري کې تنظيموي او ټولنه له دې ژغوري چې قانون تر پښو لاندې شي، له حدودو تېرى وشي، نظم له منځه ولاړ شي، يو د بل پر حق او حد تېرى وکړي، د انسان په ژوند کې تر ټولو مهمه او اساسي قضيه د ده جنسي اړيکې دي چې د ده او د ده د نسل ژوند او دوام ورپورې تړلی دئ. د انسان د ژوند د دغه اساسي اړخ روغوالی، د قانون په چوکاټ کې د هغه تنظيمول او په دې برخه کې د پولو او حدودو د تر پښو لاندې کېدو مخنيوی د علم او تمدن له لومړنيو غوښتنو دي. جهل او د انسان له فطرت او د هغه د جسم د سلامتيا او روغتيا له غوښتنو او د هغه د روح او بدن له صحي اړتياوو بې خبري د دې سبب کېږي چې د انسان د ژوند دغه اړخ ته لازمه اعتنا ونه شي، ضوابط ئې تر پښو لاندې شي او له حدودو ئې تېرى وشي، مګر نه ګورئ چې د لوېديزې نړۍ بې مهاره ټولنه له دې جهته څومره رنځ وړي او له څومره خطرناکو ناروغيو سره مخامخ ده؟ سيفليس او د ايډز وژونکې ناروغي د دې ټولنې له مظاهرو يوه ده، د لوېديزې نړۍ زره سواند پوهان په چيغو چيغو د خطر اعلان کوي چې يا آزادې جنسي اړيکې مهار کړئ او يا د هغه د بدو او تباه کوونکو عواقبو انتظار وکړئ، دا حالت به موږ له هغو بدو پايلو سره مخامخ کوي چې د کورنيو د جوړېدا لړۍ پای ته ورسي او خلك د اولاد له درلودو او د هغوی د روزنې د تکليفونو له ګاللو ډډه وکړي!!

هغو خلکو ته حيران يو چې د زنا او د هغې د سزا په اړه د قرآن لارښوونې د اعتراض وړ ګڼي!! دوی ته وايو: که تاسو د مذهبي انګېزنو له مخې اعتراض کوئ نو موږ ته په ټولې نړۍ او په ټول انساني تاريخ کې داسې د پام وړ مذهب راوښيئ چې زنا ته ئې د جرم او ګناه په سترګه نه وي کتلي او سزا ئې همدومره او تر دې هم سخته نه وي ټاکلې!! که تاسو مسيحي او يهودي يئ نو د دواړو په مذهب کې زنا ته د لوی جرم په سترګه کتل شوي او سزا ئې رجم ګڼل شوې!! هندوان ئې ګناه ګڼي او سزا ئې سوزول!! که تاسو بې مذهبه غربپال او کمونيستان يئ او داسې سزا د ترحم او عاطفې خلاف ګڼئ نو زموږ ساده ځواب دا دئ: ستاسو د ترحم عملي بېلګې مو د بګرام، کندهار، ابوغريب او ګوانتانامو په زندانونو کې

وليدې، آيا له داسې خلکو سره د ترحم خبره په خوله راوړل ښايي او دا حق لري چې د بل داسې سزا بې رحمې وګڼي چې د دوی تر وحشيانه سزاګانو ډېره نرمه وي؟!! تاسو چې په افغانستان او عراق کې څه وکړل، پر کورونو، کليو، ښارونو، جوماتونو، مدرسو، د ښونو او راکټو ورول، په خوب ويده ښځې، ماشومان او بوډاګان وژل، په ځانځه ولاړو خلکو باندې راکټې ورول او د ځانځه په وخت کې چاودني کول او بې ګناه خلك په وينو کې رغړول، په زور د اعتراف اخيستو لپاره د بنديانو نوکان ايستل، په بل سګريټ د بدن نرم ځايونه داغل، جوش اوبه او سره کړې تېل پرې پاشل، برقي شارټونه ورکول، د داړلو لپاره سپيان ورتوشل، په اوبو کې ئې تر هغه سر ننايستل چې د مرګ پړاو ته نژدې شي!! دا سزاګانې هغه چا ته ورکوې چې يا ئې په خپلو کړنو اعتراف ته اړ کړي او يا د دوی د خوښې ګټور معلومات ترې تر لاسه کړي!! چا چې دا عذابونه تجربه کړي دي ته ترجيح ورکوي چې زر متروکې پر خپل نازك بدن قبولې کړي تر دې چې سر ئې په اوبو کې تر هغه وخته غوټه شي چې مرګ ته نژدې شي، يا ئې نوکان وايستل شي، يا برقي شارټونه ورکړی شي!! جورج بوش د امريکا مخکيني جمهور رئيس اعتراف وکړ چې ما د همدغې سزا ورکولو اجازه ورکړې وه!! په هغو ورځو کې چې ما د دغې مبارکې سورې تفسير ليکلو د ناټو ځواکونو د کنړ د غازي آباد ولسوالۍ پر کلي ښونه او راکټونه وورول، پنځه شپېته مظلوم او بې ګناه کليوال ئې د ښځو، ماشومانو او بوډاګانو په شمول ووژل او ګڼ شمېر نور ئې ټپيان کړل، امريکايانو حتی خپله دروغجنه خواشيني هم ونه ښوده!! ورپسې ئې د ماښوګې په ولسوالۍ کې همداسې ښونه وورول او نه ماشومان ئې ووژل، دوی د لرګيو په راټولولو لګيا ول چې جهازونه راغلل او پر دوی ئې ښونه وورول، کله چې د کابل ذليل حکومت د خلکو د غولولو لپاره خپل خفګان څرګند کړ او پر دې ظالمانه وژنې ئې اعتراض وکړ د امريکا د جنګ وزير کابل ته راغی، له جمهور رئيس سره ئې وکتل او خبرې رسنيو ته ئې وويل: ما د دې پېښې په اړه خپل خفګان او معذرت کرزي ته وړاندې کړ او هغه قبول کړ!! همدا او نور هيڅ!!! لا يوه اونۍ نه وه تېره شوې چې د خپلو بې پيلوټه طيارو له لارې ئې د شمالي وزيرستان په دته خيلو کې پر يوې قومي جرګې راکټې وورولې چې په ترڅ کې ئې د لسګونو ټپيانو په څنګ کې اته څلوېښت بې ګناه قبائلي مشران ووژل شول. په همدغو ورځو کې د ډايوس په نامه د سي آی اې يوه جاسوس په پاکستان کې په رڼا ورځ او د ښار په منځ کې دوه پاکستانيان په ډزو ووژل، ده د هغې ډلې مشري په غاړه درلوده چې مأموريت ئې په پاکستان کې د امريکا مخالفين وژل، په جوماتونو، مدرسو او ښارونو کې چاودنې کول، د مذهبي فرقو مشران وژل او له دې لارې د دوی تر منځ د مسلحانه نښتو اور ته لمن وهل وو، د پوليسو له لورې ونيول شو، قضيه محکمې ته وړاندې شوه، د امريکا لوړ پوړي چارواکې پاکستان ته ولاړل، او له جمهور رئيس او صدراعظم ئې وغوښتل چې دا قاتل خوشې کړي، اسلام آباد په دې وګواښل شو چې که ډايوس خوشې نشي نو کانګريس به له پاکستان سره د امريکا مرستې وځنډوي!! دا د تمدن او ترحم دروغجن او مکار مدعيان څنګه پر اسلام د اعتراض جسارت کوي؟ آيا داسې څوك د

دې حق لري چې زناکار ته د اسلام قانوني سزا د ترحم خلاف وګڼي؟ هغه هم داسې زناکار ته چې له هرراز فشار، تهديد، وهلو او ځورولو پرته ئې په خپله اعتراف کړی؟!! اسلام نه يوازې د زور او جبر اعتراف د اعتبار وړ نه ګڼي بلکې شکمن اعتراف هم بې اعتباره ګڼي، د زنا د اثبات لپاره د تورن اعتراف يا د څلورو داسې شاهدانو شهادت ضروري بولي چې د زنا عمل به ئې په خپلو سترګو ليدلی وي، حتی د همدې څلورو شاهدانو هغه شهادت هم د اعتبار وړ نه ګڼي چې يوازې ئې د تورنو بربنډه پرېوتا او ملاسته په خپلو سترګو ليدلې!! د مېرمنې په ضد د مېړه شهادت سره له دې نه منې چې څلور ځلې د الله تعالی په نامه لوړه وکړي او پنځم ځل ووايي: که ما دروغ ويلي وي نو پر ما دې د الله لعنت وي!! هغه مهال مېرمن د سزا وړ ګڼي چې په خپله اعتراف وکړي!! او دا ټول يوازې د دې لپاره چې قرآن انسان ته په درنه سترګه ګوري، د هغه سپکاوی، توهين، تعذيب او وژل نه خوښوي، د زناکار په څېر د ستر مجرم مجازات ئې هم په داسې ګرانو او پېچلو شرائطو او شواهدو پورې تړلی!!

بايد دې پوښتنې ته هم ځواب وويل شي چې د حدودو نافذول د چا دنده او صلاحيت دئ؟ آيا له اسلامي حکومت او امام پرته بل څوك حدود جاري کولی شي؟ د دې پوښتنې مختصر او لنډ ځواب دا دئ چې له اسلامي حکومت او د مسلمانانو له امام او امير پرته هيڅوك د حدودو نافذولو دنده او صلاحيت نه لري، نه پلار د زوی په اړه، نه مېړه د خپلې مېرمنې په اړه، نه بادار د خپل مريي په اړه، نه د کلي ملا او ملك د کليوالو په اړه حدود نافذولی شي. که ستا حالت داسې وي لکه د رسول الله صلی الله عليه و سلم حالت په مکه کې يا د مدينې په لومړيو کلونو کې؛ نو د حدودو نافذول تر هغه وځنډوه چې ستا حالت له هغه حالت سره ورته شي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د مدينې په وروستيو کلونو کې او هغه مهال درلود چې د حدود اړوند آيتونه نازل شول. هغه څوك ډېر ناپوه او د اسلام له حقيقت ډېر بې خبره دئ چې د افغانستان په اوسني حالت کې چې د صليبي ځواکونو په اشغال کې دئ او د دارالحرب حيثيت لري حدود نافذوي او په دې سره غواړي ځان اسلام ته ډېر متعهد او ملتزم ثابت کړي او ګمان کوي چې ښايي له دې لارې به اسلام ته کوم خدمت وکولی شي!! الله تعالی خپل رسول نه په مکه کې د حدودو په نافذولو مکلف کړ او نه د مدينې په لومړيو کلونو کې، هغه مهال ئې د حدودو اړوند لارښوونې او احکام راولېږل چې مدينه د يوه مستقل ملك په توګه راڅرګنده شوه، د سيمې اکثريت خلکو ايمان راوړ، د مدينې ټولې چارې د مسلمانانو په واك کې وې، دوی نه يوازې د مدينې داخلي امنيت تأمين کړی وو بلکې د بهرنيو يرغلونو په وړاندې ئې له دې مستقل هېواد او نوي نظام په وار وار دفاع کړې وه، له داسې حالت وړاندې د حدودو نافذول او هغه هم په دارالحرب کې؛ هم د قرآني لارښوونو خلاف عمل دئ او هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم د سنت خلاف. بې علمه خلك د الفاظو په چکر کې پرېوځي او د واقعيتونو پر ځای تش نومَوَني معتبر ګڼي، ګمان کوي چې که څو کسانو پر چا د امير المؤمنين نوم کښېښود نو هغه حقيقتاً امير المؤمنين شو او له دې وروسته ئې ټولې هغه دندې او مسئوليتونه په غاړه دي او ټول هغه صلاحيتونه لري چې

د اسلامي حکومت خليفه او امير ئې لري!! که څه هم هغه نه فوځ ولري او نه تر تسلط لاندي مصئونه او خوندي سيمه!!

اسلامي شريعت د حدودو نافذولو ته په داسي سترگه گوري لکه چي د روغتون ډاکټر د جراحي عملياتو ته گوري او يوازي هغه مهال د خپل مريض په عملياتو لاس پوري کوي چي مريض ئې په پرهيز گمارلی، لازمي لارښووني او سپارښتني ئې ورته کړې، ضروري دوا ئې ورکړې، خو له دې ټولو سره سره نه دئ روغ شوی او په پای کې له دې پرته بله چاره نه وي پاته چي عمليات ئې کړي.

د دې لپاره چي دا مبحث موږ ته مزيد واضح شي او اړوند احکام ئې لازيات راته جوت شي راشئ هغه روايات هم له نظره تېر کړو چي په دې اړه راغلي:

عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ فَقَدْ ضَادَّ اللَّهَ فِي ملكه. السنن الكبرى للبيهقى، المعجم الكبير للطبرانى

د چا په اړه چي د حد جاري کېدا پرېکړه وشي هيڅوك ئې بايد شفاعت ونه کړي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ: "مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنَ حُدُودِ اللَّهِ فَقَدْ ضَادَّ اللَّهَ فِي مُلْكِهِ،

له ابن عمر رضى الله عنهما او ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د چا شفاعت چي له الهي حدودو د کوم حد د پلي کېدو مانع شي نو يقيناً چي له الله تعالى سره ئې د ده په ملك کې دښمني او ضديت کړی.

د مسلمانانو امام دا حق لري چي د حد نافذولو تر څنگ زناکار د مصلحت له مخي څه موده تبعيد کړي:

عن ابن عمر رضى الله عنهما: أن النبى صلى الله عليه و سلم ضرب و غرب و أن أبا بكر ضرب و غرب و أن عمر ضرب و غرب. المستدرك

له ابن عمر رضى الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په درو وهل کړي او تبعيدول ئې کړي، ابوبکر رضى الله عنه په درو وهل کړي او تبعيدول ئې کړي او عمر رضى الله عنه په درو وهل کړي او تبعيدول ئې کړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَضَى فِيمَنْ زَنَى وَلَمْ يُحْصَنْ بِنَفْيِ عَامٍ بِإِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَيْهِ. البخارى

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغه چا په اړه چي زنا ئې کړې خو واده ئې نه وو شوی؛ تر يوه کال پوري د تبعيد او د حد د اجراء پرېکړه کړې وه.

له دې او دې ته ورته رواياتو په ډېر صراحت سره معلومېږي چي تبعيد د حد جزء نه

دئ بلکي تعزيري سزا ده چي د قاضي رأيي ته پرېښودل شوې.

له هغو گناهونو پرته چي د سزا حد ئې ټاکل شوی؛ لکه زنا، غلا، شراب څښل او قذف يعني بې گناه کسان تورنول، د نورو گناهونو سزا تر لس درو نشي زياتېدی:

عَنْ أَبِى بُرْدَةَ بن نِيَارٍ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَقُولُ: لا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلا فِى حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ. رواه البخارى

له ابو برده بن نيار رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: تر لسو درو زيات وهل نشته مگر له الهي حدودو په کوم حد کې. يعني په بل هيڅ مورد کې تر لسو درو زيات وهل نشته.

پر مخ او د بدن پر نازکو ځايو وهل او د وهلو لپاره څوك بربنډول منع دي:

عن أبى هريرة رضى الله عنه: أَنَّ رسولَ اللَّه صلى الله عليه و سلم قال: « إذا ضَرَبَ أحَدُكم فَلْيتَّقِ الوَجْهَ». أخرجه أبو داود.

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: که ستاسو کوم يو وهل کوي نو پر مخ له وهلو دي ډډه وکړي.

په اسلام کې لوڅول، تړل، زولانه کول، ولچك کول نشته:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: لاَ يَحِلُّ فِى هَذِهِ الأُمَّةِ تَجْرِيدٌ وَلاَ مَدٌّ وَلاَ غُلٌّ وَلاَ صَفَدٌ. سنن بيهقى

له عبد اله بن مسعود رضی الله عنه روايت دئ چي وايي: په دې (اسلامي) امت کې نه (د چا د تعذيب لپاره) بربنډول شته، نه تړل، نه زولنه کول او نه ولچك اچول. يعني په اسلام کې دا جائز نه دي چي څوك د وهلو په موخه بربنډ کړی شي، په ونې او لرگي پوري وتړل شي، په لاس او پښو کې ئې زولنې او ولچك واچول شي.

هغه اعتراف هيڅ ارزښت نه لري چي له وهلو وروسته وي:

عن أبى عيينة بن المهلب قال: سمعت عمر بن عبد العزيز يقول: من أقر بعد ما ضرب سوطا واحدا فهو كذاب.مصنف ابن ابى شيبه

له أبي عيينة بن المهلب روايت دئ چي له عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه مي واورېدل چي ويل ئې: څوك چي له يوې درې وهل کېدو وروسته اقرار وکړي نو هغه دروغجن دئ.

هغه واکمن د الهي عذاب مستحق دئ چي په حد کې کموالی او زياتوالی کوي:

« يؤتى بوال نقص من الحد سوطاً، فيقال له لم فعلت ذاك؟ فيقول رحمة لعبادك، فيقال له أنت أرحم بهم منى! فيؤمر به إلى النار، ويؤتى بمن زاد سوطاً فيقال له لم فعلت ذلك؟

فيقول لينتهوا عن معاصيك، فيقول أنت أحكم به مني! فيؤمر به إلى النار » تفسير كبير
د الله تعالی په وړاندې به داسې چارواکی راوستل شي چې په حد کې ئې يوه دره کموالی کړی، ورته وبه ويل شي: ولې دې دا کار وکړ؟ وبه وايي: ستا پر بندګانو د رحم له کبله، نو ورته وبه ويل شي: آيا ته تر ما زيات پرې مهربان وې؟ نو د اور په لوري د بېولو امر به ئې وشي، او داسې څوک به راوستی شي چې يوه دره ئې زياته کړې، ورته وبه ويل شي: ولې دې دا کار وکړ؟ وبه وايي: د دې لپاره چې ستا له عصيان او سرغړاوي ډډه وکړي، نو ورته وبه ويل شي: آيا ته د دوی په اړه تر ما زيات ښه حکم کوونکی وې؟ نو د اور په لوري د بېولو امر به ئې وشي.

پر خپلې ګناه پرده اچول غوره دي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: جَاءُ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ: إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ فَأَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا، فَأَنَا هَذَا، فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: لَقَدْ سَتَرَكَ اللَّهُ، لَوْ سَتَرْتَ عَلَى نَفْسِكَ، قَالَ: وَلَمْ يُجِبِ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلامُ شَيْئًا، فَقَامَ الرَّجُلُ فَانْطَلَقَ، فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ رَجُلا فَتَلا عَلَيْهِ هَذِهِ الآيَةَ: أَقِمِ الصَّلاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: وَهَذِهِ لَهُ خَاصَّةً يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ: بَلْ لِلنَّاسِ عَامَّةً مسند ابن ابی شيبه و مسلم

له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چې وايي: يو سړی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: د ښار د لرې برخې له يوې ښځې سره مې له مجامعت (جنسي نژدېکت) پرته نور هر څه وکړل، زه دا دئ دلته ولاړ يم چې څنګه دې خوښه وي زما په اړه پرېکړه وکړه، عمر رضی الله عنه ورته وويل: الله پر تا پرده اچولې وه کاش تا هم پر خپل ځان پرده اچولې وی، راوي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم هيڅ ونه ويل، نو دا سړی پورته شو او ولاړ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم يو سړی ورپسې ولېږو (راوئې غوښت) او دا آيت ئې ورته ولوست: أَقِمِ الصَّلاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ: د ورځې دواړو خواوو او د شپې په يوې نژدې برخې کې لمونځ کوه، يقيناً چې ښېګنې بدي له منځه وړي. د هغه قوم يوه سړي وويل: يا رسول الله! آيا دا يوازې د ده لپاره مختص ده؟ وئې فرمايل: نه بلکې د ټولو خلکو لپاره ده.

که د مسلمانانو امير ته کومه قضيه وړاندې شي هغه مکلف دئ چې د الله تعالی قانون به نافذوي، خو داسې تفحص او تجسس به نه کوي چې د مجرم له اعتراف او شاهدانو له ګواهۍ پرته له نورو لارو د متهم جرم ثابت کړي او سزا ورکړي، د جرم ثابتولو او د حد جاري کولو ته بايد لېوالتيا ونه لري.

قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ... وَمَنْ جَاءَ مِنْكُمْ مُطْلِعُنَا عَلَى عَوْرَةٍ سَتَرَهَا اللَّهُ

فَلْيَسْتَتِرْ بِسَتْرِ اللَّهِ، وَيُسِرَّهَا إِلَى مَنْ يَمْلِكُ مَغْفِرَتَهَا، فَإِنَّا لا نَمْلِكُ مَغْفِرَتَهَا، وَنُقِيمُ عَلَيْهِ حَدًّا ... ". المعجم الكبير للطبراني

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ... او ستاسو کوم یو چې راشي او غواړي موږ پر داسي پټ کار خبر کړي چې الله پرې پرده اچولې نو هغه دې د الله په ستر کې ځان مستور وساتي او هغه چا ته دې وړاندي کړي چې د هغې (گناه) د بخښلو خاوند دئ، او موږ د بخښلو خاوند نه یو، او حد به پرې پلی کوو...

أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ آنَ لَكُمْ أَنْ تَنْتَهُوا عَنْ حُدُودِ اللَّهِ مَنْ أَصَابَ مِنْ هَذِهِ الْقَاذُورَاتِ شَيْئًا فَلْيَسْتَتِرْ بِسِتْرِ اللَّهِ فَإِنَّهُ مَنْ يُبْدِى لَنَا صَفْحَتَهُ نُقِمْ عَلَيْهِ كِتَابَ اللَّهِ. موطأ مالك

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: اې خلکو! تاسو ته هغه وخت رارسېدلی چې د الهي حدودو له تجاوز ډډه وکړئ، او څوك چې له دغو ناولو کارونو کوم څه وکړي نو د الله په پرده کې دي ځان پټ وساتي، دا ځکه چې که څوك خپله عمل پاڼه څرگنده کړي موږ به د الله کتاب پرې قائموو (د کتاب الله مطابق به سزا ورکوو).

د حدود د پلي کولو تلوسه مه کوئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « ادْفَعُوا الْحُدُودَ مَا وَجَدْتُمْ لَهُ مَدْفَعًا ». سنن ابن ماجه

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: حدود دفع کړئ (له پلي کېدو ) تر کومه چې د دفع کولو وجه او مدرك ورته موندلی شئ.

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم "ادْرَءُوا الْحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ؛ فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ، فَخَلُّوا سَبِيلَهُ؛ فَإِنَّ الإِمَامَ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعَفْوِ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعُقُوبَةِ" سنن البيهقى و رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ مَرْفُوعًا وَمَوْقُوفًا. المستدرك على الصحيحين للحاكم

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: تر هغه چې توانېدی شئ له مسلمانانو د حدودو پلي کېدا دفع کړئ، که کوم مخرج (د وتلو لار) ورته وي نو لار ئې ورته پرانیزئ، یقیني خبره دا ده چې که امام په عفو کې خطا شي دا تر دې غوره ده چې په سزا ورکولو کې خطا شي.

عن ابى هُرَيْرَةَ: يَقُولُ جَاءَ الأَسْلَمِيُّ إِلَى نَبِيِّ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَنَّهُ أَصَابَ امْرَأَةً حَرَامًا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَأَقْبَلَ فِى

الْخَامِسَةِ فَقَالَ« أَنِكْتَهَا ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « حَتَّى غَابَ ذَلِكَ مِنْكَ فِى ذَلِكَ مِنْهَا ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِى الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِى الْبِئْرِ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « فَهَلْ تَدْرِى مَا الزِّنَا ». قَالَ نَعَمْ أَتَيْتُ مِنْهَا حَرَامًا مَا يَأْتِى الرَّجُلُ مِنِ امْرَأَتِهِ حَلاَلاً. قَالَ « فَمَا تُرِيدُ بِهَذَا الْقَوْلِ ». قَالَ أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِى. فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَسَمِعَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ انْظُرْ إِلَى هَذَا الَّذِى سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ. فَسَكَتَ عَنْهُمَا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً حَتَّى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ فَقَالَ « أَيْنَ فُلاَنٌ وَفُلاَنٌ ». فَقَالاَ نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « انْزِلاَ فَكُلاَ مِنْ جِيفَةِ هَذَا الْحِمَارِ ». فَقَالاَ يَا نَبِىَّ اللَّهِ مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هَذَا قَالَ « فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ إِنَّهُ الآنَ لَفِى أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْقَمِسُ فِيهَا ». سنن ابی داؤد و مصنف عبدالرزاق

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چي يو اسلمي سړی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغی او پر خپل ځان ئي څلور ځلي دا ګواهي ورکړه چي له يوې ښځي سره ئي زنا کړې، په هر ځل کي رسول الله صلی الله عليه و سلم مخ ترې اړاوو، نو په پنځم ځل ئي مخ ورواړاوو او وئي ويل: آيا مجامعت دي ورسره کړی؟ وئي ويل: هو، وئې فرمايل: دومره چي ستا دغه (غړی) د هغې په هغه (غړي) کي غائب شو؟ وئې ويل: هو، وئې فرمايل: داسي لکه چي سلايي په رانجومي کي پټيږي او پړی په څا کي؟ وئې ويل: هو، وئې فرمايل: آيا پوهېږې چي زنا څه ته وايي؟ وئې ويل: هو؛ له دې سره مي هغه کار په حرامه توګه کړی چي سړی ئي له خپلي مېرمني سره په حلاله توګه کوي. وئې فرمايل: په دې وينا سره څه غواړې؟ وئې ويل: غواړم چي ما پاك کړې!! نو امر ئي وکړ او هغه رجم شو، بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم له خپلو دوو اصحابو واورېدل چي يوه ئي بل ته ويل: دې ته وګوره چي الله پرې پرده اچولې وه خو خپل نفس تر هغه آرام پرې نښود چي د سپي په څېر رجم شي، نو څو شېبې ئې د دوی په وړاندي سکوت وکړ، تر هغه چي د يوه داسي خره د جيفه (مړزګي) خوا ته تېر شو چي له پړسوبه ئې پښې شخي ولاړې وې، نو وئې فرمايل: فلانی او فلانی چېري دي؟ هغوی وويل: موږ دغه يو يا رسول الله! وئې فرمايل: کوز شئ او د خره له دې مړزګي څه وخورئ، هغوی وويل: يا رسول الله! څوك به دا وخوري؟ وئې فرمايل: کوم تېری چي تاسو همدا اوس د خپل ورور پر عرض او عزت وکړ د دې تر خوراك ډېر سخت کار (ګناه) دئ، په هغه ذات قسم چي زما سا ئې په واك کي ده هغه اوس د جنت په نهرونو کي غوټې وهي.

په بل روايت کي داسي راغلي:

ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الأَزْدِ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ: وَيْحَكِ ارْجِعِي، وَاسْتَغْفِرِي اللَّهَ، وَتُوبِي إِلَيْهِ، قَالَتْ: لَعَلَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ، قَالَ: وَمَا ذَلِكَ، قَالَتْ: إِنَّهَا حُبْلَى مِنَ الزِّنَا، قَالَ: أَثَيِّبٌ أَنْتِ؟، قَالَتْ: نَعَمْ قَالَ: إِذًا لاَ نَرْجُمُكِ حَتَّى تَضَعِي مَا فِي بَطْنِكِ، قَالَ: فَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ حَتَّى وَضَعَتْ، فَأَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: قَدْ وَضَعَتِ الْغَامِدِيَّةُ، فَقَالَ: إِذًا لاَ نَرْجُمُهَا، وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيرًا لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَقَالَ: إِلَيَّ رَضَاعُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَرَجَمَهَا. السنن الصغرى و مسلم.

بیا د أزد د قبیلې د غامد له ټبره یوه ښځه ورته راغله او وئې ویل: یا رسول الله! ما پاکه کړه! وئې فرمایل: افسوس پرتا، بېرته ستنه شه او له الله تعالی بخښنه وغواړه، او توبه ورته وکړه، وئې ویل: ښایي ته غواړې ما داسي رد کړې لکه ماعز بن مالك چي دي رد کړ، وئې وفرمایل: او دا څه دي؟ وئې ویل: دا له زنا حامله شوې، وئې فرمایل: ته مېروښه یې؟ وئې ویل: هو، وئې فرمایل: تر هغه دي نه رجم کوو چي خپل بچی وزېږوې، راوي وایي: نو د انصارو یوه سړي د هغې کفالت په غاړه واخیست تر هغه چي بچی ئې وزېږاوو، نو هغه سړی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی او وئې ویل: غامدیه مېرمني بچی وزېږاوو، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: په داسي حال کي ئې نه رجم کوو او بچی ئې نه پرېږدو چي ووړ وي او داسي څوك نه لري چي تی ورکړي، نو له انصارو یو سړی ودرېدو او وئې ویل: یا رسول الله! د هغه رضاعت زما پر ذمه شو، نو بیا ئې هغه رجم کړه.

---

ٱلزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوۡ مُشۡرِكَةٗ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوۡ مُشۡرِكٞۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣﴾

دا زاني یوازي زناکاره یا مشرکه ښځه نکاح کوي، او دا زناکاره ښځه یوازي زناکار او مشرك ئې په نکاح کوي، او دا پر مؤمنانو حرام کړی شوي.

---

(۳)- په دې مبارك آیت کي د زناکارو په اړه دا لارښووني شوې:

- څوك چي زاني وي نو هغه یا زناکاره ښځه نکاح کوي او یا مشرکه، مزاج او سلیقه ئې داسي رنګ غوره کړي چي همداسي ښځې خوښوي، جنسي تعلقات ئې همدې لوري ته بیایي، زناکاره ښځه هم د ده په څېر وي، یوازي زناکار او مشرك مېړه په لاس ورځي، پاك لمني ئې نه خوښېږي.
- له زناکارو سره نکاح پر مؤمنانو حرامه ده، یعني له مؤمنانو سره نه ښایي چي له بدلمنو

سره واده وکړي، بايد داسي مېرمن يا مېړه ځان ته انتخاب نه کړي چي له اخلاقي پلوه د اعتماد وړ نه وي، د ايمان مقتضی دا ده چي داسي څوك د ژوند د همسفر او ملگري په توگه غوره کړو چي خداپپال، ملتزم، پاك لمنی، امين او باوفا وي، او په خپلي غېږ کي صالح او مؤمن اولاد وروزي.

- دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا د زناکار او زناکاري نکاح يوازي په خپلو منځونو کي جائزه ده او له مؤمنانو سره ئې نکاح حرامه ده، داسي لکه له محرماتو سره نکاح؟ ځواب دا دئ چي که څوك په دې ناولي کار ککړ وي، لاس نه ترې اخلي او توبه نه کوي، نو له هغه سره له شك پرته نکاح حرامه ده، هم د دې صريح آيت له مخي او هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لارښوونو له مخي، خو که څوك توبه وکړي او ځان اصلاح کړي نو اميد دئ چي الله تعالى ئې په داسي نکاح ونه نيسي، هم ئې مخکينۍ گناه ورته وبخښي او هم ئې په راتلونکې کي له دې گناه وساتي. د آيت له الفاظو معلومېږي چي مصداق ئې هغه زناکاران دي چي دغې گناه ته دوام ورکوي او لاس نه ترې اخلي، نه هغه چي گناه ئې کړې خو ژر ئې توبه کړې او ځان ئې اصلاح کړی. د الزاني او الزانيه صيغې همدا مطلب افاده کوي.

د دې لپاره چي دا مطلب مزيد واضح شي لاندي روايات ستاسو مخي ته ږدم:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن عَمْرٍو قَالَ: كَانَتِ امْرَأَةٌ فِي جِيَادٍ تُسَمَّى أُمَّ مَهْزُولٍ، وَكَانَتْ تُسَافِحُ، وَكَانَتْ تَشْتَرِطُ لِمَنْ تَزَوَّجَهَا أَنْ تَكْفِيَهُ النَّفَقَةَ، فَاسْتَأْذَنَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فِي نِكَاحِهَا،"فَقَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: الزَّانِي لا يَنْكِحُ إِلا زَانِيَةً"، المعجم الكبير للطبرانى والبيهقى

له عبد الله بن عمرو رضى الله عنه روايت دئ چي ويلي ئې دي: د جياد يوه مېرمن وه چي ام مهزول نومېده او بد لمنه (فاحشه) وه، د واده په اړه به ئې دا شرط وړاندي کولو چي دا به په خپله د مېړه نفقه پر غاړه اخلي (له هغو پيسو چي د بدلمنۍ له لاري ئې تر لاسه کوي) نو يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغې سره د نکاح اجازه وغوښته، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم دا آيت ورته ولوست: الزَّانِي لا يَنْكِحُ إِلا زَانِيَةً.... و حرم ذالك على المؤمنين.

عن عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « ثَلاَثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَالْعَاقُّ وَالدَّيُّوثُ الَّذِى يُقِرُّ فِى أَهْلِهِ الْخَبَثَ ». مسند احمد

له عبد الله بن عمر رضى الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: درې کسان داسي دي چي الله تعالى جنت پرې حرام کړی: هغه چي تل شراب څښي، د پلار مور له لوري عاق (رټل) شوی او هغه ديوث چي په خپل ټبر کي (زنا او بدلمني گوري خو مخه ئې نه نيسي او) په خپل حال ئې پرېږدي.

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدٗاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥﴾

او هغه چي پاك لمني ښځي تورنوي، بيا څلور شاهدان نشي راوړی، اتيا درې ئې ووهئ او هيڅکله ئې گواهي مه قبلوئ، او همدا دوی فاسقان دي. خو هغه نه چي له دې وروسته ئې توبه وکړه او اصلاح ئې وکړه (د ځان او د هغه تور)، نو يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

---

(٤-٥)- په دې مبارکو آيتونو کي د هغو خلکو په اړه لاندي لارښووني شوې چي پاك لمني ښځي تورنوي پرته له دې چي د تور ثابتولو لپاره شرعي دلائل ولري:

- څوك چي پاك لمني ښځي تورني کړي، خو څلور شاهدان وړاندي نه کړی شي؛ اتيا درې ئې ووهئ او له دې وروسته ئې هيڅکله گواهي مه قبلوئ، د الهي معيارونو له مخي دا خلك فاسقان دي.
- خو هغه چي له دې وروسته توبه وکړي، ځان اصلاح کړي، او په دغه بې اعتباره تور سره ئې چي هغي پاك لمني ښځي ته په ځانگړې توگه او ټولي ټولني ته په عامه توگه کوم تاوان رسولی هغه جبران کړي نو په دې صورت کي اميد دئ الله تعالی هغه ته عفو وکړي، دا ځکه چي الله تعالی مهربان بخښونکی دئ.

په دې اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- په دې آيت کي د هغه تور په اړه دا حکم راغلی چي په زنا پوري اړه لري، نه هر تور، د نورو غلطو تورونو سزا د قاضي رأيي ته پرېښودل شوې.
- که څه هم په دې آيت کي د نارينه له لوري پر پاك لمني ښځي د تور خبره شوې، خو په دې حکم کي هغه ښځه هم شامله ده چي په کوم پاك لمني نارينه يا ښځي د زنا تور لگوي او هغه نارينه هم چي په کوم نارينه دا تور لگوي.
- دا سزا هغه تور لگوونکي ته ورکول کېږي چي بالغ او عاقل وي، په خپله خوښه ئې تور لگولی وي، د تورن داسي خپل لکه پلار او مور نه وي، تور ئې مبهم او مشکوك نه وي او په صريحو الفاظو ئې لگولی وي. او په داسي چا ئې تور لگولی وي چي بالغ، عاقل، مسلمان، آزاد، او عفيف وي. له دې شرائطو پرته تور لگوونکي ته تعزيري سزا ورکول کېږي.
- په پنځم آيت کي تور لگوونکي د توبې او اصلاح په شرط د فاسقانو له ډلي مستثناء شوي، دا دوه شرطونه نه دوی له سزا ژغورلی شي او نه له دې چي گواهي او شهادت به ئې هيڅکله نه قبلېږي.
- قرآن داسي تور لگوونکي ته د فاسق نوم غوره کړی، دا يوازي د دې لپاره نه چي هغه له

الهي لارښوونو سرغړونه کړې، دروغ ئې ويلي او د يو چا پر عزت ئې تېرى کړى او دا تېرى د يو چا له وژلو وروسته تر ټولو لوى تېرى دئ؛ دومره چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې تر سود هم لوى تېرى او ګناه ګڼې:

عَنْ سَعِيدِ بن زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: مِنْ أَرْبَى الرِّبَا: اسْتِطَالَةُ الْمَرْءِ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ. المعجم الكبير للطبرانى

له سعيد بن زيد روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: تر ټولو ستر سود په ناحقه د يوه مسلمان سړي پر عزت تېرى دئ.

وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضى الله عنه عَنْ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ { الرِّبَا ثَلَاثَةٌ وَسَبْعُونَ بَابًا أَيْسَرُهَا فِي الْإِثْمِ مِثْلَ أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ وَإِنَّ أَرْبَى الرِّبَا عِرْضُ الرَّجُلِ الْمُسْلِمِ } رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ مُخْتَصَرًا وَالْحَاكِمُ بِتَمَامِهِ وَصَحَّحَهُ )

له عبد الله بن مسعود رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: سود دري اويا باب (ډول) دئ؛ تر ټولو آسان ئې د ګناه له پلوه دې ته ورته دئ چې څوك له خپلې مور سره مجامعت (جنسي نژدېکت) وکړي، او يقيناً چې تر ټولو ستر سود د مسلمان سړي پر عزت تېرى دئ.

دا دروغجن تور لګوونکى له دې کبله فاسق دئ چې په دې تور سره په ټولنې کې د فسق خورولو باعث شوى، داسې تورونه په ټولنې کې د ګناه په اړه حساسيتونه راکموي، د ګناه او ګنهګارانو يادونه او مثالونه او بېلګې ئې انځورول خلك د ګناه لوري ته هڅوي، په ټولنې کې د فحشاء د اشاعې او خورېدو يوه وسيله همدا ده چې د فحش خبرې عموميت پيدا کړي او په هر مجلس کې پرې خبرې پيل شي، تور لګوونکې د همداسې بحثونو باعث کېږي، په مقابل کې ئې د ښېګڼو يادونه او د نېکو خلکو مثالونه وړاندې کول په ټولنې کې ښېګڼو ته وده ورکوي او خلك د نېکيو لوري ته تشويقوي. که تاسو په غرب پورې د تړلو رسنيو تبليغاتو ته ځير شې، که دا تصويري دي، که خبري او که چاپي، وبه ګورئ چې د مأموريت ستره او اساسي برخه ئې په مسلمانانو کې د فساد او فحشاء خورول دي، او دې هدف ته د رسېدو لپاره تر هر څه وړاندې او تر هر څه زيات په دې لګيا دي چې د فساد او فحشاء اړوند خبرونه خپاره کړي او بېلګې او مثالونه ئې وړاندې کړي.

---

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ أَزۡوَٰجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمۡ فَشَهَٰدَةُ أَحَدِهِمۡ أَرۡبَعُ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٦ وَٱلۡخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٧ وَيَدۡرَؤُاْ عَنۡهَا ٱلۡعَذَابَ أَن تَشۡهَدَ أَرۡبَعَ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ

﴿إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٨ وَٱلۡخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَآ إِن كَانَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٩﴾

او هغه چې خپلې مېرمنې تورنوي په داسې حال کې چې له ځان پرته (نور) شاهدان نه لري نو د يوه ئې گواهي دا ده: څلور ځلې الله شاهد نيول چې دی يقيناً له رښتينو دئ او پنځم ئې دا چې که دی له دروغجنو وي نو پر ده دې د الله لعنت وي، او له هغې (مېرمنې) دا (خبره) عذاب دفع کوي چې څلور ځلې الله شاهد ونيسي چې يقيناً دی له دروغجنو دئ او پنځم ئې دا چې که دی له رښتينو وي نو پر دې دې د الله لعنت وي.

---

(٦-٩)- د دې مبارکو آيتونو مهمې لارښوونې دا دي:

- څوك چې خپله مېرمن په زنا تورنوي په داسې حال کې چې له ځان پرته بل شاهد نه لري؛ نو د قاضي په وړاندې به د ده گواهي داسې وي چې څلور ځلې به الله تعالی پر دې خبرې شاهد نيسي چې دی په خپلې ادعاء کې رښتينی دئ او پنځم ځل به وايي: که دی له دروغجنو وي نو پر ده دې د الله لعنت وي.
- له تورنې مېرمنې په هغه صورت کې عذاب دفع کېږي چې څلور ځلې ووايي: الله شاهد دئ چې دی له دروغجنو دئ او پنځم ځل ووايي: که دی له رښتينو وي نو پر دې دې د الله لعنت وي.
- دلته څلور ځلې الله تعالی شاهد نيول د څلورو شاهدانو د شهادت پر ځای او د هغوی د بدل او عوض په توگه راغلي، او دا خبره کول چې که دی دروغجن وي نو پر ده دې د الله تعالی لعنت وي د تأکيد په توگه راغلي.
- دا حکم په مېړه او مېرمنې پورې تړلی دئ او نورو مواردو ته نشي غزېدی.
- دلته الله تعالی شاهد نيول د قسم او لوړې په معنی راغلی او دا ښيي چې په حقيقت کې هر قسم او لوړه د شاهد نيولو په معنی وي، که تاسو د قرآن قسمونو ته ځير شئ نو درته جوته به شي چې د قرآن قسمونه د دې لپاره نه دي چې گواکې الله تعالی د خپل مخاطب د اقناع او تشويش رفع کولو لپاره په کوم ستر او با عظمته شي لوړه کړې!! دا نه د قسم د مفهوم او معنی په اړه صحيح تعبير دئ او نه د قرآن د قسمونو سم تفسير، د قرآن هر قسم د استشهاد لپاره دئ، زموږ قسمونه هم د استشهاد لپاره وي، کله چې موږ وايو: پر الله تعالی قسم کوم چې رښتيا وايم؛ معنی ئې دا ده چې الله تعالی شاهد دئ چې زه رښتيا وايم، که قسم د تعظيم لپاره وی نو بيا خو به دا هم جائزه وه چې ووايو: په مسجدالحرام قسم، په قرآن قسم، پر پيغمبر قسم، داسې قسمونه نه يوازې جائز نه دي بلکې صحيح هم نه دي، دا ځکه چې دا شيان (مقسم به) زما د رښتينولۍ شاهد او گواه نه دي، يوازې الله تعالی زما

په اړه شاهد کېدی شي، نو يوازې پر الله تعالی لوړه او قسم د معنى او مفهوم له پلوه صحيح او له شرعي پلوه جائز دئ. په بل څه قسم د معنى له پلوه غلط او له شرعي پلوه ناجائز دئ. الله تعالى چې په کومو شيانو لوړه کړې هغه ئې د شاهد په توګه وړاندې کړی، د مثال په توګه الله تعالى په هغه سيند لوړه کړې چې د فرعونيانو په مړو ډك شو (والبحر المسجور)، او د دې مقصد دا دئ چې: د فرعونيانو په مړو ډك بحر ګواهي ورکوي چې که د زمانې د هر فرعون په وړاندې د موسى په څېر مجاهد راپيدا شو نو د دې فرعون برخليك به داسې وي لکه د مخکيني فرعون.

د دې مبارکو آيتونو په معنى د لازيات پوهېدا لپاره لاندې روايات په پام کې ولرئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ هِلاَلُ بْنُ أُمَيَّةَ وَهُوَ أَحَدُ الثَّلاَثَةِ الَّذِينَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ فَجَاءَ مِنْ أَرْضِهِ عَشِيًّا فَوَجَدَ عِنْدَ أَهْلِهِ رَجُلاً فَرَأَى بِعَيْنَيْهِ وَسَمِعَ بِأُذُنَيْهِ فَلَمْ يَهِجْهُ حَتَّى أَصْبَحَ ثُمَّ غَدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى جِئْتُ أَهْلِى عِشَاءً فَوَجَدْتُ عِنْدَهُمْ رَجُلاً فَرَأَيْتُ بِعَيْنِى وَسَمِعْتُ بِأُذُنِى فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم مَا جَاءَ بِهِ وَاشْتَدَّ عَلَيْهِ فَنَزَلَتْ (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلاَّ أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ) الآيَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا فَسُرِّىَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « أَبْشِرْ يَا هِلاَلُ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَكَ فَرَجًا وَمَخْرَجًا ». قَالَ هِلاَلٌ قَدْ كُنْتُ أَرْجُو ذَلِكَ مِنْ رَبِّى. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « أَرْسِلُوا إِلَيْهَا ». فَجَاءَتْ فَتَلاَ عَلَيْهِمَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم وَذَكَّرَهُمَا وَأَخْبَرَهُمَا أَنَّ عَذَابَ الآخِرَةِ أَشَدُّ مِنْ عَذَابِ الدُّنْيَا فَقَالَ هِلاَلٌ وَاللَّهِ لَقَدْ صَدَقْتُ عَلَيْهَا فَقَالَتْ قَدْ كَذَبَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم «لاَعِنُوا بَيْنَهُمَا ». فَقِيلَ لِهِلاَلٍ اشْهَدْ. فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قِيلَ لَهُ يَا هِلاَلُ اتَّقِ اللَّهَ فَإِنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ وَإِنَّ هَذِهِ الْمُوجِبَةُ الَّتِى تُوجِبُ عَلَيْكَ الْعَذَابَ. فَقَالَ وَاللَّهِ لاَ يُعَذِّبُنِى اللَّهُ عَلَيْهَا كَمَا لَمْ يَجْلِدْنِى عَلَيْهَا. فَشَهِدَ الْخَامِسَةَ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ثُمَّ قِيلَ لَهَا اشْهَدِى. فَشَهِدَتْ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قِيلَ لَهَا اتَّقِى اللَّهَ فَإِنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ وَإِنَّ هَذِهِ الْمُوجِبَةُ الَّتِى تُوجِبُ عَلَيْكِ الْعَذَابَ. فَتَلَكَّأَتْ سَاعَةً ثُمَّ قَالَتْ وَاللَّهِ لاَ أَفْضَحُ قَوْمِى فَشَهِدَتِ الْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ

فَفَرَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم بَيْنَهُمَا وَقَضَى أَنْ لاَ يُدْعَى وَلَدُهَا لأَبٍ وَلاَ تُرْمَى وَلاَ يُرْمَى وَلَدُهَا وَمَنْ رَمَاهَا أَوْ رَمَى وَلَدَهَا فَعَلَيْهِ الْحَدُّ وَقَضَى أَنْ لاَ بَيْتَ لَهَا عَلَيْهِ وَلاَ قُوتَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُمَا يَتَفَرَّقَانِ مِنْ غَيْرِ طَلاَقٍ وَلاَ مُتَوَفًّى عَنْهَا وَقَالَ ...

له ابن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چې هلال بن اميه، يو له هغو دريو چې الله تعالی د هغوی توبه قبوله کړه، له خپلې زمکې ماخستن راغی او د خپلې مېرمنې خوا ته ئې يو سړی وموند، په خپلو سترگو ئې وليد او په خپلو غوږونو ئې د هغه غږ واورېد، نو هيجانې ئې نه کړ، تر هغه چې سبا شو او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورغی او وئې ويل: يا رسول الله! زه ماخستن خپل اهل ته راغلم نو د هغوی خوا ته مې يو سړی وموند، په خپلو سترگو مې وليد او په خپلو غوږونو مې غږ واورېد، رسول الله صلی الله عليه و سلم د ده په دې وينا ناراض شو او سخته پرې تمامه شوه، نو دا دواړه آيتونه نازل شول: (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلاَّ أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ ....)، نو له رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه خفگان ولاړ او وئې ويل: اې هلاله! خوښ اوسه چې الله تا ته له کړاو د وتلو لار پرانيسته، هلال وويل: له خپل رب مې همدا انتظار وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: هغې ته څوك ولېږئ، او هغه راغله، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم دواړو ته دا آيتونه تلاوت کړل، نصيحت ئې ورته وکړ او په دې ئې پوه کړل چې د دنيا تر عذاب د آخرت عذاب ډېر سخت دئ، نو هلال وويل: په الله قسم چې ما د دې په اړه رښتيا ويلې، هغې وويل: يقيناً چې دروغ ئې وويل، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د دوی تر منځ دې ملاعنت وشي، نو هلال ته وويل شول: شهادت ووايه، نو هغه څلور ځلې الله شاهد کړ چې دی رښتينی دئ او کله چې پنځم ته خبره ورسېده ورته وويل شول: اې هلاله! له اللهووېرېږه، په دې پوه شه چې د دنيا عذاب د آخرت په پرتله ډېر آسان دئ، او دا قسم هغه سبب دئ چې هغه عذاب به دې په برخه کړي، وئې ويل: قسم په خدای چې الله به مې د دې په اړه نه تعذيبوي؛ همداسې لکه چې د دې په اړه مې په درو نه وهې، نو پنځم ځل ئې خدای شاهد ونيو چې که دی دروغجن وي نو د الله لعنت دې پر ده وي، بيا هغې ته وويل شول: ته خپل شهادت وړاندې کړه، نو هغې څلور ځلې خدای شاهد ونيو چې دی دروغجن دئ او کله چې پنځم ته خبره ورسېده ورته وويل شول: له الله ووېرېږه، په دې پوه شه چې د دنيا عذاب د آخرت په پرتله ډېر آسان دئ، او دا قسم هغه سبب دئ چې هغه عذاب به دې په برخه کړي، نو يوه شېبه ودرېده او زړه نا زړه شوه، بيا ئې وويل: قسم په خدای چې زه به خپل قوم رسوا نه کړم، نو پنځمه لوړه ئې وکړه او وئې ويل: که دی رښتينی وي نو پر ما دې د الله لعنت وي، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم دوی سره بېل کړل (نکاح ئې فسخ کړه) او دا پرېکړه ئې وکړه چې د دې بچی به هيڅ پلار ته نه منسوبېږي، نه به دا تورنه کېږي او نه ئې زوی، او چا چې دا تورنه کړه يا ئې د دې زوی تورن کړ نو پر هغه به حد لازمېږي، او دا پرېکړه ئې وکړه چې نه ئې پر مېړه کور ورکول

شته او نه نفقه، له دې کبله چې دوی له طلاق پرته سره بېلېږي او مېره نه دئ ترې وفات شوی...

سنت دا دئ چې د داسي مېره او مېرمني تر منځ به له دغو قسمونو وروسته بېلوالی راځي او نکاح ئې فسخ کېږي، مېره د مهر بېرته اخيستو حق هم نه لري. د دوی تر منځ بيا نکاح هم جائز نه ده. د لعان دا معامله به په محکمې کې او د قاضي په وړاندې تر سره کېږي. له لعان د تورن يا تور لګوونکي اجتناب د اعتراف په معنی دئ، خو قاضي به هغه مهال سزا ورکوي چې په خپلي خولې اعتراف وکړي، تر هغه ئې د بندي ساتلو حکم کولی شي، دا ځکه چې د سزا لپاره يا شاهد يا اعتراف اساسي شرط دئ.

احناف شهادت او قسم په بشپړه توګه سره ورته ګڼي، هم د معنی او مفهوم له پلوه او هم د حکم او اعتبار له پلوه، د دوی د رأيي د تأييد لپاره دغه آيت کافي دئ، خو ځيني قسم او شهادت بېل بېل ګڼي، هم د معنی له پلوه او هم د حکم او اعتبار له پلوه، حال دا چې دا رأيه نه يوازي د قرآن د دغه صريح آيت خلاف ده بلکي له ګڼ شمېر نورو آيتونو سره اړخ نه لګوي، د المنافقون د سورې په لومړيو آيتونو کې هم شهادت او قسم مترادف او هممعنی ګڼل شوي.

د لعان په اړه د فقهاءو تر منځ اتفاقي ټکي دا دي:

- تورن او تورلګوونکي ته د قاضي له لوري کومه سزا نشي ورکول کېدی، دواړه له سزا معاف ګڼل کېږي، دروغجن ته به الله تعالی سزا ورکوي.
- که نارينه د ماشوم نسبت ځان ته ونه مني نو هغه به مور ته منسوبېږي، له پلاره د ميراث مستحق نه ګڼل کېږي.
- هيڅوک حق نه لري دې ماشوم ته ولد الزنا ووايي او مور ئې زناکاره وبولي، که څوك دا کار وکړي د قذف سزا مستحق دئ.
- د مېرمني د مهر حق نه ساقطېږي.
- دا مېرمن پر مخکيني مېړه د تل لپاره حرامه ده.
- په دې اړه د فقهاءو تر منځ اختلافي ټکي دا دي:
- ځيني وايي: کله چې مېړه د لعان الفاظ بشپړ کړي په همدې سره طلاق واقع شو، که څه هم شخې د ده ځواب نه وي ويلی.
- ځيني نور په دې باور دي چې د طلاق پرېکړه به د قاضي له لوري کېږي، خو که مېړه په خپله طلاق ورکړي دا غوره دئ. امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف په همدې رأيه دي او همدا صحيح او د سنت مطابق معلومېږي، ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم د دوی تر منځ د بېلېدو پرېکړه کړې او د هغه چا په عمل ئې اعتراض نه دئ کړی چې خپلي تورني مېرمني ته ئې د لعان په پای کې طلاق ورکړی، که طلاق په خپله واقع کېدی نو نه به رسول الله صلی الله عليه و سلم د دوی د بېلېدو مستقله پرېکړه کوله او نه به هغه صحابي د طلاق الفاظ کارول.

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

او که پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وی او دا چې الله باحکمت توبه قبلوونکی دئ (آیا پوهېږئ چې څه به کېدل؟)

(۱۰)- د دې مبارك آيت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- په قرآن کې دا وینا تل هغه مهال او په هغه ځای کې راغلې چې یا د یوه الهي حکم په اړه د الله تعالی پېرزوینه انځوروي او یا یوې داسې اشتباه ته مؤمنان متوجه کوي چې که الله تعالی خپل فضل او رحمت پر دوی نه وی پېرزو کړی نو له بدو پایلو سره به ئې مخامخ کړي وو.
- دلته دا آیت د مخکیني مطلب په ارتباط راغلی او معنی ئې دا ده: دا حکم د الله تعالی د فضل او رحمت له مخې او له دې کبله چې هغه د خپلو بندګانو توبه قبلوي او په هرې پرېکړې او حکم کې ئې حکمتونه مضمر وي تاسو ته راغلی، که نه نو بیا به حکم بېله بڼه درلوده او دومره نرمښت به نه په کې تر سترګو کېدو.
- دغه مطلب په څوارلسم آیت کې بیا تکرار شوی خو تر دې په مفصلې بڼې کې، او هلته دا هم په کې ویل شوي چې که د الله تعالی فضل او رحمت نه وی نو په دنیا او آخرت کې به په ستر عذاب اخته شوي وئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٌ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرًّا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٌ
لَّكُمۡۚ لِكُلِّ ٱمۡرِيٍٕ مِّنۡهُم مَّا ٱكۡتَسَبَ مِنَ ٱلۡإِثۡمِۚ وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ
عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾ لَّوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ ظَنَّ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمۡ خَيۡرًا
وَقَالُواْ هَٰذَآ إِفۡكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾ لَّوۡلَا جَآءُو عَلَيۡهِ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَۚ فَإِذۡ لَمۡ يَأۡتُواْ
بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُوْلَٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ
وَرَحۡمَتُهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ لَمَسَّكُمۡ فِي مَآ أَفَضۡتُمۡ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾

یقیناً هغه چې دا دروغجنه خبره ئې رامنځته کړه ستاسو یوه ډله وه، د ځان لپاره ئې شر او تاوان مه انګېرئ، بلکې هغه تاسو ته خیر (ګټور) دئ، د دوی هر سړي ته د ده د کړنې په کچه د ګناه (برخه) ده، او د دوی هغه چې لویه برخه ئې پر خپلې ذمې اخیستې ده هغه ته ستر عذاب دئ. ولې داسې نه وه چې کله مو هغه واورېده نو نارینه مؤمنانو او ښځینه مؤمناناتو پر خپل ځان (پر خپلو مؤمنو وروڼو او خویندو)

نېك گمان ونه کړ او وئې نه ويل چې دا څرګند دروغجن تور دئ؟ ولې ئې پر دې (ادعاء) څلور شاهدان رانه وستل، نو کله چې ئې شاهدان رانه وستل نو همدا دوی د الله په وړاندې دروغجن دي، او که په دنيا او آخرت کې پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وی نو د هغه څه له کبله به په ستر عذاب اخته شوي وئ چې په کې بوخت شوئ.

(۱۱-۱٤)- د دې مبارکو آيتونو په معنی او مطلب د ښه پوهېدا لپاره لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دا مبارك آيتونه د هغه افك (دروغجنې خبرې) او تور په اړه نازل شوي چې د منافقينو له لوري پر ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها لګېدلی وو، تفصيلات به ئې وروسته ولولئ.
- دلته له دې ځايه تر ۲٦ آيت پورې په مستقيمه توګه د همدې قضيې په اړه بحث شوی، خو که لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چې دا ټوله سوره د دغې قضيې پر محور څرخي، يا تور ردوي، هغه دروغجنه افتراء بولي، دلائل ئې وړاندې کوي، عاملين ئې په ګوته کوي، تور لګوونکي د ستر الهي عذاب مستحق ګڼي، منونکي او خوروونکي ئې تنبيه کوي، يا په همدې اړه مؤمنانو ته لازمي او ضروري لارښووني کوي او يا د داسې قضاياوو اړوند احکام زموږ مخې ته ږدي.

دلته د پېښې په اړه مؤمنانو ته څو لارښووني شوې:

- الله تعالی هغه دروغجن تور د افك په نامه ياد کړی، افك د حقيقت خلاف دروغجنې خبرې ته ويل کېږي، په دې توګه ئې د بحث په پيل کې مسلمانانو ته ويلې هغه تور په بشپړه توګه له ځانه جوړ شوی دروغجن تور وو.
- چا چې دا دروغجن تور له ځانه جوړ کړی يو کس نه بلکې يوه ډله وه، د مسلمانانو په ليکو کې ننوتلې ډله، په دې الفاظو کې څو خبرې له ورايه برېښي: دا تور له ځانه جوړ شوی دروغجن تور وو، تر شا ئې د منافقينو يوه ډله وه.
- ګمان مه کوئ چې دا تور او افتراء به تاسو ته کوم تاوان ورسوي، بلکې بايد ډاډه وئ چې د منافقينو دا هلې ځلې او افتراءات د تاوان پر ځای تاسو ته ګټه رسوي، د دوی او د دوی د دروغجنو تبليغاتو ماهيت به ټولو ته جوت شي، هم به دوی مختورن شي او د مسلمانانو په منځ کې به خپل اعتبار له لاسه ورکړي او هم به ئې په راتلونکې کې داسې تبليغات څه ځای نه نيسي او څوك به اعتناء نه ورته کوي.
- د دې ډلې هر غړی د دغې ګناه يوه برخه پر خپلو اوږو وړي، د ګناه پېټی ئې د دې افتراء په جوړولو او خورولو کې د ده له ونډې سره برابر دئ، د چا ډېر دروند او د چا لږ. د هغه چا عذاب ډېر ستر دئ چې لويه برخه ئې پر خپلې ذمې اخيستې ده او پېټی ئې تر نورو دروند دئ.
- کله چې نارينه او ښځينه مؤمنانو دا دروغجن تور واورېد ولې ئې پر خپلو مؤمنو وروڼو او خويندو نېك ګمان ونه کړ او ولې ئې ونه ويل چې دا څرګند دروغجن تور دئ؟ د ايمان

مقتضی خو دا ده چې پر مؤمنانو نېك ګمان ولرئ او د هغوی په اړه له بې موجبه بدګمانۍ ډډه وکړئ.

• تاسو ته خو په کار دا وه چې ویلي مو وی: ولې دغو تور لګوونکو پر خپلې ادعاء څلور شاهدان وړاندي نه کړل؟، د الهي لارښوونو له مخې خو هغه څوك دروغجن ګڼل کېږي چې د داسې ادعاء تر څنګ څلور شاهدان وړاندي نه کړي، د الهي لارښوونو په اړه د التزام او تعهد غوښتنه دا ده چې هغه تورلګوونکي دروغجن وګڼئ چې څلور شاهدان ونه لري.

• دې تور ته غوږ نیول، منل، بل ته ئې ویل، تور لګوونکي دروغجن نه ګڼل او د څلورو شاهدانو غوښتنه نه ترې کول دومره ستر جرم وو چې په دنیا او آخرت کې به ئې په ستر عذاب اخته کړي وئ، خو الله تعالی له دې کبله له داسې ستر عذاب وژغورلئ چې هغه په دنیا او آخرت کې پر تاسو د فضل او رحمت خاوند دئ.

---

إِذۡ تَلَقَّوۡنَهُۥ بِأَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُولُونَ بِأَفۡوَاهِكُم مَّا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ
وَتَحۡسَبُونَهُۥ هَيِّنٗا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٞ ١٥ وَلَوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ قُلۡتُم مَّا يَكُونُ
لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبۡحَٰنَكَ هَٰذَا بُهۡتَٰنٌ عَظِيمٞ ١٦ يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُواْ
لِمِثۡلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧ وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ
١٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلۡفَٰحِشَةُ فِي ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ فِي
ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ١٩ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ
وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٢٠

هغه مهال چې په خپلو ژبو مو اخیستو او په خپلو خولو مو هغه څه ویل چې هیڅ علم مو پرې نه لرلو، او هغه مو آسان (او عادي کار) ګڼلو حال دا چې هغه د الله په وړاندي ستر (جرم) دئ، او هغه مهال چې تاسو واورېد ولې مو ونه ویل چې موږ ته هیڅکله نه ښایي چې په دې خبرې تکلم وکړو، سبحان الله! دا ستر بهتان دئ، الله تاسو ته نصیحت کوي چې هیڅکله دې ته ورته (کار ته) ونه ګرځئ (بیا هیڅکله داسې غلطي ونه کړئ) که مؤمنان یئ، او الله تاسو ته دا آیتونه بیانوي، او الله باحکمت پوه دئ، یقیناً هغه چې دا خوښوي چې په ایمان راوړو کې فحشاء خوره کړي دوی ته په دنیا او آخرت کې دردناك عذاب دئ، او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ. او که د الله فضل او رحمت درباندي نه وی او دا چې الله مهربان رأفت کوونکی دئ (آیا پوهېږئ چې څه به کېدل؟)

(۱۵-۲۰)- په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته د هغې افتراء په اړه ځيني نوري لارښووني شوې:

• کله چې ستاسو تر منځ د منافقينو هغه وينا خوله په خوله کېده، داسي ځه مو ويل چي هيڅ علم مو پرې نه لرلو، او دا درته آسان او عادي کار برېښېدو په داسې حال کې چې هغه د الله په وړاندي ستر جرم دئ، د دې دروغجني وينا په اورېدو سره مو ولې ونه ويل چي موږ ته هيڅکله نه ښايي چې په دې خبري تکلم وکړو، سبحان الله! دا ستر بهتان دئ! يعني داسي خبرو ته غوږ نيول، بل ته کول، داسي څه ويل او منل چي هيڅ دليل ورته نه لرئ او نه پرې پوهېږئ؛ نه يوازي عادي خبره او وړه گناه نه ده بلکي په الهي معيارونو کې ستر جرم دئ.

• الله تاسو ته نصيحت کوي چي هيڅکله دې ته ورته کار ته مخه نه کړئ او بيا داسي غلطي تکرار نه کړئ، که حقيقتاً مؤمنان يئ.

• دا آيتونه د هغه الله تعالى له لوري دي چي هم باحکمت دئ او په هر حکم او لارښووني کې ئې حکمتونه مضمر دئ او هم پوه دئ، د هر څه او هر چا حقيقت ورته معلوم دئ، هم مؤمنان ښه پېژني او هم منافقين، که د منافقينو او د دوی د ويناوو په اړه څه وايي او که د مؤمنانو او د دوی د کړنو په اړه؛ ټول د هغه جامع او کامل علم له مخي دي چي عليم خدای ئې د دوی په اړه لري.

• ستاسو کينه کښ دښمنان ستاسو هغه فکري او اخلاقي لوړوالی او معنوي ارتقاء نشي زغملی چي تاسو ته ئې پر ټولو مخالف ځواکونو برلاسي درپه برخه کړې او ستاسو د ټولو برياوو اصلي عامل دئ، غواړي ستاسو سپينه او پاکه لمن داغجنه کړي او ستاسو اخلاقي او معنوي لوړوالی تر پوښتني لاندي راولي، دوی دا خوښوي چي په مؤمنانو کې فحشاء خوره کړي، د دوی د دغو تورونو اصلي موخه همدا ده، دا بريد په همدې موخه پيل شوی، او دا افتراء د همدې لپاره جوړه او خوره شوې.

• الله تعالى دوی ته په دنيا او آخرت کې دردناك عذاب ټاکلی. دوی د همداسي سزا مستحق دي، دا د هغه الله تعالى پرېکړه ده چي په هر څه ښه پوهېږي، ستاسو علم محدود دئ، د هر څه په اړه د عليم خدای لارښووني معيار وگڼئ نه خپل محدود علم.

• که د الله فضل او رحمت درباندي نه وی او دا چي الله مهربان رأفت کوونکی دئ، نو د دغو غلطيو له کبله به له ډېرو بدو پايلو سره مخامخ شوي وئ.

د دغو مبارکو آيتونو په پای کې او تر دې وړاندي چي د ورپسې آيتونو لارښووني وڅېړو د څو خبرو کول راته ضروري برېښي:

کله هم چي ما دغه آيتونه لوستلي، له بل مي اورېدلي او يا د عائشې رضی الله عنها په اړه د څه ويلو په دوران کې دا آيتونه راپه ياد شوي نو بې اختياره مي اوښکې بهېدلې، نه يوازي د دې لپاره چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په داسي پاك لمني مېرمني تور

لګول شوی چې په انساني تاريخ کې د هغې سيال او مثال لږ تر سترګو کېږي، له مريم عليها السلام، آسيه رضی الله عنها او خديجه رضی الله عنها وروسته د نړۍ هيڅ مېرمن د هغې لوړ معنوي، اخلاقي او علمي مقام ته نشي رسېدی، بلکې د دې لپاره چې د ستر عرش مالك رب د يوه نېك او مخلص بنده له حيثيت او عزت په داسې الفاظو دفاع کړې، د دې پر پت او عزت ئې لفظي تېری دومره جدي نيولی او نه يوازې تور لګوونکي ئې د ستر عذاب مستحق ګڼلي بلکې مؤمنان ئې هم سخت تنبيه کړي چې د دې تور په وړاندې ئې ولې مناسب غبرګون نه دئ ښودلی. دا دفاع ئې د خپل عظيم او تلپاته کتاب قرآن برخه ګرځولې چې تر قيامت پورې ئې خلك لولي او ګوري چې الله تعالی په څومره زړه راښکونکو الفاظو له هغې دفاع کړې!! د عائشې رضی الله عنها لوړ شخصيت نه يوازې په دغو آيتونو کې له ورايه ځلېږي بلکې هر هغه څوك د دې پر لوړ شخصيت او اوچت علمي مقام پوهېدی شي چې د رواياتو کتابونه پرانيزي او وګوري چې نژدې په هري پاڼې کې ئې دې ته منسوب روايات تر سترګو کېږي، يقيناً چې هغه له رسول الله صلی الله عليه و سلم وروسته نه يوازې د مسلمانو مېرمنو لپاره د دين په رموزو پوه لارښوده او معلمه وه بلکې د نارينه وو لپاره ئې هم د يوه هوښيار او حساس استاد حيثيت درلود، دا عادي او تصادفي خبره مه ګڼئ چې ولې منافقينو د خپلو تبليغاتو لپاره عائشه رضی الله عنها په نښه کړې، دا په خپله د دې مقام او منزلت او د دعوت په چارو کې د دې ونډه او اغېز په ګوته کوي.

راشئ د دې قصې تفصيل په رواياتو کې وګورو، په دې اړه په بخاري کې د ابن شهاب الزهري يو مفصل روايت راغلی، الزهري د دې روايت په سر کې وايي: له عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيّ او عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ مې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د مېرمنې عَائِشَې رضی الله عنها هغه روايات تر لاسه کړی چې د تور لګوونکو د هغې وينا په اړه دې چې دوی کړې وه او الله تعالی هغې ته برائت ورکړ، د دوی هر يوه د حديث يوه برخه راته ويلې، ځينې ئې تر ځينو نورو زيات پوهېدل او په وړاندې به ئې عکس العمل مضبوط وو، (ښه به ئې حفظ کړی وو)، د دوی له هر يوه مې هغه روايت ذهن ته سپارلی چې دوی له عائشې رضی الله عنها ما ته ويلی، د ځينو وينا د ځينو نورو تصديق کوي، دوی داسې ګمان کړی چې عائشې رضی الله عنها دغه خبره کړې. د الزهري له دې وينا معلومېږي چې د دې روايت بېلې بېلې برخې ئې له ګڼ شمېر راويانو تر لاسه کړې، له ځينو ئې ډېر څه او له ځينو ئې لږ برخه، او روايت ئې په دې بڼې کې ترتيب کړی:

عن عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها أَنَّ عَائِشَةَ رضی الله عنهازَوْجَ النَّبِيِّ صلی الله عليه و سلم قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله عليه و سلم إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ أَقْرَعَ بَيْنَ أَزْوَاجِهِ، فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صلی الله عليه و سلم مَعَهُ، قَالَتْ عَائِشَةُ فَأَقْرَعَ

بَيْنَنَا فِى غَزْوَةٍ غَزَاهَا، فَخَرَجَ سَهْمِى، فَخَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم بَعْدَ مَا نَزَلَ الْحِجَابُ، فَأَنَا أُحْمَلُ فِى هَوْدَجِى وَأُنْزَلُ فِيهِ فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا فَرَغَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم مِنْ غَزْوَتِهِ تِلْكَ وَقَفَلَ، وَدَنَوْنَا مِنَ الْمَدِينَةِ قَافِلِينَ آذَنَ لَيْلَةً بِالرَّحِيلِ، فَقُمْتُ حِينَ آذَنُوا بِالرَّحِيلِ، فَمَشَيْتُ حَتَّى جَاوَزْتُ الْجَيْشَ، فَلَمَّا قَضَيْتُ شَأْنِى أَقْبَلْتُ إِلَى رَحْلِى، فَإِذَا عِقْدٌ لِى مِنْ جَزْعِ ظَفَارِ قَدِ انْقَطَعَ فَالْتَمَسْتُ عِقْدِى وَحَبَسَنِى ابْتِغَاؤُهُ وَأَقْبَلَ الرَّهْطُ الَّذِينَ كَانُوا يَرْحَلُونَ لِى، فَاحْتَمَلُوا هَوْدَجِى، فَرَحَلُوهُ عَلَى بَعِيرِى الَّذِى كُنْتُ رَكِبْتُ، وَهُمْ يَحْسِبُونَ أَنِّى فِيهِ، وَكَانَ النِّسَاءُ إِذْ ذَاكَ خِفَافًا لَمْ يُثْقِلْهُنَّ اللَّحْمُ، إِنَّمَا تَأْكُلُ الْعُلْقَةَ مِنَ الطَّعَامِ فَلَمْ يَسْتَنْكِرِ الْقَوْمُ خِفَّةَ الْهَوْدَجِ حِينَ رَفَعُوهُ، وَكُنْتُ جَارِيَةً حَدِيثَةَ السِّنِّ، فَبَعَثُوا الْجَمَلَ وَسَارُوا، فَوَجَدْتُ عِقْدِى بَعْدَ مَا اسْتَمَرَّ الْجَيْشُ، فَجِئْتُ مَنَازِلَهُمْ، وَلَيْسَ بِهَا دَاعٍ وَلاَ مُجِيبٌ، فَأَمَمْتُ مَنْزِلِى الَّذِى كُنْتُ بِهِ وَظَنَنْتُ أَنَّهُمْ سَيَفْقِدُونِى فَيَرْجِعُونَ إِلَىَّ فَبَيْنَا أَنَا جَالِسَةٌ فِى مَنْزِلِى غَلَبَتْنِى عَيْنِى فَنِمْتُ، وَكَانَ صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ السُّلَمِىُّ ثُمَّ الذَّكْوَانِىُّ مِنْ وَرَاءِ الْجَيْشِ، فَأَدْلَجَ فَأَصْبَحَ عِنْدَ مَنْزِلِى، فَرَأَى سَوَادَ إِنْسَانٍ نَائِمٍ، فَأَتَانِى فَعَرَفَنِى حِينَ رَآنِى، وَكَانَ يَرَانِى قَبْلَ الْحِجَابِ، فَاسْتَيْقَظْتُ بِاسْتِرْجَاعِهِ حِينَ عَرَفَنِى فَخَمَّرْتُ وَجْهِى بِجِلْبَابِى، وَاللَّهِ مَا كَلَّمَنِى كَلِمَةً وَلاَ سَمِعْتُ مِنْهُ كَلِمَةً غَيْرَ اسْتِرْجَاعِهِ، حَتَّى أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ فَوَطِئَ عَلَى يَدَيْهَا فَرَكِبْتُهَا فَانْطَلَقَ يَقُودُ بِى الرَّاحِلَةَ حَتَّى أَتَيْنَا الْجَيْشَ، بَعْدَ مَا نَزَلُوا مُوغِرِينَ فِى نَحْرِ الظَّهِيرَةِ، فَهَلَكَ مَنْ هَلَكَ، وَكَانَ الَّذِى تَوَلَّى الإِفْكَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَىٍّ ابْنَ سَلُولَ فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ، فَاشْتَكَيْتُ حِينَ قَدِمْتُ شَهْرًا، وَالنَّاسُ يُفِيضُونَ فِى قَوْلِ أَصْحَابِ الإِفْكِ، لاَ أَشْعُرُ بِشَىْءٍ مِنْ ذَلِكَ، وَهْوَ يَرِيبُنِى فِى وَجَعِى أَنِّى لاَ أَعْرِفُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم اللُّطْفَ الَّذِى كُنْتُ أَرَى مِنْهُ حِينَ أَشْتَكِى، إِنَّمَا يَدْخُلُ عَلَىَّ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَيُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُولُ « كَيْفَ تِيكُمْ ». ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَذَاكَ الَّذِى يَرِيبُنِى، وَلاَ أَشْعُرُ حَتَّى خَرَجْتُ بَعْدَ مَا نَقَهْتُ، فَخَرَجَتْ مَعِى أُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ الْمَنَاصِعِ، وَهْوَ مُتَبَرَّزُنَا، وَكُنَّا لاَ نَخْرُجُ إِلاَّ لَيْلاً إِلَى لَيْلٍ، وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ نَتَّخِذَ الْكُنُفَ قَرِيبًا مِنْ بُيُوتِنَا، وَأَمْرُنَا أَمْرُ الْعَرَبِ الأُوَلِ فِى التَّبَرُّزِ قِبَلَ الْغَائِطِ، فَكُنَّا نَتَأَذَّى بِالْكُنُفِ أَنْ نَتَّخِذَهَا عِنْدَ بُيُوتِنَا فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ، وَهْىَ ابْنَةُ أَبِى رُهْمِ

بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ، وَأُمُّهَا بِنْتُ صَخْرِ بْنِ عَامِرٍ خَالَةُ أَبِى بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَابْنُهَا مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ، فَأَقْبَلْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ بَيْتِى، قَدْ فَرَغْنَا مِنْ شَأْنِنَا، فَعَثَرَتْ أُمُّ مِسْطَحٍ فِى مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ. فَقُلْتُ لَهَا بِئْسَ مَا قُلْتِ أَتَسُبِّينَ رَجُلاً شَهِدَ بَدْرًا قَالَتْ أَىْ هَنْتَاهُ، أَوَلَمْ تَسْمَعِى مَا قَالَ قَالَتْ قُلْتُ وَمَا قَالَ فَأَخْبَرَتْنِى بِقَوْلِ أَهْلِ الإِفْكِ فَازْدَدْتُ مَرَضًا عَلَى مَرَضِى، فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى بَيْتِى وَدَخَلَ عَلَىَّ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم تَعْنِى سَلَّمَ ثُمَّ قَالَ « كَيْفَ تِيكُمْ ». فَقُلْتُ أَتَأْذَنُ لِى أَنْ آتِىَ أَبَوَىَّ قَالَتْ وَأَنَا حِينَئِذٍ أُرِيدُ أَنْ أَسْتَيْقِنَ الْخَبَرَ مِنْ قِبَلِهِمَا، قَالَتْ فَأَذِنَ لِى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَجِئْتُ أَبَوَىَّ فَقُلْتُ لأُمِّى يَا أُمَّتَاهُ، مَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ قَالَتْ يَا بُنَيَّةُ، هَوِّنِى عَلَيْكِ فَوَاللَّهِ، لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ قَطُّ وَضِيئَةً عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا وَلَهَا ضَرَائِرُ إِلاَّ كَثَّرْنَ عَلَيْهَا. قَالَتْ فَقُلْتُ سُبْحَانَ اللَّهِ وَلَقَدْ تَحَدَّثَ النَّاسُ بِهَذَا قَالَتْ فَبَكَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَصْبَحْتُ لاَ يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ، وَلاَ أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ حَتَّى أَصْبَحْتُ أَبْكِى فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم عَلِىَّ بْنَ أَبِى طَالِبٍ، وَأُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ - رضى الله عنهما - حِينَ اسْتَلْبَثَ الْوَحْىُ، يَسْتَأْمِرُهُمَا فِى فِرَاقِ أَهْلِهِ، قَالَتْ فَأَمَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَأَشَارَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم بِالَّذِى يَعْلَمُ مِنْ بَرَاءَةِ أَهْلِهِ، وَبِالَّذِى يَعْلَمُ لَهُمْ فِى نَفْسِهِ مِنَ الْوُدِّ، فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَهْلَكَ، وَمَا نَعْلَمُ إِلاَّ خَيْرًا، وَأَمَّا عَلِىُّ بْنُ أَبِى طَالِبٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَمْ يُضَيِّقِ اللَّهُ عَلَيْكَ وَالنِّسَاءُ سِوَاهَا كَثِيرٌ، وَإِنْ تَسْأَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ، قَالَتْ فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم بَرِيرَةَ فَقَالَ « أَىْ بَرِيرَةُ، هَلْ رَأَيْتِ عَلَيْهَا مِنْ شَىْءٍ يَرِيبُكِ ». قَالَتْ بَرِيرَةُ لاَ وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ، إِنْ رَأَيْتُ عَلَيْهَا أَمْرًا أَغْمِصُهُ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ، تَنَامُ عَنْ عَجِينِ أَهْلِهَا، فَتَأْتِى الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَاسْتَعْذَرَ يَوْمَئِذٍ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُبَىٍّ ابْنِ سَلُولَ، قَالَتْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ عَلَى الْمِنْبَرِ « يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ مَنْ يَعْذِرُنِى مِنْ رَجُلٍ، قَدْ بَلَغَنِى أَذَاهُ فِى أَهْلِ بَيْتِى، فَوَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِى إِلاَّ خَيْرًا، وَلَقَدْ ذَكَرُوا رَجُلاً، مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلاَّ خَيْرًا، وَمَا كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَهْلِى إِلاَّ مَعِى ».

فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ الأَنْصَارِىُّ، فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا أَعْذِرُكَ مِنْهُ، إِنْ كَانَ مِنَ الأَوْسِ،

ضَرَبْتُ عُنُقَهُ، وَإِنْ كَانَ مِنْ إِخْوَانِنَا مِنَ الْخَزْرَجِ، أَمَرْتَنَا، فَفَعَلْنَا أَمْرَكَ، قَالَتْ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَهْوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ، وَكَانَ قَبْلَ ذَلِكَ رَجُلاً صَالِحًا، وَلَكِنِ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ لِسَعْدٍ كَذَبْتَ، لَعَمْرُ اللَّهِ لاَ تَقْتُلُهُ، وَلاَ تَقْدِرُ عَلَى قَتْلِهِ، فَقَامَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَهْوَ ابْنُ عَمِّ سَعْدٍ، فَقَالَ لِسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ كَذَبْتَ، لَعَمْرُ اللَّهِ لَنَقْتُلَنَّهُ، فَإِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِينَ، فَتَثَاوَرَ الْحَيَّانِ الأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَقْتَتِلُوا، وَرَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَائِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يُخَفِّضُهُمْ حَتَّى سَكَتُوا وَسَكَتَ، قَالَتْ فَمَكُثْتُ يَوْمِى ذَلِكَ لاَ يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ وَلاَ أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ، قَالَتْ فَأَصْبَحَ أَبَوَاىَ عِنْدِى - وَقَدْ بَكَيْتُ لَيْلَتَيْنِ وَيَوْمًا لاَ أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ وَلاَ يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ - يَظُنَّانِ أَنَّ الْبُكَاءَ فَالِقٌ كَبِدِى، قَالَتْ فَبَيْنَمَا هُمَا جَالِسَانِ عِنْدِى وَأَنَا أَبْكِى، فَاسْتَأْذَنَتْ عَلَىَّ امْرَأَةٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَأَذِنْتُ لَهَا، فَجَلَسَتْ تَبْكِى مَعِى، قَالَتْ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ قَالَتْ وَلَمْ يَجْلِسْ عِنْدِى مُنْذُ قِيلَ مَا قِيلَ قَبْلَهَا، وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا، لاَ يُوحَى إِلَيْهِ فِى شَأْنِى، قَالَتْ فَتَشَهَّدَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم حِينَ جَلَسَ ثُمَّ قَالَ « أَمَّا بَعْدُ يَا عَائِشَةُ، فَإِنَّهُ قَدْ بَلَغَنِى عَنْكِ كَذَا وَكَذَا، فَإِنْ كُنْتِ بَرِيئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللَّهُ، وَإِنْ كُنْتِ أَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِى اللَّهَ وَتُوبِى إِلَيْهِ، فَإِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ بِذَنْبِهِ ثُمَّ تَابَ إِلَى اللَّهِ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ ». قَالَتْ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم مَقَالَتَهُ، قَلَصَ دَمْعِى حَتَّى مَا أُحِسُّ مِنْهُ قَطْرَةً، فَقُلْتُ لأَبِى أَجِبْ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فِيمَا قَالَ. قَالَ وَاللَّهِ مَا أَدْرِى مَا أَقُولُ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ لأُمِّى أَجِيبِى رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم. قَالَتْ مَا أَدْرِى مَا أَقُولُ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ فَقُلْتُ وَأَنَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ لاَ أَقْرَأُ كَثِيرًا مِنَ الْقُرْآنِ، إِنِّى وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَقَدْ سَمِعْتُمْ هَذَا الْحَدِيثَ حَتَّى اسْتَقَرَّ فِى أَنْفُسِكُمْ، وَصَدَّقْتُمْ بِهِ فَلَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ إِنِّى بَرِيئَةٌ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنِّى بَرِيئَةٌ لاَ تُصَدِّقُونِى بِذَلِكَ، وَلَئِنِ اعْتَرَفْتُ لَكُمْ بِأَمْرٍ، وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنِّى مِنْهُ بَرِيئَةٌ لَتُصَدِّقُنِّى، وَاللَّهِ مَا أَجِدُ لَكُمْ مَثَلاً إِلاَّ قَوْلَ أَبِى يُوسُفَ قَالَ ( فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ ) قَالَتْ ثُمَّ تَحَوَّلْتُ فَاضْطَجَعْتُ عَلَى فِرَاشِى، قَالَتْ وَأَنَا حِينَئِذٍ أَعْلَمُ أَنِّى

بَرِيئَةٌ، وَأَنَّ اللَّهَ مُبَرِّئِي بِبَرَاءَتِي، وَلَكِنْ وَاللَّهِ مَا كُنْتُ أَظُنُّ أَنَّ اللَّهَ مُنْزِلٌ فِى شَأْنِى وَحْيًا يُتْلَى، وَلَشَأْنِى فِى نَفْسِى كَانَ أَحْقَرَ مِنْ أَنْ يَتَكَلَّمَ اللَّهُ فِىَّ بِأَمْرٍ يُتْلَى، وَلَكِنْ كُنْتُ أَرْجُو أَنْ يَرَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فِى النَّوْمِ رُؤْيَا يُبَرِّئُنِى اللَّهُ بِهَا، قَالَتْ فَوَاللَّهِ مَا رَامَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم وَلاَ خَرَجَ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْبَيْتِ حَتَّى أُنْزِلَ عَلَيْهِ، فَأَخَذَهُ مَا كَانَ يَأْخُذُهُ مِنَ الْبُرَحَاءِ حَتَّى إِنَّهُ لَيَتَحَدَّرُ مِنْهُ مِثْلُ الْجُمَانِ مِنَ الْعَرَقِ، وَهْوَ فِى يَوْمٍ شَاتٍ مِنْ ثِقَلِ الْقَوْلِ الَّذِى يُنْزَلُ عَلَيْهِ، قَالَتْ فَلَمَّا سُرِّىَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم سُرِّىَ عَنْهُ وَهْوَ يَضْحَكُ، فَكَانَتْ أَوَّلُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا « يَا عَائِشَةُ، أَمَّا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فَقَدْ بَرَّأَكِ ». فَقَالَتْ أُمِّى قُومِى إِلَيْهِ. قَالَتْ فَقُلْتُ وَاللَّهِ، لاَ أَقُومُ إِلَيْهِ، وَلاَ أَحْمَدُ إِلاَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ. وَأَنْزَلَ اللَّهُ ﴿ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لاَ تَحْسِبُوهُ ﴾ الْعَشْرَ الآيَاتِ كُلَّهَا، فَلَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ هَذَا فِى بَرَاءَتِى قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رضى الله عنه وَكَانَ يُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحِ بْنِ أُثَاثَةَ لِقَرَابَتِهِ مِنْهُ، وَفَقْرِهِ وَاللَّهِ لاَ أُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحٍ شَيْئًا أَبَدًا بَعْدَ الَّذِى قَالَ لِعَائِشَةَ مَا قَالَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ ﴿ وَلاَ يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِى الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلاَ تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾ قَالَ أَبُو بَكْرٍ بَلَى، وَاللَّهِ إِنِّى أُحِبُّ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لِى، فَرَجَعَ إِلَى مِسْطَحٍ النَّفَقَةَ الَّتِى كَانَ يُنْفِقُ عَلَيْهِ، وَقَالَ وَاللَّهِ لاَ أَنْزِعُهَا مِنْهُ أَبَدًا. قَالَتْ عَائِشَةُ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَسْأَلُ زَيْنَبَ ابْنَةَ جَحْشٍ عَنْ أَمْرِى، فَقَالَ « يَا زَيْنَبُ مَاذَا عَلِمْتِ أَوْ رَأَيْتِ ». فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحْمِى سَمْعِى وَبَصَرِى، مَا عَلِمْتُ إِلاَّ خَيْرًا. قَالَتْ وَهْىَ الَّتِى كَانَتْ تُسَامِينِى مِنْ أَزْوَاجِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَعَصَمَهَا اللَّهُ بِالْوَرَعِ، وَطَفِقَتْ أُخْتُهَا حَمْنَةُ تُحَارِبُ لَهَا فَهَلَكَتْ فِيمَنْ هَلَكَ مِنْ أَصْحَابِ الإِفْكِ.

عائشه رضی الله عنها وايي: د رسول الله صلی الله عليه و سلم عادت دا وو چې کله به ئې د سفر اراده وکړه نو د خپلو مېرمنو تر منځ به ئې پچه واچوله او د چا په نامه چې به پچه وختله هغه به ئې ورسره بېوله، په يوې غزا (بني مصطلق يا مريسع) کې ئې زموږ تر منځ پچه واچوله چې زما په نامه وختله نو زه ورسره ولاړم، دا له هغه وروسته وو چې د حجاب حکم نازل شوی وو، زه په کجاوه کې ورل کېدلم او بيا به ئې له همدې کجاوې سره کوزولم، نو ولاړو تر هغه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم له دې غزا فارغ او بېرته ستون شو

او مدينې ته نژدې شوو، يوه شپه ئې د كاروان د حركت ږغ وكړ، زه د دوی له اعلان سره سم پاڅېدم او له لښکر آخوا تېره شوم، د حاجت له تر سره کولو وروسته خپلي كجاوې ته ستنه شوم، متوجه شوم چي زما هار چي د يماني مرغلرو وو شلېدلی (لوېدلی) دئ، نو د خپل هار په لټه کې شوم، د هار لټې وځنډولم، هغه ډله چي زما كجاوه به ئې پورته کوله راغلې او هغه ئې پورته کړې او زما پر اوښ ئې بار کړې او گمان ئې کړی چي زه په كجاوه كي يم، هغه وخت به د ښځو وزن كم وو، غوښي به درنې كړې نه وې، لږ خواړه به ئې خوړل، نو کله چي ئې كجاوه پورته کړې د هغې سپكوالي ته نه دي متوجه شوي، هغه مهال ډېره كمعمره وم، دوی اوښ پاڅولی او خوځېدلي، ما خپل آميل له هغه وروسته وموند چي لښكر روان شوی وو، د كاروان مېنې ته راغلم خو هلته نه غږ كوونكی وو او نه ځواب وركوونكی، نو خپل مخكيني ځای ته راغلم، گمان مي كاوو چي دوی به ژر زما په نشتوالي پوه شي او زما لوري ته به راستانه شي، نو په داسي حال كې چي ناسته وم سترگي مي ورغلې او ويده شوم، صفوان بن معطل السلمي ذكواني په لښكر پسي له شا راروان وو (رسول الله صلى الله عليه و سلم په همدې دندې گمارلی وو) او سهار زما ځای ته رارسېدلی وو، د ويده انسان سيوری ئې تر سترگو شوی وو، زما خواته راغلی، زه ئې پېژندلې يم، ځکه د حجاب تر حكم وړاندې ئې زه ليدلې وم، زما په ليدو سره ئې استرجاع وكړه (إنا لله و إنا إليه راجعون ئې وويل) او په همدې سره زه راويښه شوم، ما په خپل جلباب (پړوني) مخ پټ کړ، په الله قسم چي نه ئې له ما سره خبره کړې او نه مي له استرجاع پرته له ده بله كلمه اورېدلې، تر هغه چي خپل اوښ ئې راوست او په مخكينۍ پښو ئې چو کړ او زه پرې سپره شوم، روان شوو، اوښ ئې تر پړي نيولی وو او ترې مخكې روان وو، تر هغه چي لښکر ته ورسېدو چي په ټكنده غرمه كې ئې اړولې وو، (همدلته فتنه شروع شوه)، ځوک چي تباه كېدو هغه تباه شو، او چا چي د دې دروغجن تور ذمه په غاړه واخيستله عبدالله بن ابي بن سلول وو، مدينې ته ورسېدو، له رسېدو وروسته زه يوه مياشت ناروغه شوم او خلک د تور لگوونكو په خبرو كې بوخت ول، زه له دې ټولو بې خبره وم، خو د خپل مرض په حال كې دې خبرې په شک كي اچولم چي دا ځل له رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه لطف او مهرباني نه وينم چي تر دې وړاندې به ئې د مرض په حال كې راباندې درلوده، كله چي به راغی سلام به ئې واچاوو او وبه ئې فرمايل: دا څنگه ده؟ بيا به ولاړ، دغې خبرې په شك كې اچولم، خو له افک (دروغجن تور) تر هغه نه وم خبره چي جوړه شوم او راووتم، ام مسطح راسره يو ځای كنډوالو ته ووتلو، دا مو صحرا ته د وتلو ځای وو، موږ به صرف يوه شپه بله شپه وتلو، دا تر هغه د وړاندې وخت خبره ده چي موږ كورونو ته نژدې ټټي جوړې کړو، صحرا ته تېرېدو كې زموږ حال همغسې وو لكه د پخوانيو بانډه چيانو، موږ به له دې ځورېدو چي كورونو ته نژدې دا كار وكړو، نو زه او ام مسطح سره رواني شوو، هغه د ابي رهم بن عبد مناف لور او مور ئې د صَخْرِ بْنِ عَامِرٍ لور او د ابوبكر صديق رضى الله عنه خاله وه، زوی ئې مسطح بن اثاثه وو، زه او ام مسطح له صحرا بېرته د كور په لوري راروانې شوو، د ام

مسطح ښنه په خپل ټکري کي بنده شوه او ولوېده او وئې ویل: مسطح دي خوار شي، ما ورته وويل: ناوړه خبره دي وکړه، آيا داسي چا ته ښکنځلي کوې چي د بدر غزا کي ئې شرکت کړی؟ هغې راته وويل: اې خواره کی! آيا اورېدلي دي نه دي چي څه ئې ويلي؟ وائي: ورته ومي ويل: څه ئې ويلي؟ بيا ئې د افک د خاوندانو خبره راته وکړه، پدې سره مي مرض تر وړاندي زيات شو، نو کله چي کور ته ستنه شوم او رسول الله صلى الله عليه و سلم راغی، سلام ئې راکړ او وئې فرمايل: دا څنګه ده؟ ما ورته وويل: آيا اجازه راکوې چي د مور پلار کره مي ولاړه شم، وايي: دغه وخت زما نيت دا وو چي د دې خبري حقيقت له دوی دواړو معلوم کړم، رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه راکړه او زه د پلار کره ولاړم، مور ته مي وويل: مورې! دا خلک څه وايي؟ مور مي وويل: لورې! غم مه کوه، په الله تعالى قسم داسي ګلالۍ ښځه به کمه پيدا شي چي خاوند ته هم ګرانه وي او بني هم ولري او بيا دا ډول خبري ورپسي ونه شي، ما وويل: سبحان الله! آيا خلکو داسي خبري کړې دي؟

عائشه رضی الله عنها وايي: هغه شپه مي سهار کړه پرته له دې چي اوښکي مي تم شي او خوب مي سترګو ته راشي، تر هغه چي سهار شو او ما ژړل. چي وحي وځنډېده نو رسول الله صلى الله عليه و سلم علي بن ابي طالب رضی الله عنه او اسامه بن زيد رضی الله عنه وروغوښتل او له دوی دواړو سره ئې له خپلي مېرمني د بېلتون په اړه مشوره کوله، اسامه رضی الله عنه د هغې پوهي له مخي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اهل د برائت په اړه ئې درلوده او د هغه محبت له کبله چي په خپل زړه کي ئې ورسره درلود وويل: يا رسول الله! هغه (عائشه) رضی الله عنها ستا مېرمن ده، قسم په الله چي موږ له ښېګڼې پرته بل څه نه دي ترې ليدلي، خو علي بن ابي طالب رضی الله عنه وويل: يا رسول الله! الله تعالى درباندي تنګي نه ده راوستې او له دې پرته نوري ښځي هم ډېري دي، او پدې اړه له وينځي پوښتنه وکړه هغه به رښتيا درته ووايي. نو رسول الله صلى الله عليه و سلم بريره رضی الله عنها راوغوښته او ورته وئې فرمايل: آيا تا له عائشې رضی الله عنها داسي څه ليدلي چي په شک کي دي واچوي؟ بريره رضی الله عنها وويل: قسم په هغه ذات چي ته ئې په حقه رالېږلی يې ما هيڅ د شک وړ څه نه دي ترې ليدلي، له دې پرته مي بل داسي کار نه دئ ترې ليدلی چي هغه کشره نجلۍ ده، د خپلي کورنۍ لانده وړه به پر ځای پرېږدي، ويده به شي، څاروي به راشي او هغه به وخوري. نو رسول الله صلى الله عليه و سلم په همدې ورځ پاڅېد او د عبدالله بن ابي بن سلول په اړه ئې شکايت وکړ او په داسي حال کي چي پر منبر وو وئې فرمايل: اې مسلمانانو! د هغه سړي په وړاندي به څوک ما معذور وګڼئ (که په خلاف ئې څه وکړم) چي ماته ئې زما د کورنۍ په اړه اذيت رارسېدلی، قسم په الله تعالى چي ما له خپلي مېرمني له نېکي پرته بل څه نه دي ليدلي او دې خلکو په داسي يوه سړي تور لګولی چي ما له خير پرته بل څه نه دي ترې ليدلي او هغه هيڅکله له ما پرته زما کور ته نه دئ ننوتی.

نو سعد بن معاذ رضی الله عنه انصاري پاڅېد او وئې ويل! يا رسول الله! زه دي له دې سړي

بې غمه کوم، که هغه د اوس د قبیلې وي نو سر به ئې غوځ کړو او که زموږ د وروڼو خزرج له قبیلې وي نو هغه څه به ورسره وکړو چي ته ئې د کولو امر راته وکړې، پدې خبرو پسي سعد بن عباده رضی الله عنه چي د خزرج قبیلې سردار او تر دې وړاندي صالح انسان وو خو دلته قومي تعصب پرې غالب شو، پاڅېد او سعد بن معاذ رضی الله عنه ته ئې په خطاب کې وویل: دروغ وایې: قسم په الله که ئې ووژنې او داسي کولی هم نه شې، دلته اسید بن حضیر رضی الله عنه (د سعد بن معاذ د تره زوی) پاڅېد او سعد بن عباده رضی الله عنه ته ئې وویل: قسم په الله چي ته دروغ وایې، په والله چي وژنو به ئې، ته منافق یې او د منافقانو ملاتړ کوې، پدې سره دواړه قبیلې (اوس او خزرج) سره بربري شوې، نژدې وه چي لاس سره واچوي، په داسي حال کې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم پر منبر ولاړ وو، د دوی د آرامولو هڅه ئې کوله، تر هغه چي ټول چوپ شول، رسول الله صلی الله علیه و سلم هم چوپ شو، ما دا ورځ هم داسي تېره کړه چي نه مي اوښکي ودرېدې او نه مي خوب سترګو ته راغی، سهار مي مور او پلار راته راغلل په داسي حال کې چي ما دوې شپې او یوه ورځ ژړلي وو، نه مي اوښکي ودرېدلې وې او نه مي خوب سترګو ته راغلی وو، داسي ئې انګېرله چي له ژړا به مي زړه وچوي. عائشه رضی الله عنها وایي: په داسي حال کې چي مور او پلار مي را سره ناست وو او ما ژړل یوې انصاري مېرمني د ننوتو اجازه وغوښته، ما اجازه ورکړه، هغه راغله او کښېناسته او له ما سره ئې ژړا پیل کړه، په همدې حالت کي رسول الله صلی الله علیه و سلم راغی او کښېناست، له هغي ورځي رادېخوا نه وو راسره کښېنستی چي دا خبري شوې وې، په داسي حال کې چي یوه میاشت تېره شوې وه، او زما په اړه کومه وحي نه وه ورته شوې، وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له کښېناستو سره سم تشهد ووایو بیا ئې وویل: اې عائشې! ستا په اړه ما ته داسي خبري رارسېدلې دي، که چېري ته برئ او بې ګناه یې نو الله تعالی به حتمًا تا ته برائت درکړي او که په رښتیا ګناه درنه شوې وي نو له الله تعالی مغفرت وغواړه، توبه وباسه، ځکه بنده چي په ګناه اعتراف وکړي او توبه وباسي الله تعالی ئې توبه قبلوي. رسول الله صلی الله علیه و سلم چي خبري خلاصي کړې، ناڅاپې مي اوښکي وچې شوې، داسي چي یو څاڅکی مي هم نه احساسولو، پلار ته مي وویل: زما له طرفه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د هغه د وینا ځواب ورکړه! پلار مي وویل: قسم په الله چي زه نه پوهېږم رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څه ووایم، بیا مي مور ته وویل: ته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ځواب ورکړه، هغې هم وویل: و الله که پوهېږم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څه ووایم، عائشه رضی الله عنها زیاتوي: زه لا کشره وم او قرآنکریم مي هم ډېر نه وو لوستی، خو عرض مي وکړ: قسم په الله تعالی چي زه دومره پوهېدلې یم چي تاسو هغه خبري اورېدلې دي چي خلک ئې لاندي باندي کوي او همغه خبره ستاسو زړه ته لوېدلې او رښتیا ئې بولئ، نو که زه درته ووایم چي زه برئ او بې ګناه یم او خدای عالِم دئ چي زه برئ یم، خو تاسو به زما دا خبره نه منئ او که په داسي څه اعتراف درته وکړم چي الله شاهد دئ زه ترې پاکه او برئ یم تاسو به ئې

منئ، قسم په الله تعالی چې زما او ستاسو مثال د يوسف عليه السلام د پلار دئ چې ويلي ئې وو: (فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون: نو ښکلی صبر به کوم او له الله په هغه څه کې مرسته غوښتل کېږي چې تاسو ئې بيانوئ) (يوسف:١٨).
بيا مې مخ واړاوو او پر خپل بستر پر اړخ پرېوتم، او زه ښه پوهېدم چې بې گناه يم او الله تعالى به مې د برائت او پاکۍ تصديق کوي، خو په الله قسم چې دا گمان مې نه کولو چې الله تعالی به زما په اړه داسې وحي (په قرآن کې) نازله کړي چې تل به ئې تلاوت کېږي، ځان تر دې ډېر ووړ راته معلومېدو چې الله تعالی به زما په اړه داسې څه وايي چې تلاوت به ئې کېږي، خو دا هيله مې وه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به په خوب کې داسې رؤيا ويني چې الله تعالی به په هغې سره زما د برائت تصديق وکړي، وايي: په الله قسم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم لا له خپل ځای نه وو خوځېدلی او لا له خونې هيڅوک نه وو وتلی چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم وحي نازله شوه، او د تکليف همغه حالت پرې راغی چې د وحي د نزول په مهال به ورباندې راتلو، داسې چې په سړې ورځ کې به داسې خولې پرې راغلې چې د مرغلرو په څېر به څڅېدې، د هغې وحي د درندوالی له کبله چې پر ده به نازلېده، او کله چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه حالت لرې شو، په داسې حال کې ترې لرې شو چې خندل ئې او دا ئې لومړنۍ وينا وه: "اې عائشې! الله تعالی برائت درکړ"، مور مې راته وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ودرېږه، ما وويل: قسم په الله که ورته ولېږم او له الله تعالی پرته د بل هيچا شکر نه کوم، او الله تعالی دا آيتونه نازل کړل: (ان الذين جاؤوا بالافک عصبة منکم... ټول لس آيتونه، نو کله چې الله تعالی زما د برائت په اړه دا آيتونه نازل کړل، پلار مې ابوبکررضی الله عنه چې تر دې وخته ئې له مسطح بن اثاثه سره د خپلوۍ او د ده د فقر له کبله مرسته کوله، وويل: قسم په الله چې له دې وروسته به مسطح ته هيڅ څه نه ورکوم، د ده د هغې خبرې له کبله چې د عائشېرضی الله عنها په اړه ئې کړې وه، نو الله تعالی دا آيت نازل کړ: وَلَا يَأۡتَلِ أُوْلُواْ ٱلۡفَضۡلِ مِنكُمۡ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤۡتُوٓاْ أُوْلِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ٢٢ النور: ٢٢، نو ابوبکر رضی الله عنه وويل: ولې نه، قسم په الله چې دا خوښوم چې الله تعالی مغفرت راته وکړي، نو له مسطح سره ئې همغه مرسته بېرته پيل کړه چې تر دې وړاندې ئې ورسره کوله او وئې ويل: و الله چې هيڅکله به ئې ترې ونه سپموم.
عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له زينب بنت جحش رضی الله عنها هم زما په اړه پوښتنه وکړه او ورته وئې فرمايل: اې زينب! ته له څه خبره يې او څه دې ليدلي دي؟، هغې ورته وويل: يا رسول الله! خپل غوږ او سترگې ساتم، ما له نېکۍ او خير پرته بل څه نه دي ليدلي، عائشه رضی الله عنها وايي: او دا همغه مېرمن وه چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په مېرمنو کې ئې له ما سره سيالي او بنتوب کاوو، خو الله تعالی هغه د خپلې تقوی له برکته وساتله او خور ئې حمنه چې د دې لپاره جنگېده د هغه څه له

کبله تباه شوه چې تور لګوونکې ئې له کبله تباه شول.

دا روایت په بخاري کې اولس ځلې نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۹۳، ۲۶۳۷، ۲۶۶۱، ۲۶۸۸، ۲۸۷۹، ۴۰۲۵، ۴۱٤۱، ٤٦٩٠، ٤٧٤٩، ٤٧٥٧، ٥٢١٢، ٦٦٦٢، ٦٦٧٩، ٧٣٦٩، ٧٣٧٠، ٧٥٠٠، ٧٥٤٥

د پورتني روایت په اړه څو خبرې باید په پام کې ولرو:

- دا روایت د ګڼ شمېر داسي روایاتو ګډ مطلب او خلاصه ده چې تر منځ ئې کافي توپیرونه او تعارضات شته. پر نورو توپیرونو سربېره یو جدي توپیر ئې دا دئ چې په ځینو کې د سعد بن معاذ پر ځای د اسید بن حضیر نوم اخیستل شوی او په ځینو کې د دواړو نومونه. دا موضوع له دې کبله د پام وړ ده چې سعد بن معاذ رضی الله عنه د احزاب په جګړې کې ټپي شوی وو او د بني قریظه په اړه له حکمیت وروسته له همدې ټپ وفات شو، نو له دې وروسته په کومي غزوې کې د ده د ګډون وینا او دا چې ده په جومات کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: که تور لګوونکی د اوس له قبیلې وي نو سر به ئې غوڅ کړو؛ حقیقت نه لري.
- په روایت کې ویل شوي چې دا پېښه د حجاب د حکم له نازلېدو وروسته رامنځته شوې، دا خبره ښیي چې ګواکې دا پېښه به د احزاب له جګړې وروسته وي، حال دا چې ځیني روایات وایي چې دا پېښه د بني المصطلق له غزوې د راستنېدو په دوران کې رامنځته شوې، د بني المصطلق غزوه د المریسیع په نامه هم یاده شوې، د نېټې په اړه ئې درې قوله مومو: ابن التین ئې د شپږم هجري کال بولي، موسی بن عقبة ئې د څلورم او نور ټول ئې د پنځم هجري کال د شعبان یا شوال د میاشتي پېښه ګڼي، د احزاب جګړه له دې وروسته د همدې کال د ذي القعدې په میاشت کې رامنځته شوې!! د روایت دا برخه چې د حجاب حکم نازل شوی وو له هغو روایاتو سره تعارض لري چې دا د احزاب تر جګړې وړاندې پېښه بولي.
- محمد بن اسحق د احزاب غزوه د پنځم هجري کال د شوال په میاشت کې او د بني المصطلق غزوه د احزاب تر غزوې وروسته د شپږم هجري کال د شعبان په میاشت کې بولي. او دا رأیه د روایت له دې برخې سره تعارض لري چې وایي سعد بن معاذ رضی الله عنه د بني المصطلق له غزوې وروسته ژوندی وو او په جومات کې ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل چې د تور لګوونکې سر به غوڅ کړو!! د محمد بن اسحق د روایت له مخي هغه باید نژدې یو کال وړاندې وفات شوی وي!!
- تفهیم القرآن د النساء د سورې د تیمم اړوند آیت په اړه لیکي چې دا د بني المصطلق له جګړې د راستنېدو په دوران کې نازل شوی او وایي دا جګړه په پنځم هجري کال کې رامنځته شوې خو د النور په سوره کې د محمد بن اسحاق پورتنۍ رأیه تأییدوي او دا جګړه تر احزاب وروسته او د شپږم هجري کال د شعبان په میاشت کې بولي!!
- امام بخاري رحمة الله علیه د هار ورکېدو او د بني المصطلق په غزوې کې د تیمم د آیت د نزول په اړه روایت هم لري:

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِى بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ- أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ- انْقَطَعَ عِقْدٌ لِى، فَأَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى الْتِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِى بَكْرٍ الصِّدِّيقِ فَقَالُوا أَلاَ تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ أَقَامَتْ بِرَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَالنَّاسِ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ. فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِى قَدْ نَامَ فَقَالَ حَبَسْتِ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم وَالنَّاسَ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ. فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَعَاتَبَنِى أَبُو بَكْرٍ، وَقَالَ مَا شَاءَ الله أَنْ يَقُولَ، وَجَعَلَ يَطْعُنُنِى بِيَدِهِ فِى خَاصِرَتِى، فَلاَ يَمْنَعُنِى مِنَ التَّحَرُّكِ إِلاَّ مَكَانُ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى فَخِذِى، فَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم حِينَ أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ، فَأَنْزَلَ الله آيَةَ التَّيَمُّمِ فَتَيَمَّمُوا. فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ الْحُضَيْرِ مَا هِىَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِى بَكْرٍ. قَالَتْ فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِى كُنْتُ عَلَيْهِ، فَأَصَبْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ. (بخارى:٣٣٤)

د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشې رضى الله عنها روايت دئ چي وايي: په يوه سفر كې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره روان شوو، كله چي د (بيداء) او يا (ذات الجيش) سيمي ته ورسېدو، زما آميل (غاړگۍ) وشلېد، (ورک شو)، رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د لټون له امله ودرېد، خلک هم ورسره تم شول، په داسي حال كې چي اوبه ورسره نه وې، (د اوبو خوا ته هم نه ول)، خلک ابوبكر صديق رضى الله عنه ته ورغلل او ورته وئې ويل: آيا خبر نه يې چي عائشې رضى الله عنها څه كړي دي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم او خلک ئې تم كړل، په داسي حال كې چه نه د اوبو خوا ته دي او نه له دوى سره اوبه شته، ابوبكر رضى الله عنه په داسي حال كې راغى چي رسول الله صلى الله عليه و سلم زما پر ورون باندي سر ايښى وو او ويده شوى وو، راته وئې ويل: خلك دي تم كړل په داسي حال كې چه نه د اوبو خوا ته دي او نه له دوى سره اوبه شته، عائشه وايي: نو ابوبكر رضى الله عنه ورټلم او هغه څه ئې راته وويل چي الله تعالى غوښتل راته وئې وايي، او په خپل لاس سره ئې په ډډه ټومبلم، او زه يوازي دې خبري له خوځېدو منع كولم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل سر زما پر ورون ايښى وو، چي راپاڅېد او اوبه نه وې، نو الله تعالى د تيمم آيت رانازل كړ او خلكو تيمم وكړ، بيا اسيد بن حضير وويل: اې د ابوبكر كورنۍ! دا ستاسي لومړنى بركت نه دئ. عائشه رضى الله عنها وايي: بيا مو كله چي هغه اوښ چي زه پرې سپره وم له ځايه پاڅاوو، زما آميل مو ترې لاندي وموند.

دا روايت هم په بخاري كې يولس ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ٣٣٦، ٣٦٧٢، ٣٧٧٣،

٤٥٨٣، ٤٦٠٧، ٤٦٠٨، ٥١٦٤، ٥٢٥٠، ٥٨٨٢، ٦٨٤٤، ٦٨٤٥ چې تر منځ ئې دا جدي توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کې انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، په بل کې هَلَكَتْ قِلَادَةٌ لأَسْمَاءَ، په بل کې أَنَّهَا اسْتَعَارَتْ مِنْ أَسْمَاءَ قِلَادَةً فَهَلَكَتْ، په بل کې سَقَطَتْ قِلَادَةٌ لِي بِالْبَيْدَاءِ، په يوه کې فَبَعَثَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم رَجُلاً، فَوَجَدَهَا فَأَدْرَكَتْهُمُ الصَّلَاةُ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ فَصَلَّوْا، فَشَكَوْا، په بل کې فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ، فَأَصَبْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ، په يوه کې فَصَلَّوْا وَهُمْ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، فَأَنْزَلَ الله. يَعْنِي آيَةَ التَّيَمُّمِ، په بل کې، فَصَلَّوْا وَهُمْ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّصلى الله عليه و سلم فَأَنْزَلَ الله آيَةَ التَّيَمُّمِ، په بل کې حِينَ أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ فَأَنْزَلَ الله آيَةَ التَّيَمُّمِ او په بل کې اسْتَيْقَظَ وَحَضَرَتِ الصُّبْحُ فَالْتُمِسَ الْمَاءُ فَلَمْ يُوجَدْ فَنَزَلَتْ، په يوه کې وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي، په بل کې فَثَنَى رَأْسَهُ فِي حَجْرِي رَاقِدًا، په يوه کې وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي، په بل کې فَلَكَزَنِي لَكْزَةً شَدِيدَةً او په بل کې وَقَدْ أَوْجَعَنِي.

لکه چې ګورئ په دغو رواياتو کې کافي توپيرونه تر سترګو کېږي، له ځينو داسې معلومېږي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم له راپاڅېدو وروسته او کله چې دا معلومه شوې چې اوبه نشته نو د تيمم آيت نازل شوی، خو له ځينو معلومېږي چې خلکو بې اودسه لمونځونه کړي او سبا دا آيت نازل شوی، ځيني ئې وايي چې په هار پسې ځوك لېږل شوی او هغه سړي موندلی خو ځيني ئې وايي چې تر اوښ لاندي موندل شوی، او هغه مهال چې د عائشې رضی الله عنها د سورلۍ اوښ ئې له خپل ځايه پاڅولی. ځيني نور روايات بيا وايي چې عائشې رضي الله عنها دا هار هغه مهال په خپله موندلی وو چې قافله ترې تللې وه او دا ئې يوازې پرېښې وه، ګواکې د افك پېښه هم په همدې سفر کې رامنځته شوې وه!!

دلته څو پوښتني راولاړېږي: دا هار يو ځل ورك شوی که دوه ځلي؟ دا ورکېدا د تيمم په آيت پورې ارتباط لري که د افك په قضيې پورې؟ د بني المصطلق غزوه د احزاب تر غزوې وړاندې وه که وروسته؟ د تيمم په اړه خو دوه آيتونه نازل شوې، يو ئې د النساء ٤٣ آيت او بل ئې د المائدې ٦ آيت، دلته کوم آيت ته اشاره شوې؟ بخاري په بل ځای کې ويلي چې دا د المائدې د سورې آيت وو، حال دا چې د المائدې سوره تر دې پېښې ډېر وروسته لږ تر لږه تر يوه کال زياته موده وروسته نازله شوې ده!! دوهمه پوښتنه دا ده چې که دا د المائدې د سورې آيت وو نو تر دې د مخه خو د النساء د سورې آيت نازل شوی وو او په هغه کې د تيمم يادونه شوې وه نو صحابه وو څنګه بې تيممه لمونځ وکړ؟! د روايت له نورو برخو خو داسې معلومېږي چې د تيمم اړوند آيت په همدغه سفر کې نازل شوی، د دې خبرې نتيجه دا راوځي چې دا د النساء د سورې آيت دئ، ځکه چې د النساء سوره د څلورم هجري کال په لومړيو کې او المائده د اوم کال په لومړيو کې يا تر دې لږ د مخه نازله شوې ده. د رواياتو له مخې معلومېږي چې دا پېښه د بني المصطلق له غزوې د راستنېدو پر مهال رامنځته شوې وه، چې دا غزوه په پنځم هجري کال کې واقع شوې ده. که د تيمم اړوند آيت د بني المصطلق له غزوې د راستنېدو پر مهال نازل شوی وي نو بيا خو دا غزوه حتماً په څلورم هجري کال کې رامنځته شوې.

دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چې:

- د بني المصطلق غزوه تر احزاب وړاندې رامنځته شوې.
- د افك قضيه په همدې سفر پورې تړلې ده. په همدې سفر کې يوازې يو ځل د عائشې رضی الله عنها هار ورك شوی، ښايي دا به همغه هار وي چې عائشې رضی الله عنها له خپلې خور اسماء امانت اخيستی وو.
- د تيمم لومړی اړوند آيت تر دې غزوې وړاندې د النساء په سوره کې نازل شوی. په رواياتو کې هغه روايت تر نورو غوره او ارجح دئ چې دغه مهال نازل شوی آيت د النساء د سورې آيت ګڼي او له اودسه پرته د لمونځ کولو يادونه نه کوي، او وايي چې يو وخت لمونځ پاته شوی وو خو د رسول الله صلی الله عليه و سلم له راويښېدا وروسته د تيمم آيت نازل شوی.
- د افك په ارتباط هغه روايات ارجح دي چې د احزاب د سورې د حجاب اړوند آيت خبره نه کوي، ځکه دا سوره تر دې غزوې وروسته نازله شوې او هغه مهال سعد بن معاذ رضی الله عنه ژوندی وو.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ وَمَن يَتَّبِعۡ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَإِنَّهُۥ يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۚ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ أَبَدٗا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢١

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د شيطان په پلونو پسې مه درومئ، او څوك چې د شيطان په پلونو پسې ولاړ شي نو هغه ئې په فحشاء او منکر ګماري، او که پر تاسو د الله فضل او د ده رحمت نه وی نو ستاسو هيڅ يو به هيڅکله نه وو پاك شوی؛ خو الله هغه څوك پاکوي چې دی ئې وغواړي، او الله پوه اورېدونکی دئ.

---

(٢١)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې دي:

- د شيطان متابعت مه کوئ، هغه غواړي تاسو په ځان پسې روان کړي، وسوسې ئې تاسو فحشاء او منکر ته هڅوي.
- که الله تعالی د خپل فضل او رحمت وزر پر تاسو نه وی غوړولی نو ستاسو هيڅ يو به هيڅکله نه وو پاك شوی، د شيطان له وسوسو او د فحشاء او منکر له ارتکاب او په هغې فتنې کې له پرېوتو به نه وو ژغورل شوی.
- خو الله تعالی هغه څوك ترې وژغورو چې د خپل مشيت له مخې ئې د دې وړ مونډلی وو، الله تعالی پوه اورېدونکی دئ، پوهېږي چې چا څه کړي او څه ئې ويلي او څوك د خپل قول او عمل له مخې د دې وړ دئ چې الله تعالی د خپل فضل او رحمت وزر پرې وغوړوي.

وَلَا يَأۡتَلِ أُوْلُواْ ٱلۡفَضۡلِ مِنكُمۡ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤۡتُوٓاْ أُوْلِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾

او ستاسو فضلمن او وسمن دي له دې لوړه نه کوي چي خپلوانو، مسکینانو او د الله د لاري مهاجرینو ته څه ورکړي، او حتماً دي عفو وکړي او مخ دي واړوي (سترګي دي پرې پټي کړي)، آیا دا نه خوښوئ چي الله تاسو ته بخښنه وکړي؟ او الله مهربان بخښونکی دئ

(۲۲)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې:

- ستاسو فضلمن او وسمن دي له خپلوانو، مسکینانو او د الله د لاري له مهاجرینو سره خپلي مرستي نه سپموي او دا لوړه دي نه کوي چي هغوی ته به څه نه ورکوي، له دې کبله چي هغوی کومه اشتباه او غلطي کړې وي.
- که دغو خپلوانو، مسکینانو او د الله د لاري مهاجرینو کومه غلطي کړې نو حتماً عفو ورته وکړئ او سترګي پرې پټي کړئ.
- آیا دا نه خوښوئ چي الله تاسو ته بخښنه وکړي؟ یعني د دې عفوی او سترګو پټولو بدله دا ده چي الله تعالی به ستاسو ګناهونه درته وبخښي.
- تاسو پر هغه رب ایمان لرئ چي مهربان بخښونکی دئ، نو له مؤمنانو سره ستاسو په چلن کې باید همدا د بخښني او پېرزویني خصلتونه راڅرګند شي.
- دا پوښتنه راولاړېږي چي دا آیت له مخکینیو سره څه تړاو لري؟ ځواب دا دئ چي د افك په پېښې کې مؤمنانو ته سخته صدمه رسېدلې وه، ټول ئې سخت ځورولي وو، د هغو خلکو په وړاندي جدي کرکه او حساسیت راولاړ شوی وو چي دا افتراء ئې له ځانه جوړه کړې وه، یا د منافقینو د تبلیغاتو تر اغېز لاندي تللي وو، د دوی خبره ئې منلې وه او یوه بل ته ئې کړې وه. د افتراء له تردید وروسته داسي لارښوونې ته ضرورت وو چي د مؤمنانو دا حساسیت او غصه راکمه کړي او نه یوازي د جدي او توند غبرګون مخنیوی وکړي بلکي له خپلوانو، مسکینانو او د الله د لاري له مهاجرینو سره د عفوي او بخښني له مخي چلن وکړي او له دوی سره خپلي مخکیني مرستي ونه سپموي. د دې یوه بېلګه په مخکیني روایت کې راغلې چي ابوبکر رضی الله عنه له هغه چا سره د خپلو مخکینیو مرستو د بندولو لوړه وکړه چي د تور لګوونکو په ډلې کې شامل شوی وو، خو د دې مبارك آیت په اورېدو سره ئې وویل: ولې نه، قسم په الله چي دا خوښوم چي الله تعالی مغفرت راته وکړي، نو له مسطح سره ئې همغه مرسته بېرته پیل کړه چي تر دې وړاندي ئې ورسره کوله او وئې ویل: و الله چي هیڅکله به ئې تري ونه سپموم.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡغَٰفِلَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ لُعِنُواْ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ
وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٢٣﴾ يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ أَلۡسِنَتُهُمۡ وَأَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم بِمَا
كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٤﴾ يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلۡحَقَّ وَيَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ
ٱلۡمُبِينُ ﴿٢٥﴾

يقيناً هغه چې پاك لمنې، صاف زړې مؤمناني تورنوي په دنيا او آخرت كې لعنت شوي او دوى ته ستر عذاب دئ. هغه ورځ چې د دوى ژبې، لاسونه او پښې به پر هغه څه د دوى خلاف شهادت وركوي چې دوى كول. په دې ورځ به الله د دوى رښتينې سزا په بشپړه توگه وركړي او دوى به پوه شي چې الله ښكاره حق دئ.

(٢٤-٢٥)- د دې مباركو آيتونو لارښوونې دا دي:

- څوك چې داسې مؤمني مېرمني تورنوي چې پاك لمنې دي، زړونه ئې صاف دي، نه ئې كله پر پاكې لمنې د گناه داغ لگېدلى او نه د فحشاء په چل او چم پوهېږي، د هغه سزا په دنيا او آخرت كې الهي لعنت او ستر عذاب دئ. په دې آيت كې د دغو پاك لمنو مېرمنو يوه ځانگړتيا د الغافلات په صيغه ياده شوې، د غافل اصلي معنى بې خبر ده، په دې سره د دوى هغه ساده توب، صاف زړه توب او صفايي انځور شوې چې د گناه چم او چل ئې صفا زړه ته لار نه وي موندلې او د فساد خيري ئې پر ذهن او زړه نه وي كښېنستې، هر چا ته د صالح او متقي انسان په سترگه گوري او په هر چا د پاك لمنې مؤمن گمان كوي.
- پر دغو تور لگوونكو به د قيامت په ورځ او د الله تعالى په وړاندې د دوى ژبې، لاسونه او پښې پر هغه څه د دوى خلاف شهادت وركوي چې دوى كول. ژبې به ئې گواهي وركوي چې دروغ ئې ويلي وو او دروغجنه افتراء ئې كړې وه، ژبې به ئې داسې په خپل واك كې نه وي لكه په دنيا كې چې هر لوري ته ئې خوځولې او هر څه ئې پرې ويلى شوى، يوازې رښتيا به پرې ويلى شي، لاسونه او پښې به ئې گواهي وركوي چې دوى په گنده كارونو بوخت ول او همدغو گنده كارونو پر پاك لمنو تور لگولو ته هڅولي وو، د فساد او گناه په گنده ډنډ كې نښتي انسانان دا خوښوي چې پاك لمنې تورن كړي او ټولنې ته ئې د ځان په څېر معرفي كړي، دوى غواړي ټولنه د دوى په رنگ كې رنگ شي، په داسې ټولنې كې ئې نفس تنگېږي او گوزاره كول ورته گرانېږي چې د تقوى او پاك لمنۍ غوښتنه كوي، په داسې محيط كې خوښ وي چې فساد او گناه خپل تور وزر پرې خور كړى وي او د هر كور او هرې خونې دروازه ئې ټكولې وي، دوى هم په خپلو ژبو سره او هم په خپلو كړنو سره غواړي ټولنه همداسې شي، پر پاك لمنو د تور لگولو موخه ئې همدا وي.
- الله تعالى به د قيامت په ورځ د دوى رښتينې سزا په بشپړه توگه وركړي او دوى به پوه

شي چې الله تعالی څرګندوونکی حق دئ، په خپله ښکاره او څرګند حق دئ او حقائق څرګندوي، هلته به دوی ته معلومه شي چې د الله تعالی په اړه ئې شکونه ناسم وو، همدغو شکونو، کمزورې او کمرنګه ایمان د ګناه کولو جسارت ورکړی وو.

ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَۖ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٢٦

دا پلیتې مېرمنې د دغو پلیتو نارینه وو لپاره دي او دا پلیتان د دغو پلیتو مېرمنو لپاره، او دا پاکانې د دغو پاکانو لپاره دي او دا پاکان د دغو پاک لمنو مېرمنو لپاره، دوی له هغه څه مبراء دي (لمن ئې پاکه ده) چې دوی (تور لګوونکي) ئې وايي، دوی ته بخښنه او غوره رزق دئ.

(۲٦)- د دې مبارك آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- مخکينيو آیتونو ته په پام سره دلته د الخبیثٰت او الخبیثون اطلاق په پلیتو ښځو او پلیتو نارینه وو باندې شوی، که څه هم د دغو صیغو اطلاق په نورو پلیتو شیانو هم کېدی شي. خو د دغو صیغو نور تعبیرونه له موضوع سره مناسبت نه لري.
- دا آیت د افك د تردید په اړه یو بل مضبوط دلیل زموږ په وړاندې ږدي او وايي: پلیتې مېرمنې د پلیتو نارینه وو لپاره وي او پلیتان د پلیتو مېرمنو لپاره، او پاکانې د پاکانو لپاره وي او پاکان د پاکو مېرمنو لپاره، دوی له هغه څه مبراء دي او لمن ئې ترې پاکه ده چې تور لګوونکي ئې وايي، دوی ته بخښنه او غوره رزق دئ. یعنې پاك لمنې به د پاك لمنو او بد لمنې به د بدلمنو په خوا کې وګورئ، د اوږدې ملګرتیا لپاره د خصلتونو او سلیقو یورنګوالی ضروري دئ، دا نشي کېدی چې د دوو متضادو شخصیتونو خاوندان د اوږدې مودې لپاره یو د بل په څنګ کې پاته شي، یوازې هغه خلك یو د بل په څنګ کې پاته کېدی شي چې له فکري او اخلاقي پلوه سره نژدې او ورته وي، تل به مفسد د مفسد په څنګ کې، منافق د منافق خوا ته، ظالم د ظالم مل، مشرك د مشرك خواخوږی، مؤمن د مؤمن په څنګ کې او پاك لمنې د پاك لمنو په خوا کې وموميئ. د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر د لوړو اخلاقو او سجایاوو مالك شخصیت، د ژور معنوي اغېز مالك، د تقوی او پاك لمنۍ بېلګه او اسوه، د رب العالمین د ستر او ځلانده پيغام حامل، هغه چې الله تعالی د ټول بشریت لپاره د لارښود او معلم په توګه غوره کړی، د ده په خوا کې او د ده تر روزنې لاندې چې څوك اوږده موده پاته شي، څنګه ګمان کوئ چې هغه به د ګناه لورې ته تمایل ښيي؟!! څنګه ګمان کوئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به مشکوك او مشبوه شخصیتونه په خپلې خوا کې ومني؟!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ

عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٢٧ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدٗا
فَلَا تَدۡخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرۡجِعُواْ فَٱرۡجِعُواْۖ هُوَ أَزۡكَىٰ
لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٢٨ لَّيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا
غَيۡرَ مَسۡكُونَةٖ فِيهَا مَتَٰعٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ٢٩

اې مؤمنانو! داسې کورونو ته مه ننوځئ چې ستاسو خپل کورونه نه وي؛ تر هغه چې موافقه (اجازه) وغواړئ او پر خاوندانو (هستوګنو) ئې سلام واچوئ؛ همدا درته غوره دئ؛ ښايي پند واخلئ؛ او که په هغه کې هيڅوك ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ چې اجازه درکړى شي؛ او که درته وويل شي: ستانه شئ؛ نو ستانه شئ؛ همدا درته ښه پاکيزه (طريقه) ده؛ او الله په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ. په دې کې څه ګناه درباندې نشته چې داسې کورونو ته (له اجازې پرته) ننوځئ چې ناهستوګن وي او په هغه کې ستاسو لپاره کومه متاع (د استفادې وړ شى) وي، او الله په هغه څه چې تاسو ئې ښکاره کوئ او په هغه څه چې تاسو ئې پټوئ ښه پوهېږي.

(٢٧-٢٩)- په دې مبارکو آيتونو کې لاندې مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

- مؤمنانو ته ويل شوي: داسې کورونو ته مه ننوځئ چې ستاسو خپل کورونه نه وي؛ تر هغه چې موافقه (اجازه) وغواړئ؛ او پر هستوګنو ئې سلام واچوئ؛ همدا درته غوره دئ؛ يعني د بل کور ته د ننوتلو لپاره به دوه خبرې په پام کې لرئ: لومړى دا چې د کور د خاوند او هستوګن موافقه او اجازه به تر لاسه کوئ؛ دلته د استئذان (اجازه غوښتلو) پر ځاى د تستأنسوا صيغه کارول شوې چې رضايت او موافقه افاده کوي او معنى ئې دا ده چې د بل کور ته په هغه صورت کې ننوځئ چې هغه ستاسو له ورتلو سره موافق وي او د اجازې ورکولو ته اړ شوى نه وي؛ داسې نه چې هغه اجازې ورکولو ته اړ شوى وي، په وار وار او تر هغه دې دروازه ورټکولې وي چې ناچار درته پرانېزي او د ننوتلو اجازه درکړي او يا د ده له خوښې او موافقې پرته ورننوځې؛ دوهمه دا چې پر اوسېدونکو به سلام اچوئ؛ دا سلام يوازې د معاشرتي آدابو يوه برخه نه ده چې له اخلاقي پلوه ئې مراعات ضروري دئ او يوازې يوه دعاء هم نه ده؛ بلکې دا هستوګن ته د ځان له لورې د سلامتيا پيغام او د تاوان نه رسولو ډاډ ورکول او له هغه سره ژمنه هم ده؛ له همدې پيغام سره به د بل کور ته ننوځئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ، دا د ډېرو ناخوالو مخنيوى کوي، هم له اخلاقي پلوه او هم له معاشرتي پلوه. خو دې ته مو پام وي چې دا نه يوازې د ټولنې د افرادو تر منځ معاشرتي دود او ادب دئ بلکې د ټولنې په کچه او د دولت او وګړو تر منځ د يوه قانون او الهي لارښوونې حيثيت لري؛ نه يوازې اشخاص حق نه لري د بل کور ته ننوځي، د دروازې

له چاك او چاود، يا د بام له سر او له كومې لوړې د بل د كور منځ ته وگوري، يا خپل كور داسې جوړ كړي چې د بل پر كور مشرف وي او منځ ئې ترې وليدی شي؛ بلكې د اسلامي حكومت هيڅ چارواكی حق نه لري د چا كور ته د شرعي محكمې له پرېكړې او د كور خاوند له موافقې پرته داخل شي؛ كه دا د پلټنې په موخه وي او كه د كوم مجرم د نيوني په موخه.

• كه په كوم كور كې هيڅوك ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ چې اجازه دركړی شي؛ يعني تشو كورونو ته مه ننوځئ؛ كه ننوتو ته اړ شوئ نو له اجازې وروسته ورننوځئ.

• كه د كوم كور دروازې ته ودرېدئ، د ننوتلو اجازه مو وغوښته او د كور له منځه مو د ننوتلو اجازه تر غوږ نه شوه او يا درته وويل شول چې ستانه شئ؛ نو ستانه شئ؛ په دروازې كې له مزيد ودرېدا او تر درې واري زيات د دروازې له ټكولو او د اجازې له غوښتلو ډډه وكړئ، په دې مه ناراضه كېږئ چې د ننوتلو اجازه درنه كړی شي، يا درته وويل شي چې اوس ستون شه او بل وخت راشه؛ همدا درته ښه پاكيزه او د پاكوالي ضامنه طريقه ده؛ الله تعالی ستاسو پر ټولو كړنو او ښو او بدو پايلو او اغېزو ئې ډېر ښه پوهېږي؛ د خپل بشپړ علم له مخې تاسو ته لارښوونه كوي چې همداسې وكړئ او په همدې كې ستاسو خير مضمر دئ.

خو كه داسې كور ته د ننوتلو ضرورت احساس كړئ چې ناهستوگن وي او په هغه كې ستاسو لپاره كومه متاع او د استفادې وړ شی وي، نو په دې كې څه گناه درباندې نشته چې داسې كورونو ته له اجازې پرته ننوځئ.

• الله تعالی پوهېږي چې تاسو يوه تش يا ډك كور ته په كوم نيت ننوځئ، د كوم پټ كار اراده لرئ كه د كوم ښرگند كار، په نېك نيت ننوځئ كه په بد نيت، تشو كورونو ته ننوتل ډېر ځلې په دې نيت وي چې څوك غواړي د نورو له نظره پټ كوم كار وكړي، نو ځكه دلته ويل شوي چې الله تعالی په هر هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې په ښرگنده يا په پټه توگه كوئ.

• كه څه هم په دې آيت كې موږ ته دا لارښوونه شوې چې د چا كور او استوگنځي ته د هغه له موافقې او اجازې پرته داخل نشو، خو د دې لارښوونې لازمي مقتضی دا ده چې له هر هغه عمل هم ډډه وكړو چې د بل كور ته له اجازې او موافقې پرته د دخول او ننوتلو په معنی تعبيرېږي، لكه تجسس، دا هڅه چې پوه شو په دې كور كې څه تېرېږي، د دېوال له شا، د دروازې له چاود او د بل بام له سر د كور منځ ته كتل، له لري په دوربين سره د كور منځ څارل، د ټيلفون غږ ئې ثبتول، استراق السمع او داسې وسائل لگول چې د استوگن غږ واورېدی شي دا ټول د دې لارښوونې خلاف كړني دي. كه كوم كور يا خونه دروازه نه لري، يا داسې پرده پرې ځوړنده وي چې د كور او خونې منځ ترې معلومېږي، نو داسې ودرېدل د دې لارښوونې خلاف عمل دئ چې لومړی ځان كوربه ته وروښيې، يا د كور منځ ته وگوري، يا د استوگن د ليدو هڅه وكړي او بيا د ننوتلو اجازه وغواړي.

• دا پوښتنه هم راولاړېږي چې د بل كور ته تر ننوتلو وړاندې لومړی سلام اچول دي كه د ننوتلو اجازه غوښتل؟ ځواب دا دئ چې د آيت له مخې لومړی استئناس دئ او بيا سلام،

لومړی دروازه ټکول دي، کله چې ورته معلومه شي چې په کور کې څوك شته او د ده غږ اوري نو بيا سلام اچول او د ننوتلو اجازه غوښتل دي. که د ټيلفون له لاري د اجازې غوښتل ممکن وي نو لومړی ټيلفون کول دي، بيا سلام اچول او بيا د ننوتلو اجازه او موافقه تر لاسه کول دي.

د دې مطلب په ښه پوهېدو دا روايات زموږ مزيد مرسته کوي:

عن ابى هريرة أَنَّ رَسُول اللَّه صلى الله عليه و سلم قَالَ: مَنْ اِطَّلَعَ فِي بَيْت قَوْم فَفَقَئُوا عَيْنه , فَلَا دِيَة لَهُ وَلَا قِصَاص " رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

عن أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ:«مَنِ اطَّلَعَ فِى دَارِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ فَفَقَئُوا عَيْنَهُ هُدِرَتْ عَيْنُهُ » رواه ابو داؤد

امام شافعي د دغو رواياتو ظاهري الفاظو ته په پام سره وايي چې که څوك د بل چا د کور منځ ته نظر وکړي او هستوګن ئې د هغه سترګه ړنده کړي ديت او قصاص پرې نشته. خو احناف په دې عقيده دي چې دا حکم د داسي حالت اړوند حکم دئ چي څوك له اجازې پرته د بل کور ته ننوځي، کوربه ئې مخنيوی وکړي، سره لاس او ګرېوان شي، په دې ترڅ کې د ننوتونکي سترګه ړنده شي، نو د کور پر خاوند ديت او قصاص نه لازمېږي. بايد ووايو چې د چا کور ته د دروازې له چولې کتل دومره ستر جرم نه دئ چي سزا ئې د سترګې ړندول وي. د اړوند روايت غوره توجيه همغه ده چې احناف ئې وړاندي کوي.

عن عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لاَ تَسْتُرُوا الْجُدُرَ مَنْ نَظَرَ فِى كِتَابِ أَخِيهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَإِنَّمَا يَنْظُرُ فِى النَّارِ. سنن ابى داؤد

له عبد الله بن عباس رضى الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: د دېوالونو له پردې مه اوړئ، چا چي د خپل ورور ليك ته د هغه له اجازې پرته وکتل نو اور ته ئې کتلي. يعني دا داسي ګناه ده چي د دوزخ اور ورپه برخه کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"إِذَا دَخَلَ الْبَصَرُ فَلا إِذْنَ" المعجم الكبير للطبرانى

له ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: کله چي سترګه ننوځي بيا اجازه نشته، يعني کله چي څوك د بل کور او خوني ته نظر وکړي بيا نو د اجازې اخيستو ضرورت او ارزښت منتفي شي، هغه اجازه هيڅ ارزښت نه لري چي له کتلو وروسته وي.

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم سَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّى؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَعَمْ فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّى مَعَهَا فِى الْبَيْتِ،

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا، فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي خَادِمُهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً ؟ قَالَ: لا، قَالَ: فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا.

سنن البيهقى

له عطاء بن يسار رضى الله عنه روايت دئ چي يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وکړه او وئي ويل: يا رسول الله! آيا د خپلي مور خوني ته د ورتلو په وخت کې به هم ترې اجازه غواړم؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هو؛ هغه سړي وويل: زه خو له هغې سره په يوه کور کې اوسېږم، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له هغې اجازه غواړه، هغه سړي وويل: زه ئې خادم يم، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: آيا دا خوښوې چي بربنډه ئې وګورې؟ وئي ويل: نه، وئي فرمايل: نو اجازه ترې غواړه.

---

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ وَيَحْفَظُواْ فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ۝٣٠ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُوْلِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُواْ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝٣١

مؤمنانو ته ووايه چي د خپلو سترګو (کتل) راکم کړي او خپل عورت وساتي، دا ورته ډېر غوره دئ، يقيناً چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي دوى ئې کوي. او باايمانه ښځو ته ووايه چي د خپلو سترګو (کتل) راکم کړي، او خپل فروج وساتي او خپله ګاڼه ښکاره نه کړي، مګر هغه ئې چي ښکاره وي او خپل ټکري دي په خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دي له خپلو مېړونو، خپلو پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو زامنو، خپلو وروڼو، وربرونو، خورييو، خپلو ښځو، خپلو وينځو، هغو تر لاس لاندي سړو چي بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چي د ښځو په عورت

خبر نه دي بل چا ته نه څرګندوي او خپلې پښې دې داسې (پر زمکه) نه وهي چې هغه ګاڼه ئې معلومه شي چې پټوي ئې او اې مؤمنانو! ټول د الله لورې ته رجوع او توبه وکړئ چې بریالي شئ.

(۳۰-۳۱)- د دغو مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- مؤمنان په دې ګمارل شوي چې د خپلو سترګو کتل راکم کړي او خپل عورت وساتي، دلته د سترګو په اړه د (یغضوا) صیغه کارول شوې چې کمول افاده کوي، او دې ته په پام سره چې ترې وروسته د عورت (شرم ځای) ساتنه راغلې نو مطلب ئې پردې او نامحرم ته له داسې کتنې ډډه کول دي چې شهوت پاروي، لکه پر له پسې او زیات کتل او هغه هم د شهوت په نظر، ورپسې ویل شوي چې دا ورته ډېر غوره دئ، یعنې همدا کار له اخلاقي پلوه ورته غوره دئ، په ګناه کې له پرېوتو ئې ساتي، او د آیت په پای کې ویل شوي چې الله تعالی په هغه څه ښه خبر دئ چې دوی ئې کوي. یعني دا لارښوونې د هغه الله تعالی له لورې دي چې د انسان د کړنو او عملونو د پایلو او نتائجو په اړه بشپړ علم لري، د همدې جامع او کامل علم له مخې ئې دا لارښوونې ورته کړې دي.
- با ایمانه ښځې هم په دې ګمارل شوې چې د خپلو سترګو کتل راکم کړي او خپل عورت وساتي او خپل زینت ځرګند نه کړي، مګر هغه ئې چې ځرګند وي. که څه هم په مخکیني آیت کې حکم ټولو (نارینه وو او ښځو) ته متوجه وو، خو له دې کبله چې ښځو ته ځینې نورې لارښوونې ضروري وې نو ځکه مخکینی حکم بیا تکرار شوی او پر هغه سربېره د خپل زینت نه ښودو لارښوونه هم ورته شوې. دلته څو پوښتنې راولاړېږي: د زینت معنی څه ده؟ آیا مراد ئې ګاڼه او زینتي شیان دي، که د بدن سینګار شوي غړي او که په خپله جمال، ښکلا او ښایست؟ کوم څه ته ځرګند زینت ویل شوي او له نه ښودلو مستثنا شوي؟ په دې اړه څو خبرې باید په پام کې ولرو:

۱. د زینت معنی باید تر ټولو وړاندې په قرآن کې او مخصوصاً د دې آیت شاوخوا کې ولټوو او وګورو چې دلته په کومه معنی راغلی، دا صحیح نه ده چې د خپلې سلیقې او خوښې معنی ورواغوندو. په همدې آیت کې ویل شوي: (وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ: او خپلې پښې دې داسې (پر زمکه) نه وهي چې هغه ګاڼه ئې معلومه شي چې پټوي ئې)، دا فقره په ډېر وضاحت سره ښیي چې دلته زینت د ګاڼې په معنی راغلی، ځکه پر زمکه د پښو په کلکو وهلو سره یوازې پټه ګاڼه ځرګندېږي او غږ ئې اورېدل کېږي او د نامحرم توجه جلبوي، نه بل څه، که دلته زینت له ګاڼې پرته په بله معنی نه شو اخیستی نو په مخکینیو کې ئې هم په بله معنی اخیستل بې دلیله خبره ده. دا صحیح نه ده چې څوك له خپله ځانه زینت د جمال او ښکلا په معنی تعبیر کړي او ادعاء وکړي چې مراد ترې مخ، سترګې او شونډې دي، په دې فقرې کې او ترې وړاندې فقرې کې چې وايي: (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا: او خپله ګاڼه دې نه ځرګندوي، مګر هغه ئې چې ځرګنده وي) زینت

د ګاڼې په معنی راغلی او له ګاڼې پرته ئې په بلې معنی قطعاً نه شو اخیستی، له دواړو په څرګنده توګه معلومېږي چې له زینت مراد ګاڼه ده، ځکه په مخکیني کې (ما ظهر منها) او په دې کې (ما یخفین من زینتهن) ویل شوي، پر زمکه د پښې کلك وهلو سره له ګاڼې پرته بل څه نه څرګندېږي، نو اطلاق ئې په بل څه نشي کېدی. که له (ما یخفین) مراد ګاڼه وي نو له (ما ظهر منها) هم له ګاڼې پرته بل څه مرادول اشتباه ده. که څه هم زینت له ګاڼې علاوه په نورو معانیو هم راغلی وي. د قرآن په هیڅ آیت کې زینت د انسان د جمال، ښکلا او ښایست په معنی نه دئ راغلی، په مخ، شونډو او سترګو او نورو ښایسته برخو ئې اطلاق نه دئ شوی.

٢. له (ما ظهر منها)؛ نه مراد مخ دئ او نه جامه، بلکې هغه ګاڼه ده چې ښځې ئې په مخ او لاسونو کې کاروي، لکه ګوتې، ټیك، ډیډې (والۍ)، او غاړګۍ. البته د ګاڼې د نه څرګندولو مراد په اصل کې د وجود هغه برخه نه څرګندول دي چې د تزئین لپاره ئې ګاڼه کارول کېږي، لکه غاړه، سینه، غوږونه، پزه او نور غړي. د آیت له دې برخې دا هم معلومېږي چې که ښځو خپل مخ سینګار کړی وي، سترګې ئې توري او شونډې ئې سرې کړې وي ورته روا نه دي چې لوڅ ئې کړي، ځکه چې د زینت له څرګندولو منع کړی شوې دي. او زینت په اصل کې د دې لپاره وي چې د بل توجه ځان ته جلب کړي، هر هغه کار چې ښځې ئې د نامحرم د توجه راجلبولو لپاره وکړي ناروا دئ.

٣. ښځو ته لارښوونه شوې چې خپل ټکري دي پر خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دي له خپلو مېړونو، پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو له زامنو، خپلو وروڼو، وربرونو، خوریيو، خپلوانو ښځو، خپلو وینځو، هغو تر لاس لاندي سړیو چې بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چې د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه څرګندوي او خپلې پښې دي داسې پر زمکه نه وهي چې پټه ګاڼه ئې معلومه شي. دلته هم څو پوښتني راولاړېږي: پر ګرېوان د ټکري اچولو معنی څه ده؟ آیا معنی ئې دا ده چې خپل ټکری به پر مخ داسې اچوي چې ګرېوان ئې هم پټ کړي؟ او که ئې معنی دا ده چې د ټکري یوه پیڅه به پر خپلې غاړې داسې راتاو کړي چې غاړه او ګرېوان ئې هم ورپټ کړي؟ په دې اړه هم د صحابه وو تر منځ د رأيي اختلاف تر سترګو کېږي او هم د فقهاءو او محدثینو تر منځ، هم د مخکینیو او هم د وروستنیو، ځیني د ښځو مخ او لاسونه تر بند پوري عورت نه بولي او پټ ساتل ئې فرض او واجب نه ګڼي او د ښځو د بدن همدا برخې د (ما ظهر) مصداق بولي، خو ځیني نور د دې پټول هم فرض ګڼي او د (ما ظهر) مصداق یا د ښځو جامه ګڼي یا په غیر قصدي توګه د مخ او لاسونو یا نورو برخو څرګندېدا ګڼي. احناف د لومړۍ رأيي پلوي کوي او یقیناً چې همدا رأيه دقیقه او سمه ده. دلائل ئې دا دي:

• د مخ پټول مو په هغه صورت کې فرض ګڼلی شو چې: ١- د پټولو په اړه ئې د نص الفاظ صراحت ولري، حال دا چې په ټول قرآن کې د مخ پټولو په اړه صریح حکم نه مومو. ٢- که دا فرض وی نو د حج په دوران کې به ښځې د یوه فرض په ترك کولو نه مکلف کېدې او دا

به نه ورته ويل کېدل چې د احرام په حالت کې به مخ او لاسونه نه پټوي. ځوك چې حج ته د استثنايي حالت نوم ورکوي اشتباه کوي، په حقيقت کې حج معياري حالت دئ، څه چې په حج کې جائز وي په بل وخت کې په اولی درجه جائز دي.

- که ځوك د ډېر احتياط له کبله افراط کوي نو دومره دي ووايي چې مخ پټول مستحب دي، نه دا چې فرض او واجب ئې وګڼي، هغه هم محيط ته په پام سره.
- د نارينه او ښځي لپاره د فرض حجاب حد همغه دئ چې په حج کې بايد مراعات شي، تر دې زيات ئې په مستحباتو کې راځي.

دې ته بايد متوجه وو چې د نارينه او ښځي لپاره د احرام لباس يو داسي معيار دئ چې ټولو مسلمان نارينه او مسلمانه ښځه په همدومره لباس مکلف دي، تر دې زيات ئې نه فرض دي او نه واجب، بلکي مستحب دي او د دوی خوښي او ظروفو ته پرېښودل شوي، که د حج په څېر ستر عبادت کې، د بيت الله خوا ته، د لکونو خلکو په منځ کې دومره لباس کافي وي؛ نو په نورو وختونو کې خو په اولی درجه کافي دئ، ځوك چې وايي نارينه د سر په پټولو او ښځه د مخ او لاس په پټولو مکلف دي په دين کې غلو او بې ځايه سختي کوي او خلك په هغه څه مکلف کوي چې الله تعالی نه دي پرې ګمارلي، که د ښځي لپاره مخ او لاسونه پټول ضروري وی نو الله تعالی به د حج په دوران کې پرې مکلفه کړې وه او که د نارينه لپاره سر پټول ضروري وی نو الله تعالی به په حج کې پرې مکلف کړی وو. ښځي به په دې نه ګمارل کېدې چې د حج په دوران کې به نه مخ پټوي او نه به دستکشي په لاس کوي، نارينه به پر دې نه ګمارل کېدل چې سر به نه پټوي او داسي بوټونه به نه پښو کوي چې تر پښو ئې زياتي پښې ورپټي کړي، که مخ او لاسونه پټول فرض وی نو ښځو ته به جائز نه وه چې په لوڅ سر او مخ لمونځ وکړي، که څه هم خوا ته ئې کوم نامحرم نه وي!! له پکول، خولۍ، پټکي او لونګۍ سره لمونځ کول يو برابر دي، او حتی ويلی شو چې که ځوك د الله تعالی په وړاندي د خپل عجز او انکسار ښودلو لپاره لوڅ سر ودرېږي نه يوازي ګناه ئې نه ده کړې بلکي د ثواب داسي کار ئې کړی چې د حج په دوران کې ئې کوي. د احنافو د فقهاءو رأيه همدا ده، اهل حديث د احنافو له رأيي سره مخالفت کوي او هغه احاديث هم يا نه مني او يا ئې تأويلوي چې د احنافو د رأيي تأييد کوي. دوی وايي: د حج په دوران کې ښځي بايد نقاب پر مخ راکش کړي خو داسي چې له مخ سره به ئې نه لګېږي!! ګواکې په دې سره ئې هم پر حديث عمل کړی او هم ئې پر خپل مذهب!! ځيني بيا داسي دي چې وايي په لوڅ سر لمونځ کول مکروه دي!! که پوښتنه وکړو چې د کوم نص په استناد؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په احاديثو کې خو دا خبره نه ده شوې، رسول الله صلی الله عليه و سلم خو هم د حج په دوران کې لوڅ سر لمونځ کړی او هم په ځينو نورو وختونو کې، تاسو د څه په استناد دا خبره کوئ؟! داسي څه به ترې واورې چې حيران به شې، وايي: الله تعالی فرمايلي: خذوا زينتكم عند كل مسجد، د دې آيت ترجمه هم داسي کوي: هر جومات ته د تلو په وخت کې خپل زينتي لباس واغوندئ، خو نه د دې آيت ترجمه دغسي ده او نه ئې مطلب دا

دئ چې پګړۍ یا خولۍ په سر کړئ، ځکه دلته مسجد د اسم زمان په توګه راغلی نه د اسم مکان، مراد ئې د سجدې او لمانځه وخت دئ نه جومات، او مقصد ئې دا دئ چې د هغو خلکو غلطه عقیده تردید کړي چې وایي په زړو، ځیرو، خیرنو، پینه شوو، وړینو، کرباسي او ملنګي جامو کې لمونځ کول ډېر ثواب لري!! الله تعالی فرمایي چې تر ټولو ښکلې جامې مو د لمانځه لپاره واغوندئ، الهي شریعت موږ ته وایي چې جومات ته د تلو په وخت کې ښې جامې واغوندئ، عطر ووهئ، که مو داسې څه خوړلي وو چې له خولې مو بد بوی تلو یا د ډېرو خولو په سبب بد بوی درنه تلو جومات ته له تللو ډډه وکړه، ځان پاکیزه او ستره کړه بیا جومات ته ولاړ شه. د خذوا زینتکم معنی او مراد دا دئ، نه د خولۍ او پګړۍ په سر کول.

- که په حجاب کې مخ شامل وی نو په دېرشم آیت کې دې حکم مورد نه درلود چې مؤمنانو ته ووایه: خپلې سترګې ټیټې واچوي، دا حکم خو په هغه صورت کې وارد دئ او مجال لري چې د ښځو مخ لوڅ وي.
- د سترګو ټیټ اچول غوره کار دئ؛ له ګناه د مخنیوي وسیله ده، الله تعالی مؤمنان پرې ګمارلي، خو دې ته باید متوجه وو چې کتل خو پرېږدئ حتی له زنا مخکې ټول ناروا کارونه په صغیره ګناهونو کې راځي، نه په کبیره ګناهونو کې او د یوه فرض په پرېښودو کې.
- د ښځو لپاره د سترګو ټیټ اچول همغه حکم لري چې د نارینه وو لپاره ئې لري، په دې دواړو کې په تفکیك او امتیاز باور درلودل د دې آیتونو د روحیې خلاف خبره ده.
- په قرآن کې د ستر په ارتباط درې الفاظ راغلي: حجاب، خمر او جلابیب، ځیني دا درې واړه سره خلط کړي او د ټیکري او پړوني په معنی ئې ونیسي، حال دا چې حجاب هغه څه ته ویل شوي چې د دوو لوریو تر منځ د لیدا مانع شي، لکه د دروازې پر سر پرده، کومه دړه او دېوال، قرآن د حجاب لفظ هلته کارولی چې مؤمنانو ته وایي: کله چې له امهات المؤمنین (د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو) کوم څه غواړئ نو د حجاب (پردې) تر شا ئې وغواړئ، د حجاب له شا ورغږ کړئ چې اې د مؤمنانو مورې! دا شی مې په کار دئ. دغې لارښوونې ته په پام سره ویلی شو چې ټیکري ته د حجاب نوم ورکول او مستورې ښځې ته محجبه ویل غلطه نومَوَنه ده. خمار هغه واړه ټیکري ته وایي چې مېرمنې ئې پر سر کوي او غاړه او ګرېوان پرې پټوي، او جلباب هغه لوی پړوني ته وایي چې ښځې ئې پر خپل سر اچوي او پر خپل ټول ځان ئې راتاووي.
- موږ په هغه صورت کې ادعاء کولی شوی چې مخ هم په خمار (ټیکري) سره پټول ضروري دي چې تر جیوبهن مخکې د وجوههن ذکر راغلی وی، که مراد د مخ پټول وی نو دوه خبرې ضروري وې: ١- باید په صراحت سره د مخ (وجوههن) یادونه شوې وی، ٢- د مخ لپاره باید د غطاء (پټولو) لفظ راغلی وی نه د یضربن چې دلته د غوړولو او اچولو په معنی دئ، له مخ سره د غطاء لفظ ښایي او پر ګرېوان د ټیکرې له اچولو سره د یضربن صیغه.
- ځیني د ابن شهاب الزهري په هغه روایت استناد کوي چې د افك د قضیې په ارتباط

راغلی او په هغه کې عائشې رضی الله عنها ته دا وينا منسوب شوې چې د حجاب آيت نازل شوی وو نو ځکه ما خپل مخ په ټکري پټ کړ. د دې روايت په اړه ځو پوښتنې شوې چې هيڅا ئې ځواب نه دئ ويلی: د الاحزاب سوره او په هغې کې د حجاب آيت د بني المصطلق له غزوې او د افك له پېښې وړاندې نازله شوې که وروسته؟ که وايې چې وروسته نازله شوې نو د روايت دا برخه ردوي چې د حجاب حکم د بني المصطلق له غزوې مخکې راغلی وو او که وايې چې وړاندې نازله شوې نو په دې سره د روايت هغه برخه ردوي چې د سعد بن معاذ رضی الله عنه او په جومات کې د هغه د وينا يادونه کوي ځکه سعد بن معاذ رضی الله عنه د احزاب په غزوې کې ټپي شوی او لږ وروسته له همدې ټپ وفات شوی!! همدا راز عائشې رضی الله عنها ته دا وينا منسوبول چې د حجاب آيت ته په پام سره ئې خپل مخ پټ کړی، صحيح انتساب نه دئ، ځکه د حجاب د آيت موضوع د مخ پټول نه بلکې له امهات المؤمنين د پردې له شا څه غوښتل دي، که په ټکري سره د مخ پټولو يادونه ئې کړې وی نو د احزاب د سورې ۵۹ آيت ته به ئې اشاره کوله چې وايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۵۹: اې پيغمبره! خپلو مېرمنو، او خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايه چې خپل پړوني ورباندې راتاو کړي، همدا دې ته نژدې ده چې وپېژندی شي او ونه ځورول شي، او الله مهربان بخښونکی دئ.

- په ۳۱ آيت کې چې ويل شوي بااېمانه ښځې دې خپل زينت له خپلو مېړونو، پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو زامنو، خپلو وروڼو، ورېرونو، خورييو، خپلو ښځو، خپلو وينځو، هغو تر لاس لاندې سړو چې بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چې د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه څرګندوي، دلته ځو پوښتنې راولاړېږي: دا کوم زينت دئ چې پر مېړه علاوه پورتنيو ته ئې هم ښوول مانع نه لري؟ او دا کوم زينت دئ چې له خپلوانو او شاوخوا ښځو پرته ئې نورو ښځو ته هم ښودل جائز نه دي؟ آيا د دې زينت اطلاق له ګاڼې پرته په بل څه کولی شو؟ دوه ځوابونه درلودی شو: يو دا چې د بدن ځيني برخې داسې دي چې له مېړه علاوه د ښځې نور خپلوان ئې هم له ليدو نه دي منع شوي، لکه وېښتان، غاړه، مټ، او ګواکې په دې آيت کې په زينت سره همدغو برخو ته اشاره شوې. بل دا چې ښځې له دې منع شوې چې خپله ټوله ګاڼه له مېړه او پورتنيو خپلوانو او نژدې خلکو پرته بل چا ته ونه ښيي. د دې پوښتنو مختصر او يوازينی ځواب دا دئ چې دلته له زينت مراد ګاڼه ده نه بل څه. که د آيت الفاظو ته ځير شو نو په يقين سره ويلی شو چې دوهمه رأيه دقيقه ده، دا ځکه چې زينت په عامه صيغه راغلی د خاصولو لپاره ئې هيڅ موجه دليل نه لرو، په کوم دليل به يوازې ځو غړي ترې مرادوو؟ مخ او لاس له پرديو ښځو هم ستر نه دئ او له مخ، لاس او پښې پرته نور غړي خپلوانو نارينه وو ته هم ښودل منع دي. دا به ډېره عجيبه وي چې ځوك دلته (نساءهن) داسې تعبير کړي چې ګواکې پرديو ښځو ته خپل جمال ښودل منع دي او خپلو ته ئې ښودل مانع نه لري!! حال دا چې معنی

ئې له کوم شك پرته دا ده چې له خپلوانو پرته نورو ښځو ته د خپلو ګاڼو له ښودلو منع شوې، ښځو ته د سینګار او د ګاڼو د کارولو امتیاز ورکړی شوی، خو دا د خپل مېړه په وړاندې او د هغه د ارضاء او توجه جلبولو په موخه نه د پردي نارینه د توجه جلبولو او یا له نورو ښځو سره د مسابقې، رقابت او ځان ښودنې لپاره. له داسې ځان ښودنو چې په ټولنې کې کومې فتنې راولاړېږي له هیڅ عاقل انسان پټې نه دي، که په یوې میلمستیا او واده کې ځینو ښځو سینګار کړی وي او رنګ رنګ ګاڼې ئې اچولې وي او په خوا کې ئې داسې مېرمنې وي چې د سرو زرو ګاڼې خو پرېږده حتی سمې جامې هم نه لري، په دې سره له یوې خوا د دوی تر منځ جدي کرکه او دښمني راپیدا کېږي، له بلې خوا نورې مېرمنې دې ته هڅول کېږي چې خپل مېړونه دې ته اړ کړي چې دوی ته هم همداسې ګاڼې برابرې کړي، که له حرامو لارو وي او که له حلالو!! دا یقیناً چې ټولنه د منفي رقابتونو او حسادتونو په لورې بیایي او فتنې راولاړوي. قرآن د قارون یادونه کوي چې په ګاڼو ئې ځان سینګار کړی خپل قوم ته راووت، ناپوهانو د ده حالت ته په پام سره وویل: کاش مونږ هم د ده په څېر وی او همغه څه مو درلودی چې ده ته ورکړی شوي!!

یقیناً چې د حجاب په اړه د هغو خلکو رأیه ډېره کمزورې ده چې د ښځو مخ او لاسونه هم په ستر کې شاملوي او فرض ئې ګڼي، همغسې کمزورې لکه جومات ته د ښځو د تګ په اړه د دوی رأیه. په دې اړه ټول مسلمانان متفق دي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانې کې او د هغه تر رحلت پورې ښځې جومات ته تلې او د جَماعت په لمونځونو کې ئې له نارینه وو سره یو ځای برخه اخیسته، داسې چې مخکې به نارینه، ورپسې ماشومان او د صفوفو په وروستۍ برخې کې به ښځې ودرېدې، د اختر په لمونځونو کې به ئې هم برخه اخیسته، او کله کله به رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی لپاره بېله غونډه جوړوله او دوی ته به ئې ځانګړې موعظه اوروله. نه یوازې دا چې مسجد ته تلې او د جماعت په لمونځونو کې به ئې شرکت کولو بلکې ګڼ شمېر مېرمنو د امهات المؤمنین په شمول په غزواتو کې هم شرکت کړی. په دې اړه روایات دومره زیات او دومره صریح دي چې هیڅوك ترې انکار نشي کولی. راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه حکم کړی، آیا په قرآن کې داسې لارښوونې مومو چې جومات ته د ښځو د تلو جواز ترې استنباط شي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه څه لارښوونې کړې؟

که قرآن ته ځېر شو نو په دې خبرې پوهېدا به راته ګرانه نه وي چې قرآن مؤمنانو ته په جماعت د لمونځ کولو سپارښتنه کوي.

وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ البقره

او لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

په دې مبارك آیت کې د بې لارو او منحرفو دین پلورو یهودي علماءو څو ځانګړتیاوې بیانېږي: له الله سره ئې تعلق ضعیف او کمزوری وو، لمونځ ئې یا پرېښی او یا له حقیقي

روح عاري او په شکلیاتو لګیا ول، د دې پر ځای چې زکات ورکړي د زکات تر لاسه کول ئې عادت شوی وو، له عام ولس سره ئې هم اړیکې سستې شوې وې، له نورو سره ئې یو ځای عبادت هم پرېښی وو، د همدې لپاره دوی ته د دغو څو خبرو امر شوی: لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او له نورو رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع وکړئ، ستاسو د ټولو انحرافاتو علاج په همدې کې دئ. دا آیت ښیي چې له نورو لمونځ کونکو سره یو ځای لمونځ کول یوه الهي وجیبه ده.

قرآن د جنګ میدان ته ځېرمه او د خطر په حالت کې هم د جماعت سپارښتنه کوي او فرمايي:

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا۟ أَسْلِحَتَهُمْ ۖ فَإِذَا سَجَدُوا۟ فَلْيَكُونُوا۟ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا۟ فَلْيُصَلُّوا۟ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا۟ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓا۟ أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُوا۟ حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾ النساء

او که ته (اې پیغمبره!) له دوی سره وې او په لمانځه ورته ودرېدې، نو د دوی یوه ډله دې له تا سره ودرېږي او خپلې وسلې دې ورسره واخلي، نو کله چې ئې سجده وکړه بیا دې له تاسو تر شا شي او هغه بله ډله چې لا ئې لمونځ نه دئ کړی هغه دې راشي او له تا سره دې لمونځ وکړي او خپل احتیاطي تدابیر دې ونیسي او اسلحه دې ورسره واخلي، کافران دا خوښوي چې تاسو له خپلو وسلو او مال متاع غافل شئ نو په یو واري دربانديي رامات شي، خو که له بارانه ځوریدئ یا بیمار وئ نو څه ګناه درباندې نشته چې خپله وسله کښېږدئ، خو احتیاطي تدابیر مو ونیسئ، بې شکه چې الله دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب تیار کړی.

په دې آیت کې د صلوة خوف په اړه لاندې لارښووني شوې:

• د لمانځه لپاره به خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، یوه به په امام پسې اقتداء کوي او بله به پیره کوي.

• لومړۍ ډله به یو رکعت لمونځ وکړي او له سجدې وروسته به د پیرې لپاره تر شا شي. د لمانځه په وخت کې به خپله وسله له ځان سره لري.

• دوهمه ډله به راشي، اقتداء به وکړي او خپل لمونځ به پوره کړي. دوی ته ویل شوي چې هم به وسله له ځان سره لري او هم به احتیاطي تدابیر مراعاتوي، دا ځکه چې د پیرې کار بل ته حواله کول د احتیاط غوښتنه کوي، هلته باید لمانځه ته راشي چې نورو د پیرې کار پیل کړی وي.

- لومړی ډله به هغه وخت خپل پاته لمونځ تکمیل کړي چې دوهمه ډله له لمانځه فارغه شي او د دوی ځای ونیسي.
- لمونځ هم په دوو برخو وېشل شوی او یوازې یو رکعت ئې یوه برخه ګڼل شوې، له دې معلومېږي چې د سفر او خطر په وخت کې د قصر لمونځ څلور رکعته نه دئ، یا دوه رکعته دئ یا درې. پیغمبر علیه السلام هم په سفر کې یوازې د ماښام لمونځ درې رکعته او د نورو وختونو دوه دوه رکعته لمونځ کړی.

دلته د خوف متوسط او منځنی حالت بیان شوی، په کم خطر کې یو ځای جماعت کېدی شي او په زیات خطر کې جماعت پرېښودی شي، یوازې یوازې او حتی د قضاء کولو او وروسته اداء کولو اجازت شوی.

په دې حالت کې یوازې په هغه صورت کې له ځانه د وسلې لرې کولو اجازه شوې چې یا له ورښت په تکلیف وئ او یا دومره بیمار وئ چې د وسلې له حمل نه عاجز وئ.

په جمع د لمانځه دا سپارښتنه عامه ده، ټولو مؤمنانو ته راجع ده، یوازې د نارینه وو لپاره نه ده، د قرآن بل آیت په دې ګواهي ورکوي چې ښځې هم په دې سپارښتني کې شاملې دي، ځکه قرآن د مریم علیها السلام په اړه فرمایي:

يَٰمَرۡيَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ آل عمران

اې مریمې! خپل رب لره تسلیم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع کوه.

د مریمې علیها السلام یادونه د دې لپاره راغلې چې وښیي یوه مؤمنه مېرمن باید څنګه وي، مریم علیها السلام ته د عالم پر ټولو ښځو فضیلت ورکړی شوی، قرآن هغه د مؤمنو مېرمنو لپاره د غوره مثال او بېلګې په توګه معرفي کوي او فرمایي:

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١١﴾ وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ﴿١٢﴾ التحریم

او الله د مؤمنانو لپاره د فرعون د مېرمنې مثال بیانوي چې وئې ویل: اې زما ربه! ما ته په خپلې خوا کې په جنت کې یو هستوګنځی جوړ کړه او له فرعون او د ده له عمله مې وژغوره او له دغو ظالمانو مې وژغوره. او د عمران لور مریمې (مثال) چې د خپل فرج ساتنه ئې وکړه، نو موږ له خپلې روح څه په کې پو کړل، د خپل رب ویناوې ئې رښتینې وګڼلې او د الله کتابونه ئې هم، او له غاړه اېښودونکو وه.

د مریم علیها السلام روزنه په مدرسه او جومات کې شوې او هغه ستر شخصیت ترې جوړ شوی چې د انساني تاریخ له پیل تر پای پورې هیڅ ښځه د هغې مقام ته نشي رسېدی،

دې ته له نورو لمونځ کوونکو سره د لمونځ کولو سپارښتنه نه ځانګړې او خصوصي سپارښتنه ده او نه منسوخ شوې سپارښتنه. البته ښځو ته دا لارښوونه د نارینه وو له اړوند سپارښتني يوازي دومره توپير لري چي نارينه جومات ته پر تلو مکلف شوی او ښځو ته دا رخصت ورکړی شوی چي کولی شي جومات ته ولاړې نشي او په خپل کور کي لمونځ وکړي، خو که ئې وغوښتل جومات ته ولاړه شي هيڅوك ئې د مخنيوي حق نه لري. دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي مکرره سپارښتنه ده چي د حجة الوداع په تاريخي او مهمي خطبې کي ئې هم د نورو سترو سترو او مهمو امورو تر څنګ يو ځل بيا تکرار کړه.

راشئ هغه روايات هم له نظره تېر کړو چي په دې اړه راغلي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. قَالَتِ النِّسَاءُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم غَلَبَنَا عَلَيْكَ الرِّجَالُ، فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِكَ. فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ، فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ، فَكَانَ فِيمَا قَالَ لَهُنَّ " مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا إِلاَّ كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ ". فَقَالَتِ امْرَأَةٌ وَاثْنَيْنِ فَقَالَ " وَاثْنَيْنِ ". (بخاري:١٠٢)

له ابو سعيد خدري رضى الله عنه روايت دئ چي وايي: ښځو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: ستا په اړه نارينه پر موږ برلاسي شوي (ستا د ويناوو په اورېدو کي دوی پر موږ وړاندي دي)، نو له خپل لوري موږ ته يوه ورځ ځانګړې کړه، نو د دوی لپاره ئې د ملاقات يوه ورځ وټاکله، (په هغه ورځ ئې) دوی ته وعظ وکړ او په خاصو امورو ئې وګمارلې، د هغو خبرو په ضمن کي چي دوی ته ئې وکړې دا هم وه چي: (له تاسي چي د هري ښځي درې اولادونه ترې ومري، دا به له اور ورته پرده شي.) يوې ښځي وويل: که د چا دوه اولادونه ترې ومري؟ وئې فرمايل: که دوه ئې ومري هم.

دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ١٢٤٩، ٧٣١٠ له دغو توپيرونو سره: په يوه کي غَلَبَنَا عَلَيْكَ الرِّجَالُ او په بل کي ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ، په يوه کي فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِكَ، په بل کي فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ، يَوْمًا نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللَّهُ، په يوه کي فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ او په بل کي فَاجْتَمَعْنَ، په يوه کي فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ او په بل کي فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللَّهُ ثُمَّ قَالَ، په يوه کي تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا او په بل کي تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلاَثَةً، او په يوه کي دا الفاظ هم شته فَأَعَادَتْهَا مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ " وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ " خو، په بل کي نشته. په دغو کي ٧٣١٠ روايت تر نورو جامع دئ.

د ابوهريره رضى الله عنه په يوه روايت کي راغلی چي: (هغه مړه شوي اولادونه ئې لابالغ شوي نه وي).

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ إِذَا تَبَرَّزْنَ إِلَى الْمَنَاصِعِ- وَهُوَ صَعِيدٌ أَفْيَحُ- فَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم احْجُبْ نِسَاءَكَ.

فَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَفْعَلُ، فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي عِشَاءً، وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً، فَنَادَاهَا عُمَرُ أَلاَ قَدْ عَرَفْنَاكِ يَا سَوْدَةُ. حِرْصًا عَلَى أَنْ يَنْزِلَ الحِجَابُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الحِجَابِ. (بخاري:١٤٦)

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمني رضي الله عنهن به د شپې له مخې د ضرورت رفع کولو لپاره بیدیاوو ته چې پراخ او ارت میدان وو وتلې، عمر رضی الله عنه به رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل: مېرمني دې په حجاب وگماره، خو رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې نه کول، یوه شپه ماخستن د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمن سودة بنت زمعه رضی الله عنها چې یوه دنگه او لوړه مېرمن وه بهر ووتله، عمر رضی الله عنه پرې غږ کړ چې اې سوده! ومې پېژندلې، دا د هغې تلوسې له امله چې د حجاب د حکم نازلېدو په اړه ئې درلودو، نو الله تعالی د حجاب آیت نازل کړ.

دا روایت هم په بخاري کې په تکرار سره په دغو شمېرو١٤٧، ٤٧٩٥، ٥٢٣٧، ٦٢٤٠ او له دغو توپیرونو سره راغلی: په یوه کې فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ او په بل کې بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ، په یوه کې كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ او په بل کې قَدْ أُذِنَ أَنْ تَخْرُجْنَ فِي حَاجَتِكُنَّ، او په بل کې قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَوَائِجِكُنَّ "راغلي.

لکه چې گورئ په دې روایاتو کې شدید تعارض دئ: یو وایي چې دا پېښه د حجاب د حکم له نازلېدو مخکې رامنځته شوې او د همدې لپاره د حجاب آیت نازل شو او بل ئې وایي چې د حجاب آیت لا د مخه نازل شوی وو او سوده رضی الله عنها په حجاب کې د وتلو په سبب پېژندل شوې وه، یو وایي چې د حجاب آیت دغه مهال نازل شو او بل وایي چې دغه مهال رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وحې وشوه او مېرمنو ته ئې د حاجت لپاره بهر ته د وتلو اجازه ورکړی شوه!!

امام بخاري رحمه الله له دغو متعارضو او متناقضو روایاتو د یوه د انتخاب په اړه هېڅ نه دي ویلي، خو که د قرآن په رڼا کې ئې وڅېړو نو په بشپړ یقین سره ویلی شو چې د حجاب اړوند آیت قطعاً په دې ارتباط نه دئ نازل شوی، قرآن په ډېر صراحت سره وایي چې د جلباب (پړوني) حکم په دې خاطر نازل شو چې منافقینو، مرجفینو او مفسدینو به هغه مېرمني ځورولې چې د لمانځه یا بل دې ته ورته ضروري کار لپاره به بهر ته وتلې، دوی ته ویل شوي چې پړونی پر ځان واچوي چې وپېژندل شي چې دا پاك لمني او پرهیزگاري مېرمني دي او لوچکان ئې ونه ځوروي.

حجاب د شپې لپاره نه دئ، بلکې د ورځې لپاره دئ، د شپې له لوري او هغه هم ماخستن مهال نه څوك بې حجابه پېژندل کېږي او نه له حجاب سره، یوازې د قد او ونې د لوړوالي له مخې د یو چا په اړه گمان کېدی شي، د عمر رضی الله عنه له شأن ډېره لرې ده چې د شپې له لوري او هغه هم په دغه حالت کې د پیغمبر علیه السلام پر مېرمني غږ وکړي.

دې ته مو هم باید پام وي چې په کلیوال ژوند کې او هغه مهال چې د کورونو منځ کې بیت الخلاوي نه وې نو د سړو لپاره به بېل لورى او د ښځو لپاره بېل لورى غوره کېدو، نه به نارینه د ښځو لوري ته وتل او نه به ښځې د نارینه وو لوري ته، او معمولاً به ښځې په ګډه سره وتلې.

ځه چې ویل ئې ممکن دي یوازي دا دي چې شایي عمر رضی الله عنه غوښتل چې د پیغمبر علیه السلام مېرمنې هیڅکله له کوره بهر ونه وځي، خو الله تعالی هغوى ته له جلباب سره د وتلو اجازه ورکړه، ځکه نو په روایت کې ویل شوي چې الله تعالی دوى ته د ضرورت لپاره د وتلو اجازه ورکړه، په قرآن کې هم یوازي دغه د وتلو د اجازې آیت مومو، د نه وتلو حکم او آیت نشته، نه صراحتاً او نه اشارتاً، هغه آیت چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو ته وایي: (و قرن فِي بیوتکن و لا تبرجن تبرج الجاهلیة الاولی: او په خپلو کورونو کې تم شئ او د مخکیني جاهلیت په څېر ځان له سینګار سره مه څرګندوئ). د دې آیت معنی هیڅکله دا نه ده چې له کوره هیڅ مه وځئ، که داسې وى نو امهات المؤمنین به جومات ته نه تللې، جهاد ته به نه وتلې، حج ته به نه تللې، د پیغمبر علیه السلام د موعظو اورېدو ته به نه ورتلې.

په دغو متعارضو روایاتو کې دا روایت غوره او ارجح برېښي:

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ لِحَاجَتِهَا، وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً لاَ تَخْفَى عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا، فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا سَوْدَةُ أَمَا وَاللَّهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا، فَانْظُرِى كَيْفَ تَخْرُجِينَ، قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً، وَرَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم فِي بَيْتِي، وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى وَفِى يَدِهِ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِي فَقَالَ لِي عُمَرُ كَذَا وَكَذَا. قَالَتْ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ " إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ ". بخاري: ٤٧٩٥

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چې د حجاب له لازمېدو وروسته، سوده رضی الله عنها (په حجاب کې) د کوم ضرورت لپاره بهر ووتله، هغه دنګه مېرمن وه، چا چې پېژندله نو پرې پټه نه پاته کېده، عمر رضی الله عنه ولیده او ورته وئې ویل: اې سوده! والله چې پر موږ پټه نه پاته کېږې، وګوره څنګه وځې! وایي: هغه بېرته راستنه شوه، په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم زما په کور کې وو او ماښامنی ئې خوړلو او په لاس کې ئې غوښین هډوکی وو، هغه راغله او وئې ویل: یا رسول الله! زه د ځینو اړتیاوو لپاره بهر ووتلم او (عمر رضی الله عنه) دا دا راته وویل، (عائشه رضی الله عنها) وایي: الله تعالی هغه ته وحي وکړه، بیا په داسې حال کې ترې لوړه شوه چې هغه غوښین هډوکی ئې لا په لاس کې وو او وئې فرمایل: یقیناً چې تاسو ته د خپلو حاجتونو او اړتیاوو لپاره د وتلو اجازه درکړى

شوې.

د دې روايت له مخې دوه خبري كولى شو: لومړى دا چې مخكينى روايت ناقص دئ، د پېښې په اړه ئې وينا دقيقه نه ده او دوهم دا چې د توجيه وړ نه برېښي چې عمر رضى الله عنه به د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې وينا له اورېدو وروسته هم په خپلي رأيي ټينگار كړى وي!! او ښځي به ئې جومات ته له تلو منع كړې وي.

حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَيُّوبَ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَوْ قَالَ عَطَاءٌ أَشْهَدُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم خَرَجَ وَمَعَهُ بِلاَلٌ، فَظَنَّ أَنَّهُ لَمْ يُسْمِعِ النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ، وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِى الْقُرْطَ وَالْخَاتَمَ، وَبِلاَلٌ يَأْخُذُ فِى طَرَفِ ثَوْبِهِ. (بخارى: ٩٨)

له ابن عباس رضى الله عنهما روايت دئ چې: يو ځل رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال كي (د نارينه وو له ليكو يا له منځه) ووت چې بلال رضى الله عنه هم ورسره وو (ښځو ته ورغى) گمان ئې وكړ چې ښځو د ده وعظ او نصيحت نه دئ اورېدلى، نو هغوى ته ئې وعظ وكړ، د صدقې وركولو امر ئې ورته وكړ، نو ښځو خپلې لښتۍ او گوتې د صدقې په توگه اچولې او بلال رضى الله عنه په خپلي لمن كي راټولولې.

دا روايت په بخاري كي په تكرار سره په دغو شمېرو٩٦٢، ٩٦٤، ٩٧٥، ٩٧٧، ٩٧٩، ٩٨٩، ١٤٣١، ١٤٤٩، ٤٨٩٥، ٥٢٤٩، ٥٨٨٠، ٥٨٨١، ٥٨٨٣، ٧٣٢٥ او له دغو توپيرونو سره راغلى: په پورتني كي دا نه دي ويل شوي چې ښځو ته له وعظ مخكي لمونځ شوى، بيا خطبه وركړى شوې، خو په ځينو نورو كي دا مطلب ويل شوى، په دې كي دا هم نه دي ويل شوي چې د بلال په څادر يا لمن كي به ئې خپلي گاڼې غورځولې خو په نورو كي دا مطلب هم راغلى، په يوه كي يوازي دومره ويل شوي چې د عيد لمونځ مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم، ابوبكر، عمر او عثمان رضى الله عنهم سره كړى ټولو به له خطبې مخكي لمونځ كاوو.، په يوه كي دا هم ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د الممتحنه د سورې دا آيت ولوستو: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ ) الآيَةَ كله چې ترې فارغ شو نو وئې فرمايل: آيا تاسو همدا بيعت كوئ؟ يوې ځواب وركړ چې هو؛، په يوه كي ويل شوي چې د كمكي اختر لمونځ ئې وكړ او په بل كي راوي شك كوي چې د كمكي اختر كه د لوى اختر لمونځ.

د دې روايت په اړه څو خبري توجه غواړي: د دې روايت په اصلي مطلب هلته سم پوهېدى شو چې نور روايات هم وگورو، د نورو رواياتو په رڼا كي راته جوتېږي چې دا د اختر لمونځ وو، پيغمبر عليه السلام لومړى لمونځ كړى، بيا ئې خطبه ويلې، بيا د خلكو له منځه تېر شوى او د ښځو د لمانځه ځاى ته ورغلى، هغوى ته ئې بيا وعظ كړى، د صدقې وركولو ته ئې هڅولې او هغوى خپلي گاڼې صدقه كړې.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر روايات ښيي چې د پيغمبر عليه السلام په دوران کې ښځو د جماعت په لمونځونو کې شرکت کولو، د ودرېدو ځای ئې بېل او د نارينه وو تر شا وو، پيغمبر عليه السلام د هغوی روزنې ته خاصه توجه کوله، د اختر په لمانځه کې له عامي خطبې وروسته د ښځو خوا ته ورغلی او هغوی ته ئې بيا وعظ کړی. خو متأسفانه اوس حالت داسي دئ چې ښځې مېلو، ودونو، زيارتونو ته تلی شي، نه خاوندان او خپلوان پرې اعتراض کوي او نه واعظان، خو جومات ته ئې تګ ممنوع دئ!! ځوك چې وايي اوس د فساد او فتنو دور دئ نو ځکه جومات ته د ښځو تګ ښه نه دئ!! هغوی ته وايو:

- له فساد او فتنو د ښځو د مخنيوي لار خو دا ده چې هغه جومات ته راشي او وعظ واوري.
- ځوك وايي چې د پيغمبر عليه السلام په وخت کې تر نن فتنې لږې وې؟! دا خبره يوازې هغه ځوك کولی شي چې له حقائقو بې خبر وي، په مدينه کې ښځې هغه مهال جومات ته تللې چې محدود شمېر کسانو ايمان راوړی وو، قرآن وايي چې ډېر ځلي به منافقينو، مرجفينو او د بيمارو زړونو خاوندانو هغه ښځې ځورولې چې جومات ته به تلې، د دغو مفسدينو له امله ئې ښځې جومات ته له تلو منع نه کړې بلکې امر ئې ورته وکړ چې له جلباب سره جومات ته ولاړې شي.
- آيا ځوك دا حق لري چې ووايي: اوس د فتنې دور دئ نو ښځې دې حج نه کوي، يا د حج په دوران کې دې مخ او لاسونه هم پټوي؟ که دا حق نه لرو نو له جومات ئې ځنګه منع کوو؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم خو د خپل مبارك ژوند په وروستيو شپېو او په خپلو وروستنيو خطبو کې فرمايلي: که ستاسو ښځې غواړې چې په جومات کې لمونځ وکړي نو مخنيوی ئې مه کوئ!!!
- ځوك چې وايي د عمر رضی الله عنه په وخت کې دا پرېکړه وشوه چې ښځې دې جومات ته نه ځي! هغوی ته وايو: دا نه د يوه حکم د تغيير په معنی اخيستی شو او نه د تعطيل په معنی، يوازې دومره ويلی شو چې که دا ادعاء صحيح وي نو دا پرېکړه هغه مهال د خاصو ظروفو او شرائطو په وجه شوې، داسي نه ده چې د دې پرېکړې مخالفت حرام او ناجائز وي او نن چې د اسلام او مسلمانانو مصلحت دا غوښتنه کوي چې د ښځو ديني او اخلاقي روزنې ته لازياته توجه وشي او له نورو خواوو ئې مخ جومات ته واړوو نو دا کار حرام او ناروا وګڼو!! حرام هغه دي چې الله تعالی او د هغه رسول حرام کړي.

ځيني وايي: کاش اوس داسي جوماتونه او داسي واعظان وی چې د ښځو روزنه وکړی شي،... د کومي فتنې له مخي چې د ښځو لمونځ په کور کې غوره ګڼل شوی کېدی شي هغه په جومات کې د ننه احتمالي فتنه وي نه د لارې په اوږدو کې. د دوی په ځواب کې بايد ووايو: که رسول الله صلی الله عليه و سلم ښځو ته ويلي وی چې ستاسو لمونځ تر جومات په کور کې غوره دئ نو يوه ښځه به هم جومات ته نه وه تللې، د ښځو له عمل معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي خبره هغوی ته نه ده کړې، له ګڼ شمېر رواياتو

معلومېږي چې د پيغمبر عليه السلام تر رحلت پورې ښځې جومات ته راتلې، او رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلې وروستۍ خطبې کې دا سپارښتنه کړې ده چې که ښځو غوښتل جومات ته ولاړې شي مخنيوی ئې مه کوئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم حتی د عمر رضی الله عنه دا مطالبه ونه منله چې ويل ئې: يا رسول الله! خپلې مېرمنې دې بهر ته له وتلو منع کړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم له څه ځنډ وروسته وفرمايل: ما ته وحي شوې چې دوی منع نه کړم. موږ يوازې د دومره څه ويلو حق لرو چې ووايو: جوماتونه بايد داسې جوړ شي چې هم د ښځو د لمانځه ځای بېل وي او هم ئې د تګ راتګ لاره بېله وي، خو هغه حلال کار نه شو حرامولی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دئ تحريم کړی. د عمر رضی الله عنه په اړه په رواياتو کې راځي چې هغه له کوره د ښځو له وتلو او جومات ته د دوی له تلو سره موافق نه وو، خو عملاً ئې حالت داسې وو چې دی به مخکې جومات ته روان وو او مېرمن به ئې ورپسې وه خو هغه ئې منع کولی نشوی.

عن أُمُّ عَطِيَّةَ انها سَمِعتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ " يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى ". قَالَتْ حَفْصَةُ فَقُلْتُ الْحُيَّضُ فَقَالَتْ أَلَيْسَ تَشْهَدُ عَرَفَةَ وَكَذَا وَكَذَا. (بخاری:٣٢٤)

له ام عطيه رضی الله عنها روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې اورېدلي چې وئې فرمايل: (نوې رسېدلې ښځې، او سترې يا په پرده کې ناستې ښځې، او حائضې ښځې دې وځي او د خير په کارونو (د عيد لمونځ) او د مسلمانانو په دعاء کې دې ګډون کوي، خو حائضې ښځې دې له مصلی ګوښه ودرېږي، حفصه وايي: ومې ويل: آيا حائضې ښځې هم؟ دې وويل: آيا حايضې ښځې عرفات او...او... ته نه حاضرېږي؟!

دا روايت هم شپږ ځلې نور په دغو شمېرو ٣٥١، ٩٧١، ٩٧٤، ٩٨٠، ٩٨١، ١٦٥٢او له دغو توپيرونو سره په بخاري کې راغلی: په يوه کې يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، په بل کې أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ، فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَدَعْوَتَهُمْ او په بل کې كُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيدِ، حَتَّى نُخْرِجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا، حَتَّى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ فَيَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ، فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ، وَيَدْعُونَ بِدُعَائِهِمْ يَرْجُونَ بَرَكَةَ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَطُهْرَتَهُ، په يوه کې دا هم راغلي قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ. قَالَ لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا، لکه چې ګورئ په دغو روايتونو کې ويل شوي چې موږ ته به امر کېدو چې د عيد د لمانځه لپاره ووځو، پيغلې، زړې او حتی حائضې به هم وتلې، په خپل ټاکلي ځای کې به ودرېدې، په لمانځه کې به ئې برخه اخيستله، حائضې به له مصلی بهر په يوه ګوښه کې وې او دا صحنه به ئې ليدله، يوې مېرمنې له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه کړې وه چې که څوک جلباب ونه لري او د همدې لپاره د عيد لمانځه ته ونه وځي څه ګناه پرې شته؟ ورته وئې فرمايل: خپلې خورلڼې دې جلباب ورواغوندي.

په دې کې ډېر لوی حکمت دئ، له داسي غونډو انسان ډېر زيات متأثره کېږي، د همدې لپاره رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو ته امر کاوو چې په دغو غونډو کې برخه واخلي. ډېره عجيبه ده چې د داسي څرګندو نصوصو په شته والي کې ځيني خلك جومات ته د ښځو تلل ناروا ګڼي!! حفصه بنت سيرين وايي زما د خور مېړه له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په دولسو غزواتو کې برخه اخيستي وه چې په شپږو کې ئې زما خور هم ورسره وه، هغوی به مريضان او زخميان تداوي کول.

عَنِ عَائِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي الْفَجْرَ، فَيَشْهَدُ مَعَهُ نِسَاءٌ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ. (بخاري:٣٧٢)

له عائشې رضى الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چې د سهار لمونځ کاوو يو شمېر مسلماني مېرمني به هم په داسي حال کي چې ځانونه به ئې په خپلو ټکريو کي نغښتي وو لمانځه ته راتللې، له لمانځه وروسته به بېرته خپلو کورونو ته تللې او هيچا به نه پيژندلې چې څوک دي.

دا روايت هم درې ځلي نور په دغو شمېر ٥٧٨، ٨٦٧، ٨٧٢ او له دغو توپيرونو سره راغلی: په يوه کې مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ، په بل کې مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، په يوه کې ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، په بل کې يُصَلِّي الصُّبْحَ بِغَلَسٍ فَيَنْصَرِفْنَ نِسَاءُ الْمُؤْمِنِينَ، لاَ يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ، أَوْ لاَ يَعْرِفُ بَعْضُهُنَّ بَعْضًا او په بل کې فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ او په بل کې مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، له دې توپيرونو سره سره د رواياتو مطلب يو دئ او هغه دا چې مسلماني مېرمني به جومات ته تللې، د سحر په لمانځه کې به ئې هم برخه اخيسته، رسول الله صلى الله عليه و سلم به د سحر لمونځ په داسي وخت کې کاوو چې تر لمانځه وروسته به هم لا دومره تياره وه چې مېرمني به نه پېژندل کېدې.

له دې روايت دوه تعبيرونه شوي: يو دا چې مېرمني به په ټکريو کې داسي پټې وې چې چا به نه پېژندلې او بل دا چې دومره تياره به وه چې دوی به نه پېژندل کېدې، لومړی تعبير په دې دليل کمزوری او ناسم دئ چې خبره د سحر د تيارې (غلس) ده؛ نه په جامه کې د پټېدو څرنګوالی، له دې روايته نه يوازي دا مطلب نشي اخيستل کېدی چې د ښځو مخونه به پټ وو بلکې په خلاف د دې ښيي چې د دوی مخونه به لوڅ وو خو د تيارې په وجه به نه پېژندل کېدې. لومړی ادعاء به په هغه صورت کې صحيح ګڼل کېده چې د (غلس: تياره) يادونه نه وی شوې يا د سحر له لمانځه پرته د ټولو لمونځونو يا د ورځي د کوم لمانځه يادونه شوې وی.

راشئ هغه روايات هم له نظره تېر کړو چې د ستر په اړه راغلي او هري ډلې د خپلي رأيي د تأييد لپاره پرې استناد کړی. په دې اړه روايات دومره متعارض دي چې په سعودي کې د يوه مسلك او مذهب پلويانو پرې توافق ونه شو کړی، مرحوم ابن باز او مرحوم الباني د مسلك له پلوه سره ورته ول خو د ستر په اړه ئې ژور اختلاف درلود، الباني مخ او لاسونه

په ستر کې شامل نه ګڼل او ابن باز شامل ګڼل، الباني په بېلو روایاتو استناد کاوو او ابن باز په بېلو!! ځینو به یوه روایت ته ضعیف ویلو خو بل به همغه روایت د اعتبار وړ ګڼلو، د ابن باز پلویانو د الزهري هغه روایت ته اعتبار ورکولو چې وړاندې وښېړل شو او د الباني پلویانو دې روایت ته چې ابو داؤد ئې مرسل ګڼي او الباني ئې صحیح:

عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِى بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ شَامِيَّةٌ رِقَاقٌ، فَأَعْرَضَ عَنْهَا، ثُمَّ قَالَ:«مَا هَذَا يَا أَسْمَاءُ؟ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ يَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلاَّ هَذَا وَهَذَا». وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ. سنن البيهقى قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا مُرْسَلٌ خَالِدُ بْنُ دُرَيْكٍ لَمْ يُدْرِكْ عَائِشَةَ رضى الله عنها. و قال الشيخ الألبانى: صحيح

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چې خور ئې اسماء بنت ابوبکر رضی الله عنهما په داسې حال کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغله چې نرۍ شامي جامه ئې اغوستې وه، مخ ئې ترې واړاوو او وئې فرمایل: اې اسماء! دا څه دي؟! ښځه چې پیغلتوب ته ورسېږي نو ورته روا نه ده چې له دې او دې پرته ئې بل څه ترې ولیدل شي، خپل مخ او لاسونو ته ئې اشاره وکړه.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم:«لاَ تَتَنَقَّبُ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ ». سنن البيهقى

له عبد الله بن عمر رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: محرمه (حج کوونکې) ښځه دې نه پر مخ نقاب اچوي او نه دې دستکشې په لاس کوي،

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ الْفَضْلُ بن الْعَبَّاسِ رَدِيفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمٍ تَسْتَفْتِيهِ، فَجَعَلَ الْفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا، وَتَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَصْرِفُ وَجْهَ الْفَضْلِ إِلَى الشِّقِّ الآخَرِ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ،"إِنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا، لا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُثْبُتَ عَلَى الرَّحْلِ، أَفَأَحُجُّ عَنْهُ؟ , قَالَ: نَعَمْ"،ذَلِكَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ. سنن النسائى، البخارى

له عبد اله بن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چې فضل بن عباس رضی الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه و سلم شا ته په سورلۍ سپور وو چې د خثعم د قبیلې یوه مېرمن په داسې حال کې راغله چې پوښتنه ئې ترې کوله، فضل هغې ته کتل او هغې فضل ته، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د فضل مخ بل لوري ته واړاوو، هغې شځې وویل: یا رسول الله! د حج الهي فریضه په داسې حال کې زما پر پلار فرض شوه چې بوډا شوی او پر خپلو پښو نه شي ودرېدی، آیا زه د هغه لپاره حج وکړم؟ وئې فرمایل: هو، او دا د حجة الوداع د کال

پېښه ده.

دا روايت دوه خبري زموږ مخي ته ږدي: د ښځي مخ لوڅ وو او فضل ورته کتل، رسول الله صلی الله علیه و سلم د فضل مخ بل لوري ته واړاوو او په دې سره ئې هغه ته وښوده چي د الهي لارښوونې مقتضی همدا ده. او دا چي د مخ لوڅوالی د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ژوند تر پايه او د حجة الوداع تر کال پوري معمول وو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ فَقَالَ " لاَ يَلْبَسِ الْقَمِيصَ وَلاَ الْعِمَامَةَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ الْوَرْسُ أَوِ الزَّعْفَرَانُ، فَإِنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ ". (بخارى: ١٣٤)

له ابن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چي: يوه سړي له رسول الله صلی الله علیه و سلم پوښتنه وکړه چي مُحرِم (چا چي احرام تړلی وي) به څه اغوندي؟ وئې فرمايل: نه به کميس اغوندي، نه پټکي، نه پرتوگ، نه چپنه، او نه داسي جامه چي عطر او زعفران پرې وهل شوي وي، او که پڼې (څپلکي) ونه مومي نو موزې دي واغوندي؛ خو داسي دې پرې کړي چي تر ښنگريو (ښېډيو) لاندي شي.)

دا روايت په بخاري کي لس ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٣٦٦، ١٥٤٢، ١٨٣٨، ١٨٤٢، ٥٧٩٤، ٥٨٠٣، ٥٨٠٥، ٥٨٠٦، ٥٨٤٧، ٥٨٥٢، په دوی کي دا توپيرونه تر سترگو کېږي: په ځينو کي د مفرد په صيغه راغلي لاَ يَلْبَسُ الْقَمِيصَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلاَ وَرْسٌ او په ځينو کي د جمع په صيغه لاَ يَلْبَسُ الْقُمُصَ وَلاَ الْعَمَائِمَ وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ وَلاَ الْبَرَانِسَ وَلاَ الْخِفَافَ، إِلاَّ أَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ په ځينو کي وَلاَ تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ أَوْ وَرْسٌ او په ځينو کي أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِوَرْسٍ أَوْ بِزَعْفَرَانٍ، په ځينو کي دا هم راغلي لاَ تَنْتَقِبِ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ: ښځي دي نه پر مخ نقاب اچوي او نه دي دستکشي په لاس کوي، په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ. د مفهوم او معنی له پلوه ټول سره ورته دي، خو ځيني ئې مختصر او ځيني ئې جامع دي. تر ټولو جامع ئې ١٨٣٨ روايت دئ چي په هغه کي د ښځو په اړه هم لارښوونه شوې.

عَبْدِ الرَّحْمَنِ بن أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: لا يَنْظُرِ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلا تَنْظُرِ الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، مصنف ابن ابی شیبه

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بن أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: لا يَنْظُرِ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلا تَنْظُرِ الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، وَلا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ، وَلا

تُفْضِى الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ. المعجم الكبير للطبرانى، مسلم، ترمذى، ابن ماجه

ابو سعيد خدري رضی الله عنه له خپل پلار روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نارينه دې د نارينه عورت ته نه ګوري او ښځه دې د ښځې عورت ته نه ګوري، نارينه دې له نارينه سره يو ځای (په يوه بستر کې) نه څملي او ښځه دې له ښځې سره يو ځای (په يوه بستر کې) نه څملي.

عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: « لاَ تَكْشِفْ (لاَ تُبْرِزْ) فَخِذَكَ، وَلاَ تَنْظُرْ إِلَى فَخِذِ حَيٍّ وَلاَ مَيِّتٍ ». سنن البيهقى، ابن ماجه

له علي رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ورون دې مه لوڅوه او د هيڅ ژوندي او مړي ورون ته مه ګوره.

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم «مُرُوا صِبْيَانَكُمْ بِالصَّلاَةِ فِى سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا فِى عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِى الْمَضَاجِعِ وَإِذَا زَوَّجَ الرَّجُلُ مِنْكُمْ عَبْدَهُ أَوْ أَجِيرَهُ فَلاَ يَرَيَنَّ مَا بَيْنَ رُكْبَتِهِ وَسُرَّتِهِ فَإِنَّ مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ وَرُكْبَتِهِ مِنْ عَوْرَتِهِ ».سنن الدار قطنى

عمرو بن شعيب له خپل پلار او نيکه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلې: خپل ماشومان په اُوه کلنۍ کې پر لمانځه وګمارئ، په لس کلنۍ کې ئې په وهلو سره پرې تأديب کړئ، او تر منځ ئې په بستر کې بېلوالی وکړئ، او که له ستاسو کوم يو خپل مريي او خادم ته واده وکړي نو د هغه د ورنو او نامه تر منځ (برخې ته) دې نه ګوري، د نامه او ورونو منځ ئې عورت ګڼل کېږي.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لاَ تَلِجُوا عَلَى الْمُغِيبَاتِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِى مِنْ أَحَدِكُمْ مَجْرَى الدَّمِ ». الترمذى، المعجم الاوسط للطبرانى

له جابر رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هغو ښځو ته مه ورځئ (يوازې ورسره مه ګورئ) چې مېړونه ئې په سفر تللي وي او غائب وي، ځکه شيطان ستاسو د يوه په وينې کې درومي.

عن جابر.... مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يَخْلُوَنَّ بِامْرَأَةٍ لَيْسَ مَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ ». مسند احمد

له جابر رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: څوك چې پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان لري له کومې ښځې سره دې په داسې حال کې ګوښې نه ګوري چې له هغې سره خپل محرم نه وي، ځکه درېيم به ئې شيطان وي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم، يَقُولُ: لا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلا تُسَافِرُ امْرَأَةٌ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ. البيهقى

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ:«لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلاَ تُسَافِرُ امْرَأَةٌ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ ». رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ فِى الصَّحِيحِ عَنْ عَلِىِّ بْنِ الْمَدِينِىِّ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ أَبِى بَكْرِ بْنِ أَبِى شَيْبَةَ وَزُهَيْرِ بْنِ حَرْبٍ كُلُّهُمْ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ.

عن ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم يَخْطُبُ يَقُولُ « لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ وَلاَ تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ إِلاَّ مَعَ ذِى مَحْرَمٍ». مسلم

له ابن عباس رضى الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خطبې کي فرمايلي: نه دي کوم سړي له داسي ښځي سره ګوښی ګوري چي محرم ئې ورسره نه وي او نه دي ښځه له محرم پرته سفر کوي.

دغو دلائلو ته په پام سره په بشپړ يقين او اطمئنان سره ويلی شو چي د حجاب او ستر په اړه د احنافو رأيه تر ټولو دقيقه او د قرآن او سنت مطابق ده.

---

وَأَنكِحُواْ ٱلْأَيَـٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّـٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْۚ إِن يَكُونُواْ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦۗ وَٱلَّذِينَ يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَـٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًاۖ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ ءَاتَىٰكُمْۚ وَلَا تُكْرِهُواْ فَتَيَـٰتِكُمْ عَلَى ٱلْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُواْ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَاۚ وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعْدِ إِكْرَٰهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٣﴾

او خپل بې واده (نارينه او ښځي) او خپل بې واده صالح مريان او وينځي واده کړئ، که فقيران وي الله به ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، او الله پوه د وسعت خاوند دئ، او هغه چي واده نه مومي تر هغه دي عفت غوره کړي چي الله ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، او ستاسو په لاس کي هغه (مريان او وينځي) چي د مکاتبت غوښتنه کوي نو مکاتبت ورسره وکړئ که کومه ښېګڼه په کي وګورئ، او د الله له هغه مال څه ورکړئ چي تاسو ته ئې درکړی، او د دنيايي ګټې په لټه کي خپلي وينځي بدلمنۍ ته مه اړباسئ، (خاصتاً) که هغوی پاك لمني غواړي، او څوك چي هغوی اړباسي نو يقيناً چي

**الله د دوی له اړ کېدو وروسته (ورته) مهربان بخښونکی دئ.**

(۳۲-۳۳)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني ځلېږي:

- مؤمنانو ته ويل شوي چې د خپلو بې واده او مجردو نارينه او ښځو او د بې واده صالح مريانو او وينځو د واده بند وبست وکړي، د بدلمنيو او اخلاقي فساد د مخنيوي تر ټولو اغېزمنه او ډاډمنه طريقه دا ده چې بلوغ ته رسېدلي ځوانان او پيغلې او له واده پاته شوي نارينه او ښځې واده کړی شي او د اوږدې مودې لپاره د مجرد پاته کېدو مخنيوی وشي، د کورنۍ مشران او د ټولنې واکمنان بايد دې لوري ته خاصه توجه وکړي او هغه خنډونه له منځه يوسي چې نکاح پېچلې او ځنډمنه کوي.
- فقر او اقتصادي مشکلات بايد په واده کې د ځنډ باعث نشي، نه دې واده کوونکي د خپلو اقتصادي ستونزو له کبله او يا له دې وېرې چې واده به ئې له اقتصادي مشکلاتو سره مخامخ کړي د واده کار ځنډوي، او نه دې پلرونه دا غلطي کوي چې کوم صالح او نېك انسان ته د خپلې لور له ورکولو له دې کبله ډډه وکړي چې هغه نيستمن او فقير دئ. باور او هيله ئې بايد دا وي چې الله تعالی به ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، دا لارښووني د هغه الله تعالی له لوري دي چې ښه پوه او د وسعت خاوند دئ، په هغه څه مو ګماري چې ستاسو خير په کې مضمر دئ، که د عليم خدای په لارښوونو عمل وکړئ له تنګسې به مو وباسي او پراخي به درپه برخه کړي.
- هغه چې د واده توان نه لري او امکانات ئې نه مومي تر هغه دې د عفت لمنه کلکه ونيسي او په ګناه کې له پرېوتو دې ځان وساتي چې الله تعالی ئې په خپل فضل سره شتمن کړي. له شتمن کېدو سره سم دې له ځنډ پرته دا کار وکړي.
- کوم مريان او وينځې چې د مکاتبت غوښتنه کوي، غواړي له غلامۍ وژغورل شي او د آزاد او خپلواك انسان په څېر ژوند وکړي، خپله آزادي پېري، له مالك سره داسې تړون ته چمتو کېږي چې د خپلې آزادۍ په بدل کې کومه مالي معاوضه يا کوم ګټور کار تر سره کړي، نو الله تعالی مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې نه يوازې داسې تړون ته چمتو شي بلکې مالي مرسته ورسره وکړي او له هغه مال څه ورکړي چې الله تعالی د دوی په واك کې ورکړی، خو مشروط په دې چې په هغه کې کومه ښېګڼه وګوري، د آزاد ژوند لپاره ئې مستعد ومومي، په دې پوه شي چې هغه دومره اهليت او کفايت لري چې خپل کارونه په سمه توګه تر سره کړي او د يوه صالح او نېك انسان په توګه آزاد ژوند وکړي. داسې نه چې آزادي ورته له اخلاقي حدودو د وتلو لار پرانيزي او بدو کارونو ته مخه کړي.
- مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چې د دنيايي ګټې په لټه کې خپلې وينځې بدلمنۍ ته اړې نه کړي، خاصتاً که هغوی پاك لمني غواړي، او څوك چې هغوی اړباسي نو يقيناً چې الله د دوی له اړ کېدو وروسته ورته مهربان بخښونکی دئ. لکه چې ومو ليدل تر دې وړاندې د دوی په اړه دا مهمې سپارښتنې وشوې چې د واده بند وبست ئې وکړئ او که ئې آزادي

غوښته او تاسو د آزاد ژوند اهليت په کې ولید، آزاد ئې کړئ او مرسته ورسره وکړئ، دلته د هغو ذليلو انسانانو په کرکجني کړني نيوکه کوي چې د وينځو د ناموس او عفت سوداګران دي، د دنيوي ګټې په موخه له وينځو د فاحشو او عزت پلورو په توګه استفاده کوي، تر اسلام وړاندې د عربي ټولنې حالت همداسې وو، وينځې به د همدې حرفې لپاره کارول کېدې، په جاهلي ټولنو کې، که دا تر اسلام وړاندې وې او که نن او په يوويشتمې پېړۍ کې، هلته چې دين حاکم نه وي، او د حلال او حرام پولې د الهي دين له مخې نه ټاکل کېږي، هلته چې د شيطان پاچايي وي، هلته چې انسان د خپل هوس بنده وي، نو هلته به د شهوت مهارول او حلال او حرام، جائز او ناجائز ته حدود او پولې ټاکل؛ نه يوازې ممکن نه وي بلکې کرکجن به ګڼل کېږي او په وړاندې به ئې حساسيت ښودل کېږي، ناموس پلورنه او بدلمني به په ګټوري تجارتي حرفې بدلېږي، له اسلام وړاندې د عربي ټولنې حالت همداسې وو، نن د غربي ټولنې حالت همداسې دئ، که تاسو د غربي ټولنې هر لوري ته مخ واړوئ؛ د دې ګنده او د انساني فطرت ضد عمل مظاهر به له ورايه وګورئ، په بازار کې، په مغازه کې، په هوټل کې، په بانك کې، په دفتر کې، د جمهوري رياست له مانۍ د ټرافيك تر غرفې، حتی په کليسا کې به د دې آثار او اغېز وومومئ، دا نن د لندن په ښار کې تر اويا زره زياتې د عزت پلورنې او بدلمنۍ رسمي هټۍ دي چې دولت ته کميشن ورکوي!!! له همدې لارې دولت تر لاسه کېږي، له همدې لارې لوړو مقاماتو ته د رسېدو دروازې پرانيستل کېږي، استخباراتي شبکې له همدې دام جوړوي، پټو اسرارو ته لار مومي، وبه ګورئ چې د ژوند پر هرې برخې د دې ګنده حرفې تور وزر غوړېدلی. اسلام راغی، د فکري، اخلاقي، اجتماعي او اقتصادي اصلاحاتو لړۍ پيل شوه، هغه چې په پرونۍ جهل ځپلې او شرك وهلې ټولنې کې د امتيازاتو خاوندان ول، چا له مذهب ځان ته حرفه جوړه کړې وه، چا ته د ټولنې اجتماعي جوړښت واکمني ورپه برخه کړې وه، چا د ټولنې له مخکينيو اقتصادي مناسباتو بې شمېره ګټې تر لاسه کولې، ځوك په اخلاقي فساد اخته وو او له آزادو جنسي اړيکو ئې خوند اخيست، او چا د عزت او ناموس سودا ګرې کوله، دوی ټولو اسلام ځان ته ګواښ ګڼلی او په خپل خپل وار او خپل خپل وخت کې ئې د اسلام مقابله کړې، په مکه کې د دې مخالفت مشري د ابو جهل په غاړه وه او په مدينه کې د ابی بن سلول، يوه ځرګنده مقابله کوله او له خپل پلرنی مذهب د دفاع تر نامه لاندې، بل په پټه مقابله کوله او د اسلام په جامه کې، د ابی بن سلول دښمني تر ابو جهل خطرناکه وه، د افك هغه فتنه چې په دې مبارکې سورې کې پرې بحث شوی د ده له لوري راولاړه شوې وه، دی شتمن وو، د ټولنې مخکيني جوړښت مرفه ژوند ورپه برخه کړی وو، وينځې او غلامان ئې درلودل، خپلې وينځې ئې عزت پلورنې ته اړې کړې وې او له دې لارې ئې عوائد تر لاسه کول، مدينې ته د رسول الله صلی الله عليه و سلم په راتلو سره هغه نه يوازې خپل مخکينی مقام او اعتبار له لاسه ورکړ بلکې دغه بازار ئې هم سوړ شو، د اسلام پر اخلاقي اړخ برید کول د ده يو ضرورت وو، هغه په دې موخه د افك فتنه راولاړه کړې وه او هغې ته ئې لمن وهله چې د خپلې بې عزتۍ او سپکاوي مشکل پرې حل

کړي، هغه مشکل چې د عزت پلورني له کبله ورسره مخامخ شوی وو. د ده په اړه په آثارو کې راغلي چې شپږ وينځې ئې د همدې کار لپاره کښېنولې وې، يوه ئې معاذه نومېده، مسلمانه شوه، له دې ګنده عمل ئې د لاس اخيستو او توبې پرېکړه وکړه، ابن ابی سخته وځوروله، هغې ابوبکر رضی الله عنه ته شکايت وکړ، خبره ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورسېده، حکم ئې وکړ چې هغه دې د دې ظالم له منګولو وژغورل شي.

راشئ ځيني هغه روايات هم له نظره تېر کړو چې په پورتنۍ موضوع پورې ارتباط لري:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصِّيَامِ، فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ. المعجم الكبير للطبرانی، النسائی، مصنف ابن ابی شيبه

له عبد الله بن مسعود رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: اې د ځوانانو ټوليه! ستاسو کوم يو چې د واده امکانات لري نو واده دې وکړي، ځکه دا د نظر ښه اړوونکی او د شهوت ښه مهاروونکی دئ. يعني واده د دې سبب کېږي چې انسان نا محرم ته نظر ونه کړي او له زنا خوندي پاته شي.

له دې روايت معلومېږي چې د مسلمانانو مشران او واکمنان بايد ځوانان واده کولو ته وهڅوي.

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله عليه و سلم:«ثَلاَثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللَّهِ عَوْنُهُمْ الْمُجَاهِدُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالنَّاكِحُ يُرِيدُ الْعَفَافَ وَالْمُكَاتَبُ يُرِيدُ الأَدَاءَ ». البيهقی

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: له دريو سره مرسته کول د الله تعالی پر ذمه دي: د الله د لارې مجاهد، هغه واده کوونکی چې د پاك لمنۍ اراده لري او هغه مريي چې د آزادۍ لپاره مکاتبت کوي او غواړي معاوضه ئې اداء کړي.

يعني که ځوك شتمن نه وي او د جهاد وسائل او امکانات په واك کې نه لري خو سره له دې د الله په لار کې د جهاد اراده کوي، يا د عفاف او پاك لمنۍ په موخه د نکاح اراده کوي او يا د آزادۍ لپاره مکاتبه کوي او غواړي چې خپل پور پرې کړي نو الله تعالی به ئې حتماً مرسته کوي.

د مکاتبې له لارې د مريي او وينځې د آزادولو د هغه شرط په اړه چې په اړوند آيت کې ورته په دې الفاظو اشاره شوې: ان علمتم فيهم خيراً په لاندې روايت کې داسې راغلي:

مَا جَاءَ فِي حَدِيثٍ مُرْسَلٍ وَمَرْفُوعٍ عِنْدَ أَبِي دَاوُد أَنَّهُ قَالَ صلی الله عليه و سلم: { إنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ حِرْفَةً وَلَا تُرْسِلُوهُمْ كَلًّا عَلَى النَّاسِ }. سبل السلام

د ابو داؤد له نظره مرسل حديث کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: که مو په هغوی کې کومه حرفه (کسب) وموند (نو مکاتبه ورسره وکړئ) او داسي ئې مه پرېږدئ چې د خلکو د اوږو پېټی وي. يعني له داسي غلامانو او وينځو سره په هغه صورت کې مکاتبه وکړئ او آزاد ئې کړئ چې د کوم کسب او کار له لاري خپل اقتصادي مشکلات په خپله او له حلالي لاري حلولی شي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ , قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:لا مُسَاعَاةَ فِي الإِسْلامِ , المعجم الكبير

له ابن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: په اسلام کې د عزت پلورني (کنجريتوب) لپاره ځای نشته.

عن رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ:«مَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ ». سنن البيهقى

له رافع بن خديج رضی الله عنه روايت دئ چې د کنجرۍ بدله ناولې او پليته ده.

---

وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ وَمَثَلًا مِّنَ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٣٤﴾

او يقيناً چې تاسو ته مو څرگندوونکي آيات، او د هغو بېلگه چې تر تاسو وړاندي تېر شوي او متقيانو ته موعظه او پند نازل کړل.

---

(٣٤)- په دې مبارك آيت کې د مخکينيو مطالبو په ارتباط د قرآني لارښوونو يوه خلاصه په دې توگه زموږ مخي ته ځلېږي:

- د قرآن آيتونه د حقائقو څرگندوونکي دي،
- د مخکينيو نسلونو حالت ئې انځور کړی،
- او په هغوی کې متقيانو ته موعظې وي.

---

ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشْكَوٰةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ۖ ٱلْمِصْبَاحُ فِى زُجَاجَةٍ ۖ ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّىٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِىٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ ۗ يَهْدِى ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَٰلَ لِلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ

(۳۵)

الله د آسمانونو او زمکې نور دئ، د نور مثال ئې داسې دئ لکه يو کوښځ (تاخچه)، چې په هغه کې يو ځراغ وي، دا ځراغ په يوې شيشې کې وي، دا شيشه داسې وي لکه يو ځلانده ملغلرې ته ورته ستورى، سون ئې د زيتون له داسې مبارکې ونې په برخه کېږي چې نه شرقي وي او نه غربي، چې تېل ئې نژدې وي (په خپله) روښانه شي که څه هم اور نه وي وررسېدلى، رڼا پر رڼا، الله خپل نور ته هغه څوك هدايتوي چې دى ئې غواړي، او الله د خلکو لپاره مثالونه بيانوي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

---

(۳۵)- د دې مبارك آيت په مطلب د ښه پوهېدو لپاره لاندې ټکې په پام کې ولرئ:

- دا آيت د دې مبارکې سورې له اصلي موضوع سره ژور ارتباط لري، لکه چې په دې سورې او په ټول قرآن کې د الله تعالى د ذات د څرنګوالي په اړه هيڅ څه نه تر سترګو کېږي، په دې آيت کې هم د بحث اصلي موضوع د الله تعالى ذات معرفي کول نه دي. د سورې اصلي موضوع د هغه دروغجن تور ردول دي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر پاك لمني مېرمنې عائشې رضى الله عنها د منافقينو له لوري لګېدلى وو، د دې آيت په پاى کې هم ويل شوي چې الله خپل نور ته هغه څوك هدايتوي چې دى ئې غواړي، د آيت له دوهمې فقرې هم په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې له نور السمٰوٰت و الارض د آسمانونو او زمکې هر څه ته رڼا ورکول او هغه روښانه کول مراد دي، همغسې لکه چې يو روڼ ځراغ يوه تاخچه (مشکوٰة) روښانوي.
- په دوهمې فقرې کې ويل شوي: د نور مثال ئې داسې دئ لکه يو کوښځ (تاخچه)، چې په هغه کې يو ځراغ وي، يعني د الله تعالى له لوري د آسمانونو او زمکې هر څه ته رڼا ورکول داسې دي لکه يو روڼ ځراغ چې يو کوښځ روښانوي.
- ورپسې د دغه ځراغ په اړه ويل شوي: داسې ځراغ چې په يوې شيشې کې وي، دا شيشه داسې وي لکه يو ځلانده ستورى، سون ئې د زيتون له داسې مبارکې ونې په برخه کېږي چې نه شرقي وي او نه غربي، چې تېل ئې نژدې وي په خپله روښانه شي که څه هم اور نه وي وررسېدلى، رڼا پر رڼا، که لږ ځير شئ او د آيت دا برخه د ورپسې آيت په رڼا کې وڅېړئ نو يقيناً چې په آسانۍ به درته جوته شي چې هلته د همدغه مشکوٰة، مصباح، ځلاندې او ستورې ته ورته شيشې، تېل، لاشرقيه لاغربيه، او دا چې ويل شوي: تېل ئې نژدې وي په خپله روښانه شي که څه هم اور نه وي وررسېدلى، شرح او تفصيل په دې توګه راغلى: بيوت له مشکوٰة سره، رجال له مصباح سره، د الله ذکر او تسبيح له تيل سره، لا تلهيهم تجارة و لا بيع عن ذکر الله له لاشرقيه و لاغربيه سره، يخافون له يکاد زيتها يضئ سره او د قيامت ورځ له نار سره تشبيه شوي. يعني پر الله تعالى ايمان او هغه رڼا چې د دغه ايمان له کبله د يوه انسان په برخه کېږي، هغه کور چې دغه مؤمنان په کې اوسي او هلته سبا او ماښام د خپل رب په

ذکر او تسبیح مشغول وي، نه ئې تجارت د الله له یاده او د لمانځه له قائمولو او د زکات له ورکړې غافلوي او نه ئې پېر پلور، له داسې ورځې وېرېږي چې زړونه او سترګې په کې اوړي، د دوی، د دوی د کورنی، د دوی د ذکر او تسبیح، لمانځه او زکات ته د دوی اهتمام، د قیامت له ورځې وېرېدا مثال همغسې دئ لکه په هغه مشکوٰة کې هغه روڼ څراغ.

• دې ته مو پام وي چې نور مخلوق دئ، له مادې ترشح کوي، د زمان او مکان او د مادې قوانینو تابع دئ، له لطیفو او شفافو شیانو تېرېدی شي خو له ضخیمو او متکاثفو شیانو نشي تېرېدی، په خپله نه لیدل کېږي خو د لیدلو وسیله وي، که نور نه وي موږ شیان نه شو لیدی، د نور دغه صفت ته په پام سره چې شیان روښانه کوي او د لیدو سبب ګرځي، الله تعالی د نور په نامه یاد شوی، که نه نو الله تعالی په هیڅ څه کې هیڅ مخلوق ته ورته نه دئ، ټول هغه صفات چې د مخلوق لپاره کارول کېږي د الله تعالی په اړه په مجازي معنی راځي نه په حقیقي معنی، نو د الله نور السمٰوٰت و الارض معنی همدا ده چې الله تعالی آسمانونه او زمکه روښانوي.

---

فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ﴿٣٦﴾ رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٣٧﴾ لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٣٨﴾

په داسې کورونو کې چې الله حکم کړی چې لوړ دې شي او په هغه کې دې د ده نوم یاد شي، داسې مېړني ده ته په هغوی کې سبا او ماښام تسبیح کوي چې نه ئې تجارت د الله له یاده او د لمانځه له قائمولو او د زکات له ورکړې غافلوي او نه پېر پلور، له داسې ورځې وېرېږي چې زړونه او سترګې په کې اوړي. د دې لپاره چې الله د دوی د کړنو د ډېر غوره په پرتله ورته اجر ورکړي او له خپل فضل لازیات ورپه برخه کړي، او الله هغه چا ته بې حسابه رزق ورکوي چې دی ئې وغواړي

---

(٣٦-٣٨)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

• دا په بشپړه توګه د مخکېني آیت او مثال شرح او تفصیل دئ. دلته په الله ایمان له څراغ سره تشبیه شوی، د مسلمان زړه له زجاجه (شیښې) سره، تسبیح او ذکر ئې د زیتون له صافو تیلو سره، د تجارت او پېر پلور له کبله د الله تعالی له عبادت نه غافلېدا ئې د زیتون له هغې ونې سره چې نه سهار د لمر له رڼا په ډډه وي او نه له غرمې وروسته، او له

همدې کبله ئې تیل ډېر صاف وي او ښه رڼا ورکوي، کور ئې له هغه مشکٰوٰة سره. او دا په حقیقت کې د هغه تور د تردید یو بل دلیل دئ، په دې توګه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپلې کورنۍ کې داسې دئ لکه هغه روڼ او ځلانده څراغ چې خپله شاوخوا رڼا کوي، ټول هغه وګړي به د ده له رڼا خپله برخه تر لاسه کوي او زړه به ئې روښانه کېږي چې د ده شاوخوا اوسېږي. او دا همغه مطلب دئ چې په ۲٦ آیت کې په دې الفاظو سره راغلی:

ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَۖ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٢٦﴾

• د دې مثالونو په معنی هغه وخت لازیات ښه پوهېدی شو چې د کفارو په اړه دوه راتلونکي مثالونه هم خپلې مخې ته کښېږدو. که څه هم ځینو درنو مفسرینو له (بیوت اذن الله ان ترفع) جوماتونه مراد کړي او ځینو د مؤمنانو کورونه، خو د بحث موضوع ته پام سره دوهم تعبیر کاملاً دقیق او ارجح برېښي. دې ته مو هم پام وي چې له دغو مؤمنانو سره درې وعدې شوې: ۱- اجر به ئې د هغه عمل له مخې ټاکل کېږي چې تر ټولو غوره وي، نه داسې چې د غوره او ناغوره اوسط اجر ورکړی شي. ۲- الله تعالی به د خپل فضل له مخې تر خپل اصلي حق زیات اجر او بدله ورکوي. ۳- بې حسابه رزق به ورکوي، یعنې رزق به ئې د کومې محاسبې له مخې نه وي چې معین مقدار او هومره چې دوی ئې د خپلو نېکو عملونو له وجهې مستحق دي ورکړی شي بلکې بې حسابه به وي.

بې مناسبته ئې مه ګڼئ که دلته دوه خوبونه ستاسو مخې ته کېږم:

۱- د سردار داؤد د اقتدار په لومړیو کې چې په پېښور کې اوسېدم یوه شپه مې خوب ولید چې په خپلې ولسوالۍ امام صاحب کې، د خپل کور مخې ته، د شپې له لورې، په چمن کې ویده یم، سر مې شمال ته او مخ مې قبلې ته، نا څاپې مې د شهادت ګوته کش کړی شوه، یوې خوا بلې خوا ته وګورم خو هیڅوك په نظر رانشي، څو شېبې وروسته بیا همداسې وشي او بیا مې څوك ګوته کش کړي، بیا سر راپورته کړم یوې خوا بلې خوا ته وګورم خو څوك په نظر رانشي، څو ګامه آخوا څو هډوکي پر زمکه پراته وګورم، ووایم: شیطانه ومې پېژندې، ورشم دا هډوکي لرې لرې وغورځوم، په دې ګمان چې شیطان د دغو هډوکو خوا ته راتلو او زه ئې ځورولم، بېرته خپل ځای ته راستون شم، د لا اله الا الله ذکر مې تر غوږ شي، ځیر شم چې دا غږ له کومه راځي، زموږ له کوره نژدې دوه سوه متره غرب لورې ته یو څلور لاری دئ، د دې څلور لارې شمال غربي کونج کې د یوه کور خوا ته یوه فیروزه یې رڼا ووینم چې کله ئې ځلا زیاته او کله ئې ټيټه شي، متوجه شوم چې دلته یو سړی ناست دئ، دا د ذکر غږ د ده دئ او دا رڼا د ده د زړه او د دغه ذکر رڼا ده، زه همداسې ورته ځیر وم چې د سهار اذان واورم، د اودس لپاره کور ته روان شم، که ګورم چې همغه سړی هم راغی او له ما سره یو ځای زموږ کور ته ننوتلو او په همدې سره له خوبه راویښ شوم. له هغې ورځې وروسته

مې د قرآن د دغه آيت په اړه تعبير همدغه پورتنى تعبير دئ.
۲- هغه وخت چې په ايران کې اوسېدم، زموږ خوا ته يوه بله افغاني کورنۍ مېشت وه، د سالنگ ول، لور ئې آمنه نومېده، څو ځلې ئې يو خوب ليدلى وو، زما لور ته ئې تېر کړى او ترې غوښتې وو چې زه ئې ورته تعبير کړم، خوب ئې داسې وو: ستاسو کور ته راشم، يوه ښځه چې ژبه ئې پردۍ ده خو زه ئې په خبرو پوهېږم، په يوه مرتبان کې راته داسې مار راکړي چې پوستکى ئې کب ته ورته وي، زه ئې کور ته راسره يوسم، بيا حکمتيار صاحب زموږ کور ته راشي، دا مار له مرتبان ووځي او د ده په ملني کښېني. ما خپلې لور ته وويل چې تر سبا پورې وخت را، سبا مې ورته وويل: دا نجلۍ زموږ کورته راغلې، زموږ په کور کې داسې چا چې په فارسي پوهېږي؛ دې ته ئې داسې خبره کړې چې ظاهر ئې سم برېښي خو په حقيقت کې زهرناکه ده، هغې دا مشوره منلې او خپل زړه ته ئې کوزه کړې، زما په ملني کې د هغه مار د ناستې معنى دا ده چې دا خبره تر ما پورې راورسېده، زما مشوره دا ده چې هغه خبره مه منه او له خپل زړه ئې وباسه. وروسته راته معلومه شوه چې دا نجلۍ ئې چا ته ورکړې وه، له توافق وروسته دې غوښتل چې دا واده ونه شي، زما له مېرمنې ئې مشوره غوښتې وه، هغې ورته ويلي وو چې که دې خوښه نه وي نو همدا اوس له دې دوستي لاس واخله. خو الحمد لله چې هغه واده تر سره شو. لکه چې گورئ په دې خوب کې زړه د شيشې له مرتبان سره تشبيه شوى، همغسې لکه په آيت کې چې زړه له زجاجه سره تشبيه شوى.

---

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَسَرَابِۭ بِقِيعَةٖ يَحۡسَبُهُ ٱلظَّمۡـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمۡ يَجِدۡهُ شَيۡـٔٗا وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥۗ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٣٩﴾ أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ﴿٤٠﴾

او هغه کسان چې کفر ئې کړى اعمال ئې داسې دي لکه په يوې وچې بيديا کې يو سراب (ځلوبې) چې تږى د اوبو گمان پرې کوي تر هغه چې ورشي څه ئې ونه مومي او الله د هغه خوا ته ومومي نو حساب ئې وربشپړ کړي او الله ژر حساب کوونکى دئ. او يا لکه په ژور سمندر کې هغه تيارې چې له پاسه ئې څپې سر په سر وي، او ترې بره وريځ، تيارې يوه د بلې د پاسه، که خپل لاس راوباسي نشي کولى وئې گوري، او چا ته چې الله رڼا نه وي ورپه برخه کړې نو هيڅ رڼا به ئې په برخه نشي.

(٣٩-٤٠)- په دې مبارکو آيتونو کې د کافرانو دوه ډلې تمثيل شوې دي:

• په لومړي مثال کې هغه کافر تمثيل شوی چې خپلو باورونو او عملونو ته څه طمع لري، ګمان کوي چې عقيده ئې سمه او عملونه ئې خدای ته مقبول دي، دی د وچې بيديا له هغه تږي لاروي سره تشبيه شوی چې په سراب د اوبو ګمان کوي، خوا ته ئې وردرومي په دې طمع چې تنده به ئې رفع شي، خو کله چې د سراب ځای ته ورسېږي هيڅ څه په لاس ورنشي. دی به د خپل باور خلاف له الله تعالی سره په داسي حال کې مخامخ کېږي چې لاسونه به ئې تش وي او الله تعالی به د ده بشپړ حساب د ده مخې ته کښېږدي او سزا به ئې ورکړي.

• دوهم مثال د هغه کافر په اړه دئ چې د کفر په پرېړو تيارو کې نښتی دئ، دی له داسي چا سره تشبيه شوی چې د ژور سمندر په تل کې لوېدلی، د سمندر لاندي برخي کې هم اوبه څپانده دي او برنۍ برخه کې ئې هم، د بحر پر سر پرېړو ورېځو خپل تور وزر خور کړی، په دې توګه پرېړو پرېړو تيارو احاطه کړی، نه يوازي خپله شاوخوا نشي ليدلی بلکې خپل لاس هم نهويني، يعني هم د ځان له پېژندا عاجز دئ او هم د خپل ماحول له پېژندا!! هغه د کفر په وجه په داسي يوه تياره محيط کې پرېوتی چې حتی خپل ځان هم نشي پېژندلی، څه دا چې خپل ماحول او محيط درك کړی شي. دغه مطلب د الانعام په سورې کې په دې الفاظو راغلی:

أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَـٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَـٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَـٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ الانعام

آيا هغه چې مړ وو، بيا مو راژوندی کړ او داسي رڼا مو ورپه برخه کړه چې په هغې سره په خلکو کې تګ کولی شي، هغه چا ته به ورته وي چې په داسي تيارو کې وي چې ترې وتونکی نه وي، کافرانو ته همداسي هغه څه ښايسته شوي چې دوی ئې کوي.

په دې مبارك آيت کې څو ډېرې مهمې او اساسي خبرې په ايجاز او اختصار سره شوې:

• کفر داسي دئ لکه مرګ او ايمان داسي دئ لکه ژوند، کافر د مړي په څېر دئ او مؤمن د ژوندي په څېر.

• څوك چې کافر وو او الله تعالی ايمان ورپه برخه کړ داسي دئ لکه چې مړ وو او الله تعالی راژوندی کړ.

• د الله تعالی لارښود کتاب داسي دئ لکه روڼ څراغ چې په تياره کې انسان ته لار ښيي.

• د دې روڼ څراغ په رڼا کې انسان کولی شي د خلکو په منځ کې د تلو لار ځان ته روښانه کړي، دوست او دښمن، صالح او طالح، مؤمن او منافق، ښه او بد وپېژني، لوړې او ژورې وويني، خنډونه او ګړنګونه ورته جوت شي.

• بې ايمانه انسان په يوې کفري ټولنې کې هغه چا ته ورته دئ چې په پرېړو تيارو کې پروت وي او د وتلو ټولې لارې پرې بندې وي.

• دا تیاره په حقیقت کې د جهل، شرك او کفر هغه تیاره ده چې د ده پر زړه، دماغ او سترګو ئې سیوری غوړولی، د ده معیارونه ئې مختل کړي، د ده احساسات او مشاعر ئې ځپلي، خپلي بدي کړني ئې ورته ښایسته کړې.

• دا آیتونه موږ ته ښیي چې انسان پیغمبرانو ته اړ او محتاج دئ، الله جل شأنه د ده د اړتیا رفع کولو او د ده د لارښوونې او هدایت لپاره پیغمبران رالېږلي. پیغمبر موږ ته د داسي اسوې او قدوې حیثیت لري چې کتاب د هغه په شخصیت کې عیني تجسم موندلی، یوازي کتاب د انسان د لارښوونې لپاره کافي نه دئ، باید الهي کتاب د یوه چا په عملي شخصیت کې څرګند شي، ټول مفاهیم او احکام ئې د هغه په شخصیت کې مجسم شي، د انسان د لارښوونې لپاره یوازي دعوت کافي نه دئ بلکې د دعوت تر څنګ داعي او معلم ته ضرورت شته، همدا وجه ده چې الله تعالی خپل کتاب د پیغمبر په لاس رالېږي.

په دې ښکلي او زړه راښکونکي مثال کې نه یوازي د کافر فکري او عملي حالت په ډېره دقیقه توګه انځور شوی بلکې د قرآن یو ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي:

• محققین او کائنات پېژاندي د خپلو څېړنو په ترڅ کې دې نتیجې ته رسېدلي چې د زمکې پر سر تر ټولو تیاره ځای د سمندر تل دئ، په ځانګړې توګه هغه مهال چې سمندر څپانده وي او پر سر ئې پرېړي وربځي وي، دا ځکه چې له یوه پلوه وربځي نه پرېږدي چې د لمر ټوله رڼا زمکې ته راشي، ډېره لږ سلنه ئې توانېږي چې له پرېړو وربځو تېره شي، له بلي خوا د سمندر د سر څپې د دې مانع کېږي چې رڼا په مستقیمه توګه لاندي تېره شي، د سمندر د برنۍ برخي په څېر په لاندنیو برخو کې هم بېلي څپې رامنځته کېږي، د دغو دواړو برنیو او لاندینیو څپو د حرکت لوري هم په خپلو کې توپیر لري، او دا د وړانګو د تېرېدو په وړاندي مزید موانع رامنځته کوي، نه پرېږدي چې د رڼا وړانګې په مستقیمه کرښه لاندي لاړې شي، څپې ئې جهت وربدل کړي، په دې توګه د سمندر تل ته د لمر د وړانګو د رسېدو ټول امکانات له منځه ځي. نو ځکه وایي چې د زمکې د سر تر ټولو تیاره ځای د ژور سمندر تل دئ. لکه چې ګورئ قرآن په پورتني آیت کې دغه حقیقت ته اشاره کړې او د ژورو اوبو تل ئې ډېر تیاره ځای معرفي کړی!!

• پوښتنه دا ده چې د مکې په بیدیا کې ستر شوی امي پیغمبر صلی الله علیه و سلم، هغه چې په خپل ټول ژوند کې ئې په سمندر کې سفر نه وو کړی، د بحر ستري ستري څپې ئې نه وې لیدلې، څنګه پوه شو چې د زمکې د سر تر ټولو تیاره ځای د ژور سمندر تل دئ؟!! څنګه پوه شو چې د بحر په ژورو برخو کې هم اوبه څپانده وي، دا څپې له برنیو څپو سره توپیر لري؟! څنګه ئې د بحر په اړه داسي وینا وکړه چې ساینسپوهان په شلمي پېړۍ کې پرې پوه شول؟! دې ته مو پام وي چې د سمندر د لاندینیو برخو څپې یوازي هغه مهال انسان ته معلومې شوې چې پرمختللي اوبتلونه ئې جوړ کړل او د سمندر په تل کې د سفر مجال په لاس ورغی او وئې لیدل چې هلته هم اوبه څپانده وي!!

• دا وروستی مثال د مخکینیو مثالونو مطلب په ښه توګه موږ ته واضح کوي، او موږ ته

وایي: کافر له رڼا بې برخي وي، په تیاره کې وي، شاوخوا ئې، کور ئې، ټولنه ئې او ډله ئې په تیاره کې وي، رنګ رنګ پرېږو پرېږو تیارو پرې خپل تور وزر غوړولی وي، هم د ځان له پېژندنه عاجز وي او هم د خپل ماحول، عالم او خپل رب له پېژندنه، هغه چې الله تعالی له رڼا او نور بې برخي کړی وي نو رڼا به له کومه ځایه تر لاسه کړي؟!! له الله تعالی پر ته خو په آسمانونو او زمکې کې د نور او رڼا بله مرجع نشته، په مقابل کې ئې مؤمن د ایمان په رڼا کې وي، د خپل ایمان د روڼ مشعل په رڼا کې درومي، زړه ئې نوراني، سترګې ئې روښانه، کور ئې، کورنۍ ئې، ماحول ئې، ټولنه ئې، ډله ئې، تګلاره او کړنلاره ئې ځلانده او رڼا، نور د نور له پاسه.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلطَّيۡرُ صَٰٓفَّٰتٖۖ كُلّٞ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسۡبِيحَهُۥۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ﴿٤١﴾ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٢﴾

آیا نه یې متوجه شوی چې الله داسې دئ چې څه په آسمانونو او زمکې کې دي او دا وزر غوړولي مرغان ده ته تسبیح وایي، هر یو پر خپلې لمانځنې او خپلې تسبیح پوه شوی، او الله په هغه څه پوهېږي چې دوی ئې کوي. او د آسمانونو او زمکې واکمني د الله ده، او د الله لوري ته ورګرځېدا ده.

(٤١-٤٢)- په دې مبارکو آیتونو کې د هغې رڼا ځرګندې بېلګې زموږ مخې ته ځلېږي چې د دې خور او پراخ عالم په خورې غېږ کې د هر څه په برخه شوې او مظاهر ئې هر لوري ته تر سترګو کېږي، ګورو چې د عالم هر څه په هغه کار بوخت دئ چې الله تعالی ورته ټاکلی، په همغه مسیر درومي چې الله تعالی ورته غوره کړی، د حال او قال په ژبه د خپل رب لمانځنه کوي او تسبیح ئې وایي، هر څه پوهېږي چې څه وکړي، د هغوی په کړنو کې د علیم رب د قدرت او لارښوونې نښې او آثار په ځرګنده ګورو، الله تعالی د عالم د هر څه ټولواك دئ، عالم د ده ملك دئ او دی ئې ټولواك، هر څه ده پیدا کړي، هر څه د ده حکم ته منقاد دي او هر څه په پای کې د ده لوري ته درومي.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزۡجِي سَحَابٗا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيۡنَهُۥ ثُمَّ يَجۡعَلُهُۥ رُكَامٗا فَتَرَى ٱلۡوَدۡقَ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٖ فِيهَا مِنۢ بَرَدٖ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصۡرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُۖ يَكَادُ سَنَا بَرۡقِهِۦ يَذۡهَبُ بِٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٤٣﴾

آیا نه ګورې چې الله ورېځې روانوي، بیا ئې په خپلو کې سره پیوست کوي، بیا ئې سر

په سر کوي، نو د باران څاڅکي به ګورې چې له منځه ئې راوځي، او په آسمان کې د يخ له غرونوږلۍ وروي او هغه چا ته ئې رسوي چې دی ئې وغواړي او له هغه چا ئې بلي خوا ته وړي چې دی ئې غواړي، نژدې وي چې د برېښنا رڼا ئې سترګي له منځه يوسي.

(٤٣)- په دې مبارك آيت کې د هغي رڼا يوه بله بېلګه زموږ مخي ته ځلېږي چې الله تعالی د عالم هر څه ته ورپه برخه کړي، دا ځل زموږ پام هغو ورېځو ته اړول شوی چې که هغه نه وی نو د زمکي پر سر به هيڅ ژوی نه وو، هغه چې د ژوند تومنه ده او د ژوو لومړۍ اړتيا. آيا نه ګورې چې الله ورېځي جوړوي، د هغو سيمو په لور ئې روانوي چې هستوګن ئې اوبو ته اړ دي، هره برخه ئې په ځانګړي لوري خوځوي، خپلي خپلي سيمي ته له رسېدو وروسته ئې په خپلو کې سره پيوست کړي، بيا ئې سر په سر کړي، په خپل ځای او په خپل وخت کې د باران څاڅکي ترې راووځي، تر دې وړاندي او له جوړېدو سره سم نه څڅېږي، د لاري په اوږدو کې نه څڅېږي، له لوښي پرته او د هوا پر اوږو اوبه انتقالوي، په خپل ټاکلي ځاي کې به ګورې چې خاص تغييرات په کې راشي او له منځه ئې د اوبو څاڅکي راووځي، په يوې سيمي کې باران ترې راووربږي، په بلي کې واوره او په بلي کې ږلۍ، ږلۍ له هغو ورېځو راوروي چې د يخ غرونو ته ورته وي، دا خطرناکه ږلۍ تل نه بلکي کله کله وروي او هغه چا ته ئې رسوي چې دی ئې وغواړي او له هغه چا ئې بلي خوا ته وړي چې دی ئې غواړي، دا د اوبو له بخاراتو جوړي شوې ورېځي د برېښنا منفي او مثبت بارونه لري، کله چې د ورېځو بېل بېل ځېري سره نژدې يا سر په سر شي نو د برېښنا دا مثبت او منفي بارونه سره شارټ شي، او په دې سره ډېره زياته تودوخه رامنځته شي، رڼا ئې دومره زياته وي چې سترګي وړي، همدا باعث شي چې له ورېځو د باران څاڅکي وورېږي. کوم څه چې دلته د ورېځو د تشکيل، د باران او ږلۍ د ورېدو په اړه په دې آيت کې ويل شوي ټول همغه څه دي چې ساينس ئې وايي. د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې د ورېځو د جوړېدا، آسمان ته پورته کېدا، په بېلو بېلو برخو وېشل کېدا، د بادونو په واسطه لرو لرو سيمو ته د دوی انتقال، د واورو، باران او ږلۍ په څېر ورېدا، د همدې په سبب د مړې زمکي ژوندۍ کېدا ته اشاره شوې، د ورېځو په اړه د قرآن هر آيت ځان ته يو علمي اعجاز دئ، د ورېځو ټولو علمي برخو ته په ډېري جامع او علمي توګه اشاره کوي.

يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٖ مِّن مَّآءٖۖ فَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ بَطۡنِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ رِجۡلَيۡنِ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰٓ أَرۡبَعٖۚ يَخۡلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ

﴿٤٥﴾

الله شپه او ورځ اړووي رااړووي، يقيناً چي په دې کي ستر‌گورو ته حتماً عبرت (د عبرت درس) دئ، او الله هر خوځېدونکی له اوبو پيدا کړی، چي ځيني ئې په سينه خوځي او ځيني ئې پر دوو پښو درومي او ځيني ئې په څلورو پښو درومي، الله هغه څه پيدا کوي چي دی ئې غواړي، يقيناً چي الله په هر څه قادر دئ.

---

(٤٤-٤٥)- په دې مبارکو آيتونو کي د هغو لارښوونو څو نوري برخي ځلېږي چي الله تعالی د عالَم هر څه ته ورپه برخه کړي:

- شپه او ورځ د الله تعالی په حکم او د هغو سننو مطابق اوړي راواوړي او يوه په بلې پسې په منظمه توګه ځي راځي چي الله تعالی وضع کړي، يقيناً چي په دې کي ستر‌گورو ته حتماً د عبرت درس دئ.
- الله تعالی هر خوځېدونکی له اوبو پيدا کړی، چي ځيني ئې په سينه خوځي او ځيني ئې پر دوو پښو درومي او ځيني ئې په څلورو پښو درومي. هر يوه ته ئې له خپل حالت او جوړښت سره سم او مناسب تګ ښودلی.
- د خلقت لړۍ روانه ده، هره شېبه ګورو چي الله تعالی هغه څه پيدا کوي چي دی ئې غواړي، چي هر لوري ته ستر‌گي واړوو د الله تعالی د قدرت نښي او مظاهر ګورو.

---

لَّقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖۚ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٦﴾

يقيناً چي څرګندوونکي آيتونه مو نازل کړل او الله هغه څوك مستقيمي لاري ته هدايتوي چي دی ئې غواړي.

---

(٤٦)- دا مبارك آيت وايي چي الله تعالی هغه آيتونه نازل کړي چي هم په خپله څرګند او روښانه دي او هم حقائق څرګندوي، خو له دې څرګندو آيتونو هغه څوك ګټه اخيستی شي چي د الهي مشيت او سننو له مخي د هدايت وړ وي، په مستقيمي لاري د تلو تلوسه لري، د حق په لټه کي وي او هغه مواصفات په ځان کي راپيدا کړي چي په دې لار د تلو لپاره ضروري دي.

---

وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ
وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا
فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ﴿٤٩﴾ أَفِي

قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ بَلۡ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٥٠﴾

او وايي: پر الله او پر پيغمبر مو ايمان راوړی او اطاعت مو کړی، بيا د دوی يوه ډله له دې وروسته مخ اړوي او دا کسان مؤمنان نه دي، او کله چې د الله او د هغه د رسول لوري ته وبلل شي چې د دوی تر منځ پرېکړه وکړي ناڅاپه د دوی يوه ډله ډډه کوي، او که پرېکړه د دوی په حق کې وي نو داسې ورته راځي چې غاړه ايښودونکي وي، آيا په زړونو کې ئې بيماري ده، يا په شك کې پرېوتي، يا له دې وېرېږي چې الله او د ده رسول به ظلم پرې وکړي؟!! بلکې همدا دوی ظالمان دي.

(٤٧-٥٠)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

ځيني خلك داسې دي چې پر الله او پيغمبر د ايمان او د دين په وړاندې د التزام او اطاعت دعوی کوي خو په حقيقت کې مؤمنان نه دي، د عدم ايمان لويه نښه او وجه ئې دا ده چې کله د الله تعالی او د هغه د رسول لوري ته وبلل شي چې د دوی تر منځ پرېکړه وکړي نو ډډه کوي او دې ته نه چمتو کېږي چې چارې، شخړې او منازعات ئې د الله تعالی د حکم او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د سنت مطابق تر سره او حل و فصل شي، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د دين پرېکړه د دوی د دريځ او ګټو خلاف وي، خو که پوه شي چې د الله او د هغه د رسول پرېکړه به د دوی په حق کې وي نو بيا له بشپړ انقياد سره دين ته رجوع کوي او پر ديني احکامو او نصوصو استناد او تمسك کوي. قرآن وايي: داسې کسان له څو حالته وتلي نه دي: يا ئې په زړونو کې د نفاق بيماري ده، يا ئې ايمان له شك سره توأم دئ او د زړه له کومې او په صادقانه توګه پر خدای او پېغمبر ايمان نه لري او يا له دې وېرېږي چې الله او د ده رسول به ظلم پرې وکړي، د دين پرېکړه به عادلانه نه وي او د دوی حق به تأمين نه کړي!! د دوی په اړه د الله تعالی قاطع او پرېکنده فيصله دا ده چې همدا دوی ظالمان دي. دا مبارك آيت د قرآن همغه لارښوونه يو ځل بيا او په نويو الفاظو زموږ مخې ته ږدي چې د الله تعالی په وړاندې او د الهي معيارونو له مخې د هغه چا د ايمان دعوی هيڅ ارزښت نه لري چې عملاً دين ته منقاد نه وي، د ژوند چارې ئې د دين په رڼا کې سمبال نشي او له نورو سره ئې شخړې او منازعات د دين مطابق حل و فصل نشي.

إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ

ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾

يقيناً كله چې مؤمنان د الله او د ده د رسول لوري ته د دې لپاره وبلل شي چې د دوی تر منځ پرېکړه وکړي، نو د دوی وينا له دې پرته بل څه نه وي چې وايي: وامو ورېده او اطاعت مو وکړ، او همدا ډله بختور دي. او چا چې د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړ او له الله ووېرېدو او (د هغه) له (مخالفت) ئې ځان ساتنه وکړه، نو همدغه کسان بريالي دي.

(٥١-٥٢)- يعني د واقعي مؤمنانو قول او وينا په هغه وخت کې چې د الله او پيغمبر لوري ته د دې لپاره وبلل شي چې د دوی په منازعاتو او مشاجراتو کې حکم وکړي؛ داسې وي: سمعنا وَ أطعْنَا، يوازې دغه خلك به فلاح او بريا تر لاسه کوي. د فلاح او بريا عوامل دا دي چې څوك د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړي، له الله تعالی ووېرېږي او له هغه څه ځان وساتي چې الله تعالی پرې ناراضه کېږي.

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِنۡ أَمَرۡتَهُمۡ لَيَخۡرُجُنَّۖ قُل لَّا تُقۡسِمُواْۖ طَاعَةٞ مَّعۡرُوفَةٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿٥٣﴾ قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيۡكُم مَّا حُمِّلۡتُمۡۖ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْۚ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٥٤﴾

په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چې که امر ورته وکړې نو حتماً به (د جهاد لپاره) ووځي، ووايه: لوړه مه کوئ، پېژندل شوی اطاعت دئ (ستاسو دنده)، يقيناً چې الله په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ، ووايه: د الله او پيغمبر اطاعت وکړئ، نو که ئې مخ واړاوو نو پر ده خپل اېښودل شوی مسئوليت او پر تاسو خپل اېښودل شوی مسئوليت، او که ئې اطاعت وکړئ هدايت به شئ، او پر پيغمبر له څرګند تبليغ پرته بل څه نشته.

(٥٣-٥٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

• ځيني داسې وي چې نه يوازې د ايمان او اطاعت ادعاء کوي او ځان کلك مؤمن ښيي بلکې وايي د الله تعالی په لار کې جهاد ته چمتو دي او کله چې د جهاد امر وشي نو له ځنډ پرته به د الله په لار کې جهاد ته وځي، خو دا د جهاد له پيل او دوی ته د جهاد له بلنې وړاندې وي، د دوی په اړه الله تعالی دا لارښوونه کوي چې ورته ووايه: لوړه مه کوئ، په ښه توګه د الله تعالی د اوامرو اطاعت وکړئ، الله تعالی په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو

ئې کوئ، که دا نن وي او که هغه مهال چي د جهاد بلنه درکړی شي، د پيغمبر مسئوليت دا دئ چي تاسو ته د الله او د هغه د پيغمبر د اطاعت بلنه درکړي، که تاسو بلنه ونه منئ او اطاعت ونه کړئ نو هغه به د خپل مسئوليت ذمه وار وي او تاسو د خپلو مسئوليتونو، که ئې اطاعت وکړئ نو په سمي لار به هدايت شئ، د پيغمبر له اطاعت پرته نه د سمي لاري پېژندا ممکنه ده او نه په سمي لاري تگ، پر پيغمبر له څرگند تبليغ پرته بل څه نشته، هغه ستاسو د مخالفتونو ذمه وار نه دئ، له هغه به دا پوښتنه نه کېږي چي ولي ونه توانېدې ټول خلك په سمه لار هدايت کړې.

- د آيت له دې فقرې چي وايي: په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چي که امر ورته وکړې نو حتماً به د جهاد لپاره ووځي، په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا سوره په داسي کلونو کي نازله شوې چي لا د مسلمانانو او د دوی د دښمنانو تر منځ ډېري نښتي نه وې شوې او لا د منافقينو هغه خصلت عملاً نه وو جوت شوی چي د نښتو په وخت کي د مسلمانانو له ملگرتيا او په جگړو کي له برخي اخيستو ډډه کوي، له دې معلومېږي چي دا سوره د احزاب له سورې وړاندي نازله شوې.

---

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ كَمَا ٱسْتَخْلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ ٱلَّذِى ٱرْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِى لَا يُشْرِكُونَ بِى شَيْـًٔا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٥٥﴾

له تاسو چي چا ايمان راوړی او نېك عملونه ئې کړي، له هغوی سره الله وعده کړې چي حتماً به د زمکي خلافت داسي دوی ته سپاري لکه چي تر دوی مخکينيو ته ئې خلافت سپارلی وو، هرومرو به هغه دين ته تمکين او اقتدار ورکوي چي د دوی لپاره ئې غوره کړی، او حتماً به د دوی خوف په امن بدلوي، ( داسي حالت به راولم چي) زما عبادت به کوي او هيڅ څه به له ما سره نه شريکوي. او څوك چي له دې وروسته ناسپاسي وکړي نو همدا دوی فاسقان دي.

---

(٥٥)- د دې مبارك آيت په وړاندي لږ توقف ضروري برېښي، بايد د دې ستري وعدې په پراخو ابعادو ځان پوه کړو او هغو پوښتنو ته ځواب ووايو چي په دې اړه راولاړېږي.

د دې آيت مهمي مهمي لارښووني دا دي: الله تعالی له صالح مؤمنانو سره دا وعده کړې چي د زمکي خلافت او واکمني به هرو مرو دوی ته سپاري، همغسي لکه چي تر دوی وړاندي ئې صالح مؤمنانو ته د زمکي خلافت او واکمني سپارلې وه، هرومرو به هغه دين ته تمکين

او اقتدار ورکوي چې د دوی لپاره ئې غوره کړی، او حتماً به د دوی خوف په امن بدلوي، او داسې حالت به راولي چې له الله تعالی پرته به د بل چا عبادت نه کوي او هيڅ څه به له هغه سره نه شريکوي. او که د الله تعالی د دغو وعدو له تحقق وروسته چا د ناشکرۍ لار غوره کړه، د دغو سترو سترو الهي پيرزوينو قدر ئې ونه کړ، هغه څه ئې ونه کړل چې له الهي پيرزوينو سره ښايي، نو دوی يقيناً چې فاسقان دي.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې ګورو چې له مؤمنانو سره دې ته ورته وعدې شوې، د فلاح، بريا، نصرت، عزت، خلافت، د زمکې د شتمنيو وراثت، د ولسونو سياسي او فکري قيادت، پراخ رزق، بشپړ امنيت، قوت او برلاسي، پوښتنه دا ده چې هو؛ دا وعدې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژوند کې او د ده تر قيادت لاندې تر سره شوې، څو لسيزې مسلمانانو د نړۍ په لويې برخې حکومت وکړ، د وخت دوه ستر ستر ځواکونه د دوی په وړاندې په ګونډو شول، د ټولې نړۍ فکري زعامت د مسلمانانو په لاس کې پرېوت، له اخلاقي پلوه د ټولو لپاره اسوه او بېلګه شول، له سياسي او نظامي پلوه دومره ځواکمن چې په ټول بشري تاريخ کې ئې لږ مثال موندلی شو، تر اوږدې مودې د نړۍ په هيڅ ګوټ کې هيچا د دوی د مقابلې او له دوی سره د ډغرو وهلو جسارت نه شو کولی. خو دا حالت ولې بدل شو، د پرمختګ هغه لړۍ ولې بنده شوه، د مسلمانانو هغه ستر او فاتح ځواک ولې ويلې شو، هغه لوی خلافت ولې په وړو وړو ټوټو ووېشل شو، هره ټوټه ئې د پرديو تر سياسي، نظامي، اقتصادي، فکري او اخلاقي سلطې لاندې، د دوی لاس پوځي پرې حکومت کوي، اقتدار د مفسدينو، منافقينو، ديکتاتورانو او د پرديو د ذليلو غلامانو په لاس کې، مسلمانان ولې له فقر، ضعف، ذلت، سپکاوي او محکوميت سره مخامخ شول؟ دا دئ څو پېړۍ کېږي چې د مسلمانانو حالت دومره دردوونکی دئ چې د هر بااحساسه انسان زړه پرې سوزي او د هر غيرتي مؤمن اوښکې پرې توئېږي. دا د ذلت او اسارت دوره دومره اوږده او ابعاد ئې دومره پراخ دي چې نه يوازې له اسلامه بې خبره خلک ګمان کوي اسلام او د مسلمانانو ديني او مذهبي عقائد د دې دردناک حالت ذمه وار دي او دين د مسلمانانو د آزادۍ، ترقي او سوکالي په وړاندې خنډ دئ بلکې په مسلمانانو کې ئې دا غلط عقائد راولاړ کړي چې ځينې ګمان وکړي دنيا د کافرانو لپاره ده او آخرت د مؤمنانو لپاره!! ګواکې خرابه دنيا د ښه آخرت مقدمه ده!! حتی مذهبي مشران ئې د دې لپاره چې همدا دردناک حالت او همدا ماتې او ذلت توجيه کړي، په داسې رواياتو استناد کوي چې يا په بشپړه توګه غلط، موضوعي، او ضعيف دي او يا غلط تعبير شوي. دا په داسې حال کې چې قرآن په مکرره توګه او په صريح او پرېکنده الفاظو وايي: الله تعالی دا دين د دې لپاره لېږلی چې پر ټولو اديانو ئې غالب کړي، د کافرانو د اکراه على الرغم. هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ۳۳ التوبه: ۳۳

الله تعالی د دې دنيا نعمتونه د مؤمنانو لپاره پيدا کړي، کافر ته ئې په ضمني توګه ورکوي، په آخرت کې به يوازې د مؤمنانو په برخه وي: قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ

لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِيَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا خَالِصَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٣٢ الاعراف: ۳۲: ووايه: چا هغه زينتي شيان چې الله خپلو بندگانو ته راايستلي او پاکيزه رزق حرام کړي؟ ووايه: دا په دنيوي ژوند کې هم د مؤمنانو لپاره دي او د قيامت په ورځ په مختصه توگه (د دوی لپاره دي)، دغسې هغو ته نښې په تفصيل سره بيانوو چې پوهېږي.

له دې مبارك آيت څو اساسي خبرې معلومېږي:

- الله تعالی نه ښايسته او زينتي شيان حرام کړي او نه پاکيزه رزق، څوك چې دا حرام گڼي هيڅ دليل ورته نه لري.
- دا دواړه په اصل کې د مؤمنانو لپاره پيدا شوي، د دوی په طفيل نورو ته هم ورکول کېږي، که د زمکې پر سر مؤمنان نه وي نو الله تعالی به د خپلو نعماتو او پېرزوينو لړۍ بندوي.
- د قيامت په ورځ به په مختصه توگه يوازې د مؤمنانو په برخه کېږي.
- له دې حقائقو يوازې ناپوه کسان انکار کولی شي، د پوهې او علم خاوندان پوهېږي چې الله تعالی به ولې هغه څه حراموي چې په خپله ئې د خپلو بندگانو لپاره پيدا کړي؟!

د بني اسرائيلو په قصې کې مونږ ته وايي: الله تعالی بني اسرائيلو ته د ايمان او د ايمان په لار کې د صبر له کبله برکتي سيمه په ميراث ورکړه:

وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ١٣٧ الاعراف

او د هغې زمکې ختيځې او لوېديځې برخې چې برکتونه مو په کې ايښې وو هغه قوم ته په ميراث ورکړې چې په استضعاف کې ساتل کېدل او ستا د رب غوره وينا د بني اسرائيلو په اړه په دې سبب بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو ويجاړ کړل چې فرعون او قوم ئې جوړول او لوړول.

قرآن په ذلت او سپکاوي کې ژوند د ايمان له مسير د انحراف او د همدې انحراف د سزا په توگه معرفي کوي او وايي:

... وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٦١ البقرة

... نو سپکاوی او خواري ورباندې وتپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا له دې امله چې د الله آيتونه ئې تکذيبول او پيغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصيان ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

تقوی او ایمان د رزق د پراخي او وسعت او د برکتونو باعث ګڼي او فرمايي:

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾ الاعراف

که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو او د زمکي د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانيستې وې، خو دوی دروغ وګڼلو، نو په هغه څه مو ونيول چي دوی کول.

يعني دا يو ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چي:

- که خلك ايمان راوړي، د تقوی لار غوره کړي نو الله تعالی به د آسمانونو او زمکي د برکاتو دروازې د دوی پر مخ پرانيزي، دواړه به په سخاوت او پراخ لاس سره خپل برکات د دوی مخي ته ږدي، آسمان به له برکته ډك ورښتونه پرې ورووي او زمکه به له برکت ډکي ميوې او دانې ورته راټوکوي.
- خو که دوی د الهي دين د تکذيب لار اختيار کړي، د ايمان پر ځای د کفر او د تقوی پر ځای د ظلم، فسق او فساد لار، نو د خپلو کړنو په وجه دي الهي عذاب ته منتظر وي.

دا د عزت، نصرت، برلاسي، فلاح او سعادت وعدې له چا سره شوې؟ له هغه چا سره چي ايمان لري او عمل ئې صالح وي، هغه څوك چي اصلح او تر ټولو غوره وي. خو د دې په مقابل کي هغه کسان هم موږ ته معرفي کوي چي الله تعالی ئې په ذلت محکوموي، په دې اړه الهي سنن او ضوابط هم موږ ته ښيي، چا ته چي اقتدار وسپارل شو او هغه فساد وکړ او صلهٔ رحم ئې قطع کړ، الله به ئې ړندوي، اقتدار به بېرته ترې اخلي او په ذلت به ئې محکوموي.

قرآن کريم د بني اسرائيلو په قصې کي دا موضوع توضيح کوي، او موږ ته دا ښيي چي پدې قوم کي کوم صفات راپيدا شول چي الله جل شأنه د هغه په وجه د زمکي خلافت ورکړ؟ او بيا کوم صفات په کي راپيدا شول چي دائې بېرته ترې واخيست، په ذلت ئې محکوم کړل او له فقر او مسکنت سره ئې مخامخ کړل؟ قرآن عظيم الشأن هغه الهي مشيت او هغه ضوابط او سنن موږ ته ښيي چي د هغه له مخي الله تعالی چا ته ملك او اقتدار ورکوي او يا ئې بېرته ترې اخلي او د اقتدار تخت ئې نسکوروي. ځيني کسان داسي ګمان کوي چي ګواکي دا هسي د چانس او تصادف له مخي تر سره کېږي، حتی دا هڅه کوي چي ثابته کړي پدې اړه څه خاص ضوابط او سنن نه مراعات کېږي، بس د الله تعالی چي چا ته خوښه شوه پاچاهي او اقتدار ورکوي او له چا ئې چي وغوښتل بېرته ئې ترې اخلي. خبره نه يوازي داسي نه ده؛ بلکي پدې اړه ثابت الهي سنن وضع شوي، قرآن عظيم الشأن موږ ته هغه الهي مشيت او هغه خاص سنن او ضوابط توضيح کړي او دا ئې راښودلې چي دا کار د خاصو سننو او ضوابطو سره سم تر سره کېږي، څنګه او چا ته الله اقتدار ورکوي او له چا ئې بېرته اخلي. نو که نن مسلمانان له ذلت او ماتې سره مخامخ دي، دښمنان له هره پلوه پرې

حکومت کوي او وضع ئې دردناکه او د ژړا وړ، وجه ئې دا ده چې دوی د الهي نصرت وړتیا له لاسه ورکړې او دوی هغه مؤمنان نه دي چې الله تعالی د بریا، عزت، سرلوړۍ او پر زمکې د حکومت کولو ژمنه ورسره کړې، د الله تعالی وعدې رښتینې دي موږ په خپلو ادعاګانو کې دروغجن یو. د قرآني لارښوونو له مخې د یوه متدین قوم د ذلت ستر عامل دا دئ چې الهي دین تجزیه کړي، په ځینو برخو ئې عمل وکړي او ځیني ئې شا ته وغورځوي، د کوم قوم په څېرې کې چې تاسو د ذلت، سپکاوي، ضعف، فقر او محکومیت نښې وګورئ په دې پوه شئ چې دا قوم د الله تعالی له لارې منحرف شوی او د الله دین ئې تجزیه کړی، قرآن فرمايي:

أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَـٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْىٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ البقره

آیا د (الهي) کتاب په ځینو برخو ایمان راوړئ او د ځینو په اړه ئې کفر کوئ، نو ستاسو هر څوك چې داسې وکړي نو سزا به ئې فقط په دنیا کې سپکاوی او رسوايي وي او د قیامت په ورځ به تر ټولو شدید عذاب ته رد کېږي، او الله له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې کوئ.

الله تعالی د نصرت او بریا وعده له هغه چا سره کړې چې د الله په لار کې جهاد کوي او د جهاد او هجرت د ستونزو په وړاندې صبر کوي، هغه وګړي دي د برلاسي، عزت او بریا هیله نه کوي چې جهاد ته ئې شا کړې، که څه هم لمونځ کوي، روژه نیسي او ګمان کوي چې مؤمنان دي.

د دغو قرآني لارښوونو په رڼا کې دا قضاوت کول ګران کار نه دئ چې د مسلمانانو د اوسني سپکاوي، ضعف او ذلت عوامل کوم دي. د ذلت دا لړۍ له هغه مهاله پیل شوې چې مسلمانانو د الله کتاب ته شا کړه او د الله په لار کې د جهاد فریضه ئې هېره کړه.

---

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٥٦﴾

او لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ چې رحم درباندې وشي.

---

(٥٦)- یعني که غواړئ چې الله تعالی پر تاسو رحم وکړي او د خپلو پېرزوینو وزر درباندې وغوړوي نو درې کارونه وکړئ: لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ. د پیغمبر اطاعت یعني همغسې ژوند لکه چې پیغمبر درلود، همغه څه کول چې پیغمبر کړي، له هغه څه ډډه کول چې پیغمبر نه دي کړي. هم په خپل شخصي او انفرادي ژوند کې او هم په ټولنیز ژوند کې، هم له دوستانو سره په معامله کې او هم له دښمنانو سره، هم د جنګ په حالت کې او هم د صلح په اړه، ځیني د رسول الله صلی الله علیه و سلم اطاعت په مسواك وهلو، عطر لګولو، پایڅې لوړولو، او آسانه آسانه او خوندورو سنتونو کې راخلاصه

کوي خو په مقابل کې ئې هغه ستر ستر فرائض او سنن هېروي چې د ده ایمان او د دنیا اوآخرت فلاح او بریا ورپورې تړلې، لکه د طاغوت واکمني نه منل، د شر او فساد ځواکونو سلطې ته سر نه ټیټول، د الله په لار کې هجرت او جهاد، امر بالمعروف او نهي عن المنکر او... دلته د پیغمبر اطاعت د داسې موضوع په ارتباط راغلی چې له صالح مؤمنانو سره د الله تعالی وعدې څېرې او په ورپسې آیت کې هم د کافرانو د مخالفتونو بدې پایلې انځوروي، نو دلته د پیغمبر د اطاعت معنی دا ده چې موږ به همغه څه کوو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د زمکې د خلافت، د دین د غلبې، د امن د راوستو او د بې امنیو او خوف او وېرې حالت ختمولو په اړه کړي.

---

لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٥٧﴾

د هغو په اړه چې کفر ئې کړی دا گمان مه کوه چې په زمکې کې عاجزوونکي (د مسابقې گټونکي) دي، حال دا چې د دوی مېشت ځی اور دئ او څومره بد ټاټوبی.

---

(۵۷)- په دې مبارك آیت کې موږ ته لارښوونه شوې چې د کافرانو په اړه به هیڅکله دا گمان نه کوو چې دوی به د حق په خلاف خپلو هلو ځلو کې بریالي شي، که څه هم د وسائلو او امکاناتو، عدد او عدة له پلوه ئې ظاهر ځواکمن برېښي، دا به هم د الله تعالی د یوې قطعي وعدې په توگه منو او هیڅ شك به په کې نه لرو چې د مسلمانانو په وړاندې د دوی ماتې حتمي ده.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِيَسۡتَـٔۡذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَبۡلُغُواْ
ٱلۡحُلُمَ مِنكُمۡ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٖۚ مِّن قَبۡلِ صَلَوٰةِ ٱلۡفَجۡرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ
ٱلظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعۡدِ صَلَوٰةِ ٱلۡعِشَآءِۚ ثَلَٰثُ عَوۡرَٰتٖ لَّكُمۡۚ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ وَلَا
عَلَيۡهِمۡ جُنَاحُۢ بَعۡدَهُنَّۚ طَوَّٰفُونَ عَلَيۡكُم بَعۡضُكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ
ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٥٨﴾ وَإِذَا بَلَغَ ٱلۡأَطۡفَٰلُ مِنكُمُ ٱلۡحُلُمَ
فَلۡيَسۡتَـٔۡذِنُواْ كَمَا ٱسۡتَـٔۡذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦۗ
وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٥٩﴾ وَٱلۡقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا يَرۡجُونَ نِكَاحٗا فَلَيۡسَ

عَلَيۡهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعۡنَ ثِيَابَهُنَّ غَيۡرَ مُتَبَرِّجَٰتِۭ بِزِينَةٖۖ وَأَن يَسۡتَعۡفِفۡنَ خَيۡرٞ لَّهُنَّۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٦٠

اې مؤمنانو! حتماً دې هغه کسان درې ځلې (درې وخته) له تاسو اجازه غواړي چې ستاسو تر لاس لاندې (مریان او وینځې یا خادمان) دي او هغه چې لا ځوانۍ ته نه دي رسېدلي: د سحر له لمانځه وړاندې، او هغه مهال چې د غرمې له لورې خپلې جامې باسئ او د ماخستن تر لمانځه وروسته، ستاسو د خلوت درې وختونه، تر دې آخوا پر تاسو او پر هغوی کومه ګناه نشته، پر تاسو راګرځېدونکي یو په بل پسې، الله همداسې تاسو ته آیتونه بیانوي، او الله باحکمت پوه دئ. او کله چې ستاسو واړه ځوانۍ ته ورسېږي نو همغسې دې اجازه غواړي لکه چې تر دوی وړاندینیو اجازه غوښته، الله همداسې خپل آیتونه تاسو ته بیانوي، او الله باحکمت پوه دئ، او د ښځو هغه پر ځای ناستې (سپین سرې) چې د واده هیله نه لري نو په دې کې هیڅ ګناه پرې نشته چې خپلې (ځینې) جامې ایسته کړي (په دې شرط چې) د زینت نه ښکاره کوونکې وي، او که حیاء کول وغواړي ورته غوره دئ، او الله پوه اورېدونکی دئ.

---

(٥٨-٦٠)- په دې مبارکو آیتونو کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې:

- هغه کسان چې ستاسو تر لاس لاندې دي او هغه چې لا ځوانۍ ته نه دي رسېدلي، ستاسو خونې ته د درتلو پر مهال باید په دغو دریو وختونو کې له تاسو اجازه وغواړي: د سحر له لمانځه وړاندې، او هغه مهال چې د غرمې له لورې خپلې جامې باسئ او د ماخستن تر لمانځه وروسته، دا درې وختونه ستاسو د خلوت وختونه دي، تر دې آخوا پر تاسو او پر هغوی کومه ګناه نشته چې له اجازې پرته یو د بل خونې ته ورشئ، د کورنې ژوند معمول دا ده چې یو پر بل راګرځي، او هره شیبه یو د بل لیدو ته اړ کېږي، دا د هغه الله تعالی لارښوونې دي چې باحکمت پوه دئ، ستاسو حال ته په پام سره ئې داسې احکام راولېږل چې په هر یوه کې ئې ستاسو خیر مضمر دئ.
- کله چې ستاسو واړه ځوانۍ او پېغلتوب ته ورسېږي نو دوی دې هم هغسې اجازه غواړي لکه چې تر دوی وړاندینیو اجازه غوښته.
- هغه سپین سرې زړې ښځې چې د واده هیله او شوق نه لري، تر دې عمر اوښتی وي چې د مېړه درلودو شوق وکړي، پر دوی باندې په دې اړه هیڅ ګناه نشته چې خپلې داسې جامې لکه پړونې ایسته کړي، په دې شرط چې دا کار به ئې د کوم ضرورت له مخې وي نه د زینت ښودلو په موخه، خو که دوی حیاء کول وغواړي نو دا ورته غوره دئ، دا د هغه الله تعالی لارښوونې دي چې پوه اورېدونکی دئ، ښه پوهېږي چې څه درته ګټور دي او څه مضر، څه وایئ او څه کوئ، په خپلو لارښوونو کې ئې دا ټول مراعات کړي.

لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞ وَلَا
عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ أَن تَأۡكُلُواْ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ ءَابَآئِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ
أُمَّهَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ إِخۡوَٰنِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَخَوَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَعۡمَٰمِكُمۡ أَوۡ
بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَخۡوَٰلِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمۡ أَوۡ مَا مَلَكۡتُم
مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوۡ صَدِيقِكُمۡۚ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَأۡكُلُواْ جَمِيعًا أَوۡ أَشۡتَاتٗاۚ
فَإِذَا دَخَلۡتُم بُيُوتٗا فَسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ تَحِيَّةٗ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةٗ طَيِّبَةٗۚ
كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٦١

نه پر ړانده کومه گناه شته او نه پر گوډ کومه گناه شته او نه پر ناروغ کومه گناه شته او نه پر تاسو چې له خپلو کورونو څه وخورئ یا د خپلو پلرونو له کورونو یا د خپلو میندو له کورونو یا د خپلو وروڼو له کورونو یا د خپلو خویندو له کورونو یا د خپلو ترونو له کورونو یا د خپلو پلرنیو ترندو له کورونو یا د خپلو مورنیو ترندو له کورونو او له هغو چې کیلیاني ئې ستاسو په واك كې دي یا د خپل دوست (له کور)، پر تاسو په دې کې څه گناه نشته چې په گډه خوراك وکړئ یا بېل بېل، او کله چې کومو کورونو ته ننوځئ نو پر خپلو ځانونو د الله له لوري د مباركې او پاكې كلمې د یوې تحفې په توگه سلام واچوئ، الله په دې توگه تاسو ته آیتونه بیانوي چې تعقل وکړئ.

(٦١)- د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- پر ړانده، گوډ او ناروغ په دې کې کومه گناه نشته چې له چا د خوراك لپاره څه تر لاسه کړي، اسلامي ټولنه او نظام ئې پر دې مکلف دي چې د داسي معذورو او محتاجو کسانو اړتیاوي رفع کړي، دا معذور کسان نه ملامت گڼل کېږي او نه گنهگار چې له نورو د اړتیا وړ خوراکي توکي تر لاسه کړي.
- پر مسلمانانو په دې اړه کومه گناه نشته چې یو د بل په کور کې څه وخوري.
- دا اجازه هم ورکړی شوې چې د خپلو پلرونو، میندو، وروڼو، خویندو، ترونو، پلرنیو ترندو، مورنیو ترندو، او له هغو کورونو چې کیلیاني ئې د دوی په واك كې دي یا د خپلو دوستانو له کورونو څه وخوري.
- په دې کې هم پر دوی څه گناه نشته چې په گډه خوراك وكړي او یا بېل بېل.
- كله چې كومو كورونو ته ننوځي باید یو پر بل داسي سلام واچوي چې د الله له لوري د یوې مباركې او پاكې كلمې د تحفې په توگه وي، لكه السلام علیكم و رحمة الله و بركاته.

• دا الهي لارښوونې دي، عقلمن ئې په ارزښت او اهميت پوهېږي.

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِذَا كَانُواْ مَعَهُۥ عَلَىٰٓ أَمۡرٖ جَامِعٖ لَّمۡ يَذۡهَبُواْ حَتَّىٰ يَسۡتَـٔۡذِنُوهُۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ فَإِذَا ٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِبَعۡضِ شَأۡنِهِمۡ فَأۡذَن لِّمَن شِئۡتَ مِنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمُ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٦٢ لَّا تَجۡعَلُواْ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيۡنَكُمۡ كَدُعَآءِ بَعۡضِكُم بَعۡضٗاۚ قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمۡ لِوَاذٗاۚ فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦٣

**مؤمنان خو يوازې هغه دي پر الله او د هغه پر پيغمبر ئې ايمان راوړی او کله چې له ده سره پر کوم ډله ايز کار بوخت وي تر هغه نه درومي چې اجازه ترې وغواړي، يقيناً هغه چې له تا اجازه غواړي همدا دوی پر الله او د هغه پر پيغمبر ايمان لري، نو که ئې د خپلو ځينو چارو لپاره له تا اجازه وغوښته چا ته چې ستا خوښه وي اجازه ورکړه او له الله بخښنه ورته وغواړه، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ، په خپلو منځونو کې د پيغمبر دعاء داسې مه ګرځوئ لکه ستاسو د ځينو دعاء نورو ته، يقيناً چې الله ستاسو هغه کسان پېژني چې پټ پټ (يو د بل په سيورې کې) وځي، نو هغه چې د ده له امره مخالفت کوي له دې دې ووېرېږي چې کومه فتنه به ئې په برخه شي يا کوم دردناك عذاب به وروړسېږي.**

(٦٢-٦٣)- په دې مبارکو آيتونو کې دا ځلانده لارښوونې زموږ په وړاندې ځلېږي:

• هغه وګړي واقعي مؤمنان ښودل شوي چې پر الله او د هغه پر پيغمبر د ايمان تر څنګ عملاً داسې وي چې کله د خپل لارښود په خوا کې په کوم اجتماعي او ډله ايز کار؛ لکه جهاد، تربيتي اجتماع او بل ګډ کار بوخت وي نو تر هغه له دې کار لاس نه اخلي او خپلو شخصي کارونو ته مخه نه کوي چې له مشر او لارښود اجازه تر لاسه کړي. په دې مبارك آيت کې دوه ځلي ويل شوي چې يوازې همدا وګړي واقعي مؤمنان دي.

• پيغمبر عليه السلام ته او د ده له لارې د مسلمانانو هر مشر او لارښود ته سپارښتنه شوې چې که له دغو واقعي او مخلصو مؤمنانو څوك د خپلو ځينو چارو لپاره ترې اجازه وغوښته نو مصلحت ته په پام سره دې هغه چا ته د تلو اجازه ورکړي چې يا ئې شخصي کار ډېر مهم او ضروري وي او يا د ده په تلو سره په اجتماعي کار کې کوم خلل نه راپيدا کېږي. يعني هيڅوك نه په خپل سر او له اجازې پرته د تلو حق لري او نه خپل شخصي کار ته پر

اجتماعي کار د ترجيح ورکولو حق.

- د مسلمانانو لارښود ته ويل شوي چي هغو وګړو ته له الله تعالی مغفرت او بخښنه وغواړي چي په يوه اجتماعي کار کي له برخي اخيستو محروم شوی او په خپل شخصي کار بوخت شوی، که څه هم دا کار ډېر ضروري وو او ده ئې د کولو اجازه تر لاسه کړې.
- مسلمانانو ته ويل شوي چي د پيغمبر دعاء داسي مه ګرځوئ لکه ستاسو د ځينو دعاء نورو ته، دعاء هم بلني او دعوت ته ويل کېږي او هم له الله تعالی چا ته د خير غوښتني ته، دلته دواړه مطالبه افاده کوي، يعني د پيغمبر عليه السلام له لوري کوم اجتماعي کار ته بلنه او د هغه دعاء عادي او د نورو د دعاء او بلني په څېر مه ګڼئ.
- الله تعالی هغه کسان پېژني چي پټ پټ او په داسي حال کي له اجتماعي کار تر شا کېږي چي يو د بل په سيوري کي وځي، دوی بايد دې ته متوجه وي چي معامله ئې له هغه خبير او عليم رب سره ده چي هيڅ څه ئې ترې پټ نه پاته کېږي.
- هغه چي د الله تعالی او د هغه د پيغمبر له امره مخالفت کوي بايد له دې ووېرېږي چي کومه فتنه به ئې په برخه شي يا کوم دردناك عذاب به ورورسېږي. کېدی شي همدا له اجتماعي کار پټ پټ تر شا کېدا او خپلو شخصي کارونو ته پر اجتماعي چارو ترجيح ورکول په دې منتج شي چي له کومي فتنې سره مخامخ شي او يا په الهي عذاب اخته شي.
- له دې څرګندو الهي لارښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي اسلام د يوه داسي دين نوم دئ چي نه يوازي په يوه منظم صف کي د يوه مطيع فرد په توګه د ژوند کولو او له يوه مشر سره د بيعت کولو غوښتنه کوي، بلکي د شخصي او انفرادي دندو تر څنګ داسي اجتماعي مسئوليتونه او دندي ورسپاري چي حق نه لري له اجازې پرته ترې لاس واخلي، که ئې شخصي کار ډېر مهم او ضروري هم وي نو نه پر مهم اجتماعي کار ترجيح ورکولی شي او نه په خپل سر او له اجازې پرته له اجتماعي چارو لاس اخيستی شي. دا مطلب د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه مبارك حديث ډېر ښه توضيح کوي چي وايي:

عن الحارث الاشعرى أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ الله أَمَرَنِي بِهِنَّ: الْجَمَاعَةِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ، وَالْهِجْرَةِ، وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ الله، فَمَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قَيْدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلا أَنْ يَرْجِعَ، وَمَنْ دَعَا دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَاءِ جَهَنَّمَ"، قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ الله وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى؟ قَالَ: نعم وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى، فَادعُوا بِدعوةِ اللهِ الذى سَمَّاكُم بِهَا المسلمِينَ المؤمنِينَ عِبَادَ الله.

له الحارث الاشعري روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: په هغو پنځو خبرو مو ګمارم چي الله تعالی زه پرې ګمارلی يم: جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کي جهاد، نو څوك چي له جماعت د يوې لوېشتي په اندازه ووت يقيناً د اسلام کړی ئې له خپلي غاړي وايسته، مګر دا چي بېرته راوګرځي، او څوك چي د جاهليت په بلني بلنه

کوي؛ هغه به د دوزخ خس او خاشاك وي، يوه سړي وويل: يا رسول الله! که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئې فرمايل: هو؛ که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي، نو د الله په هغې بلنې سره بلنه وکړئ چې تاسو ئې پرې مؤمنان، د الله بندگان مسلمانان نوملي يئ.

دا روايت چې د احاديثو په ټولو کتابونو کې په همدې الفاظو سره يا په لږ تغيير سره راغلی او صحيح ئې گڼلی، په جماعت کې ژوند، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد، دومره مهم بولي چې له دې پرته د چا لمونځ او روژه هم د منلو وړ نه گڼي!!

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿٦٤﴾

پام چې يقيناً هر هغه څه د الله دي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، يقيناً په هغه څه پوهېږي چې تاسو پرې (لگيا) ياست او په کومه ورځ چې د هغه لوري ته ورگرځول کېږي نو په هغه څه به ئې پوه کړي چې کول ئې، او الله په هر څه ښه پوه دئ.

(٦٤)- دا مبارك آيت چې د ټولې سورې د مضامينو لپاره ښکلې او جامع تتمه ده دا لارښووني زموږ په وړاندې ږدي:

- د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی دي.
- ستاسو پر ټولو کړنو پوهېږي، په څرنگوالي ئې، په پايلو او نتائجو ئې او د هر عمل تر شا ستاسو پر موخو او اغراضو.
- منافقين او د دوی کافر ملگري به په هغه څه پوه کړي چې کول ئې.
- الله په هر څه ښه پوه دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# الفرقان

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الفرقان) دئ، دا نوم له لومړي آيت (تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا) اخيستل شوی، اُوه اويا آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (نذيرا) او د پنځم آيت (اصيلا) ته ورته دي، اولسم آيت ئې په سبيل پای ته

رسېدلی خو دا آیت له ورپسې آیت سره تړلی او په ګډه په (بورا) پای ته رسي چې له نورو سره ورته کېږي، له دري شپېتم آیت تر پای پوري فواصل (سلما) ته ورته دي، آیتونه ئې د مکي دور د منځنيو کلونو سورتونو په څېر لنډ لنډ او د شعارونو په څېر دي چې ډېر ښکلی غږ او وزن لري، اوږده آیتونه ئې هم له لنډو فقرو جوړ شوي. د سورې له مضامینو هم معلومېږي چې دا د مکي دور په منځنيو کلونو کې او هغه مهال نازله شوې چې د قریشو او مسلمانانو تر منځ منازعه تشدید شوې خو لا هغه پړاو ته نه وه رسېدلې چې د مسلمانانو په ضد تشدد او زور زیاتی پیل کړي.

که وغواړو د دې مبارکې سورې ټول مضامین په یوې لنډې جملې کې راخلاصه کړو نو ویلی شو چې د سورې لومړی آیت (تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا: مبارك دئ هغه ذات چې دا فرقان ئې پر خپل بنده نازل کړ چې د عالمیانو لپاره يو نذير وي) د سورې د ټولو مضامینو خلاصه ده، په دې سورې کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رسالت دلائل وړاندي شوي، په دې اړه د مخالفینو کچه ويناوي او غلط تبلیغات څېړل شوي، د دوی اعتراضاتو او پوښتنو ته ځوابونه ویل شوي، د دغو تبلیغاتو او اعتراضاتو موخي او سببونه په ګوته شوي، د مخکینیو پیغمبرانو علیهم السلام په خلاف د دوی د مفسدو، ظالمو او کافرو قومونو مخالفتونه د مخکینیو تاریخي بېلګو په توګه وړاندي شوي، د هغوی د مخالفتونو بدي پایلي د دوی په وړاندي انځور شوې او ورته ویل شوي چې تاسو ته هم ورته برخلیك منتظر دئ، له موسی علیه السلام سره د فرعونیانو مخالفت، له نوح علیه السلام سره د ده د قوم دښمني، له هود او صالح علیهما السلام سره د عادیانو او ثمودیانو مخالفتونه او د دې مخالفتونو بدي پایلي د تاریخي بېلګو په توګه وړاندي شوې او د سورې په پای کې د الله تعالی د هغو صالح او مؤمنو بندګانو ګڼ شمېر امتیازي مواصفات بیان شوي چې پر رحمن رب د ایمان له کبله ئې په برخه شوي، او په دې توګه مخالفینو ته ویل شوي: د پیغمبر د بلني نتائج دا دي، ټولني ته داسي صالح شخصیتونه وړاندي کوي، ولې د داسي پیغمبر او د ده د بلني مخالفت کوئ؟!!

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴿١﴾ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدًا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ﴿٢﴾

مبارك دئ هغه ذات چې دا فرقان ئې پر خپل بنده نازل کړ چې د عالمیانو لپاره يو

نذير وي، هغه چې د آسمانونو او زمکې پاچايي د ده ده، نه ئې زوی نيولی (چې د ده ځای ناستی شي) او نه ئې په واکمنۍ کې کوم شريك شته او هر څه ئې پيدا کړل او ځانگړې اندازه ئې ورته وټاکله.

(۱-۲)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی د آسمانونو او زمکې ټولواك او حاکم دئ، هر څه ئې د ده دي او په هر ځای کې ئې د ده حکم نافذ دئ، يعني هغه هم مالك دئ او دا زمکه او آسمانونه د ده ملك دئ او هم حاکم دئ او د حاکم او مَلِك په توگه په کې تصرف کوي، هر څه د هغه په وړاندې محکوم دي، هغه مبارك دئ، د هر څه برکت د ده له لوري دئ، د خپل ملك په هر څه کې په خپله برکت اچوي، زوی او ځای ناستی نه لري، د دې عالم په ساتنه، پالنه او اداره کې هيڅوك له هغه سره شريك نه دئ، لکه څنگه چې ئې هر څه د بل له شراکت او مرستې پرته پيدا کړي؛ همداسې ئې د بل له مرستې او شراکت پرته پالي او ساتي.
- همدې الله تعالی پر خپل بنده هغه کتاب رالېږلی چې د هغه په رڼا کې د حق او باطل په توپير پوهېدی شو، ښه او بد، گټور او مضر، دوست او دښمن سره بېلولی شو، دا داسې تله او معيار دئ چې د سم او ناسم فرق زموږ په وړاندې ږدي. د خپل بنده په لاس د دې فرقان په لېږلو سره الله تعالی زموږ په وړاندې د برکتونو دروازې پرانيستې دي، هغه څوك به له دغو الهي برکاتو محروم وي چې دا فرقان ئې مشعل نه وي او دا نذير ئې لارښود نه وي، دا لارښود د ټولو عالميانو لپاره نذير دئ، د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو ئې وېروي.
- الله تعالی د هر څه لپاره معين حد او اندازه ټاکلې، هر څه ئې د ضرورت په اندازه پيدا کړي، نه تر ضرورت زيات او نه کم.
- په دې مبارك آيت کې د قرآن يو ستر علمي اعجاز ځلېږي، نن ساينس همدا خبره کوي چې د زمکې د سر د ټولو توکو اندازه ثابته او تغيير نه منونکې ده، تغيير ئې د دې عالم په اضمحلال منتج کېږي، کوم تغييرات چې موږ ئې گورو، لکه دا چې بوټي وسوزي او ايرې شي، اوبه بخار شي، لرگي، پاڼې او هډوکي وراسته شي، په دې سره د شيانو په ثابت مقدار کې تغيير او تبديلي نه راځي بلکې له يوه حالته بل ته بدلېږي. که تاسو يوه فزيك پوه ته دا خبره وکړئ چې قرآن وايي: هر څه په ثابت مقدار کې پيدا شوي نو هغه به فوراً تا ته ووايي: دا يو ستر او ثابت شوی علمي حقيقت دئ.

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا ﴿٣﴾

او له ده پرته ئې داسې معبودان ځانته غوره کړل چې نه څه پيدا کولی شي "بر عکس"

دوی په خپله پیدا کړی شوي، نه ځانته د څه تاوان واك او اختیار لري او نه د څه ګټې او نه د مرګ واك لري او نه د ژوند او نه د بیا خوربدو (او بیا پیدایښت).

(٣)- په دې مبارك آیت کې څو مهمې لارښووني ګورو:

- پیدایښت، ګټه، تاوان، مرګ، ژوند او بیا خورول او پیدا کول یوازې د الله له لوري دي.
- څوك چې دا کارونه له الله تعالی پرته بل چا ته منسوب کړي نو هغه ئې معبود ګڼلی.
- ځیني خلك داسې څه د معبود په توګه نیسي چې د هیڅ څه پیدا کولو توان نه لري، په خپله پیدا کړی شوي، نه له ځانه ضرر دفع کولی شي او نه ګټه رسولی شي، نه د مرګ واك لري او نه د ژوند.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٌ ٱفۡتَرَىٰهُ وَأَعَانَهُۥ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ ءَاخَرُونَۖ فَقَدۡ جَآءُو ظُلۡمٗا وَزُورٗا ۝٤ وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٱكۡتَتَبَهَا فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ۝٥ قُلۡ أَنزَلَهُ ٱلَّذِي يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ۝٦

او هغو چې کفر ئې کړی وویل: او دا خو له داسې درواغو پرته چې له ځانه ئې جوړ کړی بل څه نه دئ، او نورو وګړو په هغه کې مرسته ورسره کړې، یقیناً چې د یوه (ستر) ظلم او درواغ مرتکب شول. او وئې ویل: د وړاندینیو قصې دي چې د لیکلو لټه ئې کړې، بیا سبا او ماښام پرې لوستل کېږي، ووایه: هغه ذات نازل کړی چې په ټولو هغو اسرارو پوهېږي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، یقیناً چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

(٤-٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- کافرانو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه ویل: هغه څه چې دی ئې وایي؛ داسې درواغ دي چې له ځانه ئې جوړ کړی، نه دی د الله تعالی پیغمبر دئ او نه ئې وینا د الله تعالی پیغام، څه چې وایي له نورو ئې زده کړي، نورو ورسره مرسته کړې. دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه د مخکینیو او وروستنیو مخالفینو تبلیغات دي، قریشو هم دا تبلیغات کول چې محمد (علیه السلام) یا د اهل کتاب له کوم مذهبي مشر دا خبرې زده کړې یا له هغو مریانو چې له نورو سیمو دلته راوستل شوي، خو هغوی له یوې داسې پوښتنې سره مخامخ ول چې ځواب ئې نه شو موندلی، هغه دا چې د ده لپاره ئې کوم عرب استاد نه شو په ګوته کولی، په ماته ګوډه ژبه به ئې د داسې چا یادونه کوله چې هغه به په عربي نه پوهېدو، خو دې پوښتنې ته ئې ځواب نه درلود چې رسول الله صلی الله علیه و سلم څنګه له عجمي استاد داسې عربي کتاب زده کړی چې د عربو ستر ستر شعراء، ادباء او

علماء ئې له مقابلې عاجز دي؟! د دوی دا خوشې ادعاء هيڅ‌ا ورسره ونه منله، د عربو ټولو باضميره او عقلمنو خلكو پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ايمان راوړ او دا ئې زړه ته ولوېده چي قرآن د الله تعالى له لوري لېږل شوی كتاب دئ. تر دوی وروسته غربي مستشرقينو همدا دروغجن تبليغات تكرار كړي او د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه ئې ويلي چي ده له مسيحي او يهودي علماءو خپل افكار او نظريات تر لاسه كړي او د فرقان او قرآن نوم ئې پرې اېښی!! خو دا غلطه او بې بنسټه ادعاء يوازي د داسي چا په وړاندي كولی شي چي نه له قرآن خبر وي او نه د يهودانو او مسيحيانو له مذهبي كتابونو، چا چي دا دواړه كتابونه لوستي وي پوهېږي چي قرآن د بايبل نژدې په سلو كې پنځه نوي ويناوي ردوي او پنځه نوري ئې تصحيح كوي، په دې حقيقت هغه څوك په آساني پوهېدی شي چي قرآن او بايبل سره مقايسه كړي. دا ډېره شرمناكه سپين سترګي ده چي څوك د قرآن ويناوي له بايبل سره شبيه او ورته وګڼي او دا ادعاء وكړي چي د قرآن مطالب له بايبل اخيستل شوي!!! ما قرآن او بايبل سره مقايسه كړي، قرآن مي د بايبل د ترديد او تكذيب كتاب موندلی؛ نه د تأييد او تصديق كتاب. بايبل هغه تورات او انجيل نه دئ چي د الله تعالى له لوري لېږل شوي او قرآن ئې تصديق كوي، الله تعالى هغه مهال د نوي پيغمبر په لاس نوی كتاب لېږي چي د مخكيني كتاب هيڅ څه روغ رمټ پاته نشي او د مخكيني پيغمبر ټول اغېز په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، قرآن هغه وخت راغی چي تورات او انجيل په بشپړه توګه تحريف شوي وو، او د موسى او عيسى عليهما السلام د دعوت نښي او آثار په بشپړه توګه له منځه تللي وو. د قريشو او دغو مستشرقينو د دې دروغجني ادعاء په اړه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل پيغام او افكار د مخكينيو كتابونو او مذهبي مشرانو تر اغېز لاندي ترتيب كړي؛ د قرآن دغه وينا ډېره دقيقه ده چي وايي: يقيناً چي دوي په دې وينا سره د يوه ستر ظلم او ستر دروغ مرتكب شول.

• دښمنانو د نورو تبليغاتو تر څنګ د قرآن او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دعوت له حقيقت بې خبرو خلكو ته دا هم ويل چي قرآن د وړاندينيو قصې دي چي د بل په مرسته ئې ليكلې دي او سبا او ماښام پرې لوستل كېږي!! الله تعالى د دوی په ځواب كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا لارښوونه كړې چي ورته ووايي: دا قرآن هغه ذات نازل كړی چي په ټولو هغو اسرارو پوهېږي چي په آسمانونو او زمكي كې دي!! د دې ځواب په وړاندي لږ توقف په كار دئ، بايد وګورو چي د دې ځواب معنى څه ده او څنګه د هغو معترضينو ادعاء ردوي چي ويل ئې: رسول الله صلى الله عليه و سلم دا قرآن له خپل لوري جوړ كړی او هسي د مخكينيو قصې دي چي له نورو ئې اقتباس كړې؟ د دې پوښتنو ځواب دا دئ چي: قرآن د آسمانونو او زمكي هغه ژور اسرار څرګند كړي چي ښيي دا كتاب هغه ذات نازل كړی چي د آسمانونو او زمكي په ټولو اسرارو پوه دئ، قرآن د ګڼ شمېر آيتونو په ضمن كې داسي ستر ستر حقائق د خپل مخاطب په وړاندي ږدي چي انسان ډېر وروسته او د اوږد علمي او تحقيقي سفر په نتيجه كې او د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته پرې پوه

شوی، دا هر آیت یو ستر علمي اعجاز دئ، دومره ستر چې هم د موسی علیه السلام تر عصا او ید بیضاء ستره معجزه ده او هم د عیسی علیه السلام تر ړوند روغولو او مړي راژوندي کولو، هغه معجزې موقتي وې، اغېز ئې محدود وو، خو قرآن داسي معجزه ده چې تر قیامت پوري به خلکو ته د ښه ژوند لار ښيي، له فکري، اخلاقي او معنوي پلوه مړي به پرې راژوندي کېږي، د ظلم، جهل، فساد، کفر او شرك په گنده ډنډ کې غرق انسانان به پرې ژغورل کېږي، ما د قرآن نژدې دوه سوه آیتونه د ساینس او د قرآن علمي اعجاز په کتاب کې راغونډ کړي چې یقیناً هر یو ئې دومره ستر علمي اعجاز دئ چې د ټولو مخکینیو پیغمبرانو علیهم السلام تر معجزو د اهمیت، دوام او اغېز له پلوه وړاندي دئ. قریشو له رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي معجزې غوښتلې چې د مخکینیو رسولانو د معجزو په څېر وي، خو الله تعالی هر ځل د دوی د غوښتنو په ځواب کې فرمایلي: آیا دا قرآن او د هغه څرگند آیتونه د معجزې په توگه درته کافي نه دي؟ دلته همغه ځواب په دې صیغه راغلی: دا کتاب هغه ذات نازل کړی چې د آسمانونو او زمکې په ټولو اسرارو پوه دئ.

- دا قرآن نه یوازې د آسمانونو او زمکې د اسرارو څرگندوونکی کتاب دئ بلکې د مهربان بخښونکي رب د پېرزوینو داسي ډالۍ ده چې د رحمت او غفران دروازې ستاسو په وړاندي پرانیزي.

---

وَقَالُواْ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأۡكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشِي فِي ٱلۡأَسۡوَاقِ لَوۡلَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَلَكٞ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ۝٧ أَوۡ يُلۡقَىٰٓ إِلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٞ يَأۡكُلُ مِنۡهَاۚ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلٗا مَّسۡحُورًا ۝٨

او وئې ویل: ولې د دې پیغمبر دا حال دئ چې خواړه خوري او په بازارونو کې گرځي، ولې داسي فرشته نه ده ورته رالېږل شوې چې تر څنگ ئې نذیر (گواښونکې) وي، یا ئې کومه خزانه په واك کې نه پرېوځي، یا ئې د مېوو داسي بڼ نشته چې مېوې ترې وخوري، او دې ظالمانو وویل: تاسو یوازې د یوه جادو شوي سړي متابعت کوئ.

---

(٧-٨)- په مخکینیو مبارکو آیتونو کې د قرآن په اړه او په دې کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه د قریشو د تبلیغاتو لاندي بېلگې زموږ مخي ته اېښودل شوې:

- ویل ئې: آیا د الله تعالی له لوري لېږل شوی پیغمبر داسي وي لکه محمد (علیه السلام) چې د نورو انسانانو په څېر خواړه خوري او په بازارونو کې گرځي؟!! ولې ئې په خوا کې داسي فرشته نشته چې د ده دښمنان او مخالفین ئې گواښلی او د هر هغه چا مخه ئې نیولی چې ده ته د تاوان رسولو او د ده د مخالفت کولو اراده لري؟!! ولې ئې د سرو او سپینو زرو کومه خزانه په واك کې نه ده ورکړی شوې؟!! ولې د مېوو داسي بڼ نه لري چې لږ تر لږه په

خپله خو مېوې ترې وخوري؟!!

- پر دې ټولو سربېره ئې ويل: په دې به ښايي کوډې شوې وې چې داسې ناآشنا ناآشنا خبرې کوي!! وايي زه د الله تعالی پيغمبر يم، ما ته وحې کېږي، تاسو ته چې څه وايم دا د الله تعالی له لوري لېږل شوي پيغامونه دي!! ولې د داسې چا خبرې منئ چې نادرې او ناآشنا خبرې درته کوي؟!! تاسو د يوه پيغمبر نه بلکې د يوه جادو شوي سړي متابعت کوئ.

ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَٰلَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا ﴿٩﴾ تَبَارَكَ ٱلَّذِيٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيۡرٗا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَيَجۡعَل لَّكَ قُصُورَۢا ﴿١٠﴾

وګوره چې څنګه مثالونه ئې درته بيان کړي، چې په همدې سره لار ورکې شول او د هيڅ لارې (په موندلو) نشي توانېدی، مبارك دئ هغه ذات چې که وغواړي تر دې به غوره څه درپه برخه کړي؛ داسې جنتونه چې ترې لاندې ئې ويالې بهېږي او ماڼۍ به درپه برخه کړي

(۹-۱۰)- په دې مبارکو آيتونو کې د معارضينو په ځواب کې دوه خبرې شوې:

ګورې چې ستا په اړه د دوی مثالونه څومره متضاد دي، ځيني دي په يوه نامه يادوي او ځيني په بل، ستا په اړه د دوی قضاوت همغسې دئ لکه د هر جاهل ولس قضاوت د خپلو فکري او اجتماعي مشرانو او زړه سواندو داعيانو په اړه، همغه چې وايي: مشر بايد شتمن وي، بايد ځواکمن وي، بايد له عام ولس سره په هر څه کې توپير ولري، په خوراك، څښاك او پوښاك کې، په ناسته پاسته کې، د عام ولس له منځه د يوه داسې مشر راولاړېدا چې نه شتمن وي، نه ځواکمن، نه قصر لري، نه باغونه، ژوند ئې د عام ولس په څېر وي، دا د خپلو جاهلانه باورونو خلاف ګڼي او د داسې مشر منلو ته نه چمتو کېږي، د پيغمبر په اړه خو بيا تر دې هم وړاندې ځي او وايي: پيغمبر خو بايد دومره ځواکمن وي چې په خوا کې ئې ګواښونکې فرشتې وي، نه ئې څوك مخالفت وکولی شي او نه تاوان او ضرر ورورسولی شي، د يوې ګوتې په خوځولو سره بايد غرونه له ځايه وخوځوي، چينې د زمکې له لاندې راوخوټوي او تورې ډبرې په سرو زرو واړوي!! دغه جاهلانه باورونه ئې پر الله تعالی او د هغه پر پيغمبرانو له ايمان راوړو منع کوي او په خپل ژور جهالت کې پاته کېدو ته ئې هڅوي، خو دا د الله تعالی سنت نه دئ؛ انسانانو ته د انسانانو له منځه يو انسان د پيغمبر په توګه لېږي، په هر څه کې نورو انسانانو ته ورته انسان، په واقعي معنی انسان، که په زمکې کې فرشتې اوسېدی نو الله تعالی به د فرشتو له منځه يو پيغمبر ورلېږو، دلته الله تعالی د هغوی د دغې جاهلانه غوښتنې په ځواب کې فرمايي: که الله تعالی غوښتی نو تر هغه څه به ئې

لازيات غوره غوره نعمتونه درپه برخه کړي وو چي دوی ئې يادونه کوي، داسي ماڼۍ او باغونه چي ترې لاندي ئې ويالې بهېږي، الله تعالی مبارك دئ، برکتونه د ده په واك کي او د ده له لوري دي.

بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلسَّاعَةِۖ وَأَعۡتَدۡنَا لِمَن كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ١١ إِذَا رَأَتۡهُم مِّن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ سَمِعُواْ لَهَا تَغَيُّظٗا وَزَفِيرٗا ١٢ وَإِذَآ أُلۡقُواْ مِنۡهَا مَكَانٗا ضَيِّقٗا مُّقَرَّنِينَ دَعَوۡاْ هُنَالِكَ ثُبُورٗا ١٣ لَّا تَدۡعُواْ ٱلۡيَوۡمَ ثُبُورٗا وَٰحِدٗا وَٱدۡعُواْ ثُبُورٗا كَثِيرٗا ١٤ قُلۡ أَذَٰلِكَ خَيۡرٌ أَمۡ جَنَّةُ ٱلۡخُلۡدِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۚ كَانَتۡ لَهُمۡ جَزَآءٗ وَمَصِيرٗا ١٥ لَّهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعۡدٗا مَّسۡـُٔولٗا ١٦

(داسي نه ده) بلکي (د قيامت) ساعت ئې دروغ ګڼلی، او هغه چا ته مو لمبه ناك اور چمتو کړی چي دا ساعت ئې دروغجن ګڼلی، کله چي دوی له لري ځايه وګوري د غضب او ځوږ غږ به ئې واوري، او کله چي د هغه په يوه تنګ ځای کي په زنځيرونو تړل شوي وغورځول شي نو هلته به مرګ ته بلنه ورکوي، (ورته وبه ويل شي:) نن يوازي يو مرګی مه دربلئ ډېر مرګي دروبلئ، ووايه: آيا دا (حالت) غوره دئ او که هغه تلپاته جنت چي متقيانو ته ئې وعده ورکړی شوې چي همدا به ئې بدله او پای ځی وي؟ دوی ته به په هغه کي هر هغه څه وي چي غواړي ئې، په داسي حال کي چي تلپاته به وي، دا ستا د رب پر ذمه يوه غوښتل شوې ژمنه ده.

(١١-١٦)- په دې مبارکو آيتونو کي دا لارښووني شوې:

- له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د دغو کافرانو د مخالفت وجه دا نه ده چي دی سم نه پېژني او د ده د لوړ معنوي شخصيت په اړه شکمن دي او کوم عيب او نقص په کي ګوري، بلکي وجه ئې دا ده چي دوی د قيامت ورځ او د حساب و کتاب راتلونکی ساعت دروغ ګڼلي، په الهي محاسبې باور نه لري، دغه باور ئې له ګناهونو، ظلم او فساد منع کوي، دوی ئې منلو ته چمتو نه دي، نو ځکه ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم مخالفت ته ملا تړلې ده، دوی پر آخرت د عدم ايمان له کبله په داسي ګناهونو اخته دي چي پايله ئې د دوزخ سور او لبمه ناك اور دئ، داسي اور چي د دغو دوزخيانو په ليدو سره به ئې د غضب لمبې او شور ځوږ له لري اوربدل کېږي.
- د دوزخ اور د دنيا د اور په څېر نه دئ، چي وچ او لانده سوزوي، نه د سوزېدو وړ پېژني او نه ئې ناوړه، هغه سترګور دئ، د سوزېدو وړ کسان له لري پېژني، کله چي دوی له لري ځايه وګوري غضب به ئې داسي وپاربېږي چي غږ به ئې تر لرو لرو ځايونو رسي، لکه

چې قرآن دلته وايي چې کله د دوزخ اور دغه کافران له لرې وګوري نو غضب او د ځوږ غږ به ئې کافران له لرې واوري، په بل ځای کې فرمايي:

﴿كَلَّآ إِنَّهَا لَظَىٰ ۝١٥ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ۝١٦ تَدْعُواْ مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ۝١٧ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰ ۝١٨﴾ المعارج

نه داسې نه ده؛ دا خو يوه لمبه ده، ښه ايسټونکې د وريتولو لپاره. وربولي به هغه چې شا ئې اړولې او ډډه ئې کړې. او راغونډول ئې، بيا ئې ساتل.

يعني کوم عذاب چې دا دوزخيان ترې تښتي د اور سره لمبه ده چې خصوصيات ئې دا دي:

الف: هغه دوزخيان ښه پېژني چې د وريتولو او سوزولو وړ وي، يو يو به د خلکو له منځه رابېل کړې او د وريتولو لپاره به ئې په خپلې غېږ کې ونيسي.

ب: چا چې په دنيا کې حقيقت ته شا کړې وه، حق ته له تسليمېدو ئې ډډه کوله او له حرامو لارو ئې مال دولت راغونډولو، دا لمبه به ئې ځان ته رابلي.

يعني د دوزخ دا لمبه د دنيا د اور په څېر نه ده چې وچ له لندو نه شي بېلولی او دواړه سوزوي، بلکې درك او تشخيص لري، هغه کسان پېژني چې د سوزولو وړ او مستحق وي، هم به ئې له څېرو پېژني او هم په نوم، ځيني به په خپله رانيسي، او ځيني به په نامه يادوي او ځان ته به ئې وربلي.

- کله چې دا دوزخيان د دوزخ په يوه تنګ ځای کې په زنځېرونو تړل شوي وغورځول شي نو هلته به مرګ ته بلنه ورکوي، د مرګ هيله به کوي چې راشي او له هغه عذابه ئې وژغوري، د دوی د دې هيلې په ځواب کې به ورته وويل شي: نن يوازې يو مرګی مه دربلئ ډېر مرګي دروبلئ!! اوس به په وار وار د مرګي هيله کوئ، هره شېبه به ستاسو حالت داسې وي چې مرګ درباندې راولي خو نه به داسې مرګ درپه برخه کېږي چې له عذابه مو وژغوري او نه په حقيقي معنی ژوند.
- رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې کافرانو ته ووايه: آيا دا حالت غوره دئ او که هغه تلپاته جنت چې متقيانو ته ئې وعده ورکړی شوې چې همدا به ئې بدله او پای ځی وي؟ دوی په داسې لار روان دي چې په جنت منتهي کېږي، داسې عملونه کوي چې جنت به ئې بدله وي. دوی ته به په دې جنت کې هر هغه څه وي چې د دوی زړه ئې غواړي، په داسې حال کې چې تلپاته به وي، دا ستا د رب پر ذمه يوه غوښتل شوې ژمنه ده.

يعني له کافرانو او مؤمنانو سره دا د دوزخ او جنت وعده يوه داسې قطعي وعده او ژمنه ده چې الله تعالی پر خپلې ذمې اخيستې ده، حتماً به تر سره کېږي، له هغه مهربان رب العالمين سره چې ظلم ئې حرام کړی او خپل بندګان ئې د عدل په مراعات ګمارلي همدا ښايي چې د قيامت ورځ راولي او خپلې ژمنې تر سره کړي، او کافر او مؤمن ته خپله خپله عادلانه او مناسبه سزا او بدله ورکړي.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِى
هَٰٓؤُلَآءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿١٧﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِى لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ
مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَكَانُوا۟ قَوْمًۢا
بُورًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ۚ وَمَن يَظْلِم
مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا ﴿١٩﴾

او هغه ورځ چي (الله تعالی) دوی او هغه چي دوی له الله پرته لمانځل راغونډ کړي او ووايي: آيا تاسو زما دغه بندګان بې لاري کړل او که دوی په خپله لار ورکه کړې وه؟ وبه وايي: پاکي تا لره ده، موږ ته نه ښايي چي له تا پرته کوم دوستان ونيسو، خو تا دوی او د دوی پلرونه دومره متمتع (له دنيايي متاع برخمن) کړل چي دا ذکر (قرآن) ئې هېر کړ او هلاك شوي وګړي ول، نو يقيناً چي تاسو ئې په هغه څه کي تکذيب کړئ چي تاسو ئې وايئ، نو نه به په ردولو توانېدی شئ او نه د ملاتړ (په تر لاسه کولو)، او له تاسو چي څوك ظلم وکړي ستر عذاب به وروڅکو.

(١٧-١٩)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د قيامت په ورځ به مشرکين او د دوی هغه جعلي معبودان راغونډ کړی شي چي دوی له الله تعالی پرته لمانځل، الله تعالی به د دوی معبودان وپوښتي: زما دغه بندګان تاسو بې لاري کړل او که دوی په خپله لار ورکه کړې وه؟ وبه وايي: پاکي تا لره ده، ته له دې منزه يې چي شريك ولرې، موږ ته نه ښايي چي له تا پرته کوم بل مولا ونيسو، موږ دوی ته نه دي ويلي چي له الله تعالی پرته بل څوك ولمانځي، د دوی د بې لاريتوب اصلي وجه دا وه چي په شرك لړلې ټولني کي ئې د دنيا مال او متاع په برخه شوې وه، هم د دوی او هم د دوی د پلرونو، له دې دنيايي متاع دومره برخمن شوي وو چي الهي ذکر (قرآن او نور الهي کتابونه) ئې هېر کړل، په خپله ئې د هلاکت او بدمرغۍ لار غوره کړې وه.
- په دې توګه به دا جعلي معبودان د مشرکينو ټولي ادعاګاني تکذيب کړي، د دوی مذهب، د دوی غلط شرکي عقائد او د شرك په دفاع او حمايت کي د دوی بې بنسټه دلائل به رد کړي، نو دا مشرکين به نه په دې توانېږي چي په خپله د شرك له بدو پايلو ځان وژغوري او نه به داسي څوك مومي چي د دوی مرسته وکړي.
- شرك لوی ظلم دئ، دا د الله تعالی په حق کي ظلم دئ، هر څوك چي دا ظلم وکړي الله تعالی به ستر عذاب وروڅکي.
- دې ته مو پام وي چي دلته د جعلي معبودانو اطلاق يوازي په بُتانو نه دئ شوی، بلکي

نطاق ئې عام دئ او ټول هغه معبودان احتوى كوي چې مشركين ئې له الله تعالى پرته لمانځي، دوى كله فرشتې په الوهيت او ربوبيت كې له الله تعالى سره شريك كړي، كله پيغمبران او د الله تعالى نور صالح بندګان، كله مړي او كله ژوندي، كله قبرونه او كله بُتان، كله مذهبي مشران او كله سياسي واكمنان. د قرآن له نظره له الله تعالى سره شرك يا په عبادت او لمانځني كې وي، يا استعانت او مرستې غوښتني كې، يا اطاعت او متابعت كې او يا ولايت او دوستۍ كې. چا چې په دغو مواردو كې څوك له الله تعالى سره شريك كړى او بل څوك يا بل څه ئې د هغه ند او سيال ګرځولى مشرك دئ او ستر ظلم ئې كړى. دغه آيت په ډېر صراحت سره ښيي چې دلته د مشركينو معبودان د الله تعالى هغه صالح بندګان دي چې د قيامت په ورځ به د دوى شركي عقائد تكذيبوي، خپل برائت به اعلانوي او الله تعالى ته به وايي: موږ ته نه ښايي چې له تا پرته اولياء ونيسو، تا دوى او د دوى پلرونه له دنيايي متاع دومره برخمن كړل چې ستا ذكر او ستا له لوري نازل شوي كتابونه ئې هېر كړل.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمۡ لَيَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشُونَ فِي ٱلۡأَسۡوَاقِۗ وَجَعَلۡنَا بَعۡضَكُمۡ لِبَعۡضٖ فِتۡنَةً أَتَصۡبِرُونَۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرٗا ﴿٢٠﴾

او تر تا وړاندې مو له پيغمبرانو يوازې داسې څوك لېږلي چې خواړه ئې خوړل او په بازارونو كې ګرځېدل، او ستاسو ځيني مو د ځينو نورو لپاره آزمېښت ګرځولي آيا صبر كوئ؟ او ستا رب ليدونكى دئ.

(٢٠)- په دې مبارك آيت كې له يوې خوا د مخالفينو اعتراض ته په دې توګه ځواب ويل شوى چې الله تعالى تر دې وړاندې داسې پيغمبر نه دئ لېږلي چې خواړه ئې نه خوړل او په بازارونو كې نه ګرځېدو، نه يوازې د خپل جوړښت او فطرت له پلوه انسانان ول بلكې د خپل ورځني ژوند له پلوه د عام ولس په څېر ول، دا مشركين دي چې هم ئې د مخكينيو پيغمبرانو او د الله تعالى د نورو صالح بندګانو په اړه غلو كړې او هغوى ئې د الله تعالى ځاى ناستي او شريكان ګرځولي او هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه وايي: څنګه هغه څوك د الله تعالى پيغمبر وګڼو چې خوراك كوي او په بازارونو كې ګرځي؟!! په دې مبارك آيت كې دا لارښوونه هم شوې چې له حق او حقپالو سره داسې مخالفتونه يو طبيعي بهير دئ، الله تعالى انسانان داسې پيدا كړي چې ځيني د ځينو نورو لپاره آزمېښت وي، ځيني په كږو لارو سر شي، انحراف ئې هغه پړاو ته ورسېږي چې يو انسان د رب العالمين شريك او ځاى ناستى كړي، د حق مخالفت ته ملا وتړي او له هغو سره دښمني پيل كړي چې هم په خپله په سمه لار درومي او هم نورو ته په سمه لار د تلو بلنه وركوي، د همدې عام او تلپاته الهي سنت له مخې به هغه وګړي جوت كېږي چې د حق په لار كې صبر كوي او د مخالفتونو په وړاندې خپل ثبات او استقامت له لاسه نه وركوي.

د آیت د پای فقره (وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا: او ستا رب لیدونکی دئ) له یوې خوا رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده په لار تلونکو حقپالو ته ډاډ او اطمئنان ورکوي چې د الله تعالی تر رعایت لاندې يئ، هغه تاسو ګوري او له حاله مو خبر دئ، له بلې خوا ښيي چې د حق دښمنانو ته له حق او حقپالو سره د مخالفت فرصت ورکولو وجه دا نه ده چې یا الله تعالی ترې غافل دئ او یا هغوی د سزا وړ نه دي، وجه ئې دا ده چې الله تعالی غواړي تاسو وآزمويي او هغه صبر کوونکي جوت کړي چې د الهي نصرت وړ دي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ۗ لَقَدِ
ٱسْتَكْبَرُواْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾ يَوْمَ يَرَوْنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشْرَىٰ
يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٢٢﴾ وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُواْ مِنْ عَمَلٍ
فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾

او هغو چې زموږ د ملاقات هیله نه لري؛ وويل: ولې پر موږ فرښتې نه نازلېږي او خپل رب نه ګورو، یقیناً چې د خپل ځان په اړه ئې د لوی والي احساس وکړ، او په سترې سرکشۍ سره ئې سرکشي وکړه. هغه ورځ چې فرښتې وګوري مجرمینو ته به په دې ورځ کوم ښه زېرى نه وي او دوی به وايي: آیا داسې پرده (شته) چې مخ نیونکې وي؟ او د دوی هغو کړنو ته به ورووړاندې شو چې دوی کړې وې نو خورې ورې دوړې به ئې کړو.

(٢١-٢٣)- په دې مبارکو آیتونو کې لاندې الهي ارشادات زموږ مخې ته ځلېږي:

- هغه چې په ګناهونو کې غرق دي، د همدې ګناهونو له کبله له الله تعالی سره د ملاقات پایلو ته هیڅ هیله نشي درلودی نو ځکه قیامت او له الله تعالی سره مخامخېدا تکذیبوي، په دې اړه د نورو بې بنسټو دلائلو تر څنګ وايي: دا د وحي فرښتې ولې یوازې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازلېږي؛ ولې مخامخ پر موږ نه نازلېږي؟ څنګه ومنو چې هغه ته راځي او موږ ته نه، هغه ئې لیدی شي او موږ نه؟!! ولې الله تعالی موږ ته خپل ځان نه ښيي او په خپله مخامخ زموږ لارښوونه نه کوي؟ ولې په خپله موږ ته نه وايي چې دا مې پیغمبر دئ او دا مې پیغام؟!!
- الله تعالی د دوی د وینا او مطالبې په ځواب کې فرمايي: یقیناً چې دوی ته خپل ځان ډېر ستر برېښي، غواړي د عالمونو ستر رب د دوی په وړاندې ودرېږي او دا غوښتنه ترې وکړي چې لطفاً زما پیغمبر ومنئ او زما پیغام قبول کړئ!! دا وړوکی او کمزوری انسان چې په خپلې زمکې کې ئې حیثیت د یوې وړې ذرې دئ، د ټول عالَم په پرتله خو د ده او د ده د

ټولې زمکې او شمسي نظام د حیثیت ټاکلو لپاره نه کومه تله موندی شو او نه کوم وزن او معیار، دا وړوکی او حقیر انسان څنګه په ډکه خوله دا مطالبه کوي چې د آسمانونو او زمکې رب دې د دوی په وړاندې حاضر شي؟!!!

- دا مجرمین د فرشتو ورتلو مطالبه کوي، خو په دې نه پوهېږي چې که فرشتې ورشي نو د دوی لپاره به څه زېری له ځان سره لري او ورتګ به ئې د څنګه بدې پایلې پیلامه وي!! د فرشتو د ورتلو په ورځ به نه یوازې له خپلې مطالبې پښېمانه وي بلکې ستره هیله او غوښتنه به ئې دا وي چې کاش د دوی او فرشتو تر منځ داسې کلکه او پرېړه پرده وی چې د هغوی د ورتلو او لیدو مخنیوی ئې کولی. ځینو درنو مفسرینو ویلي چې دا د (حجراً محجوراً) وینا به د فرشتو له لوري مجرمینو ته وي، په دې معنی چې هغوی ته به وایي: د ښه زېري هیله مه کوئ، داسې زېری دربانديې حرام کړی شوی. خو د آیت لومړنیو برخو ته په پام سره مخکینۍ توجیه دقیقه او غوره ده.
- الله تعالی به د دوی ټولې هغه کړنې د غبار او دوړو په څېر خورې ورې کړي چې دوی په دنیا کې کولې.

أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ يَوۡمَئِذٍ خَيۡرٞ مُّسۡتَقَرّٗا وَأَحۡسَنُ مَقِيلٗا ﴿٢٤﴾

جنتیان به په دې ورځ هم د مېشت ځي له پلوه په غوره حال کې وي او هم د آرامتیا (او غرمنې خوب) له پلوه.

(٢٤)- یعنې د قیامت په ورځ به د جنتیانو دا حال وي چې تر غرمې وړاندې به له دوی سره آسانه الهي محاسبه پای ته رسېدلې وي او په جنت کې به مېشت شوي وي او په همغه ورځ به ئې د غرمې خوب په جنت کې وي!!

وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ﴿٢٥﴾ ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّ
لِلرَّحۡمَٰنِۚ وَكَانَ يَوۡمًا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ عَسِيرٗا ﴿٢٦﴾ وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ
يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ﴿٢٧﴾ يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا
خَلِيلٗا ﴿٢٨﴾ لَّقَدۡ أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكۡرِ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَنِيۗ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِلۡإِنسَٰنِ
خَذُولٗا ﴿٢٩﴾

او هغه ورځ چې آسمان په وریځو سره ټوټې ټوټې شي او فرشتې ډلې ډلې نازلې کړی شي، په دې ورځ به واکمني (په بشپړه توګه) د رحمن رب وي، او دا به پر کافرانو یوه سخته ورځ وي، او هغه ورځ چې ظالمان به خپل لاسونه چیچي او وایي به: کاش له

پیغمبر سره مې (د یو ځای تلو) کومه لار غوره کړې وی، وای وای پر ما، کاش فلانی مې زړه ته نژدې دوست نه وی نیولی، یقیناً چې زه ئې له هغه وروسته له ذکر بې لارې کړم چې راته راغی، او دا شیطان خو د انسان غولوونکی او یوازې پرېښودونکی دئ.

(۲۵-۲۹)- د دې مبارکو آیتونو مهم مطالب دا دي:

- د قیامت په ورځ به آسمان ټوټې ټوټې شي، ورېځې به راڅرګندې شي، فرشتې به ډلې ډلې نازلې کړی شي، په دې ورځ به واکمني په بشپړه توګه د رحمن رب وي، د هغو واکمنې به پای ته رسېدلې وي چې یا ئې ځان د خلکو لپاره اله او معبود جوړ کړی وو او هغوی ته ئې د خپلو بندګانو او غلامانو په سترګه کتل، یا نورو دومره لمانځل لکه د خدای لمانځنه.
- دا ورځ به د کافرانو لپاره یوه سخته ورځ وي، ظالمان به خپل لاسونه چیچي او وایي به: کاش له پیغمبر سره مې ملګرتیا کړې وی، د دوی لار مې غوره کړې وی، وای وای پر ما، کاش فلانی مې زړه ته نژدې دوست نه وی نیولی، یقیناً چې زه ئې له هغه وروسته د الله تعالی له لوري راغلي ذکر او لارښود کتاب بې لارې کړم چې ما ته راغی، زه انسي او جني شیطان بې لارې کړم، هغه چې د انسان غولوونکی او یوازې پرېښودونکی دئ. په تفسیرونو کې د دې آیت د دغې فقرې یو بل تعبیر هم مومو او هغه دا چې ګواکې دا وینا د الله تعالی له لوري ده چې شیطان د انسان غولوونکی او یوازې پرېښودونکی دوکه مار ملګری دئ، خو لومړی تعبیر غوره او دقیق برېښي.

وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوۡمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ مَهۡجُورٗا ﴿٣٠﴾

او پیغمبر وویل: اې زما ربه! یقیناً چې زما قوم دا قرآن د یوه متروك شي په توګه نیولی.

(۳۰)- د قیامت په ورځ به پیغمبر د الله تعالی په وړاندې دا شکایت کوي چې امت ئې قرآن ته اعتناء ونه کړه، هغه ئې شا ته وغورځاوو، داسې لکه کوم متروك شی. کوم قوم چې د الله په کتاب د پوهېدا هڅه ونه کړي، په لارښوونو ئې عمل ونه کړي، خپلې شخړې او منازعات د هغه په رڼا کې حل نه کړي، د هر اختلاف د حل لپاره هغه ته رجوع ونه کړي، د الله کتاب د هر اختلاف د حل وروستی مرجع ونه ګڼي، د حق او باطل پېژندو لپاره ئې وروستی معیار او ملاك ونه نیسي؛ هغه په حقیقت کې د الله کتاب مهجور او متروك پرېښی که څه هم د ایمان دعوی کوي او هره ورځ ئې د تبرك لپاره لولي او په خپلو منځونو کې د ښه قرائت مسابقې کوي!!

وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا مِّنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيٗا وَنَصِيرٗا ﴿٣١﴾

او همداسې مو د هر نبي لپاره د مجرمینو له ډلې دښمنان ټاکلي، او ستا رب د لارښود او مرستندوی په توګه کافي دئ.

(۳۱)- دا مبارك آيت وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د قريشو د مجرمو قومي او مذهبي مشرانو مخالفت نوې او ناآشنا خبره نه ده، د انساني تاريخ په اوږدو کې تل مجرمينو د پيغمبرانو دښمنۍ ته ملا تړلې، تر دې وروسته به هم، او د زماني په هر راتلونکي پړاو کې هم، په جرمونو کې غرق د شر او فساد څواکونه به د پيغمبرانو عليهم السلام په لار د تلونکو حقپالو دښمنۍ ته ملا تړي، همدا د الله تعالى سنت دئ، همدا د الله د لاري طبيعت دئ، په همدې سره کولی شو د پيغمبرانو حقيقي ملګري د ايمان له دروغجنو مدعيانو تفکيك کړو، هغه څوك د ايمان دروغجن مدعي دئ چي د ټولني مجرمين د ده مخالفت نه کوي او دی د مجرمينو، د دواړو تر منځ د روغي جوړي او مصالحې فضاء وي، نه دی د هغوی مزاحم کېږي او نه هغوی د ده. پر خدای او پيغمبر د ايمان داسي دروغجن مدعي يا په خپله دوکه شوی يا نور دوکه کوي.

د آيت په پای کې الله تعالى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته او د ده له لاري ټولو مؤمنانو ته ډاډ ورکوي چي الله تعالى ستاسو لارښود او مرستندوی دئ، په هر پړاو او د هر دښمن په وړاندي به ستاسو لارښوونه او مرسته کوي.

يَوۡمَ يَرَوۡنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشۡرَىٰ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُجۡرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ﴿٢٢﴾

او هغو چي کفر ئې کړی وو وويل: ولې ټول قرآن (په بشپړه توګه) او يوواري نه دئ پرې نازل شوی، داسي مو د دې لپاره کړي چي ستا زړه پرې مضبوط کړو، او ورو ورو مو ټوك ټوك (درباندي) لوستلی.

(۲۲)- په دې مبارك آيت کې د مخالفينو يو ستر او مکرر اعتراض او د هغه ځواب زموږ په وړاندي څلېږي: دښمنانو به ويل: که دا قرآن د الله تعالى له لوري نازل شوی وي او محمد (عليه السلام) په خپله، ورو ورو او د حالاتو له غوښتنو سره سم ټوك ټوك نه وي ليکلی؛ نو ولې ټول قرآن په يو ځايي توګه نه دئ پرې نازل شوی؟ دا د مخالفينو داسي اعتراض دئ چي قرآن ئې په مکرره توګه يادونه کوي او ځواب ئې وايي، او دا ښيي چي د دوی له نظره دا يو ستر او د پام وړ اعتراض وو!! دلته د دوی په ځواب کې ويل شوي: قرآن د دې لپاره پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ټوك ټوك نازل شوی چي د هغه زړه پرې مضبوط کړی شي.

د دې ځواب په وړاندي لږ توقف او غور ضروري برېښي، بايد وګورو چي ټوك ټوك راتګ ولې تر يوځايي راتګ زيات ګټور وو او د رسول الله صلى الله عليه و سلم زړه پرې مضبوطېدو؟! په دې اړه لاندي خبري په پام کې ولرئ:

- د کتاب زده کړه دوه ډوله وي: نظري زده کړه او عملي زده کړه، يوه زده کړه دا ده چي څوك په کومي مدرسې او مکتب کې له خپل استاد او معلم يو کتاب له پيل تر پای زده کړي، يا په دې موخه چي سند تر لاسه کړي او بريالی وګڼل شي او يا په دې موخه چي په

دې کتاب پوه شي او بيا پرې عمل وکړي، لومړی شاگرد له دې زده کړي يوازې د بريا سند تر لاسه کولی شي، له آزمويني وروسته هر څه په کتاب کې ترې پاته شي، دوهم شاگرد يوازې دومره څه زده کولی شي چې پوه شي په دې کتاب کې کوم کوم مسائل څېړل شوي، د عمل په ډگر کې نه دا زده کړه ورته کفايت کوي او نه ئې په ياد پاته کېږي، د هرې قضيې په ارتباط به بيا بيا کتاب ته مراجعه کوي، او ډېر ځلي به د هغه په دقيق او سم تفسير او تعبير کې له راز راز ستونزو او شبهاتو سره مخامخ کېږي، کوم کتاب چې د انسان په عملي ژوند پورې مربوط قضايا څېړي او د عمل غوښتنه کوي داسې نظري زده کړه ئې نه کافي ده او نه د زده کوونکي مشکل پرې حل کېږي. دوهمه او اغېزمنه زده کړه دا ده چې د کتاب هره برخه په عملي توگه زده کړی شي، همغسې لکه چې د کيميا د کتاب يوه معادله عملاً په لابراتوار کې وروښودی شي، شاگرد عملاً وگوري چې کوم کوم مواد په کوم کوم مقدار کې سره يو ځای کېږي او څه ترې جوړېږي. څومره سيمينټ له څومره شگې او اوبو سره گډ کړو چې مضبوط او مقاوم دېوال ترې جوړ کړو، کله چې د خپل کتاب اړوند پاڼه د عمل په ميدان کې په خپلو سترگو گوري نو په ذهن کې ئې مضبوط ثبت شي، هم د معادلې په حقيقت پوه شي او هم ئې د اوږدې مودې لپاره په ياد پاته شي، د هر عملي کتاب لپاره د تجربې لابراتوار په کار دئ، له دې پرته ئې زده کړه گرانه او ستونزمنه ده، قرآن د عمل کتاب دئ، د ايمان تر څنگ د عمل غوښتنه کوي، د زده کړې لپاره ئې عملي ميدان په کار دئ، عمل له يوې ورځې تر بلې او له يوې مرحلې تر بلې فرق کوي، حالات بدلېږي رابدلېږي او هر حالت د ځانگړي عمل غوښتنه کوي، اړوند لارښوونې ئې بايد په خپل خپل وخت کې د عامل په وړاندې کښېښودی شي، دا عملي درسونه يوازې د مدرسې په کونج کې نشي زده کېدی، که دا يوازې نظري کتاب وی نو الله تعالی به په بشپړه توگه او يو ځايي نازل کړی وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم به کومه مدرسه پرانيستې وه او هلته به ئې د يوه مدرس په توگه ټول قرآن له سر تر پای يو ځايي خپلو شاگردانو ته ښودو، خو نه الله تعالی دا کتاب يوځايي نازل کړ او نه رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل شاگردان په دې توگه روزلي، الله تعالی خپل کتاب ټوك ټوك نازل کړ او مؤمنانو ته ئې لارښوونه وکړه چې په دين کې د تفقه او پوهې تر لاسه کولو لپاره له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره جهاد ته ووځئ!! ځينې د دې الهي لارښوونې په مقصد له پوهېدو عاجز دي، نه پوهېږي چې څنگه به دين په سنگر کې او د غزاگانو په ترڅ کې زده کوي!! د دوی د پوهاوي لپاره يو مثال وړاندې کوم: قرآن په مکرره توگه مونږ په تقوی گماري، د متقيانو مقام لوړ گڼي او له هغوی سره د الله تعالی گڼ شمېر وعدې زمونږ مخې ته ږدي، خو دا تقوی يوازې مجرد ذهني مفهوم نه دئ چې په لغوي معنی ئې پوهېدا کافي وي، تقوی يو عملي مفهوم دئ او د عمل په څرنگوالي پورې تړلی دئ، ځانگړې عملي تقاضاوې لري، په حقيقي مفهوم ئې هغه مهال پوهېدی شو چې د يوه متقي انسان په عملي ژوند کې ئې اغېز او آثار په خپلو سترگو وگورو، له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره څو ورځنۍ ملگرتيا کافي وه چې صحابه د تقوی او د تقوی په څېر د نورو مهمو

مهمو قرآني مفاهيمو په حقيقت پوه شوي وی. صبر، توکل، قناعت، احسان، اطاعت، له الله تعالی پرته له بل چا نه ویرېدل او دې ته ورته مفاهيم یوازې د کتاب په پاڼو کې او په نظري توګه نشي زده کېدی، په کتاب کې ئې هغه مهال څه ناڅه په معنی پوهېدی شو چې د کوم صابر، متوکل، قانع، محسن، مطيع او ډاډمن انسان په څېرې کې انځور شي. قرآن دا موضوع د هغې قصې په ترڅ کې زموږ په وړاندې په ډېرې ښکلې او اغېزمنې بڼې کې انځوروي چې د خضر عليه السلام او موسی علیه السلام څو ورځنۍ ملګرتيا پورې ارتباط لري، وايي: موسی علیه السلام د خضر عليه السلام خوا ته ورغی، په دې موخه چې څه ترې زده کړي، د اوږده او ستونزمن سفر په نتيجه کې د هغه خوا ته ورسېدو او له هغه ئې وغوښتل چې د شاګرد په توګه ئې قبول کړي او هغه څه وروښيي چې الله تعالی ده ته ورښودلې، خضر عليه السلام خپل شرائط وضع کوي او د شاګرد په توګه ئې قبلوي، خو داسې نه چې ورته ووايي: کتاب، کاغذ او قلم راواخله، زما په وړاندې لاس پر زنګونو کښېنه او هغه څه اوره او ليکه چې زه ئې درته وايم!! بلکې په يوه سفر کې ئې له ځان سره ملګری کوي او د همدې سفر په ترڅ کې درې مهم مهم سبقونه په عملي توګه ورښيي: ۱- د ظالمانو په وړاندې د مظلوماتو مرسته او د هغوی له شر او ضرر ئې ژغورل، ۲- د يتيمانو مرسته، ۳- ټولنه د هغه چا له شره ژغورل چې مفسد، بې رحمه او کافر دئ او خپله کورنۍ او ټولنه ګواښي.

- دا مبارك آيت د هغو جاهلانو غلطې او بې بنسټې انګېرنې او شرك لړلې عقائد په بشپړه توګه ردوي چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ټول قرآن له لومړۍ ورځې او په بشپړه توګه ورکړی شوی وو او ګواکې هغه په غيب پوهېدو!! خو دا آيت او د قرآن ګڼ شمېر نور آيتونه په پرېکنده او واضحو الفاظو او په مکرره توګه وايي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم نه په دې پوهېدو چې له دې الهي لارښوونې او دې سورې وروسته به څه پرې نازلېږي او نه په دې چې سبا به له څه حالت سره مخامخ کېږي او الله تعالی به څه ورسره کوي.

وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَـٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾

او تا ته کوم مثال (د متل په بڼې کې اعتراض) نه وړاندې کوي مګر دا چې حقيقت او غوره تفسير او تعبير (ئې) درته راوړو.

(۳۳)- دا مبارك آيت له مخکينې سره په تړاو موږ ته لارښوونه کوي چې د قرآن په ټوك ټوك او تدريجي نزول کې بل حکمت دا وو چې د مخالفينو د هر اعتراض او پوښتنې ځواب په خپل خپل وخت کې وويل شي، داسې کتاب چې د ټولنې په فکري، اخلاقي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي جوړښت کې د انقلاب او بدلون غوښتنه کوي، له داسې ځواکونو سره مخامخ وي چې مخالفت ته ئې ملا تړې، په هر پړاو او هرې قضيې کې د مخالفينو له اعتراضاتو او پوښتنو سره مخامخ کېږي، آيا له دې پرته بل بديل لري چې ورو ورو بشپړ شي؟!!

ٱلَّذِينَ يُحۡشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُوْلَٰٓئِكَ شَرّٞ مَّكَانٗا وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ﴿٣٤﴾

هغه چي پر خپل مخ به د دوزخ لوري ته ورغونډ کړی شي، دوی د دريځ له پلوه ډېر بد او د تګلاري له پلوه ډېر لار ورکي دي.

(٣٤)- په دې مبارك آيت کي پورتني مخالفين داسي ښودل شوي چي د قيامت په ورځ به پړمخي د دوزخ په لور بېول کېږي، د قيامت د ورځي هغه حالت ئې په حقيقت کي د دوی دنيوي حالت تمثيلوي، د آخرت عذاب د دنيا حالت ته ورته وي، څوك چي په دنيا کي د ړندو په څېر ژوند کوي په آخرت کي به ړوند حشر کېږي، څوك چي له حقائقو مخ اړوي، نه حق خبره اوري او نه ورته اعتناء کوي، په منحطو او پرېوتو دنيايي اغراضو پوري نښلي او له غلطو باورونو او عقائدو د دفاع په موخه د حق او حقپالو مخالفت کوي د قيامت په ورځ به پړمخي د دوزخ په لور بېول کېږي، دوی په دنيا کي د دريځ له پلوه ډېر بد او د تګلاري له پلوه ډېر لار ورکي ول نو په آخرت کي به ئې مېشت ځی دوزخ وي او تګ به ئې پړمخي.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرٗا ﴿٣٥﴾ فَقُلۡنَا ٱذۡهَبَآ إِلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَدَمَّرۡنَٰهُمۡ تَدۡمِيرٗا ﴿٣٦﴾

او يقيناً چي موسی ته مو هغه کتاب ورکړ او د ده ورور هارون مو ورسره مرستيال وګرځاوو، دواړو ته مو وويل: هغه وګړو ته ورشئ چي زموږ آيتونه ئې تکذيب کړي، نو تباه تباه مو کړل.

(٣٥-٣٦)- په دې مبارکو آيتونو کي د مخکيني مطلب لپاره يوه تاريخي بېلګه وړاندي کېږي، په دې توګه: موسی عليه السلام ته تر دې وړاندي کتاب ورکړی شو، د ده ورور هارون عليه السلام ورسره مرستيال وو، د داسي قوم لوري ته لېږل شوي وو چي د الله تعالی آيتونه ئې تکذيب کړل، بلکي هغه څرګندي نښې او معجزې ئې تکذيب کړې چي د ده د رسالت پر حقانيت ئې ګواهي ورکوله، نه ئې دی د پيغمبر په توګه قبول کړ، نه ئې د ده په لاس لېږل شوی کتاب ومنلو او نه ئې هغو سترو سترو معجزو ته کومه اعتناء وکړه چي د ده له لوري وروښودل شوې. خو هر چا ته معلومه ده چي د دوی د مخالفت او تکذيب پايله څه وه، د فرعون او د هغه د لښکرو غرقېدا، د فرعوني نظام نسکورېدا او د فرعونيانو تباهي. د قرآن او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د رسالت معاندين او مخالفين دې پوه وي چي دا الهي سنت به بيا تکرارېږي او دوی به له همغي پايلي سره مخامخ کېږي چي فرعون او فرعونيان ورسره مخامخ شول.

وَقَوۡمَ نُوحٖ لَّمَّا كَذَّبُواْ ٱلرُّسُلَ أَغۡرَقۡنَٰهُمۡ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ لِلنَّاسِ ءَايَةٗۖ وَأَعۡتَدۡنَا
لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿٣٧﴾ وَعَادٗا وَثَمُودَاْ وَأَصۡحَٰبَ ٱلرَّسِّ وَقُرُونَۢا بَيۡنَ ذَٰلِكَ
كَثِيرٗا ﴿٣٨﴾ وَكُلّٗا ضَرَبۡنَا لَهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَۖ وَكُلّٗا تَبَّرۡنَا تَتۡبِيرٗا ﴿٣٩﴾ وَلَقَدۡ أَتَوۡاْ عَلَى ٱلۡقَرۡيَةِ
ٱلَّتِيٓ أُمۡطِرَتۡ مَطَرَ ٱلسَّوۡءِۚ أَفَلَمۡ يَكُونُواْ يَرَوۡنَهَاۚ بَلۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ نُشُورٗا ﴿٤٠﴾

او د نوح قوم چې کله ئې پیغمبران تکذیب کړل نو غرق مو کړل او د خلکو لپاره مو (د عبرت) نښه وګرځول، او دغو ظالمانو ته مو دردوونکی عذاب تیار کړی، او عاد، ثمود او اصحاب الرس (د زاړه کوهي خاوندان) او د دغو تر منځ ډېر نسلونه، هر یوه ته مو (د مخکینیو) مثالونه بیان کړل او هر یو مو هلاك هلاك کړ، او یقیناً چې پر هغه قوم ئې ګزر شوی چې بد باران پرې وورول شو، آیا هغه به ئې نه وي لیدلی؟! بلکې د بیا راژوندي کېدو هیله ئې نه درلوده.

(٥٧-٦٠)- دلته څو نوري تاریخي بېلګې زموږ په وړاندي ځلېږي:

• د نوح علیه السلام قوم پیغمبران تکذیب کړل، د نوح علیه السلام او د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ګډ دعوت ئې تکذیب کړ، د دې تکذیب پایله دا وه چې الله تعالی غرق کړل او د خلکو لپاره ئې د عبرت نښه وګرځول، الله تعالی همداسې د ټولو ظالمانو لپاره دردوونکی عذاب تیار کړی.

• عاد، ثمود او اصحاب الرس (د زاړه کوهي خاوندان) او د دوی تر منځ ډېرو نورو نسلونو همدا د کفر او تکذیب لار ونیوله، هر یوه ته پیغمبر ورغی، د مخکینیو مثالونه ئې مخې ته کېښېښودل شول، د هر یوه د کفر او تکذیب پایله همغه تباهي او هلاکت وو چې د مخکینیو په برخه شوی وو.

• د لوط علیه السلام قوم چې دوی ته څېرمه تېر شوی، شام او فلسطین ته د دوی د تلو راتلو پر لارې پرته سیمه کې، هغه چې د ډېرو باران پرې وشو، دوی ئې هرو مرو له بده حاله، دردناکې پایلې او عبرتناکې قصې خبر دي، آیا هغه به ئې نه وي لیدلی؟!

• هو؛ له قصې ئې حتماً خبر دي خو عبرت نه ترې اخلي، دا ځکه چې دوی په آخرت او بیا ژوندون باور نه لري، پر آخرت عدم ایمان د دوی د زړه سترګې ړندې کړې دي او د عبرت نظر ئې ترې سلب کړی.

وَإِذَا رَأَوۡكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِي بَعَثَ ٱللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾ إِن كَادَ
لَيُضِلُّنَا عَنۡ ءَالِهَتِنَا لَوۡلَآ أَن صَبَرۡنَا عَلَيۡهَاۚ وَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ حِينَ يَرَوۡنَ

ٱلۡعَذَابَ مَنۡ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

او كله چي تا وګوري نو تر ملنډو او استهزاء لاندي دي نيسي، (وايي:) آيا دا همغه څوك دئ چي الله د رسول په توګه لېږلی؟!! كه مو صبر نه وی كړی نو نژدې وه چي له خپلو معبودانو ئې بې لاري كړي وی، او كله چي عذاب وګوري نو ژر به پوه شي چي څوك ډېر بې لاري وو.

(٤١-٤٢)- په دې مباركو آيتونو كې د يوه جاهل او متعصب قوم حالت انځور شوی، هغه چي له خپل كچه او غلط مذهب او كړې تګلاري د دفاع په موخه پر حقپالو ملنډې وهي، اخلاقي حدود تر پښو لاندي كوي، له استهزاء او ملنډو پرته بل څه د ويلو لپاره نه لري، د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېر ستر شخصيت، زړه سواند داعي، حكيم مرشد او د علم او اخلاق مهربان معلم په ليدو سره به ئې پر هغه استهزاء كوله او ويل به ئې: آيا دا همغه څوك دئ چي الله تعالی د رسول په توګه لېږلی؟!! څنګه ومنو چي الله تعالی به دی د رسول په توګه غوره كړی وي؟!! ولي به الله تعالی د قوم لوی لوی مشران، نوميالي، ننګيالي او مخور شخصيتونه، څواكمن او شتمن زعماء پرېږدي او د ده په څېر يو كس به د پيغمبر په توګه ټاكي؟!! كه موږ پر خپل پلرني دين او مذهب صبر نه وی كړی نو نژدې وه چي د پيغمبرۍ دې مدعي له خپلو معبودانو بې لاري كړي وی، د ده د خبرو تر اغېز لاندي به راغلي وو او په كړو لارو به سر شوي وو!! د دوی په ځواب كې ويل شوي: دوی دي لږ نور صبر وكړي، د خپلو كړو تګلارو پايلي به د الهي عذاب په بڼې كې وګوري او پوه به شي چي څوك ډېر بې لاري وو.

أَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيۡهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾

آيا هغه ته دي پام نه دئ كړی چي خپله هوی او هوس ئې ځان ته اله (معبود) ګرځولی، نو آيا ته پرې وكيل يې؟

(٤٣)- دا مبارك آيت كه له يوې خوا موږ ته وايي چي له حق او حقپالو سره د ځينو د مخالفت وجه دا وي چي هغوی د خپل هوس بندګان وي، د نفس او هوس بندګي ئې دې ته نه پرېږدي چي حق ومني، د حقپالو په لار روان شي او د هغوی ملګرتيا وكړي، له بلي خوا د (اله) او معبود حقيقي معنی راښيي، دلته د نفس بندګي او خپل هوس ته تسليمېدا داسي ګڼل شوې لكه چي هوس معبود وي او انسان ئې بنده، د دې معنی دا ده چي كه څوك له الله تعالی پرته د بل چا يا د خپل هوس له قيد او شرط پرته اطاعت وكړي او پرېكړو ته ئې سر ټيټ كړي نو د الله تعالی پر ځای ئې همدغه مطاع خپل معبود نيولی. څوك چي الله تعالی خپل اله ګڼي دا ادعاء ئې په هغه صورت كې رښتينې ده چي د هغه اوامرو ته

تسليم وي او په لارښوونو ئې عمل وکړي، له دې پرته ئې ادعاء بې بنسټه او دروغجنه ده. نو د لا اله الا الله معنى دا ده چې له الله تعالى پرته داسې څوك نشته چې د هغه حكم ته تسليم وو او سپارښتني ئې عملي کړو. نو د دې مبارك آيت معنى دا ده: چا چې د خپل نفس او هوى او هوس متابعت وكړ په حقيقت كې ئې خپل نفس (اله او معبود) گرځولى.

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾

آيا داسې انگېرې چې د دوى ډېرى اوري او تعقل كوي؟ دوى خو فقط داسې دي لكه څاروي، بلكې تر دې هم زيات لار ورکي.

(٤٤)- د دوى په اړه دا انگېرنه سمه نه ده چې ښايي د حق وينا به د زړه په غوږونو واوري او وبه ئې مني، يا به تعقل وکړي، خپلو غلطيو ته به ئې پام شي او لاس به ترې واخلي، داسې نه ده، دوى د څارويو په څېر دي، تر هغوى هم زيات لار ورکي.

أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنَاهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾

آيا نه گورې چې ستا رب څنگه سيورى غزولى، او كه ئې غوښتي وى هغه به ئې په ټپه درولى وو، بيا مو لمر پرې دليل كړ، بيا مو خپل لوري ته په آسانه غونډولو سره راغونډ كړ.

(٤٥-٤٦)- په دې مباركو آيتونو كې د سيوري په اړه او دا چې د لمر له كبله اوږد او لنډ شي داسې ويل شوي: گورې چې له الهي سننو سره سم سيوري هر لوري ته خپله لمن خوره كړې وي، كه الله تعالى غوښتي وى هغه به ئې تلپاته كړى وو، نه به رڼا راڅرگنده شوې وه او نه به د سيوري تياره لمن غونډه شوې وه، تل به شپه او تياره وه، خو الله تعالى لمر راوخېژوي، په همدې سره د سيوري لمن ورو ورو غونډه او ټغر ئې ټول شي، كه څه هم دلته شپې او ورځې ته اشاره شوې، شپه د سيوري په نامه ياده شوې او ورځ د لمر راڅرگندېدو په نامه، شپه په حقيقت كې سيورى دئ، كله چې د ځمكې يو اړخ د لمر له رڼا بې برخې شي، لمر ورو ورو ولوېږي، د لمر د لوېدو له كبله راپيدا شوى سيورى پر ځمكې وغوړېږي او په همدې سره په دې اړخ كې د شپې تياره خوره شي، او بيا د لمر په راختو سره د سيوري دا تياره ورو ورو له منځه ولاړه او تور ټغر ئې ټول شي، خو په دې سره قرآن د كفر او شرك تياره له سيوري سره تشبيه كړې او د قرآن نزول او د پيغمبر بعثت ئې د لمر له راختو سره، د دې لمر په راختو

سره د کفر تیاره ورو ورو له منځه ځي او هغه رڼا ورځ راشي چې د تیارې ټغر په بشپړه توګه ټول شوی وي.

وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِبَاسًا وَٱلنَّوۡمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾

او دی هماغه ذات دئ چې شپه ئې درته پوښاك، خوب ئې دمه، او ورځ ئې د پاڅون او خوځښت مهال ګرځولې.

(٤٧)- په دې مبارك آیت سره د انسان او د هغه د ماحول د منظمو او هدفمنو تغییراتو او بدلونونو تر منځ ژور تنسیق او همغږي ته زموږ پام اړول شوی او ویل شوي: هغه ذات چې شپه ئې درته پوښاك، خوب ئې دمه او ورځ ئې د پاڅون او خوځښت مهال ګرځولې، همدا هغه رب العالمین دئ چې پیغمبران تاسو د هغه لوري ته بلي.

یعني تاسو خوب ته ضرورت لرئ، داسې یوه فرصت ته چې په ورځني کار کې خپله مصرف شوې انرژي او قوت جبران کړئ، دمه وکړئ، اعصاب مو لږ آرام وکړي او ستړیا مو رفع شي، الله تعالی تاسو داسې پیدا کړي یئ چې له څه وخت کار وروسته خوب دربانديې غلبه وکړي، په خپله راشي، حتی ستاسو له اجازې او موافقې پرته راشي، لاس، پښې مو دروتېږي او له ځان سره مو بیایي، د خوب مهار ئې ستا په واك کې نه دئ درکړی، بلکې ستا مهار ئې د هغه لاس ته ورکړی، چې کله ستومانه شې او ستا ستوماني او ضعف هغه ځای ته ورسېږي چې نور نو هیڅ کار نه شې کولی، ناڅاپه دې خوب خوا ته راشي، ستا کار دربانديې متوقف کړي، ستا د وجود بېلابېلو برخو ته دا فرصت ورکړي چې خپلې نیمګړتیاوې پوره کړي، خپله ستومانې رفع کړي او د راتلونکې پړاو لپاره کار ته ځان چمتو کړي، ګورې چې ( ستا په خوب) کې څومره ستر مصلحت او حکمت پروت دئ!! که (خوب) نه وی او یا ئې مهار د انسان په واك کې وی، څومره ستر ستر مصیبتونه به ئې انسان ته راولاړ کړي وو؟!! حریصو انسانانو به خپل ټول توان او ځواك په لنډې مودې کې مصرفاوو، خپله روغتیا به ئې په خطر کې اچوله او خپل ژوند به ئې د مرګ له ګواښ سره مخامخ کاوو!!

تاسو د (خوب) لپاره دوو شیانو ته ضرورت لرئ: تیاره او خاموشي، نه په رڼا کې سم او ژور خوب کولی شئ او نه له شور او ځوږ ډك محیط کې، ناڅاپې ګورې چې ستا مرستې ته شپه راشي، خپل تور وزر په هر څه او هر ځای وغوړوي، غږونه خاموش شي، هر د غږ خاوند د خوب غېږ ته پناه یوسي او په دې سره ستا د خوب لپاره مناسب شرائط برابر شي.

تاسو د خپل ژوند مخکې بېولو او د خپل معاش او رزق، روزي د تأمین لپاره ورځې ته ضرورت لرئ، د دې لپاره چې د هغې په رڼا کې هر څه وپېژنئ، مفید له مضر تفکیك کړئ، دوست له دښمن بېل کړئ او په خپل چاپېریال کې د شته توکو د کارولو امکان تر لاسه کړئ. د زمکې او آسمانونو خالق زمکه داسې جوړه کړې او د زمکې او لمر تر منځ فاصله او د زمکې حرکت په خپل محور او د لمر په محور ئې داسې تنظیم کړی چې کله د زمکې پر سره شپه

وي او کله ورځ، نه شپه هومره اوږده وي چې زمکه تر ضرورته زياته سړه شي او نه ورځ هومره اوږده چې زمکه تر لازم حد زياته توده شي، بايد يوه په بلې پسې راشي، تر هغه ستا خوا ته پاته شي چې ضروري وي، ستا اړتيا رفع کړي، خپل کارونه تر سره کړي، بېرته ولاړه شي او خپل ځای بلې ته خالي کړي!! که دا دقيق نظام نه وی، شپه او ورځ تر خپل اوسني وخت لنډه يا اوږده وی، د لمر او زمکې تر منځ واټن کم يا زيات وی، د زمکې چورلېدا او خوځېدا تونده يا سسته وی، نو د زمکې پر سر به ژوند ممکن نه وو.

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَىۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ طَهُورٗا ﴿٤٨﴾ لِّنُحۡـِۧيَ بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗا وَنُسۡقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقۡنَآ أَنۡعَٰمٗا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرٗا ﴿٤٩﴾

او دی هغه ذات دئ چې تر خپل رحمت (باران) وړاندې ئې بادونه د زېرې په توګه ولېږل، او له آسمانه مو پاکې اوبه رانازلې کړې، چې په همدې سره مړ ښار (مړه زمکه) راژوندۍ کړو او ډېر هغه حيوانات او خلك پرې خړوبه کړو چې موږ پيدا کړي.

(٤٨-٤٩)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی هغه ذات دئ چې باران د ده ستر رحمت او پېرزوينه دئ، تر باران وړاندې بادونه ولېږي، وربځې پرې وخوځوي، د هغو خلکو لوري ته ئې ولېږدوي چې د باران وربډو ته سترګې په لار وي، د ورښت زېرې ورکړي، له لوښې پرته او د هوا پر اوږو د اوبو دومره مقدار انتقال کړي چې د لويې سيمې اړوند ژوي، حيوانات او نباتات پرې خړوبه کړي، له آسمانه پاکې اوبه وورو‌ي، په همدې سره مړه زمکه راژوندۍ کړي.
- راشئ د اوبو د تصفيې دغه الهي نظام ته لږ ځير شو، د زمکې د سر اوبه له هغه وروسته چې استعمال شي او بيا د بحرونو لوري ته وخوځېږي، تروې، ترخې او تيزابي شي، نور نو له استفادې ولوېږي، له تصفيې پرته ترې استفاده نه شو کولی، که د دغو اوبو د بېرته تصفيې انتظام نه وی نو د دې طبيعت په غېږ کې او د دې زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، خو الله جل شأنه همدغه کثيفې، ناولې، تېزابي، تروې او ترخې اوبه، چې له کاره لوېدلې او د استفادې وړ نه دي، بېرته تصفيه کړي، د اوبو د تصفيې يو دقيق انتظام ئې رامنځته کړی، د لمر په وړانګو سره اوبه تبخير کړي، داسې چې له ټولو مالګو او منرالونو تصفيه شي، په وربځو بدلې شي، له همدې وربځو موږ ته پاکې او صافې اوبه د باران او واورې په بڼې کې راکړي، کله د باران اوبه زموږ د کور مخې ته بهېږي، کله د چينو، ځاګانو، کارېزونو او ويالو له لارې خوړې او صافې اوبه راکوي، د اوبو د تصفيې دا دقيق او هدفمن انتظام ښيي چې دا عالم يو حکيم او مهربان خالق او پالونکی لري، که دا هستي د تصادفي حوادثو مجموعه وی، او د يوه حکيم ذات د حکيمانه تصرف ډګر نه وی نو د زمکې پر سر د ژوند پيدايښت او دوام په دې دليل ممکن نه وو چې که يو ځل دا اوبه کثيفې شوې او له استفادې وتلې

وی نو انسان به د تل لپاره د څښاك له صافو اوبو محروم وو، خو الله جل شانه رحمان دئ او د خپلو بندګانو په نسبت د وسیع رحمت خاوند دئ، د همدې رحمت له مخې ده چې د باران د ورولو انتظام ئې کړی، همدا ښکارندویه د رحمن خدای د ربوبیت او تصرف څرګنده نښه ده، د صافو اوبو د تدارك همدا انتظام او په همدې سره مړه زمکه راژوندۍ کول، هغو سیمو ته صافې اوبه رسول چې هر څه ئې اوبو ته اړ او محتاج وي، په همدې حقیقت ګواهي ورکوي، کله کله حالت دې حد ته ورسېږي چې د بارانونو د نشتوالي له کبله ګڼ شمېر ناروغۍ خورې شي، فضا او هوا ټوله کثیفه او ناپاکه شي، ګرمي له یوې خوا، د اوبو نشتوالی له بلې خوا او په فضا کې د مکروبونو خورېدا له بله پلوه، په خلکو د ژوند فضاء تنګه کړې وي، خو الله تعالی نه یوازې هغه کثیفې تېزابي اوبه تصفیه کړي، په وربځو ئې بدلې کړي، په زرها وو میله لرې ئې اړمنو سیمو ته ورسوي، هلته د بارانونو ورېدا پیل شي، په همدې سره فضاء تصفیه شي، مکروبونه ومري، د هوا کثافت ختم شي، حرارت له منځه لاړ شي او د ګڼ شمېر سیمو د هستوګنو ډېرو اړتیاوو ته ځواب وویل شي، مړه زمکه بېرته را ژوندۍ شي او د ژوند له دوامه ډېر ناهیلي زړونه هیلمن کړي.

هغه ملکونه چې د اوبو له ناحیې مشکلات لري، بحرونو ته څېرمه په ساحل کې پراته دي او غرونه نه لري، زیات بارانونه ورباندې نه ورېږي، په غرونو کې هغوی ته واورې نه ذخیره کېږي، چې ورو ورو ویلې شي او نهرونه او ویالې وبهوي، د هغو تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې د څښلو صافې اوبه نه لري او چې د یوه واړه ښار لپاره اوبه تصفیه کوي بې حسابه مصارف ترې غواړي، د دې ملکونو خلك د نفتو په څاګانو دومره نه خوشحاله کېږي لکه د اوبو په یوې چینې.

د عربو د ملکونو یوه حاکم ته چا یو په بل پسې خبر ورکړ چې په فلان فلان ځای کې د نفتو څاګان وموندل شول، هغه وویل کور مو ودان شه، خو یو ځل مو هم خبر را نه کړ چې د خوږو او صافو اوبو څا وموندل شو!!، دا ځکه چې د هغوی لوی مشکل د صافو اوبو نشتوالی دئ.

د همدې الهي نظام له کبله چې زموږ مهربان رب ئې بندو بست کړی په دې عالم کې او د دې زمکې پر سر انسان ته د ژوند امکانات برابر شوي.

---

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَٰهُ بَيۡنَهُمۡ لِيَذَّكَّرُواْ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورٗا ٥٠

او یقیناً چې د دوی تر منځ مو وګرځاوو چې پند واخلي، نو د خلکو اکثریت یوازې له کفران ډېره ونه کړه.

---

(٥٠)- دا مبارك آیت موږ ته وایي: په زمکې کې د باران ورښت، د اوبو د تصفیې دا دقیق نظام، پر خلکو د اوبو دا وېش ښیي چې دا د الله تعالی یوه ستره پېرزوینه ده، خو د خلکو اکثریت د دې پر ځای چې د الله تعالی د دغې سترې پېرزوینې قدر او شکر وکړي د کفران

او ناشکرۍ لار غوره کوي او له دې پرته له بل هر څه ډډه کوي!!

وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدْهُم بِهِۦ جِهَادًا كَبِيرًا ﴿٥٢﴾

او که مو غوښتی نو حتماً به مو په هر کلي کې یو نذیر مبعوث کړی وو، نو د دغو کافرانو اطاعت مه کوه او په همدې (قرآن) سره د دوی په وړاندې د ستر جهاد مجاهده وکړه.

(۵۱-۵۲)- دا مبارك آیتونه هم د مخالفینو د هغې استهزاء ځواب وایي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه ئې کوله او ویل ئې: آیا دا همغه څوك دئ چې الله د رسول په توګه لېږلی؟!! څنګه ومنو چې الله تعالی به دی د رسول په توګه غوره کړی وي؟!! ولې به الله تعالی د قوم لوی لوی مشران، نومیالي، ننګیالي او مخور شخصیتونه، ځواکمن او شتمن زعماء پرېږدي او د ده په څېر یو کس به د پیغمبر په توګه ټاکي؟!! دلته د دوی په ځواب کې ویل شوي: که الله تعالی غوښتی نو په هر کلي کې به ئې یو نذیر مبعوث کړی وو، تاسو ته دا خبره نادره او ناآشنا برېښي چې الله تعالی څنګه د ټولو خلکو له منځه محمد (علیه السلام) د پیغمبر په توګه غوره کړی، ولې ئې د ټولني تر ټولو مخور، ځواکمن او نومیالی شخص نه دئ غوره کړی!! خو که د مصلحت او حکمت مقتضی همدا نه وی نو الله تعالی به په هر کلي کې بېل بېل پیغمبر ټاکلی وو!!

په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې د دغو کافرانو اطاعت مه کوه، خبرې ئې مه منه، د دوی اسلوب، تګلاره او کړنلاره مه غوره کوه، په همدې قرآن سره د دوی په وړاندې خپل ستر جهاد ته ادامه ورکړه.

وَهُوَ ٱلَّذِي مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٥٣﴾

او الله هغه ذات دئ چې دوه سمندرونه ئې داسې پرېښې چې دا ئې خوږ او خوندور دئ او دا (بل) ئې مالګین او تریو، او د دوی تر منځ ئې داسې پرده او مانع اچولې چې (د دوی د ګډېدو) مخنیوی کوي.

(۵۳)- د دې مبارك آیت په اړه څو خبرې توجه او دقت غواړي:

• دې ته مو پام وي چې دلته د پیدا کولو (خلق) او جوړولو (جعل) پر ځای د (مرج) لفظ کارول شوی چې د پرېښودو معنی ورکوي، یعني الله تعالی دا دوه بحرونه په داسې

حال کې پربېږدي چې د یوه اوبه په بل کې فوراً ګډې او خلط نشي، تر منځ ئې پرده او مانع راپیدا کړي او هر یو خپله ځانګړتیا تر اوږدې مودې خوندي وساتي.

• په شلمي پېړۍ کې او هغه مهال چې انسانان وتوانېدل ستري ستري او سریع بېړۍ جوړې کړي او د سمندر ډېري برخې تر خپل واك لاندې راولي، د زمکې هغو سیمو ته ورسېږي چې د واورو او کنګلونو سترو سترو غرونو پوښلې دي، شمالي او جنوبي قطبونو ته ورسېږي، په بحر کې ئې داسې سیمې وموندې چې دوه بېل بېل سمندرونه یو د بل خوا ته پراته دي، د یوه اوبه مالګیني او تروې او د بل خوږې او خوندورې، تر منځ ئې د اوبو داسې پرده او حجاب چې دوی سره بېل ساتي او د یوه اوبه په بل کې نه ننوځي، په هر یوه کې ئې د ژوو داسې بېل بېل ډولونه وموندل چې د بل اوبو ته له ننوتو ډډه کوي، دا یو عجیب کشف وو، ساینسپوهانو پرې تحقیقات پیل کړل چې وګوري د دې بحرونو منشأ څه ده او د بېلوالي وجه ئې څه، ورته معلومه شوه چې اساسي عوامل ئې دوه دي: ۱- د تودو سیمو سمندرونه د تودوخې له کبله تبخیر کېږي، د اوبو بخارات لوړ ځي، د اوبو د برنۍ برخې د املاح (ډول ډول مالګو) کچه او ترېووالی او تیزابیت ئې ورو ورو زیاتېږي، له لوړو چې دغو بحرونو ته د دریابونو له لارې کومې اوبه راځي له ځان سره ډېر املاح راانتقالوي او ورځ په ورځ د بحر د املاح او مالګو کچه زیاتوي. ۲- د واورې کوم غرونه چې د زمکې په شمالي قطب کې دي او په دوبي کې ورو ورو ویلې کېږي، د دې ویلې شوې واورې اوبه د عادي اوبو په څېر خوندورې وي او هیڅ ترېووالی نه لري، دا اوبه د سمندر د نورو سیمو په لورې خوځېږي، هلته د دغو اوبو او د سمندر د اوبو تر منځ د داسې اوبو یوه اوږده ګاره جوړېږي چې د کثافت او ترېووالي کچه ئې د دواړو لوریو اوسط اندازه کې وي، نه د بحر د اوبو په څېر ډېري تروې او نه د ویلې شوو واورو د صافو اوبو په څېر خوندورې، دا ګاري دا دواړه تروې او خوندورې اوبه سره بېلوي، د اوبو په دغو دریو بېلو بېلو ډولونو کې د ژوو بېل بېل ډولونه ژوند کوي!!

• همداراز کوم لوی لوی دریابونه چې په سمندر کې توئېږي، تر اوږدې مسافې پورې همداسې وړاندې درومي او د خپلو اوبو کیفیت او خوند له لاسه نه ورکوي، د مثال په توګه د امازون دریاب له هغه وروسته چې د اطلس سمندر ته رسېږي نو نژدې دوه سوه کیلومترو پورې په سمندر کې وړاندې درومي او تر همغه ځایه د خپلو اوبو د خوند کیفیت خوندي ساتي.

• دا دئ ګورئ کوم حقیقت ته چې قرآن په پورتني آیت کې اشاره کړې، ساینسپوهان اوس پرې پوه شوي او یقیناً چې دا د قرآن یو ستر علمي اعجاز دئ، د دې موضوع اهمیت ته په پام سره قرآن په څو نورو آیتونو کې هم هغې ته اشاره کړې، لکه:

أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ النمل

هغه څوك دئ چي زمكه ئې ټمځی گرځولې او د هغې په منځ کې ئې نهرونه جوړ کړي او هغې ته ئې لنگرونه (غرونه) جوړ کړي، او د دوو سمندرونو تر منځ ئې پرده او مانع جوړه کړې.

مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ﴿٢٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٣﴾ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ
ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴿٢٤﴾ الرحمن

دوه سمندرونه ئې داسي سره پرېښي چي مخامخ کېږي، تر منځ ئې داسي پرده چي تېرى (ترې) نه کوي، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟ له دوی دواړو مرغلري او مرجان راوځي، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟ او په سمندر کې ئې داسي جوړي شوې تلونکي (بېړۍ) دي چي د غرونو په څېر دي. نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟

ما ته ووایئ: رسول الله صلى الله علیه و سلم څنگه په هغو حقائقو پوه شوی وو چي انسانان څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شول؟ آیا یو عقلمن او منصف انسان کولی شي دا ستر حقیقت له پامه وغورځوي، عادي خبره ئې وگڼي او د رسول الله صلى الله علیه و سلم د نبوت واضح او څرگنده نښه ئې ونه گڼي؟!!

---

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾
وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ وَكَانَ ٱلْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِۦ
ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾

او دی هغه ذات دئ چي له اوبو ئې یو انسان پیدا کړ بیا ئې هغه ته نسب او خسرگنۍ وټاکله، او ستا رب ښه توانمن دئ، او له الله پرته داسي معبودان لمانځي چي نه گټه وررسولی شي او نه تاوان وررسولی شي او دا کافر د خپل رب په خلاف (د هر معارض) ملاتړی دئ.

---

(٥٤-٥٥)- په دې مبارکو آیتونو کې د دغو لارښوونو شاهد یو:

- الله تعالی هغه ذات دئ چي له اوبو ئې بشر پیدا کړ، یعني د انسان جوړښت ئې له اوبو پیل کړی، چي په دې سره هم د انسان لومړني پیدایښت ته اشاره شوې، (ځکه قرآن د ټولو ژوو پیدایښت له اوبو گڼي) او هم د هغه اوسني پیدایښت ته، اوسنی پیدایښت ئې د اوبو له هغه څاڅکي وي چي نارینه مني انتقالوي. او دا یقیناً چي د خلاق رب د قدرت ستره نښه ده.
- خو کافران خپل حقیقي رب پرېږدي او له هغه پرته داسي معبودان لمانځي چي نه گټه

وررسولي شي او نه تاوان وررسولی شي. نه يوازي خپل رب هېروي بلکې د خپل رب په خلاف د هر معارض او سرکش انسان ملاتړ کوي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿٥٦﴾ قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ﴿٥٧﴾

او ته مو يوازې يو زېرى ورکوونکى او خبرداری ورکوونکی لېږلی يې، ووايه: له تاسو هيڅ اجر پرې نه غواړم؛ مګر دا چې څوك وغواړي د خپل رب لوري ته (د تلو لپاره) لار غوره کړي.

(٥٦-٥٧)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې ته يوازې يو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږل شوی يې، ستا دنده دا ده چې صالحانو ته د روښانه مستقبل زېرى ورکړې او مفسدين له بدو پايلو ووېروې، ټولو ته ووايه: په خپل دعوت له تاسو هيڅ اجر نه غواړم، نه مادي نه معنوي، نه د زعامت او قيادت تلوسه لرم او نه د چا د ستايني او تمجيد هيله، زما يوازينی اجر به دا وي چې په تاسو کې څوك ايمان راوړي او د الله تعالی لوري ته د تللو پرېکړه وکړي، زه له دې پرته د خپل دعوت بله بدله له تاسو نه غواړم.

د دې مبارك آيت په رڼا کې د الشورى د سورې د ٢٣ آيت شرح او تفسير په واضح او څرګنده توګه زموږ مخې ته راځي، آيت دا دئ:

ذَٰلِكَ ٱلَّذِي يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۗ قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰۗ وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةٗ نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾ الشورى

دا همغه څه دي چې الله ئې خپلو هغو بندګانو ته زېرى ورکوي چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، ووايه: له تاسو هيڅ اجر نه غواړم مګر په خپلوۍ کې دوستي، او څوك چې کومه ښېګڼه وکړي هغه ته ښېګڼه په کې زياتوو، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

• شيعه او ځيني جاهل متصوفين دا آيت داسي تعبيروي چې ګواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې ګمارل شوی چې مؤمنانو ته ووايي: له تاسو يوازې يو اجر غواړم او هغه دا چې زما له اهل بيت سره مينه ولرئ!! په اهل بيت کې هم يوازې علي، فاطمه، حسن او حسين نيسي او نور ټول ترې حذفوي، نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم نوري لوڼي په کې شاملوي او نه ترونه او د ترونو نور زامن!! دوی له يوې خوا (القربى) د خپلوانو په معنى تعبيروي؛ حال دا چې د (القربى) اصلي معنى خپلوي ده؛ نه خپلوان، د قرآن په ګڼ شمېر

آیتونو کې دا لفظ راغلی او په ټولو کې د خپلوۍ په معنی راغلی، له بلې خوا د پیغمبر علیه السلام خپلوان هم یوازې په فاطمه، علي، حسن او حسین کې راخلاصه کوي، له بلې خوا آیت داسې تعبیروي چې ګواکې پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې مؤمنانو ته ووایه چې له تاسو د هغو زحمتونو اجر نه غواړم چې ستاسو د هدایت په لار کې مې ایستلي، تاسو ته مې عزت درپه برخه کړ او .... یوازې یو اجر درنه غواړم او هغه دا چې زما له خپلوانو (فاطمه، علي، حسن او حسین) سره محبت وکړئ!! په دې اړه څو خبرو ته ځیر شئ:

- دا سوره په مکه کې نازله شوې، هغه مهال چې لا علي او فاطمې رضی الله عنهما ازدواج نه وو کړی، حسن او حسین رضی الله عنهما لا نه وو پیدا شوي، لا مسلمانان تر سختو ابتلاءاتو لاندې ول، د پیغمبر علیه السلام په ملګرتیا کې ئې له توهین، تهدید، زندان، تعذیب، هجرت او شهادت پرته هیڅ دنیوي امتیاز او راحت نه وو په برخه شوی، هغه څه چې دوی ئې ادعاء کوي یو ئې هم نه وو تر لاسه کړی، نو په داسې حالت کې به پیغمبر علیه السلام څنګه دوی ته ویل چې د دغو لاس ته راوړنو په سبب به زما د اهل بیت درناوی او احترام کوئ؟!! کوم عاقل او په قرآن پوه انسان د داسې غلط تعبیر جسارت کولی شي؟!!
- څنګه به پیغمبر علیه السلام له خپلو سختو دښمنانو او هغو قریشو چې ډېر ئې د ده په اقرباءو کې راتلل؛ دا غوښتنه کوي چې له تاسو یو اجر غواړم او هغه هم تر ټولو ستر او دښمنانو ته د نه منلو وړ؛ او هغه دا چې له فاطمې او علي رضی الله عنهما او زما له هغو دوو لمسیانو سره به محبت کوئ چې لا تر اوسه نه دي پیدا شوي؟!! که له دوی سره دا لفظي تحریف ومنو او القربی د اولواالقربی په معنی ونیسو نو مخاطبینو خو به له (اولوا القربی) یا ټول بني هاشم مرادول، یا یوازې بني عبدالمطلب چې په دوی کې تر ټولو سخت دښمن ابولهب هم راتلو، هیڅ مخاطب به دا غلطه معنی نه وه ترې اخیستې چې محمد علیه السلام له دوی د فاطمې او علي رضی الله عنهما د مودت غوښتنه کړې؛ له دې آیت داسې تعبیر یوازې یو متعنت او متعصب انسان درلودی شي.
- ولې په اقرباءو کې یوازې څلور کسان؟!! کوم عقل، عدل او عرف دا خبره مني چې د اقرباءو عامه صیغه په څلورو داسې کسانو اطلاق شي چې دوی ته ورته نور اقربا هم شته؟!! ښایي دوی به په کوم داسې روایت باندې استناد کوي چې همدا د قرآن، عقل او عرف خلاف خبره کوي او یوازې څلور کسان د پیغمبر علیه السلام اهل بیت، عترت او اقربا ګڼي!! خو که څوک ورته ووایي چې دا روایت کوم غالي شیعه جوړ کړی او صحابه وو ته ئې منسوب کړی؛ او که ورته ووایي: روایت خو په هغه صورت کې د منلو دئ چې منشأ ئې قرآن وي یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل خلاف نه وي، ځواب به ئې څه وي؟ که ورته ووایي: د قرآن صریح آیت ومنم که د عقل خلاف روایت؟ څه ځواب به ورکوي؟ که داسې نه وي او د روایت په نامه هر رطب و یابس (لانده او وچ) باندې استناد وکړو نو بیا خو به زموږ حالت همغسې شي لکه د شیعه وو، چې د دوی د روایاتو تر ټولو معتبر کتاب

(اصول کافي) په اړه د شيعه وو مشهور عالم علامه برقعي وايي: د دې کتاب اکثر روايات جعلي، له قرآن سره متصادم او د عقل خلاف دي او روات ئې مجهول الهويه، کاذب او فاسق دي، برقعي د اصول کافي د ترديد په اړه يو ضخيم کتاب ليکلی چې په هغه کې ئې ليکلي: که دښمنان خبر شول چې زموږ د رواياتو په کتابونو کې داسې روايات هم راغلي چې راويان ئې خر او چنګښه دي؛ څه به کوو؟!

دوی په دې آيت کې غور نه دئ کړی، د نورو آيتونو په رڼا کې ئې د هغه په حقيقي او اصلي مطلب د پوهېدو هڅه نه ده کړې، دې ته متوجه نه دي چې دا آيت په داسې ځای کې او د داسې مضمون په ضمن کې راغلی چې خطاب مخالفينو ته متوجه دئ، همغه مخالفين چې د پيغمبر عليه السلام په ضد ئې له هيڅ ظلم، تېري او جفا ډډه نه کوله، همغه مخالفين چې قرآن په مکرره توګه پيغمبر عليه السلام ته ويلي چې دوی ته ووايه: له تاسو هيڅ اجر نه غواړم، څنګه ممکنه ده چې په دې آيت که به د ګڼ شمېر نورو آيتونو خلاف خبره شوې وي او له قريشو به ئې داسې ستر اجر او بدله غوښتې وي چې هيڅ اجر ورسره برابري نشي کولی؟!! آيا ممکنه ده يو څوک خپل دښمن ته ووايي: له تا هيڅ اجر او بدله نه غواړم يوازې دا درنه غواړم چې زما له زوم، لور او دوو لمسيانو سره به مينه کوې؟!! آيا د پيغمبر عليه السلام په څېر ستر شخصيت به داسې مطالبه له خپلو دښمنانو کړې وي؟!! په آيت کې له استثناء مراد دا نه دئ چې يوازې يو اجر ترې وغواړه؛ بلکې مراد ئې داسې دئ لکه د الفرقان د سورې په همدې ۵۷ آيت کې چې راغلی:

قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ﴿٥٧﴾ الفرقان

ورته ووايه: له تاسو هيڅ اجر پرې نه غواړم؛ مګر دا چې څوک وغواړي د خپل رب لوري ته (د تلو لپاره) لار غوره کړي.

يعني زما اجر به يوازې دا وي چې په تاسو کې څوک ايمان راوړي او د الله تعالی لوري ته د تللو پرېکړه وکړي.

د قرآن د مخکيني آيت معنی سل په سلو کې دې ته ورته ده او هغه دا چې زما اجر يوازې دا دئ چې له اقرباءو سره زړه سوی او دوستي څرګندوم او د دوی د هدايت هڅه کوم، که زما د هڅو په نتيجه کې له تاسو څوک ايمان راوړي نو معنی ئې دا ده چې زما له خپلوانو ځينو ايمان راوړی، همدا به زما اجر وي، که زه په بل قوم کې مبعوث شوی وی او يوازې هغوی ته مې بلنه ورکولی، نو دا بدله او معاوضه به مې هم نه په برخه کېده، خپلوان به مې هم له هدايت محروم پاته کېدل. که څه هم ځينو محققينو ويلي چې د آيت مراد دا دئ: له تاسو يوازې دا بدله غواړم چې له ما سره خپلوۍ ته پام وکړئ او د پرديو دښمنانو په څېر راسره چلن مه کوئ، خو د دې لپاره چې دا هم يو ډول اجر او بدله ګڼل کېږي او د قرآن نور آيتونه په پرېکنده الفاظو سره وايي چې هيڅ اجر ترې مه غواړه، نو ځکه وايو چې غوره تعبير همغه برنی تعبير دئ.

وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَيِّ ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِۦ ۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۚ ٱلرَّحْمَٰنُ فَسْـَٔلْ بِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٩﴾

او پر هغه ژوندي (رب) توکل وکړه چې نه مري او له ستاینې سره ئې تسبیح وایه، او هغه د خپلو بندگانو د گناهونو په اړه د ښه باخبر په توگه کافي دئ، هغه چې آسمانونه او زمکه ئې او هغه څه چې په دوی کې دي په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استوی وکړه، همغه رحمن (رب) نو له خبیر (رب) ئې غوښتنه وکړه.

(۵۸-۵۹)- په وړاندیني آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې وه چې خپلو مخاطبینو ته ووايي: له تاسو هیڅ اجر او بدله نه غواړم، دلته ورته ویل شوي چې پر هغه رب توکل وکړه چې ژوندی دئ، هیڅکله نه مري، د خپلو بندگانو له گناهونو خبر دئ، ټول عالم ئې پیدا کړی، او د عالم رحمن ټولواك دئ، نو خپل اجر له همدې رحمن ټولواك غواړه.

باید دې ته متوجه وو چې دلته په دواړو آیتونو کې له (خبیر) مراد الله تعالی دئ نه بل څوك، او له (فسئل به خبیراً) مراد له خبیر خدای اجر غوښتل دي، نه بل څه، ځکه په ۵۷ آیت کې پیغمبر علیه السلام ته امر شوی چې خلکو ته ووايي: له تاسو هیڅ اجر نه غواړم، ورپسې ویل شوي چې پر الله تعالی توکل وکړه او ورپسې ویل شوي له خبیر الله ئې وغواړه. دلته په (به) کې اشاره اجر ته ده نه لکه ځیني جاهل متصوفین چې دا فقره داسې تعبیروي: د الله په اړه له هغه چا وپوښته چې خبر وي؛ یعني الله تعالی ئې په مشاهدې سره لیدلی وي!! دا داسې ستر تحریف دئ چې هیڅ د ایمان خاوند ئې جسارت نه شي کولی، نه د آیت معنی داسې ده چې دوی ئې وايي او نه الله تعالی داسې ذات دئ چې د انسان په څېر وړوکی او کمزوری مخلوق ئې مشاهده کړی شي، قرآن وايي چې ستر ستر غرونه د الله تعالی د تجلي په وړاندې نشي تم کېدی او د موسی علیه السلام په څېر اولوالعزم پیغمبر ئې له لیدو عاجز وو، بل څوك به ئې څنگه مشاهده کړی شي؟!! دلته خطاب رسول الله صلی الله علیه و سلم ته متوجه دئ، تر ده به د الله تعالی په اړه زیات خبیر څوك وي چې له هغه پوښتنه وکړي؟!! دلته سؤال او پوښتنه د الله تعالی په اړه نه ده؛ بلکې د هغه اجر په اړه ده چې تر دې وړاندې ورته اشاره شوې.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسْجُدُوا۟ لِلرَّحْمَٰنِ قَالُوا۟ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ

نُفُورًا۩ ﴿٦٠﴾

او کله چې دوی ته ووېل شي: رحمن رب ته سجده وکړئ؛ وايي: رحمن څه دئ؟! آيا هغه څه ته سجده وکړو چې ته مو پرې ګمارې؟! او کرکه ئې ورزياته کړي.

(٦٠)- د دوی د جهل او تعصب حالت داسې دئ چې کله ورته ووېل شي: رحمن رب ته سجده وکړئ؛ نو ځواب ئې دا وي: رحمن څه دئ؟! هغه څوك دئ چې ته ئې په وړاندې موږ ته د سجدې بلنه راکوې؟ آيا هغه څه ته سجده وکړو چې ته مو پرې ګمارې؟! غواړې ستا د خوښې معبود ته سجده وکړو؟! د دې پر ځای چې دا بلنه د دوی پام د الله تعالی په لوري واړوي او د خپل رحمن رب په وړاندې ئې سجدې ته وهڅوي برعکس د دوی کرکه ورزياته کړي.

دې ته مو پام وي چې د دې آيت په لوستلو او اورېدلو سره د تلاوت سجده لازمېږي، دا هم مستحب کار دئ چې څوك دا آيت واوري نو ووايي: زَادَنا اللهُ خُضُوعاً مَا زَاد لِلأَعداء نُفُوراً: الله دې زموږ خضوع دومره رازياته کړي لکه د دښمنانو نفرت چې ورزياتوي.

تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا ﴿٦٢﴾

مبارك دئ هغه ذات چې په آسمان کې ئې ځرګند ځلې (ستوري) رامنځته کړي او په هغه کې ئې روڼ ځراغ او روښانه سپوږمۍ پيدا کړې. او دی هغه ذات دئ چې شپه او ورځ ئې يوه د بلې ځای ناسته کړې، هغه چا ته چې د پند اخيستو اراده لري يا د شکر کولو اراده لري.

(٦١-٦٢)- چا چې په آسمان کې دا ځلاند او ځرګند ستوري پيدا کړي، د لمر دا روڼ او تود ځراغ او روښانه سپوږمۍ ئې په کې اېښې، هر يو ئې د يوه حکمت له مخې او د يوه مصلحت لپاره، همدا هغه رب دئ چې پيغمبران عليهم السلام خلك د هغه لوري ته بلي، همغه ذات چې شپه او ورځ ئې يوه د بلې ځای ناسته کړې، هغه چا ته چې د پند اخيستو اراده لري يا د شکر کولو اراده لري.

د ٦٢ آيت وروستۍ فقره د غور غوښتنه کوي، دلته ويل شوي چې دا هر څه د هغه چا لپاره دي چې د پند اخيستو اراده لري يا د شکر کولو اراده لري. دا پوښتنه راولاړېږي چې آيا دا الهي نعمتونه يوازې د همدغو خلکو لپاره دي که د ټولو انسانانو لپاره؟! دوه توجيه مومو: يوه دا چې په حقيقت کې دا نعمتونه يوازې د همدې ذاکرينو او شاکرينو لپاره دي، نور په ضمني توګه ترې برخمن کېږي، دوهمه توجيه دا ده چې شپه او ورځ يوه د بلې ځای ناستې ده، که په يوې کې د ذکر او شکر مقتضي عمل درنه پاته شو نو په بلې کې ئې جبران

کړه، د آيت سياق و سباق ته په پام سره لومړی توجيه غوره او دقيقه برېښي.

---

وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ
سَلَٰمٗا ﴿٦٣﴾ وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ﴿٦٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱصۡرِفۡ
عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَآءَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ﴿٦٦﴾
وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ﴿٦٧﴾ وَٱلَّذِينَ لَا
يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا
يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا ﴿٦٨﴾ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ
فِيهِۦ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ
ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٧٠﴾ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا
فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابٗا ﴿٧١﴾ وَٱلَّذِينَ لَا يَشۡهَدُونَ ٱلزُّورَ وَإِذَا مَرُّواْ بِٱللَّغۡوِ مَرُّواْ
كِرَامٗا ﴿٧٢﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا وَعُمۡيَانٗا ﴿٧٣﴾
وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ
إِمَامًا ﴿٧٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ وَيُلَقَّوۡنَ فِيهَا تَحِيَّةٗ وَسَلَٰمًا ﴿٧٥﴾
خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ حَسُنَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ﴿٧٦﴾

او د رحمن رب هغه بندګان چې پر زمکه آرام آرام درومي او کله چې جاهلان ورسره مخامخ خبرې کوي وايي: (تاسو ته) سلام، او هغه چې خپل رب ته شپه د سجده کوونکو او قيام کوونکو په توګه تېروي، او هغه چې وايي: اې زموږ ربه! د دوزخ عذاب رانه لرې ساته، يقيناً چې عذاب ئې تل ملزم (او په انسان پسې نښتی) وي، يقيناً چې دا بد ځای او هستوګنځی دئ، او هغه چې کله انفاق کوي نو نه اسراف کوي او نه کنجوسي (بخل) کوي، او د دې (دواړو) تر منځ پر اعتدال قائم وي، او هغه چې د الله تر څنګ بل معبود نه لمانځي او نه هغه ساکښ وژني چې الله ئې له حق پرته وژل حرام کړي، او نه زنا کوي، او څوك چې دا وکړي نو د (خپلې) ګناه بدله به ومومي، د قيامت په

ورځ به عذاب ورته دوه برابره شي او په هغه کې به تلپاته سپك وي، مګر هغه چې توبه ئې وکړه، ایمان ئې راوړ، او نېك عمل ئې وکړ، چې الله به د دوی بدي په ښېګڼو بدلې کړي او الله مهربان بخښونکی دئ. او چا چې توبه وکړه او صالح عمل ئې وکړ نو یقیناً چې هغه د الله لوري ته ورګرځي په سمه توګه ورګرځېدا سره، او هغه چې دروغجنه ګواهي نه ورکوي، او کله چې پر عبثو چارو تېرېږي د درنو او عزتمنو په څېر ترې تېرېږي، او هغه چې کله د خپل رب په آیتونو سره نصیحت ورته وشي نو کاڼه او ړانده نه پرې پاته کېږي، او هغه چې وايي: اې زموږ ربه! له خپلو مېرمنو او اولادونو د سترګو سوړوالی راپه برخه کړه، او د متقیانو لپاره مو مخکښ او امام کړې، دوی هغه دي چې لوړې لوړې ماڼۍ به په بدل کې ورکړی شي، د هغه صبر له کبله چې دوی کړی او په هغې کې به ښه راغلاست او سلام پرې اچول کېږي، تلپاته په هغه کې، غوره تمځی او غوره هستوګنځی.

---

(٦٣-٧٦)- په دې مبارکو آیتونو کې د رحمن رب د صالح بندګانو یو جامع او دقیق انځور زموږ په وړاندې ځلېږي چې ځانګړتیاوې ئې دا ښودل شوې:

- پر زمکه آرام آرام، له حلم، وقار او سکینې سره درومي، له کبرناك تګ او کبرجن چلن ځان ساتي.
- کله چې جاهلان ورسره مخامخ خبرې کوي وايي: تاسو ته سلام، له دوی سره په بې ګټو مناقشو او شخړو ځان نه مصروفوي او خپل وخت نه ضائع کوي.
- خپل رب ته شپه د سجده کوونکو او قیام کوونکو په توګه تېروي، ورځ په دعوت کې او شپه په عبادت کې تېروي.
- سره له دې چې ورځ په جهاد کې او شپه په عبادت کې تېروي د دوزخ له عذابه وېرېږي او په خپلو دعاګانو کې خپل رب ته وايي: اې زموږ ربه! د دوزخ عذاب رانه لرې ساته، یقیناً چې عذاب ئې تلپاته او په انسان پسې نښتی وي، یقیناً چې دا بد تمځی او هستوګنځی دئ.
- په خپل انفاق کې نه اسراف کوي او نه کنجوسي او بخل، او د دې دواړو (اسراف او بخل) تر منځ پر اعتدال قائم وي.
- د الله تر څنګ بل معبود نه ګڼي، بل درشل ته طمع نه لري او د بل چا په وړاندې د دعاء لاسونه نه اوچتوي.
- د هر هغه ساکښ له وژلو ډډه کوي چې الله ئې له حق پرته وژل حرام کړي.
- زنا نه کوي.
- ځوك چې په پورتنیو ګناهونو کې د کومې یوې مرتکب شي نو د خپلې ګناه بدله به ومومي، د قیامت په ورځ به عذاب ورته دوه برابره شي او په هغه کې به تلپاته سپك وي، له دې سزا به یوازې هغه ځوك ژغورل کېږي چې توبه وکړي، ایمان راوړي، او نېك عمل وکړي. د دغه توبې، ایمان او صالح عمل په نتیجه کې به الله تعالی د دوی بدي په ښېګڼو

بدلي کړي، دا ځکه چې الله تعالی مهربان بخښونکی دئ. دې ته مو پام وي چې د سيئات اصلي معنی هغه بد خويونه او خصلتونه دي چې د گناه منشأ وي، په حسناتو د سيئاتو د بدلولو معنی دا ده چې دا بد بد خصلتونه او خويونه به ئې اصلاح کړي، په داسي خصلتونو به ئې واړوي چې د نيکيو منشأ شي. څوك چې توبه وکړي او صالح عمل وکړي نو يقيناً چې هغه د الله لوري ته په سمي ورگرځېدا سره ورگرځي. همدا توبه او صالح عمل د الله تعالی لوري ته سمه او صحيح ورگرځېدا او حقيقي توبه ده.

- د رحمن رب صالح بندگان دروغجنه گواهي نه ورکوي.
- کله چې پر عبثو چارو تېرېږي نو د درنو او عزتمنو په څېر ترې تېرېږي.
- کله چې د خپل رب په آيتونو سره نصيحت ورته وشي نو کاڼه او ړانده نه پرې پاته کېږي، سمعنا و اطعنا وايي او عمل پرې کوي.
- غواړي په خپلي کورنۍ او ټولني کې د متقيانو لپاره مخ کښ او بېلگه وي، په تقوی کې نه يوازي تر نورو وړاندي وي بلکي غواړي د نورو لپاره مثال شي، دا هيله ئې د خپل رب په وړاندي په خپلو دعاگانو کې په دې بڼې کې راڅرگنده شي: اې زموږ ربه! له خپلو مېرمنو او اولادونو د سترگو سوړوالی راپه برخه کړه، او د متقيانو لپاره مو مخکښ او امام کړې، مېرمني او اولاد مو داسي کړې چې د دوی په ليدو سره زموږ سترگي سړې شي او موږ د متقيانو لپاره مخکښ کړې.
- دوی هغه دي چې لوړي لوړي ماڼۍ به په بدل کې ورکړی شي، د هغه صبر له کبله چې دوی کړی او په هغې کې به دوی ته ښه راغلاست ويل کېږي او له هر لوري به سلام پرې اچول کېږي، په همدې نعمتونو کې به تلپاته وي، (هم ئې) ډېر ښه ځای او (هم ئې) هستوگنځی ښکلی.

قُلْ مَا يَعْبَؤُاْ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَآؤُكُمْۖ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامَۢا ﴿٧٧﴾

ووايه: که ستاسو دعاء نه وی نو (پوهېږئ چې) زما رب به له تاسو سره څه کړي وو؟ يقيناً چې تاسو (دا عذاب) تکذيب کړ نو حتماً به (درسره جوخت او) لازم شي.

(٧٧)- دا مبارك آيت د دې سورې د ټولو مضامينو لپاره ډېره ښکلې او په زړه پورې تتمه ده، چې دا لارښوونې په کې ځلېږي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې مخالفينو ته ووايه: که ستاسو دعاء نه وی، يعني په تاسو کې داسي خلك نه وی چې د خپل رب په عبادت بوخت دي او د هغه په وړاندي دعاء کوي، نو يقيناً چې الله تعالی به تاسو ته سخته سزا درکړې وه، تاسو ښه پوهېږئ چې د څنگه سزا وړ يئ، تاسو د هغو خلکو له برخليك ښه خبر يئ چې تر تاسو وړاندي تېر شوي، عملونه ئې تاسو ته ورته ول او په الهي عذاب اخته شول، که په تاسو کې يو شمېر صالح مؤمنان نه وی نو يقينا زما رب به له تاسو سره همغه څه کړي وو چې ستاسو له سلف سره ئې کړي؟ تاسو دا عذاب تکذيبوئ خو پوه

شئ چې حتماً به پرې اخته کېږئ، دا عذاب به خپل وزر داسې درباندې وغوړوي چې تل درسره جوخت وي او هيڅکله درنه بېل نشي.

په تفسيرونو کې د دې مبارك آيت يوه بله ژباړه او تعبير هم مومو، چې وايي: که ستاسو دعاء نه وى نو الله تعالى به ستاسو هيڅ پروا نه وه کړې او تاسو ته به ئې څه ارزښت نه وو درکړى، دوى (ما) نافيه نيولې او په (يعبأ) کې ئې (عبء) د ثقل او دروندوالي په معنى اخيستى، خو دا تعبير له څو پلوه اشکال لري: ١- په دې سره د آيت د لومړۍ او وروستۍ فقرې تر منځ تړاو او تناسب له منځه ځي او داسې څه ترې جوړېږي لکه چې دواړه فقرې په بشپړه توگه بې ربطه فقرې وي، د دې جملو تر منځ به څه تناسب وي چې څوك ووايي: (که ستاسو دعاء نه وى نو الله تعالى به تاسو ته هيڅ وزن او ارزښت نه وو درکړى) او (يقيناً چې تاسو تکذيب کړ نو حتماً به درسره جوخت او لازم شي)؟!، داسې تعبير د فقرو ربط له منځه وړي. ٢- که ( يعبأ) په دغه معنى ونيسو نو بايد د (يعبأبکم) پر ځاى (يعبأکم) راغلى وى.

امام المفسرين طبري په دې آيت کې (ما) استفهاميه گڼي، يعبأ بکم د يصنع بکم او يفعل بکم په معنى نيسي، موږ چې په پښتو او فارسي کې تعبيه په کومه معنى کاروو، (ځيني ئې تابيا ليکي)، دلته د يعبأ صيغه په همدغه معنى راغلې، د امام طبري رأيه له هره پلوه دقيقه او ارجح ده.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## الشعراء

### د سورې پېژندنه:

د دې سورې نوم الشعراء دئ، د سورې له ٢٢٤ آيت وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلۡغَاوُۥنَ اخيستل شوى، د مکي دور په منځنيو کلونو کې او تر النمل او القصص وړاندې نازله شوې، ٢٢٧ آيتونه لري، آيتونه ئې د مکي دور په منځنيو کلونو کې نازل شوو سورتونو ته ورته او اوږدوالى ئې منځنى دئ، خو هر يو ئې له څو لنډو لنډو مسجع فقرو جوړ شوى او سورې ته ئې خوندور وزن ورکړى. آيتونه ئې ډېر ښکلى او خوندور وزن لري او په داسې صيغو پاى ته رسېدلي چې د سورې د لومړي آيت (مبين) او د شپږم آيت (يستهزءون) صيغو ته ورته وزن لري، څو آيتونه ئې د کريم، رحيم او اسرائيل او معلوم په څېر صيغو پاى ته رسېدلي چې دا هم په ډېر لږ توپير سره (مبين) او (يستهزءون) ته ورته وزن لري، د مضمون جالب والي او د آيتونو ښکلي او خوندور وزن د سورې حفظول ډېر آسانه کړى، انسان کولى شي په لږ زحمت سره

او په کم وخت کې دا سوره حفظ کړي.

لکه څنګه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو پيل شوې؛ د سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي: ١- قرآن د څرګندو آيتونو مجموعه ده، ٢- د خلکو ډېرى ايمان نه راوړي که څه هم دوی ته د پيغمبرانو په لاس وړاندې شوي آيتونه ډېر څرګند وي، ٣- الله تعالی به د حق د دښمنانو هڅې شنډوي او مؤمنانو ته به بريا ورپه برخه کوي؛ دا ځکه چې هغه (عزيز) او (رحيم) دئ، که تاسو دې سورې ته لږ ځير شئ وبه ګورئ چې د لومړۍ رکوع په پای کې راغلې دا درې فقرې ( إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ٨ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٩) اُوه ځلې نور او د هرې وړاندې شوې قصې په پای کې راغلې او دا ښيي چې دلته هره تاريخي بېلګه د همدغو دريو خبرو د اثبات لپاره د شاهد او دليل په توګه وړاندې شوې او د سورې اصلي مضامين همدا دي.

دا اساسي مطالب په لومړۍ رکوع کې په مجمله توګه راغلي او بيا په ټولې سورې کې او د اوو پيغمبرانو عليهم السلام په قصو کې بيان شوي، په هرې قصې کې به وګورئ چې يوې خوا ته يو پيغمبر دئ او بلې خوا ته د دوی د مخالفينو يو خاص ټولی، له خاصو ځانګړتياوو او اجتماعي حيثيت او موقعيت سره، د اشتراك وجه ئې کفر، شرك، ظلم، فساد، د حق مخالفت او د باطل مرسته ده، هره قصه د يوې تاريخي او عملي بېلګې په توګه وړاندې شوې، په هرې قصې کې يو داسې ځواك څېړل شوی چې د پيغمبرانو عليهم السلام د ټګلاري مخالفت ته ئې ملا تړلې، په حقيقت کې دا سوره موږ ته ټول هغه ځواکونه او د دوی ځانګړتياوې راښيي چې د ديني تحريکونو په وړاندې خنډ کېږي او دښمنۍ ته ئې راوړاندې کېږي، دا ځواکونه د اوو قصو او تاريخي بېلګو په ترڅ کې انځور شوي، خو د قصو ترتيب داسې دئ چې تر ټولو خطرناك او ستر دښمن په سر کې او تر ټولو ووړ او لږ خطرناك دښمن په پای کې انځور شوی، د دغو تاريخي بېلګو ترتيب په دې توګه دئ:

- په پيل کې د موسی عليه السلام او فرعون قصه راغلې، په دې کې د پيغمبر له دعوت سره د هغه چا مقابله او مخالفت انځور شوی چې واکمن دئ، پر ټولني حکومت کوي، عام ولس ته د غلامانو په سترګه ګوري، هر مخالفت ځپي، مخالفين تعذيبوي او په زندانونو کې ئې اچوي.
- بيا د ابراهيم عليه السلام قصه راغلې خو پرته له دې چې د نمرود يادونه وکړي، که څه هم د ده مقابله د موسی عليه السلام په څېر له ظالم واکمن سره وه، خو د ده په قصې کې د جعلي معبودانو او بُت لمانځونکو مخالفت له دې دعوت سره تمثيل شوی، په يوې کې ترکيز پر ژوندی طاغوت شوی او په بلې کې پر مړ طاغوت او بُت، دا ځکه چې ژوندی جعلي معبود د موسی عليه السلام او فرعون په قصې کې انځور شوی، دلته د هغه ولس مخالفت منعکس شوی چې هم ژوندی طاغوت لمانځی او هم ئې مړي او د هغوی ځلې او مجسمې.
- بيا له نوح عليه السلام سره د مخورو قومي مشرانو مخالفت څېړل شوی، د دوی مخالفت هغه مهال پيل شوی چې ده د ټولني پر حاکم وضعيت نيوکې کړې او د هغه پايلې

ئې وخيمې ګڼلې، او دا هغه څه دي چې له ټولو زړه سواندو پيغمبرانو او حقپالو دعاتو سره شوي، د دعوت تر پيل وړاندې خلکو د هغوی درناوی کړی، د پوه او لوړ شخصيت په سترګه ئې ورته کتلې، خو د دعوت له پيل وروسته ئې هغوی تکذيب کړي او دښمنۍ ته ئې ملا تړلې. نوح عليه السلام په يوې داسې ټولنې کې مبعوث شوی چې ولس ئې په دوو طبقو وېشل شوی: اشراف او ارذال، يوه ډله ځان تر نورو لوړ، شريف او نجيب ګڼي او بلې ډلې ته د حقارت او سپکاوي په سترګه ګوري، د ولس ځينو بې وزلو او مستضعفينو پر نوح عليه السلام ايمان راوړی خو مستکبرينو د هغه مخالفت ته ملا تړلې او هغه ته ئې ويلي: څنګه له موږ دا طمع لرې چې پر تا ايمان راوړو په داسې حال کې چې د ولس څو بې وزلي او حقير وګړي ستا خوا ته راغونډ شوي، دوی له خپلې خوا لرې کړه، اشرافو ته په خپلې خوا کې د ودرېدو بلنه ورکړه چې ستا ملګرتيا وکړو!! دا هغه څه دي چې ټولو پيغمبرانو ته ويل شوي او د زمانې په هر پړاو کې چې کوم داعي پاڅي او د پيغمبرانو عليهم السلام په لار د تلو اراده وکړي همدا به ورته ويل کېږي، په خوا کې به ئې د ټولنې بې وزلي راغونډېږي او مستکبرين به ئې مخالفت ته ملا تړي.

• ورپسې د عاديانو هغه ځانګړتياوې زموږ په وړاندې ايښودل شوې چې له کبله ئې دوی د هود عليه السلام مخالفت وکړ، دلته ئې درې خصلتونه انځور شوي: ١- د خپلې سيمې شاوخوا هرې لوړې باندې به ئې داسې ښکلې جوړول چې هيڅ ګټه به ئې نه وه، هسې د خپل هنر او کمال ښودلو او د خپل شوق پوره کولو لپاره، ٢- داسې دنګې او مضبوطې مضبوطې ماڼۍ به ئې ځان ته جوړولې چې ګواکې دوی تلپاته دي او د تل لپاره به په دغو بنګلو کې اوسي، ٣- پر مظلومانو او بې وزلو ئې تېری کاوو، د جابرانو او ظالمانو په څېر تېری. په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د پيغمبرانو عليهم السلام د تګلارې څلورم مخالف ځواك د ټولنې هغه مرفه طبقه ده چې د ظلم او تېري له لارې ئې مال او دولت تر لاسه کړی، د قصرونو خاوندان شوي، په دنګو دنګو ماڼيو کې اوسي، د خپل بېهوده او خوشې شوق پوره کولو او د خپل عظمت او جاه او جلال د ښودلو په توګه پر لوړو ښکلي جوړوي!!

• بيا د صالح عليه السلام او ثموديانو په قصې کې د پيغمبرانو عليهم السلام د تګلارې پنځم مخالف ځواك انځور شوی، هغه چې مهمه ځانګړتيا ئې د ښېرازه زمکو، باغونو او چينو درلودل دي، دغو شتمنيو په دوی کې کبر او لويي راپيدا کړې، د غرونو په ډډو کې خوندي او مجللو کورونو جوړولو ته ئې تشويق کړي، مسرفين او مفسدين دي، له دې ډډه کوي چې خپل امکانات د اصلاح او رغوني په چارو کې وکاروي.

• بيا د لوط عليه السلام او د سدوم والو په قصې کې د پيغمبرانو عليهم السلام د تګلارې شپږم مخالف ځواك انځور شوی، هغه چې له نورو ئې توپيري ځانګړتيا اخلاقي فساد دئ، د لوط عليه السلام مخاطب قوم په داسې اخلاقي فساد کې غرق وو چې تر دوی وړاندې هيڅا په دې ګنده ډنډ کې د لوېدو تکل نه وو کړی، دوی يوازې په دغه ګنده فعل مبتلی نه وو بلکې د ژوند په نورو برخو کې هم عاصي او باغي قوم وو، لارې به ئې شکولې، د بدفعلې دا

کرکجن عمل به ئې په خپلو مجلسونو کې او د نورو په وړاندې کاوو!!

- په پای کې د شعیب علیه السلام او ایکه والو په قصې کې د پیغمبرانو علیهم السلام د تګلارې اوم مخالف څواك انځور شوی، هغه چې په تجارتي راکړې ورکړې کې خیانت کوي او له دې لارې د ډېرو شتمنیو خاوندان کېږي، همدا له نورو مخالفو ځواکونو سره د دې قوم توپیري ځانګړتیا وه، دوی له یوې خوا په ټولني کې د بې امنۍ، فساد او وېرې خورولو باعث وي، له بلې خوا د الله دین ته د خلکو د ستنېدو مخه نیسي، په ټولني کې فقر، لوږه او ګراني د دوی د ظالمانه تصرفاتو له کبله رامنځته کېږي، د جګړو، بې امنیو، خوف او وېرې په راپیدا کولو کې هم د دوی لویه ونډه وي، کله فقر او لوږه د جګړو باعث وي او کله بې امني او جګړې فقر او لوږه زېږوي.

د دغو تاریخي بېلګو په پای کې د خطاب مخ د قریشو په لورې اوښتی، دوی ته ویل شوي:

- په دې کې د شك هیڅ مجال نشته چې دا قرآن د رب العالمین له لورې نازل شوی.
- دا روح الامین (جبرئیل) د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر زړه نازل کړی، د دې لپاره چې دی هم د نورو پیغمبرانو په څېر خپل امت د کفر له بدو پایلوووېروي.
- په قرآن کې همغه څه راغلي چې په مخکینیو کتابونو کې راغلي وو. د دې کتاب ټول اساسي مطالب په مخکینیو کې کتابونو کې راغلي.
- آیا تاسو ته دا یوه څرګنده نښه نه ده چې د بني اسرائیلو علماء پرې پوهېږي؟ یعنې د بني اسرائیلو علماء په دې حقیقت ښه پوهېږي چې قرآن همغه څه وایي چې په مخکینیو کتابونو کې راغلي، له همدې کبله د دوی حقیقي او خدای پالو علماءو پر قرآن ایمان راوړ.
- دا جنایتکاران به تل او تر پایه او تر هغې ورځې له ایمان راوړو ډډه کوي چې په دردناك الهي عذاب اخته او په مرګ محکوم شي. دا عذاب به ناڅاپي خپل تور وزر پرې وغوړوي، په داسې حال کې به راشي چې دوی به په بشپړه توګه ترې غافله وي او د راتلو هیڅ تصور او ګمان به ئې نه کوي، د عذاب له لیدو وروسته به وایي: آیا د دې امکان شته چې موږ ته څه مهلت او فرصت راکړی شي چې خپلې غلطۍ جبران او خپلې کړنې تصحیح کړو!!
- الله تعالی هیڅ کلی نه دئ هلاك کړی مګر دا چې انذار کوونکي ئې ول، د پند په توګه، دا ځکه چې الله تعالی پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- قرآن او زړه راښکونکي اغېزناك مطالب ئې په خپله شهادت ورکوي چې دا کتاب د الله تعالی له لورې، د روح الامین په وسیله؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر زړه نازل شوی، په هیڅ برخې کې ئې د شیطاني القاءاتو هیڅ نښه نه شئ موندلی، نو څنګه ګمان کوئ چې دا قرآن به رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله جوړ کړی وي او په دروغو به ئې الله تعالی ته منسوبوي؟!! د شیطان او د شیطان د ملګرو ئې له داسې کلام سره څه، آیا د قرآن په څېر کلام له شیطانانو سره ښایي؟! آیا هغوی توانېدی شي داسې کلام وړاندې کړي او هغه څه ووایي چې قرآن ویلي؟!! شیطانان خو د دې کلام له اورېدو هم ډډه کوي.

بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده له لارې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې چې: د الله تعالی تر څنګ بل معبود مه لمانځه، که نه نو له معذبینو به شې، نژدې خپلوان دې انذار کړه، دوی تر نورو وړاندې او په ځانګړې توګه د عصیان او سرغړاوې له بدو پایلو ووېروه، خپل وزر هغو مؤمنانو ته کوز ساته چې ستا متابعت ئې کړی، او که ئې سرغړاوی درنه وکړ ووایه: زه له هغه څه بې زار یم چې تاسو ئې کوئ. یعني د خلکو ایمان او عمل ته به ارزښت ورکوې نه خپلوي او قومي اړیکو ته، هغه چا ته به اهمیت ورکوې چې ایمان ئې راوړی او ستا متابعت ئې کړی، دوی ته به خپل وزر ټیټ ساتې، تر دوی به ځان لوړ نه ګڼې، د یوه دروند، عزتمن او ارزښتمن ملګري په سترګه به ورته ګورې. پر مهربان عزتمن رب توکل کوه، ستا اعتماد او توکل به یوازې پر الله تعالی وي، نه پر خپلوانو، نه د لارې پر ملګرو او نه پر وسائلو او امکاناتو، یوازې پر هغه ذات چې هم مهربان دئ او هم ځواکمن او برلاسی، د هغه ځواک او برلاسي د هر ځواکمن دښمن په وړاندې ستا لپاره کافي ده او د هغه مهرباني تر هر مهربان دوست او قریب درته پراخه او مهمه.

ورپسې ویل شوي: شیطاني القاءات چا ته کېږي؟ د چا افکار، اقوال او اعمال شیطاني منشأ لري؟ وایي: د شیطاني القاءاتو تر اغېز لاندې هغه څوك وي چې د عمل له پلوه په ګناهونو کې غرق وي او د وینا له پلوه دروغجن وي، هم ئې خپله وینا دروغجنه وي او هم هغه چې بل ته ئې منسوبوي،

بیا قریشو ته ویل شوي: ستاسو بل ظالمانه او د عقل او منطق خلاف قضاوت دا دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د یوه شاعر په سترګه ګورئ، نه د یوه پیغمبر په سترګه، د قرآن لوړ او اغېزناك ادبي ترکیب داسې تعبیروئ چې ګواکې دا د کوم شاعر د ادبي سلیقې او استعداد زېږنده دئ!! خو تاسو راشئ د خپلې ټولنې شعراء او د دوی اشعار، افکار او اطوار د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوړ معنوي او اخلاقي شخصیت، او د ده له افکارو او افعالو سره او له هغه عظیم الشأن قرآن سره مقایسه کړئ چې د ده په لاس تاسو ته وړاندې شوی. قرآن په دې آیتونو کې نه یوازې د قریشو د جهل وهلې او شرك ځپلې ټولنې شعراء موږ ته معرفي کوي بلکې بد شعر او خراب شاعر رامعرفي کوي او دا ئې ځانګړتیاوې ګڼي:

- لار ورکې او بدکاران به دی او د ده شعر خوښوي.
- بې هدفه شاعر دئ، د ده د اشعارو له مخې به په دې پوه نه شې چې هدف ئې څه دئ؟ خپل مخاطب څه ته بلي؟ کله په یوې درې سر شي او کله په بل ناو، د ده په شعرونو کې به واضح او سپېڅلی پیغام ونه مومې.
- هسې د بې مقصده ویناوو او خوشو خبرو ګوډی وي، په رګونو کې ئې د عمل کولو جوهر نه وي، د خبرو د میدان اتل وي خو د عمل د میدان ملا ماتی او شل، هغه څه وایي چې نه ئې د کولو اراده لري او نه ئې همت!

خو قرآن له دې ډلې هغه شاعر مستثنی کوي چې ځانګړتیاوې ئې دا وي:

- د ايمان خاوند وي، شعر ئې له ايمان راخوټېدلی او د ايمان په خدمت کې، د ايمان نښې به د ده د هر شعر په هري مصرع کې وګورې.
- د عمل د مېدان مېړنی دئ، عمل ئې نېك وي، تر دې د مخه چې شاعر وي يو صالح انسان دئ، داسې نه دئ چې په عمل پاټې کې ئې له شعر پرته بل څه نه وي، د ژوند ټوله پانګه ئې يوازې څو اشعار وي، ټول عمر، وختونه او استعدادونه ئې د دغې پانګې په تر لاسه کولو کې ضايع کړي، بلکې هغه يوازې د فراغت وختونه د شعر ليکلو او ويلو ته مختص کړي.
- تل ئې الله تعالی په ياد وي، ژبه ئې د الله په ياد لمده، زړه ئې د الله په ياد دربېږي، شعر ئې له ذاکر زړه راخوټېدلی، په خپلو اشعارو کې خدای ډېر يادوي، که څوك ستايي نو هغه خدای دئ، که له چا سره د مينې اظهار کوي هغه خدای دئ، که له چا طمع يا وېره لري نو هغه يوازې خدای دئ، خدای پالي، خدای لمانځي، له خدايه مرسته غواړي او د الله په لوري بلنه ورکوي.
- مبارز او مجاهد شاعر دئ، له مظلومانو دفاع کوي، له ظالمانو د غچ اخيستلو لپاره ملا تړي او په خپلو انقلابي او ظالم ځپونکو اشعارو سره د ظالمانو پر سر کلك کلك مرګوني ګوزارونه کوي.، د ظالمانو په ضد پاڅون ته بلنه ورکوي او د مظلومانو دردونه منعکس کوي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓمٓ ١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢ لَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ
مُؤۡمِنِينَ ٣ إِن نَّشَأۡ نُنَزِّلۡ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةٗ فَظَلَّتۡ أَعۡنَٰقُهُمۡ لَهَا
خَٰضِعِينَ ٤ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ مُحۡدَثٍ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهُ مُعۡرِضِينَ
٥ فَقَدۡ كَذَّبُواْ فَسَيَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٦

طاء، سين، ميم، دا د مبين کتاب آيتونه دي، ښايي ته به له دې کبله ځان هلاکوې چې دوی نه مؤمنان کېږي، که وغواړو داسې آيت به له آسمان پرې نازل کړو چې غاړې به ئې ورته کږې شي، او د رحمن رب له لوري چې هر نوی ذکر ورته راځي دوی ترې ډډه کوونکي وي، نو يقيناً چې دوی تکذيب کړ نو حتماً به د هغه څه څرنګوالی ورته معلوم شي چې دوی پرې استهزاء کوله.

---

(١-٦)- د دې مبارکو آيتونو په اړه لاندې وضاحتونه ضروري برېښي:

- لکه څنګه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو پيل شوې؛ د سورې محوري او اساسي

مضامين هم درې دي: ١- قرآن د څرګندو آيتونو مجموعه ده، ٢- د خلکو ډېرى ايمان نه راوړي که څه هم دوى ته د پيغمبرانو په لاس وړاندي شوي آيتونه ډېر څرګند وي، ٣- الله تعالى به د حق د دښمنانو هڅي شنډوي او مؤمنانو ته به بريا وربه برخه کوي؛ دا ځکه چي هغه (عزيز) او (رحيم) دئ، که تاسو دې سورې ته ګړ ځير شئ وبه ګورئ چي د لومړى رکوع په پاى کي راغلي دا درې فقرې (إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ٨ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٩) اُوه ځلي نور او د هري وړاندي شوې قصې په پاى کي راغلې او دا ښيي چي دلته هره تاريخي بېلګه د همدغو دريو خبرو د اثبات لپاره د شاهد او دليل په توګه وړاندي شوې او د سورې اصلي مضامين همدا دي.

• دلته ويل شوي چي دا د مبين کتاب آيتونه دي، يعني د هغه کتاب آيتونه چي په خپله څرګند دئ، هيڅ ابهام او اغماض په کي نشته او ټول حقائق څرګندوي، ورپسې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ښايي ته به له دې کبله ځان هلاکوې چي دوى نه مؤمنان کېږي، له دې معلومېږي چي پيغمبرعليه السلام د خپل امت په اړه څومره زړه سواند وو، په (انسان) ئې څومره زړه سوى درلود او د ده له ژغورني سره ئې څومره مينه وه؟ خپل رب او د هغه په وړاندي ئې خپل دروند مسئوليت څنګه پېژاندو او د يوه پيغمبر په توګه ئې د خپلي دندي په اړه څه احساس درلود؟ د هغو په اړه ئې څه احساس وو چي د ايمان له سعادته محروم شوي؟ قرآن فرمايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د کافرانو د ايمان نه راوړو له کبله دومره اندېښني کولې چي نژدې وه له ډېرو اندېښنو ومري؟

دغه مطلب د قرآن په بل ځاى کي په دې الفاظو راغلى:

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ١٢٨ التوبه

يقيناً چي تاسو ته ستاسو له منځه داسي پيغمبر درغى چي څه تاسو ځوروي پر ده ګران تمامېږي، ستاسو پر (هدايت او لارښووني) حريص دئ او د مؤمنانو په اړه ډېر زړه سواند او مهربان.

• د درد او مسئوليت دغه احساس، د خلکو د هدايت او لارښووني دې ژوري تلوسې، د مؤمنانو په اړه دې زړه سوي او مهرباني همغه دروند پېټى جوړ کړى وو چي د پيغمبرعليه السلام پر اوږوئې داسې دروندوالى کاوو چي نژدې وه د دې اولوالعزم پيغمبر ملا ماته کړي.

• الله تعالى هغه ته لارښوونه کوي چي د خلکو د هدايت لپاره د قرآن او د هغه لارښووني او دلائل کفايت کوي، په چا کي چي د هدايت کېدو استعداد وي، د سمي لاري پېژندو تلوسه او هيله وي د هغه لپاره قرآن کافي دئ او څوک چي د قرآن په لارښوونو او دلائلو قانع نشي په هيڅ څه نشي قانع کېدى، که الله تعالى غوښتى داسي آيت به ئې له آسمان پرې نازل کړى وو چي غاړې به ئې ورته کړې شوې وې، خو دا د الله تعالى سنت نه دئ، د انسان د لارښووني لپاره الهي اسلوب داسي نه دئ چي هغه په سمي لاري تلو ته اړ کړى شي.

• د دوی د مخالفت او ایمان نه راوړو وجه دا نه ده چي کافي دلائل نه دي ورته ویل شوي او د قرآن له څرګندو دلائلو علاوه نورو دلائلو ته ضرورت شته، د دوی د مخالفت اسباب او املونه نور دي، دوی هغه خلك دي چي د الله تعالی له لوري هر نوی کتاب ورته راغلی مخالفت ئې کړی، دوی د رسول الله صلی الله علیه و سلم او قرآن مخالفت کوي او سلف ئې د مخکینیو پیغمبرانو او مخکینیو الهي کتابونو، دوی زاړه پال دي، یوازي هغه څه مني چي له پلار نیکه ورته په میراث رسېدلي، که څه هم د عقل خلاف خبري، د انساني فطرت ضد اعمال او ګنده او ظالمانه دود دستور وي، دوی نوی دین او مذهب نه مني، که څه هم د الله تعالی له لوري وي، او که څه هم هغه د رحمن رب له لوري د پېرزویني او رحمت څرګنده دالیه وي ﴿وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ مُحۡدَثٍ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهُ مُعۡرِضِينَ ٥﴾: او د رحمن رب له لوري چي هر نوی ذکر ورته راځي دوی ترې ډډه کوونکي وي) !! هغه دروغ ګڼي او ملنډي پرې وهي!!

• خو دوی دي پوه وي چي حتماً به د هغه څه څرنګوالی ورته معلوم شي چي دوی پرې استهزاء کوله، که دا د حقپالو د حتمي بریا په اړه وي او که د کفر او شرك د مغرورو ځواکونو د حتمي ماتې او سپکاوي په اړه، دوی ته دا دواړه محال برېښي خو ډېر ژر به دواړه په خپلو سترګو وګوري.

---

﴿أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَمۡ أَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ٧ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ٨ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٩﴾

آیا زمکي ته ئې نه دي کتلي چي څومره غوره غوره جوړې مو په کې راټوکولې دي؟! یقیناً چي په دې کې یوه څرګنده نښه ده، او د دوی ډېری باور کوونکي نه دي، او یقیناً چي ستا رب مهربان عزتمن دئ.

---

(٧-٩)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

• هغه چي د حاکم او مسلط حالت په دوام کلك باور لري، ګمان نه کوي چي دا حالت به له منځه ولاړ شي او په ټولني کې به داسي نوی نسل له نویو افکارو، اخلاقو او اطوارو سره رامنځته شي چي د دوی په لاس به په ټولني کې بدلون راځي، د هغوی په اړه ویل شوي: آیا زمکي ته ئې نه دي کتلي چي څومره غوره غوره جوړې مو په کې راټوکولې دي؟! یقیناً چي په دې کې یوه څرګنده نښه ده، خو د دوی ډېری باور کوونکي نه دي. یعني لکه څنګه چي الله تعالی په وچ او سپېره ډاګ کې په یوه باران سره ښکلي بوټي راوټوکوي؛ همداسي به په دې جهل ځپلې او شرك وهلې ټولني کې داسي مؤمنان راپیدا کوي چي دا ټولنه د شرك او جهل له تیارو وژغوري او د شرك او جهل ځواکونو سلطه پای ته ورسوي.

• د منکرینو اصلي ستونزه دا نه ده چي نښې او دلائل ئې نه دي تر سترګو شوي، ستونزه

ئې دا ده چې د عبرت سترګي ئې ړندې شوې او د ضمير حساسيت ئې ځپل شوی، د چا د عبرت سترګي چې نه وي ړندې شوې؛ د هغه لپاره دغه نښه کافي ده، د هغه په وړاندي په هر ګام کي، هر لوري ته داسي نښي ځلېږي چې د ايمان راوړو لپاره کافي دي.

- او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

---

وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾
قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِى
فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَىَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾

او هغه مهال چې ستا رب موسی ته غږ کړ چې د دې ظالم قوم لوري ته راشه، د فرعون قوم ته، آيا (د خپل ظلم له بدو پايلو) نه وېرېږي؟، وئې ويل: اې زما ربه! زه وېرېږم چې دروغجن به مي وګڼي، سينه مي تنګېږي، ژبه مي (سمه) نه خوځېږي، نو د هارون لوري ته (دا رسالت) ولېږه، او د دوی پر ما د يوې ګناه (الزام) دئ، وېرېږم چې وبه مي وژني.

---

(١٠-١٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- موسی عليه السلام ته د يوه ظالم قوم په لوري د تلو لارښوونه وشوه، د فرعو ن ظالم قوم، هغه چې په ظلم او فساد کي ئې کار داسي حد ته رسېدلی وو چې د خپلو ظلمونو او فسادونو د بدو پايلو هيڅ پروا ئې نه کوله، خو ده ته د مبارزې ميدان ته د بلني لپاره داسي الفاظ کارول شوي چې ښيي الله تعالی دی داسي ميدان ته بلي چې هلته ظالمانو د خپل رب په خلاف بغاوت کړی، هلته د حق او باطل تر منځ، د باغي بنده او د هغه د رب تر منځ جګړه روانه ده، الله تعالی ده ته بلنه ورکړه چې راشه په دې تصادم کي برخه واخله، د دې پر ځای چې ورته ووايي: إذهب الی القوم الظالم: د ظالم قوم په لوري ولاړ شه؛ ورته وايي: إئت القوم الظالمين: دې ظالم قوم ته راشه!!
- موسی عليه السلام د دې دروند پېتي له وړلو ځان عاجز ګڼي، هغه ضروري استعدادونه او ځانګړتياوي چې د يوه ستر مغرور او ظالم ځواك په ضد د يوه مظلوم او بې وزلي ولس د زعامت او مشرتابه لپاره ضروري دي ځان ترې محروم بولي او وايي:
- اې زما ربه! زه وېرېږم چې تکذيب به مي کړي، د موسی عليه السلام د دې وينا معنی دا ده: بني اسرائيل به ما د پيغمبر په توګه ونه مني، زه د فرعون په کور کي ستر شوی يم، دا شك به ئې په زړونو کي راولاړ شي چې ګواکي له ما سره د مشری او زعامت تلوسه د فرعون په کور کي د پاته کېدو له کبله راپيدا شوې.
- سينه مي تنګېږي، يعني د قيادت لپاره لوی زړه، مضبوطه حوصله، لوړ همت او پراخه

سینه په کار ده، زه په ځان کې دا کفایت نه ګورم.

• ژبه مې سمه نه خوځېږي، یعني هغه فصاحت، بلاغت او د ژبې طلاقت چې د یوه قائد لپاره ضروري دئ، زه ترې محروم یم.

• هارون ته ئې ولېږه، دا دنده هغه ته وسپاره، هغه تر ما فصیح او د دې کار لپاره وړ دئ.

• او د دوی پر ما د یوې ګناه (الزام) دئ، وېرېږم چې وبه مې وژني. یعني د دوی پوروړی یم، پر ما د قتل الزام دئ، دا فرصت به رانه کړي چې زه خپل پیغام هغوی ته ورسوم.

په دې مبارکو آیتونو کې که له یوې خوا د سورې د اساسي مطالبو لپاره یوه تاریخي بېلګه زموږ په وړاندې انځور شوې؛ له بلې خوا د قیادت څو اساسي مواصفات موږ ته معرفي کوي او وايي:

• د مشرتابه لپاره فصاحت او د ژبې طلاقت یو ضروري صفت دئ، فصاحت یوازې یو کمال او هنر نه دئ؛ بلکې د انشراح صدر، فهم او بصیرت، روښانه ذهن او ژور فکر نښه او د انسان د عقیدې او قول تر منځ د تنسیق او یووالي مظهر دئ، څوک چې رغنده او سالم افکار نه لري حتماً به ئې وینا مبهمه او غامضه وموئ، مخاطب ته به تصنعي برېښي، تر اغېز لاندې به ئې نه ځي، د زړه او دماغ دړه به ئې نه ورته پرانیستل کېږي. قرآن د دې ضروري صفت د یوې بېلګې په توګه د موسی علیه السلام دا وینا رااخلي چې پر رسالت د مبعوثېدو په مهال ئې وکړه او وئې ویل: زه د دې منصب او مأموریت لپاره وړ نه یم؛ ځکه فصاحت نه لرم، تر ما هارون (علیه السلام) غوره دئ، ځکه هغه تر ما افصح دئ. فصاحت او په صراحت او وضاحت سره د خپل زړه خبره کول، دا د مشرتابه لپاره هغه ضروري صفت دئ چې موسی علیه السلام هغه ته په پام سره هارون علیه السلام تر ځان د دې دندې لپاره غوره او وړ بولي.

• د لاربښود او مشر د شخصیت او د ده د دعوت او مبارزې په اړه د خلکو اعتماد او باور ضروري دئ، موسی علیه السلام په دې دلیل ځان د دې مقام لپاره وړ نه بولي چې ګمان کوي بني اسرائیل به ئې په دې دلیل ونه مني او د ده په اړه به شك وکړي چې دی د فرعون په قصر کې ستر شوی، د زعامت او قیادت شوق او تلوسه ئې له هغه ځایه تر لاسه کړې، د فرعون په قصر کې پاته کېدا دې ته هڅولی چې د قوم مشر او لاربښود شي، داسې نه چې دغه انګېرنه د دې باعث شي چې بني اسرائیل د ده بلنې او دعوت ته د شك په سترګه وګوري او له ایمان راوړو ډډه وکړي.

• هغه سعه صدر او پراخه حوصله چې موسی علیه السلام ئې د زعیم لپاره ضروري ګڼي، په خپل زړه او سینه کې نه مومي او له همدې امله ځان د مشرۍ لپاره مناسب نه بولي.

• اقتدار ته د رسېدو تلوسه نه درلودل او د لاس ته راوړو هڅه ئې نه کول، د اسلام له نظره قدرت ته د رسېدو هڅه حرامه او ناروا ده، څوك چې امارت ته د رسېدو هڅه وکړي د الله تعالی له تأیید او رعایت محرومېږي او الله تعالی ئې خپل نفس ته حواله کوي، د

پیغمبر علیه السلام قول او فعل ښيي چې مسلمانان باید هغه څوك د امیر په توګه غوره نه کړي چې اقتدار ته د رسېدو هڅه کوي، د موسی علیه السلام په پورتنۍ قصې کې هم موږ ته همدا لارښوونه شوې، موسی علیه السلام داسې معرفي شوی چې غوښتل ئې د امارت پېټی د ده پر اوږو بار نشي او د ده پر ځای هارون علیه السلام ته وسپارل شي.

- د مشر او کشر، د امیر او رعیت او د داعي او مخاطب تر منځ د اعتماد او افهام او تفهیم فضاء د قیادت لپاره یو بل ضروري شرط دئ، قرآن د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې موږ ته همدا وايي او د موسی علیه السلام د دې وینا په ضمن کې ئې موږ ته بیانوي چې هغه وویل: د یوه قبطي د قتل په وجه زما او د قبطیانو تر منځ د اعتماد او باور فضاء له منځه تللې، د دوی له لوري د قتل تور به د دې باعث شي چې زما بلنې ته مثبت ځواب ونه وايي.

کله چې موسی علیه السلام؛ د عجز او ناتوانۍ له اظهار سره سره؛ په دې ستري دندې ګمارل کېږي او علیم او حکیم رب هغه د دې منصب وړ ګڼي، نو الله تعالی ته داسې دعا کوي چې په ضمن کې ئې ټول هغه ضروري وړتیاوې ترې غواړي چې د قیادت لپاره زیات ضروري دي او موسی علیه السلام ځان ورته اړ او محتاج ګڼلو، فرمايي:

قَالَ رَبِّ ٱشْرَحْ لِي صَدْرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِيٓ أَمْرِي ﴿٢٦﴾ وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُواْ قَوْلِي ﴿٢٨﴾ وَٱجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ﴿٢٩﴾ هَٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ ٱشْدُدْ بِهِۦٓ أَزْرِي ﴿٣١﴾ وَأَشْرِكْهُ فِيٓ أَمْرِي ﴿٣٢﴾ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ﴿٣٣﴾ وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا ﴿٣٥﴾ طه

وئې ویل: اې زما ربه! سینه مې راته پراخه کړې، کار مې راته آسانه کړې، د ژبې غوټې مې پرانېزې، چې په وینا مې پوه شي، له خپل ټبر مې وزیر او مرستندوی راته وټاکه، ورور مې هارون، په هغه سره مې ملا مضبوطه کړه او په کار کې ئې راسره شریك کړه، د دې لپاره چې زیاته تسبیح دې ووایو او ډېر دې یاد کړو، یقیناً چې ته مو حال ته ښه لیدونکی (په حال مو ښه خبر) یې.

دې ته مو باید پام وي چې په قرآن کې کله شرح صدر د سینې د تنګوالي په مقابل کې راغلې او معنی ئې د هر ډول تشویش، ذهني اضطراب او هر راز شك او شبهې رفع کول او د اسلام د منلو لپاره د انسان زړه تیارول او په دې ئې قانع کول دي چې د اسلام لاره حق ده او څه چې اسلام د عقیدې، اخلاق، عدالت، تمدن او تهذیب په اړه ویلي سل په سلو کې حقیقت لري. او کله د سینې د هغې تنګوالي په ارتباط راغلې چې وېره او خوف ئې باعث وي، د خپلې دندې او مأموریت له ستروالي وېره، له دې وېره چې د دې درون بار د وړلو توان به ونه لري، له دې وېره چې مخاطب به پرې بد ګماني وکړي، په خبره به ئې سم پوه نه کړی شي، د پراخې حوصلې او د ضروري فصاحت او د ژبې ښه طلاقت د نشتوالي وېره.

قرآن په ډېر تفصیل سره او د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کې د صالح او اهل زعیم ضروري

مواصفات راښيي، دا د دې لپاره چې د زعامت او قيادت وړ شخصيت وپېژنو، د هغه ملاتړ وکړو او د قيادت دروند پېټی د هغه پر اوږو کښېږدو او له داسي چا سره له بيعت ډډه وکړو چې له دغو ضروري مواصفاتو محروم وي، قرآن د اسلامي ټولنې د زعيم او مشر د مواصفاتو په اړه ډېر تفصيلي او دقيق بحث کړی، که دا آيتونه او هغه چې په ترڅ کې ئې د غير اسلامي ټولنې د زعماوو ځانګړتياوې په کې ځېړل شوې راغونډ کړو؛ نو يقيناً چې پرېړ او ضخيم کتاب ترې جوړېږي.

قَالَ كَلَّاۖ فَٱذۡهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسۡتَمِعُونَ ١٥ فَأۡتِيَا فِرۡعَوۡنَ فَقُولَآ إِنَّا
رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦ أَنۡ أَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ١٧

وئې ويل: نه داسي نه ده، دواړه زما له آيتونو سره ولاړ شئ، يقيناً چې موږ درسره اورېدونکي يو، نو فرعون ته ورشئ او ورته ووايئ: يقيناً چې موږ د رب العالمين استازي يو (له دې پيغام سره ) چې بني اسرائيل راسره ولېږه.

(١٥-١٧)- دلته هغه ځواب زموږ په وړاندي ځلېږي چې د الله تعالی له لوري موسی عليه السلام ته ورکړی شو، په دې توګه:

- داسي نه ده لکه چې ته انګېرې، ته د دې دروند پېټي د وړلو وړتيا لرې، په تا کې هغه ځانګړتياوې شته چې د يوه صالح لارښود او موفق زعيم لپاره ضروري دي.
- زه درسره يم، په دې مبارزې کې يوازي نه يئ، زه مو مرستندوی يم، هم ستاسو دعاګانې اورم او هم ستاسو د مخاطبينو ويناوې، مه د چا د تکذيب پروا کوئ او مه ئې د مخالفتونو او دښمنيو.
- فرعون ته ورشئ او ورته ووايئ: يقيناً چې موږ د رب العالمين استازي يو، له دې پيغام سره راغلي يو چې د بني اسرائيلو له ځورولو او په غلامۍ کې د دوی له ساتلو لاس واخله، که په مصر کې د دوی شتون نشې زغملی نو پرېږده چې له موږ سره يو ځای له مصر ووځي او خپلې پلرنۍ سيمې ته ولاړ شي.

دې ته مو بايد پام وي چې فرعون ته د موسی عليه السلام پيغام يوازي دا نه وو چې بني اسرائيل راسره ولېږه، هغه له يوه داسي جامع او بشپړ پيغام سره تللی وو چې هر پيغمبر ئې خپل امت ته راوړي، د بني اسرائيلو د آزادۍ مطالبه وروستۍ غوښتنه وه. موسی عليه السلام فرعون ته همغه څه ويلي چې هر پيغمبر ئې ولس او د ولس واکمنانو ته وايي، هغه ئې په الله تعالی او آخرت ايمان ته رابللی، د نورو اساسي خبرو په ضمن کې ئې هغه ته ويلي چې د بني اسرائيلو له تعذيب، ځورولو او په اسارت او غلامۍ کې د دوی له ساتلو لاس واخله، پرېږده چې آزاد ژوند وکړي، که ترې وېرېږې او د همدې لپاره ئې په اسارت او استضعاف کې ساتې او زامن ئې ورته وژنې نو پرې ئې ږده چې له مصره ووځي او د خپلې

خوښي سيمي ته له موږ سره ولاړ شي.

قَالَ أَلَمۡ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدٗا وَلَبِثۡتَ فِينَا مِنۡ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلۡتَ فَعۡلَتَكَ ٱلَّتِي فَعَلۡتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾

وئې ويل: آيا په خپلي (خوا) کې مو د يوه ماشوم په توګه ونه پاللې، او د خپل عمر څو کلونه دي زموږ په خوا کې تېر نه کړل، او خپل هغه کار دي هم وکړ چي ودي کړ، حال دا چي هغه وخت ته هم (زموږ په څېر) د کافرانو له ډلي وې!!

(١٨-١٩)- فرعون ورته وويل: آيا ته همغه نه يې چي ماشوم وې او موږ وروزلې او د خپل عمر څو کلونه دي زموږ په خوا کې او زموږ تر پالني او روزني لاندي تېر کړل؟ او آيا ته همغه نه يې چي هغه کار دي وکړ، هغه چي همدا تا وکړ، حال دا چي هغه وخت ته هم زموږ په څېر د کافرانو له ډلي وې، پرون خو ته هم زموږ په څېر وې، دا څه وشول چي نن موږ ته کافر وايې او ځان ته مؤمن؟!! د فرعون د دې وينا يوه بله توجيه هم شوې او هغه دا چي ګواکې دلته له (کافرين) د فرعون مراد ناسپاس او ناشکر دئ، يعني موسى عليه السلام ته ئې ويلي چي ته د دغو ټولو نعمتونو درناوى او پاس نه کوې او زموږ مخالفت ته دې ملا تړلې! خو په دوه دلائلو لومړۍ توجيه دقيقه ده: ١- موسى عليه السلام د هغه په ځواب کې ويلي چي هو؛ ما هغه کار کړى، خو په داسي حال کې چي زه له لار ورکو وم: فعلتها إذاً و أنا من الضالين، له دې معلومېږي چي د فرعون مراد له (کافر) همدا ضلالت او لار ورکتوب وو، ٢- که ئې مراد ناشکري وى نو هم به ده د مفرد صيغه کاروله او هم به موسى عليه السلام ويلي وو چي زه ناشکر او ناسپاس نه يم.

قَالَ فَعَلۡتُهَآ إِذٗا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرۡتُ مِنكُمۡ لَمَّا خِفۡتُكُمۡ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكۡمٗا وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلۡكَ نِعۡمَةٞ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنۡ عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾

وئې ويل: هغه کار مي کړى، خو په داسي حال کې چي زه له لار ورکو وم، نو کله چي له تاسو ووېرېدم نو درنه وتښتېدم، نو زما رب حکمت راپه برخه کړ او زه ئې له پيغمبرانو وګرځولم، او دغه نعمت چي ته ئې پر ما منت ږدې له دې کبله دئ چي بني اسرائيل دي په مريېتوب نيولي.

(٢٠-٢٢)- موسى عليه السلام فرعون ته وويل: هغه کار مي په داسي حال کې کړى چي له لار ورکو او ناپوهانو وم، په ناپوهۍ کې هغه کار رانه شوى، اعتراف کوم چي هغه وخت زه

هم ستاسو په څېر لار ورکی وم، کله چې له تاسو ووېرېدم نو درنه وتښتېدم، او زما رب پوهه او حکمت راپه برخه کړ او له پیغمبرانو ئې وګرځولم. ته چې پر ما د خپلو پېرزوینو او احساناتو یادونه کوې او وایې چې په خپل کور کې مې ستر کړې! د دې وجه خو دا ده چې تا بني اسرائیل په غلامۍ کې ساتلي، د هغوی زامن دې وژل، زما مور دې ته اړه شوه چې سیند ته مې وغورځوي، په دې توګه ستا لاس ته درغلم، ولې ستا په کور کې د سترېدو پیغور راکوې؟! که دوی آزاد وی ولې به زه د خپلې مور له غېږې محرومېدم، ستا لاس ته به درتلم او ستا تر روزنې لاندې به نیول کېدم او ولې به تا نن د دغې خبرې منت پر ما ایښودو او خپله دا پېرزوینه به دې ما ته رایادوله؟!!

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِن
كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُۥٓ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ
ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾ قَالَ
رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَـٰهًا
غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾

فرعون وویل: او دا رب العالمین څه او څوك دئ؟ وئې ویل: د آسمانونو او زمکې رب او د هر هغه څه رب چې په دې دواړو کې دي، که یقین کوونکي یئ، (فرعون) هغو ته چې د ده شاوخوا کې ول وویل: آیا نه اورئ؟ وئې ویل: همغه ستاسو رب او ستاسو د لومړنیو پلرونو رب، وئې ویل: یقیناً چې ستاسو لوري ته دا لېږل شوی پیغمبر حتماً لېونی دئ!! وئې ویل: همغه د مشرق او مغرب رب او د هر هغه څه رب چې د دوی تر منځ دي، که تاسو تعقل وکړئ، وئې ویل: که له ما پرته دې بل اله ونیو نو حتماً به دې له (نورو) زندانیانو سره یوځای کړم.

(٢٣-٢٩)- په دې مبارکو آیتونو کې د فرعون او موسی علیه السلام ویناوې د یوې جالبې مرکې په بڼې کې داسې راغلې:

- فرعون وویل: دا رب العالمین څه او څوك دئ چې ته ځان د هغه استازی ګڼې او وایې د هغه پیغام مې درته راوړی؟!!
- موسی علیه السلام په ځواب کې ورته ویل: د آسمانونو او زمکې رب او د هر هغه څه رب چې په دې دواړو کې دي، که یقین کوونکي یئ، که ستاسو پوښتنې د دې لپاره وې چې په حقیقت پوه شئ او هغه رب وپېژنئ چې زه ئې د یوه استازي په توګه غوره کړی یم، واقعاً غواړئ حقائق درك کړئ او ایمان پرې راوړئ نو زه د هغه رب له لوري لېږل شوی یم چې د

آسمانونو او زمکې هر لوري او په هر څه کې ئې د هغه د ربوبيت او پالنې آثار له ورايه برېښي، داسې څرګند آثار او نښې چې د هر يقين کوونکي لپاره کفايت کوي او هغه ته خپل رب ورپېژني.

• فرعون هغو درباريانو ته مخ واړاوو چې د ده شاوخوا کې راغونډ ول او وئې ويل: آيا نه اورئ؟ پام مو نه دئ چې دی څه وايي؟!! دا حرکت ئې هغو جاهلو او مغرورو کسانو ته ورته وو چې کله د کومې خبرې د ترديد لپاره څه ونه مومي، او وغواړي د مقابل لوري وينا ناسمه او د نه منلو وړ وښيي نو يوې خوا بلې خوا ته مخ واړوي او وايي: نه اورئ چې څه وايي، آيا دا خبره د کولو، اورېدلو او ځوابولو وړ ده؟!!

• موسی عليه السلام وويل: همغه ستاسو رب او ستاسو د لومړنيو پلرونو رب، هغه چې تاسو او ستاسو پلرونه ئې پيدا کړي، روزلي، پاللي او ستر کړي، د غرور له وهمي سورلۍ کوز شئ، زه مو هغه رب ته رابلم چې هم ستاسو او هم ستاسو د پلرونو رب دئ.

• فرعون وويل: يقيناً چې ستاسو لوري ته دا لېږل شوی پيغمبر حتماً لېونی دئ!! زموږ په وړاندې داسې جسارتونه، يوازې داسې څوك کولی شي چې دماغ ئې خراب او په لېونتوب مبتلی وي!!

• موسی عليه السلام وويل: همغه د مشرق او مغرب رب او د هر هغه څه رب چې د دوی تر منځ دي، که تاسو تعقل وکړئ، يعني زه د هغه ذات لوري ته بلنه درکوم چې شپه او ورځ د ده په اراده راځي او ځي، که د دې خور عالم په کوم څه شپه خپل تور وزر غوړوي او يا ورځ ځلا او رڼا ورکوي، دا هر څه د همغه الله تعالی په حکم او اراده تر سره کېږي، دا په حقيقت کې د فرعون د ګواښني او تهديد په وړاندې همغسې ځواب دئ لکه چې ابراهيم عليه السلام د نمرود د ګواښ په وړاندې ويلی وو، کله چې ابراهيم عليه السلام ته د اعدام پرېکړه واورول شوه هغه وويل: د مرګ او ژوند پرېکړه زما د رب له لوري کېږي، نمرود وويل: زه يم چې د ژوند مرګ فيصله کوم!! دوه بنديان ئې راوغوښتل چې يو ئې د آزادولو او بل ئې د اعدام وړ وو، هغه لومړنی ئې اعدام کړ او دوهم ئې آزاد کړ، ابراهيم عليه السلام ورته وويل: الله خو لمر له مشرقه راخېژوي ته ئې له مغربه راوله که رښتينی يې، نو هغه چې کافر شوی وو مبهوت او حيران شو، څه ئې د ويلو لپاره نه موندل، ګورئ چې يوې خوا ته نمرود دئ چې خپل اقتدار مغرور کړی، ګمان کوي چې د خلکو مرګ ژوند د ده په لاس کې دئ، سلطنت او پاچايي ئې "طاغوت" دئ چې دی ئې دوکه کړی، د حقيقت له منلو ئې منع کوي او په تيارو کې د ده د پاته کېدو باعث کېږي، خو بلې خوا ته ابراهيم عليه السلام دئ، د مرګ پرېکړه ئې شوې، د ده د سوزولو لپاره ستر اور بل شوی، ټول ولس راغونډ شوی چې په سره اور کې د ده د ورتېېدو ننداره وکړي، دی ئې له زندان رااېستلی، اوس د نمرود په دربار کې ولاړ دئ، جلاد ئې خوا ته او آخوا خلك په اور کې د ده د اچولو شېبې ته منتظر، په همدې حساسې او هيبتناکې شېبې کې ابراهيم عليه السلام په ټول ډاډ او اطمئنان سره وايي: د مرګ ژوند پرېکړه زما رب کوي. په هغه حالت کې د دې خبرې د کولو په عظمت

هر څوك نه پوهېږي، داسې خبره يوازې هغه څوك كولی شي چې الله تعالی ئې هادي او لارښود وي. موسی عليه السلام فرعون ته همغسې ځواب وركړی چې د ده وړور ابراهيم عليه السلام نمرود ته وركړی وو، ابراهيم عليه السلام ويلي وو: زما رب خو هغه ذات دئ چې مړ له ختيزه راخېژوي، ته ئې له لوېديزه راوخېژوه كه رښتينی يې!! يعني لكه څنګه چې شپه او ورځ د الله په اراده ځي راځي او مړ د ده په اراده له خپل ځای راخېژي او په خپل ځای كې پرېوځي او د نړۍ هيڅ ځواك نه د هغه د تلو راتلو وخت بدلولی شي او نه ئې ځای، همداسې د مرګ او ژوند پرېكړه هم يوازې د الله له لوري كېږي او په دې كار كې هم د نړۍ هيڅ ځواك هيڅ برخه نه لري. موسی عليه السلام هم د فرعون د ګواښ په وړاندې دې ته ورته ځواب وركوي او وايي: همغه د مشرق او مغرب رب او د هر هغه څه رب چې د دوی تر منځ دي، يعني زه د هغه ذات لوري ته بلنه دركوم چې شپه او ورځ د ده په اراده راځي او ځي، پرېكړې د هغه له لوري صادرېږي او بدلونونه د هغه په حكم رامنځته كېږي.

• فرعون وويل: كه له ما پرته دې بل اله ونيو نو حتماً به دې له (نورو) زندانيانو سره يوځای كړم. يعني په دې ملك كې به د ژوند په هري برخې كې محوري او مركزي حيثيت د فرعون وي، د ټولني هر وګړی به هم د لارښوونې په برخه كې او هم د پرېكړو لپاره ده ته مراجعه كوي، په دې هېواد كې به له ده پرته بل داسې مقام او مرجع نه غوره كېږي چې ولس د لارښوونو او د منازعاتو د حل و فصل لپاره هغه ته مخ اړوي، دلته به يوازې زما احكام چلېږی او كه تا بل مقام او مرجع ته د مخ اړولو جسارت وكړ نو ځای دې زندان دئ، له نورو زندانيانو سره به يو ځای په زندان كې پروت وې. دا مبارك آيت په ډېر وضاحت سره موږ ته لارښوونه كوي چې د (اله) اصلي معنی څه ده؟ دا آيت وايي: هر هغه څوك چې په خپلې ټولنې كې همغه مقام او منزلت غواړي چې فرعون غوره كړی وو كه څه هم ځان ته د اله او معبود خطاب ونه كړي په حقيقت كې ئې ځان معبود او اله ګڼلی او د الوهيت دعوی ئې كړې. دې ته مو بايد پام وي چې د فرعون د قصې له راوړلو د قرآن موخه دا نه ده چې هسې يوه تاريخي قصه زموږ په وړاندې كښېږدي او يا فرعون راوپېژني، موخه ئې دا ده چې موږ ته د هر (فرعون) او هر فرعوني نظام ځانګړتياوې راوپېژني، قرآنكريم د دې لپاره دا يادونه كوي چې موږ د دې په هيندارې كې فرعون ته ورته واكمنان وپېژنو او په دې پوه شو چې الله تعالی كوم نظام يو فرعوني نظام ګڼي او د رانسكورولو لپاره ئې موسی لېږي؟!! له دې قصې د قرآن موخه دا نه ده چې موږ په تاريخ كې هغه تېر شوی فرعون وپېژنو، بلكې هدف ئې دا دئ چې موږ په دې خبرې پوه كړي چې په چا كې دغه صفات وي هغه فرعون دئ او د فرعون له برخليك سره به مخامخ كېږي. او ته به د دې فرعون داسې مقابله كوې لكه چې موسی عليه السلام د خپل دور فرعون مقابله كوله.

قَالَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكَ بِشَيۡءٖ مُّبِينٖ ٣٠ قَالَ فَأۡتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٣١

فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾

وئې ويل: (زندان ته مي لېږې) که څه هم (د خپل حقانيت د اثبات لپاره) څرگنده نښه دروړاندې کړم؟! هغه وويل: راڼې وړه که له رښتينو يې! نو خپله عصا ئې وغورځوله چې ښکاره مار (ترې جوړ) شو او خپل لاس ئې راوايست چې ليدونکو ته روڼ او ځلانده وو.

---

(٣٠-٣٣)- موسی علیه السلام د فرعون د گواښ او تهديد په ځواب کې وويل: زندان ته مي لېږې که څه هم د خپلي رښتينولۍ او د خپل رسالت د حقانيت د اثبات لپاره څرگنده نښه دروړاندې کړم؟! آيا دا نه بدلېدونکې پرېکړه ده که نه د دلائلو په ليدو سره به په دې کې تبديلي راځي؟!! فرعون وويل: د رښتينولۍ څرگنده نښه دې وړاندې کړه! موسی علیه السلام خپله عصا وغورځوله چې ښکاره مار ترې جوړ شو او خپل لاس ئې راوايست چې ليدونکو ته روڼ او ځلانده وبرېښېدو.

دې ته مو پام وي چې که څه هم دا د موسی علیه السلام دوه معجزې وې، عصاء ئې په مار بدله شوې او لاس ئې روڼ ځلېدلی، خو په دې سره موږ ته لارښوونه شوې چې که تاسو رښتيني حقپال شئ، د موسی علیه السلام لار غوره کړئ، د فرعون مقابله وکړئ، پر خپل رب توکل وکړئ، نو ستاسو سپين لاس او خپله عصاء کافي ده چې هر باطل ځواك ته ماتې ورکړئ، مهمه دا ده چې تاسو خپله لمن پاکه او سپينه وساتئ او په گناهونو ئې داغجنه نه کړئ، او خپل شته وسائل او امکانات په کار واچوئ، الله تعالی به په همدې سره تاسو ته پر دښمن برى او غلبه درکوي، که څه هم ستاسو دښمن په ظاهر کې ډېر ځواکمن وي او وسائل او امکانات ئې ستاسو په پرتله ډېر زيات!!

---

قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾ قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَٱبْعَثْ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾

(فرعون) په خپلي خوا کې درباريانو ته وويل: دا خو ډېر پوه جادوگر دئ، غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپل ټاټوبي وباسي، نو څه مشوره راکوئ؟ وئې ويل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او په ښارونو کې ټول راغونډوونکي (جارچيان او اربکي) وگماره، د دې لپاره چې ټول پوه ماهر جادوگران درته راولي.

(٣٤-٣٧)- دا مبارك آيتونه موږ ته لارښوونه كوي چي د معجزو او دلائلو په وړاندي د هر فرعون او د فرعونيانو غبرګون څنګه وي، د دوی غبرګون به تل داسي وي لكه د مصر د فرعون، هغه د موسی عليه السلام د دوو سترو سترو معجزو له ليدو وروسته په خپلي خوا كي درباريانو ته وويل: ١- دا خو ډېر پوه جادوګر دئ، ٢- غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپل ټاټوبي وباسي، ٣- نو څه مشوره راكوئ؟ مقدمه ئې داسي ايښې چي د درباريانو ځواب له دې پرته بل څه نشي كېدی چي بايد د دې خطرناك جادوګر او د ټول ولس دښمن مخنيوی وشي، فرعون ته ئې مشوره دا وه: ده او ورور ته ئې مهلت وركړه او په ښارونو كي ټول راغونډوونكي جارچيان او اربكي وګماره، چي ټول پوه او ماهر جادوګران درته راغونډ كړي او د دې جادوګر مقابله وكړي!! فرعون د خپل مكر په لومي كي ونښت، موسی عليه السلام ئې جادوګر وګڼلو، له درباريانو ئې د دې جادوګر د مقابلې په اړه مشوره وغوښته، د هغوی ځواب دا وو چي د جادوګر مقابله بايد په جادوګرانو سره وكړو!! كه فرعون دا خبره نه وی كړې او يوازي دومره ئې ويلي وی چي دا موسی تاسو ته ستونزي راولاړوي، څه ورسره وكړو، نو د درباريانو ځواب به يقيناً داسي وو چي يا ئې ووژنه او يا ئې زنداني كړه، خو الله تعالی غوښتل چي د فرعون په لاس داسي صحنه جوړه شي چي د موسی عليه السلام د دعوت حقانيت ټول ولس ته او د يوې ستري غونډې په ترڅ كي څرګند شي.

بايد دې ته متوجه وو چي دا سحره د مصريانو مذهبي مشران ول، د موسی عليه السلام په ضد د دوی راوړاندي كول ښيي چي فرعونيان تل د مذهب مقابله په مذهب سره كوي، د تاريخ په اوږدو كي تل همداسي شوي او تل به همداسي كېږي چي فرعونيان به د ديني خوځښتونو مقابله د دين په جامه كي كوي، فرعونيان به ځان د دين او مذهب حامي ښيي او خدای پال مجاهدين به د دين او مذهب باغيان ګڼي، د دوی په ضد به تر ټولو وړاندي د هغو مذهبي مشرانو جبهه پرانيزي چي د طاغوتي نظامونو په خدمت كي وي. وروستي آيتونه دا مطلب په لازيات وضاحت سره زموږ په وړاندي ږدي.

فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾

كوډګران د معلومي ورځي ميقات ته راغونډ كړی شول او خلكو ته وويل شول: آيا تاسو هم غونډېدونكي ياست؛ چي د دغو سحره وو متابعت وكړو كه غالب شول؟

(٣٨-٤٠)- دا دئ ګورئ چي جادوګران د اربكيو په وسيله د مقابلې او مسابقې لپاره راغونډ كړی شول او خلكو ته وويل شو: آيا تاسو هم راغونډېدونكي يئ، چي د موسی په ځای د خپلو دغو جادوګرانو متابعت وكړو، په خاصه توګه هغه وخت چي دوی برلاسي شي!! سحره چي د حاكم نظام په خدمت كي دي او د اربكيو په ذريعه را غونډېږي او د مسابقی ميدان

ته سوق کېږي، دوی د عام ولس د راغونډولو وسیله ګرځوي، خلکو ته وویل شول: که دا سحره غالب شول د دوی متابعت به کوو. خو تاسو به په راتلونکو آیتونو کې وګورئ چې وايي: کله چې همدا سحره ماتې خوري، د موسی علیه السلام د دعوت پر حقانیت پوهېږي، ایمان راوړي، نو فرعون ئې په مرګ او لاس پښو قطع کولو ګواښي !!

تاسو د روسانو د اشغال په دوران کې ولیدل چې د مجاهدینو د مقابلې لپاره ریاست شئون اسلامي او پلاروطنه ملي جبهه جوړه شوه، و مولیدل چې د اسلامی شئونو ریاست ئې په وزارت بدل کړ، امریکایانو په همدې موخه لویه جرګه، منتخب پارلمان او ستره محمکه رامنځته کړل، د ولایاتو په کچه او د ټول هېواد په کچه ئې د علماءو شوراګانې جوړې کړې، ډالرې معاشونه ئې ورته وټاکل، دین پلورونکې علماء ئې د دغو شوراګانو رئیسان کړل، د مجاهدینو په ضد او د اشغالګرانو په حمایت او تأیید کې ئې له دوی فتواګانې تر لاسه کړې، قاضیان ئې د روزنې لپاره ایټالیا ته ولېږل، دیني مدرسې ئې جوړې کړې، همغسې لکه چې فرعون د نهضت په خلاف لومړی د ساحرانو جبهه پرانیستله، غوښتل ئې د دوی په ذریعه د موسی علیه السلام مقابله وکړي او مصریانو ته ئې ویل: که دا ساحران بریالي شول ټول به په ګډه د هغوی متابعت کوو!!

---

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُواْ لِفِرۡعَوۡنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾

نو کله چې جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: که موږ برلاسي شوو نو آیا موږ ته به حتماً څه انعام او اجوره راکول کېږي؟! وئې ویل: هو! او په هغه صورت کې خو به تاسو (دربار ته) د مقربینو په ډله کې وئ!!

---

(٤١-٤٢)- دا مبارك آیتونه موږ ته لارښوونه کوي چې هغه مذهبي مشران چې د طاغوتي نظامونو په خدمت کې بوخت وي او د خپلې دندې اجوره له دغو نظامونو تر لاسه کوي، د همدې نظامونو د حکامو په امر د مشاجرو میدان ته لېږل کېږي، د طاغوت په امر د حقپالو مقابله کوي هغوی د فرعون د سحره په څېر دي، اجیر او مزدور مبلغین دي، مذهب ئې د طاغوت خدمت، هدف ئې اجوره تر لاسه کول، او تر ټولو لوړ مقصد ئې د طاغوت دربار ته تقرب وي!! قرآن فرمايي: کله چې جادوګران راغلل؛ فرعون ته ئې وویل: موږ ته به څه اجر او بدله حتماً وي که بریالي شوو؟ هغه ورته وویل: هو! تاسی به له مقربینو وئ، زما له نژدې درباریانو به وئ د درباریانو په فهرست کې به نیول کېږئ.

---

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلۡقَوۡاْ حِبَالَهُمۡ وَعِصِيَّهُمۡ وَقَالُواْ بِعِزَّةِ

فِرۡعَوۡنَ إِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾ فَأَلۡقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ
﴿٤٥﴾ فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسَىٰ
وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾

موسى ورته وويل: څه چې (د جادو ښودلو لپاره) غورځوئ وئې غورځوئ!! نو خپل پړي او عصاګاني ئې وغورځول او وئې ويل: د فرعون په عزت قسم چې موږ هرو مرو غالبېدونکي يو!! نو موسى خپله عصا وغورځوله چې ناڅاپه ئې هغه څه تېرول چې دوی په درواغو جوړول، نو جادوګران په سجده پرېوتل او وئې ويل: پر رب العالمين مو ايمان راوړ، د موسى او هارون پر رب.

(٤٣- ٤٨)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- موسى عليه السلام له يوې جامع او بليغې وينا وروسته کوډګرانو ته وويل: څه چې د جادو ښودلو لپاره غورځوئ وئې غورځوئ!! نو هغوی خپل پړي او عصاګاني وغورځول او وئې ويل: د فرعون په عزت قسم چې موږ هرو مرو غالبېدونکي يو!! عجيبه ده؛ د فرعون ويسا پر دوی ده او د دوی ويسا پر فرعون، فرعون په دې موخه دوی استخدام کړي چې په دې سره به موسى عليه السلام ته ماتې ورکړي، خو دوی د فرعون ځواکمني او غلبې ته په پام سره د خپلې بريا طمع لري!!! د باطل پلويان تل همداسې وي، تکيه او اعتماد ئې پر کمزورې ملجأ او متکأ وي.
- موسى عليه السلام خپله عصا وغورځوله چې ناڅاپه ئې هغه څه تېرول چې دوی په درواغو جوړول، يعني هغه څه چې کوډګرانو ښودل حقيقت ئې نه درلود، دوی په خپلو کوډو سره د پړو او عصاګانو په ماهيت کې څه بدلون نه وو راوستی، هسې يوه غولوونکې ننداره او تماشا ئې جوړه کړې وه، خلکو داسې ګمان کاوو چې پړي او عصاګانې په مارانو اوښتي او خوځي، حال دا چې نه ئې خوځېدا حقيقي خوځېدا وه او نه ئې د بڼې ښکارندويه رښتينې تبديلي، په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې جادو يوه دوکه ده او جادوګر يو ټګمار، نه ئې چا ته ګټه رسېږي او نه چا ته تاوان رسولی شي، که د مصر ټولو ماهرو کوډګرانو په ګډه سره د موسى عليه السلام مقابله ونه کړی شوه، هغه ته ئې د مقابلې پر مهال او له دې وړاندې او وروسته څه تاوان ونه شو رسولی، په ګډه ونه توانېدل چې د يوه څه په ماهيت کې حقيقي تبديلي راولي، نو يوازې يوازې به څنګه دا کار وکړی شي؟!! عجيبه ده چې ځوک د دې ښرګند او واضح آيت له ليدو سره سره ګمان کوي چې يوه يهودي کوډګر پر رسول الله صلى الله عليه و سلم داسې جادو کړی وو چې هغه ئې څه موده بيمار کړی وو، دا ادعاء د داسې يوه روايت په استناد کوي چې هم د سند له پلوه ډېر کمزوری او مطلق غريب دئ او هم د متن او محتوی له پلوه.

• د موسی علیه السلام عصا ټول هغه پړي او عصاګانې ښوی تېر کړل چې کوډګرو د خلکو د غولولو لپاره داسې ابښي وو چې د خوځنده مارانو په څېر برېښېدل.
• جادوګران په سجده پرېوتل، تسلیم شول، خپله ماتې ئې ومنله، پوه شول چې موسی علیه السلام یو رښتینی پیغمبر دئ نه د دوی په څېر یو ټګمار کوډګر، وئې ویل: پر رب العالمین مو ایمان راوړ، د موسی او هارون پر رب.

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَ فَلَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٩﴾

(فرعون) وویل: آیا تر دې د مخه چې زه اجازه درکړم تاسو ایمان راوړ؟!! په دې کې شك نشته چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی، نو ژر به پوه شئ، حتماً به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې بدل بدل پرې کړم او تاسو ټول به په دار وځړوم.

(٤٩)- فرعون چې په خپل دام کې نښتی وو، کید او مکر ئې معکوسه نتیجه ورکړه، هم خلکو ته د موسی علیه السلام حقانیت ثابت شو او هم د ده خادمو کوډګرانو ته، نو کوډګرانو ته ئې مخ واړاوو او ورته وئې ویل: موسی ستاسو په څېر دئ، ستاسو استاد دئ، تاسو ته هم ده د جادو ښودنه کړې، په ګډه مو دا لوبه او توطئه جوړه کړې وه، که داسې نه وی نو ولې مو زما له اجازې مخکې خپله ماتې ومنله، د خلکو په وړاندې موسی ته تسلیم شوئ او ایمان مو راوړ؟ اوس به پوه شئ چې له تاسو سره څه کوم، لاسونه او پښې به مو بدل بدل سره قطع کوم او هرومرو به تاسو ټول په دار وځړوم!!

په دې سره قرآن موږ ته وایي: هغه مذهبي مشران چې د فرعون د غلامۍ کړۍ په غاړه اچوي او د هغه په امر د مجاهدینو مقابله کوي پایله ئې دا ده چې د فرعون له لوري به په مرګ ګواښل کېږي!! دوی ته به ویل کېږي چې تاسو له مجاهدینو سره پټې اړیکې درلودې.

قَالُواْ لَا ضَيۡرَۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٥١﴾

(دوی ورته) وویل: باك نشته، موږ د خپل رب په لوري ورګرځېدونکي یو، طمع مو دا ده چې زموږ رب به زموږ خطاګانې له دې کبله راته وبخښي چې لومړني ایمان راوړونکي شوو.

(٥٠-٥١)- د ساحرانو له ډلې چې چا ایمان راوړ هغوی د فرعون د ګواښونو پروا ونه کړه، او د قرآن د وینا له مخې ئې د ګواښونو په وړاندې ځواب دا وو: پروا ئې نشته، یقیناً چې موږ دخپل رب لوري ته ګرځېدونکي یو، زموږ طمع دا ده چې زموږ رب زموږ خطاګاني راوبخښي، په دې چې موږ لومړني مؤمنان شوو. یعني هغوی اوس نه یوازې له مرګ نه وېرېږي بلکې وایي مرګ موږ له خپل معبود خدای سره وصلوي، تر ایمان راوړلو د مخه ئې له فرعون اجر او معاوضه غوښتله خو اوس د دوی مادي طمع په معنوي تلوسې بدله شوې. هغوی اوس له خپل رب پرته له بل هیچا طمع نلرې او څه نه غواړي. له موسی علیه السلام هم څه نه غواړي، د هغوی مادي حرص او طمع، د چوکۍ او اقتدار تلوسه، اوس په معنوی تلوسې بدله شوې، اوس یوازې له خپل رب طمع لری، خو د هدایت او مغفرت طمع، د فرعون له خوا د لاس پښو په قطع کولو ګواښل کېږي، په مرګ او په دار ځړولو، خو هغوی وایې: موږ د دې پروا نلرو، باك ئې نشته، موږ د خپل رب لوري ته تلونکي یو، اوس زموږ هیله دا ده چې الله تعالی زموږ ګناهونه راته وبخښي!! ګورئ چې ایمان څومره ژوره تبدیلي په دوی کې راوسته، اوس ئې له مرګ وېره ختمه شوې، مرګ له خپل معبود رب سره د یو ځای کیدو وسیله ګڼي.

دا په یوه قوم کې د ایمان اثرات دي، ګورئ چې له ایمان راوړو وروسته نه یوازې له مرګ د دوی وېره ختمه شوې، بلکې د پرون ورځې مادي طمع ئې په معنوي تلوسې بدله شوې، اوس په دنیا کې له هیچا هیڅ طمع نه لري، یوازې له یوه الله طمع لري. دا د ایمان نتیجه ده، له ایمانه مخکې د هغوی حالت وګورئ او له ایمانه وروسته، توپیر ئې دومره لکه زمکه او آسمان.

قرآن د دغې قصې په ترڅ کې موږ ته وایي چې په آخرت د ایمان اغېز داسې دئ، له مرګ د انسان وېره ختموي، له ماسوی الله د انسان طمع ختموي، نه یوازې دا چې وېره به ئې پای مومي؛ بلکې د الله په لار کې مرګ به ئې تر ټولو ستره تمنی او هیله وي، مادي طمع به ئې په معنوي تلوسې بدلېږي.

دا دئ ګورئ هغه قوم چې په خوف او وېرې کې ئې ژوند کاوو، د فرعون لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، ایمان د دوی په شخصیت کې دومره ژور بدلون او انقلاب راوست. زموږ په وړاندې د دې قصې د راوړلو هدف دا دئ چې موږ ته د ایمان اغېز راوښيي او په دې مو پوه کړي چې د حقیقي ایمان اغېز داسې ژور او پراخ وي، کله چې حقیقي ایمان زړونو ته لار پیدا کړي حتماً به دې ته ورته نتائج ورکوي، همدا راز موږ ته ښیي چې دا د ایمان غوښتنه ده، چېرې چې ایمان وي هلته به دغسې له مرګ نه وېرېدل، زړه ورتیا، جرئت او شهامت وي، حریص، طماع، بخیل، جبون او ډارن خلك په دې لیار د تلو اهلیت نه لري، بلکې هغسې خلك ایمان راوړلی او ساتلی شي چې د طمعې، حرص او بخل پر ځای قناعت لری او قربانۍ ته چمتو وي، دا قوم اوس ګورئ چې له موسی علیه السلام هم طمع نلری، هغه ته هم نه وایي چې ستا په خاطر زموږ لاس پښې قطع کېږي، ستا په خاطر په دار ځړول

کېږو، له داسي سختو ستونزو او مشکلاتو سره دي مخامخ کړي يو، دا هم نه وايي، بلکه ورته وايي: زموږ طمع دا ده چي زموږ رب زموږ خطاګاني راوبخښي، په دې چي موږ لومړني مؤمنان شوو.

ايمان انسان ته د (حرص) په ځای (قناعت) ورکوي، ايمان انسان ته جرئت او شهامت ورکوی، له مرګ ويره ئې په جرئت بدلوی، او حتی د شهادت په تمنی ئې بدلوي، عظيم الشأن قرآن د صحابه وو په اړه فرمايي چي هغوی ټولو له الله تعالی د شهادت تمنی کوله. فرمايي:

وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ ٱلْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿١٤٣﴾ آل عمران

او يقيناً چي تاسو له دې وړاندي چي له مرګ سره مخامخ شئ د هغه تمنی مو کوله، نو دا دئ ومو ليدو په داسي حال کې چي ورته کتل مو.

دلته له مرګ نه وېرېدل او د الله په لار کې د شهادت تلوسه، د ايمان نښه ګڼل شوې او د پيغمبر عليه السلام ټولو صحابه وو ته په خطاب کې ويل شوي چي تاسو ټولو د شهادت تمنی کوله.

د قرآن په دې موجزو او مختصرو الفاظو کې هومره پراخ او ژور مطالب او لارښووني پرتې دي چي له شرحي او تفصيل ئې يو کتاب جوړېږي، ځيني مهمي برخي ئې دا دي:

- فرعونان په دلائلو نه قانع کېږي، د حق د لاري مبارزين دي له ظالمو او فرعون صفته واکمنانو دا طمع نه کوي چي د دوی دلائل به ومني او له مخالفته به لاس واخلي.
- لکه څنګه چي فرعون د موسی عليه السلام مقابلې ته د مصر جادوګران راوړاندي کړل، همدا راز به تل او د تاريخ په هر پړاو کې، د فرعون ملګري، د هر ديني تحريك په ضد، ټګمار مذهبي مشران راوړاندي کوي او د دين مقابله به په دين او د مذهب مقابله به په مذهب سره کوي، د حقپالو دعوتګرانو په ضد به د دين پلورونکو ټګمارو مذهبي مشرانو ډله لومړي خط ته لېږي.
- که غواړئ چي يو واقعي دعوتګر وپېژنئ او له دروغجن، ټګمار، دين خرڅوونکي او مذهب پلورونکي مذهبي مشر ئې تفکيك کړئ نو دا به د يوه ځلانده ملاك او معيار په توګه په پام کې لرئ چي له فرعونانو سره ئې چلن څنګه دئ، د هغه مقابله کوي که د هغه مزدور دئ، د ده په ضد خوځېږي که د ده په امر او اشاره، خدای ته د تقرب په لټه کې دئ که فرعون ته!! قرآن دلته د موسی عليه السلام په مقابل کې ټګمار او د فرعون مزدور مذهبي مشران د جادوګرانو په څېره کې انځوروي چي دا ئې ځانګړتياوي ګڼي: د حقپالونکو په ضد د فرعون په امر راغونډېږي، له فرعون د مزد او اجورې طمع لري، تر ټولو ستر هدف ئې دا دئ چي فرعون ته ئې تقرب او نژدې والی په برخه شي او د درباريانو په ډله کې ونيول شي. دا د هغوی خصوصيات دي، که فتوی ورکوی نو د فرعون په اشاره ئې ورکوی، که مقابلې ته راوځي نو د فرعون په امر راوځي، د هغه په اشاره راغونډېږي، د بدلې هيله هم له هغه

لري او تر ټولو ستر هدف ئې دا دئ چې دربار ته مقرب او نژدې شي.

• د فرعوني نظامونو واكمنان به تل د ديني خوځښتونو په ضد په هغه دين او مذهب تركيز كوي چې د دوی د واكمنۍ تر سيوري لاندې په ولس كې خور شوی، د قومي مذهب بنه ئې غوره كړې، د ټولني حاكم وضعيت د الهي مقدراتو مطابق او د الله تعالی د خوښې حالت ګڼي، ولس ته په دې حالت د قناعت توصيه كوي، له مخالفت ئې منع كوي، ولس ته ئې پيغام دا وي چې په روان وضعيت راضي اوسه، دا واكمنان د خدای سيوری ګڼه، له دې حالت سره مخالفت له الهي مقدراتو سره مخالفت بوله!! ګورئ چې فرعون ولس ته څه وايي: ولې د موسی په ځای د خپلو مخكينيو مذهبي مشرانو متابعت ونه كړو؟!! مخصوصاً كه له موسی (عليه السلام) سره په مقابله كې فاتح او غالب شي؟ ولې خپل دين پرېږدو؟ ولې د موسی (عليه السلام) قيادت او مشري ومنو؟ چې د بل چا قيادت او مشري منو ولې د خپلو مذهبي مشرانو (جادوګرانو) قيادت او مشري ته تسليم نه شو؟

• خو دغه لومړي خط ته لېږل شوي مذهبي مشران، هغه چې فرعون خلكو ته ويل: د موسی په ځای ولې د دوی متابعت ونه كړو!! كله چې د موسی عليه السلام د دعوت پر حقانيت پوهېږي او ايمان راوړي، د دوی په اړه د فرعون دريځ او پرېكړه دا ده: موسی ستاسو په څېر دئ، ستاسو استاد دئ، تاسو ته هم ده د جادو ښودنه كړې، په ګډه مو دا لوبه او توطئه جوړه كړې وه، كه داسې نه وی نو ولې مو زما له اجازې مخكې خپله ماتې ومنله، د خلكو په وړاندې موسی ته تسليم شوئ او ايمان مو راوړ؟ اوس به پوه شئ چې له تاسو سره څه كوم، لاسونه او پښې به مو بدل بدل سره قطع كوم. دا په داسې حال كې چې تر دې وړاندې ئې ولس ته ويلي وو: ولې د موسی په ځای د خپلو سحره او جادوګرانو متابعت ونه كړو، خوكله چې جادوګران د موسی عليه السلام د دعوت په حقانيت پوهېږي او ايمان راوړي، فرعون ئې په مرګ تهديدوي او ورته وايي: اوس به وپوهېږئ چې ستاسو عاقبت به څه وي. د لاس او پښې په قطع كولو او په دار ځړولو تهديد كېږي خو وګورئ چې د دې تهديد او تخويف په مقابل كې د دوی ځواب څه دئ؟ حال دا چې له ايمان راوړو څو شېبې مخكې د فرعون په اشاره د موسی عليه السلام مقابله كوي، طمع ئې دا ده چې فرعون اجر وركړي او په دې خوښ او ډاډه دي چې فرعون ورته ويلي: حتماً به تاسو ته بدله دركوم او په هغه صورت كې به دربار ته مقرب وئ، ګورئ چې طمع ئې له فرعونه، د فرعون په امر راغونډ شوي، د موسی عليه السلام مقابله كوي، د اجر طمع ئې له فرعون، په دې قانع كېږي چې كه كامياب او غالب شي نو د فرعون د دربار مقرب به وي، د درباريانو په فهرست كې به نيول كېږي، خو كله چې ايمان راوړي، په دې تهديد كېږي چې لاس او پښې به ئې قطع كېږي او په دار به ځړول كېږي، خو ډاډه او مطمئن دي او وېره نه لري.

• كوم ځواب چې جادوګران ئې په دې وخت كې فرعون ته وركوي، ډېر عجيب، د پام وړ او ارزښتناك دئ، وايي: هيڅ پروا مو نشته، مرګ ته چمتو يو، دا مرګ خو له دې پرته بل څه نه دئ چې موږ د خپل پالونكي رب په لوري بيايي، هسې هم مرو او د خپل رب په لوري

هرومرو ورګرځو!! په دې سره قرآن موږ ته له يوې خوا دا لارښوونه کوي چې پر خدای باندي ايمان انسان ته داسي جرأت او شهامت ورپه برخه کوي، دا جادوګران ګورئ چې څو شېبې مخکې د فرعون په امر راغونډ شوي وو، د ده لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، د فرعون پر سر ئې لوړه کوله او د ده د عزت او جلال په طفيل ئې خپله بريا يقيني او حتمي ګڼله، له فرعون ئې د اجورې طمع وه او تر ټولو ستر هدف ئې دا وو چې د فرعون د درباريانو په ډله کې ونيول شي، خو اوس او پر الله تعالی باندي له ايمان وروسته په دوی کې دومره ژوره تبديلي راغلې چې د فرعون د ګواښونو پروا نه کوي، له مرګ نه وېرېږي، مرګ د الله تعالی په لوري د تلو وسيله ګڼي او پرونۍ مادي طمع ئې اوس په معنوي تلوسې بدله شوې او موخه ئې دا ده چې الله تعالی ترې راضي شي او ګناهونه ئې ورته وبخښي!! له بلې خوا موږ ته وايي چې د ايمان خاوند بايد داسي وي، که تاسو په رښتيا په الله تعالی ايمان لرئ نو د فرعونانو له ګواښونو به نه وېرېږئ.

• د فرعون په ځواب هم بايد غور وکړو چې موسی علیه السلام ته ئې ورکړ او وئې ويل: که له ما پرته دې بل اله او معبود ونيولو، خامخا به دې له زندانيانو وګرځوم. (يعني په دې ملك کې به له ما پرته بل چا ته په دې سترګه نه ګورې چې احکام صادروي او د پرېکړو حق لري، دلته خو يوازې زما احکام چلېږي او که تا د بلې مرجع دعوی وکړه نو ځای دې زندان دئ، له نورو زندانيانو سره به يو ځای په زندان کې پروت وې!!

• د قرآن د وينا له مخې نن د نړۍ نژدې ټول نظامونه فرعوني نظامونه دي، شتمنۍ د څو محدودو شتمنو په لاس کې، پراخې او اضافي ادارې له ډېرو مأمورينو سره، ستر ستر فوځونه او پوليس او د هغوی ملا ماتوونکې مصارف... دا ټول د عام ولس په اوږو بار وي او مصارف ئې له عام ولس تر لاسه کېږي، چارواکې ئې تر فرعون هم زيات بې رحمه، ظالم او مغرور، چې نه له الله تعالی وېرېږي او نه په ولس ترحم لري!!

• قرآن عظيم الشأن فرمايي: چې فرعون نه يوازې خپل مخالفين په زندان کې اچول بلکې هغوی ئې رجم کول، د دوی پر لاسونو او پښو کې ئې مېخونه ټك وهل، عادي او پردي مخالفين خو پرېږده حتی د خپلې هغې مېرمنې په لاس او پښو کې ئې هم مېخونه ټك وهل چې ايمان ئې راوړی وو!!

---

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرۡسَلَ فِرۡعَوۡنُ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرۡذِمَةٞ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمۡ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَخۡرَجۡنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿٥٧﴾

او موسی ته مو وحي وکړه چې زما بندګان په شپه کې روان کړه، (دوی وړاندي او ته ئې تر شا)، يقيناً چې ستاسو تعاقب به کېږي، نو فرعون ښارونو ته اربکي ولېږل، (او

وئې ويل): دا يو لږكى ټولگى دئ او دا دوى دي چي زموږ غصه ئې راپارولې او يقيناً چي موږ يو محتاط ټولى يو.

(٥٢-٥٦)- په دې مباركو آيتونو كې څو اساسي خبري تر سترگو كېږي:

• هغه وخت راورسېد چي د الله تعالى له لوري موسى عليه السلام ته د هجرت لارښوونه وشوه، هجرت يو ضرورت دئ، د اسلامي نهضت د تگلاري يو ضروري او لابدي پړاو دئ، د نهضت قيادت او افراد بايد دې ته ذهناً او عملاً چمتو وي، داسي حالت راتلى شي چي له هجرت پرته بله چاره نه وي، موسى عليه السلام تر بعثت وړاندي هجرت ته اړ شو او د همدې هجرت په ترڅ كې هغه ته ضروري روزنه وركړى شوه، او د يوه انقلاب د مشرتابه لپاره تيار، عيار او چمتو كړى شو، بني اسرائيلو په مصر كې د آزاد او عزتمن ژوند امكان او مجال نه شو تر لاسه كولى، له هجرت پرته ئې بله چاره نه وه، د موسى عليه السلام اوږدې مبارزې، حكيمانه دعوت، د گڼ شمېر معجزو ښودني فرعونيان دې ته چمتو نه كړل چي د بني اسرائيلو له ځورولو او په غلامۍ كې ئې له ساتلو لاس واخلي، حتى دې ته هم چمتو نه ول چي پرېږدي بني اسرائيل له مصر ووځي، د وتلو پر مهال د دوى مخه ونه نيسي، او د نيولو او راستنولو هڅه ئې ونه كړي.

• موسى عليه السلام ته د هجرت حكم شوى خو په دې توگه چي قوم مخكې او دى تر شا، پيغمبر عليه السلام هم لومړى خپل ټول اصحاب له مكي رخصت كړل او تر ټولو وروسته ده هجرت وكړ. موسى عليه السلام ته هم همداسي وينا شوې وه.

• دا هجرت د شپې له لوري پيل شوى او په ډله ييزه توگه وو.

• دوى ته ويل شوي وو چي دښمن به ورپسي وځي، د دوى د نيولو، راستنولو او وژلو هڅه به كوي. ورته وويل شو چي وتل ئې بايد د شپې په تياره كې پيل شي، دا ځكه چي فرعون به له خپل لښكر سره د دوى د نيولو هڅه كوي، د شپې وتل به له موسى عليه السلام او د هغه له پلويانو سره دا مرسته وكړي چي د فرعون تر خبرېدو او په دوى پسي تر روانېدو وړاندي به هغوى ډېر مزل وهلى وي.

• فرعون ته اطلاع ورسېده، د لښكر راغونډولو لپاره ئې ښارونو ته اربكې ولېږل، د خپلو پلويانو د هڅولو لپاره ئې هغوى ته وويل: دا يو وړوكى ټولگى دئ، څو كسان دي چي تښتېدلي، زموږ غصه ئې راپارولې، كه څه هم د لوى لښكر لېږلو ضرورت نشته خو د احتياط لپاره دا كار كوو، موږ تل په خپلو چارو كې محتاط يو. له دې وينا چي دا يوه كوچنۍ ډله ده، د گوتو په شمېر، د فرعون مقصد يا په درواغو د دوى د شمېر كم ښودل او د خپلو جنگاليو روحيه لوړول وو؛ همغسي چي تل د اقتدار خاوندان د خپلو مخالفينو په اړه وايي، همغسي لكه چي كمونيستانو او روسانو به د مجاهدينو په اړه ويل چي دا د گوتو په شمېر اشرار دي، د افغان ولس په سلوكې ۹۸ له موږ سره دي؛ او همغسي چي نن امريكايان د مجاهدينو په اړه همدا خبره كوي، خپلو لښكرو ته د فرعون دا وينا؛ يوازى د فرعون خبره

نده بلکې هر فرعون د حقپالو په خلاف تل همدا خبره کړې چې دوی په ټولنه کې وجاهت او نفوذ نه لري، محدود شمېر کسان دي، (ان هؤلاءلشرذمة قليلون: په رښتيا چې دا يوه وړوکې ډلگۍ ده!!) او يا په دې سره قرآن د بايبل هغه وينا ردوي چې وايي: له مصر د وتلو پر مهال د بني اسرائيلو شمېر دومره وو چې يوازي د جنگياليو شمېر ئې شپږ لکه وو، يعني لږ تر لږه دوه مليونه.

د(وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ) د آيت دوه ژباړې کېدی شي: ۱- دوی زموږ غصه کوونکي دي، زموږ غصه ئې راپارولې ده، اوس به خپله غصه پرې سړوو، ۲- دوی موږ ته په غصه دي، که د وتلو اجازه ورکړو د غچ اخيستو هڅه به کوي. که څه هم له الفاظو چې کوم مطلب په آسانۍ او ژر اخيستل کېږي دوهمه ژباړه ئې افاده کوي او ورپسې آيت هم د دې تأييد کوي، يعني د احتياط غوښتنه دا ده چې دوی له مصر وتلو ته پرې نږدو که نه موږ ته به ستونزې راولاړې کړي، خو دا تعبير به په هغه صورت کې صحيح وو چې د (لنا لغائظون) پر ځای (علينا لغائظون) راغلي وی.

- موسی عليه السلام او ملگري ئې له بحر سره مخامخ کېږي، د تېرېدو لار نه مومي، له شا د فرعون لښکري رانژدې کېږي، دوی ځان په محاصره کېويني، موسی عليه السلام ته د سخت اضطراب، پرېشانۍ او ناهيلۍ په حال کې وايي: موږ محاصره شوو، د دښمن لاس ته ورغلو، د خلاصون او نجات لاره نشته، له محاصرې د وتلو امکان نه مومو.

په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې ښايي پر تاسو هم داسي حالت راشي، د محاصرې حالت او هری خوا ته د نجات د امکاناتو فقدان او د ټول قوم او د سفر د ملگرو اضطراب او پرېشاني، خو لکه چې الله تعالی دغه پرېشان او ناهيلي قوم ته چې ځان ئې په سختي او نه ماتېدونکې محاصره کې ليدو، له نجات او ژغورني مأيوس وو، په پای کې نجات ورکړ؛ همداسي به تاسو ژغوري، په دې شرط چې د موسی عليه السلام په څېر صبر وکړئ، بې همته نشئ او خدای ځان ته کافي وگڼئ، بايد د موسی عليه السلام په څېر خپلو نهيلو همسفرو ملگرو ته ووايئ: نه؛ هيڅکله داسي نه ده، له ما سره زما رب دئ، حتماً به ما ته لار ښيي.

يعني موسی عليه السلام په همدې سخت حالت کې ډاډه او مطمئن دئ چې الله تعالی به ئې ژغوري، په خپلې بريا باور لري، د همدغي سختي محاصرې او د خپلو ملگرو د نهيلۍ په حالت کې د خپلې بريا په اړه شك نه لري، که څه هم مخي ته بحر، شا ته د دښمن مجهز لښکر، د سفر ملگري مضطرب او پرېشانه، هومره چې وايي: نور نو موږ ونيول شوو، محاصره يو، له دې محاصرې د وتلو امکان نشته!! د تنگسې او اضطراب په دغسی سخت حالت کې مطمئن وو او خپلو يارانو ته ئې اطمئنان ورکاوو او ويل ئې: داسی نده لکه چې تاسو گمان کوئ، له ما سره زما رب دئ، هغه به د نجات لار راښيي، هغه به د نجات لاره زموږ پرمخ پرانيزي.

عظيم الشأن قرآن فرمايي چې د همدی اطمئنان له امله موږ ورته وويل چې اوس نو

دا بحر پخپلې عصا ووهه، بحر شق شو، او د موسی علیه السلام او د ده د ملګرو د تېرېدو لپاره د بحر په زړه کې وچه لاره پرانیستل شوه، دا هر څه د موسی علیه السلام د هماغه اطمئنان نتائج وو، هماغه ډاډ او سکون او د خپل رب په وعدو پوخ باور او د راتلونکې په اړه ډاډ او اطمئنان، د موسی علیه السلام او د ده یارانو د ژغورنې او خلاصون باعث شو. په دې کې د هر مؤمن او مجاهد لپاره ستر درس دئ، او لارښوونه ورته کوي چې که له داسې حالت سره مخامخ شوئ چې موسی علیه السلام او د سفر ملګرې ئې ورسره مخامخ شول، که په دې حالت کې د صف قائد او د مبارزې ملګرې ئې صبر وکړي، د خپلې فتحې او بریا په اړه هیله من وي، پر خپل رب ئې توکل وي، له هغه مرسته وغواړي او هغه ځان ته کافي وګڼي، الله تعالی به ئې هرومرو مرسته کوي او د نجات لارې به ئې پر مخ پرانیزي، ډېر ځلې داسې شوي چې یو هیله من، صابر او متوکل شخصیت د یوه ستر قوم او لښکر د خلاصون باعث شوی، او ډېر ځلې یو نهیلی او ویریدونکی قائد د یوه لوی لښکر د ماتې باعث شوی، په جنګونو کې ډېر ځلې لیدل شوي چې د یوه لوی بریدکوونکی، برلاسي او غالب لښکر په یوه ګوټ کې یوه ډارن او جبون کس نورو ته غږ کړی چې دښمن له هرې خوا محاصره کړي یو او تعداد ئې زیات دئ، د دې جبون فوځي غږ په ټول لښکرکې دومره وېره او خوف راپیدا کړی چې هغه د فتحې او بریا په حال کې لښکر ماتې خوړلې، وېره پرې مسلطه شوې، له وارخطایۍ او پرېشانۍ ئې سنګرونه پرېښې، داسې وېرې اخیستي چې زمکې ځای نه ورکولو او په هیڅ لوري کې ئې د امان او ټېکې ځای نه موندو، همدا راز بله ډله به ګورې چې د ماتې په حال کې ده، خو د صفوفو له منځه به یو زړه ور او توریالی پر نورو غږ کړي چې ډاډه اوسئ، مقاومت وکړئ، تاسو بریالي یئ، دښمن په تېښته دئ... د دې هیله من او ډاډمن انسان دا همتناك غږ به د همدی کمزورې او نهیلي او د ماتې په حال کې لښکر د فرد فرد په زړه کې د برې هیله راژوندۍ کړي، مړاوې روحیه به ئې راژوندۍ کړي، په هغوی کې به د ثبات او استقامت عزم او د قربانۍ جذبه راپیدا کړي او همدا همتناك غږ به د دې باعث شی چې ماتې په فتحې او بریا بدله شي.

د قرآن له وینا معلومېږي چې د بني اسرائیلو ژغورنه د موسی علیه السلام د هغه اطمئنان نتیجه وه چې د الله تعالی د تأیید او حمایت په اړه ئې ښودلې. یعني هغه ته دا وحې چې بحر په خپلې عصا ووهه، او بیا په همدې سره د بحر چاودېدا د هغه وینا نتیجه وه چې موسی علیه السلام د خپل مأیوس او وېرېدلو ملګرو په وړاندې وکړه.

قرآن د دې پېښې په یادولو سره هر باایمان داعي او مؤمن مجاهد ته لارښوونه کوي چې په داسې سختو شېبو کې باید مأیوس نشي او د خپل رب د مرستې او تأیید په اړه ئې باور او اعتماد کمزوری نشي.

هغه څه چې فرعون د موسی علیه السلام او د هغه د ملګرو او پلویانو په اړه ویلي او د خپلو پلویانو د هڅولو لپاره ئې دوی د یوه وړوکې ټولګي او د ګوتو په شمېر محدودو کسانو په نامه یاد کړي، دا هغه څه دي چې د زمانې هر فرعون به ئې د خپلو مخالفینو په

ضد وايي، په سياسي او فکري مبارزاتو کې دغه اصطلاح ډېره کارول کېږي، هر يو د خپل حريف او رقيب په اړه وايي: تجريد شو، ولس وراټو، په خلکو کې نفوذ نه لري!! که قرآن ته رجوع وکړو نو وبه گورو چي دښمنانو تل د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه همدا خبره کړې!! دوی ډېر ځلي د خپلو پلويانو په لافو، باټو او دروغجنو اطلاعاتو دوکه شي، د خپلو حاميانو شمېر ورته زيات او د مخالفينو تعداد ورته لږ معلوم شي، همدا غلط اطلاعات ئې داسي غلطو پرېکړو ته وهڅوي چي د دوی د اقتدار د نسکورېدا باعث شي.

فَأَخْرَجْنَـٰهُم مِّن جَنَّـٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَـٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾

نو له باغونو او چينو مو وايستل او له خزانو او غوره هستوگنځيو، همداسي؛ او بني اسرائيلو ته مو په ميراث ورکړل.

(٥٧-٥٩)- دا دئ گورئ چي فرعونيان خپل کفر، ظلم، غرور، غلطو انگېرنو او ناسمو محاسبو له بدو پايلو سره مخامخ کړل، د اقتدار ماڼۍ ئې نسکوره شوه، هر څه ئې نورو ته په مېراث پاته شول، له خپلو باغونو، چينو، خزانو او غوره هستوگنځيو محروم شول، همدا شيان بني اسرائيلو ته په ميراث ورکړی شول. دلته دا خبره غور او دقت غواړي چي آيا دا شيان په مصر کي بني اسرائيلو ته ورکړی شول که د فرعون تر ولکې لاندي کومي بلي سيمي کي او که په شام او فلسطين کي؟ ځيني مفسرين په دې عقيده دي چي د فرعون له مرگ وروسته مصر د بني اسرائيلو په لاس کي پرېوتی، دوی د قرآن په ځينو آيتونو د خپلي رأيي په تأييد کي استناد کوي، ځيني نور تاريخي رواياتو ته په پام سره وايي چي بني اسرائيل مصر ته بېرته نه دي گرځېدلي بلکي خپل سفر ته ئې د فلسطين په لوري دوام ورکړی او زياته موده د سينا په بيديا کي لالهانده پاته شوي، که څه هم تاريخي روايات، مخصوصاً په بايبل متکي روايات قطعاً د اعتبار وړ نه دي، خو په قرآن کي داسي صريح اشاره نه مومو چي مصر ته د بني اسرائيلو د بېرته ستنېدو خبره ترې ثابته شي، داسي معلومېږي چي د فرعون سلطه د سمندر ختيځي غاړي ته هم غزېدلې وه، دلته ځيني شېرازه سيمي بني اسرائيلو ته په لاس ورغلې، د دې تفصيل د القصص په سوره کي کتلی شئ.

قرآن په بل ځای کي فرمايي:

كَمْ تَرَكُواْ مِن جَنَّـٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُواْ فِيهَا فَـٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَـٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ الدخان

څومره باغونه، چينې، فصلونه او غوره استوگنځي او هغه نعمتونه ئې پرېښودل چي په کي

خوشحال ول، همداسې مو بل قوم ته په ميراث ورکړل، بيا نه زمکې او آسمان پر هغوی وژړل او نه په انتظار کې پرېښودی شوي ول.

دا دئ ګورئ چې الله تعالی دې قوم ته مزيد وخت ورنه کړ، ټغر ئې ټول شو، هر څه په ميراث ترې پاته شول، په زمکه او آسمان کې هيڅوك پيدا نه شو چې د دوی په حال تأسف وکړي او اوښکې پرې توی کړي، ځکه هغوی له الله تعالی سره د خپل تعلق په شلولو سره د آسمانونو او زمکې له هر څه سره خپلې اړيکې شلولې وې، د الله تعالی له تأييد د محرومېدا له کبله د هر څه له تأييد محروم ول، د دی ظالم قوم هر څه مظلوم قوم ته په ميراث پاته شول. باغونه، فصلونه، چينې، بنګلې او ټول هغه نعمتونه چې الله تعالی ورکړي وو، ټول په ميراث ترې پاته شول، د اقتدار په دوران کې ډېرو خلکو د دوی ستاينه او مداحې کوله، د هغوی په وړاندې ئې غوړه مالې کوله، د هغوی خدمت ته ئې ملاتړلې وه، د وفادارۍ دعوی ئې کوله، ويل ئې د دوی په خاطر هرې قربانۍ ته چمتو دې، په ښو او بدو کې ئې هغوی تأييدول، خو کله چې الله تعالی غرق کړل، نو بيا په زمکه او آسمان کې داسې څوك نه وو چې د هغوی لپاره ئې اوښکې توی کړې وی، الله تعالی تر خاصې نېټې او تر هغه ظالمانو ته مهلت ورکوي چې خپل حجت پرې اتمام ته ورسوي، بيايې کلك نيسي، د عذاب دا نېټه ثابته او نه بدلېدونکې ده، نه ئې د ظالمانو زور او تزوير بدلولی شي او نه د دوی د پلويانو ډېروالی او شمېر، کله چې دا عذاب نازل شي هيڅ څه او هيڅوك ئې مرسته نشي کولی.

---

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ
﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّآ ۖ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ
ٱلْبَحْرَ ۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٦٤﴾
وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٦٦﴾

نو د لمرخاته پر مهال ورپسې شول او کله چې دواړو ډلو يو بل سره وليدل د موسی ملګرو وويل: شك نشته چې موږ وموندل شوو (دا دئ موږ ته راورسېدل)، وئې ويل: داسې نه ده؛ يقيناً چې زما رب راسره دئ، هغه به حتماً (د نجات) لار راښيي، نو موسی ته مو وحې وکړه چې دا سيند په عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر (پر ځای ولاړه) وه، هغه ځای ته مو هغه نور هم رانژدې کړل او موسی او ټول هغه کسان مو وژغورل چې له ده سره ول، بيا مو هغه نور غرق کړل.

---

(٦٠-٦٦)- د دې مبارکو آيتونو اساسې مطالب دا دي:

- فرعون د شپې له لوري خپل لښکر راغونډ کړ، د لمرخاته پر مهال د موسی عليه السلام

په ملګرو پسې وخوځېدل، موسی علیه السلام او ملګري ئې داسې سیمې ته رسېدلي ول چې مخې ته ئې سمندر راغی، متوجه شول چې تر شا د فرعون لښکر ورنژدې شوی، کله چې دواړو ډلو یو بل ولیدل، نو د موسی علیه السلام ملګرو وویل: شك نشته چې موږ محاصره شوو، دا دئ د فرعون لښکر موږ ته راورسېد، ټول پرېشان او ناهیلي دي او ګمان کوي چې د نجات ټولې لارې ئې پر مخ تړل شوې دي، خو موسی علیه السلام په همدې سخت حالت کې نه یوازې په خپله ډاډه او مطمئن دئ بلکې خپلو ملګرو ته هم اطمئنان ورکوي او وايي: داسې نه ده چې تاسو ئې انګېرئ، یقیناً چې زما رب راسره دئ، هغه به حتماً د نجات لار راښيي، په هغه سخت حالت کې، چې له هرې خوا لار پرې بنده، د دښمن مجهز فوځ ئې تر شا، مخې ته بحر حائل او ملګري ئې هم وېرې اخیستي، خو موسی علیه السلام په همدې حالت کې ډاډه او مطمئن دئ او د الله تعالی مرستې ته سترګې په لار او د همدغه ډاډ او اطمئنان له کبله الله تعالی ورته وفرمایل: اوس نو دا بحر په خپلې عصا ووهه، یعني دا الهي مرسته د هغه ډاډ او اطمئنان نتیجه وه چې موسی علیه السلام وښوده او خپلو ملګرو ته ئې وویل: ګمان مه کوئ چې موږ ونیول شوو او د دښمن په لاس کې پرېوتو!! الله تعالی راسره دئ؛ هغه زموږ د ژغورنې ذمه وار دئ!!

- موسی علیه السلام سمندر په خپلې عصا وواهو، چې په همدې سره وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر پر ځای ولاړه پاته شوه، دوی ته وچه لار پرانیستل شوه او روغ رمټ ترې تېر شول. دې ته مو باید پام وي چې د قرآن له دې وینا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د دوی مخې ته کوم سیند او رواني اوبه نه بلکې ولاړې اوبه او بحر حائل شوی وو، یوازې په بحر کې د چاود راپیدا کېدو په صورت کې دا حالت رامنځته کېدی شي چې دواړو خواوو ته اوبه لوړې لوړې پاته شي، په سیند کې داسې حالت نشي رامنځته کېدی، ځکه د سیند د یوې خوا اوبه ورو ورو لوړېږي او د بلې خوا ئې ژر ژر کمېږي او لوړې نه پاته کېږي.
- د دوی له تېرېدو وروسته د فرعون لښکرې دې ځای ته رارسي، د موسی علیه السلام د ملګرو روغ رمټ تېرېدا په خپلو سترګو ګوري، نو غواړي وړاندې ولاړ شي او ځان د موسی علیه السلام قافلې ته ورسوي، د لارې په منځ کې او هغه مهال چې ټول لښکر ئې د اوبو منځ ته ننوتی، له دواوو خواوو ولاړې اوبه پرې راپرېوتې او ټول ئې غرق کړي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾

یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

(٦٧-٦٨)- دا مبارك آیتونه د موسی علیه السلام او د فرعون د مخنکۍ قصې د تتمې او

نتيجې په توګه راغلي، او وايي چې دا قصه د دريو خبرو ثبوت زموږ مخې ته ږدي: ١- په دې کې ستره نښه ده، ٢- ډېرى ئې ايمان راوړونکي نه ول ٣- او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ. د الشعراء سوره د دغو دريو مطالبو پر محور څرخي، په دې قصې کې دا درې فقرې اته ځلي تکرار شوې، د دې سورې محوري او اساسي مضامين په دغو دريو فقرو کې راخلاصه شوي.

ښايي هيڅ هوښيار او د حساس ضمير خاوند به له ما سره په دې خبرې کې اختلاف ونه کړي چې د قرآن دا بليغه او عبرتناکه وينا دومره مؤثره او اغېزناکه ده چې د انسان زړه ورته په رپېدا راشي، د سر وېښتان ئې ځېږ شي، دا آيتونه ئې له ځان سره هري هغې صحنې ته بيايي چې په دې سورې کې انځور شوې، داسي احساس ورسره راپيدا شي چې دا هر څه په خپلو سترګو ګوري، يوه ډله د سمندرپه څپو سره وژغورل شي او بله په همدې څپو کې غرقه شي، يوه ته سمندر په خپلې سينې لار ورکوي او بل ته خپل کومې پرانيزي، له يوه سره بې وزلي او وېري اخيستي ملګري دي او له بل سره مغرور او مجهز فوځ، يو د آزادۍ لپاره خوځېدلى او بل د غلامۍ په زنځېرونو کې د يوه مظلوم ولس د ساتلو تکل کوي، يو پر الله تعالى توکل کوي، د هغه په امر خوځېدلى او خپله لار په خپلې عصا پرانيزي او بل د خدايۍ دعوى کوي، يو د بنګلو، باغونو او خزانو خاوند دئ او بل تش لاسى ولس، له هر څه محروم، د وطن پرېښودو ته اړ، ... خو ګورئ چې وروستۍ فتح او بريا د چا په برخه کېږي او له ماتې سره څوك مخامخ کېږي؟!! پرېکړې له عرشه صادرېږي نه د زمکې پر سر له قصرونو، داسي نه ده چې د زور او ځواك خاوندان به تل برلاسي وي او په هري نښتي کې به بريا د دوى په برخه!! نه ګورئ چې فرعون له کوم برخليك سره مخامخ شو؟!! آيا له خپل لښکر سره يو ځاى غرق نه شو؟ او شتمني ئې بني اسرائيلو ته په مېراث پاته نه شوه؟!!

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ إِبۡرَٰهِيمَ ٦٩ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا تَعۡبُدُونَ ٧٠ قَالُواْ نَعۡبُدُ
أَصۡنَامٗا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ٧١ قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ٧٢ أَوۡ
يَنفَعُونَكُمۡ أَوۡ يَضُرُّونَ ٧٣ قَالُواْ بَلۡ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ٧٤

او د ابراهيم قصه ورواوروه، کله چې هغه خپل پلار او خپل قوم ته وويل: دا څه دي چې تاسو ئې لمانځئ؟ وئې ويل: څه بُتان لمانځو چې ورته اعتکاف کوونکي کېږو، وئې ويل: آيا کله چې دعاء کوئ ستاسو (دعاء) اوري؟ يا ګټه او يا تاوان دررسولى شي؟ وئې ويل: نه؛ بلکې خپل پلرونه مو داسي موندلي چې همداسي ئې کول!

(٦٩-٧٤)- دلته د ابراهيم عليه السلام قصه د دې سورې د اساسي مطالبو لپاره د يوې بلې تاريخي بېلګې په توګه وړاندې کېږي، خو تر دې وړاندې چې د قصې متن ته ننوځو څو

خبري بايد په پام کې ولرو: ابراهيم عليه السلام تر موسی عليه السلام ډېر وړاندې تېر شوی، له تاريخي پلوه بايد لومړی د ده قصه او بيا د موسی عليه السلام قصه راغلې وی، خو قرآن نه د قصو کتاب دئ او نه د تاريخ، لارښود کتاب دئ، انسان ته د فلاح او سعادت لارې ورښيي، د ښه ژوند او نېکمرغه آخرت په لوري ئې لارښوونه کوي، له تيارو ئې د رڼا په لوري بيايي، تاريخي قصې د خپلې مدعا لپاره د عملي بېلگو په توگه وړاندې کوي، د موسی عليه السلام په قصې کې د فرعون او فرعوني نظام په اړه له يوه مؤمن انسان او مسلمان د دين غوښتنه، د پيغمبرانو عليهم السلام د تگلارې او د الهي لارښوونو غوښتنې زموږ په وړاندې انځور شوې او د ابراهيم عليه السلام په قصې کې د يوه مشرك او د دروغجنو مړو معبودانو په لمانځنې بوخت قوم په وړاندې د يوه پيغمبر د مبارزې څرنگوالی راته بيان شوی، يو له ژوندي دروغجن معبود سره په مبارزه بوخت وو او بل د همداسې معبودانو د مجسمو او بُتانو په لمانځلو لگيا ولس سره، د يوه مخاطب له ژوندي طاغوت طمع او وېره لري او د بل مخاطب له مړ بُت او بې روح مجسمې!! د قرآن لارښوونه دا ده چې د الله د لارې مجاهد داعي به په خپلې مبارزې کې تر ټولو وړاندې او تر هر څه زيات د فرعون او فرعوني نظام پر مخالفت او د بې وزلو انسانانو د آزادۍ پر قضيې ترکيز کوي، همغه کار چې د موسی عليه السلام په مبارزې کې تر نورو برخو زيات جوت او څرگند برېښي، په دوهم قدم کې به پر هغه څه ترکيز کوي چې د ابراهيم عليه السلام په قصې کې زموږ پر وړاندې ځلېږي، د طاغوت مقابله به ئې تر بُت وړاندې وي، نه دا چې د ژوندي بُت مقابلې ته شا کړي او د مړه بُت مقابلې ته ملا وتړي، ځينې داسې وي چې د قصرونو او په قصرونو کې د ناستو طاغوتانو په ضد له څه ويلو ډډه کوي خو د قبرونو په ضد هر څه ويلو کې ډېر جسارت لري!! دوی پر ابراهيم عليه السلام ايمان لري خو پر موسی عليه السلام نه!! نه اشتباه مې وکړه دوی پر هيڅ پيغمبر ايمان نه لري، ځکه ابراهيم عليه السلام هم د نمرود مقابله کړې او هم د هغه د بُتانو. په پورتنيو آيتونو کې د ابراهيم عليه السلام د وينا هغه برخې زموږ په وړاندې اېښودل شوې چې خپل پلار او قوم ته ئې کړې: خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چې تاسو ئې لمانځئ؟ يعني ولې دا بتان لمانځئ؟ د لمانځلو دليل او موخه مو څه دي؟ وئې ويل: څه بُتان چې ورته اعتکاف کوونکي کېږو!! د ابراهيم عليه السلام د پوښتنې او د مخاطبينو د ځواب په مطلب ښه پوهېدا لږ دقت او غور غواړي، که څه هم دلته د مفسرينو بېل بېل اقوال او تعبيرونه زموږ مخې ته راځي خو له الفاظو داسې معلومېږي چې ابراهيم عليه السلام د بتانو د لمانځنې د موخې او مقصد په اړه پوښتلي او هغوی په ځواب کې ويلي چې دا بتان زموږ د لمانځنې او عبادت يوه وسيله ده، د هغوی خوا ته راغونډېږو او عبادت کوو، دا ځواب همغسې دئ لکه قريشو چې به ويل: بتان زموږ او د الله تر منځ د قرب وسيله دي، يوازې د دې لپاره ئې لمانځو چې الله تعالی ته مو ورنژدې کړي (مَا نَعْبُدُهُمْ إِلا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى)، ابراهيم عليه السلام هغوی ته وايي: آيا کله چې دعاء کوئ ستاسو دعاء اوري؟ يا گټه او يا تاوان دررسولی شي؟ يعني د عقل غوښتنه خو

دا ده چې موږ هغه ذات ولمانځو چې د ګټې او تاوان واك ورسره دئ، ګټه رارسولی شي او ضرر رانه دفع کولی شي، ولې د داسې څه عبادت کوئ چې نه مو دعاء اوري او نه د ګټې او تاوان واك او اختيار لري؟!! هغوی وويل: نه؛ خبره دا نه ده چې هغوی دعاء اوري يا نه او ګټه او تاوان رسولی شي يا نه، خبره دا ده چې د دوی لمانځنه له پلار نيکه راته په ميراث پاته ده، يعني هغوی دين او مذهب ته د پلرني سپېڅلي او قدرمن ميراث په سترګه کتل، او همدا د ټولو جهل ځپلو او په خرافاتو کې د غرق ولسونو ګډ خصلت دئ، دوی هر هغه قومي رسم او رواج او مذهبي دود او دستور ته په درنه سترګه ګوري، سپېڅلی او مقدس ئې ګڼي چې له مخکينيو ئې په ميراث تر لاسه کړی، که څه هم دا د انساني عقل خلاف وي او سالم بشري فطرت ترې کرکه لري!! تاسو که په همدې يوويشتمې پېړۍ کې د نړۍ د ګڼ شمېر ولسونو مذهبي دود دستور او مقدساتو ته ځير شئ، ډېر به داسې ومومئ چې معبودانو او مذهبي مراسمو ته به ئې نه يوازې حيران شئ بلکې د خندا ور به ئې وګڼئ او که پوښتنه ترې وکړئ چې ولې دا لمانځئ او ولې دا کار د يوه مذهبي سلوك په توګه تر سره کوئ همدا ځواب به واورئ چې د ابراهيم عليه السلام پلار او قوم ورکړی وو!! داسې خلك به ومومئ چې موږك، بيزو، غوا او ځينو ونو او بوټو ته د سپېڅلو ذواتو په سترګه ګوري، داسې بتان لمانځي چې بدن ئې انسان ته ورته وي او پزه ئې د فيل خرطوم ته، د همدې معبودانو په وړاندې تندی پر زمکه ږدي او مرسته ترې غواړي، که اعتراض پرې وکړې غصه کېږي او که په خوږه ژبه پوښتنه ترې وکړې چې دا کار ولې کوې، همغه ځواب به واورې چې ابراهيم عليه السلام ته ورکړی شوی وو!!

قَالَ أَفَرَءَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّىٓ إِلَّا رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾ ٱلَّذِى خَلَقَنِى فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَٱلَّذِى هُوَ يُطْعِمُنِى وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَٱلَّذِى يُمِيتُنِى ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾ وَٱلَّذِىٓ أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِى خَطِيٓـَٔتِى يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾

وئې ويل: آيا پوهېږئ؛ هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ، تاسو او ستاسو وړانديني پلرونه، هغوی زما دښمنان دي، مګر رب العالمين، هغه چې زه ئې پيدا کړم او ما هدايتوي، او هغه چې خوراك او څښاك راکوي، او کله چې ناروغ شم شفا راکوي، او هغه چې ما مړوي (وژني) بيا مې راژوندی کوي، او هغه چې دا طمع (ترې) لرم چې د قيامت په ورځ زما خطاءګانې راوبخښي.

(٧٥-٨٢)- ابراهيم عليه السلام ورته وايي: هغه څه چې تاسو او ستاسو وړانديني پلرونه ئې لمانځئ، هغوی زما دښمنان دي، زه د دښمن په سترګه ورته ګورم، يوازې رب العالمين د معبود

په توګه منم، هغه رب العالمین چې زه ئې پیدا کړم او ما هدایتوي، د هدایت او لار موندو اسباب او ذرائع ئې ما ته رابخښلي، سترګې، غوږونه، عقل او ټول هغه غړي او استعدادونه چې د هغوی په مرسته حق او باطل، مفید او مضر او ښه او بد پېژندی شم، هغه ذات چې زما رازق دئ، د رزق او روزي ټول اسباب هغه پیدا کړي، هغه ما ته خوراك او څښاك راکوي، کله چې ناروغ شم شفا راکوي، هغه د بیماریو د مقابلې توان او استعداد زما په بدن کې ایښی، دا د هغه فضل او رعایت دئ چې له ناروغۍ وروسته شفا راکوي، هغه چې زما د مرګ او ژوند پرېکړه د ده له لوري کېږي، او هغه چې دا طمع ترې لرم چې د قیامت په ورځ به زما خطاءګاني راوبخښي.

که لږ ځیر شو د ابراهیم علیه السلام په دې خطاب کې نه یوازي د الله تعالی په اړه یوه جامع او لارښود وینا زموږ مخي ته څلېږي او رب العالمین راپېژني، بلکې د الله تعالی په اړه ډېر مضبوط دلائل زموږ مخي ته ږدي، دې ته مو باید پام وي چې ابراهیم علیه السلام له یوه مشرك او بُت لمانځونکي ولس سره مخامخ دئ، دې ته اړ وو چې هم د دوی دروغجن معبودان تردید کړي او هم د الله تعالی په اړه هغوی ته مضبوط او قانع کوونکي دلائل وړاندي کړي، کوم دلائل چې هغه وړاندي کړي دا دي:

- زما وجود په دې ګواهي ورکوي چې زه حتماً یو پیدا کوونکی لرم، داسي باور چې له خالق پرته دي کوم مخلوق رامنځته شي؛ نه ئې د انسان عقل مني، نه علم او نه ئې فطرت.
- د هدایت او لارموندو کوم استعدادونه چې زما په وجود کې تعبیه شوي، دا ټول حتماً د یوه داسي خالق پېرزویني او عطایا دي چې هادي او لارښود دئ، زما سترګې شهادت ورکوي چې زما خالق بصیر (سترګور) دئ، زما غوږونه ګواهي ورکوي چې زما خالق سمیع (اورېدونکی) دئ، زما علم د دې څرګنده نښه ده چې زما پیدا کوونکی علیم دئ، د مخلوق او مصنوع هر صفت موږ ته د خپل خالق او صانع مواصفات راپه ګوته کوي.
- د دې عالم په پراخي لمني کې د انسان او ټولو ژوو لپاره د رزق او روزي انتظام، د خوراك او څښاك بند وبست، داسي څه ورته پیدا کول چې د هغوی ژوند او بقاء ورپوري تړلې، دا ضروري توکي په مسلسله توګه او په کافي مقدار کې پیدا کول، دا ښیي چې زموږ او د دې عالم رب یو دئ.
- د بیماریو په وړاندي د انسان مقاومت، او په بیمارۍ له اخته کېدو وروسته د هغه شفا او روغتیا ښیي چې موږ یوه داسي علیم او حکیم ذات پیدا کړي یو چې د محتملو راتلونکو پېښو او خطرونو په مقابل کې ئې لا له وړاندي موږ ته هغه ضروري استعدادونه رابخښلي چې مقابله ئې راته ممکنه کړي، د دې موضوع په اهمیت هغه څوك پوهېدی شي چې په انسان کې د بیماریو په وړاندي د دې مقابلې د دغه استعداد له پراخو ابعادو خبر وي، هغه پوهېږي چې هره شېبه څومره میکروبونه پر انسان برید کوي، د تنفس او خوراك او څښاك له لاري د انسان بدن ته ننوځي، پر پوستکي ئې کښېني، الله تعالی د انسان په بدن کې د دغو خطرناکو میکروبونو د مقابلې لپاره داسي دقیق او حساس استعداد ایښی چې نه یوازي هر

خطرناك دښمن (میکروب) پېژندی شي بلکې داسې دوا پیدا کولی او جوړولی شي چې د همدې میکروب چاره کوي او له منځه ئې وړي. هغه کار چې د انسان دغه استعداد ئې د میکروب د پېژندو او د هر یوه په خلاف د ضروري دوا په پیدا کولو کې کوي د نړۍ ستر ستر لابراتوارونه او د دوا جوړولو سترې سترې فابریکې ترې عاجز دي. د شلمې او یوویشتمې پېړۍ په پرمختللي طب کې د سختو سختو بیماریو د علاج تر ټولو ډاډمنه طریقه دا ده چې د هرې بیمارۍ په وړاندې د انسان دغه الهي استعداد مقابلې ته چمتو کړي، واکسین د دې پېړۍ تر ټولو پرمختللې ډاډمنه طریقه ده، او واکسین یعنې دا چې د مرض نیم ژواندی میکروب د انسان وینې ته داخل کړی شي، د وینې سپین کرویات د هغه په لیدو سره د خطر احساس کوي، مقابلې ته ئې راوړاندې کېږي، د پېژندو هڅه ئې کوي، په دې پوه شي چې د دې میکروب ضد دوا کومه ده، همغه دوا په کافي مقدار کې تولید کړي، دومره چې هم د دغه مهاجم دښمن چاره وکړي او هم په راتلونکې کې د دا وړ نورو مهاجمینو، دا هغه کار دئ چې ساینس ئې په خپلو ټولو پرمختللو وسائلو له کولو عاجز دئ. د دې پېړۍ تر ټولو خطرناکه او وحشتناکه بیماري دا ده چې په انسان کې د مقاومت دغه استعداد له منځه ولاړ شي، چې په نتیجه کې ئې انسان د زکام په څېر د یوه معمولي میکروب له مقابلې هم عاجز شي او د یوه وړوکي زخ له علاج هم. د دې پېړۍ خطرناکه ناروغي (ایډز) ده چې په ترڅ کې ئې د انسان د بدن دغه (مقاومت) له منځه ولاړ شي. ابراهیم علیه السلام دغه حقیقت ته د خپلو مخاطبینو توجه اړوي او وایي: زما رب هغه ذات دئ چې کله ناروغ شم شفا راکوي، هغه د بیماریو د مقابلې توان او استعداد زما په بدن کې اېښی، دا د هغه فضل او رعایت دئ چې له ناروغۍ وروسته شفا راکوي.

د انسان ژوند په دې ګواهي ورکوي چې خالق ئې ژوندی دئ، آیا د انسان عقل دا خبره منلی شي چې ژوندی انسان دې ژوندی خالق ونه لري؟ یوازې ژوندی خالق کولی شي ژوندی مخلوق پیدا کړي. په یوه مصنوع کې هغه صانع یو استعداد اچولی شي چې په خپله پرې متصف وي.

د انسان مرګ د دې څرګنده نښه ده چې دی د یوه ذات د ارادې په وړاندې مقهور او محکوم دئ، زړه ئې نه غواړي ومري خو له مرګ ځان نشي ژغورلی!! قرآن د انسان مرګ د دې نښه ګڼي چې هغه د الله تعالی د ارادې په وړاندې مقهور دئ، فرمایي:

فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾ الواقعه

نو که داسې نه وي؛ کله چې "روح" ستوني ته راورسېږي او تاسو هغه وخت په خپلو سترګو ګورئ او موږ تر تاسو ورته نژدې وو خو تاسو "مو" نه وینئ، نو که تاسو محکوم او مقهور نه یاست ولې ئې بیرته نه ګرځوئ که رښتیني یاست.

په دې مبارکو آیتونو کې لاندې مهمې خبرې زموږ مخې ته اېښودل شوې:

• که تاسو د هغه خدای د ارادې په وړاندې مقهور او محکوم نه یاست چې د مرگ او ژوند واکمن دئ، نو کله چې ستاسو روح ستوني ته راورسېږي، مړی د نزعې په حالت کې گورئ، هڅه مو دا وي چې هغه له مرگ وژغورئ، خپل ټول توان طاقت په کار وړئ، نو که کولی شئ دا د وتو په حالت کې روح بېرته وگرځوئ، دا عزیز مو له مرگ وژغورئ که رښتیني یاست!!

• تاسو چې کله د خپل هغه عزیز خواته راغونډ یاست چې روح ئې د وتو په حال کې وي او دا تمنی کوئ چې هغه له مرگ وژغورل شي یا لږ تر لږه څه نور مهلت ورکړی شي، یا ئې دردناك حالت بدل او سا ئې په آسانۍ ووځي، خو یوه تمنی مو هم نشي تر سره کېدی، فقط د ناهیلۍ او بې وسۍ په حال کې د ده سخت حالت ته حیران حیران گورئ، پوه شئ چې پدې وخت کې الله جل شأنه همدلته، د ده خوا ته، تر تاسو هغه ته نژدې او قریب وي.

• که له خدای منکر انسان په خپلې غلطې عقیدې کې رښتینی وی او د هغه رب په وړاندې مقهور او محکوم نه وی چې د مرگ ژوند پرېکړه کوي نو د مرگ چاره به ئې کړې وه او د دغه قاهر ذات پرېکړه به ئې ځنډولې وه.

د ابراهیم علیه السلام وروستۍ وینا د آخرت په اړه ده چې وایي: زما رب هغه ذات دئ چې دا طمع ترې لرم چې د قیامت په ورځ به زما خطاءگانې راوبخښي. په رب العالمین ایمان او پر آخرت باور لازم او ملزوم باورونه دي، ځوك چې پر رب العالمین ایمان لري دغه ایمان ئې دې ته اړ کوي چې د آخرت پر ورځ او الهي مکافات او مجازات ایمان ولري. دا د هغه رب العالمین له شأن او عظمت لرې گڼې چې عدالت تأمین نه کړي، د مظلوم پوښتنه ونه کړي او ظالم ته سزا ورنه کړي.

---

رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ٨٣ وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ فِي
ٱلۡأٓخِرِينَ ٨٤ وَٱجۡعَلۡنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ٨٥ وَٱغۡفِرۡ لِأَبِيٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ
ٱلضَّآلِّينَ ٨٦ وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ٨٧ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ ٨٨ إِلَّا مَنۡ
أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ ٨٩ وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ ٩٠ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِلۡغَاوِينَ
٩١ وَقِيلَ لَهُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ٩٢ مِن دُونِ ٱللَّهِ هَلۡ يَنصُرُونَكُمۡ أَوۡ
يَنتَصِرُونَ ٩٣ فَكُبۡكِبُواْ فِيهَا هُمۡ وَٱلۡغَاوُۥنَ ٩٤ وَجُنُودُ إِبۡلِيسَ أَجۡمَعُونَ ٩٥ قَالُواْ
وَهُمۡ فِيهَا يَخۡتَصِمُونَ ٩٦ تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٩٧ إِذۡ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩٨ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٩٩ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ١٠٠ وَلَا صَدِيقٍ

حَمِيمٖ ﴿١٠١﴾ فَلَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةٗ فَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٢﴾

اې زما ربه! حكمت راپه برخه كړه او له صالحانو سره مي يو ځاى كړه، په وروستنيو كې رښتينې ژبه (رښتينې يادونه) راته وګرځوه، د نعيم جنت له وارثانو مي كړه، او زما پلار ته بخښنه وكړه يقيناً چي هغه له لار وركو وو، او په هغه ورځ مي مه رسوا كوه چي بيا راپاڅول كېږي، هغه ورځ چي نه مال ګټه رسولى شي او نه زامن، مګر هغه چا ته چي له روغ زړه سره راشي. او جنت به متقينو ته نژدې كړى شي، او دوزخ به لار وركو ته ښكاره كړى شي، او ورته وبه ويل شي: هغه چي له الله پرته تاسو لمانځل چېري دي؟ آيا ستاسو مرسته كولى شي يا د ځان مرسته كولى شي؟ نو هم به دوى په كې نسكور كړى شي او هم دا لار وركي، او هم د شيطان ټولي لښكري، په داسي حال كې چي په خپلو كې به شخړه كوي وبه وايي: قسم په خداى چي مونږ په ښكاره ضلالت او بې لاري كې وو چي تاسو مو له رب العالمين سره برابرګڼلي وئ، مونږ بل چا نه يو بې لاري كړي مګر دغو مجرمينو، اوس نه شفاعت كوونكي لرو او نه كوم خواخوږى دوست، نو كه موږ ته بېرته ستنېدا راپه برخه شوه نو له مؤمنانو به وو.

(٨٣-١٠٣)- په دې مباركو آيتونو كې د ابراهيم عليه السلام ډېره جامع او زړه راښكونكې دعا راغلې چي خلاصه ئې دا ده:

اې زما ربه! حكمت او پوهه راپه برخه كړه، له صالحانو سره مي يو ځاى كړه، په دنيا كې هم صالح ملګري را او په آخرت كې مي هم له صالحانو سره حشر كړه، داسي ژوند را چي له مرينې وروسته خلك راته دعاء كوي، په نېك نامه مي يادوي او صادق او رښتينى مي ګڼي، د هغه جنت له وارثانو مي كړه چي له نعمتونو ډك وي، زما پلار ته بخښنه وكړه؛ يقيناً چي هغه له لار وركو وو، د قيامت په هغه ورځ مي مه رسوا كوه چي ټول خلك به له خپلو خپلو قبرونو بيا راپاڅول كېږي، هغه ورځ چي نه مال ګټه رسولى شي او نه زامن، مګر هغه چا ته چي له روغ زړه سره راشي، يوازې هغه چا ته مال او اولاد ګټه رسولى شي چي زړه ئې روغ، افكار او عقائد ئې صحيح، دماغ ئې له شرك، خرافاتو او ګنده هوسونو محفوظ وي، هغه ورځ چي جنت به متقينو ته نژدې كړى شي، د دې پر ځاى چي دوى جنت ته وروستى شي، تر هغه ځايه د تلو زحمت وركړى شي، جنت به دوى ته ورنژدې كړى شي!! دوزخ به لار وركو ته ښكاره كړى شي، او ورته وبه ويل شي: هغه چي تاسو له الله پرته لمانځل چېري دي؟ آيا ستاسو مرسته كولى شي يا د ځان مرسته كولى شي؟ نو هم به دوى په كې نسكور كړى شي او هم دا لار وركي، تېروتي عابدان او جعلي معبودان به د شيطان له ټولو لښكرو سره يو ځاى په دوزخ كې پرمخې وغورځول شي، په داسي حال كې چي په خپلو كې به شخړه كوي او وايي به: قسم په خداى چي مونږ په ښكاره ضلالت او بې لارۍ كې وو چي تاسو مو له رب العالمين سره برابرګڼلي وئ، مونږ بل چا نه يو بې لاري كړي مګر دغو

مجرمينو، اوس نه شفاعت کوونکي لرو او نه کوم خواخوږی دوست، نو که موږ ته بېرته ستنېدا راپه برخه شوه نو له مؤمنانو به وو.

د دې شکلې او جامع دعاء څو برخې د دقت او توجه غوښتنه کوي:

• ابراهيم عليه السلام دا تمنی کوي چې له مړينې وروسته ئې خلك په نېك نامه ياد کړي او دعاء ورته وکړي، داسې ژوند ئې په برخه شي چې خلکو ته ئې خير ورسي، دومره چې له مړينې وروسته خلك ورته دعاء کوي او صادق او رښتينی ئې ګڼي. يوازې يو صالح انسان داسې تمنی کولی شي، د دروغجن او غولوونکي شهرت تمنی بېله خبره ده او داسې نېك نوم ګټل چې تر مړينې وروسته هم دوام وکړي؛ بېله خبره، يو د کاذب شهرت وړی وي او بل په تلپاته توګه د نېك پاته کېدو او خلکو ته د خير رسولو تلوسه لري، دواړه شهرت غواړي، خو له بېلو بېلو موخو سره.

• ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته بخښنه غواړي، هغه لار ورکی ګڼي، له دې وېرېږي چې پلار ئې د قيامت په ورځ د دوزخيانو په ډلې کې ولاړ وي، دا د ځان لپاره سپکاوی ګڼي، او قرآن په دې توګه موږ ته د پلرنې دود دستور په اړه د يوه مؤمن او يوه کافر د دريځ او انګېرنې تر منځ ژور توپير انځوروي، آزر په دې دليل بُت لمانځي چې همدا د عقل او انساني فطرت خلاف لمانځنه له پلار نيکه ورته په ميراث رسېدلې!! خو ابراهيم عليه السلام خپل پلار لار ورکی ګڼي، هغه ته بخښنه غواړي او د قيامت په ورځ د مشرکينو په ډلې کې د هغه پاڅېدا د ځان لپاره لوی سپکاوی بولي!!

• ابراهيم عليه السلام وايي: د قيامت په ورځ نه مال چا ته ګټه رسولی شي او نه زامن، مګر هغه چا ته چې له روغ زړه سره راشي. څوك چې د قيامت په ورځ له روغ زړه سره د الله تعالی په وړاندې ودرېږي، هم به د هغه مال ګټه وررسېږي چې په ميراث ئې پرېښی او په سمو لارو لګېدلی او هم د خپل هغه صالح خلف او اولاد چې ده سم روزلي وو او له ده وروسته په سمو لارو تللي او نېك عملونه ئې کړي.

• جنتيانو ته به جنت نژدې راوړی شي او دوزخيانو ته به دوزخ ښکاره کړی شي، د جنت د راوستو په ښکاره کولو اوس موږ نه شو پوهېدی، قرآن د دې په ځای چې ووايي جنتيان او دوزخيان به د جنت او دوزخ په لورې بوتلی شي وايي جنت به دوی ته رانژدې کړی شي او دوزخ به ورښکاره کړی شي، ښايي (جنت او جحيم) به له بله ځايه د جنتيانو او دوزخيانو د اقامت محل ته راوړلی شي، لکه څنګه چې په يوه مبارك حديث کې ورته اشاره شوې:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا» رواه مسلم

له عبدالله (بن مسعود رضی الله عنه) روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: جهنم به راوړلی شي اويا زره واګې به ئې وي، له هرې واګې سره به اويا زره فرشتې وي چې راکشوي به ئې.

په دې الفاظو سره دوزخيانو ته ويل شوي: هغه څه چې تاسو په دنيا کې د خپلو کړو وړو له کبله ورروان وئ، دا دئ نن هغه په خپله ستاسو خوا ته راځي او ستاسو مخي ته ودرېږي او دروازې ئې ستاسو پر مخ پرانيستل کېږي.

د قيامت په ورځ به مشرکين له هغو سره په شخړه بوخت وي چې په دنيا کې ئې لمانځل، د هغوی په درشل کې د مطيع بنده په توگه ودرېدل، هغوی ئې د لارښود او قائد په توگه منلي ول او په ښه او بد کې ئې د هغو اطاعت کولو، وايي به: قسم په خدای چې مونږ په ځرگند ضلالت او بې لارۍ کې وو چې تاسو مو له رب العالمين سره برابرگرځولي وئ، داسې مو ستاسو اطاعت کولو لکه څوك چې د الله تعالی اطاعت کوي!! دوی به د مجرمينو په نامه يادوي او د الله تعالی په وړاندې به داسې اعتراف کوي: مونږ بل چا نه يو بې لارې کړي مگر دغو مجرمينو، اوس نه شفاعت کوونکي لرو او نه کوم خواخوږی دوست، گمان مو کولو چې دوی به د الله تعالی په وړاندې زموږ شفاعت کوي خو اوس پوه شو چې غلط شوي وو، دغې غلطې انگېرنې دوکه کړو، هيڅ شفاعت کوونکی نه مومو، له دوی سره مو مينه وه، گمان مو کولو چې دوی پر موږ گران دي او موږ پر دوی، خو دا ده زموږ د غلط باور بده پايله چې نن هيڅ خواخوږی او دوست نه لرو!! اوس په حقائقو پوه شو، که بېرته دنيا ته ستانه شو همغه لار به غوره کوو چې مؤمنانو غوره کړې وه.

دا دئ گورئ چې د قيامت په ورځ او هغه مهال چې ټول حقائق به ځرگند شي، مشرکين او په مشرکانه شفاعت باور لرونکي به په خپله خپل باورونه غلط شمېري، ځانونه به لار ورکي بولي، اعتراف به کوي چې دوی خپل قومي او مذهبي لويان او مشران د الوهيت درجې ته اوچت کړي ول او هغه کسان به مجرم شمېري چې دوی ئې بې لارې کړي وو او وبه وايي: اوس نه داسې شفيع لرو چې د خدای په وړاندې زمونږ شفاعت او مرسته کولی شي او نه داسې دوستان او اولياء چې گمان مو کولو دوی پر مونږ او مونږ پر دوی گران يو او د قيامت په ورځ به د الله په وړاندې زمونږ حمايت او شفاعت کوي!!

د قرآنکريم متعدد آيتونه پدې دلالت کوي چې د قيامت په ورځ شفاعت نشته او د هيچا شفاعت بل چا ته گټه نه شي رسولئ، له الهي عذاب او مجازات ئې نه شي ژغورلی، د دې آيتونو تر څنگ داسې مبارك آيتونه هم شته چې د "مشروط شفاعت" شته والی ترې معلومېږي، قرآنکريم فرمايي:

... مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ .... ﴿٢٥٥﴾ البقره

.... هغه به څوك وي چې د ده په وړاندې د چا شفاعت وکړی شي، مگر د ده په اذن او اجازه، په ټولو هغو شيانو پوه دئ چې د دوی مخي او يا شا ته دي او دوی د ده د علم په هيڅ شي احاطه نشي کولی، مگر په هغه څه چې ده غوښتي....

يعنی هغه شفاعت نشته چې تاسو ئې تصور او گمان کوئ، داسې نده چې کومه فرشته

یا کوم مقرب بنده به یو شمېر مجرمین راغونډوي، د خدای حضور ته به ئې ورولي او هلته به ئې شفاعت کوي، نه، داسې نده، بلکه شفاعت کوونکي به هم د الله تعالی له لوري غوره کېږي او شفاعت کېدونکي هم، هغه به مشخصو کسانو ته د خاصو کسانو په اړه د شفاعت اجازه ورکوي، دواړه به د الله تعالی له لوري ټاکل کېږي، داسې گمان ونه کړئ چې د لوی رب په وړاندې به څوك د ده له اجازې پرته د خبرو او شفاعت توان او جرأت ولري او یا څوك به دا جسارت وکړی شي چې د الله تعالی په وړاندې او د ده له اجازې پرته د کوم مجرم شفاعت وکړي او په هر څه عالم خدای د کوم مجرم له حال او وړتیا خبرکړي او د هغه د داسې صفاتو په اړه ورته معلومات ورکړي چې له مجازاتو پرې معاف شي.

الله تعالی فرمایي:

يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ طه

په هغه ورځ به شفاعت څه گټه نه رسوي، مگر د هغه چا چې خدای اجازه ورکړې او د ده په وینا راضي شي، هر هغه څه ورته معلوم دي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي او دوی علماً پرې احاطه نشي کولی.

په دغه ورځ به شفاعت څه گټه نه رسوي، مگر د هغه چا چې خدای اجازه ورکړې او د ده په وینا راضي شي، الله تعالی پر دې راضي شي چې هغه څه ووایي او یوازې هغه څه به ویلی شي چې الله تعالی پرې راضي کېږي، نه د الله تعالی له اجازت او رضایت پرته شفاعت کولی شي او نه د نامستحقو په اړه د شفاعت مجال تر لاسه کولی شي. دا ځکه چې الله تعالی ته هر هغه څه معلوم دي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي، په ظاهر او باطن ئې، په ماضي او مستقبل ئې، په مخکیني عمل ئې او په راتلونکې مناسبې سزا ئې، په هغو کارونو ئې چې وړاندې ئې لېږلي او هغه چې شا ته ئې پرېښې، پر ټولو پوهېږي، نو د داسې علیم ذات په وړاندې به شفاعت څه ارزښت لري؟!!

---

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

---

(١٠٣-١٠٤)- دا درېیم ځل دئ چې دغه دوه آیتونه په تکرار سره راځي، شرح ئې په مخکینیو کې وگورئ.

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي
لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٠٧﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ
إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾

د نوح قوم پیغمبران تکذیب کړل، هغه مهال چې د دوی ورور نوح ورته وویل: آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ زه درته امین استازی یم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو هیڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

(۱۰۵-۱۱۰)- دلته د نوح علیه السلام قصه د یوې بلې تاریخي بېلګې په توګه راغلې، په دې تاریخي بېلګې کې د الله تعالی له ستر او اولوالعزمه پیغمبر نوح علیه السلام سره د هغه د قوم مخالفت څېړل شوی، مخالفت ئې هغه مهال پیل شو چې نوح علیه السلام د دوی د کړنو پایلې بدې او خطرناکې وګڼلې او ورته وئې ویل: آیا له فساد، ظلم، شرك او کفر لاس نه اخلئ او له بدو پایلو ئې نه وېرېږئ؟!! زه د الله تعالی له لورې لېږل شوی امین استازی یم، په بشپړ امانت سره د خپل رب پیغام تاسو ته رسوم، له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. د دې دعوت په بدل کې له تاسو هیڅ اجر نه غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. په دې لنډو لنډو آیتونو کې څو مهم مهم حقائق زموږ په وړاندې ځلېږي:

- له نوح علیه السلام سره د خپل قوم مخالفت هغه مهال پیل شوی چې ده د ټولنې پر حاکم وضعیت نیوکې کړې او د هغه پایلې ئې وخیمې ګڼلې، او دا هغه څه دي چې له ټولو زړه سواندو پیغمبرانو او حقپالو دعاتو سره شوي، د دعوت تر پیل وړاندې خلکو د هغوی درناوی کړی، د پوه او لوړ شخصیت په سترګه ئې ورته کتلي، خو د دعوت له پیل وروسته ئې هغوی تکذیب کړي او دښمنۍ ته ئې ملا تړلې.
- د نوح علیه السلام دعوت په دوو خبرو کې راخلاصه شوی: له الله تعالی وېره او د پیغمبر اطاعت، او دا ښیي چې د دین بنسټ پر دغو دوو خبرو ولاړ دئ، د چا په عملي ژوند کې چې د دغو دوو خبرو نښې او آثار په څرګنده توګه او عملاً ونه لیدل شي د هغه د ایمان او دیانت دعوی خوشې، بې بنسټه او بې اعتباره ده، پر الله تعالی او د هغه پر پیغمبرانو ایمان یوازې په هغه صورت کې اعتبار لري چې له الله تعالی وېره او د پیغمبر اطاعت د انسان پر ټول ژوند وزر غوړولی وي.
- دلته د نوح علیه السلام دوه خبرې داسې راغلې چې په قرآن کې همدا دواړه د یوه پیغمبر د حقانیت معیار ګڼل شوې: امانت او له الله تعالی پرته له بل چا اجر نه غوښتل، په دې سوره کې او د قرآن په ګڼ شمېر نورو آیتونو کې به وګورئ چې دا دواړه د پیغمبرانو علیهم

السلام د شخصيت بارز مواصفات ښودل شوي، هر يوه خپل قوم ته ويلي: زه د الله تعالی له لوري لېږل شوی امين استازی يم، په بشپړ امانت سره د خپل رب پيغام تاسو ته رسوم، د دې دعوت په بدل کې له تاسو هيڅ اجر نه غواړم، زما اجر يوازې پر رب العالمين دئ. دا ښيي چې د صادق او کاذب داعي، زړه سواند او مکار لارښود د پېژندو لپاره بايد دغه دوه مواصفات د معيار په توګه په پام کې ولرو.

قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ ﴿١١١﴾

وئې ويل: آيا ايمان درته راوړو په داسې حال کې چې پرېوتي (ټيټ وزمي) ستا متابعت کوي؟!!

(١١١)- دا مبارك آيت ښيي چې نوح عليه السلام په يوې داسې ټولنې کې مبعوث شوی چې ولس ئې په دوو طبقو وېشل شوی: اشراف او ارذال، يوه ډله ځان تر نورو لوړ، شريف او نجيب ګڼي او بلې ډلې ته د حقارت او سپکاوي په سترګه ګوري، د ولس ځينو بې وزلو او مستضعفينو پر نوح عليه السلام ايمان راوړی خو مستکبرينو د هغه مخالفت ته ملا تړلې او هغه ته ئې ويلي: څنګه له موږ دا طمع لرې چې پر تا ايمان راوړو په داسې حال کې چې د ولس څو بې وزلي او حقير وګړي ستا خوا ته راغونډ شوي، دوی له خپلې خوا لرې کړه، اشرافو ته په خپلې خوا کې د ودرېدو بلنه ورکړه چې ستا ملګرتيا وکړو!! دا هغه څه دي چې ټولو پيغمبرانو ته ويل شوي او د زمانې په هر پړاو کې چې کوم داعي پاڅي او د پيغمبرانو عليهم السلام په لار د تلو اراده وکړي همدا به ورته ويل کېږي، په خوا کې به ئې د ټولنې بې وزلي راغونډېږي، مستکبرين به ئې مخالفت ته ملا تړي، ځيني به ئې وايي: دا لارښود او داعي چې د خپلې بريا او پر ځواکمنو دښمنانو د برلاسي ګمان او طمع لري څنګه به ئې هيله تر سره شي حال دا چې د ټولنې څو بې وزلي ئې په خوا کې راغونډ شوي؟!! ځيني به له دې کبله د هغه خوا ته له راتلو ډډه کوي چې له بې وزلو سره په يوه صف کې او له هغوی سره برابر ودرېدا نشي زغملی او دا د خپل وهمي شأن او لويي خلاف ګڼي!!

د موسی عليه السلام او ابراهيم عليه السلام له قصو وروسته د نوح عليه السلام قصه د دې لپاره راغلې چې موږ ته ووايي: د پيغمبرانو عليهم السلام د تګلارې درېيم مخالف ځواك او د دې دعوت په وړاندې درېيم خنډ هغه مستکبرين دي چې په قومي او توکمي توپيرونو باور لري، ځان او خپل قوم تر نورو لوړ ګڼي، په داسې ټولنې کې به مظلومان، بې وزلي، حقارت ځپلي او ټيټ ګڼل شوي به د مؤمنو دعوتګرانو ملګرتيا کوي او مغرور مستکبرين او لويي غوښتونکي به د دوی مخالفت کوي.

قَالَ وَمَا عِلۡمِي بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنۡ حِسَابُهُمۡ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّيۖ لَوۡ تَشۡعُرُونَ ﴿١١٣﴾

وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿١١٥﴾

وئې ویل: په هغه څه چې دوی کولو زه څه پوهېږم، د دوی محاسبه خو یوازې زما د رب پر ذمه ده، کاش (تاسو) پوهېدئ، او زه د مؤمنانانو شړونکی نه یم، زه فقط یو څرګند نذیر یم.

(۱۱۲-۱۱۵)- نوح علیه السلام د دوی پوښتنه او غوښتنه داسې ځوابوي:

• زه څه پوهېږم چې دوی د خپلو کړنو او عملونو له پلوه څنګه دي او د الله تعالی په وړاندې ئې قدر او منزلت څومره دئ، انسانان خو د پیدایښت او خلقت له پلوه ټول سره برابر دي، د انسان د شرافت او رذالت معیار د ده عمل دئ نه د هغه توکم، اجتماعي موقعیت، مال، دولت او بل څه، شریف هغه دئ چې عمل ئې نېك وي او رذیل هغه دئ چې عمل ئې د رذیلانو وي، له انسان سره د هغه د عملونو په اړه دقیقه او عادلانه محاسبه د الله تعالی پر ذمه ده، موږ نه پوهېږو چې د یوه چا د نېك عمل تر شا نېك عزائم او موخې دي که بد عزائم.

• کاش تاسو پوهېدی چې د انسان د مقام او منزلت معیار عمل دئ نه په جهل ځپلې ټولنې کې د هغه اجتماعي کاذب او غولوونکی حیثیت.

• زه د مؤمنانانو شړونکی نه یم، ستاسو دا مطالبه نه منم چې بې وزلي له ځان بېل کړم او د هغوی ځای مستکبرینو ته تش کړم.

• زما دنده فقط دا ده چې په څرګنده توګه تاسو ته د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پایلو خبرداری درکړم.

قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمَرۡجُومِينَ ﴿١١٦﴾

وئې ویل: اې نوح! که دده ونه کړې حتماً به له سنګسار شوو شې.

(۱۱٦)- نوح علیه السلام ته د مستکبرینو ځواب دا وو: که له خپل دعوت او مبارزې لاس وانه خلې نو ستا برخلیك به هم د نورو رټل شوو او سنګسار شوو په څېر شي، له دې معلومېږي چې تر نوح علیه السلام وړاندې ډېر نور سنګسار شوي وو، ښایي دا به د ده هغه بې وزلي مؤمن پلویان وو چې تر دې وړاندې سنګسار شوي وو، همغسې لکه چې قریشو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د قتل له پرېکړې وړاندې د صحابه وو په ځورولو او وژلو لاس پورې کړی وو.

قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوۡمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَٱفۡتَحۡ بَيۡنِي وَبَيۡنَهُمۡ فَتۡحٗا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ

ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٨﴾

وئې ویل: اې زما ربه! یقیناً چې زه خپل قوم تکذیب کړم، نو زما او د دوی تر منځ کومه پرېکړه وکړه او ما او هغه مؤمنان چې له ما سره دي وژغوره.

(١١٧-١١٨)- دغه مهال او د دښمن له لوري د سنگسار له گواښ وروسته نوح علیه السلام خپل رب ته دعاء وکړه چې زه خپل قوم تکذیب کړم، نو زما او د دوی تر منځ کومه پرېکړه وکړه او ما او هغه مؤمنان چې له ما سره دي وژغوره. باید متوجه وو چې د نوح علیه السلام دعوت نه نیم سوه کاله دوام کړی، په ټولي دې اوږدې مودې کې هغه په صبر او زغم سره، کله په پټه او کله په ښکاره، کله په جگ غږ او کله په ټیټ غږ، کله په انفرادي توگه او کله په اجتماعي توگه بلنه ورکړه، یوه وړوکې ټولگي پرې ایمان راوړ، د دغي اوږدې مبارزي په پای کې او هغه مهال چې په بشپړه توگه ورته جوته شوه چې په دې ولس کې نور د خیر هیڅ نښه نه ده پاته؛ خپل رب ته ئې دغه دعاء وکړه.

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا بَعۡدُ ٱلۡبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾

نو موږ دی او هغه چې له ده سره ول په ډکې کښتۍ کې وژغورل، بیا مو پاته (وگړي) غرق کړل.

(١١٩-١٢٠)- دا مبارك آیت وایي چې الله تعالی نوح علیه السلام او د ده ملگري په ډکې کښتۍ کې وژغورل، یعني د دوی شمېر دومره لږ وو چې د ډکې کښتۍ په تشو تشو ځایونو کې ځای شول، او ټول هغه خلك ئې غرق کړل چې له خپل پیغمبر سره ئې مخالفت کړی وو، په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې الله تعالی به حتماً مؤمنان ژغوري او پر دښمن به دوی ته بریا ورپه برخه کوي که څه هم دوی بې وزلي وي او شمېر ئې لږ او دښمنان ئې ډېر او ځواکمن، له طوفانونو مه وېرېږئ، په همداسې طوفانونو کې به الله تعالی تاسو ته د نجات کښتۍ مهیا کوي او د طوفان په څپو کې به تاسو ژغوري او ستاسو مغرور او ځواکمن دښمنان به غرقوي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾

یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

(١٢١-١٢٢)- دا ځلورم ځل دئ چې دغه دوه آیتونه په تکرار سره راځي، شرح ئې په مخکینیو

کې وګورئ.

كَذَّبَتۡ عَادٌ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمۡ
رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ
أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٧﴾

عادیانو پیغمبران تکذیب کړل، هغه مهال چې د دوی ورور هود ورته وویل: آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ زه درته امین استازی یم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو هیڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ.

(۱۲۳-۱۲۷)- دا همغه مطالب دي چې د نوح علیه السلام په ارتباط هم راغلی او له دې وروسته د نورو پیغمبرانو علیهم السلام په ارتباط هم راځي، شرح ئې په مخکینۍ رکوع کې وګورئ.

أَتَبۡنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعۡبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمۡ تَخۡلُدُونَ ﴿١٢٩﴾
وَإِذَا بَطَشۡتُم بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾

آیا په هرې لوړې په داسې حال کې یو ځلی جوړوئ چې خوشې به لګیا یئ، او داسې ماڼۍ غوره کوئ چې ګواکې تلپاته یئ، او کله چې (چا ته) لاس اچوئ نو د جابرانو په توګه لاس اچوئ.

(۱۲۸-۱۳۰)- په دې مبارکو آیتونو کې د عادیانو هغه ځانګړتیاوې زموږ په وړاندې اېښودل شوې چې له کبله ئې دوی د هود علیه السلام مخالفت وکړ، دلته ئې درې خصلتونه انځور شوي: ۱- د خپلې سیمې شاوخوا هرې لوړې باندې به ئې داسې ځلې جوړول چې هیڅ ګټه به ئې نه وه، هسې د خپل هنر او کمال ښودلو او د خپل شوق پوره کولو لپاره، ۲- داسې دنګې او مضبوطې مضبوطې ماڼۍ به ئې ځان ته جوړولې چې ګواکې دوی تلپاته دي او د تل لپاره به په دغو بنګلو کې اوسي، ۳- پر مظلومانو او بې وزلو ئې تېرى کاوو، د جابرانو او ظالمانو په څېر تېرى. په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د پیغمبرانو علیهم السلام د تګلارې ځلورم مخالف ځواك د ټولنې هغه مرفه طبقه ده چې د ظلم او تېري له لارې ئې مال او دولت تر لاسه کړی، د قصرونو خاوندان شوي، په دنګو دنګو ماڼیو کې اوسي، د خپل بېهوده او خوشې شوق پوره کولو او د خپل عظمت او جاه او جلال د ښنو په توګه پر لوړو ځلې جوړوي!! که تاسو دا نن، په دې یوویشتمې پېړۍ کې د نړۍ حالت ته ځیر شئ نو ګڼ شمېر هېوادونه به د قرآن د دغو مبارکو آیتونو د مصداق په توګه وموئ، اروپايي

هېوادونو له هغه وروسته چي اسلامي خلافت ئې ړنګ کړ، د آسيا او افريقا په نژدې ټولو هېوادونو، په ځانګړې توګه هغه چي د اسلامي خلافت برخي وې، مسلط شول، د دغو هېوادو ټولي شتمنۍ ئې د تېرو څو پېړيو په دوران کي غارت کړې، تر نن پوري له سياسي، اقتصادي او نظامي پلوه پرې حکومت کوي، او د دوی د شتمنيو په غارت بوخت دي، په همدغو غارت شوو ثروتونو ئې ځان ته داسي مرفه ژوند جوړ کړ چي د قرآن د دغو مبارکو آيتونو مصداق دئ، په اروپا او امريکا کي د حکامو، جنرالانو، د بانکونو، شرکتونو او کمپنيو د مالکانو افسانوي ژوند د هغو غارتونو له کبله دئ چي دوی په افريقا او آسيا کي کړي او لړۍ ئې لا روانه ده. کله چي زه د دې مبارکي سورې په تفسير مصروف وم، د بريتانيا د هغه شهزاده د واده مراسم مي په ټلويزيون کي وليدل چي نوی ځوانۍ ته رسېدلی او د وليعهد په توګه ټاکل شوی، واده ته ئې تر دوه زره زيات هغه ميلمانه رابلل شوي وو چي د نړۍ د سترو سترو شخصيتونو په نامه ئې يادول، سياستوال، شتمن، سندرغاړي او لوبغاړي، د واده مراسم داسي وو لکه کوم ستر هېواد چي د خپلواکۍ ورځ لمانځي، کافي وړاندي تياری ورته شروع شوی وو، د لندن په کوڅه کوڅه کي د فوځ، پوليس، شاهي ګارد قطعات ځای پر ځای شوي وو، شهزاده او مېرمن ئې د مخکينيو پېړيو په داسي ګاډۍ کي سپاره شودل چي څو آسونو کشوله، د سړك دواړو خواوو ته ولاړ شاهي ګارډ او ټماشاچيانو لاسونه ورته خوځول، دومره مصرف پرې شوی چي په دغو پيسو د يوه آسيايي او افريقايي هېواد ټول ولس ته تر يوه کال پوري خوراك تهيه کېدی شي!! او دا ټول بېهوده او خوشي کارونه د څه لپاره او ولې؟!! دا د دې لپاره چي دوی دا شتمنۍ وړيا او مفت تر لاسه کړې او له نورو هېوادو ئې غارت کړې، او دا ځکه چي دوی غواړي د داسي صحنو په ښودلو سره له يوې خوا خپل شيطان راضي کړي او له بلي خوا خپله لويي او برلاسي نندارې ته کښېږدي او د نړۍ کمعقله او ناپوه خلك تر خپل هيبت لاندي راولي!! عجيبه ده!! دا په خرافاتو، مزخرفاتو، جهل، ظلم او فساد کي تر ستوني غرق غربيان ځان ته متمدن وايي، د آزادۍ او برابرۍ شعارونه ورکوي!! پوښتنه کوو: دا پيسې له کومه تر لاسه شوې؟! د بريتانيا د ولس ماليه ده؟ آيا ولس دا ماليه د همدې لپاره درکړې؟ آيا دا شهزاده کوم اتل يا د کوم لوی جنګ فاتح دئ؟ آيا عقل او عدل د دې اجازه درکوي چي پر داسي بېهوده صحنو دومره لګښتونه وشي؟!! داسي واده ئې څو کاله وړاندي د يوه بل شهزاده لپاره هم جوړ کړی وو، د هغه مېرمن ډيانا نومېده، لنډه موده وروسته د مېړه او مېرمني مناسبات خړ پړ او په طلاق منتج شول، هغې له يوه مصري هلك سره رفاقت پيل کړ، شاهي کورنۍ ته دا د پيغور خبره وه چي د بريتانيا يوه احتمالي ملکه اوس د يوه داسي هېواد د تبعه ملګرې شوې چي څو کاله وړاندي د دوی مستعمره وه!! نو ځکه ئې د ګاډو د ټکر په يوې پېښي کي هغې ته سزا ورکړه او وئې وژله!!

که تاسو د دغو استعمارګرانو هغو مستعمرو ته سفر وکړئ چي په نولسمي پېړۍ کي ئې مخامخ او په مستقيمه توګه پرې حکومت کولو او بيا په داسي حال کي ترې ووتل چي خپل لاس پوځي ئې پرې مسلط کړل، او له هغي ورځي تر نن پوري په غيرمستقيمه توګه پرې

حکومت کوي، نو د همدغو مبارکو آيتونو څرګند مصداق به په خپلو سترګو وګورئ، داسې دنګې دنګې بنګلې چې په اروپا کې ئې هم بېلګې نه مومو، د لويو ښارونو په هر څلور لارې کې او د هرې لويې لارې ښې او کينې اړخ ته همغسې څلې چې قرآن ئې په دغو الفاظو سره معرفي کوي: أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعْبَثُونَ: آيا په هرې لوړې په داسې حال کې يو څلى جوړوئ چې خوشې به لګيا يئ؟!! او که له خپل ولس سره د دغو حکامو چلن ته ځير شئ نو د همدې آيت مصداق به ئې وموموئ چې وايي: وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ: او کله چې چا ته لاس اچوئ نو د جابرانو په توګه لاس اچوئ.

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾ وَٱتَّقُواْ ٱلَّذِىٓ أَمَدَّكُم بِمَا تَعْلَمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمَدَّكُم بِأَنْعَٰمٍ وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾

نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، او له هغه چا ووېرېږئ چې په داسې څه ئې ستاسو مرسته کړې چې پرې پوهېږئ، په څارويو او زامنو سره ئې ستاسو مرسته وکړه او په باغونو او چينو سره، يقيناً چې زه د لويې ورځې له عذاب درباندې وېرېږم.

(١٣١-١٣٥)- هود عليه السلام هغوى ته وايي: له الله تعالى ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، او له هغه الله ووېرېږئ چې دا نعمتونه ئې ستاسو په برخه کړي، ښه پوهېږئ چې الله تعالى په څومره ډول ډول نعمتونو سره ستاسو مرسته کړې، څاروي ئې درکړي، زامن ئې درکړي، په باغونو او چينو سره ئې ستاسو مرسته کړې. خو د الله تعالى په وړاندې او د دغو پراخو نعمتونو په مقابل کې ستاسو چلن داسې دئ چې وېرېږم له بدې ورځې سره به مخامخ شئ او په ستر الهي عذاب به اخته شئ.

قَالُواْ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ ٱلْوَٰعِظِينَ ﴿١٣٦﴾ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَٰهُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾

وئې ويل: راته يو شانې ده چې که وعظ راته وکړې او که له واعظانو نه شې، يقيناً چې دا د لومړنيو (وړاندينيو خلکو) خوى (دود دستور) دئ، او موږ تعذيب کېدونکې نه يو، نو هغه ئې تکذيب کړ نو موږ هلاك کړل، يقيناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېرى ئې ايمان راوړونکې نه ول او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

(۱۳٦-١٤٠)- هود علیه السلام ته د عادیانو ځواب دا وو: ستا وعظ او عدم وعظ موږ ته یو برابر دئ، پر موږ ئې هیڅ اغېز نه پرېوځي، ستا خوښه چې دوام ورکوې که لاس ترې اخلې، موږ هغه څه کوو چې له پلار نیکه په میراث راته پاته شوي، زموږ مذهب، دین، عقائد، افکار، اخلاق، د ژوند طریقه، دود او دستور د مخکینیو په څېر دي، که دا ناسم او د الله تعالی د مرضي خلاف وی نو پر هغوی به هغه الهي عذاب نازل شوی وو چې ته مو پرې ګواښې، که پر هغوی الهي عذاب نازل نه شو پر موږ به هم نه نازلېږي!! نو په دې توګه ئې هود علیه السلام او د هغه دعوت تکذیب کړ نو الله تعالی هلاك کړل. ځینو درنو مفسرینو ویلي چې دلته په خلق الاولین سره عادیانو د مخکینیو پیغمبرانو علیهم السلام وعظ ته اشاره کړې او مراد ئې دا وو چې مخکینیو پیغمبرانو هم دې ته ورته وعظونه او ګواښونه کړي وو چې هیڅ نتیجه ئې نه وه، دا تعبیر د آیت له سیاق و سباق سره اړخ نه لګوي، نه دا انګېرنه صحیح ده چې عادیان د نورو پیغمبرانو له وعظونو او ګواښونو خبر ول او نه دا چې د مخکینیو پیغمبرانو وعظونو او ګواښونو کومه نتیجه نه درلوده!! د دې تاریخي بېلګې په پای کې یو ځل بیا همغه مطالب راغلي چې تر دې وړاندې څلور ځلې تکرار شول: یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

---

كَذَّبَتۡ ثَمُودُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٤٣﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾

ثمودیانو پیغمبران تکذیب کړل، هغه مهال چې د دوی ورور صالح ورته وویل: آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ زه درته امین استازی یم، نو له اللهووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو هیڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ.

---

(۱٤۱-۱٤٥)- دلته د ثمودیانو له لوري د صالح علیه السلام د تکذیب قصه د بلې تاریخي بېلګې په توګه زموږ مخې ته انځور شوې، دا دئ ګورئ له ده سره هم هغه مهال مخالفت پیل شوی چې ولس ئې د ټولني د حاکم وضعیت له بدو پایلو وېرولی، قوم ته ئې همغه څه ویلي چې نورو پیغمبرانو ویلي، مخالفینو ئې همغه څه ورسره کړي چې د دوی سلف له مخکینیو پیغمبرانو سره کړي،

---

أَتُتۡرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٖ وَنَخۡلٖ طَلۡعُهَا

هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾
وَلَا تُطِيعُوٓاْ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾

آيا په هغه څه کې به خوندي پرېښودی شئ چې دلته دي، په باغونو او چینو کې، په کښتونو او د خرما په داسې ونو کې چې وږي ئې له ډکوالي څوړند دي، او د کبرجنو په توګه په ځینو غرونو کې ځیني کورونه تراشئ، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، او د مسرفینو د امر اطاعت مه کوئ، هغه چې په زمکې کې فسادونه کوي او رغونه او اصلاح نه کوي.

\(١٤٦-١٥٢)- په دې مبارکو آيتونو کې د پیغمبرانو علیهم السلام د تګلارې یو بل مخالف څواك انځور شوی، هغه چې مهمه ځانګړتیا ئې د شېرازه زمکو، باغونو او چینو درلودل دي، دغو شتمنیو په دوی کې کبر او لوبې راپیدا کړې، د غرونو په ډډو کې خوندي او مجللو کورونو جوړولو ته ئې تشویق کړې، مسرفین او مفسدین دي، له دې ډله کوي چې خپل امکانات د اصلاح او رغونې په چارو کې وکاروي. صالح علیه السلام هغوی ته وايي: آيا په دغو نعمتونو، باغونو، چینو، کښتونو او د خرما په داسې ونو کې چې وږي ئې له ډکوالي څوړند دي؛ او په هغو کورونو کې به خوندي او محفوظ پرېښودی شئ چې د کبرجنو په توګه ئې د غرونو په ډډو کې جوړوئ؛ له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، بیا له دغو کبرجنو د عام ولس په لورې مخ اړوي او ورته وايي: د مسرفینو اطاعت مه کوئ، د هغو چې په زمکې کې د رغونې او اصلاح پر ځای فسادونه کوي، د دوی تګلاره مه غوره کوئ.

قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ
مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾

وئې ويل: یقیناً چې ته له هغو یې چې کوډې پرې شوې، ته نه یې مګر زموږ په څېر یو انسان، نو کومه نښه راوړه که له رښتینو یې.

(١٥٣-١٥٤)- د مخالفینو ځواب دا دئ: دا په تا څه وشول، ته خو هوښیار سړی وې، له تا مو ښې ښې هیلې درلودې، ولې بدل شوې، ولې پر خپل قوم او د دوی پر حالت او پلرنې مذهب او دود دستور نیوکې کوې؟ حتماً به جادو دربانديې شوی وي!! ته خو زموږ په څېر یو انسان یې څنګه د دې ادعاء کوې چې الله تعالی د پیغمبر په توګه غوره کړی یې؟ که داسې وي نو کومه څرګنده نښه وړاندې کړه!! قوم د داسې نښې غوښتنه کوي چې انسان ئې له وړاندې کولو عاجز وي او وښیې چې دا د الله تعالی له لورې ده، یوازې په دې صورت کې به دی د پیغمبر په توګه منې!!

قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرۡبٌ وَلَكُمۡ شِرۡبُ يَوۡمٍ مَّعۡلُومٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ
فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوهَا فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ
ٱلۡعَذَابُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾

وئې ويل: دا يوه اوښه ده چې ځانګړې اوبه خور ئې دئ او تاسو ته د يوې معلومې ورځې اوبه خور؛ او تاوان مه وررسوئ که نه نو د يوې سترې ورځې عذاب به مو ونيسي؛ نو هغه ئې ټپي کړه چې په نتيجه کې ئې پښېمان شول؛ نو هغه عذاب ونيول، يقيناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېرى ئې ايمان راوړونکي نه ول او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

(١٥٥-١٥٩)- ثموديانو له صالح عليه السلام د معجزې غوښتنه وکړه، داسې چې له يوې ډبرې اوښه جوړه شي، الله تعالى همداسې وکړل، خو هغوى ته وويل شول چې اوس به د هغه کوهي اوبه د دوى او د دې اوښې تر منځ وېشل کېږي چې ثموديان ئې خوا ته مېشت ول، يوه ورځ د اوښې وار او بله ورځ د ټول قوم او د دوى د څارويو، صالح عليه السلام ورته وويل: پام چې دې اوښې ته تاوان ونه رسوئ، نه په خپله اوښې ته او نه ئې اوبه خور ته، که نه نو په سخت عذاب به اخته شئ، خو لا لنډه موده نه وه تېره شوې چې همدا په خارق العاده توګه پيدا شوې اوښه، دا د يوه پيغمبر په دعاء له ډبرې پيدا شوې اوښه ئې ټپي کړه، پښې ئې ورقطع کړې، او په هغه موعود الهي عذاب اخته شول. په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې کوم ولس له فکري او اخلاقي پلوه ايمان راوړو ته چمتو نه وي، په ګناهونو کې داسې غرق وى چې ترې وتل ورته ګران شوي وي، هغوى ته معجزې ګټه نه رسوي، که دا معجزه هر څومره ستره او حيرتناکه وي، هغوى په دلائلو نه قانع کېږي که څه هم دا دلائل ډېر مضبوط او قانع کوونکي وي، د معجزې به پښې قطع کوي او دلائل به غلط تعبيروي.

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي
لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٦٢﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ
إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦٤﴾

د لوط قوم پيغمبران تکذيب کړل، هغه مهال چې د دوى ورور لوط ورته وويل: آيا

ځان ساتنه نه کوئ؟ زه درته امين استازى يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر يوازې پر رب العالمين دئ.

(١٦٠-١٦٤)- لوط عليه السلام له يوه بدکار او له اخلاقي پلوه سخت پرېوتي او مفسد قوم سره مخامخ وو، په داسې ګنده کړنو لړلي ول چې نه ئې تر دې وړاندې چا په انسانانو کې د هغه بېلګه او مثال ليدلى وو او نه په ځاروېو او ځناورو کې، د خپلو ګنده کړنو له بدو پايلو ئې وو‌ېرول، هغوى د همدې انذار او وېرولو له کبله له هغه سره مخالفت او دښمنۍ ته ملا وتړله. لوط عليه السلام همغه څه ورته ويلي چې هر پيغمبر خپل قوم ته ويلي.

أَتَأۡتُونَ ٱلذُّكۡرَانَ مِنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُخۡرَجِينَ ﴿١٦٧﴾

آيا تاسو له (ټولو) نړۍ والو؛ نارينه وو ته (د جنسي نژدېکت په موخه) درومئ، او خپلې هغه مېرمنې پرېږدئ چې ستاسو رب درته پيدا کړې دي؟ نه، بلکې تاسو سرکش وګړي يئ، وئې ويل: اې لوطه! که دډه ونه کړې حتماً به له اخراج شوو شې.

(١٦٥-١٦٧)- په دې مبارکو آيتونو کې د پيغمبرانو عليهم السلام د تګلارې يو بل مخالف ځواك انځور شوى، هغه چې له نورو ئې توپيري ځانګړتيا اخلاقي فساد دئ، د لوط عليه السلام مخاطب قوم په داسې اخلاقي فساد کې غرق وو چې تر دوى وړاندې هيچا په دې ګنده ډنډ کې د لوېدو تکل نه وو کړى، لوط عليه السلام په حيرانتيا سره هغوى پوښتي: آيا په ټولو عالميانو کې يوازې تاسو د هغه بد او ګنده فعل مرتکب کېږئ چې تر تاسو وړاندې هيچا نه دئ کړى؟!! د نارينه وو په لورې د جنسي نژدېکت په موخه درومئ، او خپلې هغه مېرمنې پرېږدئ چې ستاسو رب درته پيدا کړې دي؟!! دوى يوازې په دغه ګنده فعل مبتلى نه وو بلکې د ژوند په نورو برخو کې هم عاصي او باغي قوم وو، لارې به ئې شکولې، د بدفعلۍ دا کرکجن عمل به ئې په خپلو مجلسونو کې او د نورو په وړاندې کاوو!! خو لوط عليه السلام ته د دې مفسد او عاصي قوم ځواب همغه وو چې نورو عاصي او باغي قومونو خپلو پيغمبرانو ته ورکړى، ورته وئې ويل: اې لوطه! که له دې نيوکو او وعظونو ډډه ونه کړې نو حتماً به له اخراج شوو شې، برخليك به دې د هغو په څېر وي چې تبعيد شوي.

متأسفانه د مسلمانانو په ادبياتو کې دا ګنده فعل د لواط په نامه ياد شوى چې دا ډېره نامناسبه نومَونه ده، په انګريزي کې د سدوم وران شوي ښار ته منسوب عمل نومول شوى، سدوم هغه سيمه وه چې لوط عليه السلام په کې مېشت او د هغه ځاى د بدفعل هستوګنو له مخالفت سره مخامخ شوى وو، غوره دا ده چې په دې نوموني کې تبديلي راولو، زما وړانديز

دا دئ چې دا فعل همغه وران شوي ښار ته منسوب کړو، دا فعل د سدوميانو فعل او فاعل ئې سدومي ونومووو.

دې ته مو هم پام وي چې غربيان؛ په داسې حال کې چې پر بايبل د ايمان دعوى کوي او بايبل دا عمل حرام ګڼي او د سدوم د ښار ورانېدا د همدې ګناه سزا بولي، دې ګناه ته قانوني بڼه ورکړې، تر دې حده چې د نارينه او ښځې تر منځ د نکاح په څېر ئې قانوني عمل ګڼي!!

---

قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾ رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِي ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْـَٔاخَرِينَ ﴿١٧٢﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٣﴾

وئې ويل: يقيناً چې زه ستاسو (د دې) عمل (په وړاندې) له کرکه کوونکو يم. اې زما ربه! ما او زما ټبر له هغه څه وژغورې چې دوى ئې کوي، نو دى او د ده ټول ټبر مو وژغورو، له يوې بوډۍ پرته چې په وروسته پاته شوو کې وه، بيا مو نور ويجاړ (هلاك) کړل او خاص باران مو پرې ووراوو، نو څومره بد دئ د دغو انذار کړى شوو باران!!

---

(١٦٨-١٧٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د لوط عليه السلام مفسد مخاطبين هغه په تبعيد او اخراج ګواښي او دى ئې په ځواب کې وايي: زه ستاسو له دغه کرکجن فعل کرکه لرم، له تاسو سره هيڅ ذاتي دښمني او بغض نه لرم. په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې حقپال داعي بايد له ګنهګارانو سره نه بلکې له ګناه سره بغض ولري، د ګنهګارانو په اړه بايد زړه سوى ولري او د همدغه زړه سوي په حکم له ګناهونو د دوى د ايستلو او ژغورلو هڅه وکړي.
- خپل رب ته دعاء کوي او وايي: اې زما ربه! ما او زما ټبر له هغه څه وژغورې چې دوى ئې کوي. په دې دعاء کې هم د دوى له شر او ضرر د خوندي پاته کېدو هيله نغښتې ده او هم د دوى له بداخلاقيو د خوندي پاته کېدو هيله.
- الله تعالى د ده دعاء قبوله کړه، دى او د ده ټول ټبر ئې وژغورو، د ده له بوډۍ مېرمنې پرته چې د ده ملګرتيا ئې ونه کړه او ترې وروسته پاته شوه او په هغه عذاب اخته شوه چې قوم ئې ورسره مخامخ شو. داسې معلومېږي چې مېرمن ئې د همدې سيمې هستوګنه وه، دې ته چمتو نشوه چې له خپلوانو بېله شي او د لوط عليه السلام ملګرتيا وکړي.
- د لوط عليه السلام له وتلو وروسته هغه موعود سخت عذاب پر دې ولس نازل شو، عذاب له زلزلې، خسف، د زمکې له چاودېدو او د ډبرو له ورېدو سره توأم وو. ځيني داسې انګېري چې ښايي له آسمانه به پر دوى ډبرې ورېدلې وي، خو د قرآن له وينا معلومېږي چې دا ډبرې هغه مهال پر دوى ورېدلې چې زمکه کښېنستې ده، د کورونو چتونه او دېوالونه

نسکور شوي، د زمکې له هغو برخو چې لوړې پاته شوې ډبرې پر دوی ورېدلې، همداراز په زمکې کې لوی چاود معمولاً له اور شیندو سره توأم وي، د دغو اور شیندو په ترڅ کې ویلې توکې بر ځي او د ډبرو په څېر پر زمکه راوربېږي، قرآن دا ډبرې د سجیل منضود (د پخې ختې ډبرې) په نامه يادوي، تفصيل ئې د هود د سورې د ۸۲ آيت په شرح کې وګورئ.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾

يقيناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

(۱۷۴-۱۷۵)- دا دئ په دې تاريخي بېلګې کې هم ګورو چې د مؤمنانو ټولګي ته (رحيم رب) نجات ورکړ او په اخلاقي فساد کې غرق باطلپال د (عزيز رب) په سخت عذاب اخته او هلاك شول، دا په داسې حال کې چې يوه پلو ته يوازې يوه مؤمنه كورنۍ ده او بل پلو ته د يوه ستر ښار زيات شمېر مغرور او مفسد هستوګن!!

كَذَّبَ أَصْحَابُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٨٠﴾

ايکه والو پيغمبران تکذيب کړل، هغه مهال چې شعيب ورته وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ؟ زه درته امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر يوازې پر رب العالمين دئ.

(۱۷۶-۱۸۰)- ايکه د شعيب عليه السلام د قوم سيمه وه، مرکزي ښار ئې مدين نومېدو، ټوله سيمه د مدين په نامه هم يادېده، ايکه چې لغوي معنی ئې ګڼ ځنګل دئ د تبوك سيمې ته ويل کېدل، اوس هم يو خوړ د ايکه په نامه يادېږي چې له جبل اللوز تر اَفَل پورې غزېدلی دئ. دوی هم د پيغمبرانو تګلاره تکذيب کړه او له شعيب عليه السلام سره ئې مخالفت وکړ، دا مخالفت هم هغه مهال پيل شوی چې شعيب عليه السلام د دوی په کړنو نيوکه کړې او د الله تعالی له عذاب ئې وېرولې. شعيب عليه السلام همغه خبرې ورته کړې چې ټولو پيغمبرانو عليهم السلام خپلو مخاطبينو ته کړې.

أَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُخۡسِرِينَ ﴿١٨١﴾ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ
﴿١٨٢﴾ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿١٨٣﴾ وَٱتَّقُواْ
ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلۡجِبِلَّةَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾

پیمانه پوره پوره ورکوئ او له کموونکو مه کېږئ، په سمي تلي سره تلل وکړئ او د خلکو شیان مه کموئ، او په زمکې کې فساد خوروونکي مه کېږئ، او له هغه ذات ووېرېږئ چې تاسو او لومړني نسلونه ئې پیدا کړئ.

---

(۱۸۱-۱۸٤)- په دې مبارکو آیتونو کې د پیغمبرانو علیهم السلام د تګلاري یو بل مخالف څواك انځور شوی، هغه چې په تجارتي معاملاتو او راکړې ورکړې کې خیانت کوي او له دې لاري د ډېرو شتمنیو خاوندان کېږي، همدا له نورو مخالفو څواکونو سره د دې قوم توپیري ځانګړتیا وه، د شعیب علیه السلام مخاطب قوم نه یوازي په تجارت بوخت وو بلکې د هغه وخت مهمه تجارتي لار د دوی له سیمي تېرېده، دوی به نه یوازي په تجارتي معاملاتو کې خیانت، غدر او دوکه کوله بلکې پر تجارتي قافلو به ئې بریدونه کول، بې امني او فساد به ئې خورولو.
شعیب علیه السلام هغوی ته وویل:

- په تلي او پیمانې کې خیانت مه کوئ، پیمانه پوره پوره ورکوئ، په سمي تلي سره تلل وکړئ او د خلکو شیان مه کموئ.
- په زمکې کې فساد او بې امني مه خوروئ.
- له هغه الله تعالی ووېرېږئ چې هم ئې تاسو پیدا کړي یئ او هم تر تاسو وړاندي لومړني نسلونه.

د الاعراف د سورې په ۸۵-۸۷ آیتونو کې د دوی په اړه مزید داسي ویل شوي: "او مدین ته مو د دوی ورور شعیب ولېږو، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل هیڅ معبود نه لرئ، بې شکه چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري څرګنده نښه راغلې، نو پیمانه او تله بشپړه کوئ او د خلکو شیان مه ورکموئ، او په زمکې کې د هغې له اصلاح وروسته فساد مه کوئ، دا درته غوره دئ که مؤمنان یئ. او په لارو کې په دې موخه مه کښېنئ چې وېره خوره کړئ او د الله له لاري هغه څوك منع کړئ چې ایمان ئې راوړی او کوږوالی ورته لټوئ او هغه وخت دریاد کړئ چې لږ وئ نو زیات ئې کړئ او وګورئ چې د مفسدینو پایله څنګه وه! او که ستاسو یوې ډلې په هغه څه ایمان راوړی وي چې زه ورسره رالېږل شوی یم او بلې ډلې ایمان رانه وړ، ترهغه صبر وکړئ چې الله زموږ تر منځ فیصله وکړي او هغه ترټولو غوره حکَم (فیصله کوونکی) دئ.

دلته د سورې د اساسي مضامینو لپاره د یوه داسي قوم په څېره کې تاریخي بېلګه زموږ مخي ته ایښودل شوې چې څو ستر ستر جرمونه ئې درلودل: په تلي او پیمانې کې ئې خیانت

كولو، په زمكې كې ئې فساد، بې امني او وېره خوروله، لارې ئې شوكولې، خلك ئې د الله له لارې منع كول او په دين كې ئې تحريفونه كول. دوى ته شعيب عليه السلام د پيغمبر په توګه ولېږل شو، دوى ئې له دغو ګناهونو لاس اخيستو ته راوبلل، ورته وئې ويل: د ضعف او ناتوانۍ ورځې مو درياد كړئ، الله تعالى له هغه حالته وژغورلئ او ستاسو شمېر ئې زيات كړ، د هغو مفسدينو له بدو پايلو پند واخلئ چې په الهي عذاب اخته شول، كه يوې ډلې زما پر رسالت ايمان راوړى او بلې نه دئ راوړى، صبر وكړئ، مؤمنان مه ځوروئ، پرېږدئ چې الله تعالى زموږ تر منځ فيصله وكړي، هغه تر ټولو غوره فيصله كوونكى دئ.

دلته دوه خبرې توجه غواړي:

- د پيغمبرانو عليهم السلام د تګلارې اوم مخالف ځواك هغه شتمن دي چې په تجارت كې د خيانت له لارې شتمن شوي، دوى له يوې خوا په ټولنې كې د بې امنۍ، فساد او وېرې خورولو باعث وي، له بلې خوا د الله دين ته د خلكو د ستنېدو مخه نيسي، په ټولنې كې فقر، لوږه او ګراني د دوى د ظالمانه تصرفاتو له كبله رامنځته كېږي، د جګړو، بې امنيو، خوف او وېرې په راپيدا كولو كې هم د دوى لويه ونډه وي، تاسو پوهېږئ چې كله فقر او لوږه د جګړو باعث وي او كله بې امني او جګړې فقر او لوږه زېږوي.
- په مخكينيو تاريخي بېلګو كې مو وليدل چې هر پيغمبر د خپل قوم ورور ښودل شوى، خو دلته د شعيب عليه السلام په اړه داسې نه دي ويل شوي، خو د قرآن په بل ځاى كې شعيب عليه السلام د مدين د خلكو ورور ښودل شوى، داسې معلومېږي چې د شعيب عليه السلام د دعوت سيمه په دوو برخو وېشل شوې وه: ايكه او مدين، په دواړو كې د يوه لوى قوم دوه پښې او څانګې اوسېدې، شعيب عليه السلام د دواړو په لورې لېږل شوى وو، دواړه د اخلاقي او مذهبي انحرافاتو له پلوه يو شانې ول، خو په تجارتي درغليو او خيانتونو كې د ايكه هستوګن تر نورو وړاندې ول، شعيب عليه السلام له قومي پلوه د مدين په ولس پورې تړلى وو، د همدې لپاره دلته د ايكه والو د ورور په توګه نه دئ معرفي شوى. دا پوښتنه راولاړېږي چې لوط عليه السلام هم له سدوم والو سره قومي اړيكې نه درلودې، له بلې سيمې راغلى وو او ابراهيم عليه السلام په دې ځاى كې د دعوت چلولو لپاره ګمارلى وو، دى ولې د سدوم والو د ورور په توګه معرفي شوى؟ د دې وجه به يا ښايي دا وي چې هغه قوم دى د خپل ورور په توګه قبول كړى وو او يا دا چې په دې قوم كې د واده كولو او د زياتې مودې لپاره د اوسېدو له كبله د دوى د ورور په نامه ياد شوى.

قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلۡمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿١٨٦﴾ فَأَسۡقِطۡ عَلَيۡنَا كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٨٧﴾

وئې ويل: يقيناً چې ته له هغو يې چې كوډې پرې شوې، او ته نه يې مګر زموږ په څېر يو انسان، او موږ دا ګمان درباندې كوو چې ته حتماً له دروغجنو يې، نو له

آسمانه پر موږ کومه ټوټه راپرې باسه که له رښتینو يې!!

(١٨٥-١٨٧)- شعیب علیه السلام ته د دوی ځواب دا وو:

- ستا ویناوې داسي دي لکه چي د کوډو له کبله دي حواس خراب شوي وي!! هوښیار سړی داسي خبري نه کوي، ته خو تر دې وړاندي یو هوښیار سړی وې، له تا مو ښې ښې هیلي درلودې، ولي بدل شوې، ولي پر خپل قوم او د دوی پر حالت او پلرني مذهب او دود دستور نیوکې کوې؟
- ته خو زموږ په څېر یو انسان يې، څنګه د دې ادعاء کوې چي الله تعالی د پیغمبر په توګه غوره کړی يې؟
- که ته پیغمبر يې، ګواښونه دي حقیقت لري او موږ په رښتیا د الهي عذاب مستحق یو، نو د آسمان کومه ټوټه پر موږ راپرې باسه!!

قَالَ رَبِّيٓ أَعۡلَمُ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمۡ عَذَابُ يَوۡمِ ٱلظُّلَّةِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾

وئې ویل: زما رب په هغه څه ښه پوه دئ چي تاسو ئې کوئ، نو دی ئې تکذیب کړ او د سیوري ورځې عذاب ونیول، یقیناً دا د یوې ستري ورځې عذاب وو.

(١٨٨-١٨٩)- شعیب علیه السلام هغوی ته وویل: د عذاب او د هغه د څرنګوالي او نېټې په اړه خو به زما رب وروستۍ پرېکړه کوي، هغه پوهېږي چي تاسو د څنګه عذاب مستحق يئ او کله ئې درباندي نازل کړي. دی ئې تر دې وړاندي هم تکذیب کړی وو او د ده دا ګواښ ئې هم دروغجن وګڼلو، نو د دوی له غوښتني سره سم داسي عذاب له آسمانه پرې نازل شو چي خپل وزر ئې پر دوی غوړولی وو، د لویې ورځې په ستر عذاب اخته شول. خو دا چي دا عذاب پر هغي سختي زلزلې او هیبتناکې چیغې چي قرآن ورته اشاره کړې؛ سربېره کوم عذاب وو او که له همدې هیبتناکې او ویجاړوونکې زلزلې راولاړې شوې لوخړې چي پر دوی ئې وزر غوړولی وو او که د یوې استعارې په توګه ویل شوي چي عذاب پرې سیوری وغوړولو، الله تعالی ښه پوهېږي.

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما ته په دې اړه دوه روایات منسوب شوي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «مَنْ حَدَّثَكَ مِنَ الْعُلَمَاءِ مَا عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ فَكَذِّبْهُ». المستدرك

له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي وئې ویل: له علماءو چي هر چا درته وویل د یوم الظلة عذاب څنګه وو، نو خبره ئې تکذیب کړه.

بل ئې دا دئ:

عن یزید الْبَاهِلِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ، عَنْ هَلَاكِ قَوْمِ شُعَيْبٍ وَقَوْلِ اللَّهِ لَهُمْ

فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ: «بَعَثَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ حَرًّا شَدِيدًا فَأَخَذَ بِأَنْفَاسِهِمْ فَدَخَلُوا أَجْوَافَ الْبُيُوتِ، فَدَخَلَ عَلَيْهِمْ أَجْوَافَ الْبُيُوتِ فَأَخَذَ بِأَنْفَاسِهِمْ، فَخَرَجُوا مِنَ الْبُيُوتِ هِرَابًا إِلَى الْبَرِيَّةِ، فَبَعَثَ اللَّهُ سَحَابَةً فَأَظَلَّتْهُمْ مِنَ الشَّمْسِ فَوَجَدُوا لَهَا بَرْدًا وَلَذَّةً فَنَادَى بَعْضُهُمْ بَعْضًا حَتَّى إِذَا اجْتَمَعُوا تَحْتَهَا أَرْسَلَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ نَارًا» قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ: «فَذَاكَ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ»

له يزيد الباهلي روايت دئ چي له عبد الله بن عباس رضی الله عنهما مي د دې آيت (فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ) په اړه وپوښتل؛ نو عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وويل: الله تعالی داسي سخته تودوخه پرې راوسته چي سا ئې ورتنگه کړه، نو کورونو ته ننوتل، نو دا تودوخه د کورونو منځ ته ننوته، چي سا ئې ورتنگه کړه، نو له کورونو د بيديا په لوري وتښتېدل، نو الله تعالی وريځ پرې راوسته چي له لمر ئې سيوری ته کړل، سوړوالی او خوند ئې ترې واخيست، نو ځينو ئې نورو ته غږ کړ، تر هغه چي ټول ترې لاندي غونډ شول، الله تعالی اور پرې راولېږو، عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وويل چي همدا عذاب يوم الظلة وو (إنه كان عذاب يوم عظيم).

دا روايت له يوې خوا له هغه بل سره تعارض لري او له بله پلوه ئې هغه عذاب داسي انځور کړی چي گواکي يو خارق العاده او حيرانوونکی نادر عذاب وو!! حال دا چي الهي عذابونه داسي عادي، د معمول مطابق او د الله تعالی د عام سنت مطابق دي چي بېلگي ئې په وار وار ليدل شوې.

---

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةًۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾

يقيناً چي په دې کي ستره نښه ده او ډېری ئې ايمان راوړونکي نه ول او يقيناً چي ستا رب مهربان عزتمن دئ.

---

(١٩٠-١٩١)- دا اتم ځل دئ چي د آخري تاريخي بېلگي په پای کي د دې سورې د محوري او اساسي مضامينو خلاصه زموږ مخي ته ايښودل کېږي.

---

وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلۡبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيّٖ مُّبِينٖ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَفِي زُبُرِ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَ لَمۡ

يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُاْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ
ٱلْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ فِى
قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم
بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُواْ هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ
﴿٢٠٤﴾

او دا يقيناً چي د رب العالمين له لوري لېږنه ده، روح الامين نازل کړی، ستا پر زړه باندي چي له منذرينو وې، په څرګندي عربي ژبي کي، او يقيناً چي دا په لومړنيو کتابونو کي دئ، آيا دا ورته يوه څرګنده نښه نه ده چي د بني اسرائيلو علماء پرې پوهېږي؟ او که پر ځينو غيرعربو مو نازل کړی وی او دوی ته ئې لوستلی؛ (بيا به هم) پر هغه باور کوونکي نه ول، همداسي مو د مجرمينو په زړونو کي ننايستی، تر هغه ايمان نه پرې راوړي چي دردناك عذاب وګوري، نو ناڅاپي به ورته راشي، په داسي حال کي چي دوی به نه پوهېږي (بې خبره به وي)، نو وايي به: آيا موږ ته به فرصت راکړی شي!! نو آيا زموږ عذاب په تلوار سره غواړي؟!

(١٩٢-٢٠٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- په دې کي د شك هيڅ مجال نشته چي دا قرآن د رب العالمين له لوري نازل شوی.
- دا روح الامين (جبرئيل) د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر زړه نازل کړی، د دې لپاره چي دی هم د نورو پيغمبرانو په څېر خپل امت د کفر له بدو پايلو ووېروي. دلته جبرئيل عليه السلام د روح الامين په نامه ياد شوی، چي مخاطب ته دوه مطلبه القاء کوي: ١- د دې پيغام حامل امين دئ، په بشپړ امانت سره ئې الهي پيغام رسولی، نه څه پرې اضافه شوي او نه څه ترې کم شوي. ٢- لکه څنګه چي د دې پيغام حامل (روح) دئ او دنده ئې دا چي د الله تعالی په حکم مخلوقاتو ته روح او ژوندون وبخښي، دا پيغام هم ژوند بخښونکی پيغام دئ، څوك چي د دې زلالې چينې اوبه وڅښي واقعي ژوند به ئې په برخه شي.
- قرآن په څرګندي عربي ژبي کي نازل شوی.
- په قرآن کي همغه څه راغلي چي په مخکينيو کتابونو کي راغلي وو، د دې کتاب ټول اساسي مطالب په مخکينيو کتابونو کي په داسي توګه راغلي لکه چي قرآن په خپله په دغو کتابونو کي وي!!
- آيا دا ورته يوه څرګنده نښه نه ده چي د بني اسرائيلو علماء پرې پوهېږي؟ يعني د بني اسرائيلو علماء په دې حقيقت ښه پوهېږي چي قرآن همغه څه وايي چي په مخکينيو کتابونو

کې راغلي، له همدې کبله د دوی حقيقي او خدای پالو علماءو پر قرآن ايمان راوړ.

• هغه مخالفين چې وايي: محمد (عليه السلام) عرب دئ، قرآن هم عربي کتاب دئ، نو دا کتاب به هغه په خپله جوړ کړی وي او هغه چې وايي: ولې الله تعالی خپل کتاب په بلې ژبې کې نه دئ رالېږلی، د هغوی په ځواب کې ويل شوي: که الله تعالی دا قرآن پر غيرعربو نازل کړی وی او دوی ته ئې لوستلی؛ دوی به بيا هم پر هغه ايمان نه وو راوړی، مګر هر پيغمبر ته د هغه په خپلې ژبې کې کتاب نه وو ورکړی شوی؟ آيا ډېرو پر هغو کتابونو له ايمان راوړو ډډه نه وه کړې؟ د دوی د اختلاف او ايمان نه راوړ وجه دا نه ده چې قرآن په عربي کې نازل شوی، وجه ئې دا ده چې په ګناهونو لړلي مجرمين په الهي کتابونو له ايمان راوړو ډډه کوي، د دوی جنايتونه ئې دې ته نه پرېږدي چې قرآن ومني او خپل ژوند، اخلاق، اطوار او له نورو سره خپلې اړيکې او مناسبات د الهي لارښوونو په رڼا کې تنظيم کړي. مګر د تاريخ په اوږدو کې تل دغو مجرمينو له پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی له لارښوونو او تګلارو سره مخالفت او دښمنی ته ملا نه وه تړلې؟!!

• دا جنايتکاران به تل او تر پايه او تر هغې ورځې له ايمان راوړو ډډه کوي چې په دردناک الهي عذاب اخته او په مرګ محکوم شي. دا عذاب به ناڅاپي خپل تور وزر پرې وغوړوي، په داسې حال کې به راشي چې دوی به په بشپړه توګه ترې غافله وي او د راتلو هيڅ تصور او ګمان به ئې نه کوي، د عذاب له ليدو وروسته به وايي: آيا د دې امکان شته چې موږ ته څه مهلت او فرصت راکړی شي چې خپلې غلطۍ جبران او خپلې کړنې تصحيح کړو!!

• آيا دا کافران په تلوار سره د عذاب راتلو غوښتنه کوي؟! پيغمبر ته وايي چې که ته په خپلو ګواښونو او تهديدونو کې رښتينی يې او موږ يقيناً د الهي عذاب مستحق يو، نو ولې دا عذاب نه راځي؟ آيا د دوی پر اسلافو راغلي عذابونه ورته کفايت نه کوي؟

په ١٩٦ آيت کې راغلي چې يقيناً دا قرآن په لومړنيو کتابونو کې دئ: وَإِنَّهُۥ لَفِي زُبُرِ ٱلۡأَوَّلِينَ، يعني د دې کتاب ټول اساسي مطالب په مخکينيو کتابونو کې په داسې توګه راغلي لکه چې قرآن په خپله په دغو کتابونو کې وي!! دلته ويل شوي چې قرآن په مخکينيو کتابونو کې دئ، دا څرګنده خبره ده چې د قرآن عربي الفاظ په مخکينيو کتابونو کې نه دي راغلي، بلکې د قرآن مطالب راغلي، او دلته دقرآن مطالبو ته د قرآن نوم ورکړی شوی، او له دې معلومېږي چې د يوه کتاب بنسټ د کتاب مطالب او مضامين دي نه د الفاظو قالب، د الفاظو قالبونه له يوه پيغمبر تر بل او له يوه الهي کتاب تر بل بدل شوي، کله په يوې ژبې کې او کله په بلې ژبې کې راغلي، د دې معنی دا ده چې که څوک د قرآن په عربي الفاظو پوه نشي، يا ئې له ويلو عاجز وي او ژباړه ئې ولولي، دا داسې ده لکه چې قرآن ئې لوستی وي. که څوک د بايبل ژباړه ولولي او ووايي: ما بايبل لوستلی، نو رښتيا ئې ويلي که څه هم ده هغه تورات او انجيل نه دي لوستلي چې په عبراني ژبې کې نازل شوي، امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او دواړه شاګردان ئې (امام محمد او امام ابو يوسف) دغه آيت ته په پام سره وايي چې که څوک د قرآن عربي الفاظ نشي لوستلی او ژباړه ئې په لمانځه کې ووايي نو لمونځ ئې صحيح

دئ. ځيني پر دې رأيې اعتراض کوي، خو دا بې ځايه اعتراض دئ، ځکه لمونځ نه د شکلي حرکاتو مجموعه ده او نه د داسي الفاظو ويل چي مفهوم او معنی ته ئې اعتناء او پام او پرې پوهېدا ضروري نه وي، قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي په لمانځه کي بايد زموږ حالت داسي وي چي د خپلي وينا په معنی وپوهېږو که داسي نه وي نو خپل لمونځ وځنډوو، قرآن فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ ... النساء: ٤٣: اې مؤمنانو! په داسي حال کي لمانځه ته مه نژدې کېږئ چي مست يئ، تر هغه په هغه څه پوه شئ چي تاسو ئې وايئ. يعني لمونځ په داسي حالت کي مه کوئ چي مست يئ او په دې نه پوهېږئ چي څه وايئ، لمونځ خو له الله تعالی سره ستاسو راز و نياز دئ، هغه ته خپل حاجتونه وړاندي کوئ، له خپل زړه راخوتېدلې خبري ورته کوئ، په داسي حالت کي په لمانځه ودرېږئ چي خپلو خبرو ته مو پام وي او ورباندي پوهېږئ. له دې په ځرګنده معلومېږي چي د لمانځه په الفاظو پوهېدل او د لمانځه په وخت کي هغه په پام کي نيول او له فهم او پوهي سره ئې ويل ضروري دي. څوك چي په عربي نه پوهېږي او قرآن وايي په حقيقت کي د همدې آيت مصداق دئ، ځکه هغه څه وايي چي نه پرې پوهېږي. لکه څنګه چي د مست لمونځ صحيح نه دئ او د خوبولي لمونځ صحيح نه دئ، همداسي د هغه چا لمونځ حقيقي لمونځ نه دئ چي د لمانځه د الفاظو په معنی او د حرکاتو په مقصد ئې نه پوهېږي، دا صحيح ده چي بشپړ او صحيح لمونځ هغه دئ چي انسان ئې له خشوع او خضوع سره وکړي، فاتحه او د قرآن کومه سوره په کي تلاوت کړي، اذکار او تسبيحات ئې مأثوره او د حديث مطابق وي، حرکات ئې شعوري وي، په دې پوهېږي چي څه وايي او څه کوي، لاس لوړول، قيام او لاس تړل ودرېدل، رکوع او سجده ئې څه معنی لري، او کعبې ته مخامخ ودرېدا ئې د څه لپاره ده، او په دې هر حرکت کي د ده موخه څه ده، خو که څوك د عربي الفاظو له ويلو او په معنی ئې له پوهېدو عاجز وي نو هغه ته نه يوازي جائزه ده چي د لمانځه د الفاظو معنی په خپلي مورنۍ ژبې کي ووايي، بلکي همدا ورته غوره ده، په دې شرط چي په قرآن د پوهېدا هڅه متوقف نه کړي.

په دې کي هيڅ شك نشته چي قرآن د هغو ځانګړيو عربي الفاظو مجموعه ده چي د الله تعالی له لوري او د وحي له لاري پر رسول الله صلی الله عليه و سلم نازل شوي، همدومره چي د قرآن محتوی او مفهوم سپېڅلی دئ عربي الفاظ ئې هم سپېڅلي دي، مسلمانان مکلف دي د قرآن همدغه عربي الفاظ ولولي او په مطلب ئې پوه شي، خو د مجبوريت په صورت کي او هغه چا ته چي په عربي نه پوهېږي او د عربي الفاظو له تلفظ عاجز وي، هغه ته جائزه ده چي ژباړه ئې ووايي، د هغه لپاره همدا ژباړه داسي ده لکه چي قرآن ئې لوستی وي. د مزيد وضاحت لپاره وايو: که څوك په پښتو ژبې ووايي: له الله پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دئ، آيا د دغي وينا ويونکي ته د يوه مسلمان په سترګه کتی شو؟ آيا د ده دا وينا داسي ګڼلی شو چي هغه په حقيقت کي لا اله الا الله محمد رسول الله ويلي؟ ځواب دا دئ چي يقيناً هغه مسلمان دئ او په دې وينا سره ئې همغه څه ويلي چي په عربي متن کي

راغلی. همداراز آیا هغه چا ته مسلمان ویلی شو چې د لا اله الا الله محمد رسول الله الفاظ ووایي خو نه ئې په معنی پوهېږي او نه ئې په مطلب باور لري؟ ځواب دا دئ چې یقیناً داسې چا ته مسلمان نه شو ویلی، نو د دې معنی دا ده چې له یوې خوا ژباړه د متن ځای ناستې گڼلی شو، په ځانگړې توگه د هغه چا لپاره چې د متن په لومړۍ ژبې نه پوهېږي او صحیح تلفظ نشي پرې کولی او له بلې خوا په متن پوهېدا ضروري ده، او د متن په مطلب له پوهېدا پرته د هغه لوستل هغه اغېز او اهمیت نه لري چې له پوهې سره توأم لوستل ئې لري، په شریعت کې له مجبور انسان سره تل د یسر او رعایت لار غوره شوې نه د عسر او سختۍ.

أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَـٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَـٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾

آیا پام دې شوی چې که څو کلونه ئې (له دنیایي متاع) برخمن کړو، بیا هغه څه ورشي چې وعده ئې ورسره کېږي، نو هغه څه چې دوی پرې برخمن کېدل څه به له دوی دفع کړي؟ او موږ هیڅ کلی نه دئ هلاك کړی مگر دا چې انذار کوونکي ئې ول، د پند په توگه، او موږ ظلم کوونکي نه وو.

(۲۰۵-۲۰۹)- په دې مبارکو آیتونو کې د هغو معارضینو په اړه چې د الهي عذاب له راتلو ئې انکار کولو او له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې دا مطالبه کوله چې که ته واقعاً د الله رسول یې نو ولې زموږ له مخالفت سره سره هغه موعود الهي عذاب نه راځي، داسې ویل شوي:

که د دوی له زعم او انگېرنې سره سم؛ څو کاله نور دوی ته موقع او مهلت ورکړی شي، همداسې له دنیایي لذتونو او مال متاع برخمن وي، که څه هم د دې لپاره نه کوم دلیل لري او نه کوم ضامن او ذمه وار، خو که همداسې وشي، او بیا د دې مهلت په پای کې هغه موعود عذاب پرې راشي، همغه چې د دوی اسلاف پرې اخته شوي وو، نو دې مهلت به دوی ته څه گټه رسولې وي؟!! الهي سنت دا دئ چې لومړی یوه قوم ته منذر لېږي، د منذر په واسطه ئې د کفر، شرك، عصیان او بغاوت له بدو پایلو وېروي، تر هغه مهلت ورکوي چې حجت بشپړ شي او هیڅ عذر او بهانه ورته پاته نشي، د مهلت په پای کې داسې مناسبه او عادلانه سزا ورکوي چې دوی ئې مستحق وي، له مخکینیو سره ئې همداسې کړي او له دوی سره به همداسې کوي.

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَـٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ
ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾

او شيطانانو نه دئ راکوز کړی، او دوی ته نه ښايي او نشي توانېدی، يقيناً چې دوی ئې له اورېدو هم گوښه کړی شوي.

---

(۲۱۰-۲۱۲)- تر دې وړاندي ويل شوي چي دا قرآن روح الامين راکوز کړی، دلته ويل شوي چي شيطانانو نه دئ راکوز کړی، له دوی سره دا نه ښايي چي داسي وينا وړاندي کړي او که احياناً وغواړي چي داسي کلام وړاندي کړي نو نشي توانېدی، دوی ئې حتی له اورېدو هم معزول او محروم کړی شوي. يعني قرآن او د هغه لارښوونو ته ځير شئ، څومره لوړ شأن لري، څومره له فضيلتونو او معنويت ډك كلام دئ، حرف حرف ئې په دې دلالت كوي چي دا د رب العالمين له لوري نازل شوی کتاب دئ، هم ئې له آسمان تر زمکې پوري حامل روح الامين دئ او هم ئې د زمکي پر سر حامل د رسول الله صلی الله عليه و سلم په څېر ستر شخصيت، څنگه گمان کوئ چي دا عظيم الشأن کتاب به د شيطاني القاءاتو په نتيجه کې يو چا له ځانه جوړ کړی وي؟!! په دې کتاب کې مو کوم څه داسي موندلي چي دا شك درته راپيدا کړي. د هر کلام محتوی ښيي چي ويونکی ئې څنگه شخصيت دئ او څه مواصفات لري، تگلاره ئې رحماني ده که شيطاني.

---

فَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ
ٱلْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ فَإِنْ عَصَوْكَ
فَقُلْ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾ ٱلَّذِى يَرَىٰكَ
حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِى ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾

نو له الله سره بل معبود مه دربله، که نه نو له معذبينو به شې، او نژدې خپلوان دي انذار کړه، او خپل وزر هغو مؤمنانو ته کوز ساته چي ستا متابعت ئې کړی، او که ئې سرغړاوی درنه وکړ ووايه: زه له هغه څه بې زار يم چي تاسو ئې کوئ، او پر مهربان عزتمن رب توکل کوه، همغه چي تا گوري، هغه مهال هم چي ته ودرېږې او په سجده کوونکو کې ستا کښته پورته کېدا هم، يقيناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ.

---

(۲۱۳-۲۲۰)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته او د ده له لاري مؤمنانو ته دا لارښووني شوې:

• د الله تعالی تر څنګ بل معبود مه مانځه، بل څوك د معبود په توګه مرستي ته مه دربله، که نه نو له معذبينو به شې، داسي څوك د الهي عذاب مستحق دئ چي له الله تعالی پرته بل څوك مانځي او په بل درشل کې د دعاء لاسونه لوړوي.

• نژدې خپلوان دي انذار کړه، دوی تر نورو وړاندي او په ځانګړې توګه د عصيان او سرغړاوي له بدو پايلو وويروه، داسي نه چي نورو ته نصيحت کوې او خپلوان دي هېر کړي وي، داسي نه چي خپلوان ستا له نامه غلطه استفاده وکړي، د هغو واکمنانو او مشرانو د خپلوانو په څېر شي چي د زعيم او مشر له نامه غلطي استفادې کوي او په ټولني کې مادي او معنوي امتيازات تر لاسه کوي!! دا يوه ډېره مهمه لارښوونه ده، اهميت ئې له دې هم معلومېږي چي پر توحيد له تأکيد وروسته متصل دا سپارښتنه راغلې، او له دې هم چي تل د زعيم ناصالح خپلوان او بطانه سوء په ټولني کې د فساد او بې عدالتۍ عامل وي، د زعيم قرب دا مجال ورته برابر کړي چي په خلاص لاس او بشپړې بې باکۍ سره غلط تصرفات وکړي، همدا دوی دي چي يو فکري خوځښت به په ميراثي نظام واړوي او يو قوم او کورنۍ به پر نورو مسلط کړي، د ټولو هغو منحرفو سياسي، اجتماعي، فکري او مذهبي ډلو غلط بنسټ پر دغه انحراف ودرېدلی چي د قائد خپلوانو د هغه له اعتبار، وجاهت او اقتدار غلطه استفاده کړې او يوې کورنۍ ته په ټولني کې د مادي او معنوي امتيازاتو تر لاسه کولو شرائط برابر شوي. عجيبه دا ده چي د قرآني مفاهيمو له غلط تعبير او تحريف دا مبارك آيت هم خوندي نه دئ پاته شوی، ډېر ځلي ګورو چي ځيني دغه مبارك آيت داسي تعبيروي چي د زعيم خپلوانو ته د امتيازاتو ورکولو معنی ترې راووځي، دا په داسي حال کې چي د آيت مدعا په بشپړه توګه د دې غلطي انګېرني خلاف ده. رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپل ټبر غړي د زکات له اخيستو منع کړي، صحابه وو د ده له رحلت وروسته د ده د نژدې خپلوانو پر ځای د ابوبکر، عمر او عثمان رضی الله عنهم په څېر د ده اعتقادي ملګري د خلفاوو په توګه غوره کړل؛ د دوی د هيڅ يوه زوی او بل نژدې خپل د ځای ناستي په توګه غوره نه شو، خو له دې ټولو سره سره دا دئ ګورئ چي په امت کې داسي مذهبي ډله هم جوړه شوه چي ګمان کوي نه يوازې امارت د اهل بيت حق دئ بلکې زکات او صدقات هم د دوی او د دوی د نسل او اولاد حق دئ!! که ورته ووايې: جنابه! د دې ادعاء دليل څه دئ: وايي: (وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ)!! او وايي: (...لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا)!!؛ حال دا چي دا دواړه آيتونه د دوی د ادعاء عکس خبره کوي او دا غلط باور په بشپړه توګه او سل په سلو کې ردوي!!

• او خپل وزر هغو مؤمنانو ته کوز ساته چي ستا متابعت ئې کړی، او که ئې سرغړاوی درنه وکړ ووايه: زه له هغه څه بې زار يم چي تاسو ئې کوئ. يعني د خلکو ايمان او عمل ته به ارزښت ورکوې نه خپلوي او قومي اړيکو ته، ستا لپاره به ضوابط معيار وي نه روابط، هغه چا ته به اهميت ورکوې چي ايمان ئې راوړی او ستا متابعت ئې کړی، دوی ته به خپل وزر ټيټ ساتې، تر دوی به ځان لوړ نه ګڼې، د يوه دروند، عزتمن او ارزښتمن ملګري په

سترګه به ورته ګورې. چا چې سرغړاوی وکړ، که ستا کوم خپل وي او که د لارې کوم مؤمن ملګری، ورته ووایه: زه له هغه څه برئ او بې زار یم چې تاسو ئې کوئ، مه دفاع ترې کوه او مه د غلطیو په مسئولیت کې ورسره شریك کېږه. ستا دغه برائت او بې زارې به د دوی له غلطو کړنو وي نه په خپله له دوی، له ګناه کرکه لره خو د ګنهګار په اړه زړه سوی او مهرباني لره او د هغه د اصلاح هڅه کوه.

• پر مهربان عزتمن رب توکل کوه، ستا اعتماد او توکل به یوازې پر الله تعالی وي، نه پر خپلوانو، نه د لارې پر ملګرو او نه پر وسائلو او امکاناتو، یوازې پر هغه ذات چې هم مهربان دئ او هم ځواکمن او برلاسی، د هغه ځواك او برلاسي د هر ځواکمن دښمن په وړاندې ستا لپاره کافي ده او د هغه مهرباني تر هر مهربان دوست او قریب درته پراخه او مهمه، همغه چې تا په هر حالت کې ګوري، هغه مهال هم چې ته د خپلو مسئولیتونو د اداء کولو لپاره پاڅېږې او هغه مهال هم چې په لمانځه لګیا وې یا د مؤمنانو تر څنګ د دعوت په کار بوخت یې، همغه چې پوه اورېدونکی دئ، ستا او ستا د دښمنانو په هر څه پوه دئ او ستا او د دوی خبرې اوري او ستا دعاګانې قبلوي.

هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَـٰطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَـٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾

آیا خبر مو کړم چې شیطانان پر چا راکوزېږي، پر هر ګنهګار دروغجن، غوږ ږدي په داسې حال کې چې ډېری ئې دروغجن دي.

(۲۲۱-۲۲۳)- دا مبارك آیتونه موږ ته ښيي چې شیطاني القاءات چا ته کېږي، د چا افکار، اقوال او اعمال شیطاني منشأ لري، وايي: د شیطاني القاءاتو تر اغېز لاندې هغه څوك وي چې د عمل له پلوه په ګناهونو کې غرق وي او د وینا له پلوه دروغجن وي، هم ئې خپله وینا دروغجنه وي او هم هغه چې بل ته ئې منسوبوي، له بله اورېدلې وینا کې تحریف کوي، له یوې رښتیا سره لس درواغ ګډوي. دا د هغه چا څرګندې نښې دي چې د شیطان له لورې ورته القاءات کېږي. آیا ډېره عجیبه نه ده چې تاسو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر د سپېڅلي، رښتیني، پاك لمنې او امین شخصیت په اړه دا تبلیغات کوئ چې د رسالت په دعوی کې صادق نه دئ، قرآن ئې له ځانه جوړ کړی او په دروغو ئې الله تعالی ته منسوبوي؟!! څومره ظالمانه او د عقل او حقیقت خلاف قضاوت!!

د ۲۲۳ آیت په اړه یو بل د اعتناء وړ تعبیر هم زموږ مخې ته راځي او هغه دا چې د شیطاني القاءاتو تر اغېز لاندې دا ګنهګار او دروغجن د نورو غوږ ته خبره رسوي خو اکثراً په خپلو خبرو کې دروغجن وي، یو بل کمزوری تعبیر هم مومو چې وايي: شیطانان د دوی په غوږ کې خبرې اچوي خو د دغو شیطانانو ډېری دروغجن دي!! دا تعبیر په دې دلیل کمزوری

دئ چې د آيتونو له نظم سره اړخ نه لګوي، د نظم غوښتنه دا ده چې دا دروغجن همغه کسان وګڼو چې تر دې وړاندې د افاك په نامه ياد شوي، دوی د خلكو غوږونو ته د خبرو په القاء کې اکثراً دروغ وايي.

وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾

او دا شاعران خو (هغه دي چې) لار ورکي ئې متابعت کوي، آيا نه ګورې چې په هر ناو کې لالهانده وي او دوی هغه څه وايي چې نه ئې کوي.

(٢٢٤-٢٢٦)- ستاسو بل ظالمانه او د عقل او منطق خلاف قضاوت دا دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د يوه شاعر په سترګه ګورئ، نه د يوه پيغمبر په سترګه، د قرآن لوړ او اغېزناك ادبي ترکيب داسي تعبيروئ چې ګواکې دا د کوم شاعر د ادبي سليقې او استعداد زېږنده دئ!! خو تاسو راشئ د خپلې ټولنې شعراء او د دوی اشعار، افکار او اطوار د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لوړ معنوي او اخلاقي شخصيت، او د ده له افکارو او افعالو سره او له هغه عظيم الشأن قرآن سره مقايسه کړئ چې د ده په لاس تاسو ته وړاندې شوی. قرآن په دې آيتونو کې نه يوازې د قريشو د جهل وهلې او شرك ځپلې ټولنې شعراء موږ ته معرفي کوي بلکې بد شعر او خراب شاعر هم رامعرفي کوي او دا ئې ځانګړتياوې ګڼي:

- لار ورکي او بدکاران به دی او د ده شعر خوښوي، د ده شعر به د دوی په محفلونو کې زمزمه کېږي، دی به د هغوی ملګری وومې او هغوی به د ده ملاتړي.
- د ده د اشعارو له مخې به په دې پوه نه شې چې د ده هدف څه دئ؟ خپل مخاطب څه ته بلي؟ بس هغه چوټکي ته ورته دئ چې کله په يوې ځانګې کښېني او کله په بلې، لالهانده، کله په يوې درې سر شي او کله په بل ناو، د ده په شعرونو کې به واضح او سپېڅلی پيغام ونه ومومې، بس غواړي خپل مخاطب راضي کړي، له هغه څه تر لاسه کړي، که نور هيڅ نه وي نو يو شاباسی خو ئې په برخه شي!!
- هسې د بې مقصده ويناوو او خوشو خبرو ګوډی وي، په رګونو کې ئې د عمل کولو جوهر نه وي، د خبرو د ميدان اتل وي خو د عمل د ميدان ملا ماتی او شل، هغه څه وايي چې نه ئې د کولو اراده لري او نه ئې همت!

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱنتَصَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا۟ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَىَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

په استثناء د هغو چې ايمان ئې راوړی، نېك عملونه ئې کړي، الله ئې ډېر ياد کړی او

وروسته له هغه چې ظلم پرې شوی غچ ئې اخیستی، او ظالمان به ډېر ژر پوه شي چې په کومې کندې کې به نسکور کړی شي!!

---

(۲۲۷)- قرآن د شاعرانو له مخکینۍ ډلې هغه شاعر مستثنی کوي چې ځانګړتیاوې ئې دا وې:

- د ایمان خاوند وي، شعر ئې له ایمان راخوټېدلی او د ایمان په خدمت کې، هغه چې د ده د هر شعر په هرې مصرع کې به د ایمان نښې وګورې.
- د عمل د مېدان مېړنی وي، عمل ئې نېك وي، تر دې د مخه چې شاعر وي يو صالح انسان وي، داسې نه دئ چې په عمل پاڼې کې ئې له شعره پرته بل څه نشته، د ژوند ټوله پانګه ئې یوازې څو اشعار دي، ټول عمر، وختونه او استعدادونه ئې د دغې پانګې په تر لاسه کولو کې ضایع کړې، بلکې هغه یوازې د فراغت وختونه د شعر لیکلو او ویلو ته مختص کړي.
- تل ئې الله تعالی په یاد وي، ژبه ئې د الله په یاد لمده، زړه ئې د الله په یاد درېږي، شعر ئې له ذاکر زړه راخوټېدلی، په خپلو اشعارو کې خدای ډېر یادوي، که څوك ستايي نو هغه خدای دئ، که له چا سره د مینې اظهار کوي هغه خدای دئ، که له چا طمع یا وېره لري نو هغه یوازې خدای دئ، خدای پالي، خدای لمانځي، له خدایه مرسته غواړي، د الله په لوري بلنه ورکوي.
- مبارز او مجاهد شاعر دئ، له مظلومانو دفاع کوي، له ظالمانو د غچ اخیستلو لپاره ملا تړې او په خپلو انقلابي او ظالم ځپونکو اشعارو سره د ظالمانو پر سر کلك کلك مرګوني ګوزارونه کوي، د ظالمانو په ضد پاڅون ته بلنه ورکوي او د مظلومانو دردونه منعکس کوي.

په دې مبارکو آیتونو کې د قرآن هر مؤمن مخاطب ته دا لارښوونه شوې چې د ښکلي شعر او د قدرمن، دروند او هدفمن شاعر د تشخیص او پېژندو په اړه باید دا دقیق الهي معیار په پام کې ولري او هر شعر او شاعر په دغې تلې وتلي؛ هغه شاعر ته د يوه مؤمن او متعهد شاعر په سترګه وګوري چې دغه ځانګړتیاوې ولري، د شعر هغه دیوان لري وغورځوي چې د لوړو معنوي ارزښتونو په خدمت کې نه وي، هغه خو تر پښو لاندې کړي او اورته ئې وغورځوي چې د ګنده مینې او عشق خبرې کوي، ساقي، مې او ساغر ستايي، د خپل ګاونډي د لور او خور سور شال، تور خال، زلفې، شونډې او د کمیس د لمنې نوم په خوله اخلي، په اشعارو کې ئې نه د حق ملاتړ وي او نه د باطل غندنه، نه د مظلوم ملګرتیا او نه د ظالم مخالفت. د هغه چا دیوان چې یا پاچیان او د هغوی رنګین رنګین دربارونه او محفلونه ستايي، یا د کلي هغه ګودر چې پېغلې ترې اوبه وړي او دا شاعر به په خپلو اشعارو کې داسې وموږئ چې د ګودر په لار کې، د کوم مات دېوال او ونې شا ته پټ ولاړ دئ، د غله په څېر ګودر ته د راتلونکو پېغلو ننداره کوي!!

د هغه شاعر او د هغه د دیوان درناوی وکړئ چې د ګودر په ځای د سنګر ستاینه کوي،

د تورو زلفو په ځای د حقپالو مجاهدينو تېرې تورې ستايي، د يار د سرو شونډو په ځای د هغو مجاهدينو سره پرهارونه او تغمې تغمې بدنونه يادوي چې په سنگرونو کې په شهادت رسېدلي او د بگرام او گوانتانامو په څېر زندانونو کې تر بې رحمانه تعذيبونو لاندې پاته شوي، خو صبر ئې کړی او دښمن ته نه دي تسليم شوي.

ډېره عجيبه ده چې څوك په قرآن د ايمان دعوی هم کوي او د حافظ او عمر خيام په څېر گنده او درباري اشعارو ته د صوفيانه او سپېڅلو اشعارو په سترگه هم گوري!!

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷